فتاویٰ

دارالعلوم دیوبند

پښتو

مکمل و مدلل

حضرت مفتی عزیز الرحمن عثمانی صاحب

حکیم الاسلام حضرت مولانا قاری محمد طیب صاحب

مولانا محمد ظفیر الدین صاحب

مولانا محمد یاسین صاحب

مکتبہ رشیدیہ

په دار الافتاوو کي د رائج

الوقت نسخو له تخريج سره

فتاوى دار العلوم ديوبند

له نوي اضافي سره

له افاداتو: حضرت مفتي عزيز الرحمن عثماني

تر هدايت لاندي: حكيم السلام حضرت مولانا محمد طيب صاحب

ترتيب: مولانا محمد ظفير الدين صاحب

تخريج او نوي اضافه: مولانا محمد يامين صاحب

خپرونکی: محمد ساجد

اتلسم ټوک

مکتبه رشيديه کوئټه

د کتاب پیژندنه:

د کتاب نوم: فتاوی دار العلوم دیوبند اتلسم ټوک
له افاداتو: مولوي مفتي حضرت مولانا عزیز الرحمن عثماني صاحب
ترتیب کونکی: محمد امین پالن پوري صاحب
ژباړه: مولانا مفتي محمد ابراهیم صاحب
کمپوز: حبیب الرحمن "منیب" ۰۳۰۷-۷۹۲۶۸۳۸
خپرونکی: مکتبۀ رشیدیه کاسي روډ کوټه ۰۸۱۲۶۶۲۲۶۳
چاپونکی: محمد ساجد
د چاپ ځای: لاهور
د چاپ کال: ۲۰۱۴ء

فهرست

بسم الله الرحمن الرحيم

کتاب الایمان

د ایمان بیان

د شریعت په عرف کي د مؤمن او مسلم فرق نشته

(۱) د کرنال په ښار کي له څو ورځو راهیسي د مؤمن او مسلم پر لفظونو بحث شروع دی یوه ډله وایي چي مؤمن یوه درجه پورته دی، بله ډله وایي چي د مسلم درجه پورته ده چي شرعي څه حکم وي په خبر مي کړئ؟ (۱۳۴۳/۸۷۸هـ)

جواب: په شریعت کي ایمان او اسلام یو دی کوم چي مؤمن دی هغه مسلم دی او کوم چي مسلم دی هغه مؤمن دی. ایمان بیله اسلامه نه قبلیږي او اسلام ته بېله ایمنه اعتبار نشته الله رب العزت چي کومي ډلي ته لومړی مؤمن فرمایلی دی هغه ته بیا مسلم فرمایلی دی. کما قال الله تعالی "فاخرجنا من کان فیها من المؤمنین فما وجدنا فیها غیر بیت من المسلمین" (سورة ذاریات، آیت ۳۵-۳۶) نو دا ناوړه جګړه ده، والعیاذ بالله تعالی دا څرنګه جاهلانه بحث دی چي تر اوسه مي اورېدلي نه ؤ، له داسي جهالته دي الله پاک مسلمانان خوندي کړي صلوات الله وسلامه علیه وعلی آله واصحابه اجمعین. فقط

(۲) په مؤمن او مسلم کي څه فرق دی؟ او د دواړو څه تعریف دی؟ (۴۵۲/۴۴-۱۳۴۵هـ)

جواب: مؤمن او مسلم يو دی، كما قال الله تعالى: "فاخرجنا من كان فيها من المؤمنين فما وجدنا فيها غير بيت من المسلمين" (سورة ذاريات، آيت: ۳۵-۳۶) وصفهم الله بالايمان والاسلام جميعاً لانه ما من مؤمن الا وهو مسلم (۱) (معالم التنزيل) يعني عند الله چي كوم مؤمن دی هغه مسلم دی او چي كوم مسلم دی هغه مؤمن دی ځكه چي ايمان او اسلام يو دی، فرق پكي صرف لفظي دی يعني چي سړی په ژبه اقرار كوي د توحيد او رسالت او شرعي احكام مني او تسليموي يې هغه مسلمان دی او ايمان د قلبي تصديق نوم دی يعني څه چي په خوله وايي په زړه هم د هغه تصديق كوي، نو د قلبي تصديق په اعتبار د ده نوم مؤمن دی او د ژبي او لسان د شهادت او اقرار په اعتبار د ده نوم مسلم او مسلمان دی لنډه دا چي په دغه دواړو كي فرق صرف لفظي دی د عند الله معتبر كېدو لپاره ايمان او اسلام دواړه شرط دی په معالم التنزيل تفسير كي د آيت: "قالت الاعراب آمنا قل لم تؤمنوا ولكن قولوا اسلمنا" (سورة حجرات، آيت:۱۴) په تفسيَر كي ليكلي دي: فاخبر ان حقيقة الايمان: التصديق بالقلب، وان الاقرار باللسان واظهار شرائعه بالابدان لا يكون ايمانا دون التصديق بالقلب والاخلاص (۲)

(۳) په اسلام كي د ايمان شرط شته او كنه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۱۴۴۹هـ)

جواب: بيله ايمانه يو عمل ته هم اعتبار نشته، د قلبي تصديق او اقرار باللسان دواړو كېدل ضروري دي، اسلام په حقيقت كي د ايمان د ظاهرولو نوم دی. فقط

د مسلمانولو طريقه

(۴) كه كوم هندو مسلمانيږي نو طريقه به څه وي؟ (۱۳۳۹/۱۴۵۱هـ)

جواب: كوم هندو چي مسلمانيږي بايد هغه مسلمان كړی، كلمه طيبه "لا اله الا الله محمد رسول الله" ورته ويل پكار دي، يعني دا چي الله يو دی محمد صلى الله عليه وسلم د الله بنده او پيغمبر دی. فقط

---

۱) معالم التنزيل كامل، ص: ۸۴۹، تفسير سوة الذاريات

۲) معالم التنزيل كامل، ص: ۸۴۲، تفسير سورة الحجرات

(۵) یو نا مسلمان ته مولوي صاحب صرف کلمه د شهادت وویله مسلمان يې کړی ایا اوس دی مسلمان شو او کنه؟ جهلاء دا اعتراض کوي چي تر څو پنځه سره کلمې ونه وو ايي مسلمان څه ډول کیدلای شي؟ (۱۳۴۰/۲۳۹۱هـ)

جواب: په دغه صورت کي دا سړی مسلمان شو پر مولوي صاحب اعتراض کول غلط او د جهل خبره ده. فقط والله تعالی اعلم.

(۶) که سړی څوک مسلمانوې نو څه به ورته وايي؟ (۱۳۴۲/۴۲۰هـ)

جواب: لا اله الا الله محمد رسول الله به وو ایاست په معنی يې پوه کړئ مسلمان به شي او که د آمنت بالله الخ مطلب ورته وویل شي نو نور هم ښه دی.

نوی مسلمان که نوم نه بدلوي يا سنتي نه کوي نو څه حکم دی؟

(۷) یو نا مسلمان سړی الله تعالی وحده لا شریک بولي، د نبي علیه الصلاة والسلام رسالت مني او د ټولو عقائد ایمانیه او اسلامي ارکانو مصدق او عامل دی مګر خپل نوم يې نه دی بدل کړی نه ځان سنت کړی دی نو داسي سړي ته کافر مشرک ویل جائز دی او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۳۱۳هـ)

جواب: کله چي د توحید، رسالت، د اسلامي عقائدو او ایماني احکامو معتقد او منونکی شو نو مسلمان شو، په نوم نه بدلولو يا سنتي نه کولو پر ده باندي د کفر او شرک حکم نشي لګول کیدلای.

بیله جلاپو نامسلمان مسلمان کیدلای شي

(۸) که کوم نامسلمان مسلمان کړی نو بیله جلاپو مسلمان کیدلای شي او کنه؟ څوک چي دا وايي چي بیله جلاپو نشي مسلمان کیدلای د هغه په اړه څه حکم دی؟ (۱۳۳۸/۱۵۲هـ)

جواب: بیله جلاپو مسلمان کیدلای شي څوک چي د دې په خلاف خبره کوي هغه ناخبره دی، جاهل دی، خبره مه مني. فقط والله تعالی اعلم.

(۹) یو بنګي دا غواړي چي مسلمان شي خو دلته مسلمانان وايي ده ته عمل راوستونکی (مسهله، جلاپ) دوا ورکړي بیا يې مسلمان کړئ، دا راته

وو ایا ست چي د بنګي مسلمانو لو لپاره شریعت کوم قید و نه لګولي دي؟ (۴۲/۳۲۲۲ـ ۱۳۴۷هـ)

جواب: دغه بنګي سمد ستي بیله کوم شرط او قیده مسلمان کړی، ځکه چي د شریعت حکم دا دی چي کله څوک مسلمان کیدل غواړي نو سمد ستي بې مسلمانوئ. د دې لپاره هیڅ شرط او قید نشته، بلکه ځنډ کول ګناه او منع دي او کوم څوک چي دغه بنګي ته د جلاپو ورکولو وینا کوي هغه د خپل جهالت په وجه خطا دي، خبره د دوی غلطه ده. فقط والله تعالی اعلم

د عقائدو د سمون څه طریقه ده؟

(۱۰) د عقائدو د سمون څه طریقه ده؟ (۱۳۴۲/۲۳۳۸هـ)

جواب: د اهل سنت والجماعت د مسلک سره سم د عقائدو له سمون وروسته د حنفي فقهي سره سم د عمل التزام وکړي او حسنه اخلاق حاصل کړي، او له ذمیمه ردیه اخلاقو څخه پرهیز وکړي، لنډه دا چي د اهل سنت والجماعت د مسلک پیروي علماً وعملاً د خلاصون لپاره بس ده. فقط

د اسلام اظهار نه کونکی مسلمان دی او کنه؟

(۱۱) ایا هغه سړی چي په ظاهره د کوم مذهب سره تړون لري او په باطني توګه پر الله، رسولانو، آسماني کتابونو او د اسلام پر ارکانو پوره ایمان لري او د اسلام ټول فرائض لمونځ، روژه او نور په زړه کي پټ پوره کوي، مګر د دنیوي وجاهت په وجه د اسلام اظهار نه کوي، ایا داسي سړی مسلمان دی او کنه؟ (۱۳۳۵/۱۰۵۱هـ)

جواب: ایمان هغه معتبر دی چي په زړه کي تصدیق وي د هغو ټولو خبرو کومي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی له لوري راوړي دي او په ژبه اقرار وکړي د دغه ټولو خبرو، همداسي په شرح عقائدو او نورو کي دي او دا هم په هغه کي دي چي محققین دا وايي چي په زړه سره تصدیق دی او د دنیاوي احکامو جاري کولو لپاره اقرار شرط دی[1] د دغه دوهم قول سره سم هغه سړی چي په سوال کي یاد و نه شوي

---

۱) ذهب جمهور المحققین الی انه هو التصدیق بالقلب، وانما الاقرار شرط لاجراء الاحکام في الدنیا الخ (شرح العقائد، ص: ۱۲۱، مبحث الایمان)

ده عند الله مؤمن دی که څه هم ظاهراً ده ته مسلمان نه ویل کیږي او اسلامي احکام پر ده نه جاري کیږي. فقط والله تعالی اعلم.

د مسلمان کیدو اعلان کول ضروري نه دی

(۱۲) زید د لسو مسلمانانو مخته له کفر څخه توبه وایسته او د توحید کلمه یې وویله مسلمان شو نو اوس د ده لپاره پخپلو انو کې د دې اظهار ضروري دی او کنه؟ ایا دی مسلمان شو او کنه؟ (۵۲۲/۱۳۴۰هـ)

جواب: دا سړی مسلمان شو او له دې څخه زیات اعلان کول ضروري نه دی پخپله به اعلان وشي، لیکن غوره دا ده چې ټولو خپلوانو ته د دې خبر ورکړي او چې څوک پوښتنه ځني وکړي ورته دې ووایي چې زه مسلمان شوی یم. فقط والله تعالی اعلم.

پولیسو ته د مسلمانولو راپور ورکول ضروري نه دی

(۱۳) یو نامسلمان دا غواړي چې مسلمان شي یو مولوي صاحب د شهادت کلمه په وویله مسلمان یې کړی خو پولیسو ته خبر ورنکړی، ایا دا ډول دا سړی په اسلام کې داخل شو او کنه؟ (۲۲۲۸/۱۳۴۲هـ)

جواب: د چا مسلمانولو لپاره پولیسو ته راپور ورکولو ضرورت نشته. فقط.

د مسلمانولو لپاره د محکمې اجازه ضروري نه ده

(۱۴) که کوم هندو مسلمان کیدل غواړي او وایي چې ما مولوي صاحب ته وروليي مولوي صاحب ورته وایي چې که عدالت اجازه کوي نو موږ دې مسلمانولای شو، د دې څه حکم دی؟ (۱۰۷/۴۴-۱۳۴۵هـ)

جواب: کوم هندو چې مسلمانیدو ته اماده وي سمدستي یې مسلمان کړی په دې کې ځنډ مه کوی او دا مه وایاست چې له محکمې اجازه واخلي بیا یې مسلمانوو دا ډیره بده خبره ده. فقط.

د غرقیدو پر مهال د فرعون ایمان راوړل قبول نه شو

(۱۵) د غرقیدو پر مهال چي فرعون کوم ایمان راوړی هغه معتبر دی او کنه؟ (۱۳۳۸/۲۳۴۰هـ)

جواب: د غرقیدو پر مهال د فرعون ایمان راوړل قبول نه شو. کما نطق به الکتاب(۱) فقط

یهود او نصاری ته موحدین ویل صحیح نه دی

(۱۶) اهل کتاب ته موحدین ویلای شو او کنه؟ (۱۳۳۸/۲۳۴۰هـ)

جواب: د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر بعثت وروسته پر رسول الله صلی الله علیه وسلم او قرآن شریف ایمان نه راوړونکیو اهل کتاب ته موحدین نشي ویل کیدلای. د هغو لقب کافر دی. کما قال الله تعالی: "لقد کفر الذین قالوا ان الله هو المسیح ابن مریم" (سورة مائده، آیت: ۱۷-۷۲)

د زړه له کومي لا اله الا الرحمن ویونکی کافر مسلمان شو

(۱۷) یو کافر د لا اله الا الله پر ځای لا اله الا الرحمن د زړه له کومي وویله نو مسلمان شو او کنه؟ (۱۳۴۵/۱۲۸۷هـ)

جواب: کله چي په زړه سره دا عقیده وي چي الله تعالی یو دی او محمد صلی الله علیه وسلم د هغو رسول دی، نو دی مسلمان شو، او لا اله الا الرحمن ویل هم صحیح دی، لکه قرآن شریف کي دي: "قل ادعوا الله او ادعوا الرحمن" (سورة بني اسرائیل، آیت: ۱۱۰) فقط والله تعالی اعلم

د کوم چا چي آخرنی خبره بسم الله وي هغه د جنتي کېدو په زیري کي داخل دی

(۱۸) د کوم سړي آخري کلام بسم الله وي او پر دي خاتمه شوې وي، نو هغه سړی ومن کان آخر کلامه

---

(۱) وجوزنا ببني اسرائیل البحر فاتبعهم فرعون وجنوده بغیا وعدوا حتی اذا ادرکه الغرق قال آمنت انه لا اله الا الذي آمنت به بنو اسرائیل وانا من المسلمین، آلئن وقد عصیت قبل وکنت من المفسدین (سورة یونس، آیت: ۹۰-۹۱)

لا اله الا الله دخل الجنة. (۱) والا حديث كي شامل شوى دى او كنه؟ (۱۳۳۸/۲۷۰هـ)

جواب: مطلب خو داغه دي چي ذكر الله آخر كي وي. لهذا هغه سړى كوم چي آخري كلمه يې بسم الله ده د دخول جنت كي په بشارت داخل دي ځكه بل روايت كي دي: وان تفارق الدنيا ولسانک رطب من ذکر الله (۲) او کما قال صلى الله عليه وسلم فقط والله اعلم

د اهل جنت کلام کول. خوړل څښل او ګرځيدل له قرآن او احاديث څخه ثابت دی

(۱۹) کوم خلک جنت ځي هغه به جنت کي د ننه ګرځيدی شي او خوړل څښل به کولای شي کنه؟ او حوري خدمت لپاره ملا ويړي د هغو سره صحبت به کوي کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۷۴۸هـ)

جواب: د اهل جنت کلام کول خوړل څښل ګرځيدل له احاديث څخه ثابت دي (۳) او قرآن شريف کي هم موجود دي: "کلما رزقوا منها من ثمرة رزقا" (سورة بقره، آيت: ۲۵) په بل ځای کي راغلي دي: واقبل بعضهم على بعض يتساءلون (۴) او "فجعلناهن ابكارًا" (سورة واقعه، آيت: ۳۶)

---

۱) عن معاذ بن جبل رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من كان آخر كلامه لا اله الا الله دخل الجنة. (سنن ابي داؤد: ص۴۴۴، كتاب الجنائز، باب في التلقين)

۲) عن عبد الله بن بسر رضى الله عنه قال: جاء اعرابي الى النبي صلى الله عليه وسلم، فقال اي الناس خير؟ فقال: طوبى لمن طال عمره وحسن عمله، قال: يا رسول الله! اي الاعمال افضل؟ قال: ان تفارق. الحديث، رواه احمد والترمذي (مشكاة المصابيح: ص۱۹۸، كتاب الدعوات، باب ذكر الله عزوجل والتقرب اليه، الفصل الثاني)

۳) عن جابر بن عبد الله رضى الله عنه يقول: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ياكل اهل الجنة فيها ويشربون ولا يتغوطون ولا يمتخطون ولا يبولون ولكن طعامهم ذاک جشاء كرشح المسک يلهمون التسبيح والتحميد، كما تلهمون النفس. (الصحيح لمسلم: ۳۷۹/۲، كتاب الجنة وصفة نعيمها واهلها)

وعن انس رضى الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: يعطى المؤمن في الجنة قوة كذا وكذا من الجماع قيل: يا رسول الله! او يطيق ذلک؟ قال: يعطى قوة مائة (جامع الترمذي: ۸۰/۲، ابواب صفة الجنة، باب ما جاء في صفة جماع اهل الجنة)

۴) صورة صافات، آيت: ۲۷، سورة طور، آيت: ۲۵

غیر مسلم که صرف د اسلام کتابونه ووايي او کلمه توحید نه ووايي نو هغه مسلمان ندی

(۲۰) که یو کافر هندو او نور د مذهب اسلام کتابونه ووايي او د ده له کلام څخه عقیدت بزرګان و موندل شي لیکن کلمه توحید نه وايي نو دی مؤمن دی که کافر؟ (۱۳۳۸/۵۱۵هـ)

جواب: یو کافر هندو او نور تر څو پوري کلمه توحید نه ووايي او د شهادتین اقرار ونکړي تر هغه وخته ده ته مسلمان نه ویل کیږي فقط والله تعالی اعلم

مسلمان ته منافق نه دي ویل پکار

(۲۱) عام مسلمانانو کي د مؤمن او منافق تمیز څه رنګه کیږي؟ (۱۳۴۳/۱۲۵۹هـ)

جواب: د دغه تمیز ضرورت نشته یو مسلمان ته منافق ندی ویل پکار، دا حرام دي، قال تعالی: "ولا تقولوا لمن القي اليكم السلم لست مؤمناً" (سورة نساء، آیت: ۹۴) فقط والله تعالی اعلم

په خبره پوه نابالغ ایمان معتبر دی

(۲۲) که د هندو نابالغه زوی خپل ایمان ظاهر کړي نو معتبر او مقبول به وي که نه؟ (۲۹۱۲/ ۱۳۴۵هـ)

جواب: نابالغ که په خبره پوه دی د هغه مقدار درمختار کي اووه کاله عمر ګرځولی دی، نو د دغه اسلام راوړل صحیح دي او اسلم الصبي وهو عاقل ای ابن سبع سنين صلى عليه لصير ورته مسلماً (۱) فقط والله تعالی اعلم

بچي په مور او پلار کي د مسلمان تابع دی

(۲۳) یوه هندوانی مسلمانیږي، میړه پر خپل مذهب پاته کیږي

---

۱) الدر المختار مع الشامي: ۲۵۲/۱، کتاب الصلاة، باب صلاة الجنازه، قبل مطلب في حمل الميت ط رشيديه

او هغه ژوندی دی، ښځه مسلمان کیدو بعد خپله نابالغه انجلی یا هلک عمر ۲ کاله هم مسلمان کوي، ایا شرعًا په ژوند د پلار مذکور د ده د مور ولایت راجح دی. که د پلار؟ او د دې په دوهم صورت کي هم داغه سوال دی، یعني پلار مسلمان کیږي او مور هندو پاته کیږي پلار نوي مسلمان د خپلي لور یا زوی نابالغه عمر ۲، ۷، ۸، ۹ کاله هم مسلمان کوي، په داسي حالت چي د هلک یا انجلی مور ژوندی او موجوده وي د مور ولایت مرجح دی که د پلار؟ (۳۱۲۳/ ۴۲ - ۱۳۴۷ھ)

جواب: په در مختار کي دي: الولد یتبع خیر الابوین دینًا الخ(١) له دغه روایته **معلوم شو چي بچی د خیر الابوین تابع وي یعني د مور وپلار څخه چي کوم یو مسلمان وي بچی د هغه تابع کیدو سره د ده حکم د مسلمان په ډول وي او دی به خاص مسلمان ګڼل کیږي، لهذا په دغه صورت کي په دواړه حالتونو کي بچی مسلمان دی او د والدین څخه کوم یو مسلمان شوی دی بچی به د هغه سره وي او مسلمان بلل کیږي او بل ته دا** حق نشته چي بچی له مور څخه واخلي کافر یې کړي.

له اسلام راوړلو څخه یو قوم او فرقه هم نشي راګرځوي

(۲۴) یو ډیپوټیشن (وفد) له ممبی څخه زموږ ښار ته داخل شوی دی، خپل ځان ته ملایان وایي او د اشاعت اسلام په غرض راغلی دی، کوم قوم چي د هندوانو او مسلمانانو په نزد ذلیل دی مثلاً بنګیان او نور دغه خلک د دغو خلګو کورو ته ولاړ شي د هغو ښځي او بچیان مسلمانان کوي او زموږ مسجدو ته یې راولي د دې په سبب ټولو مسلمانانو کي اختلاف پیدا شوی دی او مسجدونو د بند کیدو ویره ده ایا علماء د دې خبري اجازه ورکوي چي نن سبا دا ذلیل قوم مسلمان کول ضروري دي؟ (۱۳۵۸/ ۱۳۳۹ھ)

جواب: له اسلام راوړلو څخه یو قوم او فرقه نشي راګرځولای او یو قوم که څه هم اسلام راوړلو څخه مخکي ذلیل وي، مګر اسلام راوړلو وروسته د الله په نزد د دې ډیر عزت دی، په دې کي قیل وقال او مصلحت لیدل ندی پکار. فقط والله تعالی اعلم

١) الدر المختار مع الشامي: ١٤٧/٢، کتاب النکاح، باب نکاح الکافر، مطلب الولد یتبع خیر الابوین دینًا. ط رشیدیه

د خطري پر مهال د غوا پر ځای د بوزې قرباني کولو کي په ايمان کي کمي نه واقع کيږي

(۲۵) مسلمان ناتوان د غير مسلم ظالم حاکم د وجي که قرباني نه وکړي يا د بقر (غوا) پر ځای د بوزې قرباني وکړي، نو د دې ښځه به د ده په اسلام او ايمان کي فتور واقع کيږي کنه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۴۰۰هـ)

جواب: د شعائر اسلامي د قيام لپاره مسلمان بايد د هري قرباني لپاره تيار وي، د کمزوري ښځه د نورو خلکو حوصلې پوره نه کيږي، بيا هم که پر داسي خطرناک موقعه باندي پر رخصت عمل وکړي نو روا دي، که په نيت کي سقم نه وي نو انشاءالله ايمان به هم سالم وي فقط والله تعالی اعلم

کوم نوی مسلمان چي نه لمونځ کوي نه روژه نيسي هغه مسلمان دی

(۲۶) يو سړی يوه هندواني ښځه مسلمانه کړه نکاح يې ورسره وکړه، هغه ښځه نه لمونځ کوي نه روژه نيسي او د هندوانو مندرو ته ځي او نور نو اوس د دغه نکاح صحيح ده کنه؟ اوس هغه ښځه مسلمانه ده کنه، چي کوم اولاد ځني شوی دی هغه حلال دی کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۲۹۵هـ)

جواب: لمونځ نه کول، روژه نه نيول او زکوة نه ورکول دا ټول ګناه کبيره دي، تارک الصلاة او نور فاسق دی مګر کافر نه دی، لکه حديث: وان زنی وان سرق الحديث[1] پر دغه دال دی او لا تکفره بذنب وارد دی[2] بيا نو په سبب د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا ارشاد: ما من عبد قال: لا اله الا الله ثم مات علی ذلک دخل الجنة، قلت وان زنی وان سرق، قال وان زنی وان سرق الحديث (۱) دغه ښځه مسلمانه ګڼل کيږي او د مسلمانانو په ډول معامله به ورسره کيږي

---

۱) عن ابي ذر رضی الله عنه قال: اتيت النبي صلی الله عليه وسلم وعليه ثوب ابيض وهو نائم ثم اتيته وقد استيقظ، فقال: ما من عبد قال الحديث (صحيح البخاري: ۲/۸۶۶-۸۶۷، کتاب اللباس، باب الثياب البيض)

۲) عن انس بن مالک رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: ثلاث من اصل الايمان الکف عن من قال: لا اله الا الله، ولا تکفره بذنب، ولا تخرجه من الاسلام بعمل. الحديث (ابو داؤد، ص: ۳۴۲، کتاب الجهاد، باب في الغزو مع ائمة الجور)

د دې نکاح د مسلمان سره په شرائط صحیح ده او کوم اولاد چې د نکاح بعده شوی دی هغه ولد الحلال دی فقط

کراماً کاتبین وساوس لیکي کنه؟

(۲۷) که د زید په زړه کي وسوسې راشي او دی د هغه مرتکب نه وي نو کراماً کاتبین هغه لیکي کنه؟ (۱۳۳۹/۲۰۷۷هـ)

جواب: نه[۱] فقط والله تعالی اعلم

ایا دوږخ ته به نیک او بد ټول ځي؟

(۲۸) زید وایي په حکم د آیت کریمه "وان منکم الا واردها کان علی ربک حتمًا مقضیًا" (سورة مریم، آیت ۷۱) دوږخ ته به نیک او بد ټول داخلیږي او د نېکو خلګو لپاره به اور باغ شي، بکر وایي: د دې څخه مراد پر پل صراط تیریدل دی نو د چا قول صحیح دی؟ (۱۳۴۰/۲۸۲هـ)

جواب: د دې څخه مراد پر پل صراط تیریدل دي او بکر صحیح وایي او پر دغه د ټولو مفسرینو اتفاق دی چې له دغه ورود څخه مراد علی الصراط دی[۲] فقط والله تعالی اعلم

(۲۹) زید وایي چې د قیامت په ورځ به ټول خلګ په جهنم کي داخل کړل کیږي

---

۱) عن ابي هريرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ان الله تجاوزت عن امتي ما وسوست به صدرها ما لم تعمل به او تتکلم، متفق علیه (مشکوة المصابیح. ص ۱۸. کتاب الایمان. باب في الوسوسة، الفصل الاول)

له دغه حدیث څخه معلومیږي چې وساوس قابل مؤاخذه نه دي چې قابل مؤاخذه نه دی نو هغه کراماً کاتبین نه لیکي، ځکه چې کراماً کاتبین هغه اعمال لیکي پر کوم چې جزاء وسزاء مرتب کیږي

۲) په ترجمه شیخ الهند او فوائد عثماني کي راغلي دي

"په تاسو کي هیڅوک چې هلته نه رسیږي، شوې ده دغه وعده ستا پر رب باندي لازم مقرر ب مور هغه خلاصوو چې ویریږي او پریږدو ګناهګاران په دې کي پر مخ" یعني هر نیک وبد، محرم او بری او د مؤمن او کافر لپاره حق تعالی قسم خوړلی دی او فیصله یې کړې ده چې خامخا به پر دوږخ د هغه تیریدل وي، ځکه چې جنت ته د تلو لار خاص پر دوږخ تللې ده، هغه ته په عام محاوره کي "پل صراط" وایي

بدليل قوله تعالى: "وان منكم" اى ما منكم احد (الا واردها) داخلها يدخل النار بر وفاجر وتكون على المؤمنين بردًا وسلامًا (۱) په تفسير مدارک او جامع البيان کي د زيد دعوى ده چي په لفظ د بر کي انبياء عليهم السلام هم شامل دي او بکر وايي چي انبياء عليهم السلام او سادات کرام مستثنى دي دا صحيح ده کنه؟ (۱۳۴۰/۴۸۱هـ)

جواب: دا خو ښکاره ده چي مراد له دغه ورود څخه مرور على الصراط. يعني پر پل صراط تيريدل دي. څرنګه چي به پل صراط پر جهنم قائم وي ځکه پر هغه تيرېدونکي ته وارد پر جهنم داخل په جهنم او عابر پر جهنم ټول ورته ويلي شي، لکه چي په کمالين کي شته: وكثير من السلف على ان الورود هو العبور على الصراط فانه ممدود على جهنم ورجحه النووي. (الى ان قال:) والذين يظهر لهذا العبد ان هذا الاختلاف لفظي فان المرور على الصراط مما اتفقوا عليه غير ان منهم من عدة دخولاً ومنهم حسبه عبورًا (۲) بيا نو انبياء عليهم السلام هم د "وان منكم الا واردها" په عموم کي داخل دي، ځکه چي ترتب: "ثم ننجي الذين اتقوا" (سورة مريم، آيت: ۷۲) هغه وخت صحيح کېدای شي چي اول د هغو دخول او عبور تسليم کړل شي، کما في الكمالين عن المدارک: الورود الدخول عند على وابن عباس رضى الله عنهما وعليه

پر هغه به لا محاله د ټولو تيريدل وي، د خدای څخه بيريدونکي مؤمنين د خپلو درجو برابر به په سلامتي سره تيريږي او ګناهګاران به په دوږخ کي بنديدو سره ايله شي، (العياذ بالله) بيا څه مدت وروسته د خپل عمل موافق هم د انبياء، ملائکه او صالحين په شفاعت سره او آخر به پخپله د ارحم الراحمين په مهرباني سره به هغه ټوله ګناهګاران کوم چي په رښتيا اعتقاد سره کلمه ويلي وه د دوږخ به را ايستل کيږي، صرف کافران به پاته کيږي او د دوږخ خوله به بنده کړل شي، له ځينو روايتونو څخه معلوميږي چي ورته به هر سړی داخل کيږي مګر پر صالحينو به هغه اور برد وسلام کيږي هغه بيله ويري پر هغه تيريږي. والله اعلم

امام فخر الدين رازي پخپل تفسير کي د دغه دخول ډير حکمتونه بيان کړي دي، فليراجع (ترجمه شيخ الهند او فوائد عثماني، ص: ۴۱۴ – ۴۱۵، تفسير سورة مريم، آيت: ۷۱، حاشيه نمبر: ۳)

۱) تفسير مدارک التنزيل وحقائق التاويل، ص: ۳۹۵، تفسير سورة مريم، المطبوعة: المطبع الحنفي. دهلي

۲) تعليقات جديدة من التفاسير المعتبرة لحل الجلالين المعتبرة لحل الجلالين، ص: ۲۵۸، رقم الحاشية: ۴۲، تفسير سورة مريم

جمهور اهل السنة لقوله تعالى: "فاورد هم النار" (هود: ۹۸) ولقوله: "لو كان هولاء آلهة ما وردوها" (الانبياء: ۹۹) ولقوله: "ثم ننجي الذين اتقوا" (مريم:۷۲) اذا النجاة انما يكون بعد الدخول الخ، وعن الحسن وقتادة الورود: المرور على الصراط، لان الصراط ممدود عليها الخ(۱) ثم بعد هذا مانقلته اولاً من قوله: وكثير من السلف الخ(۲) فقط والله تعالى اعلم.

سيد دوږخ ته ځي کنه؟

(۳۰) زید وايي: زموږ پیر صاحب ویل چي سید دوږخ ته نه ځي که ښه عمل وکړي که بد، بکر وايي چي بد عمل کوي هغه به دوږخ ته ځي که سید وي که بل څوک وي. (۱۲۴۲/۱۳۴۰ه)

جواب: کوم څوک چي مرتکب د ګناه وي که سید وي که بل څوک د عذاب وړ دی. قال الله تعالى: "ومن يعمل مثقال ذرة شرا يره" (سورة زلزال، آیت: ۸) فقط والله تعالى اعلم.

بې لمانځه مؤمن د کافر مشرک څخه ښه دی

(۳۱) قرآن شریف بې لمانځه په مشرکانو کي داخل کوي: "واقيموا الصلوة ولا تكونوا من المشركين" (سورة روم، آیت: ۳۱) ایا صرف د کلمې ویلو په وجه سره پر هندو او مشرک ترجیح لري چي له ده سره سود اسلف وشي او دی د لمانځه کولو په حالت کي تر مشرک ښه وګڼل شي؟ (۴۱۷/۴۲-۱۳۴۷ه)

جواب: دا خو ښکاره خبره ده چي حنفیه لمانځه پرېښونکي ته کافر نه وايي، بلکي جمهور اهل سنت ماسیوا له بعضو لمانځه پرېښونکي ته کافر نه وايي، بلکي فاسق ورته وايي او کوم روایات چي د هغه خلاف دي په هغه کي تاویل کوي او کلمه ویونکي ته چي د ضروریات دین منکر نه وي مسلمان وايي او ګڼي یې

---

۱) تعلیقات جدیدة من التفاسیر المعتبرة لحل الجلالین، ص: ۲۵۸ رقم الحاشیة: ۲۵

۲) تعلیقات جدیدة من التفاسیر المعتبرة لحل الجلالین، ص: ۲۵۸، رقم الحاشیة: ۲۲، تفسیر سورة مریم

تر دې چې د بې لمانځه د جنازې لمونځ هم په حکم د صلوا على كل بر وفاجر الحديث[١] ضروري دی، بيا نو مسلمان كه څه هم فاسق وي، ليكن كه خاتمه د ده پر كلمه شهادت وشي نو آخر انجام د ده لپاره جنت دی او د كافر مشرک لپاره خلود في النار دی، بيا نو په دوی کي برابري څرنګه ممکنه ده؟ (لا يستوي اصحاب النار واصحاب الجنة. الاية) (سورة حشر، آيت: ۲۰) فقط والله تعالى اعلم.

پر هر مسلمان تواضع لازم ده

(۳۲) زيد د كسر نفسي په وجه خپل وجود په نسبت د نورو اهل اسلام قطع نظر د اعمالو څخه حقير ګڼي. (۱۳۴۳/۲۴۰۷هـ)

جواب: دا رنګه ګڼل هر مسلمان لره ضروري ده او تواضع لازمه ده. فقط والله تعالى اعلم

ښځه، آس او مکان منحوس دي كنه؟

(۳۳) ښځه، آس او مکان منحوس وي کنه؟ کنه دي نو په کوم حديث کي ليکلي دي؟ که دي نو د هغه د دفعيه کوم صورت دی؟ (۱۷۳۹/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: په حديث شريف كي د دې په هكله دومره وارد دي، كه په يو شي كي نحوست شته نو په ښځه او مكان او آس كي دی او غرض دا دی چې نحوست په هيڅ شي كي نشته كه وای، نو په دغه اشياوو كي به وای. په مشكوة كي د ابو داؤد څخه روايت دی چې: وان تكن الطيرة في شئ ففي الدار والفرس والمراة[٢] صاحب مرقات ليكي: والمعني ان فرض وجودها تكون في هذه الثلاثة ويؤيدها ما ورد في الصحيح

---

١) عن ابي هريرة رضى الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: صلوا خلف كل بر وفاجر وصلوا على كل برو فاجر وجاهدوا مع كل بر وفاجر (سنن الدار القطني: ١٨٥/١، كتاب الصلوة، باب صفة من تجوز الصلوة معه والصلاة عليه، المطبوعة: المطبع الانصاري الواقع في الدهلي)

٢) عن سعد بن مالک رضى الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لا هامة ولا عدوي ولا طيرة وان تكن الطيرة، الحديث (مشكوة المصابيح، ص: ٣٩٢، كتاب الطب والرقي، باب الفال والطيرة، الفصل الثاني)

بلفظ: "ان کان الشؤم في شيئ ففي الدار والمراة والفرس" والمقصود منه نفي صحة الطيرة علی وجه المبالغة(۱) نو معلومه شوه چي منحوس هيڅ شی نه دی، که چا ته وهم او وسوسه وي نو په احاديثو کي شته چي هغه دي دا دغه شان دفعه کړي چي پر الله تعالی دي اعتماد وکړي او دا عقيده دي وساتي چي بيله امر الهي هيڅ شی نفع او نقصان نه شي رسولای. بس توکل علی الله د دهٔ وهم او شبه ليري کوي (۲) فقط والله تعالی اعلم

د مسلمان په هکله هيڅ ورځ يا مياشته منحوس (ناسي) نه ده

(۳۴) ايا په شريعت غراء کي د يو ورځي يا مياشتي نحوست ثابت دی کنه؟ او دغه منحوس ګڼونکی به څرنګه وي؟ په يو بنګله کتاب کي دا حديث درج دی دا حديث څرنګه دی؟ نبي صلی الله عليه وسلم شپږ ورځي منحوسي وښودلې، په دغه ټولو کي د نوي کار کولو ممانعت ښودلی دی مثلاً د هر مياشتي په دريم تاريخ واده او نورو ممانعت ښودلی دی، د دې وجي قابيل هابيل په دغه کي قتل کړی دی او پنځم تاريخ څکه چي حضرت يوسف عليه السلام په دغه ورځ ورونو په څاه کي اچولی او اتم تاريخ د دې وجي چي آدم عليه السلام په دغه تاريخ له جنت څخه خارج کړل شو او شپاړسم تاريخ چي حضرت زکريا عليه السلام په دغه ورځ کي شهيد کړل شو او څلورويشتم تاريخ چي نبي صلی الله عليه وسلم غاښ مبارک شهيد کړل شو او پنځويشتم تاريخ چي حضرت ابراهيم عليه السلام په اور کي واچول شو.

والحديث الاخر وهو هذا: نبي کريم صلی الله عليه وسلم په دغه مياشتو پدغه تاريخو کي له واده او نورو نوي کارونو څخه منع وفرمايل.

---

۱) مرقاة المفاتيح ۴۰۱/۴، کتاب الطب والرقي، باب الفال والطيرة، رقم الحديث ۴۵۸۲

۲) عن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه عن رسول الله صلی الله عليه وسلم قال: الطيرة شرک، الطيرة شرک ثلاثاً، وما منا الا ولکن الله يذهبه بالتوکل، (سنن ابي داؤد: ۵۴۲/۲، کتاب الطب، باب في الطيرة والخط) وعن عروة بن عامر رضی الله عنه قال: ذکرت الطيرة عند رسول الله صلی الله عليه وسلم فقال: احسنها الفال، ولا ترد مسلماً، فاذا رای احدکم ما يکره، فليقل: اللهم لا ياتي بالحسنات الا انت، ولا يدفع السئات الا انت ولا حول ولا قوة الا بالله (مشکوة المصابيح، ص: ۳۹۲، کتاب الطب والرقي، باب الفال والطيرة، الفصل الثالث)

په لسمه د محرم او د محرم په شل تاریخ کي د ربیع الثاني په لومړي او شپاړسم کي د جمادي الاولی په دوه او لس کي، د شعبان (برات) په دوه او اوو کي د روژې په درې او اوو کي د شوال (کوچني اختر میاشت) په شل او اوویشتم کي د ذي قعده (میاني میاشت) په دوو او شپږ کي د ذو الحجه (لوی اختر میاشت) په شپږ او اته کي او د هري میاشتي په هغه ځلورویشت ساعتونو کي په کوم کي چي د ځور لسمي سپوږمۍ وي دې ته بنګله کي اماوشا ویل کیږي، ویوم کل شهر یکون القمر فیه غائبًا غیر ظاهر وغیر مرئي. او دا شان ورځي ته په بنګله کي پرنما وایي ایا دا خبري ثابته او جائز دي کنه؟ (۱۳۴۱/۱۳۷۲ھ)

جواب: په صحیح حدیث شریف کي وارد دي: د دهر اطلاق حق تعالی پر خپل ذات کړی دی او د هر ته بد ویل د خپل ایذاء سره برابر ګرځولی دی، څرنګه چي په حدیث کي دا مقوله وارده ده. یؤذیني ابن آدم یسب الدهر وانا الدهر الحدیث([1]) یعني ابن آدم ما ته تکلیف را رسوي چي زماني ته بد وایي حال دا چي دهر خو زه یم یعني دهر ته بد ویل حق تعالی طرف ته عائد کیږي نعوذ بالله لیکن کومه ورځ پر مشرکینو عذاب نازل شوی دی هغه ورځ صرف د هغو لپاره نحس وه. د الله تعالی له مطیع بندګانو لپاره نه وه، څرنګه چي مفسرینو د "في یوم نحس مستمر" (سورة قمر، آیت: ۱۹) په تفسیر کي د دې وجي دا لیکلي دي: دا ورځ همیشه پر مشریکینو نحس ده. د دې مثال دا دی: کوم ورځ چي فرعون غرق شو هغه ورځ خو د فرعون لپاره نحس وه. لیکن د حضرت موسی علیه السلام او د هغه د قوم لپاره هم هغه ورځ د نجات وه بیا نو ولي دغه ورځ مطلق نحس ګرځول کیدای شي؟! او د انبیاء کرام علیهم السلام د تکالیفو ورځو ته یوم نحس ویل محض جهالت دی، ځکه چي حق تعالی د کفارو د عذاب ورځي یوم نحس ویلي دي او د انبیاء کرام ایام ابتلاء د دوی لپاره ایام ترقي د درجات دي بس هغه ورځي د دوی لپاره د نورو سعاداتو سبب دی، نحس نه دی، د ذی الحجه لومړی لس ورځي علماوو د ټول کال تر ورځو افضل او برتر ویلي دي:([2]) بس نو (د هري میاشتي دریم) پنځم او اتم بد ګرځول د دې مخالف دي

---

۱) عن ابي هریرة رضی الله عنه قال: قال النبي صلی الله علیه وسلم: قال الله یؤذیني، الحدیث (صحیح البخاري: ۷۱۵/۲، کتاب التفسیر، باب: وما یهلکنا الا الدهر) الآیة

۲) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: قال النبي صلی الله علیه وسلم: ما من ایام العمل الصالح فیهن احب الی الله من هذه الایام العشر، فقالوا یا رسول الله اولا الجهاد في سبیل الله؟ فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ولا الجهاد في سبیل الله، الا رجل خرج بنفسه وماله فلم یرجع من ذلک بشيء (جامع الترمذي: ۱۵۸/۱، ابواب الصوم-

دغه شان د مسلم په حدیث کي وارد دي: خير يوم طلعت عليه الشمس يوم الجمعة[۱] په دغه کي يوم الجمعة تر ټولو ورځو غوره ګرځولې ده. بس نو که په دغه تاریخو کي يو تاریخ د جمعې په ورځ وي یا د اما وشا او پر نما تاریخو کي دننه جمعه راشي نو د حدیث صحیح له کبله هغه ورځې په خير يوم طلعت عليه الشمس کي داخل وي. بس نو ثابته شوه چي دغو ورځو ته منحوس ویل د اهل اسلام لپاره قطعًا صحیح نه ده. لیکن منحوس د مشریکینو لپاره کیدای شي او هغه منحوس والی هم د دغه ورځو پر ذات هيڅ اثر نه کوي، بلکه پر هغو به وي، بس نو د اهل اسلام لپاره په اما وشا او پر نما او نورو ورځو کي واده کول جائز دي، لیکن که څوک د خدای سره په دغه ورځو کي د نحوست عقیده ساتي له دې څخه د ګناهګار کیدو ماسیوا د مشرکانو په شان د مضرت خطره هم شته. کما قال الله تعالی: انا عند ظن عبدي بي الحديث[۲] فقط والله اعلم

يوه ناجوړي بل ته نه لګيږي

(۳۵) زید عقیدةً وایي چي هندې خپل ناجوړه زوی څو واره زما کورته راوړی، له دې وجي زما زوی ته د هندې د زوی ناجوړي ولګیده او مړ شو او د هندې زوی جوړ شو. (۱۸۷۴/۱۳۳۷هـ)

جواب: په حدیث شریف کي راغلي دي:

== باب ما جاء في العمل في ايام العشر)

قوله: (هذه الايام العشرة) اختلفوا في ان هذه العشرة افضل ام عشرة رمضان؟ والمختار ان ايام هذه العشرة افضل لوجود يوم عرفة فيها، وليالي عشرة رمضان افضل لوجود ليلة القدر فيها، ذكره الشيخ المحدث الدهلوي (هامش المشكاة، ص: ۱۲۸، كتاب الصلاة، باب في الاضحية، الفصل الاول، رقم الحاشية: ۱)

۱) عن ابي هريرة رضی الله عنه يقول: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: خير يوم، الحديث (الصحيح لمسلم: ۲۸۲/۱، كتاب الجمعة، فصل في فضيلة يوم الجمعة على باقي الايام الخ)

۲) عن ابي هريرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: يقول الله: انا عند ظن عبدي بي، وانا معه اذا ذكرني، فان ذكرني الحديث (صحيح البخاري: ۱۱۰۱/۲، كتاب التوحيد، باب قول الله: "ويحذركم الله نفسه" الخ)

لاعدي(۱) یعني د یو چا ناجوړي بل چا ته نه لګیږي بس نو د زید خیال غلط دی او عقیده د ده صحیح نه ده، دا ډول عقیده دي نه ساتي. فقط والله تعالی اعلم

پر مریض پوښتنه کولو سره د ناجوړي لګیدو عقیده د شریعت خلاف ده

(۳۶) پر مریض پوښتنه کولو سره ناجوړي لګیږي کنه؟(۱۳۴۵/۷۳۴هـ)

جواب: دغه شان عقیده نه دي ساتل پکار، په حدیث شریف کي شته: لا عدوي(۲) یعني د چا ناجوړي بل چا ته نه لګیږي فقط والله تعالی اعلم

انسان جوړ دی که مختار؟

(۳۷) زید وایي چي هر عمل په موږ باندي الله کوي، د انسان په وس کي هیڅ نشته، لکه الله په قرآن شریف کي فرمایي: "ختم الله علی قلوبهم وعلی سمعهم وعلی ابصارهم غشاوة ولهم عذاب عظیم" (سورة بقرة، آیت: ۷) زید د دې آیت څخه دا ګني چي د کوم چا پر زړه الله تعالی د نیکۍ تاپه ووهي هغه ته به جنت ملاویږي او د چا پر زړه چي د دوږخ مهر (تاپه) ووهي هغه ته به دوږخ ملاویږي عمر وایي چي انسان خود مختار (واکمن) دی په دغه صورت کي د چا قول راجح دی؟(۱۳۴۷-۴۲/۱۱۱۷هـ)

جواب: کوم څه چي په تقدیر کي لیکل شوي دي سعادت یا شقاوت د هغه موافق ظهور کیږي او بنده د هغه موافق عمل کوي قال الله تعالی: "فمنهم شقي وسعید" (سورة هود، آیت: ۱۰۵) د هر فعل خالق الله تعالی دی او بنده د هغه کاسب دی دغه مسئله د یو محقق عالم څخه پوښتل پکار ده عوامو ته په دغه کي غور وخوض نه دی کول پکار او د ذکر شوي آیت چي کوم مقصد زید ګڼلی دی هغه غلط دی دا آیت خاص د هغو کفارو په هکله دی کومو لره چي هدایت مقدر نه دی. فقط والله تعالی اعلم

---

۱) عن ابن عمر رضی الله عنهما ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: لا عدوي، ولا طیرة. (صحیح البخاري: ۸۵۲/۲، کتاب الطب، باب الطیرة.)

۲) عن ابن عمر رضی الله عنهما ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: لا عدوي ولا طیرة ولا هامة ولا صفر وفر من المجذوم کما تفر من الاسد. (صحیح البخاري: ۸۵۰/۲، کتاب الطب، باب الجذام)

ایا اولیاء په قبرونو کي ژوندي دي.؟ او په قبر کي چي د حضور په هکله کوم سوال کیږي د هغه به څه کیفیت وي؟

(۳۸)... (الف) ایا ټول بزرګان او اولیاء ژوندي دي؟

(ب) ایا رسول الله صلی الله علیه وسلم او ټول انبیاء علیهم السلام پدغه آیت کي داخل دي: "ولاتقولوا لمن یقتل في سبیل الله اموات" (سورة بقره، آیت: ۱۵۴) او په قبر کي چي د نبي صلی الله علیه وسلم په هکله پوښتنه کیږي چي دا څوک دی د هغه به څه کیفیت وي؟ (۸۲۱/۱۳۴۳هـ)

جواب: (الف-ب) د انبیاء او شهداء حیات خو په نصوص کي وارد دی. د اولیاؤ په باره کي نص نشته، په حدیث شریف کي راغلي دي: ان الله حرم علی الارض ان تاکل اجساد الانبیاء فنبي الله حی یرزق (۱) د شهداء په هکله په قرآن کریم کي بل احیاء وارد دي (۲) د اولیاؤ الله په هکله یو داسي نص نشته، ممکن ده چي د ملحق بالشهداء کرځولو سره دوی ته هم احیاء وویل شي (۳) او

۱) عن ابي الدرداء رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ان الله حرم علی الارض الحدیث (مشکاة المصابیح، ص: ۱۲۱، کتاب الصلاة، باب الجمعة، الفصل الثالث)

۲) ولا تحسبن الذین قتلوا في سبیل الله امواتا بل احیاء عند ربهم یرزقون (سورة آل عمران، آیت ۱۲۹)

۳) في المرقات شرح المشکاة: قیل: یتولد الدود من العفونة وتاکل الاعضاء ثم یاکل بعضها بعضا الی ان تبقي دودة واحدة فتموت جوعا واستثنی الانبیاء والاولیاء والعلماء من ذلک، فقد قال صلی الله علیه وسلم: ان الله حرم علی الارض ان تاکل اجساد الانبیاء، وقال تعالی في حق الشهداء "ولا تحسبن الذین قتلوا في سبیل الله امواتا بل احیاء عند ربهم یرزقون" (سورة آل عمران، آیت ۱۲۹) والعلماء العاملون المعبر عنه بالاولیاء مدادهم افضل من دماء الشهداء (مرقاة المفاتیح ۵۳۵/۹، کتاب الرقاق، باب البکاء والخوف، الفصل الثاني، رقم الحدیث ۵۳۵۲)

حضرت مولنا رشید احمد صاحب ګنګوهي قدس سره فرمایي: اولیاء کرام هم په حکم د شهداء دي او مشمول آیت "بل احیاء عند ربهم" دی (فتاوی رشیدیه، ص: ۱۰۵، کتاب العقائد، داولیاء او شهداء د عذاب قبر مسئله)

دا چي په قبر کي پوښتل کيږي چي دا سړی يعني محمد صلی الله عليه وسلم څوک دی الخ د دي دا مطلب کيدای شي چي د قبر نه به پرده ليري کړل شي او مړي ته به رسول الله صلی الله عليه وسلم وربنکاره کړل شي او پوښتنه به ځني کيږي چي دا سړی څوک دی الخ او دا هم احتمال لري چي معهود في الذهن طرف ته اشاره وي (١) والله تعالی اعلم

ملائکي قبر ته د حضور صلی الله عليه وسلم تصوير راوړي کنه؟

(۳۹) مړي لره قبر ته پرښته د حضور صلی الله عليه وسلم تصوير راوړي کنه او دا جائز دي کنه؟ (۲۵۲۷/۱۳۴۱ھ)

جواب: په حديث شريف کي صرف د هذا الرجل لفظ وارد دی (٢) د دغه په شرح کي ځيني علماء وايي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم

---

١) عن ابي هريرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: اذا قبر الميت او قال احدكم، اتاه ملكان اسودان ازرقان، يقال لاحدهما المنكر والآخر النكير، فيقولان: ما كنت تقول في هذا الرجل؟ فيقول ما كان يقول هو عبد الله ورسوله: اشهد ان لا اله الا الله وان محمدا عبده ورسوله، فيقولان: قد كنا نعلم انك تقول هذا، ثم يفسح له في قبره سبعونّ ذراعًا في سبعين، ثم ينور له فيه، ثم يقال له: نم، فيقوله: ارجع الى اهلي فاخبرهم، فيقولان: نم كنومة العروس الحديث. وفي هامش الحديث: قوله: (في هذا الرجل) عبر بذلك امتحانا لئلا يتلقن تعظيمه عن عبارة القائل، قيل: يكشف للميت حتى يرى النبي صلی الله عليه وسلم وهي بشرى عظيمة للمؤمن ان صح ذلك، ولا نعلم حديثًا صحيحًا مرويا في ذلك، والقائل به انما استند لمجرد ان الاشارة لا تكون الا للحاضر، لكن يحتمل تكون اشارة لما في الذهن، فيكون مجازًا، قاله القسطلاني. (جامع الترمذي وهامشه: ٢٠٥/١، ابواب الجنائز، باب ما جاء في عذاب القبر، ورقم الهامش: ۴)

٢) عن انس رضی الله عنه عن النبي صلی الله عليه وسلم قال: العبد اذا وضع في قبره وتولي وذهب اصحابه حتى انه ليسمع قرع نعالهم اتاه ملكان فاقعداه، فيقولان له: ما كنت تقول في هذا الرجل محمد؟ فيقول: اشهد انه عبد الله ورسوله، فيقال: انظر الى مقعدك من النار بدلك الله به مقعدًا من الجنة، قال النبي صلی الله عليه وسلم: فيراهما جميعًا، واما الكافر او المنافق فيقول: لا ادري كنت اقول ما يقول الناس، فيقال: لا دريت ولا تليت ثم يضرب بمطرقة من حديد ضربة بين اذنيه فيصح صيحة يسمعها من يليه الا الثقلين. (صحيح البخاري: ١٧٨/١، كتاب الجنائز، باب: الميت يسمع خفق النعال)

ورمخته کول کیږي(۱) بس نو د دغه تصویر هیڅ ذکر نشته او هغه به تصویر نه وي. فقط والله تعالی اعلم.

د روح له قبر سره تعلق پاته کیدل

(۴۰) خلگ قبر ته د فاتحه ویلو لپاره ځي نو ایا ارواح په قبر کي موجوده پاته کیږي؟ (۱۱۷۱/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: د روح تعلق له قبر سره پاته دی بس دومره خیال کوه او د سنت موافق پر اهل قبور سلام کوه یعني السلام علیکم یا اهل القبور وایه(۲) او قل هو الله او نور ویلو سره ثواب ور ورسوه. فقط والله تعالی اعلم.

له وفات وروسته د مسلمانانو او کافرانو ارواح چیري اوسیږي؟

(۴۱) تر مرگ وروسته د انسان روح چیري اوسیږي، مؤمن انسان دفن کیږي دا ډول عیسائي او څه د نورو مذهبو مړي هم دفن کیږي، ایا د دوی د روح تعلق څه د دوی له قبرونو سره پاته کیږي کنه، که پاته کیږي نو قبر ته په ورتلو روح ته خبر رسیږي کنه؟ چي فلانکی سړی د ده قبر ته راغلی دی؟ که د قرآن پاک او نورو ویلو سره ایصال ثواب وکړل سي نو ده ته رسیږي

---

۱) قوله: (في هذا الرجل) عبر بذلک امتحانا لئلا یتلقن تعظیمه عن عبارة القائل، قیل: یکشف للمیت حتی یری النبي صلی الله علیه وسلم، وهي بشری عظیمه للمؤمن ان صح ذلک، ولا نعلم حدیثا صحیح مرویا في ذلک، والقائل به انما استند لمجرد ان الاشارة لا تکون الا للحاضر، لکن یحتمل ان تکون الاشارة لما في الذهن فیکون مجازا (هامش جامع الترمذي: ۲۰۵/۱، ابواب الجنائز، باب ماجاء في عذاب القبر، وهامش مشکاة المصابیح، ص: ۲۴، کتاب الایمان، باب اثبات عذاب القبر، الفصل الاول، رقم الحاشیة: ۱۵)

۲) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: مر رسول الله صلی الله علیه وسلم بقبور المدینة فأقبل علیهم بوجهه، فقال: السلام علیکم یا اهل القبور، یغفر الله لنا ولکم، وانتم سلفنا ونحن بالاثر. (جامع الترمذي: ۲۰۳/۱، ابواب الجنائز، باب ما یقول الرجل اذا دخل المقابر)

کنه؟ انسان غیر مسلم یعني د غیر مؤمن کافر روح چیري او سیږي؟ که دفن کړل شي نو د ده قبر ته ورتلو باندي ده ته خبر رسیږي کنه، که د ده روح ته څه ثواب ورسول کړل شي نو ده ته رسیږي کنه؟ غیري مسلم یعني هندو سوځول کیږي یا په نهر کي وبهیول شي د هغه روح چیري او سیږي؟ پر مرګهټ (د هندوانو د سوځول ځای) یا پر دریاب باندي چي چیري دوی سوځولو سره وبهیول شي د دې له روح سره څه تعلق پاته کیږي کنه، ما په کلام پاک کي وویل چي نبیین، شهداء، صدیقین او صالحین ته حیات بعد الممات حاصل دی او هغو ته الله تعالی پخپله مرضی (خوښه) روزي ورسوي، زما په خیال کي دا دي چي کوم سړی د دغه پورته څلور قسمونو بزرګانو مزار ته ځي نو د هغو د حاضري خبر هغو ته به کیږي او کوم څه چي موږ ته وایو د هغو خبر به هغو ته کیږي، لهذا تحریر یې کړه چي زما دا خیال تر کومه صحیح دی؟ که غلط خیال دی نو ولي؟ (۱۳۴۲/۹۴۰ھ)

جواب: د روح له قبر سره هم تعلق شته، اصل ځای د روح علیین او سجین دی د مؤمنین ارواح په علیین او د کافرانو ارواح په سجین کي او سیږي. فقط

او مړي لره که قبر ته ورتلو سره یا په کور کي ناست کیدو سره که څه قرآن شریف او کلمه طیبه ویلو سره ثواب وبخښل شي نو دغه مړي ته په دې شرط سره چي هغه مسلمان وي او پر ایمان باندي خاتمه سوې وي ثواب رسیږي او کافر ته ثواب نه رسیږي.

او کوم کافر مړی چي په اور کي وسوځول شي یا په دریاب کي وبهیول شي د هغو د روح د هغو د جسم له اجزاء سره تعلق پاته کیږي، چیري چي هغه اجزاء یعني ایرې او خاورې او هډوکي وي او د هغه اصل ځای سجین دی.

ممکنه ده چي هغه بزرګانو ته دې د حاضر کیدو خبره کیږي، مګر قطعي طور دا ثابته نه ده او د مړي د اوریدو مسئله مختلفه فیه ده. حنفیه په ظاهره د عدم سماع اموات قائل دي لیکن که خبر ورته کیږي نو څه لیري خبره هم نه ده. فقط والله تعالی اعلم

د مړ کیدو وروسته عذاب روح او جسم دواړه ته ورکول کیږي

(۴۲) د مړ کیدو وروسته عذاب روح ته ورکول کیږي که بدن ته؟ او که دواړو ته؟ (۱۳۳۷/۱۲۳۱ھ)

جواب: عذاب روح او جسم دواړو ته ورکول کيږي لکه چي له ظاهر احاديث څخه ثابت دي. (۱) فقط

ايا د مړکيدو وروسته تر قيامته پوري روح په قبر کي پاتيږي؟

(۴۳) زيد وايي: تر مړ کيدو وروسته تر قيامته پوري د انسان روح په قبر کي پاتيږي، دا صحيح ده کنه؟ (۱۳۳۷/۱۲۳۱هـ)

جواب: په قبر کي هم د روح تعلق وي اما اصلي د هستوګني ځای يې عليين يا سجين دی. فقط

د سماع موتی په هکله څو سوالونه

(۴۴) ... (الف) ايا هر وخت مړی په قبر کي اوري؟

(ب) ايا د حديث واقعه کفار مقتولين بدر څخه عام سماع موتی ثابت کيږي يا دا خاصه د نبوت ده؟

(ج) په حديث کي چي دا مذکوره دي چي مړي د ګوتو آواز اوري ايا له دې څخه سماع موتی ثابتيږي؟

(د) له دعا السلام عليکم يا اهل القبور او نورو څخه ايا سماع موتی ثابتيږي؟ که نه ثابتيږي، نو لفظ "يا" ولي؟

(هـ) د بي بي عائشې بعد دفن خليفه ثاني روضه اطهر ته نه ورتلل، ايا له دغه حديث څخه د عامو مړو اوريدل او ليدل مستنبط کيدای شي؟

---

۱) عن البراء بن عازب رضى الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: .... واما الكافر فذكر موته قال: ويعاد روحه في جسده وياتيه ملكان، فيجلسانه فيقولان: من ربک؟ فيقول: هاه هاه لا ادري، فيقولان له ما دينک؟ فيقول: هاه هاه لا ادري؟ فيقولان: ما هذا الرجل الذي بعث فيكم؟ فيقول: هاه هاه لا ادري؟ فينادي مناد من السماء: ان كذب، فافرشوه من النار، والبسوه من النار، وافتحوا له بابا الى النار، قال: فيأتيه من حرها وسمومها قال: ويضيق عليه قبره حتى تختلف فيه اضلاعه ثم يقيض له اعمى اصم معه مرزبة من حديد، لو ضرب لها جبل لصار ترابًا، فيضربه بها ضربة يسمعها ما بين المشرق والمغرب الا الثقلين، فيصير ترابًا ثم يعاد فيه الروح، رواه احمد وابو داؤد. (مشكاة المصابيح، ص: ۲۵و۲۲، كتاب الايمان، باب اثبات عذاب القبر، الفصل الثاني)

(و) باوجود د حنفي مذهب کیدو له احادیث مذکوره څخه ضرورةً د سماع موتی قائل کیدل جائز دي؟ (۱۳۳۷/۲۲۲۰ھ)

جواب: (الف - و) دا مسئله له سلف څخه مختلف فیها ده. د حنفیه په نزد راجح عدم سماع ده، حنفیه د هغو دلائل چي له هغه څخه سماع موتی معلومیږي. جواب ورکړی دی په شامي کي راغلي دي:

ولا یرد ما في الصحیح من قوله صلی الله علیه وسلم لاهل قلیب بدر: "هل وجدتم ما وعدکم ربکم حقًا؟ فقال عمر: اتکلم المیت یارسول الله؟ فقال علیه الصلاة والسلام: والذي نفسي بیده ما انتم باسمع من هؤلاء او منهم" فقد اجاب عنه المشایخ بأنه غیر ثابت یعني من جهة المعنی، وذلک لأن عائشة رضی الله عنها ردته بقوله تعالی: "وما أنت بمسمع من في القبور" (فاطر: ۲۲) "انک لا تسمع الموتی" (النمل: ۸۰) وأنه انما قاله علی وجه الموعظة للأحیاء، وبأنه مخصوص باولئک تضعیفًا للحسرة علیهم، وبانه خصوصیة له علیه الصلاة والسلام معجزة، لکن یشکل علیهم ما في مسلم: ان المیت لیسمع قرع نعالهم اذا انصرفوا. الا ان یخصوا ذلک باول الوضع في القبر مقدمة للسؤال جمعًا بینه وبین الآیتین، فانه شبه فیهما الکفار بالموتی لافادة بعد سماعهم وهو فرع عدم سماع الموتی، هذا حاصل ما ذکره في الفتح هنا.

وفي الجنائز: ومعنی الجواب الاول انه وان صح سنده لکنه معلول من جهة المعنی بعلة تقتضي عدم ثبوته عنه علیه الصلاة والسلام وهي مخالفته للقرآن، فافهم[1] (شامي: ۱۳۱/۳) او حضرت صدیقه رضی الله عنها چي فرمایي: فلما دفن عمر معهم فو الله! ما دخلته الا وانا مشدودة علی ثیابي حیاء من عمر رضی الله عنه[2]

---

۱) رد المحتار للشامي: (۱۴۳/۳، کتاب الایمان، باب الیمین في الضرب والقتل وغیر ذلک، مطلب في سماع المیت الکلام ط رشیدیه)

۲) عن عائشة رضی الله عنها قالت: کنت ادخل بیتي الذي فیه رسول الله صلی الله علیه وسلم وابي، فاضع ثوبي. فاقول: انما هو زوجي وابي، فلما دفن عمر الخ (مجمع الزوائد ومنبع الفوائد: ۲۲/۸، کتاب الادب، باب ماجاء في الحیاء والنهي عن الملاحاة، وفیه ایضًا: ۳۷/۹، کتاب علامات النبوة، قبل باب تمنی رؤیته صلی الله علیه وسلم، المطبوعة: دار الکتب العلمیة، بیروت)

له دې څخه فقط د مړي احترام او حیات او ادراک میت ثابتیږي. سماع میت له دې څخه نه ثابتیږي او د حضرت صدیقه مذهب عدم سماع مشهور دی او د دغه تاول یې کړی دی، کما مر. بس نو د دغه څخه سماع موتی څرنګه ثابت کیدای شي؟ !فقط:

د سماع موتی په هکله د حضرات علماء دیوبند څه عقیده ده؟

(۴۵) د سماع موتی په هکله د حضرات علماء دیوبند څه عقیده ده؟ (۱۴۷۲/۱۳۳۷هـ)

جواب: چي د حنفیه د دې په هکله کوم مسلک دی د اهل دیوبند عقیده هم هغه ده. سماع موتی منفي ده (۱)

---

۱) د سماع موتی مسئله د صحابه کرام رضی الله عنهم له زمانې څخه په اختلاف ر روانه ده، حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما د سماع قائل ؤ او حضرت عائشه رضی الله عنها د دې نفي کولي، کوم حضرات چي د سماع قائل ؤ د هغو دلیل د سورهٔ آل عمران، آیت: ۱۶۹، ۱۷۰ ؤ. په هغه کي دي چي شهداء حیات دي او ژوندي دي اوري او د بخاري په حدیث کي دي چي کله خلګ مړی ښخ کړي او واپس کیږي نو مړی د څپلیو ږغ اوري. (بخاري: ۱/۱۷۸، کتاب الجنائز) او د جنګ بدر پر موقع نبي صلی الله علیه وسلم د څلورویشتو کفارو جسدونه په مردار څاه کي اچولي وو، بیا یې هغه ته خطاب کړی ؤ (بخاري: ۱/۱۸۳ کتاب الجنائز) او هدیرې ته په تلو مړو ته د سلام کولو حکم دی (ترمذي: ۱/۲۰۳، کتاب الجنائز) دا ټول دلائل پر سماع موتی دال دي او کوم خلګ چي د سماع موتی انکار کوي د هغو دلیل (انک لا تسمع الموتی) او (ما انت بمسمع من في القبور) دی او حضرت مولانا محمد قاسم صاحب نانوتوي قدس سره د دواړو فریقینو دلائل جمع کړي دي، ویلي دي: اسماع (په اوریدل) خو ممکن نه دي، مګر سماع (اوریدل) ممکن دي

حضرت قدس سره په "جمال قاسمي" کي پر دغه مسئله بحث کړی دی: هلته اوله خبره دا کړې ده چي دا امر له قدیم څخه مختلف فیه دی او دوهمه خبره دا ده چي دا مسئله له ضروریات دین او عقائد ضروریه څخه نه ده او د دې یقیني تنقیح به له مرګ بعد وي، که د مرګ بعد موږ د نورو سلام او پیغام واوریدی، نو سماع ثابته ده که یې نه واوریدی نو عدم سماع متحقق ده او دریمه خبره دا لیکلې ده چي دواړو طرفو ته اکابر دي د دې وجي بالکل یو طرفته کیدل نه دي پکار، اهل سلام لپاره ضروري دي چي په داسي مسائلو کي خامخا داسي نشي پوخ چي د ابل طرف بالکل باطل وګني، بیا یې ویلي دي چي سمع اموات خو د حد اسماع څخه ماسیوا دي، یعني مړو ته اسماع خو ممکنه نه ده مګر استماع اموات ممکنه ده. لکه په قرآن کریم کي دي "انک لا تسمع الموتی" راغلي دي، یعني د اسماع نفي دی او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د دې اهل قبور ته سلام مسنون کړي، که استماع ممکنه وای نو سلام اهل قبور د ملحدانو د ژبي اوریدولو

لقوله تعالى: "انک لا تسمع الموتى "(١) وقوله تعالى: "وما انت بمسمع من في القبور "(سورة فاطر، آيت۲۲) او حضرت شيخ ابن همام رحمه الله حديث سماع قرع نعال او نوريې پر اول وضع في القبور باندي محمول كولو سره مخصوص كړى دى، كذا في الشامي(٢) فقط والله تعالى اعلم

سماع موتى عند الاحناف ثابت نه ده

(۴۲) څه فرمايي علماء حنفيه په دغه مسئله كي چي د حضرت امام اعظم رحمه الله امام الائمه سلطان المجتهدين ابو حنيفه رحمه الله تعالى په نزد يا د صاحبين په نزد د جمهور فقهاء په نزد سماعت اموات اهل قبور اوريدل د ژوندي خلكو خبرو لره ثابت دى كنه، د دې جواب مدلل راكړه؟(۵۹۲/۲۹-۱۳۳۰هـ)

جواب: په حنفي مذهب كي سماع موتى او سماعت من في القبور ثابت نه دى، نه د امام اعظم رحمه الله تعالى څخه د سماعت په ثبوت كي يو روايت راغلى دى، نه د صاحبين څخه مروي شوى دى، نه د جمهور فقهاء په نزد سماعت اهل قبور ثابت دى، بلكي د دې په خلاف د عدم سماعت د پر روايتونه له جمهور فقهاء څخه په كتب معتبره حنفيه او نورو كي متواتر منقول دي د هغه په دې مختصر كي ګنجائش نشته انشاء الله پر يو موقع به مفصل ذكر كړل شي حالاً يوه فتوى د حضرت ملک العلماء سلطان الاتقياء مولانا مولوي رشيد احمد قدس سره الصمد چي د جناب په رساله لطائف رشيديه كي شائع شوې ده سره د سوال نقل كيږي:

سماع موتى كه از احاديث ثابت است، وآيت كريمه "انک لا تسمع الموتى" (سورة نمل، آيت۸۰، سورة روم، آيت۵۲) اگر به ظاهر خود هم داشته آيد اگر چه محل تامله است باز هم تخصيص آن از احاديث چرا نمي كنند واگر به تعميم آيت نظر كرده آيد سماع موتى سلام احياء وغيره را چه جواب است آيا حديث متروک است يا چه گونه؟ وچه خرابي است درين كه سماع را از احاديث ثابت گويند؟ ودر آيت نفي سماع قبول واجابت چنان چه از سباق وسياق آيت مفهوم مي شود مراد باشد، غرض تحقيق درين مسئله چيست؟

(اعتراض كولو) لپاره كافي ؤ، بيا يې د دې تفصيل وكړى چي اسماع ناممكنه ده نو سماع څرنګه ممكنه ده؟ دا په جمال قاسمي كي كتل پكار دي (تحفة القاري شرح صحيح البخاري ج۸، كتاب المغازي، د غزوه بدر بيان حديث نمبر: ۳۹۷۲)

١) سورة نمل، آيت۸۰، سورة روم، آيت۵۲

٢) په تير شوي جواب كي د شامي عبارت مذكور دى.

جواب: د سماع موتی په قرن اول کي مختلف فيها سوې ده، او س د هغه فیصله ممکنه نه ده، مګر د خپل مجتهد په تقليد کي که د مقلدينو ترجيح جانب ته ميلان وکړي نو پروا نه لري، نو مسلک د حضرت عائشه رضی الله عنها په مثل د طريقه د امام ابو حنيفه رحمه الله تعالی دا دی چي آيت قطعي پر خپل حالت پريښودلو سره او معنی حقيقي باندي حمل کولو سره چي اصل موضوع له ده په حديث کي چي شرح د قرآن دی دا ويل مناسب دی تر څو پوري قطع معنی حديث نه وشي، څرنګه چي په اصول کي مبرهن دی بس آيت "انک لا تسمع الموتی "قطعي خاص او احاديث سماع ظني اخبار احاد سره تخصيص څرنګه صحيح کيدای شي؟ ايا په دغه آيت کي استعاره ده چي کفار ته اموات او اصم سره تشبيه ورکړې ده او په مستعار منه کي معنی وجه شبه حقيقة وي، نو ښکاره ده چي په ميت او اصم کي د سماعت صلاحيت نشته؛ لهذا معنی د عدم اجابت چي مجاز دی په مشبه به کي مراد کول څرنګه صحيح وي؟ اليکن په مشبه کي داغه مراد دی، لهذا حسب قاعده مرجح جانب عدم سماع دی او حضرت عمر رضی الله عنه خو د فخر عالم له ژبي څخه ما انتم باسمع منهم(۱) اوريدلي ؤ نو د هغه په نزد دغه حديث هم قطعي ؤ، نو کوم معنی چي هغو فهمولې وه د هغه د فهم له وجي که تخصيص وکړي نو کيدای شي، کنې حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها پخپله په حديث کي تاويل وکړ او آيت يې پر خپل حال پريښودی او جمع کړ.(۲)

اقول وبالله التوفيق: مسئله د سماع موتی مختلف فيها ده، ليکن د امام ابو حنيفه رحمه الله مذهب او د هغه د اصحاب واتباع د عدم سماع دي په دليل قوله تعالی: "انک لا تسمع الموتی" وقوله تعالی: "وما انت بمسمع من في القبور "(سورة فاطر، آيت ۲۲) قال في رد المحتار:

---

۱) عن ابي طلحة رضی الله عنه ان نبي صلی الله عليه وسلم امر يوم بدر باربعة وعشرين رجلا من صناديد قريش، فقذفوا في طوی من أطواء بدر خبيث مخبث وكان اذا ظهر علی قوم اقام بالعرصة ثلاث ليال، فلما كان ببدر اليوم الثالث امر براحلته، فشد عليها رحلها، ثم مشی واتبعه اصحابه وقالوا: ما نری ينطلق الا لبعض حاجته حتی قام علی شفة الرقي... فقال النبي صلی الله عليه وسلم: والذي نفس محمد بيده ما انتم باسمع لما اقول منهم (صحيح البخاري: ۵۶۶/۲، كتاب المغازي، باب قتل ابي جهل)

۲) لطائف رشيديه، ص: ۹-۱۰ مکتوب پنځم به جواب سوالات مولوي عزيز الرحمان صاحب ديوبندي، مطبوعه: مکتبه بلالي سادهوره، ضلع انباله

واما الکلام فلان المقصود منه الافهام والموت ینافیه. (الی ان قال) فانه شبه فیهما الکفار بالموتی لافادة بعد سماعهم وهو فرع عدم سماع الموتی هذا حاصل ما ذکره في الفتح[1] لنډه دا چي د امام ابو حنیفه رحمه الله او د ده د اصحابو مذهب د عدم سماع اموات دی او په اعتبار د روایت او د ورایت داغه راجح دی. لکه چي د حضرت راس المحققین مولنا رشید احمد محدث ګنګوهي له تحقیق څخه ثابت دي. حیث قال رحمه الله: لهذا حسب قاعده مرجح عدم سماع ده. فقط

(۴۷) کفایه، عنایه، فتح، شامي او نورو کي سماع موتی د مذهب احناف مطابق انکار دی او شوافع قائل دي، حدیث قلیب بدر او نورو کي تاویل بیکاره ګڼلی. لهذا شاه عبد العزیز صاحب پخپله فتاوی کي تحریر کوي: "انکار سماع موتی قریب بکفر است" د دغه عبارت څه مطلب دی؟ (۱۳۳۸/۱۳۰۲هـ)

جواب: حدیث قلیب بدر کي تاویل ته بېکاره ویل نهایت قبیح دی، په قرن صحابه دا تاویل شوی دی، حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها دا تاویل فرمایلی دی او په آیت قرآني کي که هغه تاویل وشي چي قرینه قیاس او منقول عن الصحابه دي نو هغه ته بېکاره څرنګه ویلای شي؟! یا للعجب ولضیعة الادب! او حضرت شاه صاحب ته هغه قول منسوب کول کوم چي تا نقل کړی دی غلط دی، د شاه صاحب یوه فتوی په سند معتبره سره ثابته نه ده، د حضرت شاه صاحب پشان بزرګ په داسي مسئله کي چي په کي د صحابه وآیمه مجتهدینو اختلاف وي او نصوص متعارض وي څرنګه به انکار سماع ته قریب به کفر وایي؟! بس نو قول مذکور منسوب به شاه صاحب ویل محض غلط او بې اصل دی، داسي خبره هیڅکله د خولې څخه ایستل نه دي پکار او د دي تغلیط کول په کار دی. فقط والله تعالی اعلم.

(۴۸) سماع موتی عند الحنفیه ثابت ده که نه، که وي نو د قرع نعال چي کوم لفظ په حدیث کي راغلي دی او د ما انتم باسمع منهم به څه جواب وي؟ (۳۲۵/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: سماع موتی عند الحنفیه ثابت نه ده، لکه چي له آیت "ما انت بمسمع من في القبور" (سورة فاطر، آیت: ۲۲) "انک لا تسمع الموتی" څخه ثابت ده او حدیث: ما انتم

---

[1] رد المحتار: ۱۴۳/۳، کتاب الایمان، باب الیمین في الضرب والقتل وغیر ذلک، مطلب في سماع المیت الکلام ط رشیدیه.

باسمع منهم (۱) سماع قرع نعال (۲) او نورو جواب حنفیه دا ورکوي چي اسماع موتی شاید د رسول الله صلی الله علیه وسلم خصوصیت وي یا خاص د دفن د وخت خصوصیت وي (۳) او د "ما انتم باسمع منهم" جواب حضرت عائشه رضی الله عنها دا ورکړی دی چي په معنی د اعلم دی. (۴) فقط والله تعالی اعلم

چي مړي نه اوري نو په هدیره کي السلام علیکم ولي ویل کیږي؟

(۴۹) موتی په قبرو کي اوري کنه؟ که نه اوري نو په هدیره کي السلام علیکم ولي ویل کیږي؟ (۲۳۹/ ۱۳۳۷هـ)

جواب: د موتی سماع مسئله مختلف فیها ده، ښکاره آیت قرآني: "انک لا تسمع الموتی" (۵)

---

۱) عن نافع ان ابن عمر رضی الله عنهما اخبره قال: اطلع النبي صلی الله علیه وسلم علی اهل القلیب، فقال: وجدتم ما وعدکم ربکم حقًا؟ فقیل له: تدعو امواتًا؟ قال: ما انتم باسمع منهم ولکن لا یجیبون. (صحیح البخاري: ۱۸۳/۱، کتاب الجنائز، باب ماجاء في عذاب القبر الخ)

۲) عن انس رضی الله عنه عن النبي صلی الله علیه وسلم قال: العبد اذا وضع في قبره وتولی وذهب اصحابه حتی انه لیسمع قرع نعالهم الحدیث (صحیح البخاري: ۱۷۸/۱، کتاب الجنائز، باب المیت یسمع خفق النعال)

۳) تلک خصوصیة له صلی الله علیه وسلم معجزة وزیادة حسرة علی الکافرین.... اللهم الا ان یخصوا ذلک باول الوضع في القبر مقدمة للسؤال جمعًا بینه وبین الایتین الخ. (مرقاة المفاتیح: ۴۷۵/۷، کتاب الجهاد، باب حکم الاسراء، الفصل الاول، رقم الحدیث: ۳۹۶۷)

۴) عن عائشة رضی الله عنها قالت: انما قال النبي صلی الله علیه وسلم: انهم لیعلمون الآن ان ما کنت اقول لهم حق وقد قال الله: "انک لا تسمع الموتی". (صحیح البخاري: ۱۸۳/۱، کتاب الجنائز، باب ما جاء في عذاب القبر الخ)

قال الکرماني: وکان حدیث "ما انتم باسمع منهم" لم یثبت عندها، ومذهبها ان اهل القبور یعلمون ماسمعوا قبل الموت ولا یسمعون بعد الموت انتهی. قال العیني في عمدة القاري وابن حجر في فتح الباري: هذا من عائشة رد علی روایة ابن عمر الخ (هامش البخاري: ۱۸۳/۱، رقم الهامش: ۹ کتاب الجنائز، باب ماجاء في عذاب القبور الخ)

۵) سورة نمل، آیت: ۸۰، سورة روم، آیت: ۵۲

پر عدم سماع دلالت کوي او قبرو ته په ورتلو سره سلام کول موافق حکم شریعت دی، که سماع نه وي ادارک وي نو په دې کي هیڅ مضائقه نشته او دوهم دا چي مړو ته چي کوم حکم دی هغه کول پکار دی، د اموات د اوریدو او نه اوریدو په هغه کي هیڅ دخل نشته والله تعالی اعلم.

عذاب وثواب تر مړکیدو وروسته شروع کیږي

(۵۰) که یو ګناهګاره مړ شي نو پر هغه به عذاب کله وي؟ علی هذا نیک ته به ثواب کله وي؟ (۲۲/۲۲-۳۲/۳۳۳ھ)

جواب: تر مړ کیدو وروسته عذاب وثواب شروع کیږي. فقط والله تعالی اعلم

(۵۱) مړي ته د دفن مخکي هم عذاب ورکول کیږي کنه؟ که ورکول کیږي نو کوم عذاب ورکول کیږي؟ (۱۳۳۷/۴۸۴ھ)

جواب: عالم برزخ له مړ کیدو څخه تر حشر پوري دی کوم میت چي مستحق عذاب دی هغه ته تر مړ کیدو وروسته عذاب شروع کیږي (۱) فقط والله تعالی اعلم

(۵۲) کله چي قیامت قائم شي او فیصله وشي دغه وخت به جزا وسزا ملاویږي، یا تر مړکیدو وروسته عذاب شروع کیږي لکه په احادیثو کي وارد دي، حال دا چي د مجرمانو فیصله نه ده شوې، نو اول به عذاب ولي وي یا دا عذاب برزخ دی؟ (۱۳۴۰/۲۱۰۵ھ)

جواب: عالم برزخ تر مړ کیدو وروسته تر قیامته پوري کومه زمانه ده د هغه نوم دی او په حدیث شریف کي دا هم شته: من مات فقد قامت قیامته (۲) او دا هم په حدیث شریف کي دي چي قبر یا یو روضه ده د ریاض جنت

---

۱) شرح العقائد او د هغه په شرح نبراس کي دي: وعذاب القبر..... والمراد به عذاب یکون بعد الموت قبل البعث سواء کان المیت مقبورًا ام لا، وانما اضیف الی القبر نظرًا علی الغالب (النبراس، ص: ۳۱۴) وقال السیوطي في شرح الصدور: قال بعض العلماء: عذاب القبر هو عذاب البرزخ، اضیف الی القبر لانه الغالب والا لکل میت اراد الله تعذیبه (هامش النبراس، ص: ۳۱۴، رقم الهامش: ۴)

۲) حدیث: من مات فقد قامت قیامته: رواه الدیلمي عن انس رضی الله عنه مرفوعًا ولفظه: اذا مات احدکم فقد قامت قیامته وللطبراني من حدیث زیادة بن علاقة عن المغیرة بن شعبة قال: یقولون القیامة، القیامة وانما قیامة المرأ موته، و من روایة سفیان بن ابي قیس قال: -

يا يوه کنده ده د دوږخ له کندو څخه (١) او عذاب قبر حق دی او دا عذاب برزخ دی. لنډه دا چي کوم څه په احاديث کي وارد دي هغه منل پکار دي، د مړ کيدو وروسته عذاب وثواب شروع کيږي، لکه په حديث شريف کي راغلي دي چي په قبر کي يو کړکۍ د جنت يا دوږخ خلاصيږي. (٢) فقط والله تعالى اعلم

ايا د قبر عذاب اهل دنيا ته په نظر راتلای شي؟

(٥٣) مړي ته په قبر کي انواع واقسام د عذاب ورکول کيږي دغه عذاب اهل دنيا ليدلای شي کنه؟ د چا چي عقيده دا وي چي په دنيا کي هغه عذاب په نظر راتللای شي دا عقيده څرنګه ده؟ (١٣٤١/٢٨٥٩هـ)

جواب: هغه عذاب په دنيا کي په نظر نه راځي که څه هم ممکنه دي که کله په غرض د عبرت چا ته په نظر راشي. فقط والله تعالى اعلم

-- شهدت جنازة فيها علقمة، فلما دفن قال: اما هذا فقد قامت قيامته (المقاصد الحسنة في بيان كثير من الحاديث المشتهرة على الالسنة، ص: ٤٢٨، رقم الحديث: ١١٨٣، المطبوعة مكتبه الخانجي بمصر)

١) عن ابي سعيد رضى الله عنه قال: دخل رسول الله صلى الله عليه وسلم مصلاه، فرأى ناسا كانهم يكتشرون، قال: اما انكم لو اكثرتم ذكر هاذم اللذات لشغلكم عما ارى، فاكثروا من ذكر هاذم اللذات الموت..... انما القبر روضة من رياض الجنة او حفرة من حفر النار. (جامع الترمذي: ٧٢/٢-٧٣، ابواب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم باب)

٢) عن البراء بن عازب رضى الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال:.... يأتيه ملكان فيجلسانه فيقولان له: من ربک؟ فيقول: ربي الله، فيقولان له: ما دينک؟ فيقول: ديني الاسلام، فيقولان له: ما هذا الرجل الذي بعث فيكم؟ قال: فيقول: هو رسول الله صلى الله عليه وسلم... قال: فينادي مناد من السماء أن صدق عبدي، فأفرشوه من الجنة، والبسوه من الجنة، وافتحوا له بابا الى الجنة، قال: فياتيه من روحها وطيبها، قال: ويفتح له فيها مد بصره، وقال: وان الكافر... فينادي مناد من السماء ان كذب، فأفرشوه من النار، والبسوه من النار، وافتحوا له بابا الى النار، قال: فيأتيه من حرها وسمومها، الحديث (سنن ابي داؤد: ٢٥٤/٢، كتاب السنة، باب في المسئلة في القبر وعذاب القبر)

ایا منکر ونکیر په قبر کي د مړي کښینولو سره سوال کوي؟

(۵۴) له مړي څخه په قبر کي منکر نکیر سوال وجواب په پروتي کوي که په ناستي؟ (۲۷۵۸/۱۳۴۲ هـ)

جواب: په حدیث شریف کي راغلي دي چي نکیرین مړی کښینوي او سوال ځني کوي (۱) فقط

عالم برزخ د کوم عالم نوم دی؟

(۵۵) تر مړ کیدو وروسته عذاب قبر کوم ځای وي؟ او عالم برزخ د کوم ځای نوم دی؟ (۱۱۲۳/۱۳۴۵ هـ)

جواب: د عذاب قبر څخه مراد د عالم برزخ عذاب دی که مړی په قبر کي وي که په نهر کي غرق وي که یې ماهیان وخوري، یا یې حیوان وخوري یا وسوځول شي او ایرې شي په دغه حالت عذاب قبر موجود دی، داغه ته "عالم برزخ" ویل کیږي. فقط والله تعالی اعلم

د قبر عذاب او د منکر نکیر سوال وجواب له قرآن وحدیث څخه ثابت دی

(۵۶) یو مولوي صاحب وایي چي عذاب قبر او سوال وجواب د منکرونکیر له قرآن څخه ثابت نه دي، ایا هغه رښتیا وایي؟ (۲۱/۱۳۳۵ هـ)

جواب: غلط وایي، په قرآن وحدیث ثابت دي (۲) فقط والله تعالی اعلم

---

۱) عن البراء بن عازب رضی الله عنه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: یاتیه ملکان، فیجلسانه، فیقولان له من ربک؟ الحدیث (مشکوة المصابیح، ص: ۲۵، کتاب الایمان، باب اثبات عذاب القبر، الفصل الثاني)

۲) وبعدها سورة المؤمن وفیها آیة یستدل بها علی اثبات عذاب القبر، وهي قوله تعالی: "النار یعرضون علیها غدوا وعشیًا ویوم تقوم الساعة ادخلوا آل فرعون اشد العذاب" هذه الآیة التي تمسک بها اهل السنة في اثبات عذاب القبر صرح بذلک في علم الکلام وکتب التفاسیر جمیعًا، وطریقة ان هذه الآیة في حق آل فرعون وقد اخبر الله ان "النار یعرضون-

منکرنکیر دوې دي که زیات؟ او یوه ملائکه د مړیو روح څرنګه قبضه کوي؟

(۵۷) منکر نکیر دوې ملائکي دي که څو زره، لکه دي؟ که دوې دي نو په ټولي نړۍ کي بني آدم په قبر کي دفن کیږي، هر یو مړي لره د سوال جواب لپاره څرنګه رسیدای شي؟ دا رنګه یو ملک الموت د هر مړي د روح قبض کولو لپاره څنګه رسیږي؟ (۱۳۴۵/۴۲۵هـ)

جواب: په حدیث شریف کي دي چي هر مړي لره د دفن کیدو وروسته دوې ملائکي راځي د هغو نوم منکر نکیر دی الخ(۱) دا دوې ملائکي هیر یو لره علیحده علیحده راځي د ملائکو د تعداد هیڅ انتها

--- ای آل فرعون "علیها" ای علی النار "غدوًا وعشیًا" ومعنی عرضهم علی النار احراقهم بها من قولهم عرض الأساري علی السیف اذا قتلوا به ولا شک ان المراد بالغدو والعشي دار الدنیا من بعد الوفات الی یوم القیامة بقرینة قوله "ویوم تقوم الساعة"..... "ادخلوا ال فرعون اشد العذاب" من عذاب الدنیا وهو عذاب جهنم ولا شک ایضًا ان آل فرعون انما کانوا معذبین لکونهم کفارًا لا لخصوص اشخاصهم وتعیین ذواتهم فثبت ان الکفار معذبون في القبور ابدًا لان ذکر الوقتین کنایة عن التأبید عند الاکثرین وان کان یحتمل التخصیص کما هو عند البعض، واما اثبات العذاب في حق عصاة المؤمنین فلا یثبت من هذه الآیة، وانما یثبت ذلک بأحادیث ذکروها في کتبهم، ولا اطلع علی آیة یثبت بها ذلک.

(التفسیرات الآحمدیة، ص: ۴۳۳-۴۳۴، تفسیر سورة المؤمن، الآیة: ۴۶)

وعن البراء بن عازب رضی الله عنه عن النبي صلی الله علیه وسلم قال: المسلم اذا سئل في القبر یشهد ان لا اله الا الله وان محمدًا رسول الله، کذلک قوله "یثبت الله الذین امنوا بالقول الثابت في الحیوة الدنیا وفي الآخرة" وفي روایة عن النبي صلی الله علیه وسلم قال: "یثبت اللله الذین آمنو بالقول الثابت" نزلت في عذاب القبر یقال له: من ربک فیقول: ربي الله، ونبي محمد، متفق علیه (مشکاة المصابیح، ص: ۲۴، باب اثبات عذاب القبر، الفصل الاول)

۱) عن ابي هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: اذا قبر المیت او قال: احدکم، اتاه ملکان اسودان ازرقان، یقال لأحدهما المنکر و الآخر النکیر، الحدیث (جامع الترمذي: ۲۰۵/۱، أبواب الجنائز، باب ماجاء في عذاب القبر)

او د ملک الموت همکاري او مددگاري نوري ملائکي هم شته(۱) او دا

۱) "حتی اذا جاء احدکم الموت توفته رسلنا" الملائکة الموکلون بقبض الارواح "وهم لا یفرطون" (الانعام: ۶۱) یقصرون فیما یامرون.

وفي هامشه: "توفته رسلنا" یعني اعوان ملک الموت الموکلین بقبض ارواح البشر، وفیه بحث لانه قال الله تعالی في آیة اخری "الله یتوفی الانفس حین موتها" (الزمر: ۴۲) وقال في آیة اخری "قل یتوفکم ملک الموت الذي وکل بکم" (السجدة: ۱۱) وقال هنا: "توفته رسلنا" فهذه النصوص الثلاثة کالمتناقضة

والجواب: ان التوفي الحقیقي یحصل بقدرة الله وحکمه وهو في عالم الظاهر مفوض الی ملک الموت وهو الرئیس المطلق في هذا الباب وله اعوان وخدم فیأمرهم بنزع روح ذلک العبد من جسده فاذا وصلت الی الحلقوم تولي قبضها ملک الموت، فحصل الجمع بین الآیات من الکبیر والخطیب، وسمعت عن استاذي ان احوال العباد متفاوتة فیقبض الله تعالی ارواح بعض عباده بنفسه، وملک الموت ارواح بعضهم بامره، وأعوان ملک الموت ارواح بعضهم فحصل الجمع أیضا، والله اعلم (تفسیر الجلالین وهامشه، ص: ۱۱۷، تفسیر سورة الانعام، آیة ۶۱، رقم الهامش: ۱۱)

وعن البراء بن عازب رضی الله عنه قال: خرجنا مع النبي صلی الله علیه وسلم في جنازة رجل من الانصار، فانتهینا الی القبر، ولما یلحد فجلس رسول الله صلی الله علیه وسلم وجلسنا حوله کأن علی رؤسنا الطیر وفي یده عود ینکت به في الارض، فقال: استعیذوا بالله من عذاب القبر مرتین او ثلاثا، ثم قال: ان العبد المؤمن اذا کان في انقطاع من الدنیا واقبال من الآخرة، نزل الیه ملائکة من السماء بیض الوجوه کأن وجوههم الشمس معهم کفن من اکفان الجنة وحنوط الجنة حتی یجلسوا منه مد البصر ثم یجيء ملک الموت علیه السلام حتی یجلس عند راسه... قال: فیصعدون بها فلا یمرون یعني بها علی ملإ من الملائکة، الحدیث (مشکوة المصابیح، ص: ۱۴۲، کتاب الجنائز، باب ما یقال عند من حضره الموت، الفصل الثالث)

وفي مرقاة المفاتیح (قال) ای النبي صلی الله علیه وسلم (فیصعدون) ای اعوان ملک الموت او ملائکة الرحمة منهم او من غیرهم

وفیه قبل اسطر: قال الطیبي: فیه اشارة الی ان ملک الموت اذا قبض روح العبد، سلمها الی أعوانه الذین معهم کفن من أکفان الجنة (مرقاة المفاتیح ۹۷۴، کتاب الجنائز، رقم الحدیث ۱۶۳۰)

هم راغلي دي چي د ملک الموت ډير لاسونه دي (١) والله اعلم

بيا هم ملک الموت يعني عزرائيل عليه السلام يو دی. د هغو دومره قدر لاسونه دي چي هري خوا په يوه وخت کي د اموات ارواح قبض کوي. فقط والله تعالی اعلم

عزرائيل عليه السلام ته خو ملک الموت هم وايي

(۵۸) عزرائيل عليه السلام ته خو ملک الموت ويل کيږي يا ملک الموت يو بله ملائکه ده؟ د عبارت دقائق الاخبار امام عزالي رحمه الله تعالی څخه دا مفهوم کيږي چي ملک الموت بل څوک دی.

الباب الخامس في ذکر ملک الموت. انه کيف يأخذ الأرواح؟ ذکر في کتاب السلوی عن مقاتل بن سليمان رحمه الله ان ملک الموت کان له سرير في السماء السابعة، و يقال في السماء الرابعة خلقه الله تعالی من نور وله سبعون الف قائمة، وله اربعة اجنحة مملو جميع جسده بالعيون والالسنة بقدر خلقه من الادمي والطيور والسباع، وليس أحد من هذه المخلوقات من الادمي والطيور والوحوش وکل ذي روح الاوله في جسده وجه وعين ويد بعددهم فياخذ روحه بذلک (٢) وفيه ايضًا: ان الله تعالی اذا افني الخلق کله من الناس وغره يطمس العيون التي علی جسده ملک الموت کلها، ويبقي ثمانية لثمانية يقال هي لجبرائيل واسرافيل وعزرائيل وميکائيل واربعة من حملة العرش عليهم السلام(٣) (۵۴۱/۳۵-۱۳۳۶هـ)

---

١) ذکر في کتاب السلوی عن مقاتل بن سليمان رحمه الله تعالی ان ملک الموت کان له سرير في السماء السابعة، ويقال في السماء الرابعة خلقه الله تعالی من نور وله سبعون الف قائمة، وله اربعة اجنحة مملو جميع جسده بالعيون والالسنة بقدر خلقه من الآدمي والطيور والسباع، وليس احد من هذه المخلوقات من الآدمي والطيور والوحوش وکل ذي روح الا وله في جسده وجه وعين ويد بعددهم فياخذ روحه بذلک. (دقائق الاخبار في مناقب الابرار، ص: ١٧، باب في ذکر ملک الموت)

٢) دقائق الاخبار في مناقب الابرار، ص: ١٧، باب في ذکر ملک الموت

٣) دقائق الاخبار في مناقب الابرار، ص: ١٩، المطبوعة: مطبع مصطفائي، لاهور.

جواب: خاص عزرائیل علیه السلام ملک الموت دی او عبارت د دقائق الاخبار کوم چي په سوال کي لیکل شوی دی له هغه څخه د عزرائیل علیه السلام غیر ملک الموت مفهوم نه کیږي، څکه یوه سترګه په هغه کي هم خاص د خپل ځان لپاره وي او بیا دا روایت داسي هم نه دی چي د دې له وجي کوم امر له نصوص احادیث څخه ثابت دی هغه نظر اندازه کړل شي. فقط والله تعالی اعلم

منکر او نکیر د مړي څخه سوالونه کله کوي؟

(۵۹) سوالات منکر نکیر کوم چي د مړي څخه کیږي د انسان د مړ کیدو سره سم دستي کیږي یا بعد دفن کولو نه؟(۱۳۳۸/۴۸۵هـ)

جواب: بعد دفن نه، کله چي دفن کوونکی واپس کیږي دغه وخت منکر نکیر راځي او سوال کوي، لکه په احادیث کي وارد دي (۱) فقط والله تعالی اعلم

کوم مسلمان چي د جمعې په ورځ یا شپه مړ شي هغه همیشه له عذاب څخه محفوظ پاتیږي کنه؟

(۶۰) که د جمعې په ورځ فاسق فاجر مړ شي د هغه څخه حساب د منکر نکیر او د قبر کنبیکنبل به وي کنه؟ او تر جمعې وروسته بیا بیرته راګرځي او کنه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۰۰۳هـ)

جواب: په حدیث شریف کي دي: ما من مسلم یموت یوم الجمعة او لیلة الجمعة الا وقاه الله فتنة القبر (۲) قال القاري في شرح المرقاة: فتنة القبر ای عذاب وسؤاله وهو

---

۱) عن انس رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ان العبد اذا وضع في قبره وتولی عنه اصحابه انه لیسمع قرع نعالهم اتاه ملکان فیقعدانه فیقولان: ماکنت تقول في هذا الرجل لمحمد الحدیث (مشکوة المصابیح، ص: ۲۴، باب اثبات عذاب القبر، الفصل الاول)

۲) عن عبد الله بن عمرو رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ما من مسلم الخ (مشکاة المصابیح، ص: ۱۲۱، کتاب الصلاة، باب الجمعة، الفصل الثالث)

يحتمل الاطلاق والتقييد ، والأول هو الأولى بالنسبة الى فضل المولى([1]) او د دې وروسته شارح موصوف څو روايات د دې په هکله نقل کړي دي([2]) او دا ښکاره ده چې بيا به عذاب نه وي او په شامي کې منقول دي چې د جمعې په ورځ عذاب منقطع کيدو سره بيا به نه وي. ([3]) فقط والله تعالى اعلم.

په ورژه کې مړشي نو د مړي څخه به حساب کتاب وي کنه؟

(۲۱) که په رمضان شريف کې د مسلمان انتقال وشي نو د مړي څخه به د قبر حساب کتاب وي کنه؟ که د جمعې په ورځ انتقال شي نو څه حکم لري؟ (۴۴/۱۰۷۲-۱۳۴۵هـ)

جواب: د رفع عذاب په هکله يو قطعي خبره خو نه شي کيدای بيا هم علماء چې څه ليکلي دي هغه مخته دي، د هغو د تصريحاتو حاصل دا دی چې د جمعې په ورځ يا شپه مړکيدونکي څخه د قبر عذاب پورته کيږي. د هغو په تصريحاتو کې ځای ځای دا هم شته چې عذاب کله يو ځل پورته شي بيا تر قيامته پورې نه راځي بيا رمضان شريف کې مړ شوی په دې کې داخل کولو کې تر بحث لاندې دی، چا په خاصه توګه د دې تصريح نه ده کړې، ليکن د کلماتو عموم غواړي چې روژه کې (مړ) کيدونکو سره هم دا غه معامله وي،

---

۱) مرقات المفاتيح ۳/۴۱۵، کتاب الصلاة، باب الجمعة، الفصل الثالث.

۲) اخرج ابو نعيم في الحلية عن جابر رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من مات يوم الجمعة او ليلة الجمعة اجير من عذاب القبر، وجاء يوم القيامة وعليه طابع الشهداء.
و أخرج حميد في ترغيبه عن اياس بن بكير ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: من مات يوم الجمعة كتب له اجر شهيد و وقي فتنة القبر.
واخرج من طريق ابن جريج عن عطاء قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ما من مسلم او مسلمة يموت في يوم الجمعة او ليلة الجمعة الا وقي عذاب القبر وفتنة القبر ولقي الله ولا حساب عليه وجاء يوم القيامة ومعه شهود يشهدون له او طابع الخ.
(مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ۳/۴۱۲، کتاب الصلاة، باب الجمعة، الفصل الثالث، رقم الحديث: ۱۳۶۸)

۳) ينقطع عنه العذاب يوم الجمعة وليلتها ثم لا يعود. (الشامي: ۳/۴۱، کتاب الصلاة، باب الجمعة، مطلب ما اختص به يوم الجمعة)

علماؤ خو صرف دومره لیکلي دي چي عصاة مؤمنين (د خدای نافرمان بندګان) څخه د جمعې په ورځ او شپه عذاب پورته کیږي او د جمعې په ورځ مړ کیدونکي ته صرف یو ګړی عذاب وي بیا تر قیامته پوري عذاب نه ورکول کیږي.

لنډه دا چي روایات مختلفه د کتلو څخه معلومیږي چي د جمعې او رمضان د میاشتي سره کومه خاص معامله ده چي د نورو سره نشته او کم از کم د جمعې ورځ شپه کي مړ کیدونکي څخه خو خامخا پدغه وخت عذاب پورته کیږي.

قال اليافعي في روض الرياحين: بلغنا ان الموتى لا يعذبون ليلة الجمعة تشريفا لهذا الوقت، قال: ويحتمل اختصاص ذلک بعصاة المسلمين دون الكفار وعمم النسفي في بحر الكلام فقال: ان الكافر يرفع عنه العذاب يوم الجمعة وليلتها وجميع شهر رمضان (قال) واما المسلم العاصي فانه يعذب في قبره لكن يرفع عنه يوم الجمعة وليلتها ثم لا يعود اليه الى يوم القيامة وان مات يوم الجمعة او ليلة الجمعة يكون له العذاب ساعة واحدة وضغطة القبر كذلک ثم ينقطع عنه العذاب ولا يعود الى يوم القيامة انتهى، وهذا يدل على ان عصاة المسلمين لا يعذبون سوى جمعة واحدة او دونها وانهم اذا وصلوا الى يوم الجمعة انقطع ثم لا يعود وهو يحتاج الى دليل انتهى[1] (شرح الصدور بشرح حال الموتى والقبور للشيخ جلال الدين السيوطي) وفي شرح الفقه الاكبر: فلا يخفي ان المعتبر في العقائد هو الادلة اليقينية الخ نعم ثبت في الجملة ان من مات يوم الجمعة او ليلة الجمعة يرفع العذاب عنه الا انه لا يعود اليه الى يوم القيامة فلا اعرف له اصلاً الخ[2] (شرح فقه اكبر، ص:۱۲۳) ونقل الشامي عن السيوطي: ان من لا يسأل ثمانية (وعد منها:) الميت يوم الجمعة او ليلتها[3]

---

۱) شرح الصدور بشرح حال الموتى والقبور للامام جلال الدين السيوطي، ص: ۷۲، باب عذاب القبر، المطبوعة: مطبعة دار احياء الكتب العربية الحلبي.

۲) شرح الفقه الاكبر، ص: ۱۲۳، اختلفوا في انه هل يعاد الروح، المطبوعة: المطبع المجتبائي، الواقع في الدهلي

۳) رد المحتار على الدر المختار: ۲۲۹/۱، كتاب الصلاة، باب صلاة الجنازة، مطلب ثمانية لا يسالون في قبورهم ط رشيديه

په بعضو روایاتو کي په روژه کي مړ کیدونکو لپاره هم د عذاب مرتفع کیدل وارد دي.[۱]

په عشره محرم کي مړکیدونکي څخه حساب او عذاب کله کیږي؟

(۲۲) دا مشهوره ده چي کوم سړی په عشره محرم کي فوت شي، هغه ته په عشره کي دننه عذاب قبر نه ورکول کیږي، نه حساب ورسره کیږي، تر لسو ورځو وروسته به حساب او نور وي، دا صحیح ده کنه؟(۱۳۳۹/۷۸هـ)

جواب: دا خبره غلطه ده، په عشره کي مړکېدونکي په هکله نه دي راغلي چي تر لسو ورځو پوري به عذاب قبر او نور څه نه وي، مګر په رمضان شریف کي او د جمعې په ورځ مړ کیدونکي لپاره دا بشارت په حدیث کي راغلی دی. (۲) فقط والله تعالی اعلم

ولد الزنا چي نیک او صالح وي نو جنت ته داخلیږي

(۲۳) ولد الزنا او ولد الحرام به د نیک عمل په حالت کي جنت ته ځي کنه؟ (۱۰۳۱/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: جنت ته به ځي. فقط والله تعالی اعلم

د مسلمانانو له نابالغ زامنو څخه په قبر کي سوال نه وي

(۲۴) د مسلمانانو کوم بچیان چي نابالغ مړه کیږي ایا له هغو څخه د قبر سوال به وي؟(۱۹۹۸/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: په درمختار کي دي: والاصح ان الأنبياء لا يسالون ولا أطفال المؤمنين (۳)

---

۱) اخرج البيهقي: قال ابن رجب روى باسناد ضعيف عن انس بن مالک رضی الله عنه ان عذاب القبر يرفع عن الموتى في شهر رمضان (شرح الصدور بشرح حال الموتى للامام جلال الدين السيوطي، ص: ۷۸، باب ما ينجي من عذاب القبر، المطبوعه، مطبعة دار الاحياء الكتب العربية الحلبي)

۲) د تیر شوي سوال جواب او د هغه حاشیه وګورئ

۳) الدر مع الرد: ۲۲۹/۱، كتاب الصلاة، باب الصلوة الجنازة؛ مطلب ثمانية لا يسالون في قبورهم ط رشيديه

ترجمه: او صحیح دا ده چي د انبیاء علیهم السلام څخه سوال نه کیږي او نه د مسلمان له بچیانو څخه. فقط

د دوږخ څخه د خلاصون او د دخول جنت لپاره عبادت کول شرک خفي نه دی

(۲۵) د زید عقیده ده چي د انسان لپاره جمله عبادات بدني او مالي صرف د الله تعالی لپاره کول په کار دي او دخول جنت او اتقاء من النار د دې په ضمن کي داخل دي د عبادت اصل مقصود نه دی، که انسان صرف د دخول جنت یا اتقاء نار لپاره وکړي او د ابتغاء وجه الله تعالی تصور نه وي نو د شرک خفي څخه به خالي نه وي؟ (۱۳۴۳/۲۴۰۷هـ)

جواب: دا هم صحیح ده او ضروري ده چي عبادت لابتغاء وجه الله کول په کار دي، لیکن د هغه له عذاب څخه خلاصون او د ده د رضا په کور کي داخل کیدل هم مقصود دی، دې ته شرک خفي ویل غلط دي. فقط والله تعالی اعلم.

ایا د مور وپلار نافرماني کوونکی او شرابي جنت ته نه داخلیږي؟

(۲۶) یو سړی په خپل تصنیف کي لیکلي دي:

(۱) ګناه کمي کړی چي مړ کیدل پر تاسو آسان شي.

(۲) قرض کم اخلئ چي په آزادی سره ژوند تیر کړی.

(۳) د مور وپلار نافرماني کونکی او همیشه شراب څښونکی به جنت ته داخل نه شي.

(۴) د اداء جمعه لپاره د جامع مسجد کیدل شرط دي.

د دې جوابونه څه دي؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۲۳هـ)

جواب: د دغه کتاب نمبر (۱، ۲) د بحث وړ نه دي، ګناوي بالکل پریښودل په کار دي او د پریښودلو اراده پکار ده، ځکه چي له ګناه څخه د الله تعالی غصه نازلیږي او بې له ضرورت قرض اخیستل هم خوښ نه دي پاته د دریم نمبر په هکله دا تفصیل پکار دی چي د مور پلار نافرمان او شراب خوره فاسق دی،

کافر نه چي همیشه همیشه به په دوږخ کي او سیږي، بلکي د گناه په قدر عذاب ورکیدو وروسته به خلاصون ورکولو سره جنت ته داخلیږي، که الله تعالی وغواړي بیله عذاب به مغفرت وکړي، لکه چي فرمایلي دي: "ویغفر ما دون ذلک لمن یشاء" (سورة نساء، آیت: ۴۸، ۱۱۲) او نمبر (۴) په هکله دا تفصیل دی چي بې شکه د جمعې لپاره د جامع مسجد کیدل شرط نه دي د ښار په بل مسجد یا د ښار په میدان کي جمعه کیدای شي، مگر د جمعې لپاره دا شرط دی چي ښار یا ښارگوټی به وي او کومه علاقه چي د غټې کلي پشان وي هغه هم د غټ کلي په حکم کي ده، په کوچني قریه کي جمعه عند الحنفیه صحیح نه ده، د علي رضی الله عنه په حدیث کي شته: لا جمعة ولا تشریق ولا صلوة فطر ولا أضحی الا في مصر جامع. الحدیث(۱) فقط

د هر سړي تقدیر په لوح محفوظ کي لیکلي دي

(۲۷) زید سوال کوي چي د هر سړي تقدیر په لوح محفوظ کي لیکلي دي، بکر جواب ورکوي چي د هر سړي تقدیر پر لوح محفوظ نوشته نه دی، بلکي تقدیر علم الله دی، نوشته لوح په معنی د حکم الله دی چي جائز نه دی، په دوی دوو کي محاکمه وکړئ. (۲۲۰۲/۱۳۴۳ھ)

جواب: هر یو سړي لره چي څه مقدر دي او د ده په تقدیر کي دي، هغه ټول په لوح محفوظ کي لیکل شوي دي او د الله تعالی په علم کي دي، الله تعالی د مخلوق تقدیر مخکي لیکلی دی، لکه په حدیث شریف کي شته: کتب الله تعالی مقادیر الخلائق قبل ان یخلق السماوات والارض بخمسین الف سنة، قال: وعرشه علی الماء.(۲) رواه مسلم فقط والله تعالی اعلم.

د تقدیر مبرم او معلق تعریف

(۲۸) اوریدلي مي دي چي تقدیر دوه دي یو مبرم او یو معلق او د تقدیر

---

۱) مرقاة المفاتیح شرح مشکوة المصابیح ۴۲۳/۳، کتاب الصلاة، باب الخطبة والصلاة، الفصل الثالث، رقم الحدیث: ۱۴۱۹

۲) وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: کتب الله مقادیر الخلائق. الحدیث (الصحیح لمسلم: ۳۳۵/۲، کتاب القدر، باب حجاج آدم وموسی صلی الله علیهما وسلم)

مبرم مي دا تعریف اوریدلی دی چي د هغه لیکل شوي هیڅکله نه بدلیږي او د تقدیر معلق تعریف دا اوریدلی دی که فلانکی سړی فلانکی وخت فلانکی ښه یا بد کار وکړي نو د ده لپاره فلانکی ښه یا بد ه نتیجه به پیدا شي، نو دا دواړه تقدیرونه او د دواړو پورته یاد شوي تعریفونه شرعًا ثابت دي کنه؟ (۱۸۱۴/۳۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: دواړه تفسیرونه په یاد شوي تفصیل سره صحیح دي (۱) فقط والله تعالی اعلم

څه چي کیږي هغه د الله تعالی له جانبه کیږي

(۶۹) یو صاحب وایي: څه چي کیږي منجانب الله کیږي. (۲۸۸/۱۳۳۷ھ)

جواب: دا صحیح ده چي څه کیږي منجانب الله کیږي "قل کل من عند الله" (سورة نساء، آیت: ۷۸) لیکن بنده د خیر او شر د اعمالو کسب کونکی دی، د دې وجي جزاء وسزاء پر دې مرتب دي. فقط

په تقدیر کي کموالی یا زیاتوب کیدای شي کنه؟

(۷۰) انسان فاعل مختار دی کنه؟ که دی نو په کومو کومو افعالو کي؟ ایا نیکي او بدي پخپل اختیار سره کوي یا حسب اراده ازلي ومنشاء ایزدی؟ که یو انسان د میثاق په ورځ ناري لیکل شوی دی، نو هغه په دنیا کي نیک عمل کولو سره جنتي کیدای شي؟ او د ده خاتمه به پر ایمان وي کنه؟ او د انسان شقاوت وسعادت په روز اول کي لیکل شوی دی که بعد کي هم تغییر وتبدل کیدای شي؟ لنډه دا چي په مقسوم و مرقوم ازل کي کموالی یا زیاتوب حسب منشاء انساني کیدای شي کنه؟ (۲۲۹/۱۳۴۰ھ)

جواب: انسان فاعل

---

۱) اعلم ان الله تعالی في خلقه قضائین: مبرماً ومعلقًا بفعل، کما قال: ان فعل الشيء الفلاني کان کذا وکذا، وان لم یفعله فلا یکون کذا وکذا من قبیل ما یتطرق الیه المحو والاثبات، کما قال تعالی في محکم کتابه: "یمحوا الله ما یشاء ویثبت" (الرعد: ۳۹) واما القضاء المبرم فهو عبارة عما قدره سبحانه في الازل من غیر ان یعلقه بفعل، فهو في الوقوع نافذ غایة النفاذ بحیث لا یتغیر بحال ولا یتوقف علی المقضی علیه ولا المقضي له، لانه من علمه بما کان وما یکون وخلاف معلومه مستحیل قطعًا وهذا من قبیل ما لا یتطرق الیه المحو والاثبات، قال تعالی: "لا معقب لحکمه" (الرعد: ۴۱) وقال النبي صلی الله علیه وسلم: لا مرد لقضائه ولا مرد لحکمه، فقوله صلی الله علیه وسلم: اذا قضیت قضاء فلا یرد. من القبیل الثاني (مرقاة المفاتیح ۴۳۰/۱۰، کتاب الفضائل والشمائل، باب فضائل سید المرسلین صلی الله علیه وسلم، الفصل الاول، رقم الحدیث: ۵۷۵۰)

مختار دی، یعني د ده حرکات د جمادات پشان حرکات نه دي او په ټولو افعال اختیاریه کي انسان ته فاعل مختار ویل کیږي، نیکي او بدي ټول د ده په اختیار سره حسب اراده ازلي دی او په تقدیر مبرم کي تغیر و تبدل نه کیږي، مګر په تقدیر معلق او غیر مبرم کي محوو اثبات کیږي، کما قال الله تعالی: "یمحوا الله ما یشاء ویثبت وعنده ام الکتاب" (سورة رعد، آیت ۳۹) وقال في شرح الفقه الاکبر: فللعباد افعال اختیاریة یثابون بها ان کانت طاعة ویعاقبون علیها ان کانت معصیة، لا کما زعمت الجبریة ان لا فعل للعبد اصلاً لا کسبا ولا خلقًا وان حرکاته بمنزلة حرکات الجمادات لا قدرة علیها لا مؤثرة ولا کاسبة في مقام الاعتبار، ولا قصد ولا ارادة ولا اختیار وهذا باطل الخ فان قیل: بعد تعلق علم الله وارادته الجبر لازم قطعًا لانهما اما ان یتعلقا بوجود الفعل فیجب او بعدمه فیمتنع الخ فالجواب انه سبحانه یعلم ویرید ان العبد یفعله او یترکه باختیاره فلا اشکال في هذا المقال(۱) ومن شاء التفصیل فلیرجع الی المطولات والکف عن ورود هذه الورطة اسلم

قضاء معلق علی الشرط د تحقق شرط وروسته مبرم تقدیر دی

(۷۱) ... (الف) ایا د قضاء معلق هر وخت لیري کیدل ضروري دي؟ یعني کله چي د هغه وجود په لوح محفوظ کي معلق علی الشرط دی، نو په توفیق الهي د شرط پر پوره کېدو به هغه لیري کیږي؟

(ب) که د چا عزیز مړ شي نو ایا د زړه د تسلي لپاره هغو ته دا خیال کول پکار دی چي د ده قضاء مبرم وه، د دې وجه تدبیرونه بې کاره شوه یا د قضاء معلق خیال کول پکار دی او دا وګڼي چي په دوا او دعا کي کمزوري پاته شوه کنې نه مړ کیدی، فضول رنج کول پکار دی. دغه شان کول تر کومه حده پوري صحیح دي؟ (۱۳۳۷/۲۸۹هـ)

جواب: (الف) کومه قضا چي معلق علی الشرط وي د هغه شرط موجود کیدو وروسته د هغه تحقق ضروري دی. د دغه شرط بعد د قضاء تحقق داغه قضاء مبرم ده.

(ب) داغه ګڼل په کار دي چي داغه قضاء مبرم وه او تقدیر الهي داغه شان ؤ هغه نه شو لیري کیدای. فقط والله تعالی اعلم

---

۱) شرح الفقه الاکبر، ص: ۵۱، المطبوعة، مطبع مجتبائي دهلي.

کوم څه چې تقدیر کې دي هغه کیږي

(۷۲) یو سړی وایي رتبه بلنده په تقدیر ده. بل وایي چې غټه رتبه په تدبیر سره ده، تحقیق څه دی؟ (۱۳۳۷/۷۳۹ هـ) ٦

جواب: څه چې په تقدیر کې وي هغه به کیږي، په تدبیر سره تقدیر نه بدلیږي. باقي د شریعت حکم دا دی چې تدبیر د شریعت حکم موافق کوي، که تقدیر موافق شو تدبیر هم کار کوي کنې نه (۱)

نیک بختي او بد بختي په تقدیر ده نو سزا ولې ده؟

سول: (۷۳) الشقي من شقي في بطن امه والسعيد من وعظ بغيره (۲) چې دغه فرمان نبوي دی

---

۱) په تحفه الالمعي شرح الترمذي کې دي:
پیژندل په کار دي چې پر تقدیر ایمان راوړل د معرفت خداوندي لپاره ضروري ده، څکه الله تعالی: خپل تولو صفاتو سره پیژندل ضروري دي او د الله تعالی په صفاتو کې قضاو قدر هم شته، لیکن پر تقدیر ایمان راوړلو سره معرفت خودي هم ضروري یعني خپل مقام و مرتبه پیژندل هم ضروري دي، څکه موږ بندګان یو، بندګي زموږ وصف خاص دی، بس د الله تعالی له جانبه پر تقدیر نظر: د معرفت خداوندي لپاره ضروري دي او موږ ته دا هم یاد ساتل پکار دي چې الله تعالی موږ جزوي اختیار لرونکي مخلوق پیدا کړي یو، بس نو موږ ته پخپل اختیار سره د خپل ځان لپاره مفید کار کول پکار دی او پخپل اختیار سره د خپل ځانی مضر کارو څخه بچاویدل پکار دي چې په آخرت کې زموږ لپاره مفید کور یعني جنت موږ ته ملاو شي او کوم مضر ځای دی یعني جهنم څخه موږ بچاؤ شو، مختته د قضاو قدر چې کوم روایات را راوان دي هغه ویلو په وخت پر دغه نکته خاص نظر ساتل پکار دي. کله نبي رسول الله صلی الله علیه وسلم د تقدیر مسئله وښودله نو صحابهؤ ته اشکال ورپیدا شوي وو دا اشکال دوی ته د الله تعالی له جانبه په تقدیر باندي نظر کولو څخه پیدا شوي وو. رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو نظر دې طرف ته واړاوی چې موږ بندګانو ته د خپل جانب تقدیر ته کتل پکار دي، داغه تدبیر دی، ویې فرمایل: اعملوا فکل میسر لما خلق له په خپل اختیار سره بنه عمل کوئ د هر انسان لپاره هغه عمل آسان کیږي د کوم لپاره چې دی پیدا شوی دی یعني د بل عمل دی تصور نشي کولای (تحفة الالمعي شرح سنن الترمذي: ۴۸۴/۵-۴۸۵، ابواب القدر، د تقدیر سره تدبیر ضروري دی)

۲) عن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه یقول: الشقي (الصحیح لمسلم: ۳۳۳/۲، کتاب القدر، باب کیفیة خلق الآدمي في بطن امه وکتابه رزقه واجله وعمله وشقاوته وسعادته)

نو جزا سزا ولي شته؟ بنده خو اوس مجبور دی؟ (۳۸۹/۴۴-۱۳۴۵ھ)

جواب: دا هم په حدیث شریف کي شته: کل میسر لما خلق له (۱) کوم چي سعید دی هغه ته د سعادت عمل آسان کیږي او کوم چي شقي دی هغه ته د شقاوت عمل آسان کیږي او د داسي سوال وجواب تفصیل په احادیثو کي مفصلاً دی (۲) فقط والله تعالی اعلم

---

۱) عن عمران رضی الله عنه قال قلت یا رسول الله! فیما یعمل العاملون؟ قال کل میسر لما خلق له (صحیح البخاري ۱۱۲۷/۲، کتاب التوحید، باب قول الله "ولقد یسرنا القرآن للذکر فهل من مدکر")

۲) عن علي رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم في جنازة، فاخذ شیئا فجعل ینکت به الارض، فقال: ما منکم من احد الا وقد کتب مقعده من النار ومقعده من الجنة، قالوا: یا رسول الله! افلا نتکل علی کتابنا وندع العمل؟ قال: اعملوا، فکل میسر لما خلق له، اما من کان من اهل السعادة فییسر لعمل اهل السعادة، واما من کان من اهل الشقاء فییسر لعمل اهل الشقوة، ثم قرا: "فاما من اعطی واتقی، وصدق بالحسنی" الآیة (صحیح البخاري ۷۳۸/۲، کتاب التفسیر، باب قوله "فسنیسره للعسری")

وعن عمر بن الخطاب رضی الله عنه سئل عن هذه الآیة: "وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِن بَنِي آدَمَ مِن ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلَىٰ شَهِدْنَا أَن تَقُولُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَٰذَا غَافِلِينَ" فقال عمر ابن الخطاب: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم سئل عنها، فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ان الله خلق آدم، ثم مسح ظهره بیمینه، فاستخرج منه ذریة، فقال: خلقت هؤلاء للجنة، وبعمل اهل الجنة یعملون، ثم مسح ظهره فاستخرج منه ذریة، فقال: خلقت هؤلاء للنار، وبعمل اهل النار یعملون.

فقال الرجل: ففیم العمل؟ یا رسول الله! قال: فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ان الله اذا خلق العبد للجنة، استعمله بعمل اهل الجنة، حتی یموت علی عمل من اعمال اهل الجنة، فیدخله الله الجنة، واذا خلق العبد للنار استعمله بعمل اهل النار، حتی یموت علی عمل من اعمال اهل النار، فیدخله الله النار. (جامع الترمذي ۱۳۸/۲، ابواب التفسیر، من سورة الاعراف)

په تحفة الالمعي شرح سنن الترمذي کي شته:

ځیني مسائل ذو جهتین دي او د دواړو جهتو احکام جلا دي هلته که فرق مراتب ونه شي نو مسئله گرانه کیږي مثلاً

....

== په حديث کي دي چي يو سړی به پخپل عمل جنت ته نه ځي حتی چي نبي صلی الله عليه وسلم هم پخپل عمل سره جنت ته نه ځي، بلکي د الله تعالی د فضل او کرم په وجه به ځي دلته هم سوال پيدا کيږي چي بيا د عمل څه فائده ده؟ دغه شان قرآن وحديث په دې ډک دی چي ايمان واعمال صالحه جنت ته څوک وړي او کفر او اعمال سيئه جهنم ته څوک رسوي بس نو اول حديث د دې تصريحاتو خلاف دی!

د دې جواب داغه دی چي اول حديث کي کومه خبره ده هغه عقيده ده او د قران و حديث په تصريحاتو کي د اسبابو بيان دی چي د عمل لپاره دی، ځکه اسباب محض اسباب وي، مسبب الاسباب حق تعالی دی، لکه څنګه چي له خوراک څښاک څخه شکم سيري نه حاصليږي، بلکه مړول او اوبول الله تعالی کوي او دا عقيده ساتل ضروري دي، د دې بغير د ده ايمان نه مکمل کيږي، مګر د شکم سيري او سيرابي لپاره اسباب اختيار کول ضروري دي، ځکه هغه د عمل لپاره دی.

۲-الله تعالی رازق دی، په قرآن کريم کي د دې صراحت شته، مګر دا عقيده ده، د عمل لپاره دا خبره نه ده، د عمل لپاره هغه اسباب دي چي الله تعالی د روزي لپاره پيدا کړي دي، نو هر سړی د روزي لپاره خواري کاږي او کوم چي لاس پښې پر لاس ايښی وي ناست وي، هغه بې وقوف دی، دلته هم د مسئلې دوه جانبه دي:

يو: د الله تعالی طرف دی، هغه صرف عقيده ده.

دوهم: د عمل جانب دی، هغه اسباب اختيارول دي.

دغه شان د تقدير په مسئله کي دوه جانبه دي:

يو: د الله تعالی جانب دی چي هر څه په ازل کي مقرر شوي دي او هر شی الله تعالی ته معلوم دي، مګر دا صرف عقيده ده او دا د الله تعالی صحيح معرفت دی.

دوهم: د بندګانو جانب دی چي د عمل جانب دی يعني موږ ته دا حکم دی چي پخپل عقلي اختيار سره ښه کار وکړو چي ښه نتيجه تر لاسه شي، ځکه چي دا دنيا دار الاسباب ده، دلته د هر شي سبب شته، د هغه څخه مسببات په وجود راځي او په تقدير الهي کي صرف مسببات نه دي، بلکه اسباب هم شته او د کائنات د استعمال کولو تر حد پوري هر سړی دا خبره تسليم کوي او پر هغه عمل هم کوي، بيا نو ولي نه په ايمان واعمال صالحه او کفر او اعمال سيئه کي هم دا خبره تسليم کړل شي؟! يعني چي څوک جنت لره ځي هغه د هغه له اسبابو له وجي ځي او کوم څوک جنهم ته ځي هغه د هغه له اسبابو له وجي ځي او تقدير الهي د اسباب او مسبباتو د مجموعې نوم دی، په تقدير کي صرف مسببات نه دي، اسباب هم شته او اسباب اختيار کول دا د عمل جانب دی او په همدې اعتبار تقدير معلق دی، اميد دی چي له دې څخه به د مسئلې حقيقت واضح شي. (تحفة الالمعي شرح سنن الترمذي: ۵/۴۸۲-۴۸۷ ابواب القدر، وفيه ايضًا: ۷/۲۴۸، ابواب تفسير القرآن د عهد الست تفسير.)

دا ویل غلط دي چي تقدیر هیڅ شی نه دی

(۷۴) یو جاهل وایي چي تقدیر هیڅ شی نه دی او یو مولوي صاحب وایي چي څه کیږي په تقدیر سره کیږي، کوم قول صحیح دی؟ (۲۳۲/۴۴-۱۳۴۵هـ)

جواب: د مولوي صاحب قول صحیح دی، څه چي کیږي هغه مخکي مقدر شوي دي لکه والقدر خیره و شره داخل ایمان کرځولی دی. قال الله تعالی: "انا کل شیئ خلقناه بقدر" "وکل شیئ فعلوه في الزبر" (سورۀ قمر، آیات: ۴۹ او ۵۲) فقط والله تعالی اعلم

د قیامت په ورځ مړي لڅ لغړ پورته کیږي

(۷۵) د قیامت په ورځ مړي لڅ لغړ پورته کیږي که د کپړو سره؟ (۱۰۴۹/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: په حدیث متفق علیه کي دي: انکم محشورون حفاة عراة غرلاً ثم قرا (کما بسدانا اول خلق نعیده) الحدیث([1]) یعني بیشک تاسو به پورته کړل کیږي لڅي پښي لڅ بدن ناسنت شوي، بیا ده دا آیت ووایه: څرنګه چي موږ مخلوق اول وار پیدا کړی، دغه شان هغه پورته کوو. فقط

د بالغ کیدو مخکي چي کوم کوچنی مړ شي هغه ته په جنت کي حوري ملاویږي که نه؟

(۷۶) د مسلمان چي کوم هلک تي رودونکی یا نابالغ مړ شي، هغه په جنت کي ځوان کیدو سره د حورو سره به واده کوي که نه؟ (۱۲۳۱/۱۳۴۰هـ)

جواب: شي به فقط والله تعالی اعلم

---

۱) عن ابن عباس رضی الله عنهما عن النبي صلی الله علیه وسلم قال: انکم محشورون حفاة الحدیث (صحیح البخاري: ۴۷۳/۱، کتاب الانبیاء، باب قول الله عزوجل واتخذ الله ابراهیم خلیلاً الخ)
وعن عائشة رضی الله عنها قالت: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: یحشر الناس یوم القیامة حفاة عراة غرلاً الحدیث (الصحیح لمسلم: ۳۸۴/۲، کتاب الجنة وصفة نعیمها واهلها، باب فناء الدنیا وبیان الحشر یوم القیامة)

شکي سړی جنت ته ځي کنه؟

(۷۷) زید وایي چي شکي سړی جنت ته نه ځي دا قول د زید صحیح دی که غلط؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۴۷۲هـ)

جواب: د زید دا قول غلط دی، په یو حدیث شریف کي دا شان نه دي راغلي. فقط والله تعالی اعلم

لیونی د مؤاخذه اخروي څخه خلاص دی

(۷۸) کوم خلک چي لوني وو او په دغه حالت کي مړه شوه د هغه حشر به څه وي؟ (۱۳۴۳/۳۲۲هـ)

جواب: لیونی شرعًا مرفوع القلم دی[1] پر هغو هیڅ مؤاخذه او حساب کتاب نشته

ایا حج، زکات او قرباني نه کونکي د وارثانو په ثواب بخښلو خلاصیږي؟

(۷۹) یو سړی صاحب نصاب ؤ، نه هغو زکوة ادا کړی، نه یې حج وکړ، نه قرباني وکړه، د ده د مړکیدو وروسته ورثاء کلمه طیبه او د قرآن کریم ثواب وراستوي، ایا دغه رنګه به هغه بري شي؟ (۱۳۴۴/۳۲۸هـ)

جواب: د کلمه طیبه او قران ثواب ور رسیږي او د حج نه کولو او د زکوة نه ورکولو او د قرباني کولو مؤاخذه به پرده پاته وي، که الله تعالی وغواړي معاف به کړي، که وغواړي عذاب به ورکړي. فقط والله تعالی اعلم

دبب، شاه پیری، مارزومی او پیریان ټول جنات دي او د دوی اثر لګیدل ممکن دي

(۸۰) د جناتو چي کوم جماعت دی د انسانانو څخه دي که جلا دي؟ که جلا دي نو غیب دي که ظاهر؟ انسان یا بل شی جوړېدل یا

---

۱) عن عائشة رضی الله عنها عن النبي صلی الله علیه وسلم قال: رفع القلم عن ثلاث: عن النائم حتی یستیقظ وعن الصغیر حتی یکبر وعن المجنون حتی یعقل و یفیق (سنن النسائي: ۸۲/۲، کتاب الطلاق، باب من لا یقع طلاقه من الازواج).

په سلو میلونه په یو ساتکي تلل ټیک دی کنه؟ څرنګه کرځي راګرځي؟ د دوی پیدائش له کوم ځای څخه دی؟ بل چا ته یعني ښځي سړي باندي ښکاره کیدل صحیح دي کنه؟ دیب، شاپیری، مارزومی او پیریان هم ټیک دي کنه؟ د دوی پر بل چا ښکاره کیدل صحیح دي؟ (۲/۳۲۷-۲۹/۱۳۳۰هـ)

جواب: د جنات جماعت له انسان څخه جلا دی، د هغو پیدائش د اور څخه دی او د انسان پیدائش له خاورو څخه (۱) توالد تناسل په دوی کي د انسان په شان جاري دی، په صوره مختلفه کي د دوی ظاهر کیدل او نور ذکر شوي کارونه په دوی کي معروف ومشهور دي او ثابت دي، پر انسان د هغو اثر کیدل واقع او ثابت دی (۲) دیب، شاپیری، پیریان دا ټول جنات دي نومان مختلف دي، د هغو اثر کیدل هم ممکنه ده، مستبعده نه ده. فقط و الله تعالی اعلم

---

۱) "خلق الانسان من صلصال کالفخار، وخلق الجان من مارج من نار" (سورة رحمن، آیت ۱۴-۱۵)

۲) عن یعلی بن مرة الثقفي رضی الله عنه... قال: ثم سرنا فمررنا بماء فاتته امراة بابن لها به جنة فاخذ النبي صلی الله علیه وسلم بمنخره، ثم قال اخرج فاني محمد رسول الله ثم سرنا فلما رجعنا مررنا بذلک الماء فسالها عن الصبي، فقالت والذي بعثک بالحق ماراینا منه ریبا بعدک، رواه في شرح السنة

وعن ابن عباس رضی الله عنهما قال: ان امراة جاءت بابن لها الی رسول الله صلی الله علیه وسلم فقالت یا رسول الله! ان ابني به جنون وانه لیاخذه عند غدائنا وعشائنا، فمسح رسول الله صلی الله علیه وسلم صدره ودعا، فثع ثعة وخرج من جوفه مثل الجرو الاسود یسعی، رواه الدارمي (مشکاة المصابیح، ص: ۵۴۰-۵۴۱، کتاب الفتن، باب في المعجزات، الفصل الثاني)

ترجمه (۱) یعني بن مره ثقفي وویل: بیا موږ روان شو، بیا موږ پر څه اوبو تیر شو بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یوې ښځي خپل کوچنی زوی راوړی پر هغه جن ؤ، بیا نبي صلی الله علیه وسلم د هغه پزه ونیوله، بیا یې وویل: ووځه! واقعي زه محمد رسول الله یم، بیا موږ روان شو، کله چي موږ واپس شو، بیا پر هغه اوبو تیر شو بیا نبي صلی الله علیه وسلم د هغې ښځي څخه د هغه هلک په هکله پوښتنه وکړه، بیا هغې ښځي وویل: قسم دي مي په هغه ذات وي چي ته یې په حق سره راستولی یې، موږ ستا د تلو وروسته د هغه سره داسي شی نه دی لیدلی چي موږ یې بد ګڼو. دغه روایت بغوي په شرح السنة کي نقل کړی دی.

(مظاهر حق تتمه څلورم جلد، ص: ۳۵، مطبوعه نول کشور لکهنؤ) —

عرش قدیم دی که حادث؟

(۸۱)... (الف) عرش قدیم دی که حادث؟

(ب) څوک چې د عرش د قدم او د ایمان فرعون د مقبولیت او د سفارش مشرکین قائل وي، سني دي کنه؟ (۲۳۴۰/۱۳۳۸ھ)

جواب: (الف) عرش مخلوق دی قدیم نه دی. فقط والله تعالی اعلم

(ب) دا شان سړی سني نه دی. فقط والله تعالی اعلم

د جنت نعمتونه مخلوق وموجود دي

(۸۲) ایا مکانات او باغیچې په مکمله طریقه سره د قیامت په ورځ به مؤمنین او مؤمنات ته ملاویږي، ایا دا په ازل کې د جنت د موجود والي په وخت موجوي وې؟ یا وقتًا فوقتًا په اعتبار د عمل صالح مکانات او باغیچې موجود کیږي؟ (۱۱۸/۱۳۳۹ھ)

جواب: د اهل سنت والجماعت په عقائدو کې دي چې جنت او دوزخ مخلوق دی او موجود دی. وفي الحديث القدسي عن الله تبارك و تعالى: اعددت لعبادي الصالحين ما لا عين رات ولا اذن سمعت ولا خطر على قلب بشر، واقروا ان شئتم (فلا تعلم نفس ما اخفي لهم من قرة اعين) متفق عليه[1] له دې څخه معلوم شو چې د جنت نعمتونه او لذائذ هم مخلوق او موجود دي،

== د حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چې هغوی وویل: بې شکه یوې ښځې خپل زوی نبي صلی الله علیه وسلم ته راوړی او وویل: یا رسول الله ! زما پر زوی پیری دی او پیری پر راځي، سهار مانبام د ډوډۍ پر وخت، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه پر سینه لاس ورتیر کړ او دعا یې ورته وکړه، بیا هغه کوچني قی وواهه او د ده له نس څخه تور د سپي په شان شی په منډه ووتی. دغه روایت ترمذي نقل کړی دی.

(مظاهر حق قدیم تتمه څلورم جلد، ص: ۳۵-۳۶، مطبوعه نول کشور لکهنؤ.)

له مذکوره دواړو روایتونو څخه د دې خبرې اصلیت معلومیږي چې جنات جسم انساني کې حلول کولو سره یا یو بله طریقه سره تکلیف رسولای شي. محمد امین پالن پوري،

۱) عن ابي هريرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: قال: قال الله بارك و تعالى عددت لعبادي الصالحين الحديث ==

لیکن که په هغه کې د اعمال صالحه په وجه اضافه کیږي نو څه مضائقه نشته کې کما ورد في الحدیث: من قال: سبحان الله العظیم وبحمده، غرست له نخلة في الجنة، رواه الترمذي (۱) فقط والله تعالی اعلم.

د قیامت په ورځ ښځو لره د خدای دیدار وي کنه؟

سوال: (۸۳) د قیامت په ورځ به ښځو لره د خدای دیدار وي کنه؟ (۱۳۳۷/۱۸۱۵هـ)

جواب: کوم خلک چې جنت ته ځي هغو لره به د خدای دیدار وي، برابره ده که سړي وي که ښځه وي. کذا في کتب الاحادیث والفقه. (۲) فقط والله تعالی اعلم

په عالم برزخ کې له خپل اهل وعیال سره ملاقات کیږي کنه؟

(۸۴) په عالم برزخ کې له خپل اهل وعیال سره ملاقات کیږي کنه؟ (۱۳۳۷/۲۴۴۱هـ)

جواب: په یو حدیث کې دي چې په مسند امام احمد او نسائي کې دي کذا في المشکاة: فیاتون به ارواح المؤمنین فلهم اشد فرحًا به من احد کم بغائبه یقدم

(صحیح البخاري: ۴۲۰/۱، کتاب بدء الخلق، باب ماجاء في صفة الجنة وانها مخلوقة والصحیح لمسلم: ۱۰۲/۱، کتاب الایمان، باب الایمان، باب اثبات الشفاعة واخراج الموحدین من النار.)

۱) عن جابر رضی الله عنه عن النبي صلی الله علیه وسلم قال: من قال: سبحان الله العظیم الحدیث (جامع الترمذي: ۱۸۴/۲، ابواب الدعوات، باب)

۲) الثالثة: قیل: لا رؤیة للنساء وقال السیوطي: الحق الاثبات في نحو ایام العید، وقال بعض العلماء کیف یراه عوام المؤمنین ولا یراه خواص النساء کفاطمة وخدیجة وعائشة ومریم رضی الله عنهن، وقال بعضهم: لا رؤیة الا لفاطمة رضی الله عنها، وهذا خلاف الصحیح، ومن استدل بانهن مقصورات في الخیام فقد سهي لان الخیام لا تحتجب الحق سبحانه. الرابعة: قال السیوطي: هذه التخصیصات انما هي بعد دخول الجنة واما في المواقف فیراه کل احد حتی الکفار بصفة القهر والجلال (النبراس شرح شرح العقائد النسفیة، ص: ۲۵۹، مطبوعة مکتبة رضویة لاهور.)

عليه الخ(۱) له دې څخه د ارواح مؤمنين سره ملاقات كيدل معلوميږي، نو د متوفي اهل وعيال څخه چي كوم پر ايمان مړ شوي دي له هغو سره ملاقات كيدل ثابت دي فقط والله تعالى اعلم

په جنات كي پيغمبر شوى دى كنه؟

(۸۵) په جنات كي پيغمبر شوى دى كنه؟ (۱۳۴۱/۹۸۴هـ)

جواب: په جنات كي پيغمبر نه دى شوى، زموږ پيغمبر صلى الله عليه وسلم هم جنات طرفته مبعوث شوى دى (۲) فقط والله تعالى اعلم

۱) عن ابي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اذا حضر المؤمن اتت ملائكة الرحمة بحريرة بيضاء، فيقولون اخرجي راضية مرضيًا عنك الى روح الله وريحان وربي غير غضبان فتخرج كاطيب ريح المسک حتى انه ليناوله بعضهم بعضًا حتى ياتوا به ابواب السماء فيقولون ما اطيب هذه الريح التي جاءتكم من الارض؟ ا فياتون به ارواح المؤمنين، فلهم اشد فرحًا به من احدكم بغائبه يقدم عليه، فيسئلونه ماذا فعل فلان؟ ماذا فعل فلان؟ فيقولون دعوه، فانه كان في غم الدنيا، فيقولون قد مات ما اتاكم، فيقولون قد ذهب به الى امه الهاوية، وان الكافر اذا احتضر، اتته ملائكة العذاب بمسح، فيقولون اخرجي ساخطة مسخوطًا عليک الى عذاب الله عزوجل، فتخرج كانتن ريح جيفة حتى ياتون به الى باب الارض، فيقولون ما انتن هذه الريح؟ ا حتى ياتون به ارواح الكفار، رواه احمد والنسائي (مشكاة المصابيح، ص: ۱۴۲، كتاب الجنائز، باب ما يقال عند من حضره الموت، الفصل الثالث)

۲) په شرح العقيدة الطحاويه كي دي:

قوله (وهو المبعوث الى عامة الجن وكافة الورى بالحق والهدى وبالنور والضياء)

ش: اما كونه مبعوثًا الى عامة الجن، فقد قال تعالى حكاية عن قوله الجن: "يا قومنا اجيبوا داعي الله الاية" (الاحقاف: ۳۱) وكذا سورة الجن تدل على انه ارسل اليهم ايضاً.... فقد قال تعالى: "يا معشر الجن والانس الم ياتكم رسل منكم الاية" (الانعام: ۱۳۰) والرسل من الانس فقط، ليس من الجن رسول، كذا قال مجاهد وغيره من السلف والخلف، وقال ابن عباس رضى الله عنهما: الرسل من بني آدم، ومن الجن نذر. وظاهر قوله تعالى حكاية عن الجن: "انا سمعنا كتابا انزل من بعد موسى" (الاحقاف: ۳۰) يدل على ان موسى مرسل اليهم ايضًا. والله اعلم (شرح العقيدة الطحاوية: ۱/۱۲۷-۱۲۸، عموم بعثته صلى الله عليه وسلم للانس والجن، المطبوعة: مؤسسة الرسالة، بيروت)

د توحید وصفات بیان

باري تعالی هر وخت په یو مهم کار کي دی

(۸۶) چي الله تعالی د دنیا ټول اسباب د سترګي رپولو څخه هم په کم وخت کي پیدا کړي دي او د پیدائش څخه جمله اسباب د ملائکو او نورو په ذریعه کیږي، لهذا د خدای په هکله دا ویل نعوذ بالله صحیح به وي: هغه نه هیڅکله کار کوي نه بیکاره کیږي؟ (۱۳۷۷/۴۴-۱۳۴۵ه)

جواب: په قرآن کریم کي دي: "کل یوم هو في شان" (سورة رحمن، آیت: ۲۹) یعني هر وخت باري تعالی په یو شان کي وي، څوک مړ کوي، څوک پیدا کوي، چا ته رزق ورکوي، چا ته رزق تنګوي، نور او نور دغه شان د عالم ټول کاروبار د ده په اراده او حکم سره چلیږي، دغه وخت د ده احکام جاري دي، بس اهل اسلام ته دغه عقیده ساتل پکار دي او د پر کوږوالی تلاش او بحث وخیړنه دي نه پکښي کیږي ملائکه چي څه کوي د هغه په حکم سره کوي، د ده په هکله دومره قدر اعتقاد ساتل پکار دی او بې کاره او پکار لفظونه پر ژبه نه راوړل پکار دي فقط

د انسان او د ده د اعمالو خالق الله تعالی دی

(۸۷) زید وایي: الله تعالی انسان پیدا کړ او د ده اعمال یې پیدا کړه، بکر وایي: الله انسان پیدا کړ او د اعمال پیدا کونکی انسان دی، د دې په هکله د چا قول صحیح دی؟ (ر۱۸۰۲/۱۳۴۳ه)

مکر دا خبره د خلق انسان څخه بعد خو صحیح ده، حال دا چي جنات د انسان څخه قدیم مخلوق دی او مکلف مخلوق دی، بس د وجود انسان څخه مخکي په دوی کي به د نبوت سلسله وي والله تعالی اعلم سعید احمد پالن پوري

جواب: د زید قول صحیح دی، لکه الله تعالی فرمایلي دي: "والله خلقکم وماتعملون" (سورة صافات، آیت: ۹۶) یعني الله تعالی تاسو او ستاسو عملونه پیدا کړي دي، نو د بکر قول غلط دی. فقط والله تعالی اعلم.

خیر او شر ټول خاص د الله تعالی له لوري دي

(۸۸) .... (الف) د سوال خلاصه دا ده چي زید وايي: اعمال وافعال مذمومه وقبیحه د شیطان او نس او افعال حسنه من جانب خدای تعالی کیږي.

(ب) د عمر عقیده د دې په خلاف ده هغه وايي: خیر او شر ټول خاص د الله تعالی له لوري دي بې د ده له حکم وارادې یوه پاڼه نشي ښوربدای، کقوله تعالی: "وماتشاءون الا ان یشاء الله" (سورة دهر، آیت: ۳۰) "لیس علیک هداهم ولکن الله یهدي من یشاء" (سورة بقره، آیت: ۲۷۲) زید وايي: که دغه ومنل شي نو دغه آیت په هکله څه وایاست. "ولا تتبعوا خطوات الشیطان انه لکم عدو مبین، انما یامرکم بالسوء والفحشاء" (سورة بقره، آیت: ۱۲۸-۱۲۹) عمر وايي: دا ارشاد مجازًا دی نه حقیقة، په دغه صورت کي د چا قول صحیح دی؟ (۱۰۱۵/۱۳۴۵ھ)

جواب: اقول وبالله التوفیق! په دغه نزاع کي قول د عمر حق او صواب دی اصل دا دی چي خیر وشر ټول منجانب الله دي او هغه خالق د هر شي او فاعل حقیقي دی، شیطان هم هغه څوک ګمراه کولای شي چي د الله تعالی اراده د دغه سړي د ګمراه کیدو وي، کنې الله تعالی چي چا ته هدایت ورکول وغواړي هغه څوک نشي ګمراه کولای او د نفس متبع کیدو سره هم انسان هغه وخت ګمراه کیږي چي الله تعالی د ده ګمراه کول وغواړي، لنډه دا چي قول د عمر پر حقیقت محمول دی او په نص قاطع سره ثابت دي چي هر یو امر د الله تعالی له طرفه دی، کما قال الله تعالی: "قل کل من عند الله" (سورة نساء، آیت: ۷۸) زید چي وايي افعال قبیحه د شیطان او نفس له طرفه دی او افعال حسنه من جانب خدای تعالی دی، دا په اعتبار د سببیت دی او مجازًا دی، یعني شیطان او نفس خو ظاهري سبب د صدور د افعال قبیحه دی، له دې وجي د اعمال قبیحه نسبت د شیطان او نفس طرفته مجازًا کیږي او مقتضاء ادب هم داغه دی چي د افعال قبیحه

نسبت شیطان او نفس طرفته وشي، لکه حضرت آدم علیه السلام وفرمایل: "ربنا ظلمنا انفسنا" (سورة اعراف، آیت: ۲۳) او حضرت یوسف علیه السلام وفرمایل: "وما ابرئ نفسي ان النفس لامارة بالسوء" (سورة یوسف، آیت: ۵۳) او ارشاد باري تعالی دی: "ما اصابک من حسنة فمن الله وما اصابک من سیئة فمن نفسک" (سورة نساء، آیت: ۷۹) فقط والله تعالی اعلم.

د خیر او شر نسبت الله طرفه ته کول

(۸۹) انسان چي څومره قدر ښه بد کارونه کوي، دا ټول الله تعالی پخپله په کوي یا څرنګه؟ (۱۱۰۴/۱۳۳۵هـ)

جواب: قال الله تعالی: "ما اصابک من حسنة فمن الله وما اصابک من سیئة فمن نفسک" (سورة نساء، آیت: ۷۹) نو که څه هم هر یو کار او هر یو شی د الله تعالی له طرفه دی، لیکن د ادب تقاضا دا ده چي انسان ښه کار الله تعالی خوا ته نسبت وکړي او بدي خپل طرفته. کما قال العارف:

تو نیکي کني من نه بد کرده ام که بدرا حوالت بخود کرده ام(۱)

---

۱) دا شعر د عارف رومي رحمه الله نه دی، بلکه د نظامي ګنجوي رحمه الله دی او په سکندر نامه ص: ۲ کي دی، په دغه کي تصحیف هم ؤ موږ یې تصحیح وکړه.
ترجمه: الهي ! ته ښه کار کوې او زه بد کار کوم، مګر بدي خپل ځان طرفته منسوب کوم-د شعر حاصل: د نیکي او بدي خالق الله تعالی دی، انسان د بدي خالق نه دی، لیکن چي کله د نسبت وخت راځي نو صرف د نیکي نسبت ستا طرفته کوم، د بدي دا خپل طرَفته کوم، که څه هم زه د هغه خالق نه یم او د دې مخکي شعر دغه شان دی:
بدو نیک را از تو آید کلید* ز تو نیک وازمن بد آید پدید.
یعني د نیک و بد دواړو قسمو اعمالو ابتدا ستا په لاس کي ده.
یعني خاص ته د هرشي خالق یې مګر ستا له طرفه نیکي او زما له طرفه بدي ظاهرېږي، یعني د یو نسبت ستا طرف ته کوم او د دوهم نسبت خپل طرف ته، (سکندر نامه نظامي ګنجوي (ولایت: ۱۱۴۱ء، وفات: ۱۲۰۹ء) ص: ۲، مطبوعه: مطبع نامي، لکهنؤ، کال ۱۸۹۸ء)

آمنت بالله وملائکته وکتبه ورسله والیوم الاخر والقدر خیره وشره.

ترجمه: ایمان راوړی ما پر الله باندي او د ده پر ملائکو باندي او کتابونو باندي او پر پیغمبرانو او پر آخري ورځ او پر تقدیر چي خیر او شر ټول د الله تعالی له طرفه دی.

د بندګانو د جمله افعالو خالق الله تعالی دی

(۹۰) د انسان څخه کوم نیک یا بد کار وشي، ایا د خدای د طرفه څخه کیږي که د انسان له طرفه؟(۱۰۲۲/۱۳۳۹هـ)

جواب: خالق د جمله افعال عباد الله تعالی دی. کما قال الله تعالی: "والله خلقکم وما تعملون "(سورة صافات، آیت: ۹۲) او بنده کاسب دی او مستحق د ثواب وعقاب دی. فقط

د بدو کارو نسبت الله تعالی طرفته کول بې ادبي ده

(۹۱) زید د خپل هر کار که ښه وي که بد حتی پخپل لاس سره قتل کولو سره هم دا وايي: ما په خپل لاس قتل نه دی کړی، بلکه د الله تعالی لاس قتل وکړي، د داسي سړي په نسبت د شریعت څه حکم دی؟(۱۴۵۵/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: خالق حقیقي او د جمله افعال خالق که څه هم الله تعالی دی، لیکن بنده کاسب د افعالو دی، ځکه نو نسبت د افعالو بنده ته کیږي او جزاء او سزاء پر دې مرتبیږي، نو دا د سړي خطاء وغلطي ده چي د جمله افعالو په نسبت دا شان وايي او د بدو افعالو نسبت الله طرف ته کوي، په دې که بې ادبي هم شته او خلاف واقع دی، په آیات واحادیثو کي د بندګانو د افعالو په نسبت د بندګانو طرفته شوی دی. (۱) ذکر شوي سړي دا عقیده د اهل سنت څخه علیحده معلومیږي او خارج له اهل سنت وجماعت څخه دی، لهذا مبتدع او ګمراه دی. فقط والله تعالی اعلم

۱) "جزاء بما کانو یعملون "(سورة سجده، آیت: ۱۷، سورة احقاف، آیت: ۱۴، سورة واقعه، آیت: ۲۴) و "من جاء بالحسنة فله عشر امثالها ومن جاء بالسیئة فلا یجزي الا مثلها وهم لا یظلمون "(سورة الانعام، آیت: ۱۲۰) –

کله چې د بنده مشیت د الله تعالی د مشیت تابع دی نو بنده کاسب څرنګه کیدای شي؟

(۹۲) د ما لا بد منه څخه معلومیږي بنده کاسب دی او حسب قدرت د سزا وجزا اهل دی او د آیت کریمه "وما تشاءون الا ان یشاء الله" څخه کلیة اراده د الله ثابتیږي، د هغه څخه د بنده مرتکب معاصي کیدل من جانب الله لازمیږي، په دواړو کي مطابقت تحریر کړی؟ (۱۳۳۹/۱۰۷۸ھ)

جواب: د بنده د کاسب کیدو دا معنی ده چي د بنده د جوارح څخه هغه کار کیږي او دی د هغه عامل وکاسب وي، دا نه چي دی د خپل افعالو خالق دی، کیف؟! وقد قال الله تعالی: "والله خلقکم وماتعملون" (سورة صافات، آیت: ۹۶) او په مالا بد منه کي چي دا لفظ دی: که هر گاه بنده قصد فعلی کند الخ([1]) نو د دې دا مطلب نه دی چي بلا مشیت وحکم حق تعالی بنده اراده کوي، بلکه په حقیقت کي دا اراده هم په مشیت د حق تعالی ده، نو د آیت: "وماتشاءون الا ان یشاء الله" ([2]) سره هیڅ تعارض نشته فقط والله تعالی اعلم

د بندګانو افعال اختیاریه د الله تعالی د مشیت لاندي داخل دي او په لاجبر ولا قدر کي هیڅ تعارض نشته

(۹۳) افعال اختیاریه عباد په مشیت ایزدي کي داخل دي کنه؟ او د اختیاریه څه معنی ده؟

-- وعن ابي هريرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: ان المؤمن اذا اذنب كانت نكتة سوداء في قلبه، فان تاب واستغفر صقل قلبه، وان زاد زادت حتى تعلو قلبه فذلكم الران الذي ذكر الله تعالى: "كلا بل ران على قلوبهم ما كانوا يكسبون" رواه احمد والترمذي وابن ماجة، وقال الترمذي: هذا حديث حسن صحيح (مشكوة المصابيح، ص: ۲۰۴، كتاب اسماء الله تعالى، باب الاستغفار والتوبة، الفصل الثاني)

۱) مالا بد منه فارسي، ص: ۵، کتاب الایمان

۲) سورة دهر، آیت: ۳۰، وسورة تکویر، آیت: ۲۹

په کتابو کي چي کوم ليکلي دي: لا جبر ولا قدر ولکن امر بين امرين کي تعارض معلوميږي، د بدی حواله خپله طرفته کول ادبًا دی که حقيقةً؟ بنده مجبور دی کنه، که مجبور نه وي نو ولي؟ (۵۲۱/۱۳۳۵ه)

جواب: افعال عباد اختياريه تحت المشيت داخل دی، قال الله تعالى: "وما تشاءون الا ان يشاء الله" (سورة دهر، آيت: ۳۰) او د اختياريه مطلب دا چي افعال عباد په شان د حرکت د مرتعش نه دی او په لا جبر ولا قدر کي د کمال نفي دی (۱) فلا تعارض.

تونيکي کني من نه بد کرده ام که بدرا حوالت بخود کرده ام. (۲)

او بنده مجبور نه دی. لا عطاء الله له اختيارًا وکسبًا بالارادة. فقط والله تعالى اعلم.

ایا په آخر د شپې کي الله تعالى سماء دنيا ته نزول کوي؟

(۹۴) په آخر د شپې کي الله تعالى اول آسمان ته راځي کنه؟ (۱۳۷۲/۱۳۴۰ه)

جواب: په آخر د شپې کي نزول د حق تعالى آسمان دنيا ته په احاديثو کي وارد دي (۳) او غرض له دې څخه رحمت حق تعالى او اجابت دعا او نور دی. فقط والله تعالى اعلم.

د رحمت خداوندي په هکله يوه پوښتنه او د هغه جواب

(۹۵) په حديث شريف کي راغلي دي: الله تعالى محبت سل حصې کړی دی، له هغه څخه ۹۹ يې د خپل ځان سره ايښی دی او يوه حصه يې پر ټول عالم تقسيم کړې ده. (۴) خاکسار ته په دې کي شک دی چي د الله تعالى له صفاتو څخه يوه حصه کميدل ...

---

۱) بنده نه مجبور محض دی نه قادر مطلق، بلکه څه جبر او څه قدرت دی ۱۲ محمد امين پالن پوري.

۲) د دې ترجمه د سوال (۸۹) په حاشيه کي وګورئ.

۳) عن ابي هريرة رضى الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: ينزل ربنا عزوجل كل ليلة الى السماء الدنيا حين يبقى ثلث الليل الآخر، فيقول: من يدعوني فاستجيب له، من يسالني فاعطيه، من يستغفرني فاغفرله (سنن ابي داؤد، ص: ۱۸۲، کتاب الصلاة، باب اى الليل افضل؟ وفيه ايضًا، ص: ۲۵۱، کتاب السنة، قبيل باب في القرآن)

۴) عن ابي هريرة رضى الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: ان لله مائة رحمة--

د نقصان خبره ده. (۱۹۴/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: د دې شک جواب دا دی چې د الله تعالی له رحمت څخه هیڅ حصه نه کمیږي، بلکه حقیقت دا دی چې په دنیا کې څه پخپل منځ کې محبت و رحمت دی هغه ظل او عکس دی حق تعالی د رحمت، لکه د لمر نور پر ځمکه واقع کیږي هغه د لمر له رڼا څخه یوه برخه ده، لیکن دا نه ده چې د لمر د نور څخه څه حصه کمیږي. دغه رنګه د الله تعالی د رحمت انعکاس پر مخلوق کیږي، د هغه له وجهې مخلوق پخپل منځ کې محبت کوي، مګر د دې انعکاس څخه دا نه لازمیږي چې د الله تعالی په رحمت کې څه نقصان راځي، په هر حال داس شبهات طرف ته بالکل التفات نه دي کول پکار او د ترجمې په وجه(۱) په یوه شبه کې لویدل نه دي پکار، هغه محض د تمثیل په ډول بیان شوی دی دا نه دی چې یو جزو علاحده کیږي.

ایا الله تعالی پر عرش ناست دی؟

(۹۲) غیر مقلدینو د خدای پر عرش کښېنستل نه منونکي باندې د کفر فتوی لګولې ده، لهٰذا د مسئله استواء علی العرش پوره کیفیت تحریر کړئ (۱۳۳۹/۱۲۵۳هـ)

جواب: پر دې اجماع د اهل سنت وجماعت ده چې حق تعالی د جهت او مکان وزمان څخه منزه وبرتر دی او د جسم او عوارض جسم څخه هم منزه وپاک دی "لیس کمثله شئ" (سورة شوری، آیت۱۱) "لم یکن له کفوًا احد" (سورة اخلاص، آیت ۴) په نص قرآني کې وارد دی، نو قول د غیر مقلدینو باطل دی او تکفیر اهل سنت وجماعت چې استواء ته مجهول الکیفیت(۲) په اتفاق سره وایي،

--- انزل منها رحمة واحدة بین الجن والانس والبهائم والهوام فبها یتعاطفون وبها یتراحمون وبها تعطف الوحش علی ولدها، واخر الله تسعا وتسعین رحمة یرحم بها عباده یوم القیامة (الصحیح لمسلم: ۳۵۲/۲، کتاب التوبة، باب سعة رحمة الله تعالی وانها تغلب غضبة)

۱) د مذکوره حدیث د جملې انزل منها ترجمه ده: راکښته کړی له رحمت څخه. له ترجمې څخه د رحمت د یوې حصې انفصال مراد نه دی، بلکه هغه محض تمثیل دی ۱۲ سعید احمد پالن پوري.

۲) اهل السنت والجماعت عرش الهي مني او د الله تعالی د هغه سره د استواء تعلق هم مني، مګر د کیفیت څخه بحث نه کوي هغه د تنزیه مع التفویض قائل دي، د سلف څخه داغه ډول منقول دی

د غیر مقلیدنو لپاره نهایت جرئت او بې باکي او صریح گمراهي وخذلان دی او د استواء علی العرش تفصیل د غیر مقلدینو د تردید دپرو رسالو او کتابونو کي طبع کیدو سره شائع شوي دي، ما ته د عبارات نقل کولو فرصت نشته، ځوک که غواړي د هغه کتابونو څخه دي خپله تسلي وکړي او د غیر مقلدینو د قول او مذهب بطلان دي معلوم کړي وما علینا الا البلاغ المبین

د الله تعالی عرش کله پر اوبو کله ؤ؟

(۹۷) الله تعالی فرمايي چي زما عرش پر اوبو ؤ، دا کله ؤ؟ څو کاله وشو؟ (۱۳۴۲/۱۱۹۳هـ)

جواب: د اسمانو او ځمکو له پیدا کولو مخکي د الله تعالی عرش پر اوبو ؤ او د کلونو تعداد الله تعالی ته معلوم دی او داسي سوالونه کول ممنوع دي، بیا داسي سوالونه مه کوه. فقط والله تعالی اعلم

الله تعالی په هر ځای کي موجود دی پر خاص ځای د ده قیام نشته

(۹۸) د خدای تعالی د ذات وصفات په هکله زما دا عقیده ده چي خدای تعالی په هر ځای کي شته یو خاص ځای د ده قیام نشته؟ (۳۲/۲۳۱-۱۳۳۳هـ)

جواب: پورته عقائد موافق عقائد اهل سنت والجماعت دی، هکذا في شرح العقائد(۱)

--- الاستواء معلوم والکیف مجهول، والایمان به واجب، والسؤال عنه بدعة د استواء معنی موږ پیژنو او د الله تعالی د استواء کیفیت موږ نه پیژنو چي څه کیفیت یې دی پر هغه بالاجمال ایمان راوړل واجب دی، د دې په تحقیق پسي کیدل د گمراه فرقو کار دی سلف (صحابه) د کیفیت په هکله د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه سوال نه وکړی او د هغو ایمان کامل ؤ، بیا نن د دې تحقیق پسي ولې پسي کیږي؟! او دا خبره په اهل السنة والجماعة کي متفق علیه ده او د غیر مقلدینو اختلاف مضر نه دی، د گمراه فرقو اختلاف اجماع نه متاثره کوي، د داسي حضراتو تکفیر کول د غیر مقلدینو جرئت او بې باکي ده او د دوی د گمراهي صریح دلیل دی ۱۲ سعید احمد پالن پوري

۱) ولا یتمکن في مکان لان التمکن عبارة عن نفوذ بعد في آخر متوهم او متحقق یسمونه المکان والبعد عبارة عن امتداد قائم بالجسم او بنفسه عند القائلین بوجود الخلاء والله تعالی منزه عن الامتداد والمقدار لاستلزامه التجزي (شرح العقائد النسفیة، ص: ۳۹-۴۰، المطبوعة یاسر ندیم اینډ کمپني دیوبند)

د الله تعالی مقام فقط عرش دی که هغه هر ځای دی؟

(۹۹) د زید او عمر څخه یو وایي چي د الله تعالی مقام فقط عرش دی بلاکیف واتصال، دوهم وایي چي الله تعالی پر هر ځای دی بلاکیف واتصال، صحیح کوم دی؟(۱۹۵۵/۱۳۳۸هـ)

جواب: دا دواړه امرونه صحیح دي او په نص کي وارد دي، په دغه کي بحث نه دی کول پکار، په شرح فقه اکبر کي له امام مالک رحمه الله څخه نقل کړی دی: ونعم ما قاله الامام مالک حیث سئل عن ذلک: الاستواء معلوم، والکیف مجهول والسؤال عنه بدعة، والایمان به واجب، وهذه طریقه السلف، وهو اسلم، والله تعالی اعلم(۱) نو یقین کول پکار دی چي الله تعالی پر عرش مستوي دی، لیکن د هغه کیفیت معلوم نه دی او په دغه کي ننوتل او پلټنه کول منع دی، دغه شان په نص کي وارد دي: "وهو معکم اینما کنتم" (سورة حدید، آیت: ۴) "ونحن اقرب الیه منکم ولکن لا تبصرون" (سورة واقعة، آیت: ۸۵) او نور، بس نو پر دغه هم دغه شان بلاکیف ایمان راوړئ. فقط والله اعلم

الله تعالی په یو شي کي حلول نه دی کړی

(۱۰۰) ځیني مسلمانان وایي چي الله تعالی ګویا په هر شي کي حلول کړی دی، زموږ د حضرات اکابر څه مسلک دی؟(۳۲/۲۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: الله تعالی په یو شي کي هم حلول کړی نه دی، مګر هغه د ټولو سره ورسره دی او ټولو ته نژدې دی او پر ټولو محیط دی، لیکن د هغه کیفیت د قرب ومعیت واحاطه باندي موږ نشو پوه کیدای.

د الله تعالی جمله صفات بې کیف وبې مثل دي

(۱۰۱) الله تعالی پخپله په یو خاص ځای کي او سیږي یا بې مقام په هر ځای کي موجود دی، ده لره یو خاص جهت کولای شو کنه؟ خدای تعالی بیله سترګي لیدلای شي کنه؟ او بیله غوږو اوریدلای شي کنه؟ ده لره لاس پښې شته کنه؟ که یو سړی خدای تعالی لره مقام معین کړی او هر ځای یې موجود نه بولي

---

۱) شرح الفقه الاکبر، ص: ۴۲، مطبع مجتبائي دهلي

او د ده د سترګي، غوږ، لاس، پښې قائل وي، نو دا مسلمان دی کنه؟ ایمان زیات وکم کیږي کنه؟ خدای تعالی سماء دنیا ته راکښته کیږي که د ده رحمت؟ (۱۳۳۷/۱۱۲۸هـ)

جواب: د خدای تعالی لپاره یو مکان او جهت او اعضاء ثابت کول خلاف د عقیده اهل سنت وجماعت دی، حق تعالی بې شکه سمیع وبصیر دی او موجود او قریب او ملګری دی، لیکن د ده جمله صفات بې کیف وبې مثل دی "لیس کمثله شيء وهو السمیع البصیر" (سورة شوری، آیت: ۱۱) د حق تعالی په صفاتو کي دغه شان ابجاث کول صحیح نه دي، د ده هر یو صفت بې مثل او بې کیف ګڼل پکار دي، د ده سمیع وبصیر پر خپل ځان قیاس کول نه دي پکار، د ایمان زیادتي او کمي د ایمان قوت او ضعف ګڼل پکار دی او د الله عروج او نزول هم بې کیف ګڼل پکار دی. لیکن څه چي په نصوص کي وارد دي پر هغه ایمان راوړل پکار دي او د هغه کیفیت مفوض بعلم الهي کول پکار دی، لکه د امام مالک رحمه الله څخه په استواء علی العرش په هکله منقول دي چي استواء ثابته ده او د هغه کیفیت مجهول دی او سوال د هغه څخه بدعت دی([1]) لنډه داچي دغه شان سوالونه هیڅکله صحیح نه دي، لکه په آیتونو او حدیثونو کي راغلي دي پر هغه ایمان راوړل پکار دي او اقرار کول پکار دي، لیکن دغه بې مثل وبې کیف ګڼل پکار دي او د هغه د کیفیت څخه بحث او سوال نه دی پکار. فقط والله تعالی اعلم.

(۱۰۲) څوک که دا وایي: زه په آیت، "ثم استوی علی العرش" ([2]) کي تا ویل په حکومت او نورو سره نه کوم، الله تعالی بلاکیف پر عرش منم، دغه شان د آیت: "وهو معکم این ماکنتم" (سورة حدید، آیت: ۴) تا ویل په علم ونصرت وقدرت سره نه کوم، دغه معیت

۱) وقال الامام الاعظم في کتابة الوصیة: نقر بان الله علی العرش استوی من غیر ان یکون له حاجة الیه الخ ونعم ما قال الامام المالک حیث سئل عن ذلک: الاستواء معلوم، والکیف مجهول، والسوال عنه بدعة، والایمان به واجب الخ (شرح الفقه الاکبر، ص: ۴۲، مطبع مجتبائي، دهلي)
۲) سورة اعراف، آیت: ۵۴، سورة یونس، آیت: ۳، سورة رعد، آیت: ۲، سورة فرقان، آیت: ۵۹، سورة سجده، آیت: ۴۱، سورة حدید، آیت: ۴

هم بلاکیف تسلیم کوم او دغه شان د (ید، وجه، نزول) کوم صفات باري چي په قرآن او صحیح حدیث کي وارد دي د هغه تاویل په (قدرت، رضا، نزول رحمت) او نورو سره نه کوم، هر یو بلاکیف منم، ایا دا شان ویونکي ریښتونی دی کنه؟ (۱۳۴۵/۲۸۴هـ)

جواب: په شرح فقه اکبر کي ملا علي قاري رحمه الله لیکي: وقال الامام الاعظم في کتابة الوصیة، نقر بان الله علی العرش استوی من غیر ان یکون له حاجة الیه الخ، ونعم ما قال الامام مالک رحمه الله حیث سئل عن ذلک: الاستواء معلوم، والکیف مجهول، والسؤال عنه بدعة، والایمان به واجب الخ[1] فقط والله تعالی اعلم

ایا د الله تعالی لاس، خوله، سترګه، غوږ او پښه شته؟

(۱۰۳) یو سړی پیر شو مریدان جوړ وي او دا وایي چي د خدای تعالی لاس شته او خوله شته او پښه شته او غوږ شته، که سترګه نه وي نو څرنګه به ویني؟ که غوږ نه وي نو څنګه به اوري؟ د داسي سړي لپاره څه حکم دی؟ او د ده مرید جوړېدل څرنګه دي؟ یو مولوي صاحب وایي چي کوم سړی د دغه قائل شي هغه هم کافر دی او کوم چي منکر دی هغه هم کافر دی، د داسي قائل لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۴۵/۲۹۲۰هـ)

جواب: کوم صفات چي د الله تعالی لپاره وارد شوي دي پر هغه هغه شان ایمان راوړل واجب دي، په هغه کي خپلي رایي او قیاس ته دخل ورکول پکار نه دي او پر ممکناتو هغه قیاس کول نه دي پکار، لکه الله تعالی فرمایلي دي: "لیس کمثله شيء وهو السمیع البصیر" (سورة شوری، آیت: ۱۱) نو د الله تعالی (سمع، بصر، ید او وجه) د ممکناتو پر (سمع، بصر، ید او وجه) قیاس کول نه دي پکار

---

۱) شرح الفقه الاکبر، ص: ۴۲، مطبع مجتبائي، دهلي.

په شرح فقه اکبر کي شته: كما ان في الآيات المتشابهات وجب الايمان بها من غير اشتغال بتأويلها الخ(۱) ونحوه والسمع والبصر اى انهما من الصفات الذاتية فانه تعالى سميع بالأصوات والحروف والكلمات بسمعه القديم الذي هو له نعت في الأزل وبصير بالاشكال والالوان بابصاره القديم الذي هو له صفة في الازل الخ(۲) نو که د نوموړي پير مطلب دا وي چي د الله تعالى لاس او خوله او غوږ او سترګه په مثل د مخلوقاتو د لاس او خوله او غوږ او سترګه او نور دي نو دی بد دین او ګمراه دی او الله تعالى ګويا د مجسمات څخه بولي، وذلک باطل وضلال، او که مطلب دا وي: دا امور بې کيف الله تعالى لره ثابت دي نو صحيح ده او د ده دا ويل چي چا الله تعالى په دنيا کي نه وليدی هغه به په آخرت کي هم نهويني دا د آيات واحاديثو صريح خلاف دی او دا ګمراهي ده او د اهل سنت والجماعت د مذهب خلاف دی د غه رنګه سړي سره بيعت کول او دی مقتدا جوړول صحيح نه دی. فقط والله تعالى اعلم

يو درويش په مراقبه کي د خدای صورت ښکاره کولای شي؟ او د خدای تعالى لاس پښه شته کنه؟

(۱۰۴) که يو درويش خپلو مريدانو ته دا ووايي: زه تاسو ته په مراقبه کي د خدای صورت در ښکاره کوم، د خدای تعالى لاس پښې هر څه موجود دي، بلکه ښکاره سترګه يې هم ليدلای شي او د عالمانو يو جماعت هم د درويش صاحب ښه تائيد کوي، د داسي خلکو څه حکم دی؟(۸۲۰/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: داسي درويش درويش حقيقي او عارف بالله نه دی، مدعي(۳) کذاب دی، په دنيا کي هيڅوک حق تعالى نشي ليدلای، کما قال الله تعالى: "لا تدركه الابصار وهو يدرک الابصار وهو اللطيف الخبير" (سورة انعام، آيت: ۱۰۳) او د ده دا قول چي د خدای تعالى لاس پښې په ظاهرًا (ښکاره) سترګه هم ليدل کيدای شي سراسر باطل دی.

---

۱) شرح الفقه الإكبر، ص: ۲۰، مطبع مجتبائي، دهلي.
۲) شرح الفقه الاكبر، ص: ۲۱، مطبع مجتبائي، دهلي
۳) مدعي: بې بنياده خبري کوونکی ۱۲

او غلط دی، د ټول امت پر دغه اتفاق دی چي استواء علی العرش او ید او وجه او ساق وقدم او نور ټوله بې کیفه دی، نو بې کیفه شي په کیف کي څنګه راتلای شي؟!(۱) "لیس کمثله شیء" (سورة شوری، آیت: ۱۱) لنډه دا چي دا قول د ده او د ده د مؤیدینو محض افتراء او باطل او کذب صریح دی او د عقائد اهل سنت وجماعت خلاف دی. فقط والله تعالی اعلم

په صفات خداوندي کي څوک شریک منل شرک دی

(۱۰۵) ایا د الله تعالی ټول صفات رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ثابتولو سره سړی مشرک ګرځي که کوم خاص صفت ثابتولو سره هم شرک لازمیږي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۰۴۸هـ)

جواب: په هر یوه صفت خاصه باري تعالی کي څوک سواء باري تعالی شریک کولو سره او متصف ګرځولو سره شرک راځي. فقط والله تعالی اعلم

صفات ثبوتیه مخلوق وحادث منونکی مسلمان دی کنه؟

(۱۰۶) یو سړی دا اعتقاد لري چي د خداوند عالم صفات ثبوتیه مخلوق دی او هغه د ده عین ذات دی، نو دغه شان اعتقاد ساتونکی مسلمان دی کنه؟ (۱۳۴۰/۱۷۰۹هـ)

---

۱) سئل مالک عن قوله تعالی: "الرحمن علی العرش استوی" (طه: ۵) کیف استوی؟ فاطرق مالک راسه حتی علاه الرحضاء، ثم قال: الاستواء معلوم والکیف غیر معقول والایمان به واجب والسؤال عنه بدعة، فرق بین المعنی المعلوم من هذه اللفظة وبین الکیف الذین لا یعقله البشر، وهذا الجواب من مالک (رحمه الله) شاف عام في جمیع مسائل الصفات من السمع والبصر والعلم والحیاة والقدرة والارادة والنزول والغضب والرحمة والضحک فمعانیها کلها معلومة، واما کیفیتها فغیر معقولة، اذ تعقل الکیف فرع العلم بکیفیة الذات وکنهها، فاذا کان ذلک غیر معلوم فکیف یعقل لهم کیفیة الصفات؟ ا..... فما ذکر الله في القرآن من ذکر الوجه والید والنفس فهو له صفات بلاکیف (مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المفاتیح ۲۱۷/۸، کتاب اللباس، الفصل الثاني، رقم الحدیث ۴۳۴۰)

جواب: صفات ثبوتیه ته مخلوق وحادث ویل کفر دی، کما قال في شرح الفقه الاکبر: وصفاته في الازل غیر محدثة ولا مخلوقة..... فمن قال: انها مخلوقة او محدثة او وقف فیها... او شک فیها..... فهو کافر بالله تعالی الخ، الا ان الجهل والشک الموجبین للکفر مخصوصان بصفات الله المذکورة من النعوت المسطورة المشهورة اعني الحیاة والقدرة والعلم والکلام والسمع والبصر والارادة والتخلیق والترزیق الخ (۱) وفي شرح العقائد النسفیة: وله صفات... ازلیة... قائمة بذاته..... وهي لا هو ولا غیره یعني ان صفات الله تعالی لیست عین الذات ولا غیر الذات، فلا یلزم قدم الغیر ولا تکثر القدماء الخ (۲) فقط والله تعالی اعلم

صرف د خدای د وحدانیت منونکی مسلمان نه وي

(۱۰۷) څوک چي خدای یو مني بیله منلو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رسالت او شهادت په دائره اسلام کي داخل کیدای شي کنه؟ زید وایي چي د هندوستان د سنیاسي خلک څو د خدای وحدانیت مني د رسول رسالت نه مني، بیا هم هغه مسلمانان دي، د ده دا قول څرنګه دی؟ (۵۴۳/۱۳۴۰هـ)

جواب: بیله اقرار رسالت هیڅوک مسلمان نه شي کیدای، د زید قول غلط دی فقط

بیله د رسالت اقرار کولو خدای یو منل ګټه نه کوي

(۱۰۸) زید د دې خبري قائل دی چي کوم خلک موحدین دي، غیر مسلم دي، که قبل بعثت وي یا بعد نبوت، علماوو د هغو په هکله د خلود في النار کیدو کي سکوت کړی دی، زید پخپله دعوی کي آیت "ان الذین آمنوا والذین هادوا" الایة (سورة بقره، آیت ۶۲) پیش کوي چي د انبیاء علیهم السلام کار توحید باري تعالی وو دوی توحید ته په یو طریقه رسیدلي دي، مشرک نه دي، موحد دي، مګر مسلم نه دي، علماوو دوی جهنمي یا جنتي نه دي ګرځولي

---

۱) شرح الفقه الاکبر، ص: ۲۹، مطبع مجتبائي، دهلي.

۲) شرح العقائد النسفیة، ص: ۴۴-۴۲، مطبوعه، یاسر ندیم، دیوبند.

بلکه سکوت یې اختیار کړی دی، عمر د ده خلاف دی، د ده قول دی چې د رسالت زمانه موندلو بعد چا رسالت نه ومنئ که څه هم موحد وي، هغه قطعي جهنمي دی، د ده موحد کېدل بېله اقرار رسالت بېکاره دی، د دې په هکله شرعي فیصله څه ده؟ (۱۱۸۱/۱۳۴۰ھ)

جواب: قبل بعثت یا چا ته چې د بعثت خبر نه وي هغه ته خو بېله شکه د توحید اقرار منجي (نجات کوونکی) دی، لیکن بعد بعثت چا ته چې د بعثت خبر رسیدلی وي هغه ته بېله اقرار رسالت هیڅ چاره نشته او په صورت د انکار رسالت به دغه سړی کافر دائمي جهنمي وي او دا حکم د امت په اتفاق سره دی په دې کې د یوه اهل سنت اختلاف نشته او د زید استدلال له آیت موصوفه څخه صحیح نه دی، ځکه چې ایمان نوم دی د آمنت بالله وملائکته وکتبه ورسله الخ، کما بین في موضعه فقط والله تعالی اعلم

ایا خانه کعبه طرفته رخ کولو سره سجده کول ډبرې ته سجده ده؟

(۱۰۹) یوه سړي په وعظ کې بیان وکړی چې پر موږ بعض غیر قومونه اعتراض کوي چې مسلمانان خانه کعبه ته سجده کوي، موږ په اصل کې خانه کعبه ته سجده نه کوو، بلکه سجده د خدای تعالی لپاره کوو، صرف موږ ته دا حکم دی چې خانه کعبه طرفته رخ کولو سره سجده کوئ، موږ هغه طرفته مخ کوو، خانه کعبه نه زموږ معبود ده نه موږ هغه ته سجده کوو، د دې وجې دا اعتراض چې مسلمانان ډبرو ته سجده کوي او عبادت یې کوي غلط دی، دا مضمون د اهل سنت وجماعت موافق دی کنه؟ (۱۴۵۲/۱۳۳۹ھ)

جواب: دا مضمون د هغه مولوي صاحب واعظ بالکل صحیح او د اهل سنت وجماعت د مذهب موافق دی او په حقیقت کې خانه کعبه جهت توجه ده او معبود ومسجود حق تعالی دی، کما نطق به النصوص

په استقبال قبله او بت پرستي کې فرق

(۱۱۰) بت پرست چې د بتانو عبادت کوي هغه په خپل حقانیت او صداقت کې دا دلیل پیش کوي چې در اصل زموږ

او د اهل اسلام په عبادت کي هیڅ فرق نشته د دې وجي چي اهل اسلام کعبې او د دیوار په عبادت کي د جهت کعبه په تاویل کولو سره خاص پر دغه مقدس مقام باندي نزول رحمت وانوار الهي سره مختص کولو سره پر دغه جانب عبادت کوي، علی هذا موږ هم په دغه بتانو کي دغه اثر ګڼلو سره عبادت کوو، موږ بتان نافع وضار هیڅکله نه ګڼو، اوس چي کوم جواب اهل اسلام زموږ په هکله تجویز کوي، هغه جواب زموږ د عبادت په هکله وګڼه د دې څه جواب دی؟ (۱۳۳۸/۴۸۵ھ)

جواب: دا دلیل د دوی باطل دی، ځکه چي اهل اسلام د خانه کعبه عبادت نه کوي، بلکه د الله وحده لا شریک عبادت کوي، صرف د الله تعالی د حکم موافق کوم جهت چي الله تعالی د عبادت لپاره مقرر کړی هغه طرف ته استقبال کولو سره د الله تعالی عبادت کوي، که خانه کعبه نعوذ بالله منهدم شي، د هغه د خښتي او ډبري نشان پاته نه شي، بیا هم اهل اسلام د دغه جهت استقبال کوي او د دې پوره تحقیق او تفصیل په رساله قبله نما مصنفه مولنا قاسم صاحب قدس سره کي دی، دغه خامخا راوغواړئ ویې ګورئ، د دې ځای په مطبع کي هم غالبًا ملاویږي. فقط والله تعالی اعلم

خدای ته مور وپلار ویل جائز دي کنه؟

(۱۱۱) د مسلم او غیر مسلم د بچیانو د تعلیم وتربیت لپاره رسالې لیکلو چاپ کیدو وروسته په اسکولو او مدرسو کي شائع کیږي او په دې کي یوه فقره دا رنګه درج ده: خدای خپل مور وپلار دی لهذا دا شان تعلیم د مسلمانانو بچیانو لپاره جائز دی کنه؟ او خدای ته مور وپلار ویل جائز دی کنه؟ او که جائز نه وي نو د عالمګیري د عبارت په وجه: یکفر اذا وصف الله تعالی بما لایلیق به او سخر باسم من اسمائه او بامر من اوامره، او انکر وعده و وعیده او جعل له شریکا او ولدًا او زوجة الخ[1] دغه شان عقیدې او کلام سره کفر کیږي کنه؟ که مجازًا دا مقوله پر خدای تعالی باندي اطلاق وشي، نو دا مجازًا به د هر چا لپاره

---

۱) الفتاوی الهندیه ۲/۲۵۸، کتاب السیر، الباب التاسع في احکام المرتدین، مطلب موجبات الکفر انواع.

جائز دی که اهل علم لره مثل قوله انبت الربیع البقل عالم ته ویل جائز دي او غیر عالم او جاهل ته ویل جائز نه دی؟ (۱۳۳۵/۱۰۲۱هـ)

جواب: مراد د دې الفاظو څخه معنی حقیقي نه ده او دا الفاظ مجاز دی په معنی د مربي و پروش کوونکی، د دې وجي دې ته کفر ویل صحیح نه دی، لیکن تکلم په داسي کلمات موهمه سره نه دی کول پکار او بچیانو ته د داسي کلماتو تعلیم ندی ورکول پکار، ځکه ممکنه ده چي د دې څخه دی غلط فهمي وشي او عقیده کي دي خرابي پیدا شي او د مسلمان صحیح العقیده قائل دا د مجاز قرینه کیدای شي، فقط الجواب صواب که څه هم حدیث په لفظ د "الخلق عیال الله اهـ"[1] راغلي دي لیکن بیا هم پورته بیان شوې فتوی صحیح ده: قال في رد المحتار، ومجرد ایهام اللفظ ما لا یجوز کاف في المنع آه.[2] وقال قبله نقلاً عن الفاسي وقد اختلف العلماء في جواز اطلاق الموهم عند من لا یتوهم به او کان سهل التاویل واضح المحمل او تخصص بطرق الاستعمال في معنی صحیح اهـ، اقول: ومقتضي کلام ائمتنا المنع من ذلک الا فیما ورد عن النبي صلی الله علیه وسلم آهـ[3] محمد انور عفی الله عنه

(۱۱۲) په یو ګجراتي کتاب کي یو نظم دی، هغه کتاب په مذکوره مدارس اسلامیه کي داخل تعلیم دی، د هغه د یو شعر مضمون دا دی: ای الله! ته زموږ پلار یې ته زموږ مور یې، ته روزي ورکوې، ته موږ پالې

په اوله مصرعه کي شرک شته کنه؟ مع ادله یې بیان کړه. (۱۳۳۵/۹۱۹هـ)

جواب: دا خو ظاهره ده چي د قائل مراد حقیقةً ابوت ثابت کول باري تعالی لره نه دی، بلکه مراد مجازًا او تشبیه ده، یعني په محبت او راحت کي مثل پلار او مور دی او دغه رنګه تشبیهات په

---

۱) عن انس رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الخلق عیال الله فاحبهم الی الله انفعهم لعیاله (مجمع الزوائد ومنبع الفوائد: ۱۹۱/۸، کتاب البر والصلة، باب فضل قضاء الحوائج، المطبوعة دار الکتب العلمیة بیروت)

۲) رد المحتار علی الدر: ۲۸۱/۵، کتاب الحظر والاباحة فصل في البیع. ط رشیدیه

۳) الشامي: ۲۸۰/۵، کتاب الحظر والاباحة، فصل في البیع. ط رشیدیه

احادیثو کي هم وارد دی(۱) کما لا یخفي، لیکن هغه اشارات دي چي وارد شوي دي تصریح نه ده له داسي کلمات موهمه بلکه له داسي کلمات څخه ممانعت وارد دی کما سیجیئ، لهذا دا خو شرک نه دی، لیکن د شرک ایهام ضرور پکښي دی او ممکنه ده چي جهلاء د دې څخه غلط مطلب وګڼي او ګمراهان شي. په هر حال له دغه شان کلماتو څخه پرهیز لازم دی، په قران کریم کي د یهود ونصاری دا مقوله ذکر کولو سره د دوی تردید کړی دی، "وقالت الیهود والنصاری نحن ابنوء الله واحباؤه قل فلم یعذبکم بذنوبکم بل انتم بشر ممن خلق" (سورة مائده، آیت: ۱۸) صاحب جلالین د دې په تفسیر کي لیکي: قوله تعالی: "نحن ابنوء الله" ای کأبنائه في القرب والمنزلة وهو کابینا في الشفقة والرحمة "واحباؤه قل" لهم یا محمد ! "فلم یعذبکم بذنوبکم" ان صدقتم في ذلک؟ ولا یعذب الاب ولده ولا الحبیب حبیبه وقد عذبکم فانتم کاذبون الخ(۲)

عن ابي هریرة رضی الله عنه عن النبي صلی الله علیه وسلم قال: قال الله تعالی: کذبني ابن آدم ولم یکن له ذلک وشتمني ولم یکن له ذلک فاما تکذیبه ایاي فقوله: لن یعیدني کما بداني ولیس اول الخلق باهون علی من إعادته واما شتمه ایاي فقوله: اتخذ الله ولداً، وانا الاحد الصمد لم الد ولم اولد ولم یکن لي کفواً احد. (۳) وفي روایة ابن عباس: واما شتمه ایاي فقوله: لي ولد فسبحاني ان اتخذ صاحبة او ولداً، رواه البخاري(۴) نو معلومه شوه چي د چا عقیده داسي وي چي د الله تعالی ولد شته او الله تعالی د چا پلار دی، هغه مشرک او کافر دی او د ده د عقیدې بطلان او د ده کفر او شرک له آیت وحدیث څخه ظاهر دی او بیله دي عقیدې مجازاً دغه دا شان ویلو کي که څه هم د کفر او شرک حکم نه لګیږي، لیکن له داسي الفاظ څخه ځان ساتل ضروري دي چي ایهام د غیر مقصود ونشي. فقط والله تعالی اعلم.

---

۱) مثلا د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی: الخلق عیال الله (مشکوة، ص: ۴۲۵، باب الشفقة والرحمة علی الخلق)

۲) تفسیر جلالین، ص: ۹۷، سورة المائده، رقم الآیة: ۱۸.

۳) صحیح البخاري: ۲/۷۴۳-۷۴۴، کتاب التفسیر، باب یقال لا ینون احد اي واحد.

۴) صحیح البخاري: ۲/۷۴۴، کتاب التفسیر، باب قوله: "وقالوا اتخذ الله ولداً سبحانه".

د الله تعالی ماسیوا حاضر وناظر نشته

(۱۱۳) نبي کريم صلی الله علیه وسلم حاضر وناظر ګڼل کفر او شرک دی که عين ايمان دی. (۱۳۳۹/۱۳۴۲هـ)

جواب: حاضر وناظر هر ځای او هر وخت د الله تعالی ماسیوا هیڅ څوک نه دی. فقط والله تعالی اعلم

غیب علی الاطلاق د باري تعالی صفت خاصه دی

(۱۱۴) علم غیب خاصه د خدای او د غیر څخه د منفي کیدو دلیل له کتب حنفیه څخه مع حواله و مخ تحریر کړه. (۱۵۷۱/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: غیب علی الاطلاق صفت خاصه باري تعالی دی او صفات خاصه باري تعالی د غیر څخه منفي کیدل قطعي دی، لا شریک له في الذات والصفات. د اهل سنت والجماعت عقیده ده په شامي کي راغلي دي: وفي البزازية، يكفر بادعاء علم الغيب الخ (۱) وفيه ايضاً: قلت: وحاصله ان دعوى علم الغيب معارضة لنص القرآن فيكفر بها الخ (۲) او په شرح فقه اکبر کي دي:

وبالجملة فالعلم بالغيب امر تفرد به سبحانه ولا سبيل اليه للعباد الا باعلام منه والهام بطريق المعجزة او الكرامة او ارشاد الى الاستدلال بالامارات فيما يمكن فيه ذلك ولهذا ذكر في الفتاوى ان قول القائل عند رؤية هالة القمر اي دائرته يكون مطر مدعيًا علم الغيب لا بعلامة كفر، ومن اللطائف ما حكاه بعض ارباب الظرائف ان منجما صلب فقيل له هل رايت هذا في نجمك؟ فقال: رايت رفعة ولكن ما عرفت انها فوق خشبة. ثم اعلم ان الانبياء عليهم السلام لم يغلموا المغيبات من الاشياء الا ما اعلمهم الله تعالى احيانا وذكر الحنفية تصريحًا بالتفكير باعتقاد ان النبي عليه السلام يعلم الغيب لمعارضة قوله تعالى: "قل لا يعلم من في السماوات والارض الغيب الا الله"

---

۱) رد المحتار: ۳۲۵/۳، کتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب في الکاهن والعراف ط رشیدیه

۲) الشامي: ۳۲۵/۳، کتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب في دعوی علم الغیب ط رشیدیه

كذا في المسايرة[۱] فقط والله تعالى اعلم

د قرآن کریم شان لوی دی که د رسول الله صلی الله علیه وسلم ؟

(۱۱۵) ایا د قرآن کریم شان لوی دی که د رسول الله صلی الله علیه وسلم؟ (۱۳۳۷/۲ه)

جواب: قرآن کریم کلام الهي دی او کلام الهي د باري تعالی صفت دی او د باري تعالی د صفاتو سره برابر هیڅ شی نه دی، نو دا سوال داسي دی لکه دا رنګه چي وویل شي: د رسول الله صلی الله علیه وسلم شان لوی دی که د الله تعالی او د هغه صفات؟ والعیاذ بالله، قال الله تعالی: "لیس کمثله شیء" (سورة شوری، آیت:۱۱) فقط والله تعالی اعلم

کلام الهي د انبیاء او ملائکه څخه افضل دی

(۱۱۶) د کتب سماویه مرتبه له پیغمبرانو څخه لویه ده کنه؟ (۱۳۳۷/۲۲۹ه)

جواب: کتب سماویه کلام الهي دي، لهذا هغه افضل دي تر تولو مخلوقاتو انبیاء علیهم السلام او نورو څخه او انبیاء علیهم السلام افضل المخلوقات دي، لهذا تر ملائکه افضل دي، قال في الشامي: اجمعت الامة ان الانبیاء افضل الخلیقة وان نبینا علیه الصلاة والسلام افضلهم، وان افضل الخلائق بعد الانبیاء الملائکة الاربعة وحملة العرش والروحانیون ورضوان ومالک الخ[۲] فقط والله تعالی اعلم

د تورات وانجیل پر کوم حکم کله عمل صحیح دی؟

(۱۱۷) اوس د تورات وانجیل او نورو کتب سماویه پر کوم حکم عمل کول ګناه ده کنه؟

۱) شرح الفقه الاکبر، ص: ۱۸۵، الانبیاء لم یعلموا المغیبات

۲) رد المحتار علی الدر: ۳۸۹/۱، کتاب الصلاة، باب الصلاة، مطلب في عدد الانبیاء والرسل الخ ط رشیدیه

د دغه مضمون یو آیت یا حدیث شته کنه؟ (۱۳۳۸/۱۳۷۴هـ)

جواب: کوم حکم چې د تورات وانجیل د حکم قرآني مطابق وي پر هغه عمل کول صحیح دی او د دې قاعده په کتابونو کې دا لیکلې ده: د مخکني کتابونو یا د مخکنـي امتونو چې کوم حکم په قرآن شریف کې بلا انکار نقل شوی وي هغه قابل عمل دی او پر کوم چې انکار شوی وي هغه قابل عمل نه دی (۱) فقط والله تعالی اعلم

۱) شریعة من قبلنا تلزمنا اذا قص الله تعالی او رسوله بلا انکار کذا في الکافي (الفتاوی الهندیه، ۳۰۲/۱، کتاب النکاح، الباب السابع في المهر، الفصل الاول في بیان ادنی مقدار المهر الخ)
وفي مجمع الانهر: شریعة من قبلنا شریعة لنا اذا قصها الله تعالی ورسوله بلا انکار کما في الکافي (مجمع الانهر في شرح ملتقي الابحر: ۵۱۲/۱، کتاب النکاح، باب المهر، المطبوعة دار الکتب العلمیة بیروت)

د قرآن او تفسیر بیان

قرآن شریف د ټولو خلګو د هدایت لپاره نازل شوی دی

(۱۱۸) هندوان اعتراض کوي چي قران شریف صرف د اهل عرب لپاره نازل شوی دی، د اهل هنودو بنګال لپاره نه دی، د دغه اعتراض جواب دي مفصل وي.
(۲۸۵/۴۴-۱۳۴۵هـ)

جواب: د قرآن تعلیم د ټولو انسانانو لپاره عام دی، د یو قوم یو نسل یو ملک لپاره مخصوص نه دی، دی د یورپ د یو حکیم او د افریقې د یو وحشي دواړو لپاره برابر د هدایت چینه ده لکه د ده له خطابات عامه څخه په غیر متناهي مقاماتو کي ظاهر دی خدایي احکامات د یو قوم لپاره نه مخصوص کیږي، بس نو قران د منل شوي اصل په حیثیت خدایي کتاب دی نو بیا هیڅ وجه نشته چي د دې تعلیمات دي د یو خاص جماعت لپاره وي، په یو خاص ژبه کي د تعلیمات رباني نزول موجب تخصیص نه دی فقط والله تعالی اعلم

قرآن کریم په کومه ژبه او پر چا نازل شو او چا راوړ؟

(۱۱۹) قرآن کریم چا راوړ؟ او پر چا نازل شو؟ او په کومه ژبه کي نازل شو؟
(۲۵۵۸/۱۳۴۱هـ)

جواب: قرآن کریم په عربي ژبه کي نازل شو، حضرت جبرئیل علیه السلام راوړ او پر رسول الله صلی الله علیه وسلم نازل شو، لکه چي ټول مسلمانان په دې خبر دي فقط

د مکي او مدني آيتونو تعريف

(۱۲۰) مفسرين چي ليکي: دا آيت مکي دی او دا مدني دی، قبل هجرت دی که بعد هجرت، د دې څه مطلب دی؟ (۱۳۴۱/۲۸۰۳هـ)

جواب: په دې کي اقوال مختلفه دي، راجح دا دی چي مکي هغه دی چي قبل هجرت نازل شوي وي او مدني هغه دي چي بعد هجرت نازل شوي وي. قال في الفتوحات الالهية المعروف بالجمل: في المكي والمدني خلاف كثير، وأرجحه ان المكي ما نزل قبل الهجرة ولو في غير مكة، وان المدني ما نزل بعد الهجرة ولو في مكة او عرفة الخ (۱) فقط والله تعالى اعلم.

د قرآن مثل راوړل ممتنع عقلي دی که شرعي؟

(۱۲۱) د قرآن مثل راوړل ممتنع عقلي دی که شرعي؟ د مولنا اشرف علي صاحب رايه خو دا ده چي ممتنع بالغير ممكن بالذات دی، ستاسو حضراتو د دې په هکله څه مسلک دی؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۰۴۰هـ)

جواب: د قرآن مثل راوړل ممتنع عقلي دی، حضرت مولانا محمود حسن سلمه الله فرمايي: زما د استاذ حضرت مولنا نانوتوي قدس سره داغه تحقيق دی او کوم تقرير چي د دې په هکله فرمايلي دي، د هغه خلاصه دا ده چي د قران پشان فصاحت وبلاغت والا راوړل موقوف دی د الله تعالى د علم پشان په چا کي د علم کېدل او دا محال عقلي دی. فقط والله تعالى اعلم.

دا ويل غلط دي چي قرآن شريف متفرق نه دی نازل شوی

(۱۲۲) قرآن شريف متفرق نه دی نازل شوی بلکه په يوه شپه ليلة القدر کي نازل شو؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۲۱۹هـ)

---

۱) الفتوحات الالهية بتوضيح تفسير الجلالين للدقائق الخفية، المعروف بالجمل: ۹/۱، تفسير سورة البقرة، المطبوعة: مطبع مرتضوي.

جواب: دا عقيده باطله او غلطه ده په قرآن شريف کي د کفارو دا مقوله مذکوره ده. "وقال الذين كفروا لو لا نزل عليه القرآن جملة واحدة "(سورة فرقان، آيت: ۳۲) او متفرق نازل کيدل د قرآن شريف په آيت[1] واحاديث کي مذکور دي[2] د دې انکار ګمراهي ده. فقط

قرآن کريم څو واره جمع کړل شو؟

(۱۲۳) جامع القرآن عمومًا جناب امير المؤمنين حضرت عثمان رضی الله عنه مشهور دی، د دې جمع کولو څخه څه مراد دی اول ځل جمع کيدل دی که دوهم ځل؟ (۱۹۱۱/۱۳۳۸ه)

جواب: علماء رحمهم الله ليکلي دي چي قرآن جمع کيدل درې ځله واقع شو[3] يو وارد رسول الله صلی الله عليه وسلم په مخکي، مګر دا په

---

۱) "واذا انزلت سورة فمنهم من يقول ايكم زادته هذه ايمانًا "(سورة توبة، آية: ۱۲۴)
"واذا ما انزلت سورة نظر بعضهم الى بعض "(سورة توبه، آيت: ۱۲۷)

۲) عن ابن عباس رضى الله عنهما قال: قلت لعثمان..... قال عثمان: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم مما ياتي عليه الزمان وهو ينزل عليه السور ذوات العدد، وكان اذا نزل عليه شيء دعا بعض من يكتب، فيقول: ضعوا هؤلاء الآيات في السورة التي يذكر فيها كذا وكذا الخ (مشكوة المصابيح، ص: ۱۹۴، كتاب فضائل القرآن، قبيل كتاب الدعوات)

۳) والحاصل ان القرآن جمع ثلاث مرات: الاول بحضرته عليه الصلاة والسلام، فقد صح عن زيد بن ثابت رضى الله عنه قال: كنا عند رسول الله صلى الله عليه وسلم نؤلف القرآن في الرقاع، اي يؤلفون ما ينزل من الآيات المفرقة ويجمعونها في سورها باشارته عليه الصلاة والسلام، قاله البيهقي، ومن ثم قال الخطابي: كتب القرآن كله في عهده صلى الله عليه وسلم لكنه غير مجموع في موضع واحد ولا مرتب السور، والثانية بحضرة ابي بكر رضى الله عنه لما راى عمر رضى الله عنه ذلك، ومن ثم ورد انه اول من جمعه، اي اشار بجمعه ووافقه ابوبكر، فامر زيدًا بجمعه، فجمعه في صحف كانت عند ابي بكر، فعمر فبنته حفصة، ومن ثم صح عن علي: اول من جمع كتاب الله ابو بكر، وما روى عنه انه جمعه منقطع وعلي فرض صحته، محمول على انه حفظ صدره، والثالثة بحضرة عثمان رضى الله عنه مرتبا له على السور. (مرقاة المفاتيح ۴۵۵/۱-۴۵۲، كتاب العلم، الفصل الثاني، رقم الحديث ۲۳۸)

دا په یو مصحف کي نه ؤ، بلکي په متفرق ډول، دوهم وار د حضرت ابو بکر رضی الله عنه په مخکي حضرت علي رضی الله عنه وفرمایل: د قرآن په معامله تر ټولو مخکي حضرت ابو بکر رضی الله عنه ته مزدوري ملاویږي. الله تعالی دي پر ابو بکر رضی الله عنه رحم وکړي، ځکه چي ده اول وار قرآن یو ځای کړ(۱) او دریم وار د حضرت عثمان رضی الله عنه په وخت کي جمع شو، صحابه یې جمع کړل بیا یې په مصحفو کي قرآن په لغت قریش ولیکی او دغه مصاحف یې جوانب او شاوخوا ته ولیږل(۲) (شرح مشکاة) احقر وایي: دغه وجه حضرت عثمان ته د جامع القرآن ویلو ده. فقط والله تعالی اعلم

(۱۲۴) قرآن کریم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کي مجلد شو که د نبي صلی الله علیه وسلم بعد؟ که د نبي صلی الله علیه وسلم د زماني وروسته شوی وي نو د زید بن ثابت رضی الله عنه د حدیث څه جواب دی؟ (۱۳۴۵/۱۳۳۸هـ)

جواب: د قرآن کریم د جمع کولو تفصیل په اتقان کي مذکور دی، هغه دي وکتل شي، په هغه کي یو روایت د مستدرک حاکم څخه دا نقل کړی دی: جمع د قرآن شریف دري واره وشوه، اول د نبي صلی الله علیه وسلم په زمانه، دوهم بیا د حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه په زمانه کي، دریم بیا د حضرت عثمان رضی الله عنه په زمانه کي او د نبي صلی الله علیه وسلم په زمانه کي چي په کومه طریقه سره جمع شوی دی د هغه تفصیل هم په اتقان کي وګورئ په ص: ۸۱، د کتاب مذکوره څخه دا بحث شروع کړی دی او په احادیثو کي تطبیق ورکړی دی، هغه دي ښه وکتل شي، نو بیا انشاءالله هیڅ اشکال نه پاته کیږي. (۳) فقط والله تعالی اعلم

۱) وجاء بسند حسن عن علي کرم الله وجهه انه قال: اعظم الناس في المصاحف اجرًا ابو بکر رحمة الله علی ابي بکر، هو اول من جمع کتاب الله الخ (مرقاة المفاتیح: ۱۰۴/۵، کتاب فضائل القرآن، باب اختلاف القراءات وجمع القرآن، الفصل الثالث، رقم الحدیث: ۲۲۲۰)

۲) ثم استکتبها عثمان رضی الله عنه مصاحف اخر، فارسل الی سائر البلدان حتی قیل: ارسل عثمان الی کل جند من اجناد المسلمین مصحفًا. (مرقاة المفاتیح: ۱۰۷/۵، کتاب فضائل القرآن، باب اختلاف القراءات وجمع القرآن، الفصل الثالث، رقم الحدیث ۲۲۲۱)

۳) قال الحاکم في المستدرک: جمع القرآن ثلاث مرات: احداها بحضرة النبي صلی الله علیه وسلم، ثم اخرج بسند علی شرط الشیخین عن زید بن ثابت رضی الله عنه قال: کنا عند رسول الله صلی الله علیه وسلم نؤلف القرآن في الرقاع الحدیث --

دا ویل ګمراهي ده چي موجوده قرآن په صحیح ترتیب نه دی

(۱۲۵) یو سړی وایي چي موجوده قرآن د حضرت عثمان رضی الله عنه جمع کړی صحیح نه دی علی الخصوص د سورتونو او آیتونو په ترتیب کي اصلي قرآن شریف صحیح الترتیب خاص د حضرت علي رضی الله عنه سره ؤ. دوهم سړی وایي چي دا هغه قرآن پاک دی او د سورتونو او آیتونو ترتیب یې موافق د لوح محفوظ سره دی، څوک پر حق دی؟ او اول سړی کافر دی کنه؟ (۱۵۱۹/۱۳۳۸هـ) (۱)

---

۱ --- وقال البیهقي شبه ان یکون المراد به تالیف ما نزل من الآیات المتفرقة في سورها و جمعها فیها باشارة النبي صلی الله علیه وسلم
الثانیة بحضرة ابي بکر رضی الله عنه روی البخاري في صحیحه عن زید بن ثابت رضی الله عنه قال ارسل الی ابو بکر مقتل اهل الیمامة فاذا عمر بن الخطاب رضی الله عنه عنده. فقال ابو بکر: ان عمر اتاني فقال: ان القتل قد استحر بقراء القرآن واني اخشي ان یستحر القتل بالقراء في المواطن، فیذهب کثیر من القرآن واني اری ان تامر بجمع القرآن فقلت لعمر: کیف نفعل شیئًا لم یفعله رسول الله صلی الله علیه وسلم؟ قال عمر: هذا والله ا خیر، فلم یزل یراجعني حتی شرح الله صدري لذلک، ورایت في ذلک الذي رای عمر الخ.
قال الحاکم: والجمع الثالث هو ترتیب السور في زمن عثمان رضی الله عنه، روی البخاري عن انس ان حذیفة بن الیمان قدم علی عثمان وکان یغازي اهل الشام في فتح ارمینیة واذربیجان مع اهل العراق فافزع حذیفة اختلافهم في القراءة، فقال لعثمان ادرک الامة قبل ان یختلفوا اختلاف الیهود والنصاری، فارسل الی حفصة ان ارسلي الینا بالصحف ننسخها في المصاحف ثم نردها الیک فارسلت بها حفصة الی عثمان، فامر زید بن ثابت وعبد الله بن الزبیر وسعید بن العاص وعبد الرحمن ابن الحارث بن هشام فنسخوها في المصاحف وقال عثمان للرهط القریشیین الثلاثة: اذا اختلفتم انتم وزید بن ثابت في شيء من القرآن فاکتبوه بلسان قریش، فانه انما نزل بلسانهم ففعلوا حتی اذا نسخوا الصحف في المصاحف رد عثمان رضی الله عنه الصحف الی حفصة، وارسل الی کل افق بمصحف بما نسخوا، وامر بما سواه من القرآن في کل صحیفة او مصحف ان یحرق الخ. (الاتقان في علوم القرآن للسیوطي، ص: ۸۱-۸۴، المقدمة، النوع الثامن عشر في جمعه وترتیبه، المطبوعة: مطبع احمدي ومشکاة المصابیح، ص: ۱۹۳، کتاب فضائل القرآن، باب، الفصل الثالث)

جواب: د دوهم سړي قول صحیح دی او هغه پر حق دی، قول اول باطل دی او د دې قائل ضال و مضل و مبتدع دی، مګر صرف په دې وینا کافر ورته ویل صحیح نه دی. فقط والله تعالی اعلم

د کلام الله احکام د عقل خلاف نه دي

(۱۲۶) مولوي فداء الله فرمایي: احکام د قرآن مجید د انساني عقل مطابق نه دي، دا ویل صحیح دي کنه؟ (۱۳۳۸/۲۰۰۹هـ)

جواب: په دې کي دا تحقیق دی چي احکام شریعت د عقل خلاف نه دي، لیکن د هر یو عقل هغه ته نشي رسیدلای، د دې وجي انسان ته د احکام تعمیل کول پکار دی، که څه هم په کي نه راځي او په دې پسي کیدل نه دي پکار. فقط والله تعالی اعلم

(۱۲۷) زید وایي: قرآن شریف الهامي کتاب دی او د عقل مطابق دی، بکر وایي: الهامي کتاب د عقل مطابق نه شي کیدای؟ (۱۳۳۳-۳۲/۳۸۰هـ)

جواب: دغه شان اختلافونه په کتاب الله کي د مسلمانانو وړ نه دي او دا اعتقاد دي وساتي چي قرآن شریف د الله تعالی کلام دی، پر دې ایمان راوړل واجب او فرض دی، موږ او زموږ عقل څه دی چي د دې مدعی دی چي هر څه په عقل کي راتلای شي. فقط والله تعالی اعلم

د کفارو اقوال کوم چي په قرآن شریف کي راغلي دي هغه صحیح دي

(۱۲۸) په قرآن شریف کي ځیني داسي اقوال دي چي د هغه په هکله الله تعالی یو حکم صحیح یا غلط کیدل نه وي فرمایلی هغه اقوال صحیح دي که غلط؟ (۱۳۳۸/۲۰۵۲هـ)

جواب: داسي اقوال چي د هغه تردید الله تعالی نه وي فرمایلی، نه یې یو وعید یا انکار فرمایلی وي هغه صحیح و مسلم دی. فقط والله تعالی اعلم

د قرآن شریف پر هر یو حرف لس نیکیاني ملاویږي

(۱۲۹) د قرآن شریف پر هر یو حرف ویلو په لمانځه کي لس لس نیکیاني ملاویږي ایا

د لمانځه د باندي هم د ومره قدر ملاویږي؟ (۲۹۳/۱۳۴۰ھ)

جواب: د لمانځه د باندي هم د ومره قدر ثواب دی. (۱) فقط والله تعالی اعلم

د کلمه طیبه په ویلو سره د قرآن تلاوت ثواب ملاویږي؟

(۱۳۰) کلمه شریفه په ټول قرآن کي یو ځای نشته یو ځای "فاعلم انه لا اله الا الله" (سورة محمد، آیت: ۱۹) دوهم ځای "محمد رسول الله" (سورة فتح، آیت: ۲۹) که یو سړی لا اله الا الله، یا ربنا، یا الله الله، یا لفظ "هو" په دې خیال سره وایي چي کلمات قرآن شریف دي، ایا ده ته د قرات قرآن شریف ثواب ملاویږي که نه؟ (۲۹۳/۱۳۴۰ھ)

جواب: که په مذکوره نیت سره ووایي نو که د قرآن شریف د تلاوت ثواب هم ملاوشي نو څه تعجب دی؟ ! د کلمه طیبه ثواب خو په هر حال کي حاصل کیږي فقط والله تعالی اعلم

د قرآن شریف د ویلو ثواب تر درود شریف ویلو زیات دی

(۱۳۱) د قرآن شریف په معنی نه پوهیږم، بیله پوه کیدو د قرآن شریف د ویلو ثواب زیات دی که د درود شریف ویلو؟ (۱۴۷۴/۴۴-۱۳۴۵ھ)

جواب: د قرآن شریف د ویلو ثواب زیات دی که څه هم په معنی نه پوهیږي په حدیث شریف کي دي چي هر یو حرف په عوض لس نیکیاني ملاویږي، نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په آلم ویلو کي دیرش نیکیاني دي الف حرف دی لام حرف دی او میم حرف دی (۱) دا دري حرفونه شول او د درود ویلو هم

---

۱) عن ابن مسعود رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من قرأ حرفًا من کتاب الله فله به حسنة. والحسنة بعشر امثالها. لا اقول آلم حرف. الف حرف، ولام حرف، و میم حرف رواه الترمذي والدارمي (مشکاة المصابیح، ص: ۱۸۲، کتاب فضائل القرآن، الفصل الثاني)

ثواب شته (۱) د قرآن شریف ویلو وروسته درود شریف وواياست، څومره قدر چي کثرت وي ښه دی. فقط والله تعالی اعلم.

دا ویل چي الله تعالی او د ده رسول د سورة بقره نوم نه دی ایښی

(۱۳۲) زید وايي چي د سورهٔ بقرې نوم خدای او رسول نه دی ایښی، علماوو دا نوم په خپله ایښی دی، ایا دا قول صحیح دی؟ (۳۲/۲۴۴-۱۳۳۳هـ)

جواب: د زید قول غلط دی، په متعدد حدیثونو کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د سورتونو نومونه مروي دي، د مسلم په حدیث کي دي: اقرءوا الزهراوین البقرة وسورة آل عمران، الحدیث رواه مسلم (مشکاة) (۲) ان الشیطان یفر من البیت الذي یقرا فیه سورة البقرة رواه مسلم (مشکاة شریف) (۳) فقط والله تعالی اعلم.

ضاد ظاء مشابه ویل

(۱۳۳) په قرات کلام مجید کي د حرف ضاد آواز په زواد یا دواد سره صحیح دی که ذواد وايي نو داسي سړی خو به نه کافر کیږي؟ (۳۲/۹۲۱-۱۳۳۳هـ)

---

۱) عن ابي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من صلى علي واحدة صلى الله عليه عشراً. رواه مسلم

وعن انس رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من صلى علي صلاة واحدة صلى الله عليه عشر صلوات، وحطت عنه عشر خطيئات، ورفعت له عشر درجات رواه النسائي. (مشكاة المصابيح، ص: ۸۶، كتاب الصلاة، باب الصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم وفضلها، الفصل الاول والثاني.)

۲) عن ابي امامة رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: اقرءوا القرآن، فانه ياتي يوم القيامة شفيعًا لاصحابه، اقرءوا الزهراوين، الحديث (مشكاة المصابيح، ص: ۱۸۴، كتاب فضائل القرآن، الفصل الاول، والصحيح لمسلم: ۲۷۰/۱، كتاب فضائل القرآن، باب فضل قراءة القرآن وسورة البقرة.)

۳) عن ابي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا تجعلوا بيوتكم مقابر، ان الشيطان ينفر، الحديث (مشكاة، ص: ۱۸۴، والصحيح لمسلم: ۲۶۶/۱، كتاب صلاة المسافرين وقصرها، باب استحباب صلاة النافلة في بيته وجوازها في المسجد الخ)

جواب: په شرح فقه اکبر کې یو روایت نقل کړی دی چې بعض فقهاوو پر دې د کفر حکم کړی دی، مګر ښکاره دا ده چې دا کفر نه دی، لیکن خو د دې څخه احتراز لازم دی، وفي المحیط: سئل الامام الفضلي عمن یقرء الظاء المعجمة مکان الضاد المعجمة، او یقرء اصحاب الجنة مکان اصحاب النار او علی العکس، فقال لا یجوز امامته ولو تعمد یکفر الخ(۱) (شرح فقه اکبر، ص: ۲۰۵) بیا په قلت ویلو سره د دې تفصیل او توضیح فرمایلی دی او د کفر حکم یې علی الاطلاق نه دی ګرځولی.(۲) فقط والله تعالی اعلم.

د حروف مقطعات معنی د الله تعالی ماسیوا هیڅ څوک نه پیرندي

(۱۳۴) ما لره یو سوال راغلی دی چې د آلم څه معنی ده؟ د قرآن وحدیث ماسیوا په یو بل کتاب کې ثبوت پکار دی او دا هم وایي: د فقیر کامل ماسیوا یو عالم یې ښودلی شي؟ څوک چې دغه شان سوالونه کوي د ده په هکله شرعًا څه حکم دی؟ (۱۲۹۲/۱۳۴۱هـ)

جواب: د تفسیر په کتابونو کې د دغه حروف مقطعات مثل آلم، حم، طس په هکله دا لیکلي دي: الله اعلم بمراده بذلک(۳) یعني د دې حروف څخه چې څه مراد دی هغه الله تعالی ښه پیژني او په قرآن شریف کې الله تعالی فرمایي: "وما یعلم تاویله الا الله" (سورة آل عمران، آیت: ۷) او نه په پوهیږي د دې په معنی د الله تعالی ماسیوا او دا هم د الله تعالی ارشاد دی چې د چا په زړو کې کوږوالی دی او قساوت او غفلت دی، هغه دغه قسم خبرو

---

۱) شرح الفقه الاکبر، ص: ۲۰۵، فصل في القراءة والصلاة، المطبوعة مطبع مجتبائي، دهلي.

۲) قلت: اما کون تعمده کفرًا فلا کلام فیه اذا لم یکن فیه لغتان في ضنین الخلاف سامّي، واما تبدیل الظاء مکان الضاد ففیه تفصیل، وکذا تبدیل اصحاب الجنة في موضع اصحاب النار وعکسه ففیه خلاف وبحث طویل، وفي تتمة الفتاوی: من استخف بالقرآن او بالمسجد او بنحوه مما یعظم في الشرع کفر، ومن وضع رجله عن المصحف حالفًا استخفافا کفر انتهی. (شرح الفقه الاکبر، ص: ۲۰۵، فصل في القراءة والصلاة).

۳) تفسیر الجلالین، ص: ۴ تفسیر سورة البقرة.

پوښتنه کوي(۱) نو دغه سړي ته و وایه چي ستا سره خبري کول صحیح نه دي. فقط والله تعالی اعلم

د فرض لمونځونو د رکعتونو ثبوت د احادیثو څخه دی

(۱۳۵) خدای تعالی په قرآن شریف کي د لمانځه کولو حکم فرمایلی دی، لیکن دا یې نه دي فرمایلي چي دوه رکعاته وکړئ که څلور؟ د دې څه جواب دی؟ (۱۳۴۵/۵۱۱هـ)

جواب: خدای تعالی فرمایلي دي: "اقیموا الصلاة" (۲) او فرمایلي دي: "ان الصلاة كانت على المؤمنين كتابًا موقوتًا" (سورة نساء، آیت: ۱۰۳) او په حدیث شریف کي وارد دي چي فلانکی لمونځ په فلانکي وخت کي وکړئ او په فلانکي وخت کي فلانکی لمونځ وکړئ او وفرمایل چي د ماپښین لمونځ څلور فرض وکړئ او په سهار کي دوه فرض وکړئ او نور او نور او د الله تعالی ارشاد په قرآن شریف کي دی: "وما اتاكم الرسول فخذوه ومانهاكم عنه فانتهوا" (سورة حشر، آیت: ۷) یعني څه احکام چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایي هغه اخلئ او پر هغه عمل کوئ او د کوم امر څخه مو منع کړي د هغه څخه ځان ګورئ او راګرځئ. فقط والله تعالی اعلم

د آزادي ښځي او د مینځي په سزا کي څه فرق دی؟

(۱۳۶) "وَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنكُمْ طَوْلًا أَن يَنكِحَ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ فَمِن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُم مِّن فَتَيَاتِكُمُ الْمُؤْمِنَاتِ وَاللهُ أَعْلَمُ بِإِيمَانِكُم بَعْضُكُم مِّن بَعْضٍ فَانكِحُوهُنَّ بِإِذْنِ أَهْلِهِنَّ وَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ مُحْصَنَاتٍ غَيْرَ مُسَافِحَاتٍ وَلَا مُتَّخِذَاتِ أَخْدَانٍ" دلته بعضكم من بعض راتلونکی آیت " فَإِذَا أُحْصِنَّ فَإِنْ أَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنَاتِ مِنَ الْعَذَابِ " (سورة نساء، آیت: ۲۵) کي تعارض ولي دی؟ ځکه چي په بعضكم من بعض کي د مساوات خبر دی او د نصف ما على

---

۱) "فاما الذين في قلوبهم زيغ فيتبعون ما تشابه منه ابتغاء الفتنة" (سورة آل عمران، آیت: ۷)

۲) سورة بقره، آیت: ۴۳-۸۳-۱۱۰، سورة نساء، آیت: ۷۷، سورة انعام، آیت: ۷۲، سورة یونس، آیت: ۸۷، سورة حج، آیت: ۷۸، سورة نور، آیت: ۵۲، سورة روم، آیت: ۳۱، سورة مجادله، آیت: ۱۳۰، سورة مزمل، آیت: ۲۰

المحصنات څخه عدم مساات لازمیږي، بل دا چي قدرت د غفت او پاک لمني قیمتي نعمت لکه څنګه چي آزادي ښځي ته ورکړی دی همدا رنګه ټوي مینځي ته هم ورکړی دی، نو په دغه صورت کي د عفت د خرابوالي له امله که د آزادي په هکله د سلو درو سزا ورکولو فتوی ورکوله کیږي، نو مینځه بیا ولي د پنځوسو وړ ګرځوله کیږي؟ (۱۳۳۴-۳۲/۲۳۸۱ھ)

جواب: د بعضکم من بعض څخه مساوات نه لازمیږي چي د تعارض شبه واقع شي، ځکه چي په بعضکم من بعض کي صرف شرکت انساني بیان شوی دی چي د مینځو سره په نکاح کولو کي ولي پیغور محسوس کوئ؟ تاسو ټول په انسانیت کي مشترک یاست، ټول د آدم علیه السلام له اولاد څخه یاست او اخوت ایمن ټول ورور ورور کوي "انما المؤمنون اخوة" (سورة حجرات، آیت ۱۰) بیا د پیغور څه وجه ده؟ پاته فرق د مراتب چي حق تعالی قائم کړی دی د هغه انکار صحیح نه دی، "الرجال قوامون علی النساء بما فضل الله بعضکم علی بعض" (سورة نساء، آیت ۳۴) د ښځو او نراو فرق مراتب کیدل له دې آیت څخه ظاهر شو او په شهادت کي د یوه سړي پر ځای دوې ښځي ګرځول هم دا فرق ظاهر کوي، په میراث کي د سړي برخه د ښځي له برخي څخه دوچنده کیدل یا دا سي وو ایه د دوو ښځو حصه د یوه سړي سره برابر کیدل هم دغه فرق ظاهر کوي، بس نو چي نارینه او ښځه سره د اشتراک في الانسانیة والحریة دا شان شوی دی نو که په حر او عبد او امة کي کي فرق وشي نو څه شبه کیدای شي (۱) فقط والسلام علی من اتبع الهدی والتزم متابعة المصطفی صلوات الله وسلامه علیه وعلی آله واصحابه البررة الأتقیاء

---

۱) او د فرق وجه دا ده چي حدود (سزاوي) نکال (عبرت) وي او غلام او مینځه د مولی په ځارنه کي وي او آزاد آزاد وي د دې وجي د آزاد بالغ (کامل) سزا ضروري ده او د ارقاء نیمه سزا کافي ده د پاته نیمي سزا پر ځای به د مولی ځارنه کافي شي، دی به دوهم ځل له داسي ګناه څخه مانع جوړیږي، دغه شان احرار رجم (سنګسار) کیږي چي واده یې کړی وي او ارقاء نه رجم کیږي بلکه پنځوس دره وهل کیږي، وجه فرق دا ده چي حدود حق الله دي او په احرار کي بل حق متعارض نشته د دې وجي هغه رجم کیږي او په ارقاء کي د مولی حق متعارض دی، کله په حق الله او حق العبد کي تعارض راشي نو حق العبد ته ترجیح ورکول کیږي؛ د بندګانو له احتیاج له وجي له دې وجي ارقاء چي واده یې کړی وي په دې صورت کي نه رجم کیږي چي د اقا مالي نقصان ونشي ۱۲. سعید احمد پالن پوري

په لمانځه کي محض خيال قلب کافي نه دی او د ذکر قلبي ونفسي فضيلت

(۱۳۷) که يو سړی په خيال سره يا په حبس نفس سره بيله د ژبي حرکته کلمه شريفه يا الله الله يا يو آيت د قرآن شريف څخه ووايي نو په دغه هم د يو حرف پر ويلو د لسو نيکيو ثواب ملاويږي کنه؟ که ملاويږي نو کوم آيت يا حديث دی؟ د دې وجي که موږ لمونځ په زړه کي يا په خيال سره د ژبي د حرکت بغير وکړو نو هغه لمونځ راګرځول ضروري دی نو د هغه ثواب هم ضائع شو، داغه شان مراقبه چي په هغه کي ويل نشته صرف خيالي تصور په کي وي، نو د دې هم هيڅ ثواب نشته، ځکه صرف وخت ضائع شو، دا صحيح ده کنه؟ (۲۹۳/۱۳۴۰هـ)

جواب: په لمانځه کي او د قرآن په تلاوت کي محض خيال قلب کافي نه دی، بلکه په ژبه سره ويل ضروري دی او د ذکر قلبي او ذکر نفسي فضائل په حديث شريف کي وارد دی، بلکه هغه اصلي ذکر دی په حديث صحيح کي دي: فان ذکرني في نفسه ذکرته في نفسي، الحديث[1] والتفصيل في المطولات. فقط والله تعالی اعلم

د خلق لکم ما في الارض جميعًا مطلب

(۱۳۸) يو سړی وايي چي آيت شريف "خلق لکم ما في الارض جميعًا" (سورة بقرة، آيت ۲۹) پر جميع محرمات حتی چي د شرک پر اباحت دال دی، دا صحيح ده کنه؟ (۱۳۱/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: د "خلق لکم ما في الارض جميعًا" (سورة بقره، آيت ۲۹) څخه مراد دا دی چي د ځمکي څخه څه غله وثمرات پيدا شي هغه د ټولو انسانانو لپاره دي، کوم سړی چي د شرک اباحت د دې څخه مراد اخلي هغه جاهل او د اهلِ باطل څخه دی او د آيت معنی بدلوي او پر الله تعالی افتراء کوي او د الفاظو په معنی ولغت نه پوهيږي. فقط والله تعالی اعلم

---

۱) عن ابي هريرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: يقول الله: انا عند ظن عبدي بي، وانا معه اذا ذکرني، فان ذکرني، الحديث. (صحيح البخاري: ۱۱۰۱/۲، کتاب التوحيد، باب قول الله "ويحذرکم الله نفسه" الخ)

د واستعینو بالصبر والصلوة مخاطب څوک دی؟

(١٣٩) د سورة بقره په شروع کي دي: "واستعينوا بالصبر والصلوة" (سورة بقره، آيت: ۴۵) د دې آيت مخاطب څوک دی؟ علامه جلال الدين سيوطي په خپل جلالين کي ليکلي دي: د دې مخاطب يهود دي، حال دا چي يهودو رياست او مال د حب په وجه ايمان نه ؤ راوړی، نو بيا د صوم وصلاة څرنګه مخاطب کيدلای شي؟ (١٤٢١/٤٤-١٣٤٥ھ)

جواب: اول خو صاحب جلالين په قيل سره ذکر کړی دی (١) چي د دې پر ضعف دال دی، ماسيوا له دې دا مطلب يې کيږي چي پر رسول الله صلی الله عليه وسلم ايمان راوړي او بيا د ده په شان لمونځ وکړئ او روژه ونيسئ او نور. يا دا چي د دوی په دين کي چي کومه روژه لمونځ فرض ؤ، د هغه د ادا کولو حکم شوی دی چي که مي لمونځ روژه ادا کړ نو د ايمان توفيق به ملاو شي. فقط والله تعالى اعلم

بيت الله د اصنام څخه د پاک کولو مطلب

(١٤٠) د سورة بقره په شروع کي دي: "وعهدنا الى ابراهيم واسماعيل ان طهرا بيتي للطائفين والعاكفين" الاية (سورة بقره، آيت: ١٢٥) هلته په جلالين کي مفسر مخته را ايستلی دی ای من الاوثان (٢) حال دا چي کله حضرت ابراهيم او حضرت اسماعيل عليهما السلام کعبه بناء کوله نو هغه وخت په بيت الله کي صنم او نور شيان چيري وه؟ مخکي الله تعالى د بيت الله پاکول له اصنام څخه څرنګه فرمايلي دي؟ (١٤٢١/٤٤-١٣٤٥ھ)

جواب: د دغه تفسير موافق مطلب دا کيدای شي چي بيت الله پاک ساتئ يعني دلته بتان مه پريږدئ، يا دا حکم دی د ده وذريت ته چي په راتلونکي وخت کي بيت الله پاکه ساتئ. فقط

---

١) وقيل: الخطاب لليهود لما عاقهم عن الايمان الشره وحب الرياسة، امروا بالصبر، وهو الصوم؛ لانه يكسر الشهوة، والصلاة؛ لانها تورث الخشوع وتنفي الكبر. (تفسير الجلالين، ص: ٩، تفسير سورة البقرة)

٢) تفسير الجلالين، ص: ١٩، تفسير سورة البقرة.

د آیت فدیه تفسیر

(۱۴۱) "وعلى الذين يطيقونه فدية طعام مسكين" زیاتو د دې آیت شریف په تفسیر کې دا تسلیم کړي دي چې ماسیوا د مریض که کوم سړی وغواړي په یو فقیر دي ډوډۍ وخوري او روژه دي ونه نیسي، لهذا د دې ترجمې مطلب صاف صاف تحریر کړئ او د روژې په هکله چې کومه فتوی وي هغه تحریر کړئ. (۱۳۳۵/۱۳۹۰هـ)

جواب: د آیت کریمه "وعلى الذين يطيقونه فدية طعام مساكين" (سورة بقره. آیت: ۱۸۴) په هکله بحث طویل دی، مختصر جواب ستا لپاره کافي دی هغه دا دی چې دا آیت منسوخ دی، ورسره آیت: "فمن شهد منكم الشهر فليصمه" (سورة بقره، آیت: ۱۸۵) یعني ستاسو څخه چې څوک وموندی د روژې میاشته نو ضروري ده چې هغه روژه ونیسي، لنډه دا چې په ابتداء د اسلام کې دا اختیار ورکول شوی ؤ چې د روژې د طاقت باوجود هم که څوک وغواړي فدیه ورکړي نو ور دي کړي روژه دي نه نیسي(۱) بیا دا حکم منسوخ شو او روژه نیول د طاقت لرونکي لپاره متعین شوه او پر دا د امت اجماع ده چې بلا عذر د مرض او سفر د روژې د میاشتي روژه خوړل او نه نیول صحیح نه دي او پر مریض او مسافر هم وروسته کې قضاء لازمه ده، فدیه ورکول صحیح نه ده، فدیه صرف د شیخ فاني لپاره ده. والتفصيل في المطولات، په تفسیرات احمدي کې دي: وكان في بدء الاسلام فرض عليهم الصوم ولم يتعودوه فرخص لهم في الافطار والفدية، ثم نسخ التخيير.

---

۱) د اسلام په ابتداء کې همدا حکم ؤ، کله چې وروستنی آیت "فمن شهد منكم الشهر فليصمه" نازل شو، نو دا حکم منسوخ شو، پر دې د ټول امت اجماع ده، مګر دا آیت منسوخ دی که نه، په دې کې اختلاف دی، د بعضو حضراتو په نزد دا آیت منسوخ دی او د دې ناسخ وروستنی آیت: "فمن شهد منكم الشهر فليصمه" دی او بعض حضرات وايي: دا ایت محکم او معمول بها دی او د یطيقونه مخکې "لا" پټ دی او د آیت مطلب دا دی: کوم خلک چې (د عمر د زیاتوالي له وجې) د روژې نیولو طاقت نه لري د هغو په ذمه فدیه ده او هغه په یو مسکین ډوډۍ خوړل دي، یعني په دې آیت کې د شیخ فاني حکم بیان شوی دی. (الخير الكثير شرح الفوز الكبير، ص: ۲۴۱-۲۴۲، مطبوعه: الامين کتابستان دیوبند.)

بقوله تعالى: (فمن شهد منكم الشهر فليصمه) لان من يطيقون الصيام ولا يصومون قصدًا، انما يجب عليهم الكفارة والقضاء لا الفدية المذكورة(۱) فقط والله تعالى اعلم

په واذ اخذ الله ميثاق النبيين کي د کوم عهد ذکر دی د هغه څه مقصد دی؟

(۱۴۲) د آیت: "واذ اخذ الله ميثاق النبيين" (سورة ال عمران، آيت: ۸۱) څخه د انبیاء کرام علیهم السلام پر رسول الله صلی الله علیه وسلم د ایمان راوړلو او اعانت کولو صرف عهد اخیستل معلومیږي، لیکن د دې ظهورو تحقق شوی دی کنه؟ د نه کیدو په صورت کي صرف د دې عهد څخه مقصود د قرآن څه دی؟ د خاتم النبیین فضیلت څرنګه ثابت کیدای شي؟ (۱۳۳۸/۴۸۵هـ)

جواب: مقصود د دې آیت څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم افضل الانبیاء کیدل او متبوع جمله انبیاء کیدل ظاهر کیدل دي او دا هم په علم ازلي کي ؤ چي د حضرت عیسی علی نبینا وعلیه الصلاة والسلام نزول به په آخر زمانه کي کیږي او هغه به د نبي صلی الله علیه وسلم د شریعت تابع وي، نو په دغه طریقه سره د دې عهد ظهور هم د بعض انبیاء څخه کیږي. فقط والله تعالی اعلم

د وان خفتم الا تقسطوا الآية صحيح مطلب

(۱۴۳) په قرآن شریف کي د څلورو ښځو سره نکاح کول خو محض پر یتامي انجونو باندي د ولیانو له طرفه د لا پرواهي په وجه ویلي دي، په حکم د "وان خفتم ان لا تقسطوا في اليتامى فانكحوا" (سورة نساء، آيت: ۳) مګر نن سبا مسلمانان بغیر قید د متولي د یتامي د څلورو ښځو سره نکاح کوي، نو دا شان نکاح په کوم دلیل سره جائز ده؟ (۱۳۴۱/۱۲۱۵هـ)

جواب: د دې آیت مطلب دا دی چي هغه یتیمي ښځي چي ستاسو په قبضه کي دي د هغو سره نکاح کولو کي تاسو ته دا خوف وي چي انصاف نه شي کولای، نو د هغو ماسیوا د نورو ښځو سره تر څلورو پوزي نکاح کولای شئ، لکه چي عام مفسرین لیکي، که تا تفاسیر واحادیث کتلي وای نو دا شان شک به دي نه کولای فقط والله تعالی اعلم

۱) التفسيرات الاحمدية، ص: ۵۳، المطبوعة المكتبة الاشرفية ديوبند.

د فان طبن لکم عن شيء منه نفسا صحيح ترجمه

(۱۴۴) د سورة نساء په شروع کي دي: "فان طبن لکم عن شيء منه نفساً" (سورة نساء، آیت: ۱۴) صحيح ترجمه څه ده؟ (۴۴/۱۱۰۹-۱۳۴۵ھ)

جواب: د دې آیت ښه ترجمه دا ده چي حضرت شاه عبد القادر صاحب فرمایلې ده: بیا که د دې ښځه څه پرېږدئ د زړه په خوښي سره نو خوري يې په مزو سره (موضح) او د حضرت شاه ولي الله صاحب ترجمه فارسي دا ده: "واگر زنان در گذرند به خوش دلي برائي شما از بعض مهر پس به خورید آنرا سازگار خوشگوار" صاحب جلالین فرمایي: "فان طبن لکم عن شيء منه نفسًا" تمیز محول عن الفاعل ای ان طابت انفسهن لکن عن شيء من الصداق فوهبنه لکم (فکلوه هنیئًا) طیبًا (مریئًا) محمود العاقبة لا ضرر فیه علیکم في الآخرة نزل ردا علی من کره ذلک، له عبارت جلالین څخه ترکیب هم حل شو. فقط والله تعالی اعلم

په یوصیکم الله الآیة کي د مړکیدو بعد د میراث بیان

(۱۴۵) د آیت "یوصیکم الله" حکم په حیات کي دی یا بعد ممات؟ یعني مالک ته اختیار دی چي په خپل ژوند کي چا ته وغواړي ورذي کړي؟ (۳۲/۱۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: په رکوع "یوصیکم الله" (سورة نساء، آیت: ۱۱) کي د مړ کیدو بعد د میراث بیان دی، په ژوند کي پخپله صاحب مال مالک دی، مګر خلاف عدل تقسیم کول به د ده لپاره ګناه وي. فقط والله تعالی اعلم

د ذلک الفوز العظیم صحیح مطلب

(۱۴۶) د "ذلک الفوز العظیم" څه مطلب دی. ایا یوازي نیکي به د نجات (خلاصون) لپاره کافي وي؟ (۳۲/۱۲۲۰-۱۳۳۳ھ)

جواب: "ذلک الفوز العظیم" د "ومن یطع الله ورسوله" (سورة نساء، آیت: ۱۳) بعد واقع دی،

د دې مطلب دا دی چې څوک په ټوله احکام شرعیه کې د الله تعالی او د هغه د رسول اطاعت وکړي د هغه لپاره فوز عظیم دی، تا دا څه فهمولی دی چې پر یوه نیکي دا حکم دی؟ دا د مذکوره آیت په یو ځای کې نشته فقط والله تعالی اعلم

د فما استمتعتم څخه د متعې پر جواز استدلال کول صحیح نه دی

(۱۴۷) څه فرمايي علماء دين د دې آيت د ترجمې په هکله لاندې ترجمه صحیح ده کنه؟ "فما استمتعتم به منهن فآتوهن اجورهن" ترجمه: بس متعه کوئ تاسو د ښځو سره او ورکوئ تاسو مهر مقرره د دوی چې پر تاسو فرض دی او په قرآن شریف کې کوم آیت د متعه ؤ کنه؟ که ؤ نو د هغه تنسیخ په کوم حکم وشو؟ (۱۳۳۸/۲۳۵هـ)

جواب: دا ترجمه غلطه ده، متعه معروفه د دې څخه مراد نه ده، بلکه مراد هغه ده چې صاحب جلالین لیکلې ده، د دې آیت مخکې دا آیت دی: "واحل لکم ماوراء ذلکم ان تبتغوا باموالکم محصنین غیر مسافحین فما استمتعتم به منهن" (سورة نساء، آیت ۲۴) د جلالین الفاظ دا دي: (ان تبتغوا) تطلبوا النساء (باموالکم) بصداق او ثمن (محصنین) متزوجین (غیر مسافحین) زانین (فما) فمن (استمتعتم) تمتعتم (به منهن) ممن تزوجتم بالوطي (فاتوهن اجورهن) مهورهن الخ (۱) نو معلومه شوه چې مراد د استمتاع څخه په وطي سره له خپلې ښځې څخه استفاده کول دي نه له بل چا څخه او د متعې منسوخیت په صحیح حدیثو ثابت دي (۲) او په اجماع د صحابه وائمه متعه منسوخ ده او باطله ده او په کمالین کې ویلي دي چې نسبت کول د صاحب هدایه د دې د جواز د امام مالک رحمه الله طرف ته باطل دی غلط دی (۳) فقط والله تعالی اعلم

---

۱) تفسير الجلالين، ص: ۷۴، تفسير سورة النساء

۲) عن علي كرم الله وجهه قال: نهي النبي صلى الله عليه وسلم عن المتعة عام خيبر الحديث (صحيح البخاري ۲ ،۸۳۰، كتاب الذبائح والصيد، باب لحوم الحمر الانسية)

۳) ونسبته الى مالک كما في الهداية غلط فاحش الخ (تعليقات جديدة من التفاسير المعتبرة لحل الجلالين، ص: ۷۴، تفسير سورة النساء، رقم الحاشية ۱۴) --

(۱۴۸) روافض متعه جائز بولي او دوی له قرآن شریف څخه دلیل نیسي، د آیت: "فما استمتعتم" څخه استدلال کوي، د دې آیت مطلب په واضح طریقه سره بیان کړ. (۱۳۴۵-۴۴/۹۷۷هـ)

جواب: متعه جائز نه ده، په حدیث شریف کې څرګند د دې مخالفت راغلی او منسوخه شوه، اوس تر قیامه نه جائز کیږي، د روافض استدلال د "فما استمتعتم" آیت څخه غلط دی کما حرره المفسرون. فقط والله تعالی اعلم.

د یاایها الذین آمنوا آمنوا بالله مطلب

(۱۴۹) په "یاایها الذین آمنو آمنو بالله" کې ارشاد باري تعالی د ایمان راوړلو دی، حلانکه دوی مخکي ایمان راوړی دی؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۲۲هـ)

جواب: د دوهمي جملې "آمنوا" معنی دا ده چې ثابت او سیږئ پر ایمان باندي بس نو د آیت شریفه ترجمه دا شوه: ای ایماندارو! پر ایمان ثابت او سیږئ لکه د "اهدنا الصراط المستقیم" معنی دا ده: موږ ثابت وساته پر سیدا (نیغه) لاره چې دین اسلام ده. فقط والله تعالی اعلم.

د یهودو نصاری اولیاء جوړولو څه مراد دی؟

(۱۵۰) د دې آیت: "لا تتخذوا الیهود والنصاری اولیاء بعضهم اولیاء بعض" (سورة مائده، آیت: ۵۱) په دوستي که کوم کوم شیان داخل دي؟ او کوم کوم خارج دي؟ (۱۳۴۵-۴۴/۲۸۲هـ)

جواب: د یهودو نصاری اولیاء جوړولو دا معنی ده چې د هغو مدد وشي، یا امداد طلب کړل شي،

--- وبطل نکاح متعة وموقت (الدر المختار) وفي الشامي: ثم ذکر في الفتح ادلة تحریم المتعة، وانه کان في حجة الوداع، وکان تحریم تابید، لا خلاف فیه بین الائمة وعلماء الامصار الا طائفة من الشیعة، ونسبة الجواز الی مالک کما وقع في الهدایة غلط. (الدر المختار والشامي: ۳۱۸/۲، کتاب النکاح، فصل في المحرمات، مطلب في ما لو زوج المولی امته ط رشیدیه)

او د دوی سره داسي معاملات وشي لکه له خپل مسلمان ورونو سره کیږي. لنډه دا چي له کوم شي څخه نهي وارد دي هغه د یهودو نصاری سره ورور ګلوي، د زړه همدردي، د دوی سره د مسلمانانو په شان معامله کول. یعني د کفارو سره په ظاهري او ضروري معاملاتو کي نه ضرورت دی او نه قطعًا هغه د خپل نعمت ولي ګڼل پکار دی. د ټولو بنو صفاتو چینه ګڼل او د هغه سره داسي معاملات وشي لکه چي د یو حقیقي دوست سره کیږي (۱) قال في مدارک التنزیل: ای لا تتخذوهم اولیاء تنصرونهم وتستنصرونهم وتؤاخونهم وتعاشرونهم معاشرة المؤمنین الخ (۲) فقط والله تعالی اعلم

د ځمکي وآسمان په شپږو ورځو کي پیدا کولو څه حکمت دی؟

(۱۵۱) په کلام الله کي چي وارد دي: موږ په شپږ ورځي کي ځمکه وآسمان جوړ کړل (۳) او په بل ځای کي راځي

---

۱) "اولیاء" د ولي جمع ده "ولي" دوست ته هم ویل کیږي، قریب ته هم، ناصر او مددګار ته هم، لنډه دا چي "یهود ونصاری" بلکه د ټولو کفارو سره، لکه په سوره نساء کي تصریح شوي ده، د مسلمانانو په شان تعلقات مه ساتئ، په دغه موقع دا یاد ساتل پکار دي چي موالات، مروت وښه سلوک، مصالحت، روا داري او عدل وانصاف دا ټول بیل شیان دي. اهل اسلام که مصلحت وګڼي نو د هر کافر سره صلح او عهد وپیمان په مشروع طریقه سره کولای شي. "وان جنحوا للسلم فاجنح لها وتوکل علی الله" (سورة انفال، آیت: ۶۱) د عدل وانصاف حکم لکه د مخکي آیتونو څخه معلوم شو، د مسلم وکافر هر فرد بشر په حق کي دی، د "مروت" یا "روا داري" معامله د هغو کفارو سره کیدای شي چي د جماعت اسلام په مقابله د دښمني او عناد مظاهره نه کوي، لکه په "سوره ممتحنه" کي تصریح ده، باقي "موالات" یعني دوستانه اعتماد او برادرانه مناصرت ومعاونت نو دا هیڅ یو مسلمان ته حق نشته چي دا تعلق د غیر مسلم سره قائم کړي

(فوائد عثماني مع ترجمه شیخ الهند، ص: ۱۵۴، سورة مائده، آیت: ۵۱، حاشیه نمبر: ۲)

۲) تفسیر المدارک التنزیل وحقائق التاویل، ص: ۱۲۸، تفسیر سورة مائدة، المطبوعة مطبع حنفي دهلي

۳) "ان ربکم الله الذي خلق السماوات والارض في ستة ایام" (سورة اعراف، آیت: ۵۴، وسورة یونس، آیت: ۳، سورة هود، آیت: ۷، سورة فرقان، آیت: ۵۹، سورة سجده، آیت: ۴، سورة ق، آیت: ۳۸، سورة حدید، آیت: ۴)

"انما امره اذا اراد شیئًا ان یقول له کن فیکون" (سورة یاسین، آیت: ۸۲) په دا خبره نه پوهیږم چي د کن فیکون باوجود په ستة ایام کي د جوړولو څه ضرورت ؤ؟ بل دا په هغه وخت کي خو یوم ولي نه وې نو ستة ایام به څرنګه صحیح کیږي؟ دریم دا چي کن فیکون مقتضی وجود شی دی، هلته خو تر اوسه وجود لا متحقق شوی نه ؤ؟ (۱۳۴۱/۲۰۱۱هـ)

جواب: الله تعالی که غوښتئ نو فورًا یې جوړ کولای شو، مګر د هغه حکمتونو په وجه چي الله تعالی په هغه ښه خبر دی دومره قدر ایام یې اختیار کړې (۱) فقط والله تعالی اعلم

(۱۵۲) په قرآن شریف کي څو ځای فرمایلي دي چي موږ ځمکه وآسمان په شپږ ورځو کي جوړ کړل، د دې څه وجه ده؟ الله تعالی په یو کن ویلو سره ټول جهان پیدا کولای شي؟ (۱۳۴۵/۱۳۲۱هـ)

---

۱) په ترجمه شیخ الهند او فوائد عثمان کي دي:

"بې شکه ستاسو رب الله تعالی دی، چا چي پیدا کړل آسمان او ځمکه په شپږو ورځو کي: یعني په دومره وخت کي چي د شپږو ورځو سره برابرؤ پیدا کړل، ځکه چي دغه متعارف ورځ او شپه د لمر د طلوع او غروب سره تړون لري، کله چي لمر نه ؤ پیدا شوی نو ورځ شپه چیري وې؟ یا دا وویل شي: د عالم شهادت ورځ شپه مراد نه ده، د عالم غیب ورځ شپه مراد ده، لکه یو عارف ویلي دي:

غیب را ابروي وآبي دیگر است — آسمان وآفتابي دیگر است

په اول صورت کي بیا د علماوو اختلاف دی چي دلته د شپږ ورځو څخه زموږ شپږ ورځي مراد دي، یا د زرو کلو یوه یوه ورځ لکه فرمایلي دي: "وان یومًا عند ربک کالف سنة مما تعدون" (سورة حج، آیت: ۴۷) زما په نزد دا آخري قول راجح دی، په هر حال چي آسمان او ځمکه دفعةً نه دي درول شوي، شاید اول به د دوی ماده پیدا شوې وي بیا به د دوی د استعداد موافق په تدریج سره مختلف اشکال او صورتونو ته منتقل شوې وي حتی په شپږ ورځي (شپږ زره کاله) کي هغه په جمیع متعلقاتهما په موجوده مرتب شکل کي موجود شوي وي لکه نن سبا هم د انسان او حیواناتو او ونو او نورو تولید و تخلیق سلسله په تدریجي ډول جاري ده، دا شان "کن فیکون" سره منافي نه ده، ځکه د "کن فیکون" مطلب خو صرف دومره قدر دی چي خدای د کوم شي په وجود کي راوړل وغواړي د ده له اراده کولو سره فورًا هغه شی دغه درجې ته راځي، دا مطلب نه دی چي خدای د یو شي د وجود پر مختلف مدارج تیرولو اراده نه کوي، بلکه هر شی بیله توسط اسباب وعلل په دفعة سره موجود کوي.

(ترجمه شیخ الهند وفوائد عثماني، ص: ۲۰۹، سورة اعراف، آیت: ۵۴، حاشیه نمبر: ۵)

جواب: د دې جواب عام مفسرين ليکي چې الله تعالی دا شان د دې وجې وکړل چې خپل مخلوق ته د تثبت او ترک تعجيل تعليم وفرمايي. (۱) فقط والله تعالی اعلم

"الذين يذکرون الله قياما وقعوداً" او نور آيات کې د ذکر دائمي څخه څه مراد دی؟

(۱۵۳) آيت "الذين يذکرون الله قيامًا "الاية "واذکروا الله کثيرًا "(۲) او نورو آيتونو کې له ذکر دائمي څخه څه مراد دي؟(۱۳۳۸/۱۰۲۵هـ)

جواب: آيت "الذين يذکرون الله قيامًا وقعودًا "(سورة آل عمران، آيت: ۱۹۱) څخه مفسرينو لمونځ په حالات مختلفه کې حسب طاقت هم مراد اخيستی دی او ذکر حقيقي لساني يا قلبي هم مراد اخيستی دی(۳)

---

۱) په ترجمه شيخ الهند او فوائد عثماني کې دي:

"په تحقيق ستاسو رب الله تعالی دی، هغه چې آسمان او ځمکه په شپږ ورځو کې "يعني په دومره وخت کې چې د شپږو ورځو سره برابر ؤ او يوه ورځ د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د تفسير موافق د يو زر کلو واخيستل شي ګويا په شپږ زره کاله کې ځمکه وآسمان او نور تيار شوه، بيله شکه الله تعالی قادر ؤ چې په آن واحد کې ټول مخلوق پيدا کړي، ليکن حکمت د دې مقتضي شو چې تدريجًا پيدا شي، شايد بندګانو ته سبق ورکول ؤ چې د قدرت باوجود هر کار په سوچ وفکر سوکه والي او هوښياري سره کوئ هم دا چې په تدريجي تخليق کې په نسبت د دفعةً پيدا کولو کې د دې خبرې زيات اظهار کيږي چې حق تعالی فاعل بالاضطرار نه دی، بلکه د هر شي وجود بالکليه د ده د ميشت واختيار سره تړلی دی، کله چې وغواړي، څرنګه وغواړي پيدا يې کړي(ترجمه شيخ الهند وفوائد عثماني، ص: ۲۷۵، سورة يونس، آيت ۴۵، حاشيه نمبر: ۴)

۲) سورة انفال، آيت: ۴۵، وسورة جمعه، آيت: ۱۰

۳) قال علي بن طالب وابن عباس رضی الله عنهم والنخعي وقتادة: هذا في الصلاة، يصلي قائمًا، فان لم يستطع فقاعدًا، فان لم يستطع فعلي جنب الخ.

وبعد أسطر: وقال سائر المفسرين: اراد به المداومة على الذكر في عموم الأحوال، لان الانسان قلما يخلوا من احدى هذه الحالات الثلاث، نظيره في سورة النساء، "فاذا قضيتم الصلاة فاذكروا الله قيامًا وقعودًا وعلى جنوبكم" (النساء: ۱۰۳) (تفسير معالم التنزيل، ص: ۲۰۴، تفسير سورة آل عمران)

او دا هم علماوو لیکلي دي که د اورادو اذکارو ادعیه ماثوره د سهار و ماښام او نورو وختونو کي التزام وشي نو ذکر کثیر حاصل دی. فقط والله تعالی اعلم

په انما الصدقات للفقراء کي کومي صدقات مراد دي؟

(۱۵۴) آیت: "انما الصدقات للفقراء" (سورة توبه، آیت: ۲۰) کي کومي صدقات مراد دي؟ قرباني په دغه صدقه کي داخله ده کنه؟ یا د قرباني پوست یا غوښي صدقه واجبه کیږي، که صدقه واجبه ده نو بیا په خپل مصرف کي ولي راوړل کیږي؟ که صدقه واجبه نه کیږي نو دغه د مسجد مدرسه په اخراجات، د معلم او نورو په تنخوا کي ولي نه شي ورکېدای؟ که پوست بیله خرڅ کولو مدرسې ته ورکړي بیا هم صحیح دی کنه؟ (۱۳۳۷/۲۷۵۲هـ)

جواب: په دې آیت کریمه کي د صدقات څخه مراد صدقات واجبه مثل زکوة وصدقهٔ فطر وکفاره، د قرباني د پوست قیمت او نور دی، دا ټول صدقات واجبه دي او په شامي کي دي چي کوم څوک د زکاة مصرف دی هغه د جمیع صدقات واجبه دي(۱) او د قرباني پوست د خرڅولو وروسته واجب التصدق دی(۲) او تملیک فقیر په دې کي شرط دی، لهذا تعمیر وبناء مسجد ومدرسه او مدرسینو تنخواوي د دې څخه ورکول صحیح نه دي. (۳) او ظاهر دی چي د قرباني له پوست څخه بعینه دا کار نشي کېدای، بلکه د خرڅ کولو وروسته په مسجد ومدرسه او نورو کي صرف کېدای شي،

---

۱) په شامي کي دي: قوله: (ای مصرف الزکوة العشر)..... هو مصرف ایضاً لصدقة الفطر والکفارة والنذر وغیر ذلک ممن الصدقات الواجبة (الشامي مع الدر: ۲۴/۲، کتاب الزکات، اوائل باب المصرف. ط رشیدیه)

۲) په در مختار کي دي: ویتصدق بجلدها او یعمل منه نحو غربال وجراب الخ لا بمستهلک الخ فان بیع اللحم او الجلد به ای بمستهلک او بدراهم تصدق بثمنه الخ (الدر مع الرد: ۲۳۷/۵، کتاب الاضحیة ط رشیدیه)

۳) ویشترط ان یکون الصرف تملیکا، لا اباحة کما مر، لا یصرف الی بناء نحو مسجد الخ وفي الشامي: قوله (نحو مسجد) کبناء القناطر والسقایات واصلاح الطرقات وکری الانهار والحج والجهاد وکل ما لا تملیک فیه (الدر المختار والشامي: ۲۸/۲، کتاب الزکاة، باب المصرف ط رشیدیه)

لهذا د قرباني پوست ویلو یا د هغه قیمت په ورکولو کي هیڅ فرق به نه وي.

سورۀ کهف د آیت: ۵۱ مطلب

(۱۵۵) په قرآن کریم کي په سورة کهف (آیت: ۵۱) کي مذکور دي چي مورږ د شیاطین د پیدا کولو په وخت کي شیاطین نه راوغوښتل، یو شی له خپل وجود مخکي نشي موجودیدای، نو شیطان د پیدا کیدو نه مخکي څرنګه پیدا شو؟ (۱۳۴۵/۹۳۳ھ)

جواب: د دې جواب د صاحب جلالین له دې عبارت څخه واضح کیږي (ما اشهدتهم) ای ابلیس وذریته (خلق السماوات والارض ولا خلق انفسهم) (الکهف، آیت ۵۱) اي لم احضر بعضهم خلق بعض الخ[1] مطلب دا چي له بعض شیاطین څخه د نورو بغضو شیاطین په پیدا کولو کي مدد نه دی اخیستل شوی او صاحب معالم التنزیل دغه قدر نور عبارت زیات کړی دی، فاستعین بهم علی خلقها واشاورهم فیها[2] یعني ما دغه بعضي شیاطین مخلوقه د نورو شیاطین د پیدا کولو په وخت حاضر نه کړل چي د هغو څخه مدد طلب کړم او مشوره ورسره وکړم. فقط والله تعالی اعلم

والبدن جعلناها لکم کي د بدن څه معنی ده؟

(۱۵۶) آیت کریمه "والبدن جعلناها لکم من شعائر الله" (سورة حج، ایت ۳۶) کي دي د بدن څه معنی واخیستل شي او د بدن معنی په لغت کي غوا راغلې ده کنه؟ اکثر خلک شک کوي مفصل يې تحریر کړه. (۱۳۳۷/۲۴۴۴ھ)

جواب: بدن جمع دی د بدنة او د بدنة معنی په لغت کي د اوښ او غوا دواړو راغلي ده په مجمع البحار کي دي: ومنه البدنة لعظمها وتقع علی الجمل والناقة والبقرة[3] (مجمع البحار) او په صراح کي دي: بدنة د قرباني اوښ او غوا الخ[4] او په قاموس کي دي: والبدنة محرکة من الابل

---

۱) تفسیر جلالین، ص: ۲۴۷، تفسیر سورة الکهف.

۲) تفسیر معالم التنزیل للبغوي، ص: ۵۵۳، تفسیر سورة الکهف.

۳) مجمع البحار الانوار (کامل): ۸۱/۱-۸۲، باب الباء مع الدال، المطبوعة نول کشور.

۴) صراح فارسي: ۳۳۰/۲، باب النون، فصل الباء، مطبوعة مطبع رونق.

والبقر الخ (۱) او په صحاح جوهري کي دي: ناقة بقرة (۲) بس نو معلومه شوه چي د بدن اطلاق پر ابل وبقر دواړو راځي او د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد د بدن څخه دواړه مراد کيږي، کما هو مذكور في كتب الفقه (۳) فقط والله تعالى اعلم

پر کوم مکان چي پرده نه وي د هغه په صحن کي تيريدل جائز دي کنه؟

(۱۵۷) په کوم کور کي چي پرده نه وي، د هغه د صحن (غولي) سره تيريدل چي د مکان والو اجازه هم وي په "لا تدخلوا بيوتًا غير بيوتكم" کي داخل ګڼل کيږي کنه؟ (۱۲۲۴/۱۳۳۵هـ)

جواب: چي د مکان والو اجازه وي صراحةً يا عرفًا وعادةً نو د هغه له صحن سره تيريدل د "لا تدخلوا بيوتًا غير بيوتكم" (سورة نور، آيت: ۲۷) په حکم کي داخل نه دی. فقط

د آيت: ومن كفر بعد ذلك فاولئك هم الفاسقون مطلب

(۱۵۸) آيت کريمه: "ومن كفر بعد ذلك فاولئك هم الفاسقون" (سورة نور، آيت: ۵۵) د دې آيت څه مطلب دی؟ شيعه اعتراض کوي چي نعوذ بالله له دې څخه د اصحاب ثلاثه کفر ثابت کيږي (۲۰۴۱/۱۳۳۹هـ)

جواب: د دې آيت څخه خلفاء راشدين د خلافت په داغه ترتيب ثبوت دی ځکه چي وعده الهي ضرور پوره کيدونکې ده،

---

۱) تاج العروس: ۱۳۶/۹، فصل الباء من باب النون.

۲) البحر الرائق: ۲۲۴/۲، كتاب الحج، باب الاحرام، قبيل باب القران.

۳) والبدن من الابل والبقر، وقال الشافعي رحمه الله: من الابل خاصة، لقوله عليه السلام في حديث الجمعة: فالمستعجل منهم كالمهدي بدنة، والذي يليه كالمهدي بقرة، فصل بينهما، ولنا ان البدنة تنبئ عن البدانة وهي الضخامة، وقد اشتركا في هذا المعنى، ولهذا يجزي كل واحد منهما عن سبعة، والصحيح من الرواية في الحديث "كالمهدي جزورًا" والله تعالى اعلم بالصواب (الهداية: ۲۵۲/۱-۲۵۷، كتاب الحج، قبيل باب القران، فتح القدير: ۵۳۱/۲، الحج)

او د "ومن کفر" څخه منکرین د خلافت د خلفاء راشدین مراد کیدای شي. فقط والله تعالی اعلم

لمونځ د بې حیایي او بدکارو څخه کله راګرځوي؟

(۱۵۹) "ان الصلوٰة تنهی عن الفحشاء والمنکر" (سورة عنکبوت، آیت: ۴۵)
د هغه مفهوم دا دی چي لمونځ د جمله بې حیایي او بدو کارو څخه راګرځوي، بیا څه وجه ده چي کم از کم ۸۰ فیصد لمونځ کوونکي دوکه، درواغ، ریاکاري مکاري کولو کي مصروف دي؟ ولي د دغه عیوب څخه نه پاکیږي؟ (۱۳۳۹/۱۰۰ھ)

جواب: که لمونځ په اخلاص او خشوع وخضوع سره وشي نو امید ساتل پکار دی چي اثر مذکور به ضرور حاصل شي. (۱) فقط والله تعالی اعلم

---

۱) په ترجمه شیخ الهند او فوائد عثماني کي دي:
"بې شکه لمونځ راګرځوي له بې حیایي او بدي خبري څخه" لمونځ له بدو کارونو څخه راګرځول په دوو معنی کي کیدای شي: یو په طریقه تسبب یعني په لمانځه کي الله تعالی دا خاصیت او تاثیر ایښی دی چي لمونځ کوونکی له ګناو او بدی څخه راوګرځوي، لکه د یو دوا استعمال تبه او نور مرضونه راګرځوي، په دې صورت کي دا په یاد ساتل په کار دي چي د دوا لپاره دا ضروري نه ده چي یو خوراک د ناجوړی راګرځولو لپاره کافي شي، ځیني دواوي په خاص مقدار سره تر یو مدت پوري په التزام سره خوړل کیږي د هغه ښکاره اثر هغه وخت ظاهر کیږي، په دې شرط چي مریض داسي شی نه استعمال کوي چي دغه دوا له خاصیت سره منافي وي، بس نو لمونځ بې شکه غټه قوي التاثیر دوا ده چي د روحاني ناجوړیانو په راګرځولو کي د اکسیر حکم لري، هو! ضرورت د دې چي په صحیح مقدار په هغه احتیاط او اعتدال سره چي اطباء روحاني تجویز کړی دی تر خاص مدت پوري پر هغه مواظبت وشي، د هغه وروسته مریض په خپله محسوس کوي چي لمونځ څرنګه زړې ناجوړی او د سلو کالو ناجوړی لیري کوي.
دوهمه معنی دا کیدای شي چي لمونځ له بدی څخه راګرځول د اقتضاء په ډول وي، یعني د لمانځه هر یو هیئت او د هغه هر یو ذکر مقتضي دی چي کوم انسان اوس اوس د خدای په دربار کي د خپلي بندګی، فرمانبرداری، خضوع وتذلل او د حق تعالی د ربوبیت، الوهیت او حکومت وبادشاهي اظهار واقرار کولو سره راغلی دی، د مسجد څخه دباندي راوتلو وروسته هم بدعهدي او شرارت نه کوي او د هغه شهنشاه مطلق له احکام څخه منحرف نه وي--

د لهو الحدیث څخه څه مراد دی؟

(۱۲۰) د (ومن الناس من یشتري لهو الحدیث) څه تفسیر دی؟ (۳۲/۲۱۳-۱۳۳۳هـ)

جواب: د لهو الحدیث تفسیر په غناء سره کړی دی، په شامي کې د درمختار د دې قول په شرح کې دي: قال ابن مسعود رضی الله عنه: صوت اللهو و الغناء ینبت النفاق في القلب(الدر المختار) و ذکر شیخ الاسلام ان کل ذلک مکروه عند علمائنا واحتج بقوله تعالی: (ومن الناس من یشتري لهو الحدیث الآیة) (لقمان: ۲) جاء في التفسیر: ان المراد: الغناء الخ(۱) فقط والله تعالی اعلم

گویا د لمانځه هر یوه ادا مصلي ته پنځه وخت حکم ورکوي چې ای د بندګي او غلامي دعوی کونکې! واقعي د بندګانو او غلامانو پشان سه او په زبان حال مطالبه کوي چې د بې حیایي او شرارت او سرکشی څخه راوګرځه، اوس نو که څوک راوګرځي او کنه راګرځي، مګر لمونځ هغه بلا شبه راګرځوي او منع کوي، لکه الله تعالی پخپله راګرځوي او منع کوي کما قال الله تعالی: (ان الله یامر بالعدل والاحسان وایتاء ذی القربی وینهی عن الفحشاء والمنکر) (نحل: ۹۰) نو کوم بد بخت چې د الله تعالی پر راګرځولو نه راګرځي د لمانځه پر راګرځولو هم نه راګرځیدل محل تعجب نه دی؟! هو څرګندونه دي وي چې د هر لمانځه راګرځول او منع کول به تر هغه درجې پوري وي تر کومه حده د ده په ادا کولو کې د الله تعالی له یاد څخه غفلت نه وي، ځکه لمونځ محض د څو ځله ولاړېدو کښینستلو نوم نه دی، تر ټولو غټ شی په دې کې د خدای یاد دی، لمونځ کونکی د ارکان صلات د ادا کولو په وخت کې او قرات قرآن یا دعا وتسبیح په حالت کې څومره د حق تعالی د عظمت وجلال مستحضر او ژبه او زړه موافق ساتي هغومره به د ده زړه د لمانځه د منع کولو اواز اوري او هغومره قدر به د ده لمونځ له بدي څخه په خلاصون کې مؤثر ثابتیږي، کنې کوم لمونځ چې په قلب لا هي وغافل سره ادا شي هغه د صلاة منافق په شان ګرځي، د هغه په هکله په حدیث کې فرمایلي دي: لا یذکر الله فیها الا قلیلا د داغه لمانځه په نسبت لم یزد بها من الله الا بعدا وعید راغلی دی.

(ترجمه شیخ الهند او فوائد عثماني، ص: ۵۳۵، سورة عنکبوت، آیت ۴۵، حاشیه نمبر: ۲)

۱) الدر المختار والشامي: ۲۴۲/۵، کتاب الخطر والاباحة ط رشیدیه

د فكان قاب قوسين او ادنى الآية تفسير

(۱۲۱) څه فرمايي علماء دين د دې آيت په تفسير کي: (فكان قاب قوسين او ادنى فاوحى الى عبده ما اوحى) (سورة نجم، آيت: ۹-۱۰) (۱۳۳۸/۵۴۹هـ)

جواب: راجح تفسير د دې آيت کريمه کوم چي صاحب جلالين اختيار کړی هغه دا دی(١) فنزل جبرئيل عليه السلام في صورة الآدميين ثم دني قرب منه فتدلى زاد في القرب فكان منه قاب قدر قوسين او ادنى من ذلک حتى افاق وسكن روعه فاوحى تعالى الى عبده جبرئيل ما اوحى جبرئيل الى النبي صلى الله عليه وسلم ولم يذكر الموحى تفخيمًا لشانه(٢) وفي الآية تفاسير اخر مذكورة في كتب التفاسير. فقط والله تعالى اعلم

د من بعدي اسمه احمد مصداق څوک دی؟

(۱۲۲) نن سبا د مرزا غلام احمد قادياني مذهب ورځ په ورځ په ترقي کي دی او پيروان مرزا مذکور دعوی ده چي مرزا مذکور هم د مخکني انبياء پشان پيغمبر د خدای ؤ او د خاتم النبيين څخه مراد دا دی چي که څه هم نوی شريعت قائم نه وي، بيا هم انبياء ضرور راځي، دا خبره د ثبوت تر حده رسولو لپاره دا آيت پيش کوي:

---

١) په بيان القرآن کي دي چي يو وار حضور صلى الله عليه وسلم له جبرئيل عليه السلام څخه خواست وکړ، ما ته خپل صورت راښکاره کړه، هغو د حرا سره حسب روايت ترمذي په "جياد" کي وعده وکړه، نبي صلى الله عليه وسلم هلته ولاړی نو په افق مشرقي کي وليدی چي د ده شپږ سوه وزران دي او دومره قدر يې غوړولي دي چي تر افق مغربي پوري خای يې نيولی دی، نبي عليه السلام بې هوښ کيدلو سره ايله شو، هغه وخت جبرئيل عليه السلام په صورت بشريه کي د نبي صلى الله عليه وسلم د تسکين لپاره راغلي د هغه مخته ذکر دي، کذا في الجلالين.
لنډه دا چي هغه ملائکه اول په صورت اصليه کي پر افق ښکاره سوه، بيا کله نبي صلى الله عليه وسلم بې هوښه سو نو هغه ملائکه نبي صلى الله عليه وسلم ته ورنژدې شوه..... بيا په وښ کي راتلو وروسته الله تعالى د دغه ملائکه په ذريعه پر خپل بنده محمد صلى الله عليه وسلم وحي نازل کړې چي څه يې نازلي کړي وې.
(بيان القرآن: ۲۲/۱۱، تفسير سورة نجم، مطبوعه: اشرف المطابع تهانه بهون، مظفرنگر.)
٢) تفسير الجلالين، ص: ۴۳۷، تفسير سورة النجم

(ومبشرًا برسول يأتي من بعدي اسمه احمد) الى قوله تعالى: (وهو يدعى الى الاسلام) (سورة صف، آيت: ۶-۷) او د دې تفسير دا رنګه بيان کوي، دا خوشخبري د نبي صلی الله عليه وسلم لپاره ده، نو بيا (يدعى الى الاسلام) ولي وفرمايل؟ ځکه چي نبي صلی الله عليه وسلم خلګ اسلام طرفته راوبلل او نبي صلی الله عليه وسلم چا اسلام طرفته نه دی رابللی او دا خوشخبري پر مرزا غلام احمد باندي صادق کيږي ځکه غير احمدي مسلمانانو د کفر فتوی لګولو سره دوهم ځل د مسلمان کيدو ترغيب ودعوت ورکړې ؤ، ظاهرًا دا دليل معقول معلوميږي، کله چي ما بې علم دا واوريدل طبيعت مي په عجيبه مخمصه کي ګرفتار شو او د علوم دينيه څخه د جاهل مطلق کيدو په سبب نه رسيدونکی عقل د فيصلې څخه معذور دی د دې بيري چي د راه حق (حق لاري) څخه وانه وړم، اميد واثق دی چي د پورته آيت مذکورة مطلب بالتشريح بيان کړ. (۱۷۲۹/۱۳۴۲ھ)

جواب: د حضرت مفتي صاحب دامت برکاتهم له خوا زما محترم! بعد سنت الاسلام عرض دا دی چي ستا د شبه په هکله زموږ د مدرسې يو مدرس چي څه تحرير کړی دی هغه مرسل خدمت دی:

خلاصه دا چي د قاديانيانو دا ويل چي د خاتم النبيين څخه مراد دا دی که څه هم نوی شريعت نه وي ورسره، مګر انبياء به ضرور راځي محض غلط دی او په دې کي تکذيب دی د نبي صلی الله عليه وسلم چي نبي صلی الله عليه وسلم فرمايي: انا خاتم النبيين لا نبي بعدي(۱) زما د راتلو وروسته د انبياء راتلل موقوف شو، هيڅ نبي زما بعد نه راځي او د (ومبشرا برسول يأتي من بعدي اسمه احمد) صاف او صحيح مطلب دا دی چي حضرت عيسى عليه السلام خپل امت بني اسرائيل ته وفرمايل: زه د الله رسول يم ستاسو طرفته، تصديق کوونکی يم د تورات چي زما مخکي نازل شوی دی او خوشخبري ورکوونکی يم د يو رسول چي زما بعد راځي د هغه نوم احمد دی، د دغه بعده کي راتلونکی رسول په نسبت پخپله د نبي صلی الله عليه وسلم ارشاد دی: د کوم نبي او رسول خوشخبري حضرت عيسى عليه السلام ورکړې ده هغه زه يم،

---

۱) عن ثوبان رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا تقوم الساعة حتى تلحق قبائل من امتي بالمشركين، وحتى يعبدوا الاوثان، وانه سيكون في امتي ثلاثون كذابون كلهم يزعم انه نبي وانا خاتم النبيين الحديث (سنن الترمذي: ۴۵/۲، ابواب الفتن باب ماجاء لا تقوم الساعة حتى يخرج كذابون)

لکه د حدیث الفاظ: و بشری عیسی د دې صریح دلیل دی، د دې بعد د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قول په مقابل د یو مفتري کذاب دا ویل چې د کوم چا خوشخبري حضرت عیسی علیه السلام ورکړې ده هغه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نه دی هغه زه یم، څرنګه صحیح کیدای شي؟ د دې بعد د آیتونو مطلب دا دی: الله تعالی فرمایي چې کله هغه رسول چې د هغه خوشخبري حضرت عیسی علیه السلام ورکړې ده، آیات قرآن ورسره راوړه نو کفارو ویل: دا جادو دی پر دې الله تعالی وفرمایل: تر داسي کافر زیات ظالم څوک کیدای شي چې دی د اسلام طرف ته رابلل کیږي هغه د هغه تکذیب کوي او پر الله تعالی درواغ تړي، نو حاصل یې دا دی چې کوم څوک محمد صلی الله علیه وسلم د اسلام و ایمان طرفته راوبلل او هغه د رابلونکي تکذیب وکړ او د هغه راوړی کتاب ته درواغ وویل، نو تر هغو کفارو زیات ظالم به څوک وي یعني دوی غټ ظالمان دي والسلام علی من اتبع الهدی.

بسم الله الرحمن الرحیم پر آیت (ومبشراً برسول یأتي من بعدي اسمه احمد) (سورة صف، آیت ۶) باندي د مرزائیانو د اعتراضاتو جواب په آیت (من بعدي) کي دی، د هغه ترجمه "زما وروسته دی" اوس راوښیه که د آیت مصداق مرزا وګرځول شي نو هغه د حضرت عیسی علیه السلام څخه وروسته دی، یا په قول د مرزائیانو که رسول هم وي بیا هم د محمد صلی الله علیه وسلم وروسته دی، لهذا د فصیح محاورې موافق ومبشراً من بعد محمد صلی الله علیه وسلم کیدل پکار ؤ. د هغه ترجمه دا کیږي: زه خوشخبري ورکونکي یم د یو رسول چې د محمد صلی الله علیه وسلم بعد کي راتلونکی دی، مګر الفاظ د آیت (من بعدي) دی، د هغه مقتضا دا ده چې هغه مبشر رسول د ده وروسته کیدل دي

دا صحیح ده چې مرزا هم د ده بعد دی مګر دغه شان خو قیامت هم د ده بعد کي دی، دا کتل پکار دي چې د محاوره او فصیح ژبې موافق (من بعدي) نبي صلی الله علیه وسلم پریږدې پر مرزا صادق کیږي یا براه راست پر نبي صلی الله علیه وسلم باندي قرآن معجزه ده، په درجه فصاحت کي په ذروة علیا کي دي، آیا په داسي کلام کي د (من بعدي) داسي کمزورې معنی اخیستل کیدای شي، وګوره چې په پښتو کي ویل کیږي فلانکی جلسې ته ولاړم او زما وروسته زید راغلی، نو ایا د دې مطلب دا دی چې د دې سرې او زید په منځ کي ډیر خلګ د زید مخکي تللي وه؟! ادغه شان چې کله وایي: زه ستا سره د لمر لویدو وروسته ملاقات کوم، نو د دې مطلب دا کیږي چې د ورځي پر لس بجې ستا سره ملاویږم؟!

حال دا چي پر لس بجې هم د لمر غروب کیدو مخکي صادق کیږي، بس نو د یو خبري صادق کیدل یو قسم خبره ده او د هغه د محاوره موافق کیدل بله خبره ده، د غه شان په دغه آیت کي هم زما بعد لفظ به د محاورې مطابق خاص پر نبي صلی الله علیه وسلم صادق وي نه پر مرزا باندي ځکه مرزا خو وروسته دی او نبي صلی الله علیه وسلم هم وروسته دی، لیکن د محاورې موافق زما بعد کلمه د قرب او اتصال لپاره زیاته استعمالیږي، لهذا هیڅ وجه نشته چي بیله یو وجي یو فصیح محاوره پریښودل شي او مرزا د دې مصداق وګرځول شي حال دا چي هغه د عیسی علیه السلام وروسته نه دی، بلکه د محمد صلی الله علیه وسلم وروسته دی، لهذا نو که دغه پیشن ګویي پر مرزا باندي صادقه شي نو اولاً پر عیسی علیه السلام سخت الزام راځي، والعیاذ بالله، یعني د دې تفصیل باوجود د پیشن ګویي الفاظ خامخا د محاورې خلاف او د فصاحت خلاف په یو داسي معنی کي ولي مراد کیږي چي د هغه له وجي خلګ په دوکه کي مبتلا کیږي، ګویا د ده مقصد دا ؤ چي زما د بعد لفظ ووایم، مراد واخلم د محمد صلی الله علیه وسلم څخه هم بعد کي چي خلګ به ګمراهان شي. والعیاذ بالله

دوهم په دې کي د نبي صلی الله علیه وسلم سخته بې عزتي ده، ایا د عیسی علیه السلام په نزد مرزا تر نبي علیه السلام زیات د خوشخبري وړ ؤ چي په قرآن شریف کي دی د مرزا علیه اللعن زیری وي او د نبي صلی الله علیه وسلم ذکر دي نه وي. والعیاذ بالله له خدای څخه خوف پکار دی چي مورډ خدای له افضل الرسل څخه هم مرزا علیه اللعن هم مخته کړو، حالانکه مرزا په کفارو کي هم د اعلی درجې کافر بلکه کافر جوړونکی دی چي مدعي د نبوت دی او د نصوص قطعیه منکر دی.

دوهمه خبره دا چي په قرآن کریم کي نوم ښودلی دی چي هغه مبشر به احمد وي، ایا د مرزا نوم خاص احمد دی که غلام احمد؟ په یاد لره چي د احمد په نامه سره خو د ده مریدان هم دی نشي پیژندلی او د غلام احمد په نوم سره یې تول دنیا پېژندي چي د دې څخه هغه مدعي نبوت کاذبه مراد دی.

دریمه خبره دا د کتلو وړ ده چي قرآن له نن څخه دیارلس سوه کاله مخکي خبر ورکوي چي هغه مبشر رسول راغلی دی، حالانکه هغه وخت د مرزا د آبا واجداد هم پته نه وه، نو دغه آیت تر آخره پوري ووایه:

(فلما جاءهم بالبينات) (سورة صف، آيت: ٦) يو ترجمه والا قرآن شريف په لاس كي واخله ويې ګوره د دې آيت څه ترجمه ده؟ يعني كله هغه رسول د معجزاتو سره دوى ته راغلى نو د ده معجزاتو ته كفارو ښكاره جادو وويل، نو د انصاف جنازه به نه وي وتلې چي كوم سړى حسب بيان قرآن شريف هغه وخت راغلى او د هغه معجزات سحر وګرځول شوې او هغه د عيسى عليه السلام څخه بعد هم دى، د هغه نوم احمد هم دى نو هغه به د دې پيش ګوهي مصداق نه ګرځي او هغه سړى چي د هغه د قرآني خبر په وخت نوم ونښان نه ؤ، نه د عيسى عليه السلام وروسته دى، نه ده هغه نوم احمد دى، نه د هغه مزعومه معجزات سحر وكهانت وګرځول شوى، بلكه دروا غ يې ويلي ؤ هغه د دې مصداق وګرځول شو، ايا د مخلوق عقل تللى ؤ چي دغه معجزات يې سحر ګرځولى، هغو غتې نشان دا ګرځولى ؤ چي محمدي ښځه به زما په نكاح كي راځي، حالانكه كه د ده په نكاح كي راشي بيا هم څه غټه معجزه ده؟! آخر په دنيا كي نكاحوي كيږي مګر خداى د مرزا له رسوا كيدو لپاره نكاح ورنكړه او محمدي ښځه ترو تازه د اولاد سره د بل په نكاح پاته شوه...... كه ته مفصل كتل غواړې نو "فيصله آسماني" مصنفه مولوي محمد علي صاحب مونګيري دا راوغواړه وې ګوره چي تا ته حقيقت ښكاره شي چي آيا عيسى عليه السلام د داسي سړي زيرى وركوي چي محض د يو ځواني ښځي سره نكاح لپاره تر يوې اوږدې مودې پوري د خپلو عزيزانو څومره قدر خو شامد كوي لنډه دا چي مرزا د يو سحر په ډول هم كار نه وكړي، مګر نجومي او عشقيه كار خو وكړي، خو په هغه كي هم څه امتياز ښكاره نكړي يو هندو ملا څومره حساب كولو سره ويلاى شي د مرزا پيشن ګوياني تر هغه زيات دروا غ ثابت شوې، دا وخت خو زما مقصد تفصيل نه دى د دې وجي تا ته دا مشوره دركوم چي ته يو ځل خامخا د ده د رد كتابونه هم وګوره چي پر تا حقيقت حال ښكاره شي.

څلورم پر دې هم غور وكړه چي د (وهو يدعى الى الاسلام) څه معنى ده؟ پوره آيت دا رنګه دى: (ومن اظلم ممن افترى على الله الكذب وهو يدعى الى الاسلام) (سورة صف، آيت: ٧) د يو مسلمان مترجم په قرآن كي د دې ترجمه وګوره چي پر تا د مرزايانو دوكه وركول ښه ښكاره شي.

ترجمه دا شان ده: تر دې به زيات ظالم کوم سړی وي چې پر الله تعالی باندې دروغ تړي په داسي حال کي چې دی د اسلام طرفته رابلل کيږي، د خدای د نبي وطرفته ظاهره ده چې پر خدای افتراء کول ډير غټ جرم دی، مګر په داسي حال کي افتراء کول چې د خدای رسول يې د اسلام طرفته رابولي ډير غټ ظلم دی، لهذا د هو مرجع من اظلم ده چې په حقيقت کي مکذبين دی رسول نه دی، که د آيت ترجمه داسي وشي لکه مرزائي چې وايي نو پر ځای د دې چې مرزا نبي ثابت شي د اعلی درجې مفتري ګرځي، ځکه چې د پوره آيت ترجمه خو دا شان ده چې د داسي سړی څخه به زيات ظالم څوک وي چې پر خدای افتراء کوي په داسي حال کي چې دی د اسلام طرفته رابلل کيږي، اوس که د (وهو يدعی الی الاسلام) څخه مراد مرزا دی، نو مرزا تر ټولو لوړی دروغجن او ستر ظالم ګرځي، ځکه چې (وهو يدعی الی الاسلام) په قرآن کي د هغه چا په اړه ويل شوي دي چې پر الله دروغ وايي او په داسي حال کي دروغ وايي چې ده ته د اسلام لور ته بلنه هم ورکول کيږي او بله خبره دا چې دا فکر هم وکړي چې که د (وهو يدعی الی الاسلام) څخه مراد مرزا دی، نو بيا د قرآن شريف څخه داسي معلوميږي چې هغه سړی د اسلام طرفته رابلل کيږي، مګر مرزا د خيال موافق مورږ د دې له انکار څخه کافران ګرځو، نو ايا زموږ د مذهب نوم خداوند عالم اسلام ايږدي، د دې څخه خو معلوم شو چې مرزا کافر دی او د ده مخالف مسلمان دی او د دې وجې دی د اسلام طرفته رابولي او د دې وجې خدای د دې د مذهب نوم اسلام ايږدي او که په آيت کي: وهو يدعی الی الکفر وای بيا هم يو خبره وه، وګوره د دې نظير په قرآن مجيد کي بل ځای هم شته (الشيطان يعدکم الفقر ويامرکم بالفحشاء والله يعدکم مغفرة منه وفضلاً) (سورة بقره، آيت: ۲۶۸) يعني شيطان وعده کوي ستاسو سره د فقر او امر کوي تاسو ته د بدو کارو او الله تعالی ستاسو سره د مغفرت او فضل وعده کوي، اوس وګوري چې شيطان چا ته دوکه ورکوي هغه دی مغفرت او فضل ګرځوي، مګر خدای د دې نوم فقر او فحشاء ايږدي، دغه رنګه که د مرزا مخالف کافر وای نو خدای تعالی وهو يدعی الی الکفر ويل.

پنځم د دې بعد په آخر کي يوه فيصله کونکی خبره عرض کوم هغه دا چې مرزائي خو وايي چې مرزا د عيسی عليه السلام زيری دی، مګر نبي صلی الله عليه وسلم فرمايي: زه د عيسی عليه السلام زيری يم، اوس

ته پخپله فيصله وکړه، چا ته ترجيح ورکوې؟ په روايت تفسير ابن کثير کي دغه رنګه مذکور دي: قالوا: يا رسول الله! اخبرنا عن نفسک، قال: دعوة ابي ابراهيم وبشرى عيسى الحديث..... وهذا اسناد جيد وروى له شواهد من وجوه اخر الخ(۱) يعني نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زه د عايم د ابراهيم عليه السلام او زيرى يم د عيسى عليه السلام، دغه رنګه په تفسير فتح البيان کي دي: عن ابي موسى قال: امر رسول الله صلى الله عليه وسلم اصحابه ان ياتوا النجاشي وذكر الحديث، وفيه قال: سمعت النجاشي يقول: أشهد ان محمداً رسول الله وانه الذي بشر به عيسى الخ. (۲) حضرت نجاشي فرمايي چي زه ګواهي ورکوم چي محمد صلى الله عليه وسلم د الله تعالى پيغمبر دى او دى هم هغه نبي دى چي د هغه زيرى عيسى عليه السلام ورکړى دى.

د ډبرو په دوږخ کي د سوځولو حکمت

(۱۲۳) (وقودها الناس والحجارة) ټولي ډبري په دوږخ کي سوځول کيږي که خاص؟ د ډبرو څه قصور دى؟ (۱۳۴۲/۱۲۹۳هـ)

جواب: مفسرين د (وقودها الناس والحجارة) (سورة تحريم، آيت: ۲) په تفسير کي كاصنامهم منها (۳) تحرير کوي چي په دغه ډبرو کي بت هم شامل دى او نوري ډبري هم، ليکن د ټولو ډبرو وقود نار (د اور د بليدو شى) کيدل ضروري نه دى، څومره قدر چي الله تعالى وغواړي هغومره قدر ډبري د دوږخ وقود نار (د اور د بليدو شى) به کيږي او د ډبرو قصور کيدل ضروري نه دى، بلکه د دې څخه غرض تذليل عابدين اصنام دى او کوم بل حکمت هم کيداى شي. فقط والله تعالى اعلم

د ونهي النفس عن الهوى کي د هوى څخه کوم خواهشات مراد دي؟

(۱۲۴) قوله تعالى: (واما من خاف مقام ربه ونهي النفس عن الهوى) (سورة نازعات، آيت ۴۰)

---

۱) تفسير ابن کثير: ۳۴۲/۸، تفسير سورة الصف، المطبوعة مطبعة المنار مصر.

۲) فتح البيان في مقاصد القرآن، ۳۱۴/۹، تفسير سورة الصف، المطبوعة المطبعة الكبرى الميرية، مصر.

۳) تفسير الجلالين، ص: ۴۲۵، تفسير سورة التحريم

کې هوی کوم خواهش ته ویل کیږي؟ حالانکه نفس همیشه ښه خوراک، ښه لباس (جامه) ښائسته مکان، حسین شهوات او نورو خواهش کول چې في نفسه جائز دی، لیکن که تر حد تجاوز وکړ، نو ناجائز دی، مثلاً د دغه شیانو تر لاسه کولو کې د مال او دولت ضرورت دی چې د زړه د غوښتلو موافق نه ملاویږي، نو په حرص او نور مذموم اخلاق کې مبتلا کیږي. (۲۲۲۲/۳۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: هوی څخه مراد معاصي دی، یعنې هغه خواهشات نفسانیه دي چې د معاصي طرفته رابولي.

په لم یخلق مثلها في البلاد کې د مثلها ضمیر مرجع څه ده؟

(۱۲۵) په "لم یخلق مثلها في البلاد" (سورة فجر، آیت: ۸) کې د مثلها ضمیر د عاد قوم ته راجع دی که باغ ارم ته؟ کوم چې شداد جوړ کړی ؤ، په دې کې د مفسرینو څه رایه ده؟ (۸۲۷/۱۳۴۵ھ)

جواب: په دې کې اختلاف دی، تا ته د دې اختلافات په تحقیق پسې لګیدل نه دي پکار او د ضمیر مرجع دواړي کېدای شي (۱) لکه په تفسیر معالم التنزیل کې دواړه قول نقل کړی دی (۲) فقط.

په سورة ماعون کې د ماعون څخه څه مراد دی؟

(۱۲۶) د سورة (ارایت الذي) د آخري آیت څخه څه مطلب دی؟ او پر کومه موقع نازل شو؟ (۱۲۱۰/۱۳۴۵ھ)

---

۱) په فوائد عثماني کې دی:
یعني هغه وخت په دنیا کې د دوی پشان کوم مضبوط وطاقتور قوم نه ؤ، یا د هغو د عمارتونو پشان نه ؤ. (فوائد عثماني مع ترجمه شیخ الهند، ص: ۷۹۰، سورة فجر، آیت: ۸، حاشیه نمبر: ۴)

۲) وقوله (لم یخلق مثلها في البلاد) ای لم یخلق مثل تلک القبیلة في الطول والقوة، وهم الذین قالوا: "من اشد مناقوة" وقیل سموا ذات العماد لبناء بناه بعضهم فشید عمده ورفع بنائه، یقال: بناه شداد بن عاد علی صفة لم یخلق في الدنیا مثله، وسار الیه في قومه فلما کان منه علی مسیرة یوم ولیلة بعث الله علیه وعلی قومه صیحة من السماء فأهلکتهم جمیعًا. (تفسیر معالم التنزیل للبغوي، ص: ۹۷۳، تفسیر سورة الفجر.)

جواب: د سورة (ارایت الذي) په آخر کي آیت "فویل للمصلین الذین هم عن صلاتهم ساهون الذین هم یراءون، ویمنعون الماعون" (سورة ماعون، آیت: ۴-۷) ترجمه دا ده: "نو خرابي ده د هغو خلکو لپاره چي له لمانځه څخه غفلت کوي، که یې کوي نو په ریا سره کوي او د هغه خلکو لپاره چي د استعمال شیان چا ته په عاریةً نه ورکوي یا د زکات مال نه ورکوي"

د حضرت علي او ابن عمر رضی الله عنهم او نورو څخه دا تفسیر منقول دي چي ماعون څخه مراد زکاة دی او د ابن عباس رضی الله عنهما او نورو څخه منقول دی چي د تبر، سولاغه او نور مراد دی چي کوم شیان پخپل منځ کي یو بل ته ورکول کیږي او بعض مفسرینو وفرمایل: په ماعون کي د زکاة څخه ونیسي کوچني کوچني شیان چي عاریة ورکول کیږي داخل دی. لنډه دا چي که زکوة مراد واخیستل شي نو بیا خو هیڅ خبره نشته او که سولاغه، تبر او نور په عاریة ورکول مراد وي نو بیا یې مطلب دا دی چي که چا ته د کوم شي ضرورت پیښ شي او هغه یې په عاریة وغواړي او د غوښتل شوي سره ورسره هم وي نو بیا انکار کول ښه کار نه دی، او ځینو مفسرینو فرمایلي دي چي دا آیت له "فویل للمصلین" څخه تر پایه د منافقینو په اړه رانازل شوی دی، له حضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه همداسي منقول دی په معالم التنزیل کي راغلي دي: قال ابن عباس رضی الله عنهما: هم المنافقون الخ. (۱) فقط والله تعالی اعلم

د څو آیتونو تفسیرونه

(۱۲۷) څه فرمایي علماء دین ومفتیان شرع متین په دې مسئلو کي چي یو سړی مولوي عبد الله شاه صاحب د دې آیتونو دا تفسیرونه کړي دي چي لاندي درج دي دا تفسیرونه صحیح دي کنه؟

---

۱) (ویمنعون الماعون) روی عن علي رضی الله عنه انه قال: هي الزکوة وهو قول ابن عمرو الحسن وقتادة والضحاک، وقال عبد الله بن مسعود: الماعون: الفأس والدلو والقدر واشباه ذلک، وهي روایة سعید بن جبیر عن ابن عباس رضی الله عنهم، قال مجاهد: الماعون: العاریة، وقال عکرمة اعلاها الزکوة المعروفة وادناها عاریة المتاع، وقال محمد بن کعب والکلبي: الماعون: المعروف الذي یتعاطاه الناس فیما بینهم..... وقیل: الماعون: ما لا یحل منعه مثل الماء والملح والنار. (تفسیر معالم التنزیل، ص: ۹۹۲، تفسیر سورة الماعون)

او مطابق د مذهب اهل سنت دی کنه؟ که صحیح دی نو په قرآن مترجم مولنا شاه عبد القادر صاحب محدث دهلوي رحمه الله او محمود الحسن صاحب رحمه الله او تفسیر کشاف او نورو کي ولي د دې خلاف لیکلي دي؟ کنه دی نو د مولوي صاحب غلطي ده کنه؟ او د آیتونو صحیح تفسیر مع شان نزول او مقام نزول او احادیث صحیحه چي د دې آیتونو په هکله دي او اقوال صحابه رضی الله عنهم اجمعین مي خبر کړ. هغه آیتونه دا دي. (۱) فقط والله تعالی اعلم.

(الف) د آیت تطهیر تفسیر او د حدیث کساء مطلب

(الف) د آیت تطهیر: "انما یرید الله لیذهب عنکم الرجس" الآیة (سورة احزاب. آیت ۳۳) تفسیر مولوي صاحب مذکور دا وکړ چي دا آیت په شان د حضرت علي او فاطمه وحسن وحسین رضی الله عنهم کي نازل شوي دي او هغه د دې مخاطب دي. ځکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم اهل بیت هم دوی دي او د لیل د دې حدیث کساء پیش کوي.

جواب: (الف) د حدیث مقتضا صرف دا ده چي په اهل بیت کي دا خلګ هم دي او د دوی سوا ازواج مطهرات او نور هم داخل دي او "حدیث کساء" مستدل د شیعه دي، د هغه څخه دوی د اهل بیت اطلاق صرف پر حضرت فاطمه وحسنین وعلي رضی الله عنهم لپاره ثابت کول غواړي، مګر دا استدلال او د هغو مقصد غلط دی، الفاظ روایت مساعدت نکوي. (۲)

---

۱) په رجستر کي اول ټول سوالونه، بیا د هغه جوابونه، د دې بعد عربي عبارتونه درج دي، مورږ هر آیت په هکله سوال او د هغه جوابونه یو ځای اینبي دي چي په ځان پوه کولو کي څه مشکل رانه شي، ۱۲

۲) حضرت مولنا مفتي سعید احمد صاحب پالن پوري په تحفة الالمعي شرح جامع الترمذي کي لیکي: یو ځل نبي صلی الله علیه وسلم له خپل ازواج څخه ناراض شو تر یوې میاشتي پوري ایلاء کړې وه چي میاشته پوره شوه نو د سورة احزاب یوه پوره رکوع نازله شوه په هغه کي نبي صلی الله علیه وسلم ته حکم ورکول شوی دی چي خپلي کور والاوو ته اختیار ورکړه، که څوک غواړي چي په تنګي او تکلیف کي ستا سره اوسیږي او چي څوک د دنیا آرام وراحت غواړي هغه دي ستا څخه جلاوالی اختیار کوي، ټولو ازواج ذات نبوي ته د دنیا پر آرام وراحت باندي ترجیح ورکړه او د نبي صلی الله علیه وسلم سره اوسیدل یې خوښ کړه، د دې واقعه په ضمن کي دا آیت دی: ---

--- "انما يريد الله ليذهب عنكم الرجس اهل البيت ويطهركم تطهيرًا" يعني الله تعالى ته دا منظوره ده: ای د نبي کور والاوو چي ستاسو څخه آلودګي لیري کړي او تاسو پاکي کړي، شیعه وايي: د دې آیت مصداق حضرت علي، حضرت فاطمه او حضرات حسنین رضی الله عنهم دي او هغه اهل بیت دي او دوی ته دا غلط فهمي د یو حدیث څخه شوې ده، هغه حدیث دا دی چي یو ځل نبي صلی الله علیه وسلم ام سلمه رضی الله عنها په کور کي ؤ، ده پر ځان یوه شړۍ اچولې وه، حضرت حسن چي کوچنی ؤ راغلی، ده په شړۍ کي کړ، بیا حضرت حسین راغلی هغه یې په شړۍ دننه کړی بیا بي بي فاطمه رضی الله عنها راغله نو نبي علیه الصلام والسلام دا هم په شړۍ کي دننه کړه، بیا حضرت علي رضی الله عنه رغلی، ده په شړۍ کي کړی او په خپله دباندي راووتی او دعا يې وکړه چي ای الله! دا زما اهل بیت دي له دوی څخه پلیتي لیري کړې او دوی پاک صاف وساتې، حضرت ام سلمه رضی الله عنها چي دا د رحمت بهیدونکې واله ولیده نو رامیدان یې کړه او عرض یې وکړ ما هم په شړۍ کي واخله نبي صلی الله علیه وسلم دا تر شړۍ لاندي نه کړه او وفرمایل: انت علی خیر د دې جملې مطلب دا دی چي ته له اوله په اهل بیت کي داخله یې یعني ته خو د آیت په شان نزول یې ځکه د دغه آیتونو اصل مصداق ازواج مطهرات دي مګر حضور صلی الله علیه وسلم د دې آیت په عموم کي د دغه څلور هم شامل کول وغوښت او د دې لپاره دعا وکړه، یقینًا د دغه دعا به قبوله شوې وي. بس نو څرنګه چي د آیت اصل مصداق ازواج مطهرات دي او حضرات اربعه د هغه سره ملحق دي، د دغه شان آیت (لمسجد اسس علی التقوی) اصل مصداق مسجد قباء دی او مسجد نبوي د هغه سره ملحق دی، مګر د خارجي قرائن پر بناء مسجد نبوي په اولی درجه مصداق دی، یعني ملحق به مختته شو، ځکه نبي صلی الله علیه وسلم په دې کي لس کاله پر له پسي لمونځونه ورکړي دي او د حضرات اربعه پر ازواج مطهرات دا فضیلت لپاره هیڅ یو قرینه نشته د دې وجي اصل یعني ازواج مطهرات او ملحق به یعني حضرات اربعه د اهل بیت په مصداق کي برابر دی. والله تعالی اعلم (تحفة الالمعي: ۱۴۳/۲، ۱۴۴، کتاب الصلاة، باب ماجاء في المسجد الذي اسس على التقوى، رقم الحديث: ۳۲۳)... همدغه شان حضرت موصوف یو بل ځای لیکي:

څلور تنه یعني حضرات فاطمه، حسن، حسین او علي رضی الله عنهم په اهل بیت کي شمولیت: د دعاء نبوي په برکت سره وشو، د اهل بیت اصل مصداق ازواج مطهرات رضی الله عنهن دي، ځکه چي په سورة الاحزاب کي د آیات تخییر بعد په پنځه آیتونو کي د ازواج مطهرات لپاره مختلف هدایات، نصائح او فضائل بیان شوي دي او د هغو په منځ کي دا آیت راغلی دی: --

--- "انما یرید الله لیذهب عنکم الرجس اهل البیت ویطهر کم تطهیرًا ": الله تعالی ته دا منظور دي چي ای د نبي کور والاوو ! ستاسو څخه پلیتي لیري کړي او تاسو هر رنګه پاک صاف کړي، په اهل البیت کي الف لام عهدي دی او مراد د نبي صلی الله علیه وسلم کور دی او له کور والاوو څخه مراد د ده ازواج دي او د دې قرینه دا ده چي په پوره رکوع کي خطاب ازواج ته دی او سورة هود، رکوع ۷ کي هم د اهل البیت څخه حضرت ساره رضی الله عنها مراد ده چي د حضرت ابراهیم علیه السلام کور والا وه، مګر آیت عام دی، ځکه چي په عنکم او یطهرکم کي ضمیرونه د مذکر استعمال شوي دي د دې وجي نبي صلی الله علیه وسلم د نزول آیت سره نبي صلی الله علیه وسلم څلور تنه د یوې شړې لاندي کړه او دعا یې وکړه: الهي ! دا زما کور والا دي، دا دعا الله تعالی قبوله کړه، لکه په (یو) بل حدیث کي د نبي صلی الله علیه وسلم څلورو تنو ته د اهل بیت خطاب مروي دی.

حدیث: د نبي صلی الله علیه وسلم روزلی حضرت عمر بن ابي سلمه رضی الله عنه وایي: کله چي پر نبي صلی الله علیه وسلم د ام سلمه په کور کي دغه آیت نازل شو: الله تعالی ته دا منظور دي چي ای د نبي کور والاوو ! ستاسو څخه پلیتي لیري کړي او تاسو هر رنګه پاک صاف کړي، نو نبي صلی الله علیه وسلم حضرات فاطمه، حسن او حسین رضی الله عنهم یې راوغوښتل بیا یې پر هغه یو څادر واچاوی او حضرت علي رضی الله عنه د ده شا ته ناست ؤ، بیا یې پر هغو شړې واچوه، بیا یې دعا وکړه: الهي ! دا خلک (هم) زما کور والا دي بس نو له دوی څخه پلیتي لیري کړه او دوی ښه پاک او صفا کړه "......

حضرت ام سلمه رضی الله عنها وویل: او زه (هم) د وی سره یم ای د الله نبي ! نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "ته پر خپل ځای او سیره ته پر غټ خیر یې ".

تشریحات:

۱- د څلورو تنو لپاره د دعا ضرورت د دې وجي پیښ شو چي هغه د دې آیت مصداق اولین نه ؤ، آیت د ازواج مطهرات په هکله نازل شوی ؤ، مګر د آیت اسلوب خو عام ؤ، په دې کي د مؤنث پر ځای د مذکر ضمیرونه استعمال شوي ؤ او د ده دعا په برکت سره څلور تنه هم په آیت کي شامل کړل شوه.

۲- حضرت ام سلمه رضی الله عنها هم په څادر کي راتلل غوښت، مګر د هغې ضرورت نه ؤ د دې وجي هغې ته یې وفرمایل: "ته پر خپل ځای او سیره او ته پر غټ خیر یې " یعني ته خو د آیت شان نزول یې، ایت ستاسو ازواج مطهرات په هکله نازل شوی دی بس نو تاسو د آیت مصداق اولین یاست، تاسو ته د نبوي دعا حاجت نشته

(تحفة الالمعي: ۳۹۲/۷-۳۹۷، ابواب تفسیر القرآن، د څلور تنو په اهل بیت کي شامل کیدل، رقم الحدیث: ۳۲۲۹)

"انما يريد الله ليذهب عنكم الرجس اهل البيت ويطهركم تطهيرًا " په معالم التنزيل کي دي:

واراد باهل البيت نساء النبي صلى الله عليه وسلم لانهن في بيته وهو رواية سعيد ابن جبير عن ابن عباس رضى الله عنهما وتلا قوله: "واذكرن ما يتلى في بيوتكن من آيت الله " (الاحزاب: ٣۴) وهو قول عكرمة ومقاتل، وذهب ابو سعيد الخدري رضى الله عنه وجماعة من التابعين منهم مجاهد وقتادة وغيرهما الى انهم علي وفاطمة والحسن والحسين رضى الله عنهم.

حدثنا ابو الفضل زياد بن محمد الحنفي، اخبرنا ابو محمد عبد الرحمن بن محمد الانصاري، اخبرنا ابو محمد يحيى بن محمد صاعدي، اخبرنا ابو همام الوليد بن شجاع، اخبر يحيى بن زكريا بن زائدة، انا ابي عن مصعب بن شيبة عن صفية بنت شيبة الحجبية عن عائشة ام المؤمنين قالت: خرج رسول الله صلى الله عليه وسلم ذات غداة وعليه مرط مرحل من شعر اسود فجلس، فاتت فاطمة فادخلها فيه، ثم جاء علي فادخله فيه، ثم جاء حسن فادخله فيه، ثم جاء حسين فادخله فيه، ثم قال: "انما يريد الله ليذهب عنكم الرجس اهل البيت ويطهركم تطهيرًا ".

اخبرنا ابو سعيد احمد بن محمد الحميدي اخبرنا ابو عبد الله الحافظ، اخبرنا ابو العباس محمد بن يعقوب، حدثنا الحسن بن مكرم، اخبرنا عثمان بن عمر، حدثنا عبد الرحمن بن عبد الله بن دينار عن شريک بن ابي نمر عن عطاء بن يسار عن ام سلمة رضى الله عنها قالت: في بيتي نزلت "انما يريد الله ليذهب عنكم الرجس اهل البيت" قالت: فارسل رسول الله صلى الله عليه وسلم الى فاطمة وعلي والحسن والحسين، فقال: هؤلاء اهل بيتي قالت: فقلت: يا رسول الله ! اما انا من اهل البيت، قال: "نعم ان شاء الله تعالى" قال زيد بن ارقم: اهل بيته من حرم الصدقة عليه بعده آل علي وآل عقيل وآل جعفر وآل عباس رضى الله عنهم (۱)

او دا آیت په مدینه کي نازل شو، ځکه چي سورة احزاب مدني دی او دا هم صحیح دی

۱) تفسير معالم التنزيل، ص: ۷۱۲، تفسير سورة الاحزاب.

چي شیعه ګان له حدیث کساء څخه استدلال کوي او صرف حضرت فاطمه او حضرت علي او د هغو زامن ته اهل بیت وايي او اهل سنت والجماعت وايي چي د حدیث کساء څخه حضرت علي او حضرت فاطمه او د دوی د زامنو اهل بیت کیدل خو ثابت دي. مګر د حدیث دا مطلب نه دی چي د مذکورین ماسیوا بل هیڅ څوک په اهل بیت کي داخل نه دي، بلکه مطلب د حدیث دا دی چي دا هم اهل بیت دي او د دوی ماسیوا ازواج مطهرات وغیرهم هم په اهل بیت کي داخل دي، څرنګه چي په تفسیر بیضاوي کي دي: والحدیث یقتضي انهم اهل ابیت لا انه لیس غیرهم انتهی. (۱)

(ب) د آیت مودت قربی مختلف تفاسیر

(ب) د آیت مودة في القربی: "قل لا اسالکم علیه اجرًا " الایة (سورة شوری، آیت: ۲۳) تفسیر مولوي صاحب په دې سره وکړ چي الله تعالی فرمایي: ای نبي! ووایه زه په تبلیغ دین اجرت نه غواړم مګر غواړم چي زما له قرابت والاوو سره محبت وساتي، د نبي قرابت والاوو کوم خلګ دي؟ علي، فاطمه، حسن، حسین رضی الله عنهم....

جواب: (ب) په دې کي د صحابه اختلاف دی. (۲)

---

۱) تفسیر انوار التنزیل بیضاوي: ۱۸۰/۲، سورة الاحزاب. المطبوعة: نول کشور، لکهنؤ.

۲) په ترجمه شیخ الهند او فوائد عثماني کي دي:
"ته ووایه زه نه غواړم ستاسو څخه پر دې هیڅ بدله مګر دوستي غواړم په قرابت کي" یعني د قرآن پشان دولت تاسو ته درکوم او د ابدي نجات وفلاح لار درښیم او د جنت زیری دربانديکوم، دا محض لوجه الله دی. د دې خیر خواهي او احسان هیڅ بدله نه غواړم، صرف یوه خبره غواړم چي ستاسو سره زما کوم نسبي وخانداني تعلقات دي لږ تر لږه هغه ته خو وګورئ، آخر ستاسو معالمه د قریبانو او رشته دارانو سره څه وي؟ ډیر وخت د هغو بې ځایه حمایت کوئ، زما خبره دا ده، که تاسو زما خبره نه منئ. مې منئ، زما دین نه قبلوئ یا زما تائید او حمایت کي نه دریږئ مه دریږئ. مګر لږ تر لږه قرابت ورحم خیال ساتلو سره د ظلم او تکلیف رسولو څخه راوګرځئ او ما ته دومره آزادي راکړئ چي زه د خپل پروردګار پیغام دنیا ته ورسوم، آیا د دومره دوستۍ او فطري محبت مستحق نه یم؟ --

لکه چي د وهم ورقه مفصل ليکل شوي دي (۱)

"قل لا اسئلكم عليه اجرا الا المودة في القربى" اخبرنا عبد الواحد بن احمد المليحي، اخبرنا احمد بن عبد الله النعيمي، اخبرنا محمد بن يوسف، حدثنا محمد بن اسماعيل، حدثنا محمد بن بشار، حدثنا محمد بن جعفر، حدثنا شعبة عن عبد الملك ابن ميسرة، قال: سمعت طاؤساً عن ابن عباس رضى الله عنهما انه سئل عن قوله: "الا المودة في القربى" فقال: سعيد بن جبير "قربى" آل محمد صلى الله عليه وسلم فقال: ابن عباس رضى الله عنهما: عجبت ان النبي صلى الله عليه وسلم لم يكن بطن من قريش الا كان له فيهم قرابة، فقال: الا ان تصلوا ما بيني وبينكم من القرابة

وكذلك روى الشعبى وطاؤس عن ابن عباس رضى الله عنهما قال: "الا المودة في القربى" يعني ان تحفظوا قرابتي وتودوني وتصلوا رحمي، واليه ذهب مجاهد وقتادة وعكرمة ومقاتل والسدي والضحاک رضى الله عنهم، وقال عكرمة: لا اسئلكم على ما ادعوكم اليه اجرًا الا ان تحفظوني وقرابتي بيني وبينكم، وليس كما يقول الكذابون

--- یادونه: د آیت دا معنی د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه په صحيحين کي منقول ده، بعض سلف د الا المودة في القربى مطلب دا اخيستى دى چي تاسو پخپل منځ کي يو د بل سره محبت کوئ او حق قرابت رسوی او بعضو د قربى څخه د الله تعالى قرب او نژدې والى مراد اخيستى دى، يعني د هغه کارو محبت چي د خدای سره قريب کوونکی دی، مگر صحيح او راجح تفسير هغه دى چي موږ اول نقل کړی، بعض علماوو د مودة في القربى څخه د اهل بيت نبوي محبت مراد اخيستلو سره دا معنى کړې ده چي زه ستاسو څخه پر تبليغ هيڅ بدله نه غواړم، بس دومره غواړم چي زما د اقارب سره محبت کوئ، هيڅ شک نشته چي د اهل بيت او اقارب نبي صلى الله عليه وسلم محبت وتعظيم او حقوق پيژندل پر امت لازم واجب او جز وايمان دى او د هغو سره درجه په درجه محبت ساتل په حقيقت کي د نبي صلى الله عليه وسلم سره محبت باندي متفرع دی، ليکن د آيت هذا تفسير دغه شان کول د شان نزول او روايات صحيحه خلاف کيدو ماسيوا د حضور صلى الله عليه وسلم شان رفيع مناسب نه معلوميږي

(ترجمه شيخ الهند وفوائد عثماني، ص: ۶۴۲، سورة شورى، آيت: ۲۳، حاشيه نمبر: ۳)

۱) يعني مخته چي کوم عربي عبارت راځي په هغه کي د دې تفصيل مذکور دی ۱۲

و روی ابن ابي نجيح عن مجاهد عن ابن عباس رضى الله عنهما في معنى الآية الا ان تو ادوا الله و تتقربوا اليه بطاعته، وهذا قول الحسن، قال: هو القربى الى الله يقول الا التقرب الى الله، و التودد اليه بالطاعة والعمل الصالح، وقال بعضهم: معناه الا ان تودوا قرابتي وعترتي وتحفظوني فيهم، وهو قول سعيد بن جبير وعمر وبن شعيب.

واختلفوا في قرابته، قيل: هم فاطمة الزهراء وعلي وابناهما، وفيهم نزل: "انما يريد الله ليذهب عنكم الرجس اهل البيت" وروينا عن يزيد بن حيان عن زيد بن ارقم عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: اني تارک فيکم الثقلين: کتاب الله واهل بيتي، اذکر کم الله في اهل بيتي، قيل: لزيد بن ارقم من اهل بيته، قال: هم آل علي وآل عقيل وآل جعفر وآل عباس رضى الله عنهم.

اخبرنا عبد الواحد المليحي، اخبرنا احمد بن عبد الله النعيمي، اخبرنا محمد بن يوسف، حدثنا محمد بن اسماعيل حدثنا عبد الله بن عبد الوهاب، حدثنا خالد، حدثنا شعبة عن واقد، قال: سمعت ابي يحدث عن ابن عمر عن ابي بکر رضى الله عنهم قال: ارقبوا محمدا في اهل بيته، وقيل: هم الذين تحرم عليهم الصدقة من اقاربه، ويقسم فيهم الخمس، وهم بنو هاشم وبنو المطلب الذين لم يفترقوا في جاهلية ولا في اسلام.

وقال قوم: هذه الآية منسوخة، وانما نزلت بمكة وكان المشركون يؤذون رسول الله صلى الله عليه وسلم فانزل الله هذه الآية، فامرهم فيها بمودة رسول الله صلى الله عليه وسلم وصلة رحمه، فلما هاجر الى المدينة وآواه الانصار ونصروه احب الله عز وجل ان يلحقه باخوانه من الانبياء عليهم السلام حيث قالوا: "وما اسئلكم عليه من اجر ان اجري الا على رب العالمين" (الشعراء: ۱۰۹) فانزل الله تعالى "قل لا اسئلكم عليه اجرا" (الانعام: ۹۰) "قل ما سالتكم من اجر فهو لكم ان اجرى الا على الله" (السباء: ۴۷) فهي منسوخة بهذه الآية، وبقوله: "قل مآ اسئلكم عليه من اجر ومآ انا من المتكلفين" (ص: ۸۲) وغيرها من الآيات، والى هذا ذهب الضحاک بن مزاحم والحسين بن الفضل وهذا قول غير مرضي لان مودة النبي صلى الله عليه وسلم وكف الاذى عنه،

ومودة اقاربه والتقرب الى الله بالطاعة والعمل الصالح من فرائض الدين. وهذه اقاويل السلف في معنى الآية، فلا يجوز المصير الى نسخ شيء من هذه الاشياء.[۱] فقط.

(ج) د آیت ولایت مختلف تفاسیر

(ج) د آیت ولایت: "انما وليكم الله ورسوله" (سورة مائده، آیت: ۵۵) تفسیر یې دا وکړ چې دا آیت د حضرت علي کرمه الله وجهه په شان کې نازل شوی دی او روایت یې دا بیان کړ چې یو وار حضرت علي رضی الله عنه لمونځ کاوه، یو سائل سوال وکړ، ده د رکوع په حالت کې ګوتمۍ سائل ته ورکړه، دغه وخت دا آیت نازل شو.

جواب: (ج) دا تفسیر هم صحیح دی (یعني په مختلف تفسیرونو کې دا هم یو تفسیر دی.)

"انما وليكم الله ورسوله والذين آمنوا" في معالم التنزيل: روى عن ابن عباس رضى الله عنهما انها نزلت في عبادة بن الصامت وعبد الله بن ابي بن سلول حين تبرأ عبادة من اليهود، وقال: اتولي الله ورسوله والذين آمنوا، فنزل فيهم من قوله: "ياايها الذين آمنوا لا تتخذوا اليهود والنصارى اولياء" (المائدة: ۵۷) الى قوله: "انما وليكم الله ورسوله والذين آمنوا" يعني عبادة بن الصامت واصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم

وقال جابر بن عبد الله: جاء عبد الله بن سلام الى النبي صلى الله عليه وسلم فقال: يا رسول الله! ان قومنا قريظة والنضير قد هجرونا وفارقونا واقسموا ان لا يجالسونا، فنزلت هذه الآية، فقراها عليه رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: يا رسول الله! رضينا بالله وبرسوله وبالمؤمنين اولياء. وعلى هذا التاويل اراد بقوله: "وهم راكعون" صلاة التطوع بالليل والنهار، وقاله: ابن عباس رضى الله عنهما.

وقال السدي: قوله: "والذين آمنوا الذين يقيمون الصلوة ويؤتون الزكوة وهم راكعون" (المائدة: ۵۵) اراد به علي ابن ابي طالب رضى الله عنه مر به سائل وهو راكع

---

۱) تفسیر معالم التنزیل، ص: ۷۹۲-۷۹۳، تفسیر سورة الشوری.

في المسجد فعضد ختمه. وقال جويبر عن الضحاک في قوله: "انما وليكم الله ورسوله والذين آمنوا" قال هم المؤمنون بعضهم اولياء بعض. وقال ابو جعفر محمد بن علي الباقر: "انما وليكم الله ورسوله والذين آمنوا" نزلت في المؤمنين. فقيل له ان ناساً يقولون انها نزلت في علي رضی الله عنه فقال: هو من المؤمنين.(۱)

وفي تفسير البيضاوي انها نزلت في علي رضی الله عنه حين ساله سائل وهو راكع فطرح له خاتمه الخ.(۲)

(د) د آیت ایفائي نذر مختلف تفاسیر

(د) د آیت "یوفون بالنذر ویخافون یومًا" (سورة دهر، آیت: ۷) مولوي صاحب دا تفسیر بیان کړ چي یو ځل حسنین رضی الله عنهما ناجوړه شول، رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوی د عیادت لپاره ولاړ. او ویې فرمایل که تاسو څه نذر وکړئ، نو ښه دی. حضرت علي او فاطمې رضی الله عنهم د روژو نذر وکړ، په کور کې د خوراک شی نه ؤ الخ مطابق روایت شیعه

جواب: (د) دا تفسیر هم صحیح دی:

"یوفون بالنذر" في معالم التنزيل: هذا من صفاتهم في الدنيا اى كانوا في الدنيا كذلک. قال قتادة: اراد يوفون بما فرض الله عليهم من الصلوات والزكوة والصوم والحج والعمرة وغيرها من الواجبات ومعنى النذر: الايجاب. وقال مجاهد وعكرمة: اذا نذروا في طاعة الله وافوا به. اخبرنا ابو الحسن السرخسي اخبرنا زاهر بن احمد، اخبرنا ابو اسحاق الهاشمي. اخبرنا ابو مصعب عن مالک عن طلحة بن عبد الملک الايلي عن القاسم بن محمد عن عائشة زوج النبي صلى الله عليه وسلم ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: من نذر ان يطيع الله فليطعه ومن نذر ان يعصي الله فلا يعصه(۳)

---

۱) تفسیر معالم التنزیل للبغوي، ص: ۲۸۲، تفسير سورة المائدة.
۲) تفسیر معالم التنزیل للبیضاوي، ص: ۲۳۱/۱، تفسير سورة المائدة.
۳) تفسیر معالم التنزیل للبغوي، ص: ۹۴۹، تفسير سورة الدهر.

په تفسیر بیضاوي کي دي: وعن ابن عباس رضی الله عنهما ان الحسن والحسین رضی الله عنهما مرضا ، فعادهما رسول الله صلی الله علیه وسلم في ناس، فقالوا یا با الحسن ! لو نذرت علی ولدیک، فنذر علي وفاطمة رضی الله عنهما وفضة جاریة لهما صوم ثلاث ان برئا فشفیا وما معهم شيء فاستقرض علي رضی الله عنه من شمعون الخیبري ثلاثة اصوع من شعیر، فطحنت فاطمة رضی الله عنها صاعًا واختبزت خمسة اقراص، فوضعوا بین ایدیهم لیفطروا، فوقف علیهم مسکین فاثروه وباتوا ولم یذوقوا الا الماء، واصبحوا صیامًا ، فلما امسوا وضعوا الطعام وقف علیهم یتیم فاثروه، ثم وقف علیهم في الثالثة اسیر، ففعلوا مثل ذلک، فنزل جبرئیل علیه السلام بهذه السورة، وقال: خذها یا محمد هناک الله في اهل بیتک[1] فقط

(هـ) د سوره منافقون غلط تفسیر

(هـ) د آیت سوره منافقون په تفسیر کي دا تفسیر وکړ چي کله عبد الله بن ابي منافق ناجوړه شو نو ده خپل زوی چي د هغه نوم عبد الله ؤ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راولیږی چي یو کمیس واخله را یې وړه تر څو له عذاب څخه نجات وي، بس عبد الله ولاړی او عرض یې وکړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم یو نوی کمیس ورکړ، ده دا وویل بیرته ورولیږی چي زما نوی کمیس نه دی پکار، بلکه هغه کمیس پکار دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم استعمال کړی وي. کله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د ورکولو اراده وکړه نو حضرت عمر رضی الله عنه مانع شو او عرض یې وکړ چي دا منافق دی.

جواب: (هـ) د سوره منافقون چي کوم تفسیر چي مولوي عبد الله شاه بیان کوي صحیح نه دی او په کتب تفاسیر کي دا تفصیل مذکور نه دی.

(و) د سوره اخلاص غلط تفسیر

(و) د سوره اخلاص په تفسیر کي دا بیان کړی دی چي خدای ته "احد " وایاست "واحد "مه وایاست، ځکه د احد مخکي یو لفظ نشته او د واحد مخکي اثنان، ثلاثه، اربعه او نور دي.

۱) تفسیر انوار التنزیل للبیضاوي: ۴۰۳/۲، تفسیر سورة الدهر.

د استفتاء جواب مي په دواړو ژبو يعني په عربي او پښتو کې پکار دی، ځکه چې په نسبت د پښتو د عربي زيات ضرورت دی (۲۰۳۳/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: (و) د سوره اخلاص دا تفسر په کوم کتاب کې زما تر نظر نه دی تیر سوی فقط والله تعالی اعلم

ایا په لاندې دوو آیتونو کې تعارض شته؟

(۱۲۸) آیت کریمه: "انما یتقبل الله من المتقین" او آیت کریمه: "فمن یعمل مثقال ذرة خیرًا یره" (سورة زلزال، ایت: ۷) کې تعارض معلومیږي؟ (۱۰۷/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: د "تقوی" یوه معنی دا ده چې د کفر و شرک څخه راګرځیدل. بعض مفسرین د "انما یتقبل الله من المتقین" (سورة مائده، آیت: ۲۷) دا معنی بیان کوي چې الله تعالی بې خاص د مؤمنانو څخه قبلوي، نو په دغه صورت کې جمله مؤمنان په دې کې داخل دي که څه هم ګناهګار وي، اوس هیڅ تعارض نه شو پاته او یو مطلب دا دی چې قبول کامل د پرهیزګارانو څخه کیږي فساق وفجار څخه که څه هم اعمال صالحه قبلیږي مګر په داسې درجه مقبول نه دي لکه د متقیانو څخه په دې صورت کې هیڅ اشکال نشته. فقط والله تعالی اعلم

آیت: ما ادری ما یفعل بي ولا بکم منسوخ دی کنه؟

(۱۲۹) څه فرمایي علماء دین په دې مسئله کې چې د آیت شریفه: "ما ادری ما یفعل بي ولا بکم" (سورة حقاف، آیت: ۹) منسوخ دی کنه؟ د دې آیت ظاهر معنی څه ده او د کوم علم نفي دی؟ (۲۱۲/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: د دې آیت په ظاهر معنی کې هغه قول دی چې قاضي بیضاوي. ابو مسعود، شیخ زاده علي البیضاوي او نورو کې مذکور دي چې نفي د رایت مفصله دی که د امور دنیا په هکله وي که د آخرت، د دې په هکله چې د تخصیص لفظ موجود نه دی. په بیضاوي کې دي: "ما ادری ما یفعل بي ولا بکم" في الدارین علی

على التفصيل(۱) په شيخ زاده کې دي: اختلف في ان المراد بما نفي عنه علمه مما يفعل به وبهم من احوال الدنيا ام من احوال الآخرة والمصنف حمله على ما هو اعم من احوال الدنيا والآخره لعموم اللفظ وعدم المخصص.(۲) دا نفي دي د هغه علم چې بغير وحي وي ځکه چې د دې آيت سره دي: "ان اتبع الا ما يوحى" په بيضاوي کې دي: وهو جواب عن اقتراحهم الاخبار عما لم يوح اليه من الغيوب او استعجال المسلمين ان يتخلصوا من اذى المشركين (۱) د آيت دا مطلب په اعتبار د لفظ ظاهر او صريح دی او په دې صورت کې د نسخ ضرورت نشته، تفسير غرائب القرآن ورغائب الفرقان کې علامه نظام الدين حسن بن محمد بن حسين القمي النيسابوري فرمايي: والاصح عند العلماء انه لا حاجة الى التزام النسخ، فان الدراية المفصلة غير حاصلة، وعلى تقدير حصولها فانه لم ينف الا الدراية من قبل نفسه، وما نفي الدراية من جهة الوحي(۳) او امام رازي، ابن جرير بغوي او نورو د امور دنيا غير متعلق د نبوت د شان پر نفي محمول کړې دی او د دغه حمل وجه د شان نزول قصه ده د دغه اقوالو په اساس هم منسوخ نه دی او ځينو د آخرت د علم پر نفي حمل کړې دی، يعني ما ادري ما يفعل بي ولا بكم في الآخرة او د دغه حل وجه دا ده چې د دغه آيت د نزول بعد کفارو اعتراض کړی ؤ چې کله ده ته د خپل نجات خبر نشته، نو موږ ځرنګه ايمان راوړو؟ محققين خو د دې حمل انکار کوي، بلکه محال يې بولي، مګر د دې دوه صورته کيدای شي، د علم آخرت د نفي تخصيص هم که ومنل شي، نو هغه به علم اجمالي وي چې نفي شوی وی که تفصيلي، د علم اجمالي د نفي په صورت کې د آيت مطلب به دا وي چې د مړ کيدو بعد زما او ستاسو به څه حال وي، د دې علم اجمالي هم موږ ته نشته، نعوذ بالله، ځوک چې دغه مطلب اخلي هغه وايي د آيت "ليغفر لک الله"(سورة فتح، آيت۲) نزول بعد دا آيت منسوخ شو، مګر دا صحيح نه دی، امام جرير، ابن خزيمه، حسن بصري او نورو ناجائز او محال ورته ويلی دی چې

۱) انوار التنزيل واسرار التاويل للبيضاوي: ۲۹۲/۲، تفسير سورة الاحقاف
۲) تفسير شيخ زاده على تفسير القاضي البيضاوي: ۳۳۱/۳، تفسير سورة الاحقاف
۳) غرائب القرآن ورغائب الفرقان المعروف بتفسير النيسابوري على هامش جامع البيان في تفسير القرآن للطبري: ۷/۲۲، المطبوعة المطبعة الميمنية، مصر.

دا مطلب واخیستل شي او منسوخ ورته وویل شي، خکه په دې صورت کې تر ډیر وخت پورې د نبي کیدو سره واقعي ده ته په خپل نجات کې شک و چې صریح باطل دی. د دې ماسیوا د دې آیت مخکې سوره بني اسرائیل، جن، مزمل، مدثر، اعراف، مریم او نور نازل شوي وه، په هغه کې غټ غټ زیري د نبي صلی الله علیه وسلم په هکله موجود دي، بیا د نجات د علم نه حاصل کیدو څه معنی ده؟! که علم آخرت تفصیلي مراد وي نو منسوخ نه دی، دا ټولي معاني محکم وثابت غیر منسوخ دي، لنډه دا چې نسخ په هیڅ صورت کې نه صحیح کیږي، حالانکه د عموم لفظ څخه د عدول هم هیڅ وجه نشته.

حرره ابو البرکات محمد عبد الرؤف داناپوري

اقول بعد حمد الله والصلاة والسلام على رسوله! ان الراجح ما رجحه المحققون كالرازي والسيوطي وابن جرير وابي سعود والبغوي والخازن وابن عباس في تفسيره وغيرهم من المفسرين وابي جعفر النحاس في الناسخ والمنسوخ وغيرهم من علماء هذا الفن الذين لم يعدوا هذه الآية المذكورة في السؤال من المنسوخ كالسيوطي في اتقانه، حتى قال الشاه ولي الله الدهلوي: ان المجمع على نسخ خمس آيات فقط ليست هذه منها (١) من ان المراد بقوله تعالى: "وما ادري ما يفعل بي ولا بكم" في الدنيا لا في الآخرة لما يلزم على الثاني من عدم علم النبي بعد بعثته بما يصير اليه بعد الموت. وذلك خلل في ايمان من يعتقد ذلك وعليه فالراجح عدم النسخ كما صرح به غير واحد من المحققين والله اعلم، اما انا فالذي اعتقده واتق الله عليه هو ما ذهب اليه القاضي البيضاوي في تفسيره وهو ان الآية واردة في نفي علم رسول الله باحوال الدنيا والآخرة تفصيلاً لا اجمالاً حيث قال رضى الله عنه: ما نصه: "وما ادري ما يفعل بي ولا

---

١) قال السيوطي موافقًا لابن العربي: فهذه احدى وعشرون آية منسوخة، على خلاف في بعضها؛ ولا يصح دعوى النسخ في غيرها؛ والاصح في آيتي الاستئذان والقسمة الاحكام وعدم النسخ فصارت تسع عشرة آية؛ وعلى ما حررنا لا يتعين النسخ الا في خمس آيات. (الفوز الكبير مع العون الكبير، ص: ١٥٨، الفصل الثاني في معرفة الناسخ والمنسوخ، قبيل الفصل الثالث)

بكم " في الدارين على التفصيل اذ لا علم لي بالغيب(١) قلت: اي على التفصيل كلياتها وجزئياتها، اذ ذلک من اختصاصياته تعالى وحده لا شريک له وذلک لا ينافي ان الله تعالى اطلعه على كثير من المغيبات التي لم يطلع عليها احدا من خلقه سواه صلى الله عليه وسلم، هذا ما اعتقده، والسلام على من اتبع الهدى. فقط والله تعالى اعلم

حرره احمد موسى مصري امام مسجد كلكته

كله چي د يو جماعت مفسرين ومحقيقين علماوو په نزد بلا نسخ د آيت مطلب صحيح جوړيږي، نو بيا د نسخ احتمال غير ضروري دى، ماسيوا د دې په احتمال نسخ سره نسخ نشي كيداى، عبد الوهاب بهاري، مدرس مدرسه عاليه كلكته

القول بالنسخ في هذه الآية ممالا يحتاج اليه، لان لها محملاً صحيحا لا يحوم حوله النسخ مع ان النسخ بالاحتمال لا يثبت فالقول بانها محكم صحيح لا سترة فيه

عبد الصمد اسلام آبادي، مدرس مدرسه عاليه

لله در المجيب، فقد صرح بالصواب في الجواب. حرره العبد السيد محمد امير علي، مدرس مدرسة عالية

اجاب من اصاب. محمد يحيى مدرس مدرسة عالية

قد اصاب من اجاب. محمد عبد الشكور، مدرس مدرسة عالية كلكته

هذا الجواب صواب، وما احسن ما ذكر النيسابوري من معنى الدراية ان نفيه من جهة نفسه لا من جهة الوحي، والحق ان قرن الصحابة والتابعين لم ينقل منهم ان هذه الآية منسوخ مع ان الجمل الاخبارية لامجال للنسخ فيه، ومن ادعى النسخ فلا معول له عن جهة النقل، بل نهايته التاويلات الكاسدة.

حرره محمد ناظر حسن، مدرس مدرسه العاليه

دا آيت منسوخ نه دى او نه په دې كي احتمال نسخ شته، لانه خبر، او چا چي منسوخ ورته ويلي دي هغه مجازاً دى

محمد اسحاق، مدرس عاليه كلكته

---

١) انوار التنزيل واسرار التاويل للبيضاوي: ٢٩٢/٢، تفسير سورة الاحقاف

اقول وبالله التوفيق: اختلف في معنى الآية، فاختار بعض المفسرين كصاحب الجلالين: ان المراد نفي الدراية بالفعل به وبهم في الدنيا وهو منقول عن الحسن، وقال ابن الجوزي: الصحيح في معنى الآية قول الحسن واختار بعض المفسرين ان المرد نفي الدراية في الآخرة، وقدمه البغوي على الاول واسند في تائيده حديثًا في قصة عثمان ابن مظعون رضى الله عنه والله ما ادري وانا رسول الله ما يفعل بي ولا بكم قال البغوي: هو قول انس وقتادة وحسن وعكرمة وزاد القرطبي ابن عباس والضحاك ومعنى النسخ على قولي هؤلاء الاكابر من الصحابة والتابعين ان نفي الدراية قبل الاعلام بمغفرة الذنوب المتقدمة والمتاخرة، والغرض منه رد قول الكفار الذين فرحوا بنزول هذه الآية وقالوا: كيف نتبع نبيًا لا يدري ما يفعل به ولا بناء فانزل الله "ليغفر لک ما تقدم من ذنبک وما تاخر" (الفتح ۷۲) فقالت الصحابة رضي الله عنهم اجمعين هنيئاً لک يا نبي الله الخ وتفصيله في معالم التنزيل للبغوي(۱) واختار البيضاوي وغيره نفي الدراية في الدارين ولا مانع منه ولكن لا ينبغي ان يرد اقوال الاكابر ويعرض عن تفسير السلف فانهم هم المتبوعون والمعمول عليهم في هذا الباب والله تعالى اعلم بالصواب وعنده علم الكتاب.

كتبه: عزيز الرحمان، مفتي دار العلوم ديوبند.

په قرآن شریف کي کوم آیت منسوخ دی کنه؟

(۱۷۰) په قرآن شریف کي کوم آیت منسوخ العمل هم دی کنه؟ (۱۳۴۰/۱۴۲۳هـ)

جواب: بعض آیتونه داسي دي چي د هغه حکم منسوخ دی او هغه په عمل کي نشته (۲) لکه: "لکم دینکم ولي دین" (سورة الكافرون، آیت ۲) او نور آیتونه په آیت سیف سره منسوخ دی. فقط

---

۱) تفسير معالم التنزيل للبغوي، ص: ۸۱۰، تفسير سورة الاحقاف.

۲) د متاخرینو د اصطلاح په اعتبار په موجود قرآن شریف کي کوم آیت منسوخ دی کنه؟ په دې کي اختلاف دی، د جمهور په نزد بعض آیتونه منسوخ دي، لیکن د هغه په تعداد او تعین کي ډیر اختلاف دی او د محققین په نزد کوم آیت منسوخ نه دی، د الفوز الکبیر په شرح العون الکبیر کي دي: --

=== والثالثة وجود الآيات المنسوخة في هذا القرآن الذي هو بايدينا . فذهب الجمهور الى وجودها . واختلفوا في احصاء مانسخ منه، فاكثر منه القدماء لتوسعهم في اطلاق النسخ. ومازال المتاخرون يسعون في تقليله حتى جعله الشيخ السيوطي نحو عشرين، وزاد عليه في التقليل صاحبنا الامام حجة الهند ونابغتها في كتابه هذا حتى حصره في خمسة. وذهب جماعة في القديم والحديث الى انكار وجود الآيت المنسوخة في القرآن، حتى قال الشيخ عبيد الله بن الاسلام السندي (تلميذ شيخ الهند) في كتبه شاه ولي الله اور ان كا فلسفه، بالاردية ما تعريبه: ظني: ان اصل مقصود الامام ولي الله ان لا وجود للآيات المنسوخة بالكلية في القرآن الكريم؛ ولكنه رحمه الله لم يصرح بذلك للمصلحة، لان صراحته يشبه قوله بقول المعتزلة، فيطرح عامة اهل العلم قوله، ويفوت الغرض الاصلي الذي يروم، فاختار اسلوبًا حكيميًا فبين توجيه الآيات المشكلة، وسلم النسخ في الآيات السهلة اهـ (ص: ۷۵) ويؤيد ما قاله ابن الاسلام صنيع الامام في هذا الكتاب فانه اشار الى ان هذا الاختلاف ليس اختلافًا حقيقيًا بل هو اختلاف لفظي، راجع الى اختلاف اصطلاح القوم في معنى النسخ، وكتب المصنف في التفهيمات الالهية (۲: ۱۷۳) للمفسرين فيما بينهم اختلاف كثير، ولما فتشنا اقاويلهم وحذقنا النظر فيها وجدناها على صنوف.... ومنها: اختلافهم في النسخ والحق عندي ان ذلك باجتهاد واستنباط، ولذلك قال ائمة الاصول: لا يعض بالنواجذ على قولهم بالنسخ حتى يكشفوا جلية الحال، ويبنوا ان الآية الاولى نزلت يوم كذ، والثانية يوم كذا، بشيء يسكن اليه القلب اهـ فيميل القلب الى قول الامام المحدث الكبير الشيخ محمد انور شاه الكشميري: لا يكاد يوجد شيء في القرآن المتلو منسوخًا في الحكم بحيث لا يبقى حكمه في وجه من الجود، او محمل من المحامل، بل لا جرم يوجد حكمه مشروعًا في مرتبة من المراتب، وحال من الاحوال وزمان من الازمان اهـ (حكاه تلميذه العلامة محمد يوسف البنوري في يتيمة البيان تقدمة مشكلات القرآن، ص: ۷۹) وادعى في اماليه: ان النسخ لم يرد في القرآن راسًا، اعني بالنسخ: كون الآية منسوخة في جميع ماحوته. بحيث لا تبقى معمولة في جزئي من جزئياتها، فذلك عندي غير واقع، وما من آية منسوخة الا وهي معمولة بوجه من الوجوه، وجهة من الجهات اهـ (فيض الباري بشرح صحيح البخاري: ۱۴۷/۳، وراجع البرهان في علوم القرآن للامام الزركشي: ۴۲/۲-۴۳)

(۱۷۱) په قرآن شریف کي ناسخ ومنسوخ شته کنه؟ که شته نو څه وجه ده باري تعالی د هیري او خطاء څخه پاک دی. (۱۳۴۲/۲۳۷ھ)

جواب: د نسخ حکمت په خپله په قرآن شریف کي مذکور دی: "ما ننسخ من ایتها او تنسها" (سورة بقرة، آیت: ۱۰۲) د دې په هکله دي تفاسیر وکتل شي. فقط والله تعالی اعلم.

ایا ابن مسعود معوذتین قرآن نه بولي؟

(۱۷۲) مولوي عبد الشکور صاحب په مناظره حصه دوهم کي لیکلي دي چي حضرت ابن مسعود رضی الله عنه معوذتین خو کلام الهي بولي، مګر قرآن یې نه بولي، دا صحیح دی کنه؟ ماسیوا له دې دا هم لیکي چي قرآن شریف دغه شان بین الدفتین رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کي تحریر کیدی نو په دې کي معوذتین لیکل شوی ؤ کنه؟ که لیکلي نه ؤ نو د مولوي صاحب دا لیکل څرنګه دي؟ او که ؤ نو د حضرت ابن مسعود د اعتراض څه معنی ده؟ (۱۳۳۴-۳۳/۵۲۰ھ)

جواب: د مولوي عبد الشکور دې قول به دا معنی وي چي ابن مسعود رضی الله عنه معوذتین په مصحف کي لیکل صحیح نه بلل، مګر بعض علماء محققین د حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه طرفته د دغه نسبت انکار کړی دی او بعضو تاویل کړی دی، په اتقان کي منقول دي: والأغلب علی الظن ان نقل هذا المذهب عن ابن مسعود رضی الله عنه نقل باطل وبه یحصل الخلاص عن هذه العقدة، وکذا قال القاضي ابو بکر: لم یصح عنه انها لیست بقرآن ولا حفظ عنه، انما حکاها واسقطها من مصحفه انکارا لکتابتها لا جحدا لکونها قرآنا لانه کانت السنة عنده، ان لا یکتب في مصحف الا ما امر النبي صلی الله علیه وسلم باثباته فیه، ولم یجده کتب ذلک ولا سمعه امربه، وقال النووي في شرح المهذب: اجمع المسلمون علی ان المعوذتین والفاتحة من القرآن الخ[۱]

---

۱) الاتقان في علوم القرآن للسیوطي، ص: ۱۱۴، المقدمة، النوع الثاني والثالث..... والسابع والعشرون: معرفة المتواتر والمشهور الخ، المطبوعة: مطبع احمدي.

بس نو کله چې اجماعًا معوذتین په قرآن شریف کې داخل دی نو په دې کې بحث کول فضول دي

د سوره براءت په شروع کې بسم الله ویل مستحب ده کنه؟

(۱۷۳) په قرآن شریف کې یو داسې بسم الله الرحمن الرحیم هم شته چې نه ویل کیږي؟ (۱۳۴۰/۷۷۲)

جواب: په قرآن شریف کې د هر سورت په اول کې بسم الله الرحمن الرحیم لیکلې ده، ماسیوا د سورة توبه یعني سورة برات، بس ماسیوا د سوره توبې د هر سورت په اول کې بسم الله الرحمن الرحیم ویل مستحب دهٔ. (۱) فقط والله تعالی اعلم.

---

۱) په بیان القرآن کې دي: (۱) کوم سړی چې پخپله د سورت (براءت) څخه شروع کړي (۲) یا د دې له منځ څخه شروع کړي، په دغه دواړو حالتونو کې دې بسم الله وو وایي. (۳) او څوک چې تلاوت کوي دا سورت راشي هغه دې بیله بسم الله دا سورت شروع کړي، لکه مطلقًا د ټولو سورتونو د اجزاء دا حکم دی، پس نو نن سبا چې دا طریقه شوې ده چې په اول دوو حالتونو کې هم بسم الله نه وایي بلکه په درې حالتونو کې یو د خپل ځان څخه جوړ کړی عبارت اعوذ بالله من النار الخ وایي، د دې څخه په اول دوو حالتونو کې دوه بدعته لازمیږي یو د بسم الله نه ویلو او یو هغه عبارت ویل او په آخري حالت کې یو بدعت لازمیږي، یعني هغه عبارت ویل، بس په مجموعه درې حالتونو کې پنځو بدعتونو ارتکاب کیږي، لکه د یو بل سورت سره داسې معامله وکړي، نو یقینًا به هغه مخالف سنت وي، بنه ځان په پوه کړه. (بیان القرآن: ۹۵/۴، فائده پنجم، مطبوعه: اشرف المطابع، تهانه بهون، مظفر نگر.)

او د سورت براءت په شروع کې د بسم الله نه لیکلو وجه کومه چې حضرت تهانوي قدس سره په بیان القرآن کې ذکر کړې ده هغه لاندې ده:

څلورمه فائده: د دغه سورت په اول کې د بسم الله نه لیکلو وجه پخپله د حضرت عثمان جامع القرآن رضی الله عنه څخه مروي ده، هغه د ترمذي څخه نقل کیږي: حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمایي: ما د حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه څخه پوښتنه وکړه چې د دې څه باعث دی چې تاسو حضراتو انفال چې د مثاني څخه دی او براءت چې د مئین څخه دی په ترتیب قرآني کې نژدې نژدې سره کښیښنودی او د دواړو په منځ کې بسم الله الرحمن الرحیم نه ولیکله او انفال په "سبع طوال" کې کښیښنودی د دې څه باعث دی؟ ده رضی الله عنه راته وویل چې پر جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه زمانه کې د څو څو سورتونو نزول کیدی چې کله یو آیت راتلی ده به یو کاتب راوبولی ورته وبه یې ویل دا آیت په فلانکي سورت کې کښیږده --

ترجوا مفرد صیغه ده د دې په آخر کي ولي الف لیکل شوی دی؟

(۱۷۴) د سورة قصص په آخري رکوع کي چي دا آیت دی: "وماکنت ترجوا ان یلقي الیک الکتب" (سورة قصص، آیت: ۸۶) په دې کي په ټولو مصحفو کي د ترجوا په آخر کي د واو بعد الف لیکلی دی، حالانکه دا صیغه د مفرد ده جمع نه ده د دې څه وجه ده؟ (۱۳۳۸/۴۸۹هـ)

جواب: د قرآن شریف په کتابت کي د رسم خط مصحف امام اتباع لازم ده که څه هم هغه د قواعد معروفه نحو وصرف خلاف وي، ځکه هغه قواعد اکثریه دي کلیه نه دي، بس و په مصحف امام کي په "وماکنت ترجوا" کي "ترجوا" واو او الف سره لیکل شوي دي، لهذا دغه شان لیکل پکار دي، په خزانة الرسوم في مرسومات العثمانیه کي دي: ترجوا بواو است اگرچه جمع نیست انتهی (۱) فقط.

مضارع د ماضي په معنی کي د استعمال کولو څه قاعده ده؟

(۱۷۵) "مثل عیسی عند الله کمثل آدم خلقه من تراب ثم قال له کن فیکون" (سورة آل عمران، آیت: ۵۹) په دې آیت کي فیکون چي مضارع ده، په معنی د ماضي استعمال شوې ده، دا په کومه قاعده سره او په کوم کي د ماضي په معنی سره استعمال کیږي؟ (۱۳۴۲/۱۵۹۱هـ)

جواب: لفظ فیکون کله پخپله اصلي معنی حال یا استقبال کي هم مستعمل کیږي لکه په

=== داغه شان چي په یو بل آیت راغلی بیا هم به ده دا شان ویل چي دا په فلانکي سورت کي کښیږده او انفال له هغه سورتونو څخه دی چي په مدینه کي اول اول نازل شو او براءت د قرآن په پای کي او د دواړو مضمون یو بل ته ورته ؤ زما خیال شو چي دا د هغه جزو دی او رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو او ده تصریح نه وکړه؛ د دې وجي ما دواړه نژدې سره کښیښودل او په منځ بسم الله نه ولیکله او انفال په "سبع طوال" کي کښیښودی. (بیان القرآن: ۹۴/۴، تفسیر سورة توبه)

۱) دا عبارت چي د کوم کتاب دی موجود نه دی، مگر په نثر المرجان کي دي: (ترجوا) بالتاء الفوقانیة مفتوحة، وضم الجیم علی الخطاب والبناء للفاعل، وبزیادة الالف بعد الواو بالاتفاق تشبها لها بواو الجمع في التطرف کما نص علیه الداني وغیره. (نثر المرجان في رسم نظم القرآن: ۲۱۹/۵ سورة القصص، المطبوعة: شمس الاسلام، حیدر اباد.)

آیت کي دي: (انما امره اذا اراد شیئاً ان یقول له کن فیکون) (سورة یس، آیت: ۸۲) ځکه چي د دې ترجمه دا شان ده چي امر باري تعالی همدا دی چي هغه د یو شي د پیدا کولو اراده وکړي نو هغه وفرمایي چي سه هغه کیږي او کله د فکان په معنی یعني د ماضي په معنی کي مستعمل کیږي لکه په مثال مذکور في السؤال وامثاله کي دي او دا پر قرائن موقوف دی، څرنګه چي قرینه وي هغه شان معنی اخیستل کیږي یوه قاعده د نحویانو "حکایت حال ماضیه" هم ده چي امر ګذشته په صیغه د مضارع سره تعبیر کوي فقط والله تعالی اعلم

په سورة مائدة کي والصابئون په واو سره دی دا سهوه د کاتب نه ده

(۱۷۲) په قرآنِ مجید کي دوه ځایه د "ان" بعد د قاعدې مطابق (والصابئین) راغلی دی (۱) یو ځای خلاف قاعده (والصابئون) راغلی دی، د دې څه وجه ده؟ زما په ناقص رایه کي خو دا سوه د کاتب ده. (۵۲۳/۱۳۴۵هـ)

جواب: سورة مائده، سیپاره: ۲، په لسمه رکوع کي چي (ان الذین آمنوا والذین هادوا والصابئون والنصاری) (سورة مائده، آیت: ۶۹) دی دلته (والصابئون) په واو سره دی، دا سهو کاتب نه ده، بلکه په مصحف عثماني کي دغه رنګه دی او دلته په اتفاق قراء (والصابئون) په واو سره دی، لکه چي په معالم التنزیل کي تر دې آیت لاندې لیکلي دي: وکان حقه (والصابئین) وقد ذکرنا في سورة البقرة وجه ارتفاعه، وقال سیبویه: فیه تقدیم وتاخیر، تقدیره: (ان الذین آمنوا والذین هادوا والنصاری من آمن بالله الی اخر الآیة) (والصابئون) کذلک الخ (۲) او په سورة بقره کي د دفعي وجه دا ښودلې ده چي دا مبتداء ده او خبر د دې محذوف دی، لکه د سیبویه څخه نقل کړی دی او کله چي قراءت (والصابئون) متواتر دی او ترکیب د دې صحیح کیدای شي نو بیا که چا ته تسلي نه کیږي نو د ده له وجي قراءت متواتره نشي پرېښودی او نه د دې څخه انکار کیدای شي او نه پر سهو کاتب محمول کیدای شي.

---

۱) (الف) (ان الذین آمنوا والذین هادوا والنصاری والصابئین) (سورة بقرة، آیت: ۶۲)
(ب) (ان الذین آمنوا والذین هادوا والصابئین والنصاری والمجوس والذین اشرکوا) (سورة حج، آیت: ۱۷)
۲) تفسیر معالم التنزیل للبغوي، ص: ۲۸۹، تفسیر سورة مائدة.

او کوم څوک چي د محاورات اهل عرب څخه واقف او په هغه کي ماهر وي، هغه هیڅ کله اعتراض نشي کولای، ځکه چي تغییر نسق په کلام د عربو کي برابر معروف ومستعمل دی او تغییر اسلوب کلام عین بلاغت ګڼل کیږي. (۱) کما قال في المعالم: ومن شان العرب ان تغیر الاعراب اذا طال

---

۱) د دې تفصیل دا دی چي په قرآن مجید کي په بعضي آیتونو کي د مشهور نحوي قواعد خلاف شوي دي مثلاً د سوره نساء په آیت ۱۶۲ کي دي: (والمقیمین الصلوة والمؤتون الزکوة) حالانکه دلته د نحوي قاعدې په اعتبار سره (والمقیمون الصلوة) په کار ؤ، دغه شان د سورة طه په آیت ۶۳ کي دي: (ان هذان لساحران) حالانکه دلته د نحوي قاعدې په اعتبار سره ان هذین پکار ؤ، همدغه شان د سورة مائده په آیت ۶۹ کي دي: (ان الذین آمنوا والذین هادوا والصابئون) حالانکه دلته (والصابئین) په کار ؤ، .... د دغه ارشادات خداوندي په هکله حضرت عثمان رضی الله عنه فرمایي: ستقیمها العرب بالسنتها: عرب به ژر پخپله خبرو کي هغه صحیح کوي، د حضرت عثمان رضی الله عنه د دغه فرمان مطلب د شاه صاحب په نزد دا دی چي د مشهور تعبیرات ومحاورات مخالفت کول هم یو تعبیر او محاوره ده، لکه قدیم عرب د خطبو او عامو خبرو په دوران ډیر وختونو کي دا شان جملې استعمالوې چي د مشهور قاعدې په خلاف وې، مثلاً په مسلم شریف کي د نبي صلی الله علیه وسلم دا ارشاد مروي دی: ان من امن الناس علی في صحبته وماله أبوبکر. (مشکوة شریف، ص: ۵۵۴) بیشکه په خلګو کي تر ټولو زیات پر ما احسان کونکی پخپل رفاقت او مال کي ابوبکر دی.... په دغه ارشاد نبوي کي "ابوبکر" د ان اسم دی، مګر مرفوع دی، دا د مشهوري قاعدې خلاف دی، دغه شان رسول الله صلی الله علیه وسلم وتمیم داري ته ځای ورکړی ؤ هغه په هکله د حضرت علي دا قول موجود دی: شهد به ابوبکر بن ابو قحافة وعلي بن ابو طالب ومعاویة بن ابو سفیان (برحاشیه مشکاة شریف، ص: ۵۵۴) د حضرت علي رضی الله عنه په دې قول کي ابو قحافةْ، ابو طالب او ابو سفیان دړې سره د مضاف الیه کیدو سره مرفوع دي، دا هم د مشهوري قاعدې خلاف دي او قرآن کریم خو د قدیم عرب په ژبه ولغت کي نازل شوی دی، نو د دې وجي ممکنه ده چي ځای پر ځای د "واو" پر ځای "یا" او "یا" پر ځای "واو" راشي، یا د تثنیه پر ځای مفرد یا د مذکر پر ځای مؤنث راشي، لهذا (والمقیمین) مرفوع ګرځولو سره تفسیر کول پکار دی او ان هذان او والصابئون منصوب ګرځولو سره تفسیر کول پکار دی، ځکه چي داغه تفسیر صحیح او راجح دی.
(الخیر الکثیر شرح الفوز الکبیر، ص: ۴۸۲، د نحوي ترکیب په هکله اهم هدایت او بنه تحقیق؛ مطبوعة الامین کتابستان دیوبند.)

الکلام والنسق، ومثله في سورة النساء: (والمقیمین الصلوة) وفي سورة المائدة: (والصابئون والنصاری) (۱) فقط والله تعالی اعلم

د خمر تعریف او د هغه حکم

(۱۷۷)..... (الف) په کلام پاک کي د لفظ خمر څه تعریف راغلی دی؟

(ب) د دې څخه مراد شراب دي که عام نشه لرونکی شیان؟

(ج) په عربي کي د شراب مرادف خمر دی که څه شي دی؟

(د) ایا د مالګي په اچولو سره د شراب نشه ختمیږي؟

(هـ) د مالګي اچولو بعد د شراب استعمال به جائز وي؟ (۱۳۴۲/۴۴۸هـ)

جواب: په حدیث شریف کي دا وارد دي: کل مسکر خمر وکل مسکر حرام (۲) یعني هر یو نشه والا شی خمر یعني شراب دی او هر یو نشې والا شی حرام دی او دا هم په حدیث شریف کي دي: ما اسکر کثیره فقلیله حرام (۳) یعني د کوم شي په ډیر مقدار کي نشه وي د هغه لږ مقدار هم حرام دی، بس دغه دواړو قاعدو محفوظ کولو سره د جمله سوالات ضروریه جواب حاصل کیدای شي او دا هم مسئله ده که د شراب څخه سرکه جوړه کړل شي په هره طریقه سره چي جوړه شي مثلاً په هغه کي سرکه واچول شي یا مالګه او نور څخه اچولو سره سرکه جوړه شي او نشه ځني ختم شي نو هغه حلال دی او جائز دی، اوس په نمبر سره مختصر جواب:

(الف، ب، ج) د خمر څخه مراد عام د نشې والا شیان دي او شراب هم دي.

---

۱) تفسیر معالم التنزیل للبغوي، ص: ۷۲، تفسیر سورة بقره.

۲) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: رسول الله صلی الله علیه وسلم: کل مسکر خمر وکل مسکر حرام، الحدیث، رواه مسلم (مشکوة المصابیح، ص: ۳۱۷، کتاب الحدود، باب بیان الخمر و وعید شاربها، الفصل الاول)

۳) عن جابر بن عبد الله رضی الله عنهما ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: ما اسکر کثیره فقلیله حرام (جامع الترمذي: ۸/۲، ابواب الاشربة، باب ماجاء ما اسکر کثیره فقلیله حرام)

(د، هـ) د امر د اهل تجربه څخه پوښتل پکار دي چي ایا په مالګه سره نشه ختمیږي او شراب سرکه جوړیږي کنه؟ که نشه د شراب په مالګه سره ختم شي او سرکه جوړه شي نو جائز دي، په درمختار کي دي چي په شراب کي سرکه واچوی او دومره قدر یې پریږدئ چي هغه شراب سرکه شي دغه وخت هغه حلال او پاک دي (۱) فقط والله تعالی اعلم.

د تلاوت په وخت کي په زړه کي دا خیال راځي چي دا کلام الهي نه دی نو څه حکم دی؟

(۱۷۸) که یو سړی د کلام مجید یو سورت وایي او د ده په زړه کي دا خیال راشي چي دا کلام الهي نه دی نو د دې لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۴۳/۹۲۳هـ)

جواب: په زړه کي دغه شان وسوسه راتلو سره کفر نه کیږي، مګر دغه خیال دفع کړه او دا خیال وکړه او ګنه چي زه د الله تعالی کلام وایم. فقط والله تعالی اعلم

غیر مسلم ته ترجمه قرآن ورکولای شي کنه؟

(۱۷۹) د قرآن مجید تفسیر یا ترجمه چي په مرهټي یا په بله ژبه شوی وي، د ویلو لپاره یو غیر مسلم سړي ته ورکیدای شي کنه؟ او د داسي ترجمه د غیر مسلم لپاره مسح کول شرعًا جائز دی کنه؟ دا خبره دي ښکاره وي چي پورته ترجمه یا تفسیر سره اصل قرآن شریف په عربي یا بله ژبه کي مکتوب نه دی. (۱۳۴۳/۲۰۲۱هـ)

جواب: په کتب فقه کي لیکلي دي چي د تفسیر او ترجمهٔ قرآن هغه حکم نه دی کوم چي د قرآن شریف دی او په دې کي اختلاف دی چي د تفسیر او ترجمهٔ قرآن مسح کول محدث ته جائز دی کنه، بعض

---

۱) واما طهارتها بانقلابها خلاً فهي ثابتة بنص المجتهد اخذًا من اطلاق حديث نعم الادام الخل (الشامي، ۳۲۰/۵، كتاب الاشربة، ط رشيديه) الخمر.... اذا خلله بعلاج بالملح او بغيره، يحل عندنا (الفتاوى الهندية ۴۱۰/۵، كتاب الاشربة، الباب الاول في تفسير الاشربة الخ)

روایات څخه جواز د بعض څخه عدم جواز معلومیږي، لکه په درمختار کي دي: والتفسیر کمصحف الخ(۱) او دا شباه ونظائر څخه منقول دي: وقد جوز اصحابنا مس کتب التفسیر لمحدث، ولم یفصلوا بین کون الاکثر تفسیرًا او قرآنا، ولو قیل به اعتبارًا للغالب لکان حسنًا الخ(۱) او دا هم په درمختار کي دي: ویمنع النصراني من مسه وجوزه محمد اذا اغتسل الخ(۱) د پورته مذکوره روایاتو څخه ګنجائش معلومیږي چي غیر مُسلم ته ترجمه قرآن شریف چي په مرهټي یا بله ژبه کي وي چي اصل قرآن عربي د هغه سره نه وي ورکول کیدای شي، خصوصًا په هغه صورت کي چي نیت دا وي چي شاید هدایت به ورته ملاو شي، لکه په درمختار کي دي: ولا باس بتعلیمه القرآن والفقه عسی (ان) یهتدي(۱) فقط والله تعالی اعلم

په خطبه کي ایاه نعبد وایاه نستعین ویل جائز دي کنه؟

(۱۸۰) یو واعظ صاحب په خطبه کي سورت فاتحه وویله، مګر دا شان یې وویل ایاه نعبد وایاه نستعین ما وویل دا سورت فاتحه نه شوه دا خو دعا شوه د دې څه حصه د قرآن ده څه نه ده، نو دغه شان ویل جائز دي کنه؟(۷۷۲/۴۴-۱۳۴۵هـ)

جواب: دا تا ویل کیدای شي کوم چي تا وښودی او په تا ویل مذکور سره جائز دي فقط والله تعالی اعلم

سل من اهل علم ته د کلام پاک آیت ویل

(۱۸۱) کوم څوک چي جمله: سل من اهل علم ته د کلام مجید آیت وایي د دې لپاره شرعًا څه حکم دی؟(۱۳۴۵/۲۷۰۸هـ)

جواب: دا د ده څخه خطاء شوې ده، بیا دي بیله تحقیق هر یو عربي عبارت ته قرآن نه وایي، پاته غلطي خو اکثره کیږي په هغه کي احتیاط کول پکار دی. اصل آیت دا دی: فاسئلوا اهل الذکر ان کنتم لا تعلمون(۲)

---

۱) الدر المختار مع الشامي:۱/۱۳۰، کتاب الطهارة قبیل باب المیاه. ط رشیدیه

۲) سورة نحل، آیت ۴۳، سورة انبیاء، آیت ۷

حاصل د دې آیت هم داغه دی کوم چې د عبارت مذکوره مطلب دی، یعني سوال د اهل علم څخه کول پکار دی. کما ورد في الحدیث: شفاء العي السؤال (۱) فقط والله تعالی اعلم

د هاروت وماروت کیسه معتبره نه ده

(۱۸۲) د هاروت وماروت کیسه چې په بعض تفاسیرو کې ده معتبره ده کنه؟ (۱۳۴۰/۱۲۴۷هـ)

جواب: دا کیسه د هاروت وماروت په بعض تفسیرو کې لیکلې ده، لیکن معتبره نه ده. فقط

۱) عن جابر رضی الله عنه قال: ... انما شفاء العي الحدیث (سنن ابي داؤد، ص: ۴۹، کتاب الطهارة، باب المجدور یتیمم)

د حدیثو بیان

حدیث وحي غیر متلو دی

(۱۸۳) ... (الف) حدیث: په وحي سره نازل شوی دی کنهِ؟
(ب) حدیث: د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حیات کي او د نبي صلی الله علیه وسلم مخ ته لیکل شوی دی که درپ سوه کاله بعد لیکل شوي دي؟ (۱۳۴۲/۲۴۷هـ)

جواب: (الف) حدیث وحي متلو مثل قرآن نه دی مګر وحي غیر متلو دی، لکه الله تعالی فرمایلي دي: (وما ینطق عن الهوی ان هو الا وحي یوحی) (سورة نجم، آیت: ۳-۴)
(ب) بعض احادیث د نبي صلی الله علیه وسلم په زمانه کي هم لیکل شوي دي، لکه د زکاة په مقادیر کي کتاب رسول الله مشهور دی، دغه شان څه نور احادیث هم لیکل شوي دي او اکثر احادیث بعد د نبي صلی الله علیه وسلم د زماني لیکل شوي دي او جمع شوي دي. فقط والله تعالی اعلم

د احادیث تدوین بدعت نه دی

(۱۸۴) د احادیث تدوین بعد قرون ثلاثه وشو، نو دا بدعت کیدل پکار دي؟ (۱۳۴۵/۷۱۱هـ)

جواب: د کوم شی چي اصل په قرون ثلاثه کي وي هغه بدعت نه دی او دا ظاهره ده چي تدوین د احادیثو په قرون ثلاثه کي شروع شوي دي، لهذا دا بدعت نشي کیدای فقط والله تعالی اعلم

د صحاح سته ماسیوا نورو کتب ته صحیح ولي ویل کیږي؟

(۱۸۵) ماسیوا د صحیح سته نورو کتب حدیث نوم صحیح دی کنه؟ (۴۴/۲۵۷-۱۳۴۵ﻫ)

جواب: د صحاح سته ماسیوا هغه کتابونه چي ائمه حدیث هغه پخپله په داسي نومانو سره موسوم کړي دي چي پخپله د هغو صحت ښودی په هغه کي اکثر احادیث صحیح دي، لکه صحیح ابن حبان، صحیح ابن خزیمه، صحیح ابن سکن او نور او نور، نو د دغه شان معجم طبراني، مستدرک حاکم، سنن دار قطني، مسند دارمي، مصنف ابن ابي شیبه، مصنف عبد الرزاق په دغه ټولو کتابونو کي ډیر صحیح حدیثونه موجود دي

دا ویل چي بخاري شریف قول رسول نه دی څرنګه دی؟

(۱۸۶) که یو سړی دا اعتقاد ولري چي بخاري شریف قول رسول نه دی ځکه چي د نورو څخه نقل شوې ده د دې وجي په قول رسول کیدو کي شک دی، بلکه امام بخاري له خپل طرف څخه استنباط کړی دی، نو بناءً علیه پر مذکوره سړي څه الزام شرعًا راځي؟ (۵۸۲/۱۳۳۸ﻫ)

جواب: صحیح بخاري نوم دی د هغه کتاب چي په هغه کي ډیر احادیث د رسول موجود دي او هغه اقوال و افعال د رسول الله دي چي په سند صحیح سره په مذکوره کتاب کي موجود دي او آثار د صحابه وتابعینو او امامانو هم په دې کي موجود دي او د امام بخاري خپل اجتهاد او اجتهادي مسائل هم پکښي موجود دي لېکن غالبه برخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اقوالو او افعالو ده نو مطلقاً داسي ویل چي په بخاري شریف کي اقوال د رسول الله نشته فسق ومعصیت دی او د دې قائل فاسق او مبتدع دی او که د ده مطلب دا دی چي ټول بخاري قول رسول نه ده، بلکه په دې کي نور اقوال د رسول الله د اقوال علاوه هم شته نو دا صحیح ده، ځکه په دې کي آثار واقوال ائمه مجتهدین وغیرهم هم موجود دي، لیکن دا ویل په هیڅ حال کي روا نه دي چي بخاري شریف قول رسول نه دی.

د بخاري او ترمذي په حدیثونو کي تطبیق

(۱۸۷) په بخاري شریف کي دي: الحلال بین والحرام بین، وبینهما مشتبهات

لا يعلمها كثير من الناس فمن اتقى المشتبهات استبرأ لدينه وعرضه الخ(۱) ابن ماجه او ترمذي کي دي: الحلال ما احل الله في كتابه، والحرام ما حرم الله في كتابه، وماسكت عنه فهو مماعفا عنه(۲) په اول حديث کي د حلال او حرام په منځ کي مشتبهات دي د هغه څخه بچ کیدل د استبراء دين وعرض سبب دی او په دوهم حديث کي د حلال او حرام په منځ کي مسكوت عنها معاف دی، د دې تعارض څه جواب دی؟ (۱۳۳۳-۳۲/۸۴۲ھ)

جواب: اقول وبالله التوفيق: په دواړو حديثونو کي هيڅ تعارض نشته د مسكوت عنه څخه هغه مراد دی چي په هغه کي د حرمت هيڅ شبه نه وي او دليل حرمت په هغه کي هم نه وي بس نو مطلب يې دا دی چي ما سكت عنه فهو غير مشتبه فهو عفو.

کیف ماتفق احادیث باندي عمل کول څرنګه دي؟

(۱۸۸) پر هر دول حديث عمل کول څرنګه دی؟ او څه حکم دی؟ (۱۳۳۳/۱۸۲۷ھ)

جواب: هر سړي لره دا صحيح نه دي چي بيله پيژندو د ناسخ ومنسوخ او نورو پر حديث عمل وکړي او حديث حجت پيش کړي، بلکه د ائمه اربعه څخه د يو تقليد ضروري دی، کوم مسائل چي ائمه د کتاب وحديث څخه اخذ کړی دی پر هغه دی عمل وکړي، په دين کي دي خپله رايه نه چلوي، بعض احاديث منسوخ وي او بعض مؤول وي: على الاطلاق كيف ما تفق پر احاديثو د عمل کولو اجازه عوامو ته بلکه نن سبا علماوو ته نشته فقط والله تعالى اعلم

حديث: عليكم بسنتي الخ د سند ټول راوي ثقه او مقبول دي

(۱۸۹) عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين وعضوا عليها بالنواجذ

---

۱) عن النعمان بن بشير رضى الله عنه يقول: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: الحلال بين الحديث (صحيح البخاري: ۱۳/۱، كتاب الايمان، باب فضل من استبرا لدينه)

۲) عن سلمان الفارسي رضى الله عنه قال: سئل رسول الله صلى الله عليه وسلم عن السمن والجبن والفرآء، قال الحلال الحديث (سنن ابن ماجه ص۲۴۹، ابواب الاطعمة باب اكل الجبن والسمن، وجامع الترمذي ۳۰۳/۱، ابواب اللباس، باب ماجآء في لبس الفرآء)

دا حدیث قابل وثوق واعتماد وواجب العمل دی که زید وایي چي دا حدیث هیڅ نه دی (۱۴۵۵/۱۳۴۳هـ)

جواب: دا حدیث په سنن ابي داؤد کي په لاندي سند سره مروي دی حدثنا احمد بن جنبل نا الولید بن مسلم، نا ثور بن یزید، حدثني خالد بن معدان، حدثني عبد الرحمن بن عمرو السلمي وحجر بن حجر قالا: اتینا العرباض بن ساریة وهو ممن نزل فیه (ولا علی الذین اذا ما اتوک لتحملهم قلت لا اجد ما احملکم علیه) (التوبة ۹۲) فسلمنا وقلنا اتیناک زائرین وعائدین ومقتبسین فقال العرباض: صلی بنا رسول الله صلی الله علیه وسلم ذات یوم، الحدیث (۱) اول راوي د دې حدیث امام احمد بن حنبل دی چي د ائمه حدیث وفقه څخه دی، دوهم راوي ولید بن مسلم دی چي د صحیح مسلم، ابو داؤد او نسائي د روات څخه دي او حافظ د ده په ترجمه کي ثقة من الخامسة اهـ لیکلي دي (۲) دریم راوي ثور بن یزید د صحیح بخاري د روایت څخه دی. قال الحافظ هو ثقه ثبت الخ (۳) څلورم راوي خالد بن معدان د صحاح سته له راویانو څخه دی (۴) پنځم راوي عبد الرحمن بن عمرو سلمي د ابو داؤد، ترمذي او ابن ماجه له راویانو څخه دی؛ قال الحافظ مقبول الخ (۵) دغه شان د حجر بن حجر په هکله هم حافظ په تقریب کي مقبول من الثالثة لیکلی دی (۶) دوی دواړه د حضرت عرباض بن ساریه رضی الله عنه څخه دا حدیث روایت کوي

---

۱) سنن ابي داؤد: ۲۳۵/۲، کتاب السنة، باب في لزوم السنة

۲) الولید بن مسلم بن شهاب العنبري، ابو بشر البصري: ثقة، من الخامسة رم دس (تقریب التهذیب ص: ۵۸۴، حرف الواو، الرقم: ۷۴۵۵، المطبوعة المکتبة الاشرفیة دیوبند.)

۳) ثور بن یزید: ثقة، ثبت الا انه یری القدر، من السابعة ع (تقریب التهذیب، ص ۱۳۵، حرف الثاء، الرقم: ۸۶۱)

۴) خالد بن معدان الکلاعي الحمصي، ابو عبد الله، ثقة عابد یرسل کثیراً، من الثالثة ع (تقریب التهذیب، ص: ۱۹۰، حرف الخاء، الرقم: ۱۶۷۸)

۵) عبد الرحمن بن عمرو بن عبسة السلمي الشامي: مقبول، من الثالثة، د ت ق (تقریب التهذیب، ص ۳۴۷، حرف العین، الرقم ۳۹۶۶)

۶) حجر بن حجر الکلاعي الحمصي: مقبول من الثالثة، د (تقریب التهذیب، ص ۱۵۴، حرف الحاء، الرقم ۱۱۴۳)

د دې څخه معلوم شو چې یو راوي هم په سند مذکور کې کذاب ومردود نه دی، په ابو داؤد کې هم د دې حدیث د تخریج بعد پر حدیث هیڅ جرح نشته، بلکه سکوت کړی دی چې د دې د صحت دلیل به د ابو داؤد په نزد وي. امت هم د دې حدیث تلقي بالقول کړې ده. لهذا د زید ویل محض لغو بې باکه دی، حدیث قابل الاعتماد حسن الاسناد دی فقط والله تعالی اعلم.

د کلمه طیبه د احادیثو څخه ثبوت

(۱۹۰) کلمه طیبه لا اله الا الله محمد رسول الله بعینه په دغه الفاظو سره د حدیث په کوم کتابو کې د کوم کوم راوي په روایت سره وارده ده؟

جواب: په صحیح بخاري او مسلم کې دا کلمه په دغه الفاظو سره مروي ده، په حدیث وفد عبد القیس کې دي چې نبي صلی الله علیه وسلم هغو خلګو ته وویل چې تاسو پیژنئ چې څه دی ایمان پر الله وحده لا شریک بانډي؟ هغو وویل الله او د هغه رسول ښه په خبر دی، ده وفرمایل: شهادة ان لا اله الا الله وان محمد رسول الله الحدیث[۱]

دوهم روایت په صحیحین کې دی: امرت ان اقاتل الناس حتی یشهدوا ان لا اله الا الله وان محمداً رسول الله[۲] دغه شان په ډیرو احادیثو کې دا کلمه طیبه په طریقه مذکور وارد ده، بس حاصل د هغه ټولو روایاتو داغه دي چې لا اله الا الله محمد رسول الله ویل د ایمان لومړي رکن دی، نو د نومړي دا وینا چې لا اله الا الله محمد رسول الله په حدیث کې نه ده راغلې غلط دي او د ده ناپوهي ده، ځکه چې ده وفرمایل چې ته ګواهي ورکړه د دې چې نشته هیڅ معبود سیوا د الله

---

۱) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: ان وفد عبد القیس لما اتوا النبي صلی الله علیه وسلم... فامرهم باربع ونهاهم عن اربع، امرهم بالایمان بالله وحده، قال: اتدرون ما الایمان بالله وحده؟ قالوا: الله ورسوله اعلم، قال: شهادة، الحدیث (مشکاة المصابیح، ص: ۱۳، کتاب الایمان، الفصل الاول)

۲) عن ابن عمر رضی الله عنهما ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: امرت، الحدیث (صحیح البخاري: ۸/۱، کتاب الایمان، باب: "فان تابوا واقاموا الصلاة وآتوا الزکاة فخلوا سبیلهم".)

او د دې چي محمد د الله رسول دی، نو اهل ایمان د دې ارشاد تکمیل دا شان کولای شي چي دا ووايي: لا اله الا الله محمد رسول الله فقط والله تعالی اعلم

په هره صدۍ کي د مجدد کیدل ضروري دي او د هغه تشفي ورکونکی څرګندونه

(۱۹۱) ان الله عزوجل یبعث لهذه الامة علی رأس کل مائة سنة من یجدد لها دینها باعث تصدیعه (تکلیف ورکونکی) دا ده چي د پورته بیان شوي حدیث په کتلو سره په طبیعت کي ډیر شکوک وسوسې و وجوهات چند در چند پیدا شوې، لهذا د دې په هکله په لاندني عرض کولو سره التماس دی چي په وجه احسن سره جواب باصواب سره مي مشکور کړئ:

(۱) ایا د پورته بیان شوي حدیث صحیح مستند دی؟

(۲) که واقعي حدیث صحیح دی نو د مخبر علیه السلام د وړاندي وینا مطابق د هري صدۍ پر سر د مجدد راتلل ضروري دی؟

(۳) لهذا سوال دا دی که ۱۳ مجدد حسب وعده راغلی دی نو د څلورلسمي ۱۴ صدۍ مجدد څوک راغلی؟

(۴) د مجدد څه شناخت دی؟

(۵) ایا مجدد په خپله علی الاعلان دعوا کوي؟

(۶) ایا د مجدد پیژندل او پلټنه د عوام الناس لپاره ضروري ده؟ (۱۳۳۷/۲۵۲۵هـ)

جواب: حدیث مذکور صحیح دی([1]) چي هره یوه صدۍ کي د مجدد کیدل ضروري دي، لیکن علماوو فرمایلي دي

---

۱) دا حدیث په سنن ابي داؤد: ۵۸۹/۲، کتاب الملاحم، باب ما یذکر في قرن المائة کي دی او د دې ټول راویان ثقه دي، په کشف الخلفاء او المقاصد الحسنه کي دي:
رواه ابو داؤد عن ابي هریرة رضی الله عنه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم. واخرجه الطبراني في الاوسط عنه ایضا بسند رجاله ثقات، واخرجه الحاکم من حدیث ابن وهب وصححه، وقد اعتمد الائمة هذا الحدیث (کشف الخلفاء ومزیل الالباس: ۲۸۲/۱، رقم الحدیث ۷۴۰، المقاصد الحسنة، ص: ۱۳۱، رقم الحدیث: ۲۳۸)
همدا رنګه په عون المعبود کي دي: حدیث ابي هریرة سکت عنه المنذري، وقال السیوطي في مرقاة الصعود: —

چي د مجدد یو کیدل ضروري نه دي، په هره یوه صدۍ کي څو مجدده وي دا هم کیدای شي په دغه صورت کي دا حدیث مطابق کیږي د دوهم حدیث صحیح سره، نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زما په امت کي به یو داسي جماعت وي چي پر حق به قائم وي، هغو ته به د چا مخالفت مضر نه وي (الحدیث) (۱) باقي دا خبره چي د فلانکي صدۍ مجدد څوک سو، دا نه نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي نه په محقق طریقه سره معلوم دی، په قرائن سره څه ظن غالب کیږي چي په اهل حق کي فلانکی فلانکی عالم داسي شوی دی چي هغوی دین تازه کړی او باطل رواجونه ختم کړي دي او دا غه علامه د مجدد ده او مجدد پخپله د خپل مجدد کیدو دعوی نه کوي الا ماشاءالله، کله چي چا ته د دې اعلان منجانب الله امر وي نو هغه اظهار و اعلان کوي د مجدد پلټنه او پيژندل پر عوامو لازم نه دي، د دې حدیث په شرح کي چي علماوو څه فرمایلي دي هغه نقل کوم او د هغه څخه جمله امور متعلقه د جواب بالاجمال معلوم کیدای شي، په سراج المنیر شرح جامع صغیر کي دي: ای في شرح قوله علیه السلام: من یجدد لها دینها، قال المناوي: رجلاً کان او اکثر ای یبین السنة من البدعة ویدل اهلها، قال ابن کثیر: وقد ادعی کل قوم في امامهم انه المراد والظاهر حمله علی العلماء من کل طائفة اهـ وقال العلقمي: معنی التجدید احیاء ما اندرس من العمل بالکتاب والسنة والامر بمقتضاهما،

=== اتفق الحفاظ علی تصحیحه، منهم الحاکم في المستدرک والبیهقي في المدخل، وممن نص علی صحته من المتاخرین: الحافظ ابن حجر.

وقال العلقمي في شرح الجامع الصغیر، قال شیخنا: اتفق الحفاظ علی انه حدیث صحیح، وممن نص علی صحته من المتاخرین: ابو الفضل العراقي وابن حجر، ومن المتقدمین: الحاکم في المستدرک والبیهقي في المدخل، انتهی.

وقال المناوي في فتح القدیر: اخرجه ابو داؤد في الملاحم والحاکم في الفتن وصححه والبیهقي في کتاب المعرفة، کلهم عن ابي هریرة رضی الله عنه، قال الزین العراقي وغیره: سنده صحیح انتهی. (عون المعبود: ۲۲۷/۱۱، کتاب الملاحم، باب ما یذکر في قرن المائة، المطبوعة المکتبة الاشرفیة دیوبند.)

۱) عن معاویة رضی الله عنه قال سمعت النبي صلی الله علیه وسلم یقول: لا یزال من امتي امة قائمة بامر الله لا یضرهم من خذلهم ولا من خالفهم حتی یاتي امر الله وهم علی ذلک، متفق علیه (مشکاة، ص: ۵۸۳، کتاب الفتن، باب ثواب هذه الامة، الفصل الاول)

واعلم ان المجدد انما هو بغلبة الظن بقرائن احواله والانتفاع بعلمه(۱)

د دې عبارت حاصل دا دی چې مجدد د هرې صدۍ عام دی که يو وکه ډير او د تجديد دين معنی دا ده چې سنت او بدعت واضح کړي او اهل سنت د اهل بدعت څخه مميز کړي مثلاً حضرت مولنا اسماعيل شهيد عليه الرحمة او حضرت سيد (احمد) صاحب بريلوي، خليفه حضرت شاه عبد العزيز صاحب دهلوي، حضرت مجدد الف ثاني بدعات يې ختم کړه او سنت يې جاري کړل او په دغه دور آخر کې حضرت محمد قاسم صاحب نانوتوي او حضرت مولنا رشيد احمد صاحب محدث ګنګوهي هم د هغو افرادو څخه دی چا چې د دين تجديد وکړ او بدعت يې د سنت څخه ممتاز کړ او علم وعمل شاهد عدل دی د دوی د کمال، بيا جامع شريعت وطريقت وحقيقت ومحدث وفقيه ومحقق کامل جوړ شوه او ابن کثير فرمايي چې هر قوم خپل امام ومقتدي ته مجدد ووېل: او ښکاره دا ده چې د هرې طائفې علماء به وي، مثلاً: څوک به په محديثينو کې وي او څوک به په فقهاوو کې او څوک به په تصوف وطريقت کې او زه خو وايم چې ممکن دی چې په چا کې دا ټول کارونه وي او د هرې څانګې مجدد وي (ذلک فضل الله يؤتيه من يشاء) (سورة مائدة، آيت: ۵۴) او علقمي فرمايي د تجديد معنی دا ده چې مجدد ژوندی کوي هغه امور چې د کتاب او سنت څخه متروک شوي وي، د دې حاصل هم هغه شو کوم چې پورته ذکر شو چې احياء سنت او اماتت بدعت وکړي او محقق کامل جامع شريعت وطريقت وي، دا وپيژنده چې د مجدد علم په غلبه ظن سره وي، د ده د احوال په قرينه سره او د ده له علم څخه نفع حاصل کيدو سره يعني په يقين نشي معلوم کيدای، صرف د ده له علم وتقوی او نورو ليدو سره غلبه ظن کيدای شي. فقط والله تعالی اعلم

حديث: د طلب العلم فريضة على كل مسلم مطلب

(۱۹۲) يو صاحب د حديث شريف طلب العلم فريضة على كل مسلم(۲) په هکله تحرير کوي:

---

۱) السراج المنير شرح الجامع الصغير في احاديث البشير النذير: ۳۴۵/۱، حرف الهمزة.

۲) عن انس رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: طلب العلام فريضة. الحديث (مشکوة المصابيح، ص: ۳۴، کتاب العلم، الفصل الثاني.)

چي علم حاصل کول پر مسلمان نارینهؤ او ښځو برابر فرض دی. بعني کوم تعلیم چي د نارینه و لپاره ضروري دی هغه د ښځو لپاره لازم دی. او س د ملک حکومت د اهل هنود په لاسو کي په تدریج سره را روان دی د مسلمانانو ښځو منصبو ته رسیدلي دي بیلا بیل منصبونه او وکالت کوي د دې په هکله شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۴۲/۲۹۲۳ھ)

جواب: د حدیث شریف مذکور مطلب دا دی چي علم دین او مسائل دینیه زده کول پر نارینه او ښځو فرض دی، یعني د کومو مسائلو چي نارینهؤ ته ضرورت دی پر هغو د هغه زده کول او پوښتنه کول لازمه ده او د کومو مسائلو ښځو ته ضرورت وي د هغه پوښتنه کول او زده کول لازم دی، مثلاً: خاص د حیض او نفاس مسائل دا د ښځو سره مخصوص دی دا پر ښځو باندي د دې زده کول او پوښتنه کول لازمه ده او کوم مسائل چي مشترکه دي پر دواړو یعني پر سړي ښځي باندي فرض دي، لکه لمونځ، زکاة، روژه او نور هغه پر دواړو زده کول او پوښتنه کول لازم دي، دا مطلب دی د طلب علم د فرض کیدو پر هر سړي او ښځي او یاد شوي سړي چي د حدیث اخیستی دی او په منصبو او نورو کي پر شریک کیدو بې زور ورکړی دی دا د هغه ناپوهي ده د حدیث دا مطلب نه دی. فقط والله تعالی اعلم

د اقل الدعاء ثلاثة مطلب

(۱۹۳) په حصن حصین کي په آداب دعا کي یوه ټکړه حدیث په روایت د بخاري ومسلم منقوله ده: اقل الدعاء ثلاثة د دې څه مطلب دی؟ (۱۳۳۳-۳۲/۵۱۷ھ)

جواب: په حصن حصین کي په آداب دعا کي په روایت د بخاري ومسلم صرف دومره مذکور دي: وان یکرر الدعاء خ، م (ای رواه البخاري ومسلم) د دې بعد په روایت د ابو داؤد او ابن اسني دا الفاظ مروي دي: واقله التثلیث، د، ي، (ای رواه ابو داؤد،

وابن السني) د دې بعد دا دي: وان يلح فيه، س، مس، عو. (اى رواه النسائي و الحاكم وابو عوانة) ([1])

د الحصن الحصين په حاشيه كي د كنز العباد څخه منقول دي: قوله: (ويلح في الدعاء) لقوله عليه السلام: ان الله يحب الملحين في الدعاء وادنى الالحاح ان يكرر ثلاثًا والاوسط خمسًا والاكمل سبعًا ([2]) كنز العباد.

او دبخاري او مسلم په روايت كي چي وان يكرر الدعاء وارد دى. د هغه تشريح ملا علي قاري ليكي: قوله: (وان يكرر الدعاء) اى في مجلس او مجالس والتثليث اى تثليث الدعاء بان يكرر ثلاثًا ([3]) (حرزثمين شرح حصن حصين)

د دې ټولو رواياتو او اقوالو د كتلو بعد معلوم شو چي د آداب ومستحبات دعا څخه دا دى چي د دې تكرار وكړي او په الحاح او اصرار سره دعا وكړي د دې ادنى درجه درې ځله دعا كول دي او اوسط پنځه او اعلى اوو، دغه شان د دعا له آدابو څخه دا هم دي چي كراره او پټه وي، قال الله تعالى: (ادعوا ربكم تضرعًا وخفية) (سورة اعراف، آيت: ۵۵) ماسيوا د دې كه د آداب دعا څخه يو آدب كه يو وخت پاته شي نو محل اعتراض نه دى، بلكه په مستحبات وآداب كي ښه دا دى چي كله ترک هم شي چي عوامو ته د دې د لزوم و وجوب گمان نه وي او د ملا علي قاري عليه الرحمة له تحقيق څخه دا هم معلوم شو چي تكرار دعا هغه وخت هم صادق كيږي چي په مجالس متعدده كي تكرار وي

سهار ماښام د رضيت بالله ربا الخ ويلو فضيلت

(۱۹۴) د عبارت رضيت بالله ربا وبالاسلام دينًا وبمحمد نبيًا په هكله مي دا اوريدلي دي چي كوم سړى سهار وماښام دا ووايي پر خداى تعالى په لحاظ د رحمت واجب دى چي

---

۱) الحصن الحصين، ص: ۲۴-۲۵، المنزل الاول، آداب الدعاء، المطبوعة: مطبع انواري محمد، لكناؤ.

۲) هامش الحصن الحصين، ص: ۲۴، رقم الحاشية: ۱۲.

۳) هامش الحصن الحصين، ص: ۲۴، رقم الحاشية: ۱۱.

د ده ټوله امیدونه پوره کړي او مقام رضا وتسلیم ورکړي، ستا تحقیق د دې په هکله څه دی؟ د دې فوائد څه دي؟ (۱۳۴۳/۹۸۷هـ)

جواب: دعاء مذکوره في السوال یعني د رضیت بالله ربًا الخ فضیلت به روایت ترمذي ومسند د امام احمد مشکاة شریف کي منقول دي: عن ثوبان رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ما من عبد مسلم یقول: اذا امسی واذا اصبح ثلاثا رضیت بالله ربًا وبالاسلام دینًا وبمحمد نبیًا الا کان حقًا علی الله ان یرضیه یوم القیامة (۱) د ترجمې حاصل دا دی چي کوم سړی سهار ماښام درې ځله دا دعا ووایي: رضیت بالله ربًا الخ نو پر الله تعالی حق دی او ثابت دی چي دی به د قیامت په ورځ راضي او خوشحاله کوي، یعني د کوم ثواب څخه چي هغه خوشحاله شي هغه ثواب به ورکوي او ښکاره ده په دې کي هر څه راغله او په قرآن شریف کي ارشاد دی: (ورضوان من الله اکبر) (سورة توبة، آیت ۷۲) او د الله تعالی راضي کیدل ډیر غټ شی دی او دا دی هم څرګند وي چي څوک د الله تعالی په رب کیدو راضي شو الله تعالی به د ده څخه راضي شي او د چا څخه الله تعالی راضي شي ده ته به د دین ودنیا ټول مقاصد حاصل شي، په یو بل حدیث کي دي چي په صحیح مسلم کي مروي دی: ذاق طعم الایمان من رضي بالله ربًا وبالاسلام دینًا وبمحمد رسولاً (۲) یعني کوم سړی د الله تعالی پر رب کیدو راضي شو او اسلام خپل دین ګرځولو باندي راضي شو او د محمد صلی الله علیه وسلم پر رسول جوړولو راضي شو، هغو د ایمان ذائقه او خوند حاصل کړ، لنډه دا چي فضیلت د دې ډیر دی، زه د دې څه احصاء کولای شم، نو مناسبه ده چي دا سهار وماښام درې ځله وویل شي، نو به موجب وعده حدیث شریف ده ته به ذائقه ایمان نصیب شي او الله تعالی به دی راضي کړي څه چي غواړي هغه به ده ته ملاویږي. فقط والله تعالی اعلم

۱) مشکاة المصابیح، ص: ۲۱۰، کتاب الدعوات، باب مایقول عند الصباح والمساء والمنام، الفصل الثاني

۲) عن العباس بن عبد المطلب رضی الله عنه انه سمع رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: ذاق طعم الایمان، الحدیث. (الصحیح لمسلم: ۴۷/۱، کتاب الایمان، الدلیل علی ان من رضي الله ربًا الخ)

د ادعیه ماثوره سره برابر هیڅ دعا او ظیفه نشي کیدای

(۱۹۵) د یو سړي عقیده ده چي څه قدر وظائف په احادیثو کي وارد دي هغه با اعتبار خیر وبرکت د بزرګان دین له ترتیب ورکړی او مجوزه اورادو څخه ښې دي دا صحیح دی کنه؟ (۱۳۴۲/۹۴۳ھ)

جواب: د ده دا خیال ډیر صحیح او درست دی او د ادعیه ماثوره سره برابر هیڅ دعا او وظیفه نشي برابر کیدای او اتباع سنت پوره پوره په دې کي دی. فقط والله تعالی اعلم

د ما رآه المؤمنون حسنًا مطلب

(۱۹۶) د عرف وعادت تحکیم فقهاء تسلیم کوي او په دلیل کي ماراه المؤمنون حسنًا پیش کوي او داغه حدیث د حجیت اجماع لپاره پیش کیږي، په دغه صورت کي مشتبهات خامخا حسن کیږي. (۱۳۳۳-۳۲/۸۴۲ھ)

جواب: دلیل د اجماع د حجیت لا تجتمع امتي علی الضلالة وغیرها احادیث ونصوص دی [1] او عرف ورواج هم هغه معتبر دی چي موافق شرع وي خلاف شرع هیڅ یو عرف ورواج معتبر نه دی او د ما راه المؤمنون څخه مؤمنین کاملین مراد دي [2] نو معلوم شو چي عرف ورواج خواص مراد دي نه عرف ورواج عام او حق دا دی چي د حدیث لا تجتمع امتي څخه هم امت کامله مراد دی،

---

[1]) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ان الله لا یجمع امتي او قال: امة محمد علی ضلالة، الحدیث (مشکاة المصابیح، ص: ۳۰، کتاب الایمان، باب الاعتصام بالکتاب والسنة، الفصل الثاني)

[2]) عن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه قال: ان الله نظر في قلوب العباد، فوجد قلب محمد صلی الله علیه وسلم خیر قلوب العباد، فاصطفاه لنفسه، فابتعثه برسالته، ثم نظر في قلوب العباد بعد قلب محمد، فوجد قلوب اصحابه خیر قلوب العباد، فجعلهم وزراء نبیه، یقاتلون علی دینه، فما رأی المسلمون حسنًا، فهو عند الله حسن، وما رأوا سیئًا، فهو عند الله سيء (مسند الامام احمد بن حنبل: ۸۴/۲، رقم الحدیث: ۳۶۰۰، المطبوعة مؤسسة الرسالة بیروت)

او له مؤمنین څخه هم مراد مؤمنین کاملین، د مشتبهات څخه شارع علیه السلام د بچ کیدو حکم فرمایلی دی، نه دې نه مؤمنین کاملین حسن ویلای شي نه پر دې امت کامله مجتمع کیدای شي. فقط والله تعالی اعلم

د من تشبه بقوم فهو منهم مطلب

(۱۹۷) من تشبه بقوم فهو منهم([1]) صحیح مطلب څه دی؟ (۳۲/۱۱۸۵-۱۳۳۳ھ)

جواب: د دې صحیح مطلب دا دی چې څوک د یو قوم مشابهت اختیار کړي هغه له هغه څخه شمېرل کیږي (یعني څوک چې د فاسقانو بدکارو سره مشابهت کوي) د هغه شمار به په بدکارانو کې وي (یعني کوم څوک د نیک خلکو مشابهت اختیار کړي د هغو شمار په نیک خلکو کې کیږي، د دغه ارشاد نبوي مقصد دا دی چې مسلمانانو ته اسلام وضع قطع او اسلامي تهذیب اختیار کول پکار دی، د مغربي تهذیب او غیر مسلمانانو وضع قطع څخه اجتناب کول پکار دی. محمد آمین پالن پوري) فقط والله تعالی اعلم.

(۱۹۸) من تشبه بقوم فهو منهم په دې حدیث کې کوم قسم تشبه مراد ده؟ (۱۳۳۸/۲۰۵۴ھ)

جواب: پوره تشبه خو د کفارو په شعائر خاصه کې اختیار کولو سره کیږي او په دغه صورت کې "فهو منهم" پر حقیقت باندې حمل کیږي لکه زنار او نور تړل او که دومره تشبه نه وي، نو کفر نه دی، کراهت او نور درجه په درجه حاصلیږي.

=== قال العجلوني في کشف الخفاء: اخرجه البزار والطیالسي والطبراني وابو نعیم والبیهقي في الاعتقاد عن ابن مسعود رضی الله عنه..... وقال الحافظ ابن عبد الهادي: روي مرفوعًا عن انس رضی الله عنه باسناد ساقط، والاصح وقفه علی ابن مسعود رضی الله عنه انتهی. (کشف الخفاء ومزیل الالباس: ۲/۲۴۵، رقم الحدیث: ۲۲۱۴، المطبوعة مؤسسة الرسالة، بیروت)

[1]) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من تشبه بقوم فهو منهم (سنن ابي داؤد: ۲/۵۵۹، کتاب اللباس، باب في لبس الشهرة)

حدیث: صلو خلف کل بر و فاجر مطلب

(۱۹۹) د حدیث صلوا خلف کل بر و فاجر (۱) څه مطلب دی؟ (۱۰۸/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: د دې حدیث شریف مطلب صرف دا دی چي لمونځ د فاجر شا ته هم کیږي، لیکن د نورو احادیثو او نصوص څخه معلومیږي چي مکروه کیږي (۲) او مکروه هم تحریمي لکه په شامي کي منقول دي هلته دي مفصل وکتل شي او هغو وجه کراهت هم نقل کړې ده. (۳) فقط

---

۱) عن ابي هريرة رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: صلوا خلف کل بر وفاجر وصلو علی کل بر وفاجر، وجاهدوا مع کل بر وفاجر. (سنن الدار قطني: ۱۸۵/۱، کتاب الصلاة، باب صفة من تجوز الصلاة معه والصلاة علیه، المطبوعة: المطبع الانصاري الواقع في الدهلي.)

۲) عن عبد الله بن عمرو رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان یقول: ثلاثة لا یقبل الله منهم صلاة من تقدم قومًا وهم له کارهون، الحدیث. (سنن ابي داؤد، ص: ۸۸، کتاب الصلاة باب الرجل یوم القوم وهم له کارهون.)

په تحفه الالمعي شرح سنن الترمذي کي دي: حدیث: نبي صلی الله علیه وسلم پر دري کسانو لعنت وفرمایي: اول هغه سړی چي د یو قوم امامت وکړي په داسي حال کي چي خلګ د ده امامت نه خوښوي او دا ناخوښي د دنیاوي جنګو او دنیاوي اسباب پر بناء نه وي بلکه د یو دیني وجي څخه وي. ملا علي قاري رحمه الله په مرقاة شرح مشکاة کي د دې درې وجي بیان کړي دي: یو د امام جاهل کیدل، مثلاً هغه صحیح قرآن نه وایي یا د لمانځه له بنیادي مسئلو څخه واقف نه وي د دې وجي خلګ یې نه خوښوي. دوهمه وجه: هغه فاسق وفاجر وي، ښکاره ګناه کوي، سینما ګوري یا په بل بد کار کي مبتلا وي، د دې وجي خلګ دی نه خوښوي.... دریمه وجه: دی بدعتي وي او مقتدیان د اهل سنت والجماعت څخه وي، د دې وجي امام نه خوښیو، نو د داسي شخص امامت مکروه تحریمي دی، که د ناخوښي وجه په مقتدیانو کي موجوده وه، مثلاً: امام د اهل سنت والجماعت څخه دی او دیوبندي دی او مقتدیان بدعتیان دي، له دې وجي امام نه خوښوي، نو بیا مقتدیان ملعون دي، د داسي مقتدیانو ناراض کیدلو ته قطعًا اعتبار نشته. (تحفة الالمعي شرح سنن الترمذي: ۱۸۳/۲، کتاب الصلاة، عنوان: څوک چي مقتدیان نه خوښوي د هغو امامت کول. حدیث نمبر: ۳۶۵)

۳) ولو ام قومًا وهم له کارهون، ان الکراهة لفساد فیه، او لانهم احق بالامامة منه کره له ذلک تحریمًا لحدیث ابن داؤد: "لا یقبل الله صلاة مَنْ تقدم قومًا وهم له کارهون". وان هو احق لا، والکراهة علیهم. ویکره تنزیها امامة عبد.... واعرابي.... وفاسق واعمی ونحوه الاعشی، نهر، الا ان یکون اي غیر الفاسق اعلم القوم فهو اولٰی (الدر) وقال في الشامي: واما الفاسق فقد عللوا کراهة تقدیمه، بانه لا یهتم لامر دینه، وبان في تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعًا --

د جنازې په لمانځه کې د قرآن فاتحه والا روایت مطلب

(۲۰۰) .... (الف) عن ابن عباس رضی الله عنهما ان النبي صلی الله علیه وسلم قرا علی الجنازة بفاتحة الكتاب، رواه الترمذي وابو داؤد وابن ماجة (۱) د دغه روایت حدیث څخه د نبي صلی الله علیه وسلم څخه د جنازې په لمانځه کې فاتحه ویل ثابت دي، عند الحنفية په صلاة جنازه کې د قرآءت فاتحه څه حکم دی؟ که ناجائز دی نو د حدیث څه مراد دی؟

(ب) میت د دفن کولو مخکې فاتحه دعا او سورت قرآنیه ویل ثواب ورسول څرنګه دي؟ (۱۷۸۴/۱۳۳۵هـ)

جواب: (الف) په درمختار کې دي: ولا قراءة ولا تشهد فیها وعین الشافعي رحمه الله الفاتحة في الاولی وعندنا تجوز بنية الدعاء وتكره بنية القراءة لعدم ثبوتها فیها عنه علیه الصلاة والسلام (۲) د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه چې په صلاة جنازه کې د فاتحه ویلو روایت دی، د دې تاویل حنفیه رحمهم الله دا کوي چې په نیت د دعا یې فاتحه الكتاب ویلې ده، د قراءت په نیت نه ده. کما بین في کتب الفقه (۳)

--- ولا یخفی انه اذا کان اعلم من غیره لا تزول العلة، فانه لا یؤمن ان یصلی بهم بغیر طهارة، فهو کالمبتدع تکره امامته بكل حال، بل مشی في شرح المنیة علی ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم لما ذکرنا، قال ولذا لم تجز الصلاة خلفه اصلا عند مالك، ورواية عن احمد، فلذا حاول الشارح في عبارة المصنف وحمل الاستثناء علی غیر الفاسق، والله اعلم (الدر المختار والشامي: ۴۱۴/۱، کتاب الصلاة، باب الامامة، قبیل مطلب البدعة خمسة اقسام ط رشیدیه)

۱) مشكاة المصابیح، ص: ۱۴۲، کتاب الجنائز، باب المشي بالجنازة والصلاة علیها، الفصل الثاني

۲) الدر المختار مع الشامي: ۲۴۴/۱، کتاب الصلاة، باب صلاة الجنازة، مطلب هل یسقط فرض الكفاية بفعل الصبي ط رشیدیه

۳) الدر مع الرد: ۲۲۵/۱، کتاب الصلاة، باب صلاة الجنازه، مطلب في زیارة القبور ط رشیدیه

فائده: د شامي په حاشیه کې دي چې دا حدیث باطل دی او د دې هیڅ اصل نشته

هذا حدیث باطل لا اصل له، وهو بعید عن کلام النبوة، انظر: تذکرة الموضوعات (۲۱۹) (هامش الشامي مع الدر: ۲۲۲/۱، کتاب الصلاة ط رشیدیه)

(ب) او په ایصال ثواب میت کي هیڅ کلام نشته، سورة فاتحه او سورة اخلاص او سورة یاسین او نور ویلو سره میت ته ثواب ور رسوي په دې کي هیڅ حرج نشته، بلکه ثواب دی: قال في الدر المختار بعد بيان استحباب زيارة القبور: ويقرأ يس وفي الحديث: من قرأ الاخلاص احد عشر مرة ثم وهب اجرها للاموات اعطي من الاجر بعدد الاموات(۲) فقط والله تعالی اعلم

ایا حدیث: لا مهر اقل من عشرة دراهم په هکله د مولنا عبد الحي صاحب تحقیق صحیح دی؟

(۲۰۱) حدیث: لا مهر اقل من عشرة دراهم په نسبت چي د ضعف جواب ورکول کیږي چي په تعدد طرق صحت موندي، مولوي عبد الحی صاحب مرحوم پخپلو تصانیفو کي لیکي چي دلته زموږ د احنافو قول په تصحیح کي غلط دی پخپله طرق ډیري ضعیف دی، په قاعده اصول حدیث دغه طرق جائز نشي کیدای، د مولنا عبد الحي صاحب مرحوم دا لیکل صحیح دي کنه؟ (۳۲/۲۴۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: د دې په هکله په حواشي هدایه، فتح القدیر او نورو کي کتل پکار دي(۱) د مولوي عبد الحی صاحب مرحوم پر تحقیق اعتماد نه دی کول پکار. فقط والله تعالی اعلم

---

۱) حضرت مولنا مفتي سعيد احمد صاحب پالن پوري په تحفه الالمعي کي ليکي: د حضرت جابر رضی الله عنه څخه په روایت حسن مروي دي چي لا مهر اقل من عشرة دراهم یعني تر لس درهم کم مهر نشي کیدای..... د حضرت جابر رضی الله عنه دا حدیث په سنن کبري بیهقي او دار قطني کي دی او دغه د مبشر بن عبید او حجاج بن ارطاة له وجي ضعیف ګرځول شوی دی، مګر علامه ابن همام فرمایي: دغه حدیث ابن ابي حاتم هم روایت کړی دی او د دغه په هکله حافظ ابن حجر رحمه الله فرمایي: انه بهذا الإسناد حسن، لا اقل منه (فتح القدير: ۱۸۲/۳) (تحفة الألمعي: ۵۳۲/۳-۵۳۷، کتاب النكاح، باب ماجاء في مهور النساء)

الموت راحة الفقراء حديث دی کنه؟

(۲۰۲) الموت راحة الفقراء حديث دی کنه؟ که حديث دی نو په کوم کتاب کي به وي؟ په تذکرة الموتی کي د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه روايت دی چي پنځه سوه ملائکي د ملک الموت سره ناجوړه ته په وخت د نزع راځي او په نورو رسائلو کي دا دي چي اتلس ملائکي د ملک الموت سره راځي، د اتلسو ملائکو والا روايت څه اسناد شته کنه؟ يا قول صحابه يا اثر مجتهد، يا بل څه؟ (۱۲۲۵/۳۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: الموت راحة الفقراء هيڅ يو حديث په ياد نه راځي او په يو کتاب کي نه دی ليدل شوی، غالبًا د چا مقوله به وي، د تذکرة الموتی د روايت او د اتلسو ملائکو والا روايت هيڅ حال معلوم نه دی، نه څه سند يې معلوم دی، نه دا چي اثر دی يا مرفوع حديث دی او صحيح دی که ضعيف. فقط والله تعالی اعلم

د څو قولو او احاديثو تحقيق وتخريج

(۲۰۳) په يو رساله کي لاندي جملو ته حديث ليکلي دی:

(۱) انما نهيتکم عن صوتين أحمقين صوت النوحة وصوت الغناء.

(۲) کان ابليس اول من تغني واول من ناح.

(۳) التغني حرام والتلذذ بها کفر والجلوس فسق ومعصية. دغه جملي حديث دی کنه؟ (۱۲۱۷/۳۳-۱۳۳۴ھ)

جواب: دغه جملي په الفاظ مذکوره سره د يو حديث په کتاب کي په نظر نه دی راغلی، د لومړی جملي په هکله په جامع صغير کي د دغه الفاظ حديث منقول دی: صوتان ملعونان في الدنيا والآخر مزمار عند نعمة ورنة عند مصيبة رواه البزار [1] او جمله ثالثه صاحب درمختار له بزازيه څخه په دغه الفاظو سره نقل کړي ده:

---

[1] رواه البزار والضياء عن انس (صحـ) (الجامع الصغير في احاديث البشير النذير للسيوطي، ص ۳۱۱، حرف الصاد، رقم الحديث ۵۰۵۰) وفي مجمع الزوائد: عن انس بن مالک رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: صوتان الحديث (مجمع الزوائد ومنبع الفوائد: ۱۳/۳، کتاب الجنائز، باب في النوح، المطبوعة دار الکتب العلمية، بيروت)

وفي البزازية استماع صوت الملاهي كضرب قصب ونحوه حرام لقوله عليه الصلاة والسلام استماع الملاهي معصية، والجلوس عليها فسق، والتلذذ بها كفر اي بالنعمة فصرف الجوارح الى غير ما خلق لاجله كفر بالنعمة لا شكر الخ([1]) (در مختار)

او جمله ثانيه يو ځای تر نظر نه ده تيره شوې. فقط والله تعالی اعلم.

(۲۰۴) ..... (الف) عند ذکر الاولياء وتنزل الرحمة حديث دی کنه؟ که حديث دی نو د کوم کتاب دی؟

(ب) اتقوا فراسة المؤمن فانه ينظر بنور الله دا حديث دی که د يو صحابي قول دی؟

(ج) وان يتوسل الی الله بانبيائه حديث دی که د يو بزرګ مقوله ده؟ بينوا توجروا. (۱۰۱۹/۱۳۳۵هـ)

جواب: (الف) عند ذکر اولياء الله الخ د يو بزرګ مقوله ده غالبًا حديث نه دی.

(ب) اتقوا من فراسة المؤمن الخ(۲) هم په ظاهره په دغه الفاظو سره حديث نه دی دا هم د يو بزرګ مقوله ده.

(ج) وان يتوسل الی الله تعالی الخ هم د بزرګانو مقوله ده، حديث نه دی. فقط

لولاک لما خلقت الافلاک حديث دی کنه؟

(۲۰۵) لولاک لما خلقت الافلاک حديث دی کنه؟ او په صحاح سته کي مذکور دی کنه؟ (۱۵۰/۱۳۳۷هـ)

جواب: دا حديث نه دی او په يو کتاب حديث مثل صحاح سته او نورو مذکور نه دی([3])

---

۱) الدر المختار مع الرد: ۲۴۲/۵، کتاب الحظر والاباحة ط رشيديه

۲) په ترمذي شريف کي دي: عن ابي سعيد الخدري رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: اتقوا فراسة المؤمن فانه ينظر بنور الله، ثم قرأ: (ان في ذلک لايت للمتوسمين) (جامع الترمذي: ۱۴۵/۲، ابواب التفسير، ومن سورة الحجر)

۳) په کشف الخفاء کي دي: قال الصغاني: موضوع، واقول لکن معناه صحيح وان لم يکن حديثًا. (کشف الخفاء ومزيل الالباس: ۲۱۴/۲، رقم الحديث: ۲۱۲۳)

بلکه د بزرګانو له مکشوفات څخه دی او مضمون دې عند المحققین صحیح دی، لکه حضرت مولنا محمد قاسم صاحب قدس سره په خپله قصیده مدحیه کې دا شعر هم لیکلی دی:

که تا دی نه وې پیدا کړی نو تول عالم ته * نصیب کیدی نه د موجود والی دولت خامخا (۱)

دغه شان نورو اکابر اولیاء امت تصریح کړې ده. فقط والله تعالی اعلم.

(۲۰۶) دا خبره مشهوره ده چې دا قول حذیفه دی: "نه پیدا کوله دنیا که یې نه پیدا کوای رسول الله صلی الله علیه وسلم" دا خبره صحیح ده، که دا حدیث دی؟ (۱۳۴۱/۳۷۱هـ)

جواب: دا ترجمه ده: لو لاک لما خلقت الا فلاک، مګر دا حدیث نه دی د بزرګانو مقوله ده او په کشف صحیح سره هغو داسې ویلې ده، لکه چې حضرت مولنا محمد قاسم صاحب قدس سره پخپله قصیده بهاریه کې هم دا مضمون اخیستی دی:

که تادی نه وې پیدا کړی نو تول عالم ته * نصیب کیدی نه د موجود والی دولت خامخا (۲)

ومن لم یعرف امام زمانه فقد مات میتة الجاهلیة تحقیق

(۲۰۷) په حدیث شریف کې وارد دي: من لم یعرف امام زمانه فقد مات میتة جاهلیة، دا د کوم درجې حدیث دی؟ د دې څه معنی او مراد دی؟ (۱۸۰۵/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: دغه روایت په دغه الفاظو سره یو ځای نشو ملاو (۳) مګر په مسلم شریف کې په دغه الفاظو سره مروي دی: من مات بغیر امام مات میتة جاهلیة ترجمه دا ده چې

---

۱) قصائد قاسمي، ص: ۵، قصیده بهاریه در نعت رسول الله صلی الله علیه وسلم، شعر نمبر: ۵۲، مطبوعه: کتب خانه، رشیدیه، دهلي.

۲) ملا علي قاري په مرقاة کې لیکي:

قوله (ومن مات ولیس في عنقه بیعة) اي لامام (مات میتة جاهلیة) وهو معنی ما اشتهر علی الالسنة وذکره السعد في شرح العقائد من حدیث: "من مات ولم یعرف امام زمانه مات میتة جاهلیة" (مرقاة المفاتیح: ۲۳۴/۷، کتاب الامارة والقضاء، الفصل الاول، رقم الحدیث: ۳۶۷۴)

۳) د مسلم شریف د روایت الفاظ دا دي: عن ابي هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من خرج من الطاعة وفارق الجماعة ثم مات، مات میتة جاهلیة الحدیث

کوم سړی بیله امام مړ شي، د ده مرګ د جاهلیت دی، مطلب دا دی چي د استطاعت وقدرت باوجود د امام تلاش په کار دی، یعني مسلمانان ته یو خپل امام جوړول په کار دی، لکه د سلف مسلمانانو په هر زمانه کي د یو امام سره بیعت وکړي او په هغه پسي شو. فقط والله تعالی اعلم.

یسعني قلب عبدي المؤمن حدیث دی کنه؟

(۲۰۸) حدیث لا یسعني سمائي ولا ارضي ولکن یسعني قلب عبدي المؤمن دا حدیث په کوم کتاب کي دی؟ او د دغه مضمون یو آیت په قرآن شریف کي شته کنه؟ او حدیث مذکور د کومي درجې دی؟ (۱۰۴۲/۱۳۳۷هـ)

جواب: حدیث: لا یسعني سمائي ولا ارضي الخ (۱) په تغیر یسیر په احیاء العلوم امام غزالي کي مذکور دی، د هغه الفاظ دا دي: لم یسعني ارضي ولاسمائي ووسعني قلب عبدي المؤمن.

لیکن د احیاء العلوم شراح او مخرجین وفرمایل چي په دغه الفاظو د دې حدیث هیڅ اصل نشته، مګر د دغه په شان معنی والا یو بل حدیث د أبو عتبه خولاني رضی الله عنه څخه د هغو صحابیت مختلف فیه دی مرفوعًا مروي دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ان الله آنیة من اهل الارض وآنیة ربکم قلوب عباده الصالحین واحبها الیه والینها وارقها (۲) او دغه حدیث سند ته امام بیهقي حسن ویلی دی،

وعن ابن عباس رضی الله عنهما عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: من کره من امیره شیئًا فلیصبر علیه، فانه لیس احد من الناس یخرج من السلطان شبرًا، فمات علیه الا مات میتة جاهلیة (الصحیح لمسلم: ۱۲۸/۲، کتاب الامارة، باب وجوب ملازمة المسلمین عند ظهور الفتن الخ)

۱) احیاء علوم الدین للغزالي: ۱۴/۳، کتاب شرح عجائب القلب، بیان مثل القلب بالاضافة الی العلوم خاصة. المطبوعة: مطبعة مصطفی البابي الحلبي واولاده، مصر.

۲) حدیث ابن عمر رضی الله عنهما: این الله؟ قال في قلوب عباده المؤمنین لم اجده بهذا اللفظ. وللطبراني من حدیث ابي عتبة الخولاني یرفعه الی النبي صلی الله علیه وسلم قال: ان لله آنیة الخ ... فیه بقیة ابن الولید وهو مدلس لکنه صرح فیه بالتحدیث وفیه ایضًا: حدیث قال الله ما وسعني ارضي الخ..... لم أر له اصلا، وفي حدیث ابي عتبة قبله عند الطبراني بعد قوله وآنیة ربکم الحدیث (المغني عن حمل الاسفار في الاصفار في تخریج ما في الاحیاء من الاخبار مع احیاء علوم الدین: ۱۴/۳)

بس نو دا الفاظ: آنیه ربکم قلوب عباده الصالحین حاصل هغه دی کوم جي د لکن یسعني قلب عبدي المؤمن دا دی او د دې تحقیق او تفصیل طویل دی او پخپله په قرآن مجید کي دي: (الله نور السماوات والارض مثل نوره کمشکوة فیها مصباح) (سورة نور، آیت: ۳۵) قال صاحب الجلالین: (مثل نوره) اي صفته في قلبه المؤمن (کمشکوة فیها مصباح المصباح في زجاجة) ([1]) نو په دې آیت کي له مشکاة یعني طاخچه څخه مراد قلب مؤمن دی او د مصباح څخه مراد نور باري تعالی دی، بس وسعت قلب عبد مؤمن او د هغه به معنی چراغ تجلی ګاه حق تعالی کیدل د دې آیت څخه هم ثابت دي او صوفیاء کرام د دې معنی پر صحت متفق دي، همدغه شان آیت کریمه: (انا عرضا الامانة علی السماوات والارض والجبال فأبین ان یحملنها واشفقن منها وحملها الانسان) (سورة احزاب، آیت: ۷۲) کي د امانت تفسیر په معرفت سره شوی دی، کما في التفسیر الکبیر للامام الرازي رحمه الله ([2]) نو د آسمان او ځمکي د دې متحمل نه کیدل او انسان د دې متحمل کیدل هم پر دغه مضمون دال دی. فقط والله تعالی اعلم.

اوتیت علم الاولین والآخرین حدیث دی کنه؟

(۲۰۹) حدیث: اوتیت علم الاولین والآخرین په کوم کتاب کي دی؟ او د دې څخه کوم حضرات مراد دي؟ یعني له اولین څخه او آخرین څخه او د آخرینو د حصول علم به څه صورت وي؟ (۱۳۳۸/۴۸۵هـ)

جواب: دا حدیث مي په کوم کتاب کي تر نظر نه دی تیر شوی، اوس هم تتبع کتب احادیث وشوه

---

۱) تفسیر الجلالین، ص: ۲۹۸، تفسیر سورة النور.

۲) وفي الآیة مسائل: المسالة الاولیٰ: في الامانة وجوه کثیرة: منهم من قال هو التکلیف...... ومنهم من قال: معرفة الله بما فیها، والله اعلم (مفاتیح الغیب: ۱۴/۲۲۹-۲۳۰، تفسیر سورة الاحزاب، المطبوعة المطبعة العامرة الشرفیة)

دا حدیث په الفاظو مذکوره نشو ملاو. مګر په جامع صغیر د سیوطي کي په دي الفاظو سره منقول دی: اوتیت مفاتیح کل شیئ الا الخمس ان الله عنده علم الساعة الایة (۱) نو دا حدیث پخپله د علم غیب نفي کوي او که حدیث علمت علم الاولین والاخرین ثابت شي نو بیا د دې مطلب دا دی چي د نبي صلی الله علیه وسلم علم د تمام مخلوق اولین والاخرین تر علم زیات او اکمل واقوي دی او علم ذات وصفات باري تعالی لکه چي ده ته ؤ هغه شان اولین وآخرین ته نه ؤ. فقط والله تعالی اعلم.

الذکاة بین اللبة واللحیین څرنګه حدیث دی

سوال: (۲۱۰) .... (الف) ذبح فوق العقده کي ذبیحه حلاله ده کنه؟ که یې وخوري نو څه کفاره شته کنه؟

(ب) او حدیث الذکاة مابین اللبة الخ صحیح دی غریب؟ (۱۷۴۰/۱۳۳۷هـ)

جواب: (الف - ب) قال في الدر المختار: وعروقه الحلقوم الخ والمري الخ والودجان الخ وحل المذبوح بقطع اي ثلاث منها اذا للاکثر حکم الکل الخ (۲) له دي روایت څخه معلوم شو چي عروق ذبح څلور دي او په ذبح فوق العقده کي که کل یا اکثر عروق ذبح قطع شي نو ذبیحه حلاله ده، یعني که دري رګونه هم قطع شي نو ذبیحه حلاله ده او که اکثر عروق ذبح قطع نشي او په د ناخبرتیا په وجه هغه ذبیحه وخوړه نو معاف ده. لیکن آئنده دي د دې خیال وساتل شي او په دې کي هیڅ کفار نشته او حدیث الذکاة مابین اللبة واللحیین (۳) ته که څه هم

---

۱) (طب) عن ابن عمر رضی الله عنهما. (الجامع الصغیر، ص: ۱۲۵، حرف الهمزة، رقم الحدیث: ۲۷۷۲. المطبوعة: دار الکتب العلمیة، بیروت)

۲) الدر المختار مع الشامي: ۲۰۲/۵-۲۰۷، آوائل کتاب الذبائح. ط رشیدیه

۳) الحدیث السادس: قال علیه السلام: الذکاة ما بین اللبة واللحیین: قلت: غریب بهذا اللفظ. واخرج الدار قطني في سننه عن سعید بن سلام العطار ثنا عبد الله بن بدیل الخزاعي عن الزهري عن سعید بن المسیب عن ابي هریرة رضی الله عنه، قال: بعث رسول الله صلی الله علیه وسلم بدیل بن ورقاء الخزاعي علی جمل اورق، یصیح في فجاج منی: الا ان الذکاة في الحلق واللبة انتهی. قال في التنقیح هذا اسناد ضعیف بمرة

امام ترمذي غريب ويلى دى اسنادا (۱) ليكن دا حديث معمول به سلف وخلف ومجمع عليه دى او د هيچا په دې كي خلاف نشته چي ذكاة اختياريه ذبح بين اللبة واللحيين ده.

د لاصلاة لجار المسجد الخ او ان افضل عمال امتي الخ تحقيق

سوال: (۲۱۱)..... (الف) لاصلاة لجار المسجد الا في المسجد صحيح ومعمول بهادي كه غير صحيح متروك العمل، په بعض كتب غير مشهوره كي مرقوم دى.

(ب) او دا حديث: ان افضل اعمال امتي تلاوة القرآن نظرا صحيح دى كنه؟ (۱۳۳۵/۲۸۵هـ)

جواب: (الف) په جامع صغير كي دي: لا صلاة لجار المسجد الا في المسجد قط. عن جابر وعن ابي هريرة رضى الله عنهما، ضعيف (۲) وفي السراج المنير: هذا محمول

== وسعيد بن سلام اجمع الائمة على ترک الاحتجاج به، وكذبه ابن نمير، وقال البخاري: يذكر بهذا الحديث، وقال الدار قطني: يحدث بالاباطيل، متروک، انتهى، واخرجه عبد الرزاق في مصنفه موقوفا على ابن عباس وعلى عمر رضى الله عنهم: الذكاة في الحلق واللبة، انتهى. (نصب الراية في تخريج احاديث الهداية للزيلعي: ۱۸۵/۴، كتاب الذبائح، المطبوعة مطبعة دار الامان)

۱) حدثنا هناد ومحمد بن العلاء قالا حدثنا وكيع عن حماد بن سلمة ح وحدثنا احمد بن منيع حدثنا يزيد بن هارون ثنا حماد بن سلمة عن ابي العشراء عن ابيه قال:

قلت: يا رسول الله! اما تكون الذكاة الا في الحلق واللبة، قال: لو طعنت في فخذها لاجزا عنک، قال احمد بن منيع قال يزيد بن هارون هذا في الضرورة، وفي الباب عن رافع بن خديج، هذا حديث غريب لا نعرفه الا من حديث حماد بن سلمه ولا نعرف لابي العشراء عن ابيه غير هذا الحديث واختلفوا في اسم ابي العشراء فقال بعضهم اسمه اسامة بن فهطم ويقال يسار بن برز ويقال ابن بلز ويقال اسمه عطارد. (جامع الترمذي: ۲۷۳/۱، ابواب الصيد، باب في الذكاة في الحلق واللبة)

۲) الجامع الصغير في احاديث البشير النذير، ص: ۵۸۵، حرف لا، رقم الحديث: ۹۸۹۸، المطبوعة دار الكتب العلمية، بيروت

على الفريضة وما الحق بها ففعلها في المسجد افضل، وما عدا ذلک ففعله في البيت افضل من فعله في المسجد. (١)

(ب) افضل عبادة امتي قراءة القرآن نظراً (٢) قال في السراج المنير (ص: ١١١): اى في مصحف فقراء اته نظراً افضل من قراءته على ظهر قلب رواه الحكيم الترمذي عن عبادة ابن الصامت واسناده حسن. (٣)

حدیث اول معمول بها دی په داسي طریقه سره چي حدیث به محمول کړو پر فرائض او کوم چي د هغه په حکم کي دی او نوافل په کور کي کول افضل دي او حدیث ثاني په الفاظ مذکوره بسره موجود دی او کوم الفاظ چي په سوال کي درج دی په هغو الفاظو سره ملاو نه شو، مګر مطلب یو دی. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۲۱۲) ستا په جواب کي ليکلي دي: لا صلاة لجار المسجد الا في المسجد عن جابر وعن ابي هريرة رضی الله عنهما ضعيف، (جامع صغير) وفي السراج المنير: هذا محمول على الفريضة وما الحق بها ففعلها في المسجد افضل، وما عدا ذلک ففعله في البيت افضل من فعله في المسجد؛ له دي حدیث بالکلیه نفي جواز صلاة په غیر د مسجد معلومیږي او په سراج منیر کي محمول نفي پر افضلیت کوي او اصل لمونځ په مکان او دوکان او نورو کي جائز بولي او د داغه حدیث په متن کي ليکلي دي چي عبد الله ابن ام مکتوم ړوند د لمانځه اجازه په مکان کي وغوښته، نبي صلی الله علیه وسلم پوښتنه څني وکړه چي د اذان آواز اوري؟ ده ویل هو اورم، نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل مسجد ته راځه لمونځ کوه، له دي څخه معلومیږي چي لمونځ فریضه په مکان کي بالکل جائز نه دی، اوس که نفي دا فضلیت دی نو په کوم دلیل سره؟ او په مکان او دوکان کي فرض لمونځ د عذر سره یا بیله عذره جائز دی کنه؟ (۱۳۳۵/۱۲۱۳هـ)

جواب: حدیث: لا صلاة کي لا د نفي کمال لپاره ده، لکه لا ایمان لمن لا

---

١) السراج المنير شرح الجامع الصغير في احاديث البشير النذير: ٤٢٧/٣، حرف "لا".

٢) الحكيم عن عبادة بن الصامت(ض) (الجامع الصغير للسيوطي، ص: ٨٢، حرف الهمزة، رقم الحديث: ١٣٠٥)

٣) السراج المنير شرح الجامع الصغير في احاديث البشير النذير: ٢٣٢/١، حرف الهمزة.

امانة له(۱) او نورو روايت کي داغه مراد بالاتفاق دی او حديث عبد الله بن ام مکتوم هم پر داغه محمول دی چي نبي صلى الله عليه وسلم هغه ته د افضل امر وکړی فقط والله اعلم

لا صلاة الا بحضور القلب حديث دی کنه؟

سوال: (۲۱۳) لا صلاة الا بحضور القلب د دې حديث تنقيد دی بيان شي، که دا قول دی نو د چا دی؟ او ماخذ يې څه دی؟ (۴۴/۲۵۷-۱۳۴۵هـ)

جواب: په دغو الفاظو سره په کتب حديث کي هيڅ حديث نشته چي د هغه تنقيد وشي، په احياء کي امام غزالي رحمه الله له تابعين څخه څه اثار نقل کړي دي په کتاب مذکور کي دي وکتل شي. فقط

سوال: (۲۱۴) په کتاب بوستان معرفت مثنوي مولانا روم دفتر سوم، ص: ۲۴۰ کي ليکلي دي: لا صلاة الا بحضور القلب د حديث حواله ورکوي دا صحيح دی کنه؟ (۱۳۴۵/۱۴۸۵هـ)

جواب: بعض مشائخ رحمهم الله دا نقل کړی دی او مضمون يې صحيح دی ځکه له لا صلاة الا بحضور القلب څخه مراد دا دی چي کمال د لمانځه بېله خشوع وخضوع وحضور قلب نه حاصليږي، کما قال الله تعالى: "قد أفلح المؤمنون الذين هم في صلاتهم خاشعون، الاية" (سورة مؤمنون، آيت:۱-۲) ليکن په دغو الفاظو سره دا حديث ثابت نه دی. فقط والله تعالى اعلم

د لا صلاة الا بفاتحة الكتاب څخه څرنګه وجوب ثابتيږي؟

سوال: (۲۱۵) احناف تعيين د سورة فاتحه ولي واجب بولي حديث: لا صلاة الخ څخه؟ او لا جمعة الخ څخه د لا معنى لا يصح ولي بيان کوي؟ د لا صلاة څخه وجوب څرنګه ثابت کيدای شي؟ په دغه روايت کي لا خو د نفي کمال لپاره ده؟ (۴۲/۲۲۴-۱۳۴۷هـ)

جواب: حديث: لا صلاة الا بفاتحة الكتاب ظاهر مفهوم داغه دی چي بيله

۱) عن انس رضى الله عنه قال: قلما خطبنا رسول الله صلى الله عليه وسلم الا قال: لا ايمان لمن لا امانة له، ولا دين لمن لا عهد له رواه البيهقي في شعب الايمان (مشكاة المصابيح، ص: ۱۵، كتاب الايمان، الفصل الثاني)

سورة فاتحه لمونځ صحیح نه وي او لا دی د نفي ذات او نفي جنسِ لپاره وي، لکه اصلي معنی د دې داغه ده لیکن په سبب د آیت: "فاقرءوا ما تیسر من القرآن" (سورة مزمل، آیت: ۲۰) لا د نفي کمال لپاره واخیستل شوه او د نفي کمال مطلب داغه دی چي بیله سورة فاتحه لمونځ کامل نه دی، بلکه ناقص دی او ناقص په ترک واجب سره کیږي لهذا معلومه شوه چي سورة فاتحه فرض نه ده، بلکه واجب ده، په خلاف د سنت ومستحب چي د هغه په ترک سره لمانځه ناقص نه ویل کیږي، د دې وجي په ترک د سنت ومستحب سره سجده سهو لازم نشوه، سجده سهو د نقصان د جبر لپاره وي او په لا جمعة او لا تشریق (۱) کي لا پخپله اصلي معنی کي اخیستل شوې ده، د دې وجي لا تصح ویل صحیح شو، څکه چي دلته د یو آیت یا حدیث تعارض نشته چي لا جمعة الخ په هغه بدل شي او معنی حقیقي پریښودلای شي او مجازي معنی ته رجوع وشي، د دې تفصیل له هغو رسائل څخه معلوم کیدای شي چي د جمعه په متعلق تصنیف شوی دی، لکه اوثق العري او احسن القري (۲) باقي تحقیق وتفصیل د لا صلاة الا بفاتحة الکتاب کتب فقه مثل فتح القدیر او نورو څخه او شروح حدیث مثل عیني او نورو څخه معلوم کیدای شي او د دې زیات تحقیق وتفصیل طرفته چي د هغه متعلق کتابو کي موجود دي که تاسو کتب اصول وفقه وشروح حدیث په غور سره مطالعه وکړې نو اطمنان به وشي. فقط والله تعالی اعلم.

السخي حبیب الله ولو کان فاسقًا حدیث دی کنه

سوال: (۲۱۲) دا حدیث په صحاح سته کي شته کنه؟ السخي حبیب الله ولو کان فاسقًا؟ (۲۲۴/۱۳۴۳ھ)

---

۱) مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح: ۴۲۳/۳، کتاب الصلاة، باب الخطبة والصلاة، الفصل الثالث، رقم الحدیث: ۱۴۱۹

۲) اوثق العري د حضرت مولنا رشید احمد گنگوهي قدس سره یو مختصره رساله ده چي په کلي کي د جمعې د لمانځه په هکله د سوال په جواب کي تحریر شوې وه، د هغه مزید وضاحت شیخ الهند حضرت مولنا محمود حسن صاحب دیوبندي رحمه الله په احسن القری کي کړی دی، دغه دواړه کتابونه شیخ الهند اکیډمي د حوالو له تخریج او د اغلاط له تصحیح کولو سره په جدید انداز کي چاپ کړی دی، له مکتبه دار العلوم دیوبند څخه هغه حاصل کیدای شي.

جواب: دا حدیث په الفاظ مذکوره سره په صحاح سته کي نشته، مګر د ترمذي شریف په روایت کي یو حدیث په لاندي الفاظو سره مروي دی: السخي قریب من الله، قریب من الجنة، قریب من الناس، بعید من النار... والجاهل السخي احب الی الله من عابد بخیل (۱) (رواه الترمذي) فقط والله تعالی اعلم

من عرف نفسه فقد عرف ربه حدیث دی کنه؟

سوال: (۲۱۷) من عرف نفسه فقد عرف ربه حدیث دی کنه؟ (۱۳۳۸/۲۰۵۴هـ)

جواب: حدیث نه دی، د یو بزرګ قول دی. فقط والله تعالی اعلم

اخرجوا الیهود والنصاری من جزیرة العرب حدیث صحیح دی که ضعیف؟

سوال: (۲۱۸) حدیث: اخرجوا الیهود والنصاری من جزیرة العرب دا صحیح حدیث دی که ضعیف؟ (۱۳۴۰/۲۸۳هـ)

جواب: په بخاري ومسلم کي دغه روایت په دغو الفاظو سره مروي دی: اخرجوا المشرکین من جزیرة العرب (۲) قال في المرقاة یرید بهم الیهود والنصاری (۳) او په صحیح مسلم کي په دغو الفاظو سره مروي دی: لاخرجن الیهود والنصاری من جزیرة العرب حتی لا ادع الا مسلمًا (۴) نو حدیث مذکور په الفاظ مذکوره سره صحیح دی. فقط والله تعالی اعلم

---

۱) عن ابي هریرة رضی الله عنه عن النبي صلی الله علیه وسلم قال: السخي، الحدیث (جامع الترمذي: ۱۷/۲، ابواب البر والصلة، باب ماجاء في السخاء)

۲) عن ابن عباس رضی الله عنهما ان رسول الله صلی الله علیه وسلم اوصی بثلاثة، قال: اخرجوا، لحدیث (مشکاة المصابیح، ص: ۳۵۵، کتاب الجهاد، باب اخراج الیهود من جزیرة العرب، الفصل الاول)

۳) مشرقاة المفاتیح ۵۸۴/۷، کتاب الجهاد، رقم الحدیث: ۴۰۵۲

۴) عن عمر بن الخطاب رضی الله عنه انه سمع رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: لاخرجن، الحدیث (الصحیح لمسلم: ۹۴/۲، کتاب الجهاد والسیر، باب اجلاء الیهود من الحجاز)

من زار قبري وجبت له شفاعتي صحيح حديث دی که ضعيف؟

سوال: (۲۱۹) من زار قبري وجبت له شفاعتي صحيح حديث دی که ضعيف؟ (۱۳۴۲/۲۳۷)

جواب: دغه حديث په جامع صغير کي ضعيف ليکلی دی. (۱) فقط والله تعالی اعلم

من صلی خلف عالم تقي الخ حديث دی کنه

سوال: (۲۲۰) من صلی خلف عالم تقي فکانما صلی خلف نبي دغه حديث بعض علماوو په اردو کتابو کي نقل کړی دی، مګر د منقول عنه نوم يې نه دی ښودلی، تسکين بخش جواب راکړه. (۱۳۴۰/۱۴۱۲هـ)

جواب: دغه حديث شامي هم د امامت په بيان کي نقل کړی دی، ليکن بيا دا نقل کړي دي چي د دې حديث هيڅ پته مخرجين ته معلومه نشوه، په در مختار کي دي: من صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة الخ پر دې علامه شامي نقل کړي دي: قوله (نال فضل الجماعة) افاد ان الصلاة خلفهما اولی من الانفراد، لکن لا ينال کما ينال خلف تقي ورع لحديث: من صلی خلف عالم تقي فکانما صلی خلف نبي، قال في الحلية: ولم يجده المخرجون، نعم اخرج الحاکم في مستدرکه مرفوعًا: ان سرکم ان يقبل الله صلاتکم فليؤمکم خيارکم فانهم وفدکم فيما بينکم وبين ربکم الخ (۲) (۱/۳۷۷) فقط والله تعالی اعلم

---

۱) (عدهب) عن ابن عمر رضی الله عنهما (ض) (الجامع الصغير في احاديث البشير النذير، ص: ۵۲۸، حرف الميم، رقم الحديث: ۸۷۱۵، المطبوعة، دار الکتب العلمية، بيروت)

۲) رد المحتار: ۱/۴۱۵، کتاب الصلاة، باب الامامة، قبيل مطلب في امامة الامرد. ط رشيديه قال في الاصل: وما وقع في الهداية للحنفية بلفظ "من صلی خلف عالم تقي فکانما صلی خلف نبي" فلم اقف عليه بهذا اللفظ (کشف الخفاء ومزيل الالباس للعجلوني: ۲/۱۲۲، رقم الحديث: ۱۸۲۵، والمقاصد الحسنة في بيان کثير من الاحاديث المشتهرة علی الالسنة للسخاوي، ص: ۳۰۴، رقم الحديث: ۷۲۴، المطبوعة: مکتبة الخانجي بمصر)--

کوم سړی چي دا وايي چي فلانکی حديث هذيان (چټلي خبري) دی د هغو لپاره څه حکم دی؟

سوال: (۲۲۱).... (الف) يو سړی د حديث: البيعان بالخيار ما لم يتفرقا په هکله وايي چي د ارجز دی او دا حديث په اصل کي دا شان دی: البيعان بالخيار ما لم يتفرقا عن المجلس له دې وجي د غه حديث ذکر بيله ملاويدو د لفظ عن المجلس خبط واهي دی؟

(ب) همدا شان هغه وايي چي لاندي حديث هذيان دی او پر هغه عمل کول هم هذيان دی، عن انس ان يهوديا رضخ راس جارية بين حجرين، فرضخ النبي صلى الله عليه وسلم رأسه بين حجرين، بينو توجروا. (۱۱۲۷/۱۳۳۵ھ)

جواب: .... (الف) د بخاري او مسلم روايت په دغو الفاظو سره دي: البيعان بالخيار مالم يتفرقا فان صدقا وبينا بورک لهما في بيعهما وان کتما وكذبا محقت بركة بيعهما متفق عليه(۱) (مشکاة) او په مشکاة شريف کي دا هم منقول دي: وفي رواية للترمذي البيعان بالخيار ما لم يتفرقا او يختارا (۲) او دغه الفاظ مختلفه په دې مروي دي، که يوه جمله حديث "رجز" هم شوی وي او بيله ارادې پر يو وزن شوې وي نو د هغه څخه بحث کول فضول دی، لکه ځيني آيات قرانيه پر يو وزن برابريږي.

(ب) دا حديث په بخاري او مسلم کي په دې الفاظو سره مروي دي: عن انس رضى الله عنه ان يهوديا رض راس جارية بين حجرين، فقيل لها من فعل بک هذا افلان افلان؟ حتى سمي اليهودي، فاومت براسها، فجيء باليهودي فاعترف، وامر به رسول الله صلى الله عليه وسلم، فرض راسه بالحجارة، متفق عليه (۳) (مشکاة شريف، ص: ۲۹۲)

-- وقال الزيلعي في "الدراية في تخريج احاديث الهداية": لم اجده وقد روى الحاكم والطبراني من حديث مرثد بن ابي مرثد الغنوي: ان سركم ان تقبل صلاتكم فليؤمكم خياركم الخ (الهداية مع الدراية ۱۲۳/۱، كتاب الصلاة، باب الامامة)

۱) عن حكيم بن حزام رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: البيعان بالخيار، الحديث (مشكاة المصابيح، ص: ۲۴۴، كتاب البيوع، باب الخيار، الفصل الاول)

۲) مخکنی حواله

۳) مشكاة المصابيح، ص: ۳۰۰، كتاب القصاص، الفصل الاول

له دغه روایت مفصله ښځه واضح شو چې یهودي قاتل پخپله اقرار وکړ چې ما قتل کړې دی او هغه جاریه مړه شوه، پر دغه نبي صلی الله علیه وسلم بعض صحابه ته امر وکړ، هغو په قصاص کې دغه یهودي په ډبره سره قتل کړ لکه دغه یهودي چې کړی ؤ، دا حکم په ابتداء کې ؤ، بیا دا حکم وشو چې لا قود الا بالسیف(۱) یعني قصاص به په توره سره اخیستل کیږي. بس نو هغه سړی چې دغه حدیث ته هذیان وایي او پر دغه عمل کولو ته هذیان وایي که هغه بلا تاویل دا شان وایي نو مرتد دی او په تاویل دغه شان ویل هم حرام دي.. بیا هم دغه سړی د زجرو توبیخ وړ دی او تجدید ایمان دي وکړي. فقط والله تعالی اعلم.

موضوع روایات نقل کونکی دجال وکذاب دی

سوال: (۲۲۲) د مولود روایت چې په رساله مولود کې لیکلی دی د هغه بیان کوونکی به لاندې حدیث مصداق وي کنه؟ یکون في آخر الزمان دجالون کذابون الحدیث(۲) (۱۳۳۵/۲۱۴)

جواب: کوم څوک چې موضوعي روایتونه نقل کړي په غرض د عمل کولو یا په بل چا د عمل کولو هغه بیشکه د حدیث مذکور په وعید کې داخل دی. فقط والله تعالی اعلم.

د لمونځو بعد د ویدو په هکله یو موضوع حدیث

سوال: (۲۲۳) ان النوم بعد الصبح یورث الغفلة، والنوم بعد الاشراق یورث الغناء والنوم بعد الظهر یورث الفقر، والنوم بعد العصر یورث الجنون، والنوم بعد المغرب یورث النسیان، دا حدیث د کومې درجې دی؟ (۱۳۳۰-۲۹/۷۲۴هـ)

---

۱) عن النعمان بن بشیر رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: لا قود الا بالسیف (سنن ابن ماجة، ص: ۱۹۱، ابواب الدیات، باب لا قود الا بالسیف)

۲) عن ابي هریرة رضی الله عنه یقول: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: یکون في آخر الزمان دجالون کذابو یاتونکم من الاحادیث بما لم تسمعوا انتم ولا آباؤکم فایاکم وایاهم لا یضلونکم ولا یفتنونکم (الصحیح لمسلم: ۱/۱۰، مقدمة، باب النهي عن الروایة عن الضعفآء والاحتیاط في تحملها.)

جواب: دا حدیث نه دی. فقط والله تعالی اعلم.

د لمانځه پریښونکي د تعاون کولو په هکله یو بې اصل روایت

سوال: (۲۲۴) دا حدیث چې: قال النبي صلی الله علیه وسلم من اعان تارک الصلاة بشيء فکانما زنی بامه الف مرات موضوع دی که صحیح؟ (۳۴۳/۴۴-۱۳۴۵ھ)

جواب: حدیث مذکور په دغه الفاظو سره په کتب معتبره حدیث کي منقول نه دی او بې اصل دی. فقط والله تعالی اعلم.

انا عرب بلاعین. انا احمد بلا میم. باطله مقوله ده او د اول ما خلق الله نوري مطلب

سوال: (۲۲۵) د اکثرو مشائخو په زباني او تصنیف کرده کتب کي ډیر داسي حدیثونه ملاویږي چي د صریح احکام شریعت په خلاف وي، نو د نمونې په ډول دوه (دري) حدیثونه پیش کولو سره د هغه جواب غواړم. انا عرب بلا عین، انا احمد بلا میم ومن رآني فقد رای الحق، اول ما خلق الله نوري له دې اوریدو او لیدو سره موږ بې انتها محزون او پریشان یو، خو احادیث مذکوره بالکل د احکام شریعت خلاف دي حتی چي پیغمبر ته خدای ویل کیږي، نعوذ بالله من ذلک، د دغو احادیثو څه مطلب او شرحه ده؟ (۹۹۵/۳۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: دا خبره ښکاره ده چي رسول الله صلی الله علیه وسلم یو بشر دی له جمله مخلوقات څخه او د الله تعالی بنده دی د الله تعالی له جمله بندګانو څخه. الله تعالی ده ته بزرګي پیغمبري او خاتم رسل او افضل اولین وآخرین کیدل ورکړي دي، د الله تعالی ارشاد دی "قل انما انا بشر مثلکم یوحی الي" الایة(۱) ته ووایه چي زه یو بشر یم ستاسو په شان زما طرفته دا وحي کیږي چي ستاسو معبود یو دی هیڅ څوک د ده شریک نه دی، د ده فضائل بې حده او احصاء دی او آیات قرآنیه او احادیث صحیحه کثیره ده په فضائلو کي دومره قدر دي چي په موضوع روایاتو او باطل مقولاتو سره د ده فضیلت ثابت کولو ضرورت نشته،

۱) سورة کهف، آیت: ۱۱۰، سورة حم السجدة، آیت: ۲

او دی د خدای شریک جوړول کذب وبهتان صریح دی او مصداق د فلیتبوا مقعده من النار الحدیث(۱) دی، انا عرب بلاعین او انا احمد بلا میم باطل مقولات او کذب او بهتان دي، د دې مطلب دا سو چي زه یوازي خدای یم او زه رب یم، معاذ الله، حضرت کله دا شان ویلای شي، لعنت دي وي د الله تعالی پر داسي خلګو چي دا شان مقولې په دروا غو سره جوړ وي او بیا د ده طرفته یې نسبت کوي، (کبرت کلمة تخرج من افواههم ان یقولون الا کذبًا) (سورة کهف، آیت: ۵) د زیات لیکلو ضرورت نشته بطلان د دا شان مقولو پخپله ښکاره دي، د یو اهل اسلام دا شان عقیده نشي کیدای.

پاته حدیث من رآني فقد رأی الحق(۲) د دې مطلب دا نه دی کوم چي مبتدعینو ګڼلی دی(۳) د د دې مطلب دا دی چي چا زه په خوب کي ولیدم هغو رښتیا ولیدم یعني واقعي زه یې ولیدم ځکه شیطان زما په شکل کي نشي ښکاره کیدای او زما په رنګ نشي کیدای، په نورو احادیثو کي د دې تصریح ده.

او د اول ما خلق الله نوري(۴) مطلب دا دی چي الله تعالی اول زما نور یعني زما روح پیدا کړ، نو که دا ثبت شي نو په دې کي هیڅ اشکال نشته، د دې ځخه په خپله دا معلومه شوه چي د حضرت نبي صلی الله علیه وسلم روح الله تعالی جوړ کړی دی او د الله تعالی مخلوق دی. په حدیث صحیح کي دي: نحن الاخرون السابقون (۵)

---

۱) قال المغیرة رضی الله عنه: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: ان کذبًا علي لیس ککذب علی احد، فمن کذب علي الخ (الصحیح لمسلم: ۷/۱، المقدمة باب تغلیظ الکذب علی رسول الله صلی الله علیه وسلم)

۲) عن ابي سعید الخدري رضی الله عنه سمع النبي صلی الله علیه وسلم یقول: من رآني فقد رآی الحق، فان الشیطان لا یتکونني (صحیح البخاري: ۱۰۳۲/۲، کتاب التعبیر، باب من رآی النبي صلی الله علیه وسلم في المنام)

۳) د دې مطلب جاهل بدعتي دا بیان کوي چي چا نبي صلی الله علیه وسلم ولیدی هغو یقیناً حق تعالی ولیدی ۱۲

۴) دا بې اصل روایت دی لکه د راتلونکي سوال په جواب کي را روان دی. ۱۲

۵) عن ابي هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: نحن الاخرون السابقون یوم القیامة (صحیح البخاري: ۱۲۳/۱، کتاب الجمعة)

چي په ظاهر کي موږ تر ټولو آخر يو، مګر عند الله موږ تر ټولو سابق او مقدم يو په اعتبار د مرتبې.

اول ما خلق الله نوري بې اصل روايت دی

سوال: (۲۲۲) حديث: اول ما خلق الله نوري حديث صحيح است يا ضعيف؟ (۲۹/۴۳۰-۱۳۳۰ھ)

جواب: اين حديث باين الفاظ معلوم نيست که حديث است يا نه وصحيح است يا ضعيف؟ (۱)

-- باب هل على من لا يشهد الجمعة الخ، وفيه ايضًا انظر رقم الحديث: ۲۳۸، ۸۷۲، ۲۸۷۷، ۳۳۲۷، ۲۳۷۱، ۲۲۲۲، ۷۷۷۲، ۲۸۵۴، ۷۱۹۵

۱) د دې حديث د سند پته نشته، مفسر قرآن حضرت مولانا سعيد احمد صاحب پالن پوري شيخ الحديث وصدر المدرسين دار العلوم ديوبند په هدايت القرآن کي ليکي:
يو حديث په خلګو کي مشهور دی چي تر ټولو مخکي الله تعالى د نبي صلى الله عليه وسلم نور پيدا کړ (اول ما خلق الله نوري) د دغه حديث د سند پته نشته، په مواهب لدنيه کي دا حديث د مصنف عبد الرزاق په حواله سره بلا سند ذکر شوی دی (زرقاني: ۴۲/۱) ما په مصنف عبد الرزاق کي د دغه حديث پلټنه وکړه مګر ملاو نشو، علامه زرقاني د بيهقي حواله هم ورکړې ده، ما د بيهقي په دلائل النبوة کي ولټاوی مګر ملاو نشو، الباني هم د مشکاة په حاشيه کي ليکلي دي چي ما د دې سند لټاوی لټاوی ستړی شوم مګر ملاؤ نشو، علامه اسماعيل عجلوني (متوفي ۱۱۲۲ھ) په کشف الخفاء ومزيل الالباس عما اشتهر من الاحاديث على السنة الناس کي دغه "مواهب" په حواله سره درج کړی دی، مګر نه يې کوم سند ذکر کړی دی نه يې پر حديث کوم حکم لګولی دی، دا حيث کافي اوږدی چي لاندي درج دی:
"حضرت جابر رضى الله عنه پوښتنه وکړه: ای د الله رسوله! زما مور پلار دي پر تا قربان وي ما ته وښايه، الله تعالى تر ټولو اول څه شي پيدا کړ؟ نبي صلى الله عليه وسلم وويل: جابره! الله تعالى تر ټولو شيانو اول له خپل نور څخه ستا د نبي نور پيدا کړ، هغه نور په قدرت خداوندي سره چيري چي الله تعالى غوښتي هلته ګرځيدی، په هغه وخت نه لوح وه نه قلم، نه جنت نه دوزخ، نه ملائکه، نه آسمان، نه ځمکه نه لمر، نه سپوږمۍ نه پيريان نه انسانان، بيا کله چي الله تعالى مخلوق پيدا کول وغوښتل، نو د ده نور يې څلور برخي کړ، په اول جزو سره قلم، په دوهم جزو سره لوح او په دريم جزو سره عرش پيدا کړ او څلورم جزو بيا څلور حصې کړ، په اول جزو سره حاملين عرش، په دوهم جزو سره کرسي، په دوهم جزو سره ځکي او په دريم جزو سره جنت او جهنم پيدا کړ--

ترجمه: **سوال**: (۲۲۶) اول ما خلق الله نوري حدیث صحیح دی که ضعیف؟
جواب: دغه حدیث په دغو الفاظو سره معلوم نه دی چي حدیث دی که نه او صحیح دی که ضعیف.

پر خورما د فاتحه ویلو حدیث بې اصل دی

سوال: (۲۲۷) مشهور دا دی چي نبي صلی الله علیه وسلم د خپل زوی ابراهیم رضی الله عنه د انتقال بعد پر خورما فاتحه وویله او تقسیم یې کړه او په هغه کي د اوښ شیدې هم شاملي وې د دغه حدیث څه اصل سته که نه؟ (۳۲/۱۳۰۴-۱۳۳۳هـ)
جواب: د دغه حدیث هیڅ اصل نشته، د مبتدعینو افتراء او کذب دی. فقط والله تعالی اعلم.

ایا په مسجد کي د دنیا خبرو کولو سره د څلویښتو ورځو د عبادت ثواب ختمیږي

سوال: (۲۲۸) اکثره اورید شوي دي چي په مسجد کلام دنیا کولو سره ثواب عبادت چهل روز زائل کیږي، دغه شان که یو حدیث وي نو تحریر یې کړه. (۳۲/۱۷۱۹-۱۳۳۳هـ)

جواب: دغه شان یو حدیث په نظر نه دی راغلی چي په مسجد کي کلام دنیا کولو سره د څلویښتو ورځو د لمونځونو ثواب زائل کیږي، مګر په مسجد کي د دنیاوي کلام کولو څخه په احادیثو کي ممانعت راغلی دی، فقهاوو فرمایلي دي چي مراد له دې څخه بد کلام دی، پاته کلام مباح د ضرورت پر وخ صحیح دی، کذا ۱

---

۱ -- او د څلورم جزو یې بیا څلور اجزاء کړه، د اول جزو څخه د مؤمنانو د سترګو رڼا د دوهم جزو څخه د دوی د زړو رڼا یعني د الله تعالی معرفت، له دریم جزو څخه د دوی د انس نور یعني توحید (لا اله الا الله محمد رسول الله) پیدا کړه د حدیث تر آخره پوري. (کشف الخفاء ۳۱۱/۱)
دا حدیث به نور هم وي، عجلوني دومره نقل کړی دی، زرقاني رحمه الله ته هم مخته معلوم نه دی، دا پورته حدیث ویلو سره صفا ظاهریږي چي دا قطعًا موضوع روایت دی والله تعالی اعلم (هدایت القرآن ۲۴۵/۵-۲۴۶، تفسیر سورة الکهف، فائده: ۳)

في الدر المختار (۱) فقط والله تعالى اعلم

سوال: (۲۲۹) قال النبي صلى الله عليه وسلم من كلم بكلام الدنيا في المسجد أحبط الله تعالى عمله أربعين سنة دا حديث صحيح دی که ضعيف؟ (۱۳۳۹/۱۳۴۷هـ)

جواب: د روايت مذکوره حال معلوم نه دی چې څرنګه دی او په کوم کتاب کې دی، په شامي کې خو مذکور دی: الحديث في المسجد ياكل الحسنات كما تاكل البهيمة الحشيش، انتهى (۲)

ناكح اليد ملعون حديث دی کنه؟

سوال: (۲۳۰) ناكح اليد ملعون دا حديث صحيح دی کنه؟ او د داسې سړي څه سزا ده؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۷۴۳هـ)

جواب: دغه حديث فقهاوو په استدلال ممانعت استمناء بالكف (موټ وهلو) کې نقل کړی دی، له دې څخه معلوميږي چې صحيح دی او قابل استدلال دی (۳) لکه په در مختار کې دي: وكذا الاستمناء

---

۱) قوله: (يكره الكلام في المسجد) ورد: انه ياكل الحسنات كما تكل النار الحطب، وحمله في الظهيرية وغيرها على ما اذا جلس لأجله، وقد سبق في باب الاعتكاف، وهذا كله في المباح لا في غيره فانه اعظم وزرا (رد المحتار على الدر المختار: ۲۹۷/۵، كتاب الحظر والاباحة، فصل في البيع، وفيه ايضًا: ۱۴۷/۲، كتاب الصوم، باب الاعتكاف) ط رشيديه

فائدة: هذا الحديث نه يأكل الحسنات الخ لا اصل له، ذكره الشوكاني في الفوائد المجموعة في الاحاديث الموضوعة (ص: ۴۴، رقم: ۳۳) وقال: قال الفيروز آبادي: لم يوجد الخ (هامش الشامي: ۵۳/۹۰، رقم الحاشية (۲) كتاب الحظر والاباحة، فصل في البيع)

۲) رد المحتار على الدر: ۴۸۹/۱، كتاب الصلاة، باب ما يفسد الصلاة وما يكره فيها، مطلب في الغرس في المسجد. ط رشيديه

وفي هامشه: قال الفيروز آبادي: لم يوجد، كما في الفوائد المجموعة للشوكاني، ص: ۴۴، رقم: ۳۳، رقم الحاشية ۳

۳) په كشف الخفاء كې دي چې د دغه حديث هيڅ اصل نسته "ناكح اليد ملعون": قال الرهاوي في حاشية المنار: لا اصل له (كشف الخفاء ومزيل الالباس عما اشتهر من الاحاديث على السنة الناس ۴۳۱/۲، رقم الحديث: ۲۸۳۸، المطبوعة مؤسسة الرسالة، بيروت)

بالكف وان كره تحريما لحديث: "ناكح اليد ملعون" ولو خاف الزنا يرجي ان لا وبال عليه(۱) (شامي)

دا حدیث نه دی چي تاسو خپل نسونه له حیواناتو لپاره قبرستان مه جوړوئ

سوال: (۲۳۱) لا تجعلوا بطونكم مقابر الحيوانات حدیث دی کنه؟ او حدیث تاسو پر ځمکي والو رحم کوی آسمان والا به پر تاسو رحم وکړي، صحیح دی کنه؟ (۴۲۹/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: لا تجعلوا بطونكم الخ هیڅ حدیث نه دی، دا قول غلط دی، تاسو رحم کوی پر ځمکي والاو الخ دغه حدیث دا شان دی: ارحما من في الارض يرحمكم من السماء، سر د دا حدیث دا شان دی: الراحمون يرحمهم الرحمن الحديث(۲) فقط والله تعالی اعلم

د نومولود ناف کاټولو روایت صحیح دی کنه؟

سوال: (۲۳۲) لاندي حدیث صحیح دی کنه؟ عن جابر رضى الله عنه قال: كان النبي صلى الله عليه وسلم جالسًا في مسجده فجاء عامر بن فهيرة فقال للنبي صلى الله عليه وسلم يا رسول الله! نفست امرأتي ومات ولدها بعد ما استهل فقال النبي صلى الله عليه وسلم: سم الولد واقطع السرة الخ(۳) د حسن وحسین ناف چا پرې کړی ؤ؟ د نبي صلى الله عليه وسلم په زمانه کي نو چا پرې کاوی؟ که يې په خپل لاس پرې کاوه؟ په دوبند کي څوک پرې کوي؟ په خپل لاس سره نو پرې کول څرنګه دي؟ (۵۹۵/۱۳۳۴هـ)

---

۱) الدر المختار مع الشامي: ۱۰۹/۲، كتاب الصوم، باب ما يفسد الصوم وما لا يفسده، مطلب في حكم الاستمناء بالكف. ط رشيديه

۲) عن عبد الله بن عمرو رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الراحمون يرحمهم الرحمن، الرحموا من في الارض يرحمكم من في السماء، الرحم شجنة من الرحمن؛ فمن وصلها وصله الله، ومن قطعها قطعه الله (جامع الترمذي: ۱۴/۲، ابواب البر والصلة، باب ماجاء في رحمة الناس)

۳) دغه روایت په دغه الفاظو سره يو ځای نشو ملاو ۱۲

جواب: دا حدیث که صحیح ثابت شي نو له دې څخه دا نه ثابتیږي چي پخپله سر پرې کړی، بلکه د دې څخه دا مرادیږي چي پرې کړی یا یې په بل چا پرې کړی که یې څوک قطع کړي صحیح دی؟ په دا شان کارونو کي شرعًا یو خاص تکلیف نشته چي پخپله یې قطع کړي، بلکه چي څرنګه آسانه وي او کوم عرف وي د هغه موافق کول په کار دی، دا نه دی ثابت چي د حسن وحسین نو چا پرې کړی، نه د نبي علیه السلام په زمانه کي چا پرې کاوی، په داسي کارونو کي بحث ونزاع کول صحیح نه دی او د امور لایعني څخه دی. قال علیه السلام: من حسن اسلام المرء ترکه مالایعنیه(۱) دا امر پر عرف ورواج مفوض دی، نه خپله قطع کول ممنوع دي نه ضروري دي، که څوک دا کار کوي کولای شي هغه ته اجازه ده، لکه په اکثر بلاد کي دا کار د دایي په حواله دی، دلته هم دا شان طریقه ده. فقط والله تعالی اعلم

پر کوم سورت تلاوت ختم شي د هغه سورت څو آیتونه پریښولو روایت غلط دی

سوال: (۲۳۳) یو واعظ وایي چي څوک د قرآن شریف تلاوت کوي نو د قرآن کریم د تلاوت ختم کیدو پر وخت چي کوم سورت باندي تلاوت ختمیږي د هغه دوه یا څلور آیتونه پریښودل په کار دي، سورت ختمول نه دي پکار، په بخاري شریف کي دا حدیث موجود دی که څه آیتونه پریښودلو سره تلاوت ختم کړل شي نو تر راتلونکي ورځي چي څه وخت تلاوت کیږي قاري ته به مسلسل ثواب ورسیږي، دا قول صحیح دی کنه؟ او په بخاري شریف کي دا حدیث شته کنه؟(۱۲۱۰/۱۳۳۵ھ)

جواب: دغه حدیث په بخاري شریف او نورو یوه کتاب د حدیثو کي نشته، دا د دغه واعظ غلط بیاني ده، حکم شرعي دا شان نه دی. فقط والله تعالی اعلم

د شب معراج په هکله څو موضوع روایات

سوال: (۲۳۴) یو سړی دا روایت بیان کوي چي په شب معراج کي د الله تعالی سره رسول الله صلی الله علیه وسلم نوی زره خبري وکړې

---

۱) جامع الترمذي: ۵۸/۲، أبواب الزهد، باب

او ورته وویل: دیرش زره عوامو ته وښوده او دیرش زره خواصو ته او دیرش زره مخفي وساته، په شب معراج کي چي کله رفرف نبي صلی الله علیه وسلم رخصت کړ، نو یو روح حاضر شو هغو دی پر خپلو اوږو پورته کړ، پر عرش عظیم یې کښېښودی، ده پوښتنه وکړه دا د چا روح دی؟ جواب ملاو شو: دا روح د پیر عبد القادر جیلاني دی، ده وویل زما قدم د عبد القادر پر اوږو او د عبد القادر قدم پر جمیع اولیاء باندي، ایا روایات مذکوره د یو صحیح حدیث څخه ثابت دي؟ (۱۳۳۷/۲۱۲ھ)

جواب: روایات مذکوره محض بې اصل او خلاف شرع دي، دا شان اعتقاد ساتل صحیح نه دي فقط

د حج فضیلت او څو بې اصل روایات

سوال: (۲۳۵) ما په یو کتاب کي ولیدل چي په "شفا" کي قاضي عیاض ویلي دي چي یو بزرګ وویل چي په حدیث کي راغلي دي چي څوک درې حج وکړي خدای تعالی اور پر ده په دنیا او آخرت کي حرام کوي او مولوي محب الدین مهاجر مکي ما ته ویلي وو چي په بخاري شریف کي دي چي کوم سړی د الله تعالی لپاره درې حج کوي خدای تعالی کراماً کاتبین ته حکم ورکوي چي د ده اعمال نامه کي لیکل بند کړئ، دا حدیث د کوم درجې دی؟ (۱۳۴۳/۹۸۷ھ)

جواب: د حج فضیلت ډیر زیات دی، په یو حدیث کي دي: الحج المبرور لیس له جزاء الا الجنة. بخاري ومسلم(۱) او په یو حدیث کي دي چا چي حج وکړ او په هغه کي معصیت او فسق نه وکړي نو هغه له ګناهو څخه دا شان پاک کیږي لکه چي د مور له نس څخه پیدا شوی وي، دا حدیث هم په بخاري ومسلم کي دی(۲) پاته هغه روایتونه چي تا لیکلي دي هغه یو ځای نشو ملاو، په ښکاره سره د هغه هیڅ اصل نشته

---

۱) عن ابي هريرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: العمرة الی العمرة كفارة لما بينهما، والحج المبرور. الحديث (مشكاة المصابيح، ص: ۲۲۱، كتاب المناسک، الفصل الاول)

۲) عن ابي هريرة رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم يقول: من حج لله فلم يرفث ولم يفسق رجع كيوم ولدته امه (صحيح البخاري: ۲۰۲/۱، كتاب المناسک، باب فضل الحج المبرور)

مکرر دا چي بعد تحرير هذا شفاء قاضي عياض وکتل شوه په هغه کي هغه حديث چي تا ليکلی دی نشو ملاو او د بخاري په حواله سره چي مولوي محب الدين فرمايلي دي هغه هم په بخاري شريف کي نشته، په فضيلت حج کي چي کوم حديثونه په جواب کي نقل شوه له هغو څخه ډير غټ فضيلت ثابتيږي. فقط والله تعالی اعلم

من جدد قبرًا او تمثالاً فقد خرج عن الاسلام موضوع روايت دی

سوال: (۲۳۲) دلته د محرمات محرم په موافقت ومخالفت کي مسلمانان په خانه جنګي کي مبتلا دي، يو صاحب دا حديث بيان کړ: من جدد قبرًا او تمثالاً فقد خرج عن الاسلام، ايا دا د يو کتاب حديث دی که د يو بزرګ مقوله ده؟ (۱۳۴۳/۱۰۲۷هـ)

جواب: دا کوم حديث نه دی او په کوم معتبر کتاب کي نشته، دا موضوع دی، دې ته حديث ويل هم صحيح نه دي، ځکه په حديث صحيح کي دي: من كذب علي متعمدًا فليتبوا مقعده من النار (۱) يعني چا چي قصدًا پر ما درواغ وتړل د هغه ځای دوږخ دی، پاته د تعزيه جوړولو حرمت له نورو دلائل شرعيه څخه ثابت دي او بيا د تعزيه سره چي کوم امور شرکيه کيږي هغه مفضي الی الکفر کيږي، والعياذ بالله فقط والله تعالی اعلم

د حضرت حمزه د دريمي او څلويښتمي روايت ثابت نه دی

سوال: (۲۳۷) د حضرت امير حمزه رضی الله عنه له وفات وروسته نبي صلی الله عليه وسلم د دريمي او څلويښتمي ډوډۍ تقسيم کړه، دا روايت صحيح دی کنه؟ (۱۳۴۳/۱۳۴۷هـ)

جواب: دا ثابت نه دی. فقط والله تعالی اعلم

د نبي صلی الله عليه وسلم د ولادت په سلسله کي يو بې اصل روايت

سوال: (۲۳۸) په اکثره ميلاد شريفو کي علماء بيان کوي چي کله د نبي صلی الله عليه وسلم مور د لنګول په درد کي مبتلا شوه

---

۱) د دغه حديث تخريج د کتاب الايمان د سوال (۲۲۵) په جواب کي وګورئ ۱۲.

نو يو سپين مرغه راغلی او خپل وزر يې د دې له سينې سره ومږول، نو فوراً تکليف ختم شو او تږې شوه هغه سپين مرغه فوراً يو ښائسته ځوان شو او د شرابو يوه پياله يې راوړه چي کله دا اوبه شوه او ويې څښلې نو هغو کرار کرار نس منبودل شروع کړل او په فصيح ژبه سره عرض وکړ، يا سيد المرسلين بسم الله اظهر يا محمد بن عبد الله، فظهر محمد صلی الله عليه وسلم کالبدر المنير. ايا دغه واقعات صحيح او ثابت دي؟ که نه دي نو د بيان کونکو لپاره يې څه حکم دی؟ (۱۳۷۰/۱۳۴۳هـ)

جواب: د جواب خلاصه دا ده چي د دغه روايت هيڅ اصل صحيح ثابت نه دی او له دا شان روايات موضوعه وضعيه له وجه علماء محققين مجالس ومحافل ميلاد شريف د نورو وجوه سره چي مجالس موصوفه پر هغه مشتمل دي او خلاف شرع دي منع کوي او پر دغه سخت وعيد وارد دی. قال عليه السلام من کذب علي متعمداً فليتبوا معقده من النار (۱) يعني کوم سړی چي قصداً پر ما دروغ وتړي د هغو ځای جهنم دی، والعياذ بالله تعالی او فقهاؤ روايات موضوعه نقل کول بې د هغه له موضوع والي بيانولو جائز نه دی بللی. په درمختار کي دي: شرط العمل بالحديث الضعيف عدم شدة ضعفه، وان يدخل تحت اصل عام وان لا يعتقد سنية ذلک الحديث واما الموضوع فلا يجوز العمل به بحال ولا روايته الا اذا قرن ببيانه (۲) فقط والله تعالی اعلم

ايا دا حديث صحيح دی چي ګناهګار مسلمان به له قبر څخه بې ګناه پورته کيږي؟

سوال: (۲۳۹)... (الف) په کتاب "مدارج النبوة" کي يو روايت په حواله د طبراني مذکور دی، د امت محمد يه له خصوصياتو څخه يو خصوصيت دا دی چي د ګناه سره به قبر ته ځي او بيله ګناه به له قبر څخه پورته کيږي، په سبب د استغفار مؤمنين، ايا دغه روايت صحيح دی که غلط؟ په صورت د صحت هغه حديث چي د مشکاة شريف په باب المشي

---

۱) د دغه حديث تخريج د کتاب الايمان د سوال (۲۲۵) په جواب کي وګورئ ۱۲.

۲) الدر المختار مع الشامي: ۹۵/۱، کتاب الطهارة، مطلب بيان ارتقاء الحديث الضعيف الی مرتبة الحسن ط رشيديه

بالجنازه والصلاة علیها کې په روایت د حضرت کریب مو ابن عباس دی: فاني سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: ما من رجل مسلم یموت فیقوم علی جنازته اربعون رجلاً لا یشرکون بالله شیئاً الا شفعهم الله فیه (۱) (رواه مسلم) او نور حدیثونه چې له حضرت عائشې رضی الله عنها څخه مروي دي، د هغو مضمون دا دی چې پر کوم میت یو جماعت د مسلمانانو چې سلو ته رسیږي لمونځ وکړي او د مړي لپاره شفاعت وکړي، شفاعت قبلوي الله تعالی د دغو خلکو د مړي په هکله (۲) دغه حدیثونه روایت د طبراني مؤید دی کنه؟

(ب) یو سړی وایي چې مولوي عبد الحق دغه روایت درواغ لیکلی دی، د نص قرآني "فمن یعمل مثقال ذرة خیرا یره ومن یعمل مثقال ذرة شرا یره" (سورة الزلزال، آیت: ۷-۸) په خلاف دی چې له داسې استغفار مؤمنین څخه صغیره وکبیره معافیږي نو بیا د لمانځه روږې او نور احکام شرعیه ؤ پر ځای کولو څه ضرورت دی؟ (۱۳۳۷/۱۱۵۷هـ)

جواب: (الف - ب) د دغه روایت طبراني د صحت و ضعف حال خو معلوم نه دی، لیکن روایات صحیحه مذکوره د دې مؤید دي او آیت "فمن یعمل مثقال ذرة" الایة د دې خلاف نه دی، ځکه چې په آیت کې له شر څخه مراد هغه شر دی کوم چې معاف شوی نه وي، لکه د خیر څخه مراد هغه دی چې د کفر او نورو په وجه ضبط شوی نه وي، یا دا وویل شي د هر شر منافي د هغه د معافي بلل نه دي، مثلاً دغه عامل شر ته به وویل شي او ده ته به جمیع سیئات ورښکاره کړل شي چې تا دا عمل شر کړی ؤ، مور د فلانکي وجې څخه درته معافي وکړه، لنډه دا چې د اهل سنت وجماعت مذهب دا دی چې دعاء د احیاء اموات ته نفع رسوي. په شرح فقه اکبر کې دي: ومنها ان دعاء الاحیاء للاموات وصدقتهم عنهم نفع لهم الخ (۳) او د "مدارج النبوة" له روایت څخه مراد ګناه صغیره ده.

---

۱) مشکاة المصابیح، ص: ۱۴۵، کتاب الجنائز، باب المشي بالجنازة والصلاة علیها الفصل الاول

۲) عن عائشة رضی الله عنها عن النبي صلی الله علیه وسلم قال: ما من میت تصلي علیه امة من المسلمین یبلغون مائة کلهم یشفعون له الا شفعوا فیه، (الصحیح لمسلم: ۳۰۸/۱. کتاب الجنائز، فصل في قبول شفاعة الاربعین الموحدین في من صلوا علیه)

۳) شرح الفقه الاکبر، ص: ۱۵۸، دعاء الاحیاء للاموات الخ

او کیدای شي چې د کبائرو هم مغفرت وشي د بعضو یا د ټولو دا امر مفوض بمشیت الله تعالی دی. کما قال الله تعالی: "ان الله لا یغفر ان یشرک به ویغفر ما دون ذلک لمن یشاء" (سورة نساء، آیت: ۴۸، ۱۱۲) بس نو معلوم شو چې کوم سړی د روایت مدارج النبوة چې حضرت شیخ عبد الحق محدث رحمه الله له طبراني څخه روایت کړی دی، دی یې تکذیب کوي هغه پر سخت غلطۍ او خطاء باندې دی د هغه څخه دې توبه وکاږي. فقط والله تعالی اعلم.

د امت محمدیه د بخښش په هکله یو د ځانه جوړ کړی روایت او شهادت د حسین د بخښش ذریعه ګڼل

سوال: (۲۴۰)..... (الف) د امت رسول الله صلی الله علیه وسلم په هکله شهادت امام حسین رضی الله عنه باعث کفاره ګناه دی کنه؟ او د امت د بخښش څه ذریعه جوړېدای شي کنه؟

(ب) هغه روایت چې اکثر واعظین یې بیان کوي مثلاً د قیامت په ورځ حضرت فاطمه رضی الله عنها د حضرت امام حسن د اینې ټکړې او د امام حسین په وینو لړلې جامه به په میزان کې په سبب د بخښش د امت ګناؤ ایږدي، دا تر کومه صحیح دي؟

(ج) د امام حسین د شهادت په دې خیال چې هغه د امت د ګناهونو کفاره دی، په اعتقادیات اهل سنت والجماعت کې ضروري دی کنه؟ او منکر له دغه عقیده څرنګه دی؟ (۲۷/۱۳۳۸ھ)

جواب: (الف) د حضرت حسین رضی الله عنه شهادت د هغو لپاره باعث رفع درجات دی او د امت لپاره دغه موجب کفاره سیئات ګڼل د جهلاوو عقیده ده، په شریعت کې د دې هیڅ اصل نشته، حق تعالی فرمایي: "ولا تزروا زرة وزر اخری" (۱) او نبي صلی الله علیه وسلم فرمایي: یا فاطمة ا..... لا اغني عنک من الله شیئاً (۲) او کما قال صلی الله علیه وسلم.

---

۱) سورة انعام، آیة ۱۲۴، بني اسرائیل، آیة ۱۵، فاطر، آیة ۱۸، زمر، آیة ۷، نجم، آیة ۳۸

۲) عن ابي هریرة رضی الله عنه قال: قام رسول الله صلی الله علیه وسلم حین انزل الله (وانذر عشیرتک الاقربین) قال: یا معشر قریش ا ---

(ب) دا روایت بې اصل دی په کتب معتبره صحاح سته او نورو کې نشته او دا شان عقیده ساتل ناجائز او حرام ده، په شریعت کې د دې هیڅ اصل نشته.
(ج) پورته معلوم شو چې د امام حسین رضی الله عنه شهادت د امت د ګناهونو د کفارې سبب ګڼل خلاف شریعت دی او داخل په عقیده اهل سنت وجماعت نه دی، بلکه دا عقیده د جهلاء او روافضؤ ده. فقط

د صالح عالم له قبرستان سره تیریدو باندې د قبر څخه عذاب پورته کیږي کنه؟

سوال: (۲۴۱) که د عالم صالح تیریدل پر قبرستان وشي، د دې په سبب له قبر څخه تر څلویښتو ورځو پورې عذاب پورته کیږي کنه؟ (۴۲۲/۲۹-۱۳۳۰ھ)

جواب: دا خبر صحیح نه دی (۱) که حق تعالی د خپل غوره بنده د دعا په برکت سره دا شان وکړي نو څه لرې نه ده، مګر قطعي حکم کول بیله ثبوت څخه نشي کیدای. فقط والله تعالی اعلم

== او کلمة نحوها اشتروا انفسکم لا اغني عنکم من الله شیئاً .... یا فاطمة بنت محمد ! سلیني ما شئت من مالي لا اغني عنک الحدیث (صحیح البخاري: ۳۸۵/۱، کتاب الوصایا، باب هل یدخل النساء والولد في الاقارب؟)

۱) په شرح العقائد کې علامه تفتازاني په دې سلسله کې دا حدیث رانقل کړی دی: قال علیه السلام: ان العالم والمتعلم اذا مرا علی قریة، فان الله یرفع العذاب عن مقبرة تلک القریة اربعین یوماً (شرح العقائد النسفیة، ص: ۱۷۲، مطبوعه: کتب خانه امدادیه دیوبند) لیکن دغه حدیث صحیح نه دی، په کشف الخفاء کې دي: ان العالم والمتعلم اذا مرا علی قریة، فان الله تعالی یرفع العذاب عن مقبرة تلک القریة اربعین یومًا، قال السیوطي: لا اصل له، و مثله ما اخرجه الثعلبي وکثیر من المفسرین عن حذیفة رفعه بلفظ: "ان القوم لیبعث الله علیهم العذاب حتما مقضیا فیقرا الصبي من صبیانهم في الکتاب الحمد لله رب العالمین، فیسمعه الله تعالی فیرفع الله عنهم بذلک عذاب اربعین سنة" فانه موضوع کما قاله الحافظ العراقي وغیره (کشف الخفاء ومزیل الالباس: ۲۵۲/۱، رقم الحدیث ۷۷۲)

د ماهي او ملخ بیله ذبح حلال کیدو له ځانه جوړ کړی روایت

سوال: (۲۴۲) څه وخت چې حضرت ابراهیم علیه السلام زوی ذبح کړ، نو چاړه یې لوړه وغورځوله، نو د پروردګار حکم وشو چې څوک تر دې چاړه لاندې سر کښېنته کړي، هغه حلال دی، نو ماهي او ملخ غاړه تر چاړه لاندې کښېنته کړه، دوی حلال شو، ایا دا واقعه رښتیا ده؟ (۱۳۳۸/۱۷۳ھ)

جواب: د چاړې غورځول او د ماهي او ملخ د حلال کیدو یو معتبر روایت نشته او د ماهي او ملخ حلال کیدو دلیل: احلت لنا میتتان کافي دی. فقط والله تعالی اعلم.

تر عرش لاندې د لمر سجده کولو والا روایت انکار کول جهالت دی

سوال: (۲۴۳) بعض مسلمانان دا وایي چې کله لمر غروب شي نو یو ځای ته ځي چې کله ډوب شي نو زموږ تر ملک تیر شي امریکه کي راخیژي او د دغه حدیث انکار کوي، عن ابي ذر رضی الله عنه قال: قال النبي صلی الله علیه وسلم لابي ذر رضی الله عنه حین غربت الشمس: اتدري این تذهب؟ قلت: الله ورسوله اعلم، قال: فانها تذهب حتی تسجد تحت العرش فتستاذن فیؤذن لها الخ(۱) دا شان عقیده لرونکی څه حکم دی؟ (۱۳۴۳/۱۹۴۷ھ)

جواب: دا امر صحیح دی او په تجربه او مشاهده سره ثابت دی چې کله لمر غروب شي په نورو بلاد کي چې بجانب غرب وي هلته غروب نه کیږي، پخپله مشاهده شوې ده چې مکه معظمه کي د هندوستان څخه ډېر وروسته څو ساعته بعد غروب کیږي، دلته د ماخستن وخت کیږي هلته د ماښام وخت لا نه وي شوی او د حدیث موصوف سره د دې تعارض نشته،

عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: احلت لنا میتتان ودمان؛ المیتتان: الحوت والجراد، والدمان: الکبد والطحال، رواه احمد وابن ماجة والدار قطني (مشکوة المصابیح، ص: ۳۶۱، کتاب الصید والذبائح، باب ما یحل اکله وما یحرم، الفصل الثاني)

۱) صحیح البخاري: ۴۵۴/۱، کتاب بدء الخلق، باب صفة الشمس والقمر الخ

ځکه لمر تر عرش لاندې هر وخت وي، نو انکار کول د حدیث جهالت دی، دغه سړي ته په دې ځان پوه کول په کار دی چې اختلاف مطالع و مغارب چې امر متحقق دی د دې حدیث سره يې تعارض نشته. (۱)

ایا توبه کښونکی سړی قسم اخیستلو سره دا ویلای شي چې ما ګناه نه ده کړې؟

سوال: (۲۴۴) اوریدلي مي دي چې په صحیح حدیث کي دي چې د ګناه څخه توبه کونکی د ګناه نه کونکي سره برابر دی، دا حدیث په کوم کتاب کي دی؟ که صحیح دی نو ګناه کونکی په قسم اخیستلو سره دا ویلای شي چې ما ګناه نه ده کړې؟(۱۳۴۲/۱۳۴۹هـ)

جواب: دا حدیث په مشکاة شریف، ص: ۱۹۸، باب الاستغفار والتوبة کي له ابن ماجه او نورو څخه منقول دی، د حدیث الفاظ دا داي: عن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: التائب من الذنب کمن لا ذنب له(۲) قال في المرقاة: ای في عدم المؤاخذة الخ(۳) یعني د دې حدیث مطلب دا دی چې توبه کښونکی په مثل د هغه سړي دی چې ګناه يې نه وي کړې

---

۱) د دې حدیث واضح تشریح په تحفة القاري شرح البخاري کي ده:
تر عرش لاندي سجده کولو مطلب تابعداري ده، لکه حضرت آدم ته په ځمکني کائنات باندي سجده وکړل شوه، هغه سجده هم د اطاعت قبلولو په معنی کي وه، حضرت آدم علیه السلام ته خلافت ارضي سپارل شوی ؤ، د دې وجي تر څو پوري ځمکي والا مخلوقات د ده ما تحتي قبوله نه کړي هغه د نیابت له ذمه واری څخه نشي خلاصیدای، دغه شان لمر هر وخت د الله تعالی تر حکم لاندي چلیږي، تر څو پوري ده ته د مخکي تلو اجازه وي مخته به ځي او کله ده ته د بیرته تلو حکم وشي نو د مغرب څخه به طلوع کیږي
سوال: د لمر حرکت دوري دی، نه غروب کیږي، بیا د غروب بعد تر عرش لاندي د سجده کولو څه مطلب دی؟
جواب: لمر هر وخت طلوع و غروب کیږي او د الله تعالی د حکم ماتحت دا شان کوي داغه ماتحت کیدل د ده سجده ده، حسي سجده کول مراد نه ده، بلکه معنوي اطاعت مراد دی چې په هره شیبه کي ورته حاصل دی، خلګ حسي سجده مراد اخلي، بیا اشکال کوي، د دې وجي ښه ځان په پوه کول پکار دی چې نبي صلی الله علیه وسلم یو معنوي حالت يې په حسي مثال سره بیان کړ. (تحفة القاري: ۴۷۴/۲-۴۷۵، کتاب بدء الخلق.)

۲) مشکاة المصابیح، ص: ۲۰۲، کتاب الدعوات، باب الاستغفار والتوبة، الفصل الثالث.

۳) مرقاة المفاتیح ۲۲۹/۵، کتاب الدعوات، رقم الحدیث: ۲۳۲۳

په عدم مؤاخذه کي يعني بعد توبه به مؤاخذه پر ده نه وي، ليکن دی قسم نشي اخيستلای چي ما گناه نه ده کړې، ځکه ده خو گناه کړې وه، ليکن د توبې کولو په وجه پر ده به د گناه مؤاخذه نه وي. فقط والله تعالی اعلم

لمونځ اوږدول او خطبه لنډول

سوال: (۲۴۵) د مسلم شريف په حديث کي دا مسئله ده چي کوم امام خطبه اوږدوي او لمونځ لنډوي دا مکروه دی، ص: ۲۰ کي دا حديث دی. (۹۲۲/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: په مسلم شريف کي يو حديث په دغه لفظ دی: ان طول صلاة الرجل وقصر خطبته مئنة من فقهه فأطيلوا الصلاة واقصروا الخطبة الحديث(۱) د دې حاصل دا دی چي لمونځ اوږدول او خطبه لنډول د سړي د تفقه في الدين نښاني ده، بس نو لمونځ اوږدوي او خطبه لنډوي او د مسلم شريف په بل حديث کي دي چي فكانت صلاته قصداً وخطبته قصداً. (۲) (رواه مسلم) د رسول الله صلی الله عليه وسلم لمونځ درمیانه او د رسول الله صلی الله عليه وسلم خطبه درمیانه، لهذا خطبه او لمونځ دواړه درمیانه پکار دي. فقط والله تعالی اعلم

---

۱) عن واصل بن حيان قال: قال ابو وائل: خطبنا عمار رضي الله عنه فاوجز وابلغ، فلما نزل قلنا يا ابا اليقظان! لقد ابلغت واوجزت فلو كنت تنفست فقال: اني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: ان طول، الحديث. (الصحيح لمسلم: ۲۸۲/۱، كتاب الجمعة، فصل في ايجاز الخطبة واطالة الصلوة)

۲) عن جابر بن سمرة رضي الله عنه قال: كنت اصلي مع رسول الله صلى الله عليه وسلم. فكانت صلاته، الحديث (الصحيح لمسلم: ۲۸۴/۱، كتاب الجمعة، فصل في الخطبة والصلاة قصداً)

د انبیاوو او اولیاوو بیان

د سرور کائنات صلی الله علیه وسلم په هکله څه عقیده ساتل په کار ده؟

سوال: (۲۴۶) د پیغمبر خدای صلی الله علیه وسلم سره څه عقیده په کار ده؟ (۱۳۳۴/۱۸۰۵ھ)

جواب: دا عقیده ساتل پکار ده چي بعد از خدا بزرگ توئي قصه مختصر (د الله تعالی بعد خو نبي صلی الله علیه وسلم بزرگ دی) فقط والله تعالی اعلم.

نبي صلی الله علیه وسلم د مؤمنانو لپاره روحاني پلار دی

سوال: (۲۴۷) نبي صلی الله علیه وسلم د ټولو شیانو لپاره حقیقي او روحاني پلار دی کنه؟ (۲۰۱۵/۳۳-۱۳۴۳ھ)

جواب: په معالم التنزیل او نورو کتب تفسیر کي د (وازواجه امهاتهم) (سورة احزاب، آیت ۶) څخه بعد په قرات ابي کي وهو اب لهم هم واقع دی (۱) له دې وجي له اشاره آیت کریمه (وازواجه امهاتهم) څخه او تصریح قرات ابي رضی الله عنه څخه ابوت روحاني د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مؤمنینو لپاره ثابتیږي. فقط والله تعالی اعلم.

سوال: (۲۴۸) زید وایي چي ګران سرور عالم صلی الله علیه وسلم ته پلار ویلای شي، لکه ازواج مطهرات ته امهات ویلای شي او د آیت کریمه (ما کان محمد ابا احد من رجالکم) الایة (سورة احزاب، آیت ۴۰) څخه د ابوت نفي نه کیږي، ایا د زید قول صحیح دی؟ (۱۳۳۷/۳۷۲ھ)

---

۱) وفي حرف ابي: وازواجه امهاتهم وهو اب لهم وهن امهات المؤمنين (معالم التنزيل، ص: ۷۰۴، تفسير سورة الاحزاب)

جواب: په تفسیر احمدي کي دي، آیت "وازواجه امهاتهم" (سورة احزاب، آیت ۲) په بیان کي وقرئ وهو اب لهم ای في الدین، لان کل نبي فهو اب لامته ولذلک کان المؤمنون اخوة ویناسبه قوله تعالی: "وازواجه امهاتهم" اي في التحریم واستحقاق التعظیم، لا عداه، ولذا قالت عائشة رضی الله عنها: لسنا امهات النساء (ای حقیقة) ولهذا لا یتعدی التحریم الی بناتهن الخ(۱) له دې څخه معلوم شو چي مجازاً نبي صلی الله علیه وسلم ته پلار ویلای شي، یعني نبي صلی الله علیه وسلم د مؤمنانو لپاره دیني اب (پلار) دی او په آیت "ما کان محمد ابا احد من رجالکم" (سورة احزاب، آیت ۴۰) کي نفي د حقیقت دی، داغه وجه ده چي د نبي صلی الله علیه وسلم له بنات طاهرات سره د بعض امتیانو نکاح وشوه. فقط والله تعالی اعلم

د نبي صلی الله علیه وسلم بعثت د ټولو خلګو لپاره عام دی

سوال: (۲۴۹) دوه مسلمانان یو له بل سره خبري کوي اول وایي چي ګران رسالت مآب صلی الله علیه وسلم د ټولو زمانو لپاره مبعوث شوی دی، هندو او مسلمان ټول د نبي صلی الله علیه وسلم امت دی. دوهم وایي چي خاص مسلمان یې امت دی، نور قومونه یا مذهبونه په امت کي نه راځي، بینوا توجروا. (۱۳۳۵/۳۹۷ھ)

جواب: قال الله تعالی: "وما ارسلناک الا کافة للناس" (سورة سبا، آیت ۲۸) موږ ته نه یې استولی مګر د ټولو خلګو طرفته او الله تعالی ویلي دي: "ما کان محمد ابا احد من رجالکم ولکن رسول الله وخاتم النبیین" (سورة احزاب، آیت ۴۰) نه دی محمد (صلی الله علیه وسلم) پلار د یو چا ستاسو نارینه ؤ څخه، لیکن د الله تعالی پیغمبر او د ټولو انبیاؤ خاتم دی او په حدیث شریف کي دي: لانبي بعدي(۲) له دغو آیاتو وحدیث څخه ثابت دي چي د نبي صلی الله علیه وسلم بعثت عام دی د ټولو خلګو لپاره دی او د ده بعد یو نبي نه شته او تر قیامته دی نبي دی.

---

۱) التفسیرات الاحمدیة، ص: ۴۰۹، سورة الاحزاب، تحت تفسیر الایة (النبي اولی بالمؤمنین من انفسهم وازواجه امهاتهم) المطبوعة: المکتبة الاشرفیة دیوبند.

۲) د دغه حدیث تخریج د کتاب الایمان د سوال (۱۲۲) په جواب کي وګورئ

او د ده بعثت تر قیامته پوري دی او ټول خلګ تر قیامته د ده په امت کي داخل دي، لیکن د امت دوه ډوله دي یو امت دعوت دی دوهم امت اجابت. په امت دعوت کي ټول جهان تر قیامته شامل دی او امت اجابت خاص اهل ایمان واسلام دي چي پر نبي صلی الله علیه وسلم ایمان راوړ. فقط والله تعالی اعلم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته نبوت کله ملاؤ شو؟

سوال: (۲۵۰) رسول الله صلی الله علیه وسلم ته نبوت کله ملاؤ شوی دی؟ (۱۳۳۷/۲۴۳هـ)

جواب: د څلویښت کلو بعد نبوت ملاؤ شوی دی. (۱) فقط والله تعالی اعلم

ایا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بشر ویلو ره سړی کافر کیږي

سوال: (۲۵۱) ایا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته پخپل مثل بشر ویلو سره سړی کافر کیږي؟ (۱۳۴۵/۱۲۵۰هـ)

جواب: دا پخپله د قرآن شریف حکم دی: "قل انما انا بشر مثلکم یوحی الي انما الهکم اله واحد" (سورة الکهف، آیت: ۱۱۰) نو کوم سړی چي د نبي صلی الله علیه وسلم ته د بشر ویلو څخه انکار وکړي هغه د قرآن شریف د حکم منکر دی. فقط والله تعالی اعلم.

دا ویل چي رسول الله صلی الله علیه وسلم زموږ پشان ؤ څرنګه دی؟

سوال: (۲۵۲) یو سړي وایي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم زموږ پشان ؤ، فرق دومره دی چي هغه رسول ؤ، موږ رسولان نه یو. (۱۳۴۰/۱۸۲هـ)

جواب: رسول الله صلی الله علیه وسلم افضل الانبیاء والمرسلین، خاتم النبیین، شفیع المذنبین، فخر موجودات، اشرف کائنات، مصداق د "ورفع بعضهم درجات" (سورة بقره، آیت: ۲۵۳) دی، بعد از خدا بزرګ توئي قصه مختصر. فقط والله تعالی اعلم.

---

(۱) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: بعث رسول الله صلی الله علیه وسلم لاربعین سنة، فمکث بمکة ثلاث عشرة سنة یوحی الیه، ثم امر بالهجرة، الحدیث. (مشکاة المصابیح، ص: ۵۲۱، باب المبعث وبدء الوحي، الفصل الاول)

له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د محبت لپاره د ده تابعداري ضروري ده

سوال: (۲۵۳) له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره محبت څرنګه وشي چي مقبول باري تعالی وي؟ (۱۳۳۸/۱۳۸۸هـ)

جواب: د رسول الله صلی الله علیه وسلم محبت دا دی چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنت او شریعت پوره پوره تابعداري وکړي، لکه الله تعالی فرمایلي دي: "قل ان کنتم تحبون الله فاتبعوني یحببکم الله" (سورة آل عمران، آیت: ۳۱) ووایه ای محمده! (صلی الله علیه وسلم) که تاسو الله تعالی دوست ساتي نو زما اتباع وکړئ الله تعالی به تاسو دوستان جوړ کړي او خپل محبوب به مو جوړ کړي. فقط والله تعالی اعلم.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم فضلات پاک ؤکنه؟

سوال: (۲۵۴)..... (الف) په حدیث شریف کي دي چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر کټ لاندي یوه قدح (پیاله) ایښودل کیدل، ده په هغه کي بولي کولې، یوه ورځ سهار رسول الله صلی الله علیه وسلم ام ایمن ته وویل چي قدح وغورځوه، ام ایمن عرض وکړ: ما ښام زه تږې شوم ما بولي وڅښلې، رسول الله صلی الله علیه وسلم په خندا سره وویل ستا به هیڅکله پر نس (خیټه) درد نه شي.

(ب) یوې ښځي په برکه په نامه هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم بولي وڅښلې، رسول الله صلی الله علیه وسلم هغې ته وویل چي ته به هیڅکله ناجوړه نشې، نو هغه ښځه د مرض موت ماسیوا هیڅکله ناجوړه نه شو.

(ج) صحابه کرام د رسول الله صلی الله علیه وسلم بولي په څښلو سره او د ده له زخم او نورو وتلي څخه ويني په څښلو سره برکت حاصل کاوه، یوه سړي د ده د حجامت ويني وڅښلې، رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ته وویل چي تا خپل ځان بچاؤ کړ له امراض او بلاوو څخه.

(د) په جنګ احد کي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم زخمي شو او د ده له زخم څخه چي کوم ويني ووتې هغه مالک به سنان رضی الله عنه وڅښلې، رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه په هکله وفرمایل چي جنتي سړی که څوک لیدل غواړي ده ته دي وګوري.

(هـ) عبد الله بن زبیر رضی الله عنهما هم د ده د حجامت وینه وڅښله نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تا ته به د دوږخ اور نه لګیږي مګر د قسم پوره کولو لپاره. (۱۳۴۳/۷۳۲هـ)

جواب: (الف - ب) دغه حدیث حاکم ابو عبد الله روایت کړی دی او ذهبي هم هیڅ انکار نه دی پر کړی، له هغه څخه معلومیږي چې دا حدیث ثابت دی، کما قال الملا علي القاري: والحدیث رواه الحاکم واقره الذهبي والدار قطني(۱) (شرح شفاء، ص: ۱۲۳) او قاضي عیاض هم دغه په خپل کتاب کې درج کولو سره د دې څخه استدلال کړی دی، په هر حال محدثینو د دغه حدیث تلقي بالقبول کړې ده او قاضي او دار قطني هم دا صحیح منلی دی بلکه دار قطني صحیح منلو سره دغه حدیث علی شرط الشیخین منلو سره پر امام بخاري ومسلم باندې اعتراض کړی دې چې په صحیحین کې دا حدیث ولې نه دی درج کړ؟!

وحدیث هذه المراة التي شربت بوله صحیح ای لصحته الزم الدار قطني..... مسلماً والبخاري..... اخراجه. في الصحیح(۱) د قاضي عیاض په روایت کې دا لفظ دی: فقال لها: لن تشتکي وجع بطنک ابداً الخ(۱) قاضي عیاض د مذکوره ښځې په هکله فرمايي چې د هغې نوم برکه وُ یا ام ایمن، واسم هذه المراة برکة..... وقیل هي ام ایمن..... وکانت تخدم النبي صلی الله علیه وسلم..... وکان لرسول الله صلی الله علیه وسلم قدح من عیدان..... یوضع..... تحت سریره فیبول فیه الخ(۱) د دغه حدیث په بعض روایتونو کې راغلي دي: فما مرضت قط حتی ماتت(۱) (شرح شفاء ۱۲۴/۱) له دې حدیث وروسته ملا علي قاري فرمايي: وقد شرب ایضاً دمه علیه الصلاة والسلام ابو طیبة وعاش مائة واربعین سنة وسفینة مولی النبي صلی الله علیه وسلم رواه البیهقي عن علي بن ابي طالب کرم الله وجهه ذکره الرافعي في الشرح الکبیر قال ابن الملقن ولم اجده في کتب الحدیث(۱)

(ج-هـ) په شفاء د قاضي عیاض کې د دغه دواړو روایت موجود دي: ومنه شرب مالک بن سنان دمه یوم احد ومصه اياه وتسویغه صلی الله علیه وسلم ذلک قوله لن تصیبه النار ومثله شرب عبد الله ابن الزبیر دم حجامته الحدیث.(۲) دغه احادیث نقل کولو سره قاضي عیاض ثابت کړي دي.

---

۱) شرح الشفاء لعلي القاري رحمه الله تعالی: ۱۲۳/۱-۱۲۵، المطبوعة مطبع سندهـ

۲) الشفاء بتعریف حقوق المصطفی، ص: ۲۰، الفصل الثالث، واما نظافة جسمه وطیب ریحه الخ. المطبوعة المطبع العالي المنشي نول کشور کانفور.

چي د علماوو يو جماعت د نبي صلي الله عليه وسلم د فضلات مبارکه د طهارت قائل دي او د حنفيه ؤ په نزد هم داغه مختار دی. کما في الشامي: صحيح بعض ائمة الشافعية طهارة بوله صلى الله عليه وسلم وسائر فضلاته، وبه قال ابو حنيفة کما نقله في المواهب الخ(۱) (شامي: ۳۲۸/۱) (۲) فقط والله تعالی اعلم.

---

۱) الشامي: ۲۳۳/۱، کتاب الطهارة، باب الانجاس، مطلب في طهارة بوله صلی الله عليه وسلم.

۲) په امداد الفتاوی کي دي چي د نبي صلی الله عليه وسلم د فضلات د طهارت دعوی بلا دليل ده:

سوال: دلته يو واعظ صاحب راغلی ؤ هغه لاندي روايتونه بيان کړه د هغه په هکله دلته اکثر اصحاب اختلاف کوي. حضرت مهرباني وکړه او د اهل اسلام له اطمينان لپاره د هغو رواياتو په هکله، ليک. چي صحيح دي که غلط ؟که تکليف نه وي نو د يو کتاب حواله هم تحرير کړه.

روايات: (۱) د انبياء عليهم السلام بولي و براز پاک وي، خصوصًا زموږ د رسول الله صلی الله عليه وسلم فضلات خو بالکل پاک ؤ، ځکه چي دی يو مخ نور ؤ.

(۲) د انبياء عليهم السلام بولي وبراز فورًا ځمکه هضم کوي.

جواب: خامخا هغو داسي خبري شروع کولو سره مسلمانان پريشانه کړي دي چي نه له عقائدو ضروريه ؤ څخه دي نه د احکامو څخه، د بيان کولو شي خو عقائد و احکام دي، نه داسي روايات چي نور قومونه پر وخاندي، دغه شان روايات په بعض غير معتبر کتابونو کي راغلي دي، د هغو نه تصديق واجب دی، ځکه چي سند يې صحيح نه دی او نه تکذيب واجب دی، ځکه في نفسه ممکنه ده، د دې وجي په دا شان امورو کي مشغول کيدل ندي په کار نه تصديقاً نه تکذيبًا او د دا شان واعظانو وعظ ولي اوريدل کيږي او د هغو څخه د سند مطالبه ولي نه وشوه، په داغه جلسه کي به حقيقت ښکاره شوی وای، ۸/ربيع الثاني ۱۳۵۰هـ(النور رمضان ۱۳۵۰هـ صفحه: ۱۰)

د دې بعد د ده دوهم خط راغلی چي لاندي منقول دي:

السوال: محترم ماسټر محمد شريف خان صاحب اوس يوه استفتاء راليږلې وه چي د مخکني پوښتني سره تړون لري، له جواب څخه دا ظاهر کيږي چي روايت مذکوره ضعيف دی او د هغه هيڅ سند نشته، ناڅاپه يو سړي ته په نشر الطيب کي د دغو رواياتو کتلو موقعه ملاو شوه، هغو د نشر الطيب صفحات: ۱۳۵-۱۳۲ ما ته راښکاره کړه، اوس هغه فتوی او دغه تحرير متضاد معلوميږي، په نشر الطيب کي روايت منقول حضرت عائشه رضی الله عنها بيان شوی دی، ژر جواب راکړئ چي تسکين وشي. ۲۲ اګست ۱۹۳۱ء --

د نبي صلی الله علیه وسلم شافع محشر کیدل او د کلمه طیبه ثبوت

سوال: (۲۵۵)..... (الف) ایا د دې ثبوت په کلام الله شریف کې شته چې نبي صلی الله علیه وسلم

جواب: ضعیف بلا سند نه وي، بلکه سند ضعیف وي چې په عقائدو کې حجت نه دی په فضائلو کې بیانیږي، ما په تحریر سابق کې داغه ولیکه چې سند صحیح نه دی نو په دواړو تحریرو کې تضاد نشته، ځکه چې د ضعیف نفي مې نه دی کړې او له دغه ضعف سند له وجې مې غیر معتبر کتابونه ښودلیې ؤ، ځکه چې معتبر خو صحیح ته ویل کیږي، ضعیف ته نه ویل کیږي، پاته دا چې په کتاب کې ولي ولیکل نو کتاب خو د فضائلو دی د عقائدو او احکامو نه دی، که شاذ ونادر یو روایت ولیکل شي نو ګنجائش شته، په خلاف د وعظ چې هغه د عقائدو او احکامو د تعلیم لپاره کیږي، په هغه کې د داسې مضامینو ګنجائش نشته ویل دا چې وعظ اوریدونکي اکثر کم فهم وي او کتاب ویونکي اکثر فهم لرونکي وي. ۸/ ربیع الثاني ۵۰ھ

اضافه: بعد تحریر جواب هذا په شرح الشفاء لملا علي القاري کې دا بحث تر نظر تیر شو، هغوی په فصل نظافت جسم نبوي کې ډېر په تفصیل سره لیکلي دي، خلاصه د هغه دا ده چې د بعض روایاتو ثبوت خو نیمګړی دی او د بعض دلالت او په بعض روایات کې د شاربین دا قول مذکور دی: شربته و انا لا اعلم یا لا اشعر او په یو روایت کې د نبي صلی الله علیه وسلم د دې په هکله نهي مذکور دي او هغه دا دي: روی ابن عبد البر ان سالم بن ابي الحجاج حجمه صلی الله علیه وسلم ثم ازدرد اي ابتلع، فقال: اما علمت ان الدم کله حرام، وفي روایة لا تعد فان الدم کله حرام، بس نو مسئله بالکل منقح شوه چې د طهارت دعوی بلا دلیله ده. (۸/ ربیع الثاني ۱۳۵۰ھ) (النور، شوال: ۱۳۵۰ھ صفحه: ۷)

(امداد الفتاوی: ۱۲۸/۱-۱۳۰، کتاب الطهارة) د نبي صلی الله علیه وسلم فضلات پاک و کنه؟ **سوال:** ۱۲۴، په تحفة الالمعي شرح سنن الترمذي کې دي:

فائده دلته یو اشکال دی د نبي صلی الله علیه وسلم د فضلات د طهارت په هکله د متعدد علماوو صراحت دی چې د ده بولي او نور پاک ؤ، په کتب فقه کې د دې صراحت دی. (شامي: ۲۳۳/۱، باب الانجاس، ط رشیدیه) بیا د نبي صلی الله علیه وسلم د مني مروړلو روایاتو څخه پر طهارت او د پریولو له روایاتو څخه پر عدم طهارت استدلال ځرنګه کیدای شي؟ مګر چا په دې بحث کې دغه اشکال نه دي کړي، بس نو یا د فضلات د طهارت مسئله مبني پر محبت ده، یا په دې مسئله کې تقریب ناتمام دی، والله تعالی اعلم بالصواب (تحفة المعي شرح سنن الترمذي: ۳۸۹/۱، کتاب الطهارة، عنوان: پر جامه مني ولګیږي، نو څه حکم دی؟ فائده: ۴)

شافع محشر دی کنه؟

(ب) ایا په یو سیپاره یا په یو رکوع کي پوره کلمه لا اله الا الله محمد رسول الله شته کنه؟(۱۳۳۹/۱۱۳۲ھ)

جواب: (الف - ب) حدیث شریف تفسیر د کلام الله دی کوم څه چي حدیث شریف کي راغلي دي هغه د الله تعالی له طرفه دي، لکه آیت کریمه ده: (وما ینطق عن الهوی ان هو الا وحي یو حی) (سورة نجم، آیت ۳-۴) څخه واضح دی، نو کوم امر چي له حدیث څخه ثابت دی هغه هم د الله تعالی حکم دی(۱) دا ډول لا اله الا الله محمد رسول الله پوره کلمه طیبه په حدیث شریف کي یو ځای وارد ده(۲) بس دغه ثبوت کافي دی. فقط والله تعالی اعلم

---

۱) عن ابي هريرة رضی الله عنه قال: اتی النبي صلی الله علیه وسلم بلحم فرفع الیه الذراع، وکانت تعجبه فنهس منها نهسة ثم قال: انا سید الناس یوم القیامة یوم یقوم الناس لرب العالمین. وتدنو الشمس فیبلغ الناس من الغم والکرب ما لا یطیقون، فیقول الناس: الا تنظرون من یشفع لکم الی ربکم، فیاتون آدم، وذکر حدیث الشفاعة وقال: فانطلق فآتي تحت العرش فاقع ساجدا لربي، ثم یفتح الله علی من محامده وحسن الثناء علیه شیئا لم یفتحه علی احد قبلي، ثم قال: یا محمد ! ارفع راسک وسل تعطه واشفع تشفع فارفع راسي، فاقول: امتي یا رب ! امتي یا رب ! امتي یا رب ! فیقال: یا محمد ! ادخل من امتک من لا حساب علیهم من ابواب الایمن من الباب الجنة وهم شرکاء الناس فیما سوی ذلک من الابواب، ثم قال: والذي نفسي بیده ان ما بین المصراعین من مصاریع الجنة کما بین مکة وهجر، متفق علیه. (مشکاة المصابیح، ص: ۴۸۹، کتاب الفتن، باب الحوض والشفاعة، الفصل الاول)

۲) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: بني الاسلام علی خمس: شهادة ان لا اله الا الله وان محمد رسول الله، الحدیث. (الصحیح البخاري: ۲/۱، کتاب الایمان، باب قول النبي صلی الله علیه وسلم سلم بني الاسلام علی خمسٍ الخ)

شفاعت کبری د نبي صلی الله علیه وسلم سره خاص دی

سوال: (۲۵۲) شفاعت کبری محض تر نبي صلی الله علیه وسلم پوري مسدود ده که خرنګه؟ (۱۳۴۰/۱۵۷۱ھ)

جواب: شفاعت کبری له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مخصوص دی(۱) او وروسته جمله انبیاء وصلحاء شفاعت کوي، لکه په احادیث کي مفصلاً مذکور دي. (۲) فقط والله تعالی اعلم

له نبي صلی الله علیه وسلم سره د شفاعت وعده شوې ده اجازه به د قیامت په ورځ کیږي

سوال: (۲۵۷) زید وایي نبي صلی الله علیه وسلم ته اذن شفاعت شوی دی عمر وایي وعده شوې ده مګر اذن به آئنده وي، په دې کي قول فیصل څه دی؟ (۱۳۴۲/۲۱۳۰ھ)

جواب: په حدیث شفاعت کي دا تصریح ده چي قیامت کي به نبي صلی الله علیه وسلم سجده کوي او دعا کوي هغه وخت به حکم وشي، اشفع تشفع، الحدیث (۳) یعني دی به شفاعت کوي، شفاعت به قبول کیږي، له دې څخه معلوم شو چي هغه وخت به اذن د شفاعت کیږي. فقط والله تعالی اعلم

د نبي صلی الله علیه وسلم په شفاعت سره د کفارو په عذاب کي تخفیف کیږي کنه؟

سوال: (۲۵۸) د کفارو لپاره به تخفیف عذاب کیږي کنه؟ او عقیده تخفیف عذاب د کافرو لپاره شفاعت نبویه کیدل باطل دی کنه؟ او تخفیف عذاب کفار عقیده ساتونکی فاسق دی که کافر؟ (۱۳۴۰/۴۳۱ھ)

جواب: په اشعة اللمعات کي حضرت شیخ عبد الحق محدث دهلوي رحمه الله د شفاعت لس قسمونه بیان کړي دي، له هغو څخه اتم قسم بیان کوي: هشتم در تخفیف عذاب

---

۱) د حدیث د شفاعت کبری لپاره وګورئ: صحیح البخاري: ۱۱۱۸/۲-۱۱۱۹، کتاب التوحید، باب کلام الرب یوم القیامة مع الانبیاء وغیرهم او الصحیح لمسلم: ۱۱۰/۱، کتاب الایمان، باب اثبات الشفاعة واخراج الموحدین من النار.

۲) عن عثمان بن عفان رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: یشفع یوم القیامة ثلاثة الانبیاء ثم العلماء ثم الشهداء، رواه ابن ماجة (مشکاة المصابیح، ص: ۴۹۵، باب الحوض والشفاعة، آخر الفصل الثالث)

۳) د دې حدیث شریف تخریج د کتاب الایمان د **سوال**: (۲۵۵) په جواب کي وګورئ.

ازآنها که مستحق عذاب مخلد شده باشند (اتم قسم: د هغو خلګو د عذاب په تخفیف کي کوم چي د عذاب مستحق شوی وي) انتهی (۱) او دا شان د شرح عقائد په حاشیه کي هم لیکلي دي: قیل له صلی الله علیه وسلم انواع من الشفاعة، منها في قوم لیدخلوا الجنة بغیر حساب کما ورد في حدیث ابي هریرة رضی الله عنه الخ ومنها في تخفیف العذاب کما في ابي طالب الخ (۲) که دا شان وي نو په دې کي هیڅ استبعاد و اشکال نشته، آخر د ابو طالب لپاره تخفیف عذاب د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وجي شو، لکه چي منصوص دی (۳) او حدیث: شفاعتي لاهل الکبائر من امتي (۴) او نورو **څخه مراد شفاعت نجات عن النار دی، دا خاص د اهل ایمان لپاره دی، نو که د یو کافر تخفیف عذاب د رسول الله صلی الله علیه وسلم له وجي وشي نو په دې کي منافات د یو نص نشته او د آیت "فمالنا من شافعین" (سورة شعراء، آیت: ۴۲) او نورو څخه هم نفي د** دې شفاعت دی چي کفارو ته به له دوزخ څخه نجات وشي، بس نو کومه خبره چي علماء کبار اهل سنت وجماعت لیکلي دي او له حدیث څخه د هغه تائید کیږي

---

۱) أشعة اللمعات: ۴۰۴/۴، کتاب الفتن، باب الحوض والشفاعة، المطبوعة: مطبع نول کشور لکناؤ.

۲) د شرح عقائد چي کومي نسخې موجودي دي په هغو کي دا عبارت نشو ملاو، مګر په "التعلیق الصبیح علی المشکاة المصابیح" کي دي:

قال النووي تبعًا لعیاض: هي (الشفاعة) خمس:.... الثانیة: في ادخال قوم الجنة بغیر حساب - ثم قال بعد اسطر - وقد ذکر القاضي عیاض شفاعة سادسة وهي شفاعته صلی الله علیه وسلم لعمه ابي طالب في تخفیف العذاب کما في الصحیح: وجدته في غمرات النار فاخرجته الی ضحضاح. (التعلیق الصبیح علی مشکاة المصابیح: ۳۳۲/۲-۳۳۷، ذکر الشفاعة، تفصیل الشفاعات)

۳) عن العباس بن عبد المطلب قال للنبي صلی الله علیه وسلم: ما اغنیت عن عمک؟ فانه کان یحوطک ویغضب لک، قال: هو في ضحضاح من نار، ولو لا انا لکان في الدرک الاسفل من النار. (الصحیح البخاري: ۵۴۸/۱، کتاب المناقب، باب قصة ابي طالب، وفیه ایضًا: ۹۱۷/۲، کتاب الادب، باب کنیة المشرک، والصحیح لمسلم: ۱۱۵/۱، کتاب الایمان، باب: شفاعة النبي صلی الله علیه وسلم لابي طالب والتخفیف عنه بسببه)

۴) عن انس بن مالک رضی الله عنه عن النبي صلی الله علیه وسلم قال: شفاعتي لاهل الکبائر من امتي. (سنن ابي داؤد: ۲۵۲/۲، کتاب السنة، باب في الشفاعة)

نو هغه ته فسق و کفر څرنګه څوک ویلای شي؟ فقط و الله تعالی اعلم

نبي صلی الله علیه وسلم به د اهل کتاب او مشرکینو لپاره شفاعت کوي که نه؟

سوال: (۲۵۹) نبي صلی الله علیه وسلم د یهود، نصاری او مشرکینو لپاره په میدان حشر کي سفارش به کوي کنه؟ (۱۳۳۸/۲۳۴۰هـ)

جواب: نبي صلی الله علیه وسلم د یهود ونصاری او مشرکینو لپاره سفارش به نه کوي. (۱)

د معراج واقعه په عالم بیدار کي پېښه شوې وه که په خوب کي؟

سوال: (۲۶۰) ګران سرور کائنات صلی الله علیه وسلم ته معراج شریف په جسد شریف خاکي شوی دی که روحاني عالم بیداري یا علم خوب (کي) (۱۳۳۵/۱۷۹۱هـ)

جواب: د نبي صلی الله علیه وسلم معراج بجسده الشریف په عالم بیداري کي وشو، په شرح فقه اکبر کي دي: وخبر المعراج اي بجسد المصطفی صلی الله علیه وسلم یقظة الی السماء ثم الی ماشاء الله تعالی في المقامات العلی حق الخ، فمن رده... فهو ضال مبتدع. (۲)

---

۱) واتقوا یومًا لا تجزي نفس عن نفس شیئا ولا یقبل منها شفاعة ولا یؤخذ منها عدل ولا هم ینصرون. (سورة بقرة، آیة: ۴۸) ما للظالمین من حمیم ولا شفیع یطاع. (سورة مؤمن، آیة: ۱۸)

وعن انس رضی الله عنه ان النبي صلی الله علیه وسلم قال: شفاعتي لاهل الکبائر من امتي. (مشکاة المصابیح، ص: ۴۹۴، باب الحوض والشفاعة، الفصل الثاني.)

وفي المرقاة: (شفاعتي لاهل الکبائر الخ) اي شفاعتي في العفو عن الکبائر من امتي خاصة دون غیرهم من الامم (مرقاة المفاتیح ۲۷۰/۱۰، کتاب احوال القیامة وبدا الخلق، باب الحوض والشفاعة، الفصل الثاني، رقم الحدیث: ۵۹۹۸)

۲) شرح الفقه الاکبر، ص: ۱۳۵، مبحث المعراج، المطبوعة مطبع مجتبائي، دهلي.

(شرح فقه اکبر، ص: ۱۳۵) او په مرقاة کې دي: والحق الذي عليه اكثر الناس ومعظم السلف وعامة المتأخرين من الفقهاء، والمحدثين والمتكلمين انه اسرى بجسده (۱) فقط والله تعالى اعلم.

معراج په کوم تاریخ وشو؟

سوال: (۲۲۱) معراج شریف چې ذکر یې په قرآن کریم کې دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په کومه میاشته او په کوم تاریخ وشو؟ که څه هم په دې کې اختلاف دی مګر مشهور او اولی کوم روایت دی؟ (۱۳۸۱/۲۳-۱۳۳۴ھ)

جواب: قال في رد المحتار في شرح قول صاحب الدر المختار في كتاب الصلاة فرضت في الاسراء ليلة السبت سابع عشر رمضان قبل الهجرة بسنة ونصف الخ: قوله: (فرضت في الاسراء) نقله ايضا الشيخ اسماعيل في "الاحكام شرح درر الحكام" ثم قال: وحاصل ما ذكره الشيخ محمد البكري نفعنا الله تعالى ببركاته في "الروضة الزهراء" انهم اختلفوا في اي سنة كان الاسراء بعد اتفاقهم على انه كان بعد البعثة؟ فجزم جمع بانه كان قبل الهجرة بسنة، ونقل ابن حزم الاجماع عليه، وقيل بخمس سنين، ثم اختلفوا في اي الشهور كان؟ فجزم ابن الاثير والنووي في فتاويه بانه كان في ربيع الاول، قال النووي: ليلة سبع وعشرين، وقيل في ربيع الاخر، وقيل في رجب، وجزم به النوي في "الروضة"، تبعًا للرافعي وقيل في شوال، وجزم الحافظ عبد الغني القدسي في سيرته بانه ليلة السابع والعشرين من رجب، وعليه عمل اهل الامصار انتهى. (۲)

د دې عبارت خلاصه او حاصل دا دی چې د درمختار صاحب دا فرمايلي دي چې لمونځ د معراج په شپه فرض شو چې د روژې اوولسم تاريخ ؤ، تر هجرت یو نیم کال مخکې یعنې په سنه یوولسمه نبوي کې، شامي وويل چې دا قول شيخ اسماعيل نقل کړی دی په احکام شرح درر کې، بیا یې دا وویل چې شیخ محمد بکري په روضة الزهراء کې فرمایلي دي چې د معراج په کال کې اختلاف دی وروسته تر متفق کیدو پر دې چې معراج

---

۱) مرقاة المفاتيح: ۵۴۷/۱۰، کتاب الفضائل والشمائل، باب في المعراج، الفصل الاول.
۲) الدر المختار ورد المحتار: ۲۵۸/۱، اوائل كتاب الصلاة. ط رشيديه

د بعثت وروسته شوی دی، که څه هم یو جماعت پر دې یقین کړی دی چې د هجرت څخه یو کال مخکې شوی دی او ابن حزم پر دې اجماع نقل کړې ده او ویل شوي دي چې له هجرت څخه پنځه کاله مخکې بیا په دې کې اختلاف دی چې معراج په کومه میاشته کې وشو، که څه هم ابن اثیر او امام نووي رحمهما الله په خپله فتوی کې نقل کړي چې د ربیع الاول په اوویشتم تاریخ کې او بعضو وویل چې په ربیع الثاني کې شوی دی او ویل شوي دي چې په رجب کې وشو. امام نووی رحمه الله په روضه کې په اتباع د امام رافعي پر دې یقین کړی دی چې معراج د رجب په اوویشتم وشو او د اهل امصارو پر دې عمل دی. فقط والله تعالی اعلم

د معجزه شق القمر کیفیت

سوال: (۲۲۲) په معجزه شق القمر کې قمر دوه نصف کیدو سره تر بغلین مبارک لاندې کیدو سره تیره شوه بیا پر فلک باندې پر هیئت اصلي راغله که پر آسمان باندې شق کیدو سره یو ځای شوه؟ (۱۳۴۳/۲۵۹۲هـ)

جواب: په بخاري شریف کې په سند صحیح له حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی: قال: انشق القمر علی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم فرقتین، فرقة فوق الجبل وفرقة دونه، فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: اشهدوا (۱) د دې حاصل دا دی چې د نبي صلی الله علیه وسلم په اشاره سره سپوږمۍ دوې ټوټې شوه، دا ډول چې ابو قبیس غر کوم چې په مکه مکرمه کې دی د دې په منځ کې شو، یوه ټوټه د غره پر سر یوه ټوټه لاندې شوه الخ له دې حدیث او نورو احادیث صحیحه څخه د ده تر بغلو وتل ثابت نه دي، بلکه پر آسمان وه بیا سره یو ځای شوه. فقط

نبي صلی الله علیه وسلم د شق القمر لپاره دعا کړې وه که اشاره؟

سوال: (۲۲۳) په معجزه شق القمر کې د شق القمر لپاره نبي صلی الله علیه وسلم دعا وغوښته که اشاره وکړه؟ (۱۳۳۷/۲۴۵۹هـ)

---

۱) صحیح البخاري ۷۲۱/۲، کتاب التفسیر، باب قوله (وانشق القمر وان یروا آیة یعرضوا)

جواب: په بعض احاديثو کي دا راغلي دي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم له الله تعالى څخه دعا وغوښتله پر هغه سپوږمۍ دوې ټوټې شوه، په دلائل النبوة کي دا الفاظ وارد دي: فسال رسول الله صلى الله عليه وسلم الله عزوجل ان يعطيه ما سألوا، الحديث (۱) فقط والله تعالى اعلم.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم له ګوتي څخه چينه بهېدل

سوال: (۲۲۴) پر يو موقعه باندي د رسول الله صلى الله عليه وسلم له ګوتو څخه چينې جاري شوي وې، له هغو څخه د ده ملګرو جهاد کونکيو هم اوبه څښلي وې د دې په اړه کوم ذکر په صحيح او معتبر روايات کي دى هغه تحرير کړه. (۳۲۲/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا معجزه په صحيح احاديثو ثابت ده په بخاري شريف او مسلم شريف دواړو کي دا وقعه مروي ده او د ټول امت متفق عليه ده، له چي له حضرت جابر رضى الله عنه څخه مروي دي: قال: عطش الناس يوم الحديبية ورسول الله صلى الله عليه وسلم بين يديه ركوة، فتوضا منها، ثم اقبل الناس نحوه، قالوا: ليس عندنا ماء نتوضا به ونشرب الا ما في ركوتک فوضع النبي صلى الله عليه وسلم يده في الركوة، فجعل الماء يفور من بين اصابعه كامثال العيون، قال: فشربنا وتوضأنا، قيل لجابر: كم كنتم؟ قال: لو كنا مائة

---

۱) عن ابن عباس رضى الله عنهما في قوله تعالى: (اقتربت الساعة وانشق القمر) قال ابن عباس: اجتمعت المشركون الى رسول الله صلى الله عليه وسلم، منهم: الوليد بن المغيرة وابو جهل بن هشام والعاص بن ابي وائل والعاص بن هشام والاسود بن عبد يغوث والاسود عبد المطلب بن اسد بن عبد العزى وزمعة بن الاسود والنضر بن الحارث ونظر اؤهم كثير، فقالوا للنبي صلى الله عليه وسلم، ان كنت صادقًا فشق القمر لنا فرقتين: نصفًا على ابي قبيس ونصفًا على قعيقعان، فقال لهم رسول الله صلى الله عليه وسلم: ان فعلت تؤمنوا؟ قالوا: نعم، وكانت ليلة بدر، فسال رسول الله صلى الله عليه وسلم الله عز وجل الحديث (دلائل النبوة لابي نعيم الاصبهاني: ۹۵/۱، المطبوعة مطبعة دائرة المعارف النظامية الكائنة بمحروسة حيدر آباد الدكن)

الف لکفانا، کنا خمس عشرة مائة (۱) (متفق علیه) او دا قصه څو رنګه په مختلف مواقع کي پیښ شوي ده لنډه دا چي د ده دا معجزه وه. دې ته هیڅ ضعیف نه دی ویلی او انکار يې نه دی کړی. فقط والله تعالی أعلم.

کوم سړی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم افضل الانبیاء نه مني هغه ګمراه دی

سوال: (۲۲۵) که کوم مسلمان سرور کائنات صلی الله علیه وسلم افضل الرسل نه مني نو د هغه په نسبت څه حکم دی؟ په مذهب اسلام کي دا ډول کومه فرقه شته چي سرور کائنات افضل الرسل نه مني؟ (۳۲/۱۲۴-۱۳۳۳ھ)

جواب: کوم سړی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم افضل الانبیاء نه مني هغه ضال ومبتدع دی، په مذهب اسلام کي دا ډول کوم فرقه نشته چي رسول الله صلی الله علیه وسلم افضل الرسل نه مني. فقط والله تعالی اعلم.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم له فضیلت څخه انکار کول

سوال: (۲۲۶) یو سړی د خپل کمزور خیال پر بناء یو نبي پیشولو سره وایي چي هغه نعوذ بالله تر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم زیات کامل دی؟ (۳۲/۱۳۷۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: دا عقیده او خیال د ده باطل دی، حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په اجماع د امت افضل الانبیاء والمرسلین دی (۲) دا ډول عقیده درلودونکی ګمراه او خارج له اهل سنت وجماعت څخه دی. فقط والله تعالی اعلم.

ایا حضرت یوسف علیه السلام له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه زیات سخي ؤ؟

سوال: (۲۲۷) یو سړی وایي چي حضرت یوسف علیه السلام له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه

---

۱) مشکاة المصابیح، ص: ۵۳۲، کتاب الفتن، باب في المعجزات، الفصل الاول وصحیح البخاري: ۵۰۵/۱، کتاب المناقب، باب علامات النبوة في الاسلام.

۲) اجمعت الامة علی ان بعض الانبیاء افضل من بعض وعلی انه محمداً صلی الله علیه وسلم افضل من الکل. (مفاتیح الغیب المشتهر بالتفسیر الکبیر للامام الرازي: ۳۰۰/۲، تفسیر الآیة تلک الرسل فضلنا بعضهم علی بعض الایة)

په سخاوت کي زيات ؤ، دا صحيح دی که غلط؟ (۱۳۳۴-۳۳/۴۵۱هـ)

جواب: دا ويل د داسي چي حضرت يوسف عليه السلام له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه په سخاوت کي زيات ؤ غلط دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: انا اجود الناس(۱) زه تر ټولو بني آدم زيات سخي يم. فقط والله تعالی اعلم

ايا رسول الله صلی الله عليه وسلم د هر سړي په زړه کي يا له زړه سره نژدې ناست دی؟

سوال: (۲۲۸) د يو سړي دا عقيده ده چي رسول الله صلی الله عليه وسلم د هر سړي په زړه کي ځای نيولی دی او دبل سړي دا عقيده ده چي رسول الله صلی الله عليه وسلم د هر سړي له زړه سره نژدې ناست دی، دا عقيده صحيح او جائز ده که نه؟ (۱۳۴۳/۲هـ)

جواب: د دواړو عقيده خلاف شريعت ده او غير ثابت ده، مګر د رسول الله صلی الله عليه وسلم محبت د هر سړي په زړه کي ګيدل ضروري او لازمي دی او عقيده دي د ده د افضليت او خاتم الرسل وساتي او دا عقيده دي وساتي: بعد ازخدا بزرګ توئي قصه مختصر (تر الله تعالی وروسته دی بزرګ دی، مختصره خبره دا ده) فقط والله تعالی اعلم.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم په توصيف کي غلو کول

سوال: (۲۲۹) زيد د رسول الله صلی الله عليه وسلم په توصيف کي دا وايي چي ملکوت السماوات والارض (د آسمانو او ځمکي بادشاهت) د رسول الله صلی الله عليه وسلم تر فرمان لاندي دی

---

۱) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: کان رسول الله صلی الله عليه وسلم اجود الناس، وکان اجود ما يکون في رمضان حين يلقاه جبرئيل الحديث (صحيح البخاري: ۳/۱، کتاب بدء الوحي، باب کيف کان بدء الوحي الی رسول الله صلی الله عليه وسلم الخ)

وعن انس بن مالک رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: هل تدرون من اجود جوداً؟ قالوا: الله ورسوله اعلم، قال: الله تعالی اجود جوداً، ثم انا اجود بني آدم الحديث (مشکاة المصابيح، ص: ۳۲-۳۷، کتاب العلم، الفصل الثالث)

په دست حق پرست کي دارم(۱) وجهنم کلیاني ورکول شوي دي، رزق وخیر او ټول قسمه نعمتونه د حضور له دربار څخه تقسیمیږي، عمر تردیداً دا وویل چي حقیقي خبره دا ده چي که زموږ خدای ستاسو رسول ته رزق نه وای ورکړی نو هغه به له لوږي مړ وای، په دې کي عمر لره څه حکم دی؟(۱۳۴۵/۱۲۵۳هـ)

جواب: دا صفات چي زید د رسول الله صلی الله علیه وسلم په هکله بیان کړي دي دا د الله تعالی صفات دي، ملکوت السماوات والارض ټول د الله تعالی په قبضه قدرت وتصرف کي دي او خاص هغه د جنت ودوږخ خالق ومالک دی، په دې کي هیڅ نبي یا ولي د هغو شریک نه دی. په قرآن شریف کي ځای پر ځای دا غه مضامین بیان شوي دي، کما قال الله تعالی: "فسبحان الذي بیده ملکوت کل شیئ وإلیه ترجعون "(سورة یس، آیت: ۸۳) او په ډیرو آیاتونو کي دا مضمون بیان شوی دی او په احادیثو کي چي کومي دعاوي راغلي دي په هغو کي دا هم دي: "بیدک الخیر وهو علی کل شیئ قدیر "(۲) لهذا نو دا معلوم شو چي د زید دا قول صحیح نه دی او عمر چي کوم تردید کړی دی هغه د قرآن او حدیث موافق دی. قال الله تعالی: "ان الله هو الرزاق ذو القوة المتین "(سورة ذاریات، آیت: ۵۸) لیکن د عمر لپاره مضمون مذکور دا شان ادا کول په کار نه دی، الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته تر دې حده ویلي دي که ته وغواړې نو زه تا لره به غر د سرو زرو کړم، مګر رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه غوره نه کړه او فقر یې

---

۱) ارم د شداد جوړ کړی بهشت نوم، مجازاً بهشت، جنت۱۲ (فیروز اللغات)

۲) عن معاذ بن جبل رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم افتقده یوم الجمعة، فلما صلی رسول الله صلی الله علیه وسلم اتی معاذاً، فقال له یا معاذ! ما لي لم ارک؟ قال: یا رسول الله! لیهودي علی اوقیة من تبر، فخرجت الیک، فحبسني عنک، فقال له رسول الله صلی الله علیه وسلم: یا معاذاً! الا اعلمک دعاء تدعو به، فلو کان علیک من الدین مثل جبل صبر اداه الله عنک –وصبر جبل بالیمن– فادع به یا معاذ، قل: اللهم مالک الملک تؤتي الملک من تشاء، وتنزع الملک ممن تشاء، وتعز من تشاء، وتذل من تشاء، بیدک الخیر، انک علی کل شيء قدیر الحدیث (المعجم الکبیر للطبراني: ۱۵۵/۲۰، سعید بن المسیب عن معاذ بن جبل، رقم الحدیث: ۳۲۳، المطبوعة: مکتبة ابن تیمیة، القاهرة)

خپل کړ (۱) فقط والله تعالی اعلم

په معجزه او استدراج کي فرق

سوال: (۲۷۰) په معجزه او استدراج کي څه فرق دی؟ (۱۳۴۵/۱۱۹۲هـ)

جواب: معجزه انبیاء کرامو ته ورکول کیږي او استدراج کفارو ته ورکول کیږي او دا په حقیقت کي کفارو ته مهلت ورکولو سره نیول دي، کما قال الله تعالی: "سنستدرجهم من حیث لا یعلمون واملي لهم ان کیدي متین" (۲) فقط والله تعالی اعلم.

کرامات اولیاء حق دی

سوال: (۲۷۱) کرامت اولیاء الله لره ثابت دی کنه؟ عمر انکار کوي. (۱۳۴۷-۴۶/۱۹۸۴هـ)

جواب: په شرح فقه اکبر کي دي: والکرامات للاولیاء حق اي ثابت بالکتاب والسنة ولاعبرة بمخالفة المعتزلة واهل البدعة في انکار الکرامة الخ (۳) له دې روایت څخه معلوم شو چي کرامات اولیاء الله حق دی او له کتاب و سنت څخه ثابت دی او معتزله ومبتدعین د کرامات اولیاء الله انکار کوي د هغو قول معتبر نه دی. فقط والله تعالی اعلم.

سوال: (۲۷۲) د اولیاء الله نظر تر کومه حده کار کوي؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۱۲۳هـ)

جواب: د هیچا نظر کار نه کوي، ټول د الله تعالی په حکم او ارادې سره کیږي الله تعالی اولیاؤ ته کرامت ورکوي او د هغو دعا قبلوي. فقط والله تعالی اعلم

---

۱) عن ابي امامة رضی الله عنه عن النبي صلی الله علیه وسلم.... قال: عرض علي ربي لیجعل لي بطحاء مکة ذهبًا، قلت: لا یا رب ! ولکن اشبع یومًا واجوع یومًا او قال: ثلاثًا او نحو هذا، فاذا جعت تضرعت الیک وذکرتک، فاذا شبعت شکرتک وحمدتک. (جامع الترمذي: ۲/۶۰، ابواب الزهد، باب ما جاء في الکفاف والصبر علیه)

۲) سورة اعراف، آیة: ۱۸۲-۱۸۳، وسورة قلم، آیة: ۴۴-۴۵

۳) شرح الفقه الاکبر، ص: ۹۵، مطبع مجتبائي، دهلي.

معجزه وکرامت د نبي او ولي له وفات وروسته ښکاره کیدای شي

سوال: (۲۷۳) د نبي او ولي له انتقال وروسته معجزه او کرامات کیدل له قرآن وحدیث څخه ثابت دي که نه؟ (۱۳۴۱/۲۲۰۵هـ)

جواب: له ذې څخه نصوص ساکت دي فقط والله تعالی اعلم

د حضرت عیسی علیه السلام د معجزاتو حقیقت

سوال: (۲۷۴) حضرت عیسی علیه السلام مړي ژوندي کول او مورزاده ړانده او شل يې جوړول، ایا په روحاني لحاظ سره يې ګمراه زړونه روښانه کولو سره راه راست (سیده لاره) باندي روانول، یا في الواقع معذور يې سترګو رکاوي او د روحانیت په لحاظ مړي ژوند کاوي که في الواقع؟ (۱۳۴۲/۲۳۷هـ)

جواب: هغه في الواقع د فیس ناروغه او ګوزڼ وهلي باذن الله جوړول او مړي يې ژوندي کول لکه په قرآن کریم کي مذکور دي او هغه آیاتو نه د عامو مفسرینو په نزد پر خپل ظاهر محمول دي، په هغه کي د هیڅ تاویل ضرورت نشته فقط والله تعالی اعلم

د حضرت عیسی علیه السلام له پلاره بغیر پیدا کیدل په متعدد آیاتونو ثابت دی او د هغه منکر کافر دی

سوال: (۲۷۵) د حضرت عیسی علیه السلام له پلاره بغیر پیدائش له نص قرآن څخه ثابت دی کنه؟ که ثابت دی نو له کوم آیت څخه؟ او د ثابت والي په صورت پر مسلمانانو د دې تصدیق فرض دی کنه؟ (۱۳۳۷/۱۰۴۸هـ)

جواب: له متعدد نصوص قرآنیه څخه د حضرت عیسی ابن مریم علی نبینا وعلیه الصلاة والسلام بیله پلاره پیدا کېدل ثابت دی، په سورة آل عمران کي دي: "قالت رب اني یکون لي ولد

ولم یمسسني بشر قال کذلک الله یخلق ما یشاء "(سورة آل عمران، آیت: ۴۷) په دوهم آیت کي دي: "قالت اني یکون لي غلام ولم یمسسني بشر ولم اک بغیاً" (سورة مریم، آیت: ۲۰) په دریم آیت کي دي: "ان مثل عیسی عند الله کمثل آدم" (سورة آل عمران، آیت: ۵۹) لنډه دا چي له نصوص قطعیه څخه د حضرت عیسی علیه السلام بیله پلاره پیدا کېدل ثابت دي او د دې منکر یقیني کافر دی او د ده تصدیق فرض دی. فقط والله تعالی اعلم.

د حضرت عیسی علیه السلام د وفات مسئله

سوال: (۲۷۶) د مسیح علیه السلام د وفات په نسبت زموږ اهل سنت والجماعت څه عقیده ده؟ (۱۳۴۱/۳۳۲هـ)

جواب: د حضرت عیسی علیه السلام ژوندی آسمان ته پورته کېدل په قرآن شریف کي مذکور دي او په احادیث شریف کي د دې تصریح ده، نو د اهل سنت والجماعت عقیده دا ده چي حضرت عیسی علیه السلام ژوندی آسمان ته پورته شوی دی او بیا په قرب قیامت له آسمان څخه راکښته کېږي، "وما قتلوه وما صلبوه ولکن شبه لهم" الایة "وما قتلوه یقینًا بل رفعه الله الیه" الایة (سورة النساء، آیت: ۱۵۷-۱۵۸) وروی الشیخان عن ابي هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: والذي نفسي بیده لیوشکن ان ینزل فیکم ابن مریم حکمًا عدلاً فیکسر الصلیب الحدیث (۱) او د دې تفصیل په کتب رد قادیاني کي وګورئ. فقط والله تعالی اعلم.

د عزیر علیه السلام حیات بعد الموت او د رفع ونزول عیسی انکار ګمراهي ده

سوال: (۲۷۷) د حضرت عزیر علیه السلام واقع قبض روح سل کاله بعد بیرته ژوندی کېدل له کلام الله څخه ثابت دی او دغه شان یوه بله واقعه چي په بني اسرائیلو کي قتل سوی ؤ او قاتل معدوم ؤ

---

۱) صحیح البخاري: ۴۹۰/۱ کتاب الانبیاء، باب نزول عیسی ابن مریم علیه السلام، والصحیح لمسلم: ۸۷/۱، کتاب الایمان، باب نزول عیسی ابن مریم

او په حکم د باري تعالی د میت یوه د غوښو ټوټه د غوا سره ومږوول شوه هغه ژوندی شو او قاتل یې وښودی، یو صاحب دغه دواړي واقعې د خوب واقعې بولي او دلیل کلام رباني راوړي "وحرام علی قریة اهلکناها "الایة او هم داغه دلیل راوړي پر عدم نزول حضرت عیسی ابن مریم علی نبینا وعلیه الصلاة والسلام باندي چي معاذ الله هغه اوس بیرته نشي راتلای، هغو ته اجل حقیقي حاصل شوی دی بینوا توجروا (۱۳۳۵/۱۷۹۱ھ)

جواب: واقعه اماتت او احیاء حضرت عزیر علیه السلام ته د خوب واقعه ویل غلط دي او جهل دی او دغه دواړي واقعې د حق تعالی د کمال قدرت د اظهار لپاره واقع شوي دي، لکه د واقعه عزیر څخه بعد "فلما تبین له قال اعلم ان الله علی کل شيء قدیر" (سورة بقره، آیت: ۲۵۹) څخه ثابت دی او آیت: "وحرام علی قریة "الایة (سورة انبیاء، آیت: ۹۵) کي دا بیان نشته چي الله تعالی د دوی پر ژوندي کولو قادر نه دی، د آیت "وحرام علی قریة" حاصل خو دومره قدر دی چي کوم کلی یعني د هغه اهل چي موږ هلاک کړو هغه به پخپله دنیا طرف ته رجوع نه کوي، نو الله تعالی چي د چا ژوندی کولو وغواړي د هغو نه ژوندی کیدل له دې څخه چیرته ثابت شول؟ ماسیوا له دې آیت "وحرام علی قریة" کي د هغه اهل قریه ذکر دی کومو ته چي عذاب ورکول شو او په یو جرم کي هغه هلاک کړل شوه لکه قریه قوم لوط او مطلب داغه دی چي هغه بې وسه دی هیڅ نشي کولای. الغرض دا قول د دا سړي محض جهل او ګمراهي ده او د صریح نصوص انکار کول دي او دغه ته د خوب واقعات ویل سراسر ګمراهي ده او الحاد دی او په دغه واقعات او آیت مذکوره کي هیڅکله هیڅ تعارض نشته، کما لا یخفی.

او له نصوص څخه رفع ونزول حضرت عیسی علی نبینا وعلیه الصلاة والسلام ثابت دی، د هغه انکار کول هم جهل وضلالت دی، په قرآن شریف کي د حضرت عیسی علیه السلام په هکله "وماقتلوه یقینًا بل رفعه الله الیه" (سورة نساء، آیت: ۱۵۷-۱۵۸) راغلي دي او په حدیث شریف کي دي: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: والذي نفسي بیده لیوشکن ان ینزل فیکم ابن مریم حکمًا عدلاً، الحدیث، رواه البخاري ومسلم(۱) رسول الله صلی الله علیه وسلم په قسم اخیستلو سره وفرمایل چي حضرت عیسی علیه السلام نازلیږي

---

۱) مشکاة المصابیح، ص: ۴۷۹، کتاب الفتن، باب نزول عیسی علیه السلام، الفصل الاول

حاکم عادل کیدو سره، نو تکذیب د دې سراسر کذب صریح وجهل وګمراهي نه ده نو څه ده؟ فقط والله تعالی اعلم.

سوال: (۲۷۸) یو سړی د حضرت عیسی علیه السلام په هکله تکرار کوي چي آسمان ته نه دی تللی، که تللی دی نو بیا بیرته دنیا ته نه راځي، له قرآن وحدیث څخه ثابت دي؟ (۱۹۸۲/۱۳۳۸ھ)

جواب: له آیت وحدیث څخه حضرت عیسی علیه السلام آسمان ته تلل او بیا قیامت ته نژدې نازل کېدل ثابت دي(۱) د دې انکار کول ګمراهي ده. فقط والله تعالی اعلم

---

۱) وبعدها سورة الزخرف، وفيها آيتان: الاولى يستدل بها على نزول عيسى عليه السلام، وهو قوله تعالى: "وانه لعلم للساعة فلا تمترن بها واتبعوني هذا صراط مستقيم" هذه هي الايه التي يفهم منها ان نزول عيسى عليه السلام يدل على قرب القيامة وذلک لان اكثر المفسرين على ان ضمير (وانه) راجع الى عيسى المذكور سابقًا، وقوله تعالى: (لعلم) ان قرى بكسر العين وسكون اللام كما هو الاكثر، كان معناه انه علم الساعة اي يعلم من نزوله دنو الساعة وقرب القيامة، وان قرئ بفتح العين واللام كما قرا ابن عباس رضى الله عنهما كان معناه انه علامة لقرب القيامة الخ. (التفسيرات الاحمدية، ص: ۴۳۲، تفسير سورة الزخرف، رقم الاية: ۲۱)

په ترجمه شیخ الهند رحمه الله او فوائد عثماني کي دي:

"او هغه د قیامت نښاني ده، نو په هغه کي شک مه کوه، زما ویل ومنه، دا یو سیده لاره ده، یعني د حضرت مسیح علیه السلام اول ځل راتګ خو خاص د بني اسرائیلو لپاره یو نښاني وه چي بیله پلاره پیدا شو او عجب وغریب معجزات یې ښکاره کړل او دوهم ځل راتلل به د قیامت نښاني وي، د ده له نزول څخه به خلګ معلوم کړي چي قیامت نژدې راغلی دی. (فوائد عثماني مع ترجمه شیخ الهند، ص: ۲۵۲، سورة زخرف، آیت: ۲۱، حاشیه نمبر: ۴)

فائده: د حضرت عیسی علیه السلام آسمان ته پورته کیدل او بیا قیامت ته نژدې له آسمان څخه کښته کیدلو په هکله احادیثو تخریج د کتاب الایمان د **سوال:** (۲۷۲-۲۷۷) په جوابونو کي وګورئ.

د حضرت عیسی علیه السلام نزول په قرآن وحدیث ثابت دي

سوال: (۲۷۹) د حضرت عیسی علیه السلام د نزول خبر له قرآن څخه دی که له حدیث شریف څخه؟ که له فقهي څخه؟ (۱۳۴۱/۳۰۳هـ)

جواب: له حدیث شریف څخه ثابت دی او آیت قرآنیه هم پر دې دلالت کوي

له حضرت عیسی علیه السلام بعد یو بل نبي مع جسم آسمان ته ختلی دی کنه؟

سوال: (۲۸۰) له حضرت عیسی علیه السلام بعد یو بل نبي مع جسم آسمان ته ختلی دی کنه؟ (۱۳۴۰/۱۲۴۷هـ)

جواب: له حضرت عیسی علی نبینا و علیه السلام وروسته یو نبي هم ماسیوا له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دی ختلی. فقط

د حضرت عیسی علیه السلام ژوندی آسمان ته خیژولو مسئله

سوال: (۲۸۱) حضرت عیسی علیه السلام ته موت طبعي شوی دی که هغه ژوندی مع جسم آسمان ته پورته کړل شوی دی؟ د بعض فرقو دا قول دی چې د حضرت عیسی علیه السلام قبر په شام یا د هندوستان په کشمیر کې دی، صحیح دی که غلط؟ او د "توفي" معنی لغوي واصطلاحي څه ده؟ غلام احمد قادیاني مسیح موعود کیدای شي کنه؟ د ده د متعبین لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۳۹/۴۱۰هـ)

جواب: حضرت عیسی علیه السلام ژوندی مع جسم آسمان ته پورته شوی دی، دا عقیده د اهل سنت والجماعت ده او د توفي معنی د قبض ده او قبض دوه ډوله کیدای شي: د مرګ سره وي، یا پورته ختلو سره لکه په کمالین حاشیه جلالین کې دي: التوفي هو القبض یقال: وفاني فلان درهمي واوفاني وتوفیتها منه غیر ان القبض یکون بالموت وبالاصعاد فقوله: (ورافعک الي) من الدنیا من غیر موت تعیین للمراد. الخ(۱)

او مرزا

---

۱) تفسیر الجلالین مع الکمالین، ص: ۵۰، سورة آل عمران، تحت تفسیر الایة: ۵۵، رقم الهامش: ۸، المطبوعة: المطبع المجتبائي الواقع في بلدة الدهلي.

غلام احمد قادیاني مسیح موعود مهدي نشي کیدای، هغه ضال و مضل ؤ، د ده او د ده د اتباع ؤ تکفیر اهل سنت و الجماعت مدلل شائع کړی دی. فقط والله تعالی اعلم

حضرت عیسی علیه السلام پر دوهم آسمان دی که پر څلورم؟

سوال: (۲۸۲) د حضرت عیسی علیه السلام مقام اوس پر څلورم آسمان دی که پر دوهم آسمان؟ په یو حدیث کي د دې ذکر هم شته؟ (۱۲۳۱/۳۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: پر دوهم آسمان کیدل دا صحیح و معتبر دی، په لمعات کي ویلي دي چي اصح ترتیب داغه دی کوم چي په صحیحین کي دی (۱) فقط والله تعالی اعلم

حضرت مهدي به له کوم خاندان څخه وي؟

سوال: (۲۸۳) د امام مهدي ظهور به کله کیږي؟ او پر کوم ځای؟ او د کوم خاندان څخه به وي؟ (۳۳۲/۱۳۴۱ھ)

جواب: د حضرت امام مهدي رضی الله عنه په هکله په حدیث شریف کي دا راغلي دي: المهدي من عترتی من ولد فاطمة رضی الله عنها (رواه ابو داؤد) (۲) او په روایت ترمذي شریف او نورو کي دي چي امام مهدي به له اهل

---

۱) عن قتادة عن انس بن مالک بن صعصعة ان نبي الله صلی الله علیه وسلم حدثهم عن لیلة اسري به بینما انا في الحطیم وربما قال في الحجر مضطجعاً، اذ اتاني آت فشق ما بین هذه الی هذه یعني من ثغرة نحره الی شعرته، فاستخرج قلبي.... ثم صعد بي حتی اتی السماء الثانیة فاستفتح، قیل: من هذا؟ قال: جبرئیل، قیل: ومن معک؟ قال: محمد، قیل: وقد ارسل الیه؟ قال: نعم، قیل مرحبًا به، فنعم المجيء جاء، ففتح، فلما خلصت اذا یحي وعیسی وهما ابنا خالة، قال: هذا یحیی وهذا عیسی، فسلم علیهما، فسلمت، فردا، ثم قالا: مرحبا بالاخ الصالح والنبي الصالح الحدیث (مشکاة المصابیح، ص: ۵۲۶-۵۲۷، باب في المعراج، الفصل الاول)

وفي هامش مشکاة: هذا الترتیب الذي وقع في هذا الحدیث هو اصح الروایات وارجحها الخ لمعات (هامش المشکاة، ص: ۵۲۷، رقم الهامش: ۹، باب في المعراج)

۲) عن ام سلمة رضی الله عنها قالت: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: المهدي الحدیث (سنن ابی داؤد، ص: ۵۸۸، کتاب المهدي)

بیت څخه وي د ده نوم به زما نوم سره موافق وي او د ده د پلار نوم به عبد الله وي، یعني هغه به محمد بن عبد الله وي(۱) او د ده پاته علامات په احادیث کي مذکور دي(۲) د هغو د نقل کولو دغه وخت فرصت او ضرورت نشته فقط والله تعالی اعلم

د الله وخاص بندګانو ته شیطان دوکه نشي ورکولای

سوال: (۲۸۴) یو مولوي صاحب وایي چي د الله پر خاص بندګانو د شیطان چل نه چلیږي او یو جاهل وایي چي ټولو ته فریب(دوکه) ورکولای شي په دغه کي کوم قول صحیح دی؟(۲۳۲/۴۴-۱۳۴۵ه)

جواب: دا مضمون په ډیرو ځایو کي په قرآن شریف کي مذکور دی چي کوم د الله تعالی مخلص بندګان او خاص دي پر هغوه شیطان فریب او مکر کار نشي کولای، کما قال الله تعالی: "الا عبادک منهم المخلصین"(سورة حجر، آیت: ۴۰) فقط والله تعالی اعلم

ولي هغه دی چي متقي وي

سوال: (۲۸۵) د ولي تعریف څه دی؟(۸۷۰/۱۳۴۲ه)

جواب: قال الله تعالی: "ان اولیاءه الا المتقون"(سورة انفال، آیت: ۳۴) وقال الله تعالی: "الا ان اولیاء الله لا خوف علیهم ولاهم یحزنون الذین آمنوا وکانوا یتقون"(سورة یونس، آیت: ۲۲-۲۳) نو معلوم شو چي ولي هغه دی چي متقي وي فقط والله تعالی اعلم

د برزګي تعلق له عمل سره دی نه د ذات سره

سوال:(۲۸۶) د خدای تعالی په دربار کي د عمل پوښتنه کیږي که د ذات؟(۱۰۰۲/۴۲-۱۳۴۷ه)

---

۱) عن عبد الله رضی الله عنه عن النبي صلی الله علیه وسلم قال: لو لم یبق من الدنیا الا یوم، قال زائدة: لطول الله ذلک الیوم حتی یبعث رجلاً مني او من اهل بیتي یواطئ اسمه اسمي واسم ابیه اسم ابي، الحدیث (سنن ابي داؤد، ص: ۵۸۸، کتاب المهدي وجامع الترمذي: ۴۷/۲، ابواب الفتن، باب ماجاء في المهدي)

۲) د حضرت مهدي د شخصیت په هکله مزید معلومات که غواړي نو د ابو داؤد شریف، ص: ۵۸۸، او د ترمذي شریف: ۴۷/۲، مطالعه وکړئ ۱۲

جواب: د الله تعالی په نزد تر ټولو بزرګ هغه دی چي زیات متقي وي "ان اکرمکم عند الله اتقاکم" (سورة حجرات، آیت: ۱۳) محض د ذات هلته اعتبار نشته هلته عمل ته کتل کیږي. فقط والله تعالی اعلم.

کوم ولي د پیغمبر درجې ته نشي رسیدای

سوال: (۲۸۷) زید وایي چي د پیران پیر رحمه الله درجه تر حضرت موسی علیه السلام زیاته ده، عمر وایي چي د مځکي د سر اولیاء الله جمع کړل شي نو د پیغمبر درجې ته نشي رسېدای، په دوی دواړو کي کوم یو پر حق دی؟ (۱۴۸۳/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: الله تعالی وایي: "ولقد سبقت کلمتنا لعبادنا المرسلین" (سورة صافات، آیت: ۱۷۱) په انبیاء علیهم الصلاة والسلام کي د کوم نبي څخه د کوم ولي درجه زیاته نشي کېدای (۱) بس نو د زید عقیده بالکل غلطه او خلاف اهل سنت والجماعت ده او عمر چي څه وایي هغه حق دي، ټول اولیاء که سره ملاو شي د یو پیغمبر درجې ته نشي رسېدای، بلکه د صحبه بعد اولیاء الله د یو صحابي درجې ته نشي رسېدای. فقط والله تعالی اعلم.

نبي صلی الله علیه وسلم عالم الغیب ګڼل صحیح نه دي

سوال: (۲۸۸) نبي صلی الله علیه وسلم عالم الغیب ګڼل او حدیث ترمذي چي په هغه کي ده ته فهرست د اهل جنت واهل نار ښکاره کېدو ذکر دی، د ده عالم الغیب کېدو دلیل کېدای شي کنه؟ (۲۰۴۸/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: د نبي صلی الله علیه وسلم په نسبت د عالم الغیب کېدو اعتقاد صحیح نه دی او د کومو احادیثو ذکر چي په سوال کي دی

---

۱) ان الولي لا یبلغ درجة النبي، لان الانبیاء معصومون مامونون عن خوف الخاتمة مکرمون بالوحي حتی في المنام وبمشاهدة الملائکة الکرام مامورون بتبلیغ الاحکام وارشاد الانام بعد الاتصاف بکمالات الاولیاء العظام، فما نقل عن بعض الکرامیة من جواز کون الولي افضل من النبي کفر وضلالة والحاد وجهالة (شرح الفقه الاکبر، ص: ۱۴۸، الولي لا یبلغ درجة النبي، المطبوعة مطبع المجتبائي الواقع في الدهلي.)

له هغو څخه استدلال کول د ده پر عالم الغیب کېدو صحیح نه دی. (۱)

کوم څوک چي نبي صلی الله علیه وسلم عالم الغیب بولي د هغو لپاره څه حکم دی؟

سوال: (۲۸۹) د زید عقیده ده چي نبي صلی الله علیه وسلم عالم الغیب ؤ، نو زید کافر شو کنه؟ (۱۳۴۳/۱۴۲۹هـ)

جواب: د کفر حکم پر دغه سړي نه لګیږي ځکه تا ویل خو ممکن دی چي مراد له دې څخه د بعض مغیبات علم وي، کما قال الله تعالی: "عالم الغیب فلا یظهر علی غیبه احدا الا من ارتضی من رسول" (سورة جن، آیت: ۲۶-۲۷) وفي شرح الفقه الاکبر: اعلم ان الانبیاء علیهم السلام لم یعلموا المغیبات من الاشیاء الا ما اعلمهم الله تعالی الخ(۲) **یعني انبیاء علیهم السلام غیب نه پیژندل مګر هغه غیب کوم چي الله ورو ښودی، لهذا ممکنه ده چي زید دا ووایي چي زما مراد داغه دی. فقط والله تعالی اعلم**

سوال: (۲۹۰) کوم څوک چي نبي صلی الله علیه وسلم عالم الغیب بولي د هغو لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۴۵/۸۱۰هـ)

جواب: عالم الغیب کېدل په حقیقت کي خاصه د باري تعالی ده، هیڅوک په دې کي شریک کول نه دي پکار او په شرح فقه اکبر کي دي چي الله تعالی انبیاء علیهم السلام ته څومره قدر د امور مغیبه علم ورکړی دی هغومره قدر د هغو علم دی، انبیاء علیهم السلام عالم الغیب نه دی (۲) کما قال الله تعالی:

---

۱) عن عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما قال: خرج علینا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفي یده کتابان فقال: اتدرون ماهذان الکتابان؟ فقنا: لا یا رسول الله! الا ان تخبرنا، فقال للذي في یده الیمنی: هذا کتاب من رب العالمین، فیه اسماء اهل الجنة واسماء ابائهم وقبائلهم ثم اجمل علی آخرهم فلا یزاد فیهم ولا ینقص منهم ابدا، ثم قال للذي في شماله: هذا کتاب من رب العالمین، فیه اسماء اهل النار واسماء ابائهم وقبائلهم، ثم اجمل علی اخرهم، فلا یزاد فیهم ولا ینقص منهم ابدا الحدیث (جامع الترمذي: ۳۶/۲، ابواب القدر عن رسول الله صلی الله علیه وسلم، باب ما جاء ان الله کتب کتابا لاهل الجنة واهل النار)

۲) شرح الفقه الاکبر، ص: ۱۸۵، الانبیاء لم یعلموا المغیبات، المطبوعة: المطبع المجتبائي الواقع في الدهلي

"قل لا یعلم من فی السماوات والارض الغیب الا الله" (سورة نمل، آیت: ۶۵) فقط والله تعالی اعلم.

سوال: (۲۹۱) زید وايي چي نبي صلی الله علیه وسلم ته ټول علوم اولین وآخرین مغیبات عالم ورکول شوه، قوله تعالی: "وما هو علی الغیب بضنین" (سورة تکوير، آیت: ۲۴) حتی چي حضور صلی الله علیه وسلم په جمله صفات باري تعالی متصف دی، قوله تعالی: "وما رمیت اذ رمیت ولکن الله رمی" (سورة انفال، آیت: ۱۷) عمر وايي چي دا عقیده صریح شرک دی، په صفات الهي کي یو بشر یا ملائکه شامل نه دي، د چا چي دا عقیده وي هغه قطعي مشرک دی او دا دلیل پېش کوي "لیس کمثله شيء وهو السمیع البصیر" (سورة شوری، آیت: ۱۱) والله تعالی لا یغفر ان یشرک به... ویغفر ما دون ذلک لمن یشاء من الصغائر والکبائر (۱) (شرح عقائد نسفي) په دې کي د زید عقیده صحیح ده که د عمر؟ بینوا تؤجروا (۱۳۳۸/۵۵۲هـ)

جواب: په شرح فقه اکبر کي دي: ثم اعلم ان الانبیاء علیهم السلام لم یعلموا المغیبات من الاشیاء الا ما اعلمهم الله تعالی احیانا وذکر الحنفیة تصریحا بالتکفیر باعتقاد ان النبي علیه السلام یعلم الغیب لمعارضة قوله تعالی: "قل لا یعلم من في السماوات والارض الغیب الا الله" کذا في المسایرة (۲) (شرح فقه الاکبر، ص: ۱۸۵)

ترجمه: بیا ځان پوه کړه چي بیله شکه انبیاء علیهم السلام نه پېژندي د غیب خبري مګر هغه چي کله ناکله الله دوی ته ورښودلي دي او احنافو تصریح کړې ده چي دا اعتقاد ساتل چي نبي علیه السلام ته د غیب علم ؤ کفر دی، ځکه د دې اعتقاد معارضه لازمیږي له دې قول باري تعالی سره: "قل لا یعلم من في السماوات والارض الغیب الا الله" (سورة نمل، آیت: ۶۵) یعني ووایه نه پېژني غیب هیڅوک له اهل اسمان او مځکي سیوا له الله ځخه، همدا شان په مسایره کي دي. نو معلوم شو چي د زید قول په دې هکله غلط دی او ګمراهي ښکاره ده او

---

۱) شرح العقائد النسفیة، ص: ۱۱۱-۱۱۲، مطبوعة: کتب خانه امدادیه دیوبند.

۲) شرح الفقه الاکبر، ص: ۱۸۵، الانبیاء لم یعلموا المغیبات، المطبوعة: المطبع المجتبائي، دهلي.

د عمر قول صحیح دی او د زید استدلال په آیت: "وما هو على الغيب بضنين" (سورة تکویر، آیت: ۲۴) سره غلط دی.
ځکه د دې مطلب صرف دا دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو احکامو او غیبي کارونو په ظاهر کولو او بیان کولو کې کوم چې د ده ته د وحي په ذریعه معلوم شوي دي بخیل نه دي بلکه پوره هغه ښکاره کوي، د الله یو حکم هم نه پټوي، لکه ارشاد باري تعالی دی: "يايها الرسول بلغ ما انزل اليک من ربک" (سورة مائده، آیت: ۶۷) او یو قراءت بظنين ظاء معجمه سره دی، د هغه معنی په متهم سره ده، بهر حال له دې څخه مراد هغه احکام وامور غیبیه دي کوم چې نبي صلی الله علیه وسلم ته الله تعالی ورښودلي او ورمعلوم کړي دي او د هغو په هکله وحي نازلي کړي دي، کما قال في الجلالين: "وما هو اى محمد عليه الصلاة والسلام (على الغيب) ما غاب من الوحي وخبر السماء (بظنين) بمتهم وفي قراءة بالضاد اى ببخيل، فينقص شيئا منه(۱) فقط والله تعالى اعلم

د نبي صلی الله علیه وسلم په هکله د علم غیب لپاره څه عقیده ساتل پکار ده؟

سوال: (۲۹۲)..... (الف) د بکر عقیده ده چې نبي صلی الله علیه وسلم ته علم غیب صفاتي ؤ ایا دا صحیح دی؟

(ب) بکر خو د علم غیب قائل دی نو دی مشرک دی کنه؟

(ج) د بکر امامت صحیح دی کنه؟ (۱۳۳۸/۲۲۲۲هـ)

جواب: (الف) عالم الغیب کېدل د حق تعالی صفت خاصه دی، په دې کې هیڅوک د الله سره شریک کول نه دي پکار، باقي کوم علم مغیبات حق تعالی انبیاء علیهم السلام ته ورکړي دي، هغه دوی ته حاصل دی، نو عقیده بس دومره قدر ساتل پکار ده تر دې زیات نه ده پکار.

(ب) کافر و مشرک نه ورته وایو که څه هم د علم غیب عقیده د اهل سنت وجماعت له عقیدې خلاف ده.

(ج) د ده له امامت څخه پرهیز کول مناسب دی حتی الوسع دی امام مه جوړ وی، ځکه چې د ده په مبتدع کېدو کې هیڅ شک نشته او د مبتدع امامت کول مکروه دی (۲) فقط والله اعلم

---

۱) تفسیر جلالین، ص: ۴۹۲، تفسیر سورة التکویر، مطبوعة، مکتبه تهانوي دیوبند.

۲) واما الفاسق فقد عللوا كراهة تقديمه، بانه لا يهتم لامر دينه، وبان في تقديمه للامامة تعظيمه وقد وجب عليهم اهانته شرعا ولا يخفي انه اذا كان اعلم من غيره لا تزول العلة (الشامي: ۴۱۴/۱، كتاب الصلاة، باب الامامة، قبيل مطلب البدعة خمسة اقسام ط رشيديه)

د سرور کائنات صلی الله علیه وسلم علم غیب کلي ؤ که جزئـي؟

سوال: (۲۹۳) د محترم رسول الله صلی الله علیه وسلم علم کلي ؤ که جزئـي؟ (۱۳۳۷/۲۲۳۳هـ)

جواب: په قرآن شریف کي دي: "ولو کنت اعلم الغیب لا ستکثرت من الخیر" (سورة اعراف، آیت: ۱۸۸) او فرمایي: "وعنده مفاتح الغیب لا یعلمها الا هو" (سورة انعام، آیت: ۵۹) نو معلوم شو چي د غیب کلي علم حق تـه دی، هغه چي څه وغواړي خپلو پیغمبرانو ته ورښیي او پر هغو یې ښکاره کوي، په شرح فقه اکبر کي دي: "ثم اعلم ان الانبیاء علیهم السلام لم یعلموا المغیبات من الاشیاء الا ما اعلمهم الله تعالی احیانا وذکر الحنفیة تصریحا بالتکفیر باعتقاد ان النبي صلی الله علیه وسلم یعل الغیب لمعارضة قوله تعالی: "قل لا یعلم من في السماوات والارض الغیب الا الله" کهذا في المسایرة." (۱) (شرح الفقه اکبر، ص: ۱۸۵) فقط

انبیاء علیهم السلام عالم الغیب ګڼل څرنګه دي؟

سوال: (۲۹۴) انبیاء علیهم السلام عالم الغیب ګڼل څرنګه دي؟ (۱۳۲۰/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: عالم الغیب علی الاطلاق باري تعالی دی، په دغه صفت خاصه کي هیڅوک د ده شریک نه دی او بعض غیوب الله تعالی انبیاء علیهم السلام ته ښودلي دي. فقط والله تعالی اعلم.

پیران او اولیاء الله غیب پېژندونکي ګڼل او هغه راننګول څرنګه دي؟

سوال: (۲۹۵) پیران او اولیاء الله د غیب علم لرونکي بلل او هغو ته ندا کول څرنګه دي او دا ګڼل چي زموږ ندا ملائکه دغه بزرګ ته رسوي، جائز دي کنه؟ (۱۳۴۵/۱۴۹۳هـ)

جواب: پیران او بزرګان او اولیاء الله غیب پېژندونکي ګڼل جائز نه دي او هغو ته ندا کول صحیح نه ده او د اولیاء الله لپاره دا ثابت نه دي چي که اولیاء الله تعالی ندا وشي نو ملائکه یې ور رسوي، دا خاص د انبیاوو لپاره راغلي دي لکه نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چي زما د امت درود وسلام

---

۱) شرح الفقه الاکبر، ص: ۱۸۵، الانبیاء لم یعلموا المغیبات

ملائکه ما ته را رسوي. (۱) فقط والله تعالی اعلم

بزرګ د کشف په ذريعه د راتلونکي وخت خبره معلومولای شي کنه؟

سوال: (۲۹۲) بزرګ د کشف په ذريعه د راتلونکي وخت خبره معلومولای شي او کنه؟ (۱۹۱۷/۱۳۴۰ه)

جواب: دا يو اختياري امر نه دی، بعض اوقات اولياء الله او بزرګانو ته کشف کيږي او د اهل سنت وجماعت عقيده ده چي کرامات د اولياء الله حق دی او عالم الغيب د الله تعالی سيوا هيڅوک نه دی، کوم امر چي وغواړي پر خپلو بندګانو يې ظاهر کوي. فقط والله تعالی اعلم

کومي خبري چي موږ کوو هغه او درود شريف نبي صلی الله عليه وسلم اوري کنه؟

سوال: (۲۹۷) نبي صلی الله عليه وسلم هر وخت موجود دی، کومي خبري چي موږ کوو هغه اوري او درود شريف بغير وسيله اوري، دا عقيده څرنګه ده؟ (۱۳۳۸/۴۹۰ه)

جواب: دا عقيده له يو آيت وحديث څخه ثابت نه ده او د عقائدو په هکله د نص قطعي ضرورت دی او د درود شريف په هکله په يو حديث کي دي: ان لله ملائکة سياحين في الارض يبلغوني من امتي السلام، رواه النسايي. (۲) يعني ډيري ملائکي پر مځکه ګرځي چي زما د امت سلام ما ته رارسوي.

---

۱) عن ابي الدرداء رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: اکثروا الصلاة علی يوم الجمعة، فانه مشهود يشهده الملائکه، وان احدا لم يصل علی الا عرضت علی صلاته حتی يفرغ منها، الحديث. (مشکاة المصابيح، ص: ۱۲۱، کتاب الصلاة، باب الجمعة، الفصل الثالث)

وعن ابي هريرة رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله صلی الله عليه وسلم يقول: لا تجعلوا بيوتکم قبورا، ولا تجعلوا قبري عيدا، وصلوا علی فان صلوتکم تبلغني حيث کنتم رواه النسائي. (مشکاة المصابيح، ص: ۸۲، کتاب الصلاة، باب الصلوة علی النبي صلی الله عليه وسلم وفضلها، الفصل الثاني)

۲) عن ابن مسعود رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم يقول: لا تجعلوا بيوتکم قبورا، ولا تجعلوا قبري عيدا، وصلوا علی فان صلوتکم تبلغني حيث کنتم رواه النسائي (مشکاة

او په یو حدیث کي دي: من صلی علي عند قبري سمعته ومن صلی علي نائیا ابلغته، رواه البیهقي في شب الایمان(۱) یعني کوم سړی چي زما قبر ته راشي او درود شریف ووایي، زه هغه اورم او کوم سړی چي له لیري څخه ما ته درود را اسوتي هغه ملائکي ما ته را رسوي. فقط والله تعالی اعلم

انبیاء او اولیاء حاضر وناظر او عالم الغیب ګڼل کفر دی کنه؟

سوال: (۲۹۸) .... (الف) انبیاء علیهم السلام او اولیاء کرام حاضر وناظر ګڼل او د مصیبت پر وخت هغه رانڼګول او دا اعتقاد ساتل چي څه وخت هغو ته آواز وشي هغه فوراً کار درپوره کوي دا شان اعتقاد کفر دی کنه؟

(ب) انبیاء عظام او اولیاء کرام ته زموږ افعالو په غائبانه ډول علم شته کنه؟ (۲۴۲/۳۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: (الف) دا اعتقاد کفر دی، د نصوص صریحه خلاف دی، په کلام پاک کي دي: "وهو الله في السماوات وفي الارض یعلم سرکم وجهرکم ویعلم ما تکسبون" (سورة انعام، آیت: ۳) له دې څخه صاف معلومیږي چي ماسیوا له خدای په ټولو ځایو کي حاضر وناظر نشته او د مصیبت په وخت او هر وخت له خدای تعالی څخه مدد غوښتل پکار دی، قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: اذا استعنت فاستعن بالله(۲) چي کله د مدد ضرورت وي له خدای څخه یې غواړه د بل چا طرف ته توجه مه کوه.

(ب) علم غیب د باري تعالی خاصه ده، د غیر دخل پکي نشته، اولیاء کرام او انبیاء عظام عالم بجمیع الاشیاء ګڼل او د دې اعتقاد ساتل کفر دی، له دې څخه توبه وکاږي "لا یعلمها الا هو" (سورة انعام، آیت: ۵۹) "قل لا یعلم من في السماوات والارض الغیب الا

المصابیح، ص: ۸۲، کتاب الصلاة، باب الصلوة علی النبي صلی الله علیه وسلم وفضلها، الفصل الثاني، وسنن النسائي: ۱۴۳/۱، کتاب الافتتاح، باب التسلیم علی النبي صلی الله علیه وسلم)

۱) عن ابي هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من صلی علی عند قبري الحدیث(مشکاة المصابیح، ص: ۸۷، کتاب الصلة باب الصلاة علی النبي صلی الله علیه وسلم وفضلها، الفصل الثالث)

۲) د دغه حدیث شریف تخریج د کتاب الایمان د **سوال:** (۳۱۱) په جواب کي وګورئ.

الله "(سورة نمل، آیت ۶۵) فقط والله تعالی اعلم

نبي صلی الله علیه وسلم حاضر وناظر ګڼلو سره یا رسول الله ویل او په تعویذ کي یا محمد لیکل صحیح نه دي

سوال: (۲۹۹) نبي صلی الله علیه وسلم حاضر وناظر ګڼلو سره یا رسول الله ویل او په تعویذ کي یا محمد لیکل څرنګه دي؟ (۲۰۴۸/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: حاضر وناظر ګڼلو سره یا رسول الله ویل صحیح نه دي، همدغه ډول په تعویذ کي یا محمد لیکل صحیح نه دي او دغه شان عادت جوړول جائز نه دی. فقط والله تعالی اعلم

د حیات نبي مسئله

سوال: (۳۰۰) د نبي صلی الله علیه وسلم حیات النبي کېدل له مسلمات اهل سنت وجماعت څخه دي بیا قبض د روح او تجهیز وتکفین ودفین او نور امور منافي د حیات معلومیږي که حیات انبیاء ته مثل حیات شهد او عند الله کېدل وویل شي نو په منځ کي فرق به څه وي؟ (۴۸۵/۱۳۳۸هـ)

جواب: د انبیاء کرام علیهم الصلاة و السلام حیات له حیات شهداء څخه هم اقوي واتم دی او مراد له دې حیات څخه حیات دنیوي ظاهري نه دی لکه ارشاد باري تعالی دی: "انک میت وانهم میتون" (سورة زمر، آیت ۳۰) لهذا احکام د موات ظاهریه په تولو جاري کېږي، د دې مسئلې پوره تفصیل په "آب حیات" مصنفه حضرت مولنا محمد قاسم صاحب قدس سره کي مذکور دي، هغه وګورئ. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۳۰۱) د حیات النبي په هکله څه عقیده ساتل پکار ده؟ (۱۳۰/۴۴-۱۳۴۵هـ)

جواب: په حدیث شریف کي تصریح ده: ان الله حرم علی الارض ان تاکل اجسام الانبیاء فنبي الله حی یرزق(۱) لهذا د حیات النبي عقیده ساتل صحیح ده او د اهل سنت والجماعت عقیده ده، د دې تحقیق په کتاب آب حیات مصنفه مولنا محمد قاسم صاحب نانوتوي قدس سره کیدی

---

۱) د دغه حدیث تخریج د کتاب الایمان د **سوال:** (۳۸) په جواب کي وګورئ.

هغه وګورئ چي جمله اشکالات رفع شي. فقط والله تعالی اعلم

ایا رسول الله صلی الله علیه وسلم هر ځای موجود دی؟

سوال: (۳۰۲) زید وایي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم هر ځای موجود دی او په انا ارسلناک شاهدا الخ کي د شاهد داغه معنی ده چي دی هر ځای موجود دی د زید دا قول صحیح دی کنه؟ (۳۷۲/۳۳-۱۳۳۴ھ)

جواب: د زید دا قول د ثبوت پای ته نه دی رسیدلي، نه رسېدای شي، محض افتراء وجهالت دی او د آیت "انا ارسلناک شاهدا "الایة(۱) مطلب په تفسیر جلالین کي دا بیان کړی دی چي موږ ای محمده! ته پر خپل امت شاهد جوړولو سره استولی یې چي ته د قیامت په ورځ د دوی د ایمان شاهدي ورکړې الخ د هغه عبارت دا دی: "انا ارسلناک شاهدا "الایة علی امتک في القیامة(۲) او په تفسیر مدارک کي د "وجئنابک علی هؤلاء شهیدا "(سورة نساء، آیت ۴۱) په تفسیر کي مذکور دي: ای شاهدا علی من آمن بالایمان وعلی من کفر بالکفر الخ(۳) او دغه ته قریب په جمله تفاسیر کي دي نو د زید قول او د ده استدلال بالکل باطل دی. فقط والله تعالی اعلم

د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر مځکي باندي لګېده کنه؟

سوال: (۳۰۳) هغه کوم حدیث دی چي پکي دا راغلي دي چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم سایه پر مځکه نه واقع کېدله؟ (۱۰۴۴/۱۳۳۵ھ)

جواب: امام سیوطي علیه الرحمة په خصائص کبری کي د نبي صلی الله علیه وسلم سایه پر مځکه نه واقع کېدو په هکله دا حدیث نقل کړی دی: اخرج الحکیم الترمذي عن ذکوان ان

۱) سورة احزاب، آیت ۴۵، سورة فتح، آیت ۸

۲) تفسیر جلالین، ص: ۴۲۳، تفسیر سورة فتح

۳) تفسیر مدارک، ص: ۱۳۴، تفسیر سورة نساء، المطبوعة المطبع الحنفي الواقع في الدهلي

رسول الله صلی الله علیه وسلم لم یکن یری له ظل في شمس ولا قمر الخ(۱)

او په تواریخ حبیب اله کي مولنا مفتي عنایت احمد صاحب رحمه الله لیکي چي د ده بدن نور و، له دې وجې د ده سایه نه وه.(۲) مولوي جامي رحمه الله د ده سایه نه کېدو کي ښه نکته لیکلې ده، په دغه قطعه کي:

---

۱) الخصائص الکبری للسیوطي: ۶۸/۱، باب الایة في انه صلی الله علیه وسلم لم یکن یری له ظل المطبوعة: مجلس دائرة المعارف النظامیة، حیدر آباد.

۲) صحیح خبره دا ده چي د نبي صلی الله علیه وسلم سایه وه او پر ځمکه هم لګېده، مفسر قرآن مولانا سعید احمد صاحب پالن پوري (شیخ الحدیث وصدر المدرسین دار العلوم دیوبند) دامت برکاتهم العالیه په تفسیر هدایت القرآن کي تحریر کوي: د سیرت په بعض کتابو کي دي چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم سایه نه وه، ځکه چي د نور سایه نه وي، همدا شان مځکه محل کثافت ده، د دې وجې پر دې د ده صلی الله علیه وسلم سایه لګېدل د ده له شان خلاف دي. (وګوره مدارج النبوة: ۱۳۲/۱-۱۳۷، زرقاني شرح مواهب: ۲۴۹/۵)

دا خبره هم صحیح نه ده، په امداد الفتاوی کي د موی (ویښته) مبارک په هکله یوه فتوی ده:

د موی مبارک لپاره دا خبره ضروري نه ده چي هغه سایه نه لري او په کوم کور کي وي پر هغه د وریځي سایه نه لګیږي او دغه کور والا ته به هیڅ تکلیف نه راځي، دا خبري پخپله د نبي صلی الله علیه وسلم لپاره نه وي، د ده صلی الله علیه وسلم سایه هم وه، پر ده لمر هم منبتی، که یو وخت د معجزې په توګه د ده سایه نه وي لګېدلې، وریځي سایه پرې کړې وي نو هیڅ بعید نه دی لیکن استمرار ثابت نه دی او دی ناجوړه کېدی هم چي د کل لپاره دا کار ضروري نه دی نو د جزو لاره به څه ضروري وي؟ والله اعلم (امداد الفتاوی: ۵۷/۴)

د مسند احمد په یو روایت کي دا هم شته چي د نبي صلی الله علیه وسلم سایه کېدل ثابت دي، دغه روایت په مسند کي درې ځایه راغلی دی، د دې خلاصه دا ده چي د حجة الوداع په سفر کي د حضرت صفیې رضی الله عنها سوارلی هلاکه شوه، رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت زینب رضی الله عنها ته وویل چي ستا سره یوه زیاته سوارلی ده، یوه صفیې ته ورکره، هغې انکار وکړ، د دې له خولې څخه د حضرت صفیې رضی الله عنها په شان کي یو سخته خبره ووتله، نبي صلی الله علیه وسلم له دې څخه ناراض شو او تقریبًا درې میاشتي دې ته نه ورغلی، تر دې چي هغه مایوسه شوه، د دې بعد د روایت دا الفاظ دي:--

پیغمبر ماند اشت سایه　　　تا شک بدل یقین نیفتد
یعني هر کس که پیروي اوست　　　پیدا است که بر زمین نیفتد

سوال: (۳۰۴) د نبي صلی الله علیه وسلم سایه وه کنه؟ (۱۳۳۹/۹۵۳هـ)

جواب: د نبي صلی الله علیه وسلم د جسد مبارک سایه نه کېدل په مواهب لدنیه او لمعات کي د د غه حدیث صحیح له الفاظو څخه ثابت کړي دي. اللهم اجعلني نورا الخ (۱) څکه ظاهره ده چي د نور سایه

--- فلما کان شهر ربیع الاول دخل علیها فرات ظله، فقالت ان هذا لظل رجل، وما یدخل علی النبي صلی الله علیه وسلم فمن هذا؟ فدخل النبي صلی الله علیه وسلم الخ (۳۳۸/۲) و (۱۳۲/۲ و ۲۲۱)

ترجمه: بیا چي کله د ربیع الاول میاشته راغله نو نبي صلی الله علیه وسلم حضرت زینب رضی الله عنها ته ورغلی هغې د نبي صلی الله علیه وسلم سایه ولیده او په زړه کي یې فکر وکړ چي دا د یو سړي سایه ده او نبي صلی الله علیه وسلم خو ما لره نه راځي نو دا به د چا سایه وي؟ په دا غه سوچ کي وه چي نبي صلی الله علیه وسلم داخل شو الخ.

له دې حدیث څخه صراحةً دا خبره ثابته شوه چي د نبي صلی الله علیه وسلم سایه وه او هغه پر مځکه هم لګېده (تفسیر هدایت القرآن: ۲۴۲/۵-۲۴۷، تفسیر سورة کهف، فائده نمبر: ۴)

او په فتاوی رشیدیه کي دي:

سوال: سایه مبارک د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر مځکه لګېده کنه؟ او کوم چي ترمذي په نوادر الاصول کي له عبد الملک بن عبد الله بن وحید څخه هغو له ذکوان څخه روایت کړی دی چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم سایه نه لګېدله سند د دې حدیث صحیح دی که موضوع، وې لیکه

جواب: دا روایت په کتب صحاح کي نشته او د نوادر روایت ماته معلوم نه دی چي څرنګه دی او نوادر الاصول د حکیم الترمذي دی د ابو عیسی ترمذي نه دی. فقط والله تعالی اعلم

(فتاوی رشیدیه، ص: ۱۸۲، کتاب التفسیر والحدیث، مطبوعة درسي کتب خانه، دهلي)

۱) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: بت في بیت خالتي میمونة رضی الله عنها فبقیت کیف یصلي رسول الله صلی الله علیه وسلم... ثم خرج الی الصلاة فصلي، فجعل یقول في صلاته او في سجوده: اللهم اجعل في قلبي نورًا وفي سمعي نورًا وفي بصري نورًا وعن یمیني نورًا وعن شمالي نورًا وامامي نورًا وخلفي نورًا وفوقي نورًا

نه وي (۱) فقط والله تعالى اعلم

رسول الله صلى الله عليه وسلم د الله نور دی کنه؟

سوال: (۳۰۵) زید وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د الله نور دی، خدای دی له خپل نور څخه پيدا کړ او دا حديث پېش کوي: اول ما خلق الله نوري او انا من نور الله، د حضور صلى الله عليه وسلم پيدائش له نور څخه دی ليکن بکر وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له نور څخه نه دی بلکه د خدای له قدرت څخه پيدا شوی دی او کوم احاديث چې زید پېش کوي هغه قابل اعتبار نه دي، په دې هکله شرعي فيصله څه ده؟ (۱۳۴۱/۴۷۴هـ)

جواب: په دې کې بحث ومباحثه د مسلمانانو لپاره نه کول او د دې معنی د الله تعالى علم ته سپارل پکار دي او د دغه قسم روايات انا من نور الله او نور وروسته تر ثبوت پر دې محمول کول پکار دي چې الله تعالى د ده په زړه مبارک کې د هدايت نور اېښی دی او د ده ذات پاک يې منور کړ، د ده له نور څخه لکه ده په حديث شريف کې دعا کړې ده چې ای الله! زما سمع او بصر او قلب او نور له نور څخه ډک کړې او آخري جمله دا ده: واجعلني نورًا (۲) يعني ای الله! ما ته سر تر پايه نور را کړه.

وتحتي نورا واجعل لي نورًا او قال: واجعلني نورًا. (الصحيح لمسلم: ۲۶۱/۱، کتاب صلاة المسافرين وقصرها، باب صلاة النبي صلى الله عليه وسلم ودعائه بالليل)

۱) دا استدلال ضعيف دی، په امداد الفتاوی کې دي:

سوال: د حضور سرور کائنات د سايه نه کېدلو په هکله کوم روايات دي، هغه د کومې درجې دي او د هغه په هکله څه عقيده وخيال ساتل پکار دي، آيا واقعي د نبي صلى الله عليه وسلم سايه لګېدله کنه؟

جواب: د سايه نه کېدو يو صريح روايت هم نه دی تېر شوی، صرف بعضو له وَاجعلني نورًا څخه استدلال کړی دی چې د نور سايه به نه وه، ځکه سايه ظلمت وي مګر ضعف د دې ظاهر دی، شايد د حضور صلى الله عليه وسلم پر سر باندې وريځ کېدل د دې اصل وي ځکه په دې صورت کې خو ظاهر دي چې سايه به نه وي لېکن پخپله په صحاح کې روايت دی چې د نبي صلى الله عليه وسلم پر سر مبارک بعض اوقات په سفر کې صحابه کرام په ټوکر سره سايه کوله، له دې څخه هم معلومېږي چې د وريځې کېدل هم دائمي نه ؤ.

(امداد الفتاوی، ۴۰۵/۵-۴۰۲، کتاب العقائد والکلام، عنوان د رسول الله صلى الله عليه وسلم د سايه نه کېدو تحقيق. **سوال:** (۳۶۲) مطبوعه زکريا بک ډپو، ديوبند او وګورئ فتاوی محموديه ۴۸۱/۴-۴۸۲. **سوال:** ۱۵۸۹، مطبوعه ادارۀ صديق، ډابهيل، ګجرات)

۲) د دغه حديث شريف تخريج د مخکني سوال په جواب کې وګورئ ۱۲

نو معلوم شو چي د ده جسم اطهر او قلب او نور ټول اعضاء الله تعالی نور جوړ کړه، دغسي خو ظاهره ده چي د نبي صلی الله علیه وسلم پیدائش په مثل د ټول مخلوقات د الله تعالی په قدرت و ایجاد سره شوی دی مګر الله تعالی دي له ټول مخلوقات څخه غوره کړی او تر ټولو یې بزرګي ورکړه او پخپل نور سره یې دی منور کړ. فقط والله تعالی اعلم

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د خدای وزیر او مختار عام ویل صحیح نه دي

سوال: (۳۰۲) رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د خدای وزیر اعظم او مختار عام ویل جائز دي کنه؟ (۱۳۳۵/۴۴۴هـ)

جواب: دا شان ویل صحیح نه دي "کبرت کلمة تخرج من افواههم ان یقولون الا کذبًا" (سورة کهف، آیت: ۵) د اهل سنت والجماعت عقیده ده: د الله تعالی کوم شریک او وزیر نشته او او نه کوم مختار عام شته چي څه وغواړي هغه وکړي. قال الله تعالی: "من ذا الذي یشفع عنده الا باذنه" (سورة بقره، آیت: ۲۵۵) او په حدیث شفاعت کي دي چي حق تعالی ته د ده تر عرش لاندي سجده کوم، څه وخت ما ته د شفاعت اجازه وشي هغه وخت به د ګنهګارانو شفاعت کوم. (۱) فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۳۰۷)....(الف) رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د الله جل شانه وزیر ویل جائز دي کنه؟ زید وایي چي د "اني جاعل في الارض خلیفة" (سورة بقره، آیت: ۳۰) څخه وزیر ویل جائز دي.

(ب) په وزیر او خلیفه کي څه فرق دی؟ (۱۳۴۲/۲۱۱هـ)

جواب: (الف - ب) نبي صلی الله علیه وسلم ته وزیر ویل صحیح نه دي، د الله تعالی یو وزیر او مشیر و معین نشته او خلیفه نائب ته ویل کیږي نو کوم سړی چي د الله تعالی له طرفه د ده خلیفه او نائب دی، هغه وزیر نه دی. فقط والله تعالی اعلم

---

۱) حدیث د شفاعت لپاره وګوری: صحیح البخاري: ۱۱۱۸/۲-۱۱۱۹، کتاب التوحید، باب کلام الرب یوم القیامة مع الانبیاء وغیرهم او الصحیح لمسلم: ۱۱۰/۱، کتاب الایمان، باب اثبات الشفاعة واخراج الموحدین من النار.

انبیاء او اولیاء حاضر وناظر او مشکل کشا ګڼل څرنګه دي؟

سوال: (۳۰۸) حضرت علي وحضرت رسول کریم صلی الله علیه وسلم او نور انبیاء الله و اولیاء الله او شهداء څخه امداد دنیوي طلب کول او ندائیه الفاظ پر ژبه راوړل لکه مشکل کشا یا دستګیر جیلاني، څه حقیقت لري؟ له بزرګانو څخه امداد حاصل کېدای شي کنه؟ او زموږ اعمال قبیح یا ملیحویني که څنګه؟ (۱۳۳۷/۷۲هـ)

جواب: دا عقیده چي بزرګان دین او انبیاء و اولیاء زموږ اعمال ویني او له جمله امور څخه واقف دي باطله ده او په دغه اعتقاد او نیت سره مدد غوښتل او الفاظ ندائیه ویل صحیح نه دي او مشکل کشا او نور دا شان روا نه دي **فقط والله تعالی اعلم**

انبیاء او اولیاء له وفات بعد اوري کنه؟

سوال: (۳۰۹) انبیاء صلحاء او شهداء بعد وفات اوري کنه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۸۳۰هـ)

جواب: د امام اعظم مشهور قول داغه دی چي سماع موتي ثابته نه ده، په دلیل آیت "انک لا تسمع الموتی" (سورة نمل، آیت: ۸۰، سورة روم، آیت: ۵۲) "وما انت بمسمع من في القبور" (سورة فاطر، آیت: ۲۲) او اهل قبور ته چي کوم د سلام حکم دی، هغه یو شرعي حکم دی، هغه پوره کول پکار دی، د میت اورېدو او نه اورېدو کي هیڅ بحث نه دی شوی او په حدیث شریف کي چي کوم د اهل قلیب بدر په هکله دي: والذي نفسي بیده ما انتم باسمع منهم یا ان المیت لیسمع قرع نعالهم (۱) د دې جواب علامه صاحب فتح القدیر دا ورکړی دی چي لومړی حدیث په وجه د معارضه قرآن متروک یا مؤول دی لکه حضرت صدیقه عائشه رضی الله عنها د دې تاویل په ما انتم باعلم منهم سره کړی دی او دوهم حدیث مخصوص دی په اول وضع في القبر سره. (۲) فقط والله تعالی اعلم

---

۱) د دواړو حدیثونو تخریج د کتاب الایمان د سوال (۴۸) په جواب کي وګورئ ۱۲

۲) و أورد قوله صلی الله علیه وسلم في اهل القلیب "ما انتم باسمع لما اقول منهم" واجاب تارة بانه مردود من عائشة رضی الله عنها قالت، کیف یقول صلی الله علیه وسلم ذلک.

له انبیاء او اولیاؤ څخه مدد طلب کول جائز نه دی

سوال: (۳۱۰) یو سړی عرض کوي چي یا رسول الله! زما زوی ناجوړه دی، زما مدد وکړه، اعتقاداً وعند الشرع جائز دی که شرک؟ (۲۱۲۲/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: له نبي صلی الله علیه وسلم او نورو انبیاء علیهم السلام او اولیاء رحمهم الله تعالی څخه مدد طلب کول جائز نه دی، مګر د انبیاء او اولیاء علیهم الصلاة والسلام په وسیله او برکت سره له الله تعالی څخه مدد غوښتل چي ای الله! په وسیله د نبي صلی الله علیه وسلم زما فلانکی کار پوره کړې، جائز دی. (۱) فقط

سوال: (۳۱۱) له نبي صلی الله علیه وسلم او اولیاء الله او اهل قبور څخه استمداد جائز دی کنه؟ (۱۸۷۲/۱۳۴۳هـ)

جواب: په قرآن شریف کي دا ارشاد دی: "ایاک نعبد وایاک نستعین" (سورة فاتحه، آیت: ۵) یعني ای الله! موږ خاص ستا عبادت کوو او خاص ستا څخه مدد غواړو نو مدد خاص د الله تعالی څخه غوښتل پکار دي په حدیث شریف کي دي: واذا ستعنت فاستعن بالله (۲) یعني کله

-- والله تعالی یقول: "وما انت بمسمع من في القبور" (فاطر: ۲۲) "انک لا تسمع الموتی" (النمل: ۸۰)؟.... ویشکل علیهم ما في مسلم ان المیت لیسمع قرع نعالهم اذا انصرفوا اللهم الا ان یخصوا ذلک باول الوضع في القبر مقدمة للسؤال جمعا بینه وبین الایتین، فانهما یفید ان تحقیق عدم سماعهم (فتح القدیر علی الهدایة: ۱۰۲/۲ کتاب الصلاة، باب الجنائز)

۱) عن عثمان بن حنیف رضی الله عنه ان رجلا ضریر البصر اتی النبي صلی الله علیه وسلم فقال: ادع الله ان یعافیني، قال: ان شئت دعوت وان شئت صبرت فهو خیر لک، قال: فادعه، قال فامره ان یتوضا فیحسن وضوءه ویدعو بهذا الدعاء: اللهم اني اسئلک واتوجه الیک بنبیک محمد نبي الرحمة اني توجهت بک الی ربي في حاجتي هذه لتقضی لي، اللهم فشفعه فيّ (جامع الترمذي: ۱۹۸/۲، ابواب الدعوات، باب في دعاء الحفظ)

۲) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: کنت خلف النبي صلی الله علیه وسلم یوما، فقال: یا غلام! اني اعلمک کلمات احفظ الله یحفظک، احفظ الله تجده تجاهک، اذا سالت فاسئل الله واذا ستعنت فاستعن بالله الحدیث (جامع الترمذي: ۷۸/۲، ابواب صفة القیامة، باب)

چي ته مدد غواړي نو له الله تعالی څخه يې وغواړه ليکن که په توسل د انبياء کرام عليهم السلام و اولياء عظام رحمهم الله د الله تعالی څخه دا شان دعا وکړي چي ای الله ! په برکت د خپل غوره بندګانو زما حاجت پوره کړه نو دا صحيح دي فقط والله تعالی اعلم

ايا د اولياء الله فيوض له وفات بعدهم جاري پاته کيږي؟

سوال: (۳۱۲) اولياء کرام بعد وفات يو ډول فائده رسولای شي کنه؟ (۴۲/۳۳۲۹-۱۳۴۷ هـ)

جواب: د اولياء الله بعد وفات هم فيض او نفع وي لکه د دوی له احوال او قصص څخه ثابت دي (۱) فقط والله تعالی اعلم

د انتقال بعد څوک د مدد ونجات ورکولو طاقت لري؟

سوال: (۳۱۳) ..... (الف) ايا څوک بعد ممات د تلو راتلو او مدد ونجات ورکولو طاقت لري؟

(ب) ايا له دليل شرعي څخه دا ثابت دي چي خدای تعالی يو ميت ته د ده مريد ومعتقد پر بللو يا د مدد طلب کولو باندي د تصرف کولو اختيار يا حکم ورکوي؟ (۱۳۴۱/۲۲۰۲هـ)

جواب: (الف) دا ثابت نه دي

(ب) ثابت نه دي فقط والله تعالی اعلم

---

۱) په فتاوی رشيديه کي دي:

سوال: مزارات اولياء رحمهم الله څخه فيض حاصليږي کنه؟ که حاصليږي نو په کوم صورت کي؟

جواب: مزارات اولياء څخه کاملين ته فيض کيږي، مګر عوامو ته د دې اجازه ورکول هيڅکله جائز نه ده او د تحصيل فيض يو خاص طريقه نشته، کله چي ورتلونکی اهل وي نو د ده له طرفه حسب استعداد فيضان کيږي مګر عوامو ته دغه امور بيان کول د کفر وشرک دروازه خلاصول دي فقط (فتاوی رشيديه، ص: ۱۰۴، کتاب العقائد، عنوان: مزارات اولياء څخه فيض)

1

ایا د اولیاء الله ارواح خود مختاره او قادر مطلق دي؟

سوال: (۳۱۴) اوریدلي مي دي چې د اولیاء کرامو ارواح خود مختاره وي او هر څه کولای شي او خلک له دوی څخه هر شی طلب کوي او پر ژبه د دوی د نومو ورد کوي، دا شان کیږي کنه؟ (۱۳۳۷/۲۴۰هـ)

جواب: دا غلط دي، بې له حکم الله تعالی هیڅ نشي کولای. فقط والله تعالی اعلم

له قبر څخه د دعا خواست مه کوه

سوال: (۳۱۵) که څوک د یو بزرګ پر قبر ودریږي دا ووایي چې زما په هکله د الله تعالی څخه دعا وکړه چې الله زما کار پوره کړي (۱۳۳۴-۳۳/۲۱۵۳هـ)

جواب: داسي دعا کول پکار ده چې الله تعالی د ده په برکت سره زما مقصد پوره کړه. فقط

د حضور صلی الله علیه وسلم په توسل سره دعا غوښتل له حدیث څخه ثابت دي

سوال: (۳۱۶) د نبي صلی الله علیه وسلم وسیله طلب کول بعض خلک ناجائز ګڼي چي دی مړ شوی دی، په دې هکله صحیح مسلک څه دی؟ (۱۳۴۵/۱۷۴۹هـ)

جواب: په حدیث شریف کي دي: ان الله حرم علی الارض ان تاکل اجساد الانبیاء فنبي الله حی یرزق (۱) ترجمه: بې شکه الله تعالی حرام کړ پر مځکه چې د انبیاء جسمونه وخوري نو د الله نبي ژوندی دی رزق ورکول کیږي، له دې څخه معلوم شو چې انبیاء ژوندي دي، لکه چې د شهداء په هکله په قرآن شریف کي وارد دي: "بل احیاء عند ربهم یرزقون" (سورة آل عمران، آیت ۱۲۹) چې شهداء ژوندي دي نو انبیاء علیهم السلام چې تر هغو افضل دي په درجه اولی ژوندي دي او توسل بالانبیاء جائز دی لکه په یو حدیث شریف کي راغلي دي: اني توجهت بک الی ربي في حاجتي هذه لتقضي لي الحدیث. (۲) فقط والله تعالی اعلم

---

۱) د دغه حدیث شریف تخریج د کتاب الایمان د سوال (۳۸) په جواب کي وګورئ ۱۲

۲) د دغه حدیث تخریج د کتاب الایمان د سوال (۳۱۰) په جواب کي وګورئ ۱۲

د انبیاء کرام په توسل سره له الله تعالی څخه دعا غوښتل جائز دي لیکن پخپله له دوی څخه مه غواړئ

سوال: (۳۱۷) کوم خلک چي مړي ژوندي بولي او وايي چي دوی زموږ هر ډول مدد راکولای شي، دوی څرنګه دي؟ (۱۳۴۳/۱۹۴۱ھ)

جواب: اولیاء الله چي د الله تعالی مقرب بندګان دي، د هغو په توسل سره له الله تعالی څخه مدد غوښتل جائز دي او له سلف صالحین څخه ثابت دي او په دې کي امید قبولیت دی لیکن پخپله له دوی څخه دي نه غواړي بلکه د دوی په ذریعه او وسیله سره دي له الله تعالی څخه وغواړي. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۳۱۸) د زید عقیده ده چي د یو زاهد متقي ولي په وسیله سره د الله تعالی په دربار کي په دغه شان پخپل مقاصد کي د کامیابي لپاره دعا وکړي چي باري تعالی د دغه ولي په برکت سره زما په مقصد کي کامیابي راکړي او د قبر سره دړهدو سره الله تعالی زاري کول، د دې په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۴۷-۴۲/۲۰۴۲ھ)

جواب: د زید عقیده صحیح ده او دعا د وسیلې جائز ده او قبر ته ورتلو سره دعا وسیله کول هم جائز دي مګر خاص له اهل قبور څخه حاجات طلب کول جائز نه دي، بلکه شرک دی. (۱) فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۳۱۹) بعض خلک د اولیاء مزارو ته ولاړ شي دعاوي کوي او وايي زما لپاره د خدای څخه دعا وکړه نو ایا هغه د دوی فریاد اوري؟ او دا شان ویل جائز دي کنه؟ (۱۳۳۸/۴۲۱ھ)

جواب: د اموات په اورېدو کي کلام دی، بعض صحابه وائمه د عدم سماع میت قائل دي، لهذا دا شان نه دي ویل پکار، بلکه دعا دي له الله تعالی څخه دا شان وشي نو مضائقه نشته چي یا الله! په برکت د دې بزرګ زما حاجت پوره کړه. فقط والله تعالی اعلم

---

۱) ومنها: انه ان ظن ان المیت یتصرف في الامور دون الله تعالی واعتقاده ذلک کفر. (الشامي: ۱۳۹/۲، باب ما یفسد الصوم وما لا یفسده مطلب النذر الذي یقع للاموات من اکثر العوام من شمع او زیت او نحوه. ط رشیدیه)

له اهل قبور څخه مدد کولو دوه صورته او د هغو حکم

سوال: (۳۲۰) استمداد من اهل القبور د جواز له حنفیهؤ په نزد یو صورت شته کنه؟ (۱۳۳۷/۲۵۹۰هـ)

جواب: استمداد من اهل القبور که له دې عقیدې سره وي چې هغه متصرف في الامور دی لکه د عوامو عقیده ده نو صحیح نه دی، بلکه په دې کې خوف د کفر دی، په شامي کې دي: ومنها: انه ان ظن ان المیت یتصرف في الامور دون الله تعالی واعتقاده ذلک کفر الخ(۱) او که مطلب د ده دا وي چې د الله تعالی څخه د ده په ذریعه سره دعا وشي چې یا الله! زما فلانکی کار د فلانکي بزرګ په برکت سره پوره کړې نو جائز دی. فقط والله تعالی اعلم.

حضرت علي کرم الله وجهه مشکل کشا ګڼل

سوال: (۳۲۱) موږ ټول حضرت علي کرم الله وجهه مشکل کشا بولو لیکن یو عالم وایي چې مشکل کشا د الله تعالی سیوا بل هیڅوک نشته او شاعر هم غټ بزرګان مشکل کشا بولي او لیکي، په دې هکله شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۴۳/۴۹۲هـ)

جواب: په قرآن شریف کې په ډیرو ځایو کې ارشاد دی چې کله یو سړي ته مصیبت او تکلیف او مرض او شدائد راشي نو د هغه لیرې کولو لپاره د الله تعالی سیوا هیڅوک نشته(۲) دی قاضي الحاجات دی، دی کافي المهمات دی او دی حل المشکلات دی، لهذا قول د دغه مولوي صاحب صحیح دی بیا دا شان لفظ د حضرت علي رضی الله عنه یا د یو بزرګ په هکله نه دي ویل پکار د دې پر ځای د ده له نوم سره رضی الله عنه یا کرم الله وجهه ویل پکار دي. فقط والله تعالی اعلم

---

۱) الشامي: ۱۳۹/۲، کتاب الصوم، باب ما یفسد الصوم وما لا یفسده مطلب في النذر الذي یقع للأموات الخ. ط رشیدیه

۲) "امن یجیب المضطر اذا دعاه ویکشف السوء ویجعلکم خلفاء الارض ءاله مع الله قلیلا ما تذکرون" (سورة نمل، آیت: ۶۲)

بزرګان دین حاجت روا ګڼل او له هغو څخه دعا غوښتل جائز نه دي

سوال: (۳۲۲) کوم سړی چي دا عقیده وساتي چي جمله بزرګان دین برابر حاجت پوره کوي، د دې لپاره څه حکم دی؟(۹۱۰/۴۲-۱۳۴۷ھ)

جواب: بزرګان دین حاجت روا ګڼل او له هغو څخه دعا غوښتل جائز نه دي مګر د الله تعالی څخه د دوی په وسیله سره دعا وکړئ چي ای الله! په وسیله د بزرګان دین زما حاجت پوره کړه، نو دا صحیح دي فقط والله تعالی اعلم

د بزرګان دین پر نوم حیوان پرېښودل شي هغه که په بسم الله ﷲ سره ذبح شي نو هم حلال نه دي

سوال: (۳۲۳) د بزرګان دین د مزارونو زیارت کول، څادر او پشمي تو کر وربانديي اوارول او د دوی پر نوم حیوان پرېښودل او نذر منل او مزار ته ولاړ شي حیوان ذبح کړي بسم الله پر ووایي، د دې خوړل جائز دي کنه؟(۱۵۸۷/۳۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: زیارت کول صحیح دی او پاته امور ممنوع دي او د غیر الله پر نامه چي کوم حیوان تقربًا لغیر الله مقرر شي، هغه د الله تعالی پر نامه ذبح کولو سره نه حلالیږي، کذا في الدر المختار.(۱)

د ملاقات پر وخت د عالم یا بزرګ لاس مچول او سر کښته کول جائز دي کنه؟

سوال: (۳۲۴) تقبیل ید عالم او انحناء بوقت ملاقات صحیح دي کنه؟(۲۴۲/۳۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: تقبیل ید عالم یا صوفي پابند شریعت جائز دي، انحناء نه ده

۱) ذبح لقدوم الأمیر ونحوه کواحد من العظماء یحرم لانه اهل به لغیر الله ولو..... ذکر اسم الله تعالی..... کان لتعظیم غیر الله فتحرم (الدر مع الرد: ۲۱۷/۵، کتاب الذبائح ط رشیدیه)

پکار ځکه چي انحناء خو د سجدې مشابه ده او سنت دا دی چي سلام وکړي او په دواړو لاسونو سره مصافحه وکړي (۱) په حديث شريف کي دي: اذا لقي احدكم اخاه فليسلم عليه. (۲) فقط والله تعالی اعلم

د نبي صلى الله عليه وسلم په هکله خرابه وسوسه راشي نو څه حکم دی؟

سوال: (۳۲۵) زما په زړه کي د نبي صلی الله عليه وسلم په هکله خرابه وسوسه راغله ما د هغې څخه توبه وکښه، اوس څه حکم دی؟ که څوک د نبي صلی الله عليه وسلم په هکله بې ځايه خبره وکړي او وروسته توبه وکاږي نو څه حکم دی؟ (۲۷۸/۱۳۴۳ھ)

جواب: په حديث شريف کي دي چي پر وسوسه مواخذه نشته، الله تعالی معاف کړي دي، هغه کوم چي په طريق وسوسه خيالات په زړه کي پيدا شي (۳) او بعد توبه واستغفار د دې وسوسې په معافي کي هيڅ تردد او شبه نشته، کما ورد: التائب من الذنب كمن لا ذنب له (۴) که د يو سړي څخه يو کلمه بې ځايه د نبي صلی الله عليه وسلم په شان مبارک کي ووته، هغو له هغې څخه توبه وکړه نو هغه هم معافيږي او توبه د ده قبوله ده، کما قال الله تعالی: "وهو الذي يقبل التوبة عن عباده ويعفو عن السيئات" (سورة شوری، آيت: ۲۵) فقط والله تعالی تعلم

---

۱) عن انس رضی الله عنه قال: قال رجل: يا رسول الله! الرجل منا يلقي اخاه او صديقه أينحني له؟ قال: لا، قال: أفيلتزمه ويقبله؟ قال: لا، قال: أفياخذ بيده ويصافحه؟ قال: نعم رواه الترمذي (مشكاة المصابيح، ص: ۴۰۱، كتاب الاداب، باب المصافحة والمعانقة، الفصل الاول)

۲) عن ابي هريرة رضی الله عنه عن النبي صلی الله عليه وسلم قال: اذا لقي أحدكم الحديث (مشكاة المصابيح، ص: ۳۹۹، كتاب الاداب، باب السلام، الفصل الثاني)

۳) ان الله تعالی تجاوز عن امتي الخطاء والنسيان وما استكرهوا عليه (هـ) عن ابي ذر، (طب ک) عن ابن عباس (طب) عن ثوبان (الجامع الصغير في احاديث البشير النذير: ۲۷/۱-۲۸، المطبوعة مطبعة دار الكتب العربية الكبرى بمصر)

۴) عن ابي عبيدة بن عبد الله عن ابيه رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: التائب من الذنب كمن لا ذنب له (سنن ابن ماجة، ص: ۳۱۳، ابواب الزهد، ذكر التوبة)

په نبي او رسول کي څه فرق شته کنه؟

سوال: (۳۲۲) زيد وايي د نبي درجه تر پيغمبر کمه ده او نبي د پيغمبر اطاعت کوي لکه د حضرت موسی علیه السلام اطاعت د ده ورور هارون علیه السلام کړی ؤ، بکر وايي په نبي او پيغمبر کي هيڅ فرق نشته، دواړه په لحاظ د مراتبو او درجه يو دي، په دوی دواړو کي د چا قول صحيح دی؟ (۱۸۴۹/۱۳۴۳هـ)

جواب: په زيد او بکر کي د يو قول ته غلط نه دي ويل پکار، په حقيقت کي نبي او رسول يو دي، د رسول معنی پيغمبر ده او د نبي معنی هم د پيغمبر ده، په قرآن شريف کي د بعض انبياء په بيان کي دي: "وکان رسولا نبيا" (سورة مريم، آيت: ۵۱) او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته الله تعالی نبي امي هم وويل او رسول هم وفرمايل ليکن بعض علماوو په نبي او رسول کي څه فرق ليکلی دی چي مثلاً رسول صاحب شريعت او کتاب وي په خلاف د نبي چي هغه تر دي عام دی(۱) بيا هم په دا شان امور کي دي نزاع نکيږي او يو د بل تغليط نه دی پکار، باقي فرق مراتب د انبياء ومرسلين په منځ کي له نص قطعي څخه ثابت دي کما قال الله تعالی: "تلک الرسل فضلنا بعضهم علی بعض" (سورة بقره، آيت: ۲۵۳) فقط والله تعالی اعلم

پر اولياء الله وحي نه راځي

سوال: (۳۲۷) پر اولياء الله وحي راځي کنه؟ څوک د دې دعوا وکړي د هغو څه حکم دی؟ (۵۲/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: اولياء الله تعالی الهام کېدل متصور دي، وحي ماسيوا له انبياوو پر چا نه راځي، شايد هغو به د خپل جهالت له وجي الهام

۱) والرسول إنسان بعثه الله تعالی الی الخلق لتبليغ الأحكام، وقد يشترط فيه الكتاب بخلاف النبي فانه أعم (شرح العقائد النسفية، ص: ۱۲، النوع الثاني خبر الرسول المؤيد بالمعجزة. المطبوعة: كتب خانه امدادية، ديوبند)

ته وحي ويلي وي، الغرض دا شان ويل غلط دي، ده ته توبه کښل پکار دي. فقط والله تعالى اعلم.

نبوت ورسالت د نارينه ؤ سره خاص دی

سوال: (۳۲۸) نبوت ورسالت د نارينه ؤ سره مخصوص پاته شوی دی، که د ښځو سره هم؟ او د سلسله نبوت ورسالت د نيابت استحقاق هم د نارينه ؤ سره مخصوص دی يا دواړو ته شامل دی يعني نارينه او ښځو دواړو ته؟ (۱۳۳۴-۳۳/۷۲هـ)

جواب: نبوت ورسالت مخصوص دی له رجالو سره، داغه صحيح دی (۱) او په نيابت کي اناث هم داخلي دي، څوک عالم باعمل وي که نر وي که ښځه، هغه د نبي نائب دی. فقط والله تعالى اعلم

حضرت حسين رضی الله عنه سره عليه السلام نه دي ويل پکار

سوال: (۳۲۹) د امام حسين په هکله عليه السلام ويل جائز دي کنه؟ (۳۳/۲۷۲-۱۳۳۴هـ)

---

۱) قال الامام الرازي في تفسير قوله تعالى: "اذ أوحينا الى امک ما يوحى" (طه: ۳۸)
اتفق الاکثرون على ام موسى عليه السلام ما کانت من الانبياء والرسل، فلا يجوز ان يکون المراد من هذا الوحي هو الوحي الواصل الى الانبياء، وکيف لا نقول ذلک؟ والمرأة لا تصلح للقضاء والامامة، بل عند الشافعي رحمه الله لا تمکن من تزويجها نفسها، فکيف تصلح للنبوة؟! ويدل عليه قوله تعالى: "وما أرسلنا قبلک الا رجالا نوحي اليهم" (الانبياء: ۷) وهذا صريح في الباب (مفاتيح الغيب المشتهر بالتفسير الکبير للامام الرازي: ۲/ ۳۳-۳۴، تفسير سورة طه، تحت الاية: اذ اوحينا الى امک ما يوحى)
او د بيان القرآن په حاشيه کي دي:
قوله تعالى: "وما أرسلنا قبلک الا رجالا نوحي اليهم" (الانبياء: ۷) قال العبد الضعيف استدل الجمهور به على تخصيص الرسالة بالرجال (مسائل السلوک على بيان القرآن: ۲/ ۴۰، تفسير سورة الانبياء)

جواب: علیه السلام نه دي ویل پکار، رضی الله عنه ویل پکار دي (۱) فقط والله تعالی اعلم

د حضرت علي له نامه سره علیه السلام لیکل

سوال: (۳۳۰) حضرت علي ته علیه السلام ویل پکار دي کنه؟ (۱۳۴۲/۲۲۴۷هـ)

جواب: رضی الله عنه یا کرم الله وجهه ویل پکار دي، د علیه السلام ویلو څخه علماء منع کړې ده. (۱) فقط والله تعالی اعلم

---

۱) ولا يصلى على غير الانبياء ولا غير الملائكة الا بطريق التبع الخ ويستحب الترضى للصحابة والترحم للتابعين ومن بعدهم من العلماء والعباد وسائر الاخيار، وكذا يجوز عكسه الترحم للصحابة والترضى للتابعين ومن بعدهم على الراجح الخ (الدر المختار والشامي: ۵۳۱/۵، كتاب الخنثى، مسائل شتى، ط رشيديه)

واما السلام فنقل اللقاني في شرح جوهرة التوحيد عن الامام الجويني انه في معنى الصلاة فلا يستعمل في الغائب ولا يفرد به غير الانبياء، فلا يقال علي عليه السلام وسواء في هذا الاحياء والاموات الا في الحاضر فيقال السلام او سلام عليك او عليكم، وهذا مجمع عليه اهـ

اقول ومن الحاضر السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين والظاهر ان العلة في منع السلام ما قاله النووي في علة منع الصلاة ان ذلك شعار اهل البدع، ولان ذلك مخصوص في لسان السلف بالانبياء عليهم الصلاة والسلام كما ان قولنا عز وجل مخصوص بالله تعالى فلا يقال محمد عزوجل وان كان عزيزًا جليلاً، ثم قال اللقاني وقال القاضي عياض الذي ذهب اليه المحققون واميل اليه ما قاله مالك وسفيان واختاره غير واحد من الفقهاء والمتكلمين انه يجب تخصيص النبي صلى الله عليه وسلم وسائر الانبياء بالصلاة والتسليم، كما يختص الله سبحانه عند ذكره بالتقديس والتنزية، ويذكر من سوا هم بالغفران والرضى كما قال الله تعالى: "رضي الله عنهم ورضوا عنه" (سورة مائدة، آيت ۱۱۹) "يقولون ربنا اغفرلنا ولإخواننا الذين سبقونا بالإيمان" (سورة حشر، آيت ۱۰) وايضاً فهو امر لم يكن معروفاً في الصدر الاول وانما احدثه الرافضة في بعض الائمة والتشبه باهل البدع منهي عنه فتجب مخالفتهم اهـ (الشامي: ۵۳۱/۵، كتاب الخنثى، مسائل شتى، ط رشيديه)

یهودو څو انبیاء قتل کړه؟

سوال: (۳۳۱) د کال ۱۳۴۵ د صفري د میاشتي په القاسم رساله مخ ۲۲ کي لیکلي دي چي پرته له زکریا علیه السلام او یحیی علیه السلام چي پخپله وزباندي پوره بوج د رسالت نه ؤ، بلکي تابع د موسی علیه السلام د دین وو، بل رسول او نبي نه دی شهید شوی، تم کلامه او په حمائل شریف کي ترجمه د مولانا عاشق الهي د دې آیت "ویقتلون النبیین بغیر الحق" په تفسیر کي لیکلي دي: چي یهودو اویا نبیان په یوه ورځ قتل کړي وه، د تفسیر مظهر الحق په حواله سره او غالبًا په تفسیر موضح القرآن کي لیکلي دي، پخپله په آیت کي دننه "نبیین" د جمع لفظ موجود دی د دغه تعارض رفع کړئ (۱۴۴۵/۴۴-۱۳۴۵هـ)

جواب: د کال ۱۳۴۵هـ د صفري د میاشتي د القاسم رسالې عبارت وکتل شو، د معالم التنزیل او نورو تفاسیرو له روایاتو څخه داغه معلومیږي لکه تا چي لیکلي دي چي یهودو اویا نبیان قتل کړه لکه د معالم التنزیل عبارت دا دی: قوله "ویقتلون النبیین بغیر الحق" (البقرة، آیت ۶۱) ویروی ان الیهود قتلت سبعین نبیا الخ(۱) او آیت "وفریقًا تقتلون" (البقرة: ۸۷) په تفسیر کي لیکي: ای قتلهم مثل زکریا ویحیی وشعیبًا وسائر من قتلوا من الانبیاء علیهم السلام(۲) د دې څخه هم د ډیرو انبیاوو قتل کېدل معلومیږي، په القاسم کي چي کوم صاحب دا مضمون لیکلی دی، د هغو نوم ظاهره کړی نه دی لیکن معلوم شو چي د یو مولوي صاحب دا مضمون دی چي دیوبند کي څه ویلي دي، په ښکاره هغو بېله پوره تحقیق دا شان لیکلي دي، نن ما مولوي قاري طاهر مدیر رساله ته وویل چي صاحب د مضمون ته یو لیک ولیږه چي تا صرف د دوو پیغمبرانو د قتل انحصار په کوم ځای کي دي لیدلی دی؟ که هغو څه معقول جواب ورنکړ نو غالبًا د دې اصلاح به په راتلونکي رساله کي وشي، شاید د دې مطلب به دا وي چي له انبیاء اولو العزم او رسولانو څخه هیڅوک نه دي قتل شوي لنډه دا چي ده څه لیکلي دي د مشهور خلاف دي، ممکنه ده چي چا دي دا شان لیکلي وي او صاحب مضمون دي د هغو څخه نقل کړی وي لیکن

---

۱) تفسیر معالم التنزیل للبغوي، ص: ۳۰، تفسیر سورة البقرة.

۲) تفسیر معالم التنزیل للبغوي، ص: ۳۸، تفسیر سورة البقرة.

هر رنګه چي وي خو په قطعي ډول سره دا دعوه کول چي صرف دوه نبیان قتل شوه، صحیح نه دي. فقط والله تعالی اعلم

کنهیا پیغمبر دی کنه؟

سوال: (۳۳۲)... (الف) څوک چي کنهیا د علیه السلام په نوم سره یادوي، او پر منع کولو باندي دا جواب ورکوي چي د ده د پیغمبري شاه عبد العزیز صاحب محدث دهلوي او قاضي ثناء الله صاحب پاني پتي قائل دي، دا صحیح دي کنه؟

(ب) او د ده پر رسول کېدو له دغه آیت کریمه څخه استدلال کوي: "ولکل امة رسول" (سورة یونس، آیت: ۴۷) په دې صورت کي شرعًا څه حکم دی؟ (۵۹۸/۱۳۴۳ھ)

جواب: (الف) دا غلط دي، دغو حضراتو تعیین نه دی کړی او دوی بې له یو نص څرنګه تعیین کولای شي؟!

(ب) دا خو صحیح دي او له نص څخه ثابت دي چي د هر امت لپاره یو رسول مبعوث شوی دی لیکن تر څو دا ثابت شوې نه وي چي فلانکی سړی رسول دی، تر هغه وخته یو خاص سړي ته رسول نشي ویلای، د کومو انبیاوو نومونه چي الله تعالی ښودلي دي، هغوی ته رسول ویلای شي او د کومو نومونه چي الله تعالی نه دي ښودل، هغو ته رسول نشي ویلای، که څوک دا شان ووایي نو دا افتراء ده پر الله تعالی، قال الله تعالی: "منهم من قصصنا علیک ومنهم من لم نقصص علیک" (سورة غافر، آیت: ۷۸) یعني د بعض پیغمبرانو نومونه موږ ښودلي دي او د بعض دا ندي ښوولي، نو د کوم نوم چي الله نه دي ښوولی، هغه متعین کولو سره دا ویل چي فلانکی رسول دی، جائز نه دي، له دې څخه توبه کښل پکار دي، پاته دا چي کنهیا څوک ؤ؟ د دې مفصل حال معلوم نه دی، دومره اورېدل شوي دي چي د هندوانو یو بزرګ ؤ، تر دې زیات معلوم نه دي. (۱) فقط والله تعالی اعلم

رام کرشن، ګوتم بدھ او رام چندر پیغمبران وو کنه؟

سوال: (۳۳۳) کرشن او ګوتم بدھ پیغمبران وو کنه؟ او د دوی په اړه د پیغمبر عقیده ساتل پکار ده کنه؟ (۵۲/۴۴-۱۳۴۵ھ)

---

۱) په فیروز اللغات کي دي: کنهیا سري کرشن ته وایي. ۱۲

جواب: د دوی پر نبوت یو دلیل شرعي په تخصیص وارد ندی او بلا دلیل شرعي اعتقاد د دوی د نبوت ساتل جائز نه دی. فقط والله تعالی اعلم.

سوال: (۳۳۴) یو مسلمان رام کرشن و رام چندر وبدهه برحق نبي کیدو یقین لري، دا هم یقین لري چي د نبي صلی الله علیه وسلم وروسته یو نبي نشته او د کرشن ورام چندر بدهه د تعلیم ضرورت پاته نه دی، په دې عقیده کي خواجه حسن نظامي او شامي عالم کوم چي د ترکي وفد سره ملګري جاپان ته د اشاعت اسلام لپاره تللي وو، آیت: "ورسلاً قد قصصناهم علیک من قبل ورسلا لم نقصصهم علیک" (سورة نساء، آیت: ۱۲۴) څخه دلیل نیسي. (۱۳۴۵-۴۴/۸۸هـ)

جواب: په قطعي او یقیني ډول سره دا ویل چي رام چندر کرشن او نور نبیان وه، دا خبره یو نبي ته به د وحي په ذریعه معلومه کېدای شي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته چي به تر څو په وحي سره دا معلوم نه شو چي فلانی نبي دی تر هغو نبي صلی الله علیه وسلم د هغو د نبوت اظهار نه کاوی، لکه په حدیث شریف کي دي: لا ادري اتبع نبي ام لا؟ زه نه یم خبر چي تبع نبي و کنه؟ وفي معالم التنزیل بسنده عن ابي هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ما ادري تبع أکان نبیا او غیر نبي (۱) لنډه دا چي د کومو انبیاوو نومونه چي الله تعالی نه دي ښودلي او رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغو نبوت نه دی ظاهر کړی، د هغو په هکله یقین د نبوت ساتل خلاف شریعت حکم دی. فقط والله تعالی اعلم.

په دنیا کي د مړو د ژوندي کولو مسئله

سوال: (۳۳۵)..... (الف) ایا خداوند حی قیوم په دې دنیا کي مړي ژوندي کولای شي کنه؟ یو معترض وایي: نشي یې ژوندی کولای، کما قال الله تعالی: "وحرام علی قریة اهلکناها انهم لا یرجعون" (سورة انبیاء، آیت: ۹۵)

(ب) ایا انبیاء علیهم الصلاة والسلام د معجزې په ډول مړي ژوندي کړي دي کنه؟

---

۱) معالم التنزیل، ص: ۸۰۲، سورة الدخان، تحت تفسیر الایة: "اهم خیر ام قوم تبع" المطبوعة المطبع الواقع في المعمورة المبني.

(ج) ایا صحابه رضی الله عنهم د کرامات په ذریعه مړي ژوندي کړي دي کنه؟
(د) ایا اولیاء الله د کرامات په ذریعه مړي ژوندي کړي دي کنه؟ (۲۹۳۴/۱۳۴۱ھ)

جواب: (الف) ژوندي کولای یې شي، کما قال الله تعالی: "أليس ذلک بقدر علی ان یحیي الموتی" (سورة قیامه، آیت: ۴۰) وغیره من الایات الکثیرة الدالة علی قدرته تعالی علی الاحیاء، وقال تعالی: حاکیا عن عیسی علی نبینا وعلیه الصلاة والسلام: "وابرئ الأکمه والابرص واحي الموتی باذن الله" (سورة آل عمران، آیت: ۴۹) ووقع ذلک لغیره ایضا من الانبیاء علیهم الصلاة والسلام او قصه د ژوندي کیدو د قتیل بني اسرائیل په قرآن شریف کي مذکوره ده او یو قوم د بني اسرائیل مړ کېدو سره ژوندی کېدل په دې ایت کي مذکور دي: "فقال لهم الله موتوا ثم احیاهم" (سورة بقره، آیت: ۲۴۳) او د حضرت عزیر علیه السلام تر مرګ وروسته ژوندی کیدل په دغه آیت کي بیان شوی دي: "فاماته الله مائة عام ثم بعثه" (سورة بقره، آیت: ۲۵۹) او آیت: "وحرام علی قریة اهلکناها" (سورة انبیاء، آیت: ۹۵) څخه د قدرت باري تعالی علی احیاء الموتی نفي نه کیږي او مراد له دې څخه دا دي چي قریه معذبه بیا دنیا ته نه راځي یعین هغه به بیا په دنیا کي اباده نه شي ځکه چي کوم مړي خرق عادت ژوندي شوي دي، هغه باقي نه دي پاته شوي او په هغو کي بعض هم باقي پاته شوي دي مګر په عامه توګه دا عادت الله نه دی که څه هم هغه کولای شي او د خاص خاص سره دا شان واقعه شوې ده.

(ب) کړي یې دي او دا خلاف آیت مذکوره نه دي.

(ج) له صحابه رضی الله عنهم څخه دا شان واقعه تر نظر نه ده تېره شوې که له چا سره شوې وي نو مستبعده نه ده ځکه دا شان کېدای شي.

(د) دا شان کېدای شي، کما وقع لبعض الاولیاء والانبیاء علیهم السلام. فقط والله تعالی اعلم

کفریه اقوال وافعال او باطل خیالات

شرک څه ته وايي؟

سوال: (۳۳۶) شرک څه ته وایي؟ (۲۰۸۲/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: شرک دا دی چې له الله تعالی سره په ذات یا صفاتو کي څوک شریک کړي فقط

کافر څه ته وايي؟

سوال: (۳۳۷) کافر څه ته وایي؟ (۱۱۸۵/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: منکر د دین ومنکر د توحید ورسالت کافر دی. فقط والله تعالی اعلم

په کافر او مشرک کي څه فرق دی؟

سوال: (۳۳۸) په کافر او مشرک کي څه فرق دی؟ او خلود في النار د چا لپاره دی؟ (۱۳۴۰/۱۲۳۰هـ)

جواب: کافر او مشرک به حسب نتیجه وخلود في النار یو دی، یو بل ته مستلزم دی "ان الله لا یغفر ان یشرک به" (۱) فقط والله تعالی اعلم

د کافر او مشرک بخشش نه کیږي

سوال: (۳۳۹) د مشرک بخشش شته کنه؟ (۱۳۳۹/۳۳۷هـ)

---

۱) سورة نساء، آیت: ۴۸، سورة نساء، آیت: ۱۱۶

جواب: د کافر او مشرک بخشش نشته، لکه الله تعالی فرمايلي دي: "ان الله لا يغفر ان يشرک به ويغفر ما دون ذلک لمن يشاء" (سورة نساء، آيت: ۴۸، ۱۱۲) فقط والله تعالی اعلم.

ايا د خدای سيوا د بل اطاعت کول شرک دی؟

سوال: (۳۴۰) د خدای سيوا د بل چا مطيع کېدونکی مشرک دی کنه؟ "وان اطعتموهم انکم لمشرکون" (سورة انعام، آيت: ۱۲۱) (۱۳۴۲/۲۵۷۸هـ)

جواب: دا صحيح دي، دا هم يو قسم شرک دی چي په حلال وحرام کي د بل چا داسي مطيع شي چي څه هغه ووايي په خلاف د حکم خدای تعالی او رسول الله دي هغه مني لکه يهود د خپل احبارو (۱) سره دا شان معامله کوله، لنده دا چي په معصيت کي د چا اطاعت نشته کما ورد: **لا طاعة لمخلوق في معصية الخالق** (۲) فقط والله تعالی اعلم

دا ويل کفر دی چي زه ستا خدای يم

سوال: (۳۴۱) يو سړي ما ته دړي ځله دا لفظ ووايي: زه ستا خدای يم العياذ بالله، د دې سړي په هکله څه فتوی ده؟ (۱۳۴۱/۲۷۵۴هـ)

جواب: الله تعالی فرمايي: "ومن يقل منهم اني اله من دونه فذلک نجزيه جهنم کذلک نجزي الظالمين" (سورة انبياء، آيت: ۲۹) ترجمه: او څوک له دوی څخه دا ووايي چي زه خدای يم د الله سيوا نو د ده سزا دوږخ دی، موږ دغه شان ظالمانو ته سزا ورکوو نو له دې آيت څخه واضع شو چي شخص مذکور کافر او ظالم دی، که توبه ونه کاږي نو له ده سره خوراک څښاک ملاوېدل صحيح نه دي. فقط والله تعالی اعلم

دا خيال غلط دی چي نيکي کولو سره جنت ته لاړو نو د خدای څه احسان دی؟

سوال: (۳۴۳) يو مخالف د اسلام اعتراض وکړ چي پر موږ د خدای څه احسان دی

---

۱) احبار د حبر جمع ده: د يهودو علماء. (فيروز اللغات)

۲) مشکاة المصابيح، ص: ۳۲۱، کتاب الامارة والقضاء، الفصل الثاني.

چي موږ نیکي وکړو جنت ته لاړ شو؟ (۱۳۴۲/۲۱۵۷هـ)

جواب: د الله د نعمتو حدود او شمار نشته، لکه الله تعالی فرمایلي دي: "وان تعدوا نعمة الله لا تحصوها" (۱) پخپله دولت د وجود د الله تعالی ورکړه ده چي ده له معدوم څخه موجود کړو، تر دې زیات کوم نعمت دی؟! بیا د عطاء وجود بعد په هر هر امر کي د شان ربوبیت ظهور دی، انسان به تر کومه ناشکري کولای شي، لنډه دا چي اعتراض د ده لغو دی، دې طرف ته دی التفات نه کیږي، که ده اسلام راوړی دی نو به اعتراض نه کوي که اسلام نه دی راوړی نو د ده سره هیڅ بحث نشته. فقط والله تعالی اعلم

دا ویل چي موږ له خدای او رسول څخه دباندي یو. د خدای او رسول پر حکم چلېدل نه غواړو، موجب کفر دی

سوال: (۳۴۳) څو خلګو د یو جنګ پر وخت دا الفاظ وویل چي موږ له خدای او رسول الله څخه دباندي یو، د خدای او رسول پر حکم چلېدل نه غواړو، یو سړي له دوی څخه پوښتنه وکړه چي ایا تاسو هندوان یاست؟ جواب یې ورکړ، هو موږ هندوان یو، په دې صورت د دې خلګو لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۳۷هـ)

جواب: کومو خلګو چي دا کلمه ویلې ده هغه کافران شول توبه دي وکاږي. فقط والله تعالی اعلم

د خدای تعالی طرف ته د خطاء او غلطي نسبت کول کفر دی

سوال: (۳۴۴) یو سړي خپلي زوجې ته د نصیحت پر مهال دا وویل: ته غتي غلطي کوې چي لمونځ نه کوې، هغې په جواب کي ورته وویل چي خدای هم غلطي کوي چي موږ یې په مصیبت کي مبتلا کړو، د دغي ښځي څخه پوښتنه وشوه چي تا خو د کفر کلمه ویلې ده، دا کلمه ستا له ژبي بې اختیاره وتلې ده که په اختیار سره وتلې ده، دې وویل: بې له اختیاره وتلې ده، په دې صورت کي د دې د قول بې اختیار لحاظ به کیږي که د تجدید ایمان ونکاح حکم به کیږي کنه؟ که د یو کتاب عبارت د دې مسئلې په ثبوت کي په اساني سره ملاو بدای شي هغه دي ولیکل شي، کنې په رای عالي سره مو مطلع کړه (۱۳۳۵/۲۱۳هـ)

---

۱) سورة ابراهیم، آیت ۳۴، سورة نحل، آیت ۱۸

جواب: نسبت کول د باري شانه تعالی طرف ته د خطاء او غلطي کفر دی او کلمۀ کفر بې له اختیاره وتلو سره هم کفر عائد کیږي، کما ورد في الدر المختار: وفي الفتح من هزل بلفظ کفر ارتد، وان لم یعتقده للاستخفاف(۱) وفي الشامي: قلت: ویظهر من هذا ان ما کان دلیل الاستخفاف یکفر به، وان لم یقصد الاستخفاف الخ(۲) لهذا ضروري دي چي تجدید ایمان وتجدید نکاح وشي. فقط والله تعالی اعلم

خدای په ګولی ووله ویل موجب کفر دی

سوال: (۳۴۵) که څوک د خدای تعالی په شان کي نعوذ بالله داسي ووایي چي خدای په ګولی ووله نو د دا شان سړي نکاح ماته شوه کنه؟(۱۳۳۵/۹۰۲ھ)

جواب: دا د ګستاخي کلمه ده او کفر دی، د ده نکاح ماته شوه. فقط والله تعالی اعلم

یو سړي سهواً دا وویل ایا خدای غټ دی؟ نو څه حکم دی؟

سوال: (۳۴۶) زید دا ویل غوښتل چي ایا تر خدای پلار غټ دی لیکن سهواً او په تلوار سره د کلمې مذکوره پر ځای تر خوله دا ووتل چي ایا خدای غټ دی؟ دا کلمه بې اختیاره ووتله، بعض علماوو وویل زید کافر شو او د ده پر منکوحه طلاق ولوېدی، ایا په دې صورت کي زید کافر شو؟ او د ده پر زوجه طلاق واقع شو کنه؟(۱۳۳۵/۱۰۰۲ھ)

جواب: زید په دې صورت کي کافر نه دی، علماوو ته د کفر فتوی ورکولو کي ډېر احتیاط کول پکار دی او تلوار نه دی کول پکار، په حدیث شریف کي دي: رفع عن امتي الخطاء والنسیان(۲) قال الله تعالی: "ولا تؤاخذنا ان نسینا او اخطانا "(سورة بقره، آیت: ۲۸۲) ما سیوا له دې دا کلمه مؤول کېدای شي او د امکان تاویل په

---

۱) الدر والشامي: ۳/۳۱۰، کتاب الجهاد اوائل باب المرتد. ط رشیدیه

۲) رفع عن امتي الخطاء والنسیان وما استکرهوا علیه (طب) عن ثوبان (صح) (الجامع الصغیر في احادیث البشیر النذیر للسیوطي رحمه الله ص: ۲۷۳، رقم الحدیث: ۴۴۶۱، حرف الراء، المطبوعة دار الکتب العلمیة، لبنان: بیروت)

صورت کي تکفیر د یو مسلمان ناجائز دی. فقط

سوال: (۳۴۷) د زید عادت په وجي د ناخبرتیا د غیر الله قسم خوړولو شوی دی نو د زید له خولې څخه د ناخبرتیا په ډول د غیر الله قسم وواتی، عمر ده ته وویل ته کافر شوې، توبه وکاږه، زید توبه وکښله، وې ویل چي اوس دا شان قسم نه اخلم بیا لږ وخت بعد د زید له خولې سهواً دا کلمه ووتله: ایا خدای غټ دی؟ او زید په اصل کي دا ویل غوښتل چي تر خدای پلار غټ دی لیکن بې اختیاره یې له ژبي څخه کلمۀ مذکوره ووتله، بعض وایي: زید کافر شو او د ده پر زوجه طلاق واقع شو، دا صحیح دي که څرنګه؟ (۱۳۳۵/۲۱۸هـ)

جواب: زید په دې صورت کي کافر شوی نه دی او د ده ښځه د ده له نکاح څخه خارجه نه ده. فقط والله تعالی اعلم

کوم سړی چي دا وایي چي خدای فاني دی، هغه کافر ومرتد دی

سوال: (۳۴۸) یو سړي په ډاګه په مجلس کي په خپل وعظ کي بیان کوي چي خدای او رسول او بنده فاني دي، کله وایي چي الله او رسول او بنده ټول یو دي، یو ډول غیریت نشته او نور خبرو سره جاهل مسلمانان خپل مریدان جوړوي او دا شان اعتقاد ساتونکي سره مرید کېدل او مقتدا جوړول او د ده د جنازې لمونځ کول او د مسلمانانو په قبرستان کي دی دفن کول جائز دي که نه؟ (۱۳۳۵/۱۱۲۴هـ)

جواب: دا کلمات د دغه سړي د کفر دي او مرتکب د دغه امورو کافر او مرتد دی او د ده مرید کېدل او دی مقتدا جوړول حرام دي او د مسلمانانو په قبرستان کي دي دی نه دفن کیږي او د جنازې لمونځ دي یې نه کیږي. فقط والله تعالی اعلم

په غصه کي دا ویل چي زه الله نه پېژنم، څرنګه دي؟

سوال: (۳۴۹) کوم سړي په غصه کي دا وویل چي زه الله نه پېژنم، د دې په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۳۵/۱۲۰۴هـ)

جواب: کوم سړي چي دا کلمه وویله هغه له اسلام څخه خارج شو او ده ته توبه کښل او تجدید ایمان

کول او تجدید نکاح کول لازم دي. فقط والله تعالی اعلم

دا ویل کفر دی چي خدای نه منم او نه زه د ده بنده یم. هغه خو زما تر ښپلی لاندي دی

سوال: (۳۵۰) زید د خبرو په وخت کي دا وویل: زه دی خپل خدایَ نه منم او نه د ده بنده یم، هغه خو زما تر ښپلیو لاندي دی، والعیاذ بالله. ایا په دې صورت کي زید ته کافر ویل کیږي او ایا د ده زوجه مطلقه ګڼل کیږي؟ (۱۳۳۷/۱۷۷۹هـ)

جواب: دا کلمه د کفر ده، زید کافر شو، د ده زوجه د ده له نکاح څخه خارجه شوه، نکاح ماته شوه، زید ته توبه پکار ده او تجدید ایمان وتجدید نکاح پکار دی. فقط والله تعالی اعلم

"خدایي ظلم" ویلو سره کفر عائد کیږي کنه؟

سوال: (۳۵۱) زید د خپلي ماینې هندې سره په یو معامله کي خبري کولې، زید خو د زجر او تنبیه په ډول خبري کولې، لهذا هندې ته ترخې معلومي شوې، هندې په جواب کي څه چټي خبري وکړې، د هندې له جملو څخه زید یو ناخوښه جمله راوګرځوله، هندې د هغې انکار وکړ چي ما دا شان نه دي ویلي او نه زما نیت ؤ، پر دې زید بیا زور وکړ وې ویل چي تا خاص دا شان وویل، پر دې هندې وویل خدایي ظلم، په دې الفاظو ویلو سره د دې نیت د خدای د ظلم نه و، بلکه د زید د سختي طرف ته رجوع کولو سره دا نیت ؤ چي دا څرنګه ظلم دی؟ دا اشاره د زید طرف ته وه، په دغه الفاظو سره کفر راځي کنه؟ (۱۳۳۷/۱۹۳۴هـ)

جواب: په الفاظ مذکوره کي خو تا ویل ممکن دي او د قائله مطلب نسبت ظلم الی الله تعالی هم نه ؤ، له دې کبله د کفر حکم په صورت مذکوره کي نه کیږي او احتیاطاً که تجدید نکاح او توبه وشي نو دا ښه دي. فقط والله تعالی اعلم

خدای تعالی ته ظالم ویونکی کافر دی

سوال: (۳۵۲) خدای ته ظالم ویونکی کافر دی کنه؟ (۱۸۸۰/۱۳۳۹ھ)

جواب: خدای تعالی ته ظالم ویونکی کافر دی، ځکه په دې کې تکذیب د آیت قرآنیه دی، الله تعالی فرمایلي دي: "ان الله لا یظلم مثقال ذرة" (سورة نساء، آیت: ۴۰) او فرمایلي یې دي: "وما انا بظلام للعبید" (سورة ق، آیت: ۲۹) وغیره. فقط والله تعالی اعلم.

د سزا په وجه خدای تعالی ظالم ګرځول باطل دي

سوال: (۳۵۳) څه خلک دا عقیده لري چې ښه او بد ټول د خدای له طرفه دي نو زموږ هیڅ قصور نشته او پر موږ ګناه ثواب هیڅ نه دي پکار، ځکه چې که خدای زموږ څخه پوښتنه وکړي نو د انصاف خلاف او ظلم دی، د دا شان سړي په هکله څه حکم دی؟ ده ته توبه کښل ضروري ده کنه؟ که توبه نه وکاږي نو څه حکم دی؟ (۱۳۳۷/۹۲۷ھ)

جواب: نیکي او بدي یعني ښه او بد عمل د بنده کسب دی، له دې وجې ده ته ثواب او عذاب دی او په دې کې ظلم نشته، نو پر دغه ثواب او عذاب باندې معاذ الله خدای تعالی ظالم ګرځول باطله عقیده ده، له دې څخه توبه کول لازم دي، د اهل سنت والجماعت عقیده ده چې که څه هم تقدیر خیر او شر ټول د الله تعالی له لوري دي لیکن کاسب د اعمال بنده دی، لهذا ده ته ثواب او عذاب ورکول خلاف عقل نه دي، د دې خلاف عقیده ساتونکی خارج له اهل سنت والجماعت څخه دی. فقط والله تعالی اعلم

دا ویل کفر دی چې خدای ایا تر موږ ښه دی او موږ هم خدایان یو او الله تعالی د ډیرو ورځو دی ایا تر اوسه به سپین ږیری شوی نه وي؟

سوال: (۳۵۴) عمر چا ته په خبرو کې دا وویل چې خدای ایا تر موږ ښه دی، موږ هم خدایانو، دغه الفاظ یې مکرر وویل او یو ځل د رمضان شریف څخه دوې درې ورځې مخکې عمر دا الفاظ وویل چې اوس په دوو درو ورځو کې

د سپین ږيري کېدو حکم منل کېږي، يعني روژه به نيسي او دا چي الله د ډيرو ورځو دی، ايا تر او سه سپين ږيری شوی به نه وي، په دغه صورت کي پر عمر به څه حکم شرعًا عائد وي؟(۱۳۳۸/۱۷۱۵هـ)

جواب: د عمر دا کلمات د کفر دي، تر څه وخته چي توبه ونه کاږي او تجديد ايمان ونه کړي، په ده پسي لمونځ مه کوئ. فقط والله تعالی اعلم

دا ويل کفر دی چي له بد معاشانو څخه خدای هم ويريږي

سوال: (۳۵۵) د هندې نکاح له خالد سره وشوه مگر واده نه دی شوی، د دې خپله رايه وه چي خالد خپل مکان په وطن کي جوړ کړي، هغه وخت به کيږي ليکن خالد د سامان او مکان له انتظام پرته د واده تقاضا پيل کړه، غواړي چي رخصت کولو سره ليري سفر يعني خپلي نوکري ته يې وړي، حال دا چي نه د خالد مکان هلته شته نه مستقله نوکري چي په ظاهره د شپږو مياشتو هم د وخت تېرېدو صورت جوړ شي، د داسي کوچيانو په حال کي هنده او د دې اولياء له واده څخه عذر وانکار کوي، ايا خالد هنده او د دې اولياء په حالت موجود کي پر واده مجبور کولای شي کنه؟ خالد د هندې ولي ورور ته ډېر سخته کمزور الافظ وليکل، من جمله له هغو الفاظو څخه دا هم ويلي ده چي موږ تو له زمانه پيژني چي دا خلک لڅ دي او د بد معاشانو څخه نعوذ بالله خدای تعالی هم ويريږي، دغه صورت کي شرعًا څه حکم دی؟(۱۳۴۰/۲۴۰هـ)

جواب: په حالت مذکوره کي خالد خپله زوجه هنده غير وطن ليري سفر وړلو لپاره هنده او د دې والدين نشي مجبور کولای او خالد د کلمهٔ مذکوره ويلو په وجه کافر او مرتد شو او نکاح د ده فسخ شوه، هنده خپله دوهمه نکاح له چا سره چي وغواړي ترلای شي؛ برابره ده که له خالد سره وروسته تر تجديد اسلام تجديد نکاح وکړي يا د يو بل سړي سره خپله نکاح وکړي او نصف مهر د مېړه پر ذمه لازم دی ولغيرها نصفه الخ لو ارتد الخ (۱) (در مختار) فقط

۱) الدر المختار مع الشامي: ۴۲۵/۲، کتاب النکاح، باب نکاح الکافر مطلب الصبي والمجنون ليسا باهل لايقاع الطلاق بل للوقوع. ط رشيديه

دا ویل کفر دی چي د درواغجني شاهدي ګناه ټوله د خدای پر سر لويږي

سوال: (۳۵۶) رحمان له مولوي احمد شاه څخه پوښتنه وکړه که شاهدان درواغجنه او عداوتي شاهدي ښکاره کولو سره یو حقیقت ضائع کړي چي د هغه له وجي ټول عمر جرم او ګناه زیاتوب راځي نو د ټول عمر ګناه د چا پر سر لويږي؟ مولوي احمد شاه جواب ورکړ چي دا ټوله ګناه د خدای تعالی پر سر لويږي و العیاذ بالله تعالی په دې هکله شرعي حکم څه دی؟ (۱۳۴۱/۱۴۲۴هـ)

جواب: مسئله دا ده که شاهدانو درواغجنه شاهدي ورکولو سره د یو چا حق تلف کړ او حاکم شرعي د دغو شاهدانو پر شاهدي د چا ملک بل چا ته یعني مدعي کاذب ته ورواخیستی نو د دې ګناه پر داغه شاهدانو ده او پر مدعي ده، پر حاکم ګناه نشته، کما ورد في الحدیث مصرحًا بانه قطعة من نار في حق المدعي الکاذب(۱) وقال الله تعالی: "فاجتنبوا الرجس من الاوثان واجتنبوا قول الزور حنفاء لله غیر مشرکین به" (سورة حج، آیت: ۳۰-۳۱) او دا مقوله د مولوي احمد شاه غلطه او جهل صریح دی او کلمه د کفر ده والعیاذ بالله تعالی.

دا ویل کفر دی چي زه خدای نه منم

سوال: (۳۵۷) زید د دریو کسانو په مخکي د خپل خسر پر ویلو چي ته خو هیڅکله لمونځ نه کوې، نه روژه نیسې، ستا سره د خبرو کولو زموږ زړه نه غواړي، دا وویل: زه خدای نه منم، زه خو عیسی مسیح منم والعیاذ بالله تعالی، د دغه کلمې په ویلو سره زید مرتد شو کنه؟ او د ده ښځه د ده له نکاح څخه خارج شوه

---

۱) عن عروة بن الزبیر ان زینب بنت ام سلمة اخبرته ان امها ام سلمة رضی الله عنهما زوج النبي صلی الله علیه وسلم اخبرتها عن رسول الله صلی الله علیه وسلم انه سمع خصومة بباب حجرته، فخرج الیهم، فقال: انما انا بشر وانه یاتیني الخصم، فلعل بعضکم ان یکون ابلغ من بعض فأحسب أنه قد صدق وأقضی له بذلک فمن قضیت له بحق مسلم، فانما هي قطعة من النار، فلیأخذها او فلیترکها. (صحیح البخاري ۳۳۲/۱، کتاب المظالم، باب اثم من خاصم في باطل وهو یعلمه)

او پر دې عدت طلاق واجبيږي، که عدت وفات؟ (۱۳۴۲/۲۲۴هـ)

جواب: صرف په دغه لفظ ويلو سره چې زه خدای نه منم شخص مذکور کافر او مرتد شو او د ده زوجه د ده له نکاح څخه خارج شوه او عدت طلاق پر دې لازم شو، په در مختار کې دي: وارتداد احدهما.... فسخ.... عاجل الخ (۱) وايضا في باب العدة منه: وهي في حق حرة الخ تحيض لطلاق.. او فسخ بجميع أسبابه الخ ثلاث حيض كوامل الخ. (۲)

خپل ځان ته خدای او قيامت بې بنياده ګڼونکی کافر او مرتد دی

سوال: (۳۵۸) کوم مسلمان خپل ځان ته خدای ووايي نعوذ بالله او قيامت بې بنياده وګڼي جنت او دوزخ د دې دنيا خيال وبولي او د کفر وشرک کلمات ووايي او درواغجن قسمونه وخوري، مونږ ته د ده سره څرنګه رويه کول پکار ده که توبه د ده قبوله ده نو کفاره يا نور څه به پر وي کنه؟ (۱۳۴۳/۵۸۳هـ)

جواب: دغه سړی مرتد او کافر شو ليکن که دی له خپل خيالات باطله او عقائد فاسده څخه توبه وکړي او تجديد اسلام وکړي نو توبه د ده مقبوله ده او بيا دی مسلمان کيږي بيا د ده سره معامله د اهل اسلام په ډول کول پکار ده او د دې هيڅ کفاره نشته فقط والله تعالی اعلم

ايا د ملائکو له حکم څخه انکار کول، رشوت اخيستل او غلطي کول ممکن دي؟

سوال: (۳۵۹) يو سړی د سکتې په حالت کې ؤ، عزرائيل عليه السلام د ده روح قبض کړ وېې وړی او په دوزخ کې يې واچاوی، د دې بعد خداوند عالم عزرائيل عليه السلام ته وويل ستا څخه غلطي شوې ده، په دې نامه يو بل سړی دی، د هغه روح قبض کړه رايې وړه، دغه پرېږده مګر ملائکو نه پرېښودی، مړی خبر شو، هغو نعرې وکړې، آخر ملائکو د توښه ډوډۍ چې د جنازې سره ايښودل کيږي

---

۱) الدر المختار مع رد المحتار: ۴۲۵/۲، کتاب النکاح، باب نکاح الکافر، مطلب الصبي والمجنون ليسا باهل لايقاع الطلاق بل للوقوع ط رشيديه

۲) الدر المختار مع الرد: ۷۵۱/۲، کتاب الطلاق، باب العدة، مطلب عشرون موضعًا يعتد فيها الرجل ط رشيديه

رشوت واخیستی، دی بې پرښودی، ایا د ملائکو حکم نه منل او رشوت اخیستل او داسي غلطي کول ممکن دي؟ (۱۳۴۱/۷۵۸هـ)

جواب: د ملائکه کرام په هکله وارد دي: "لا یعصون الله ما امرهم ویفعلون ما یؤمرون" (سورة تحریم، آیت: ۶) یعني هغه په یو امر کي د الله تعالی د امر خلاف نه کوي او دوی ته چي کوم حکم کیږي، هغه کوي، نو د دوی په نسبت دا ډول اعتقاد غلط او باطل او کذب او افتراء ده. فقط والله تعالی اعلم.

مسخرې کونکی چي خلک په ډول، ډول خبرو سره خندوي، د هغه څه حکم دی؟

سوال: (۳۶۰) نقال خلکو ته ډول ډول مسخرې اورولو سره خندوي، په دې کي نقال او خندېدونکي کافران او د دوی ښځي مطلقه کیږي کنه؟ او په مسخرو کي معلم جوړېدو سره کوچنیانو ته سبق وايي. (۱۳۴۵/۹۵۹هـ)

جواب: اقول وبالله التوفیق: قال في الشامي ناقلاً عن البحر: والذي تحرر انه لا یفتي بتکفیر مسلم امکن حمل کلامه علی محمل حسن او کان في کفره اختلاف ولو روایة ضعیفة فعلی هذا فأکثر الفاظ التکفیر المذکورة لا یفتي بالتکفیر بها، ولقد الزمت نفسي ان لا افتي بشئ منها اهـ بحر (۱) وایضاً في رد المحتار: وعلی هذا ینبغي ان یکفر من شتم دین مسلم ولکن یمکن التاویل بأن مراده اخلاقه الردیئة ومعاملته القبیحة لا حقیقة دین الاسلام فینبغي ان لا یکفر حینئذ الخ (۲) الحاصل دا دی چي د نقال په تکفیر کي احتیاط لازم دی مګر تجدید ایمان او توبه واستغفار او تجدید نکاح احتیاطاً لازم دی. فقط

د تماشا کونکي خپل ځان ته خدای ویل او سجده په کول

سوال: (۳۶۱) تماشا کوونکي د تماشې په وخت خپل ځان ته نعوذ بالله خدای وايي او نورو ته د سجدې کولو وايي

---

۱) البحر الرائق: ۲۱۰/۵، کتاب السیر، باب أحکام المرتدین والشامي: ۳۱۲/۳، کتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب یشک... ط رشیدیه

۲) رد المحتار علی الدر المختار: ۳۱۲/۳، کتاب الجهاد، باب المرتد مطلب في حکم من شتم دین مسلم ط رشیدیه

او دی مسلمان دی؟ او دا شان تماشا کونکو او شرکت کوونکو لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۴۳/۱۲۲۲ھ)

جواب: دا کفر او ارتداد صریح دی، په دې کې د څه تاویل گنجائش نشته، قال الله تعالی: "ومن يقل منهم اني اله من دونه فذلک نجزيه جهنم کذلک نجزي الظالمين" (سورة انبیآء، آیة ۲۹) فقط والله تعالی اعلم

قبر ته د سجدې کولو یا مچولو حکم

سوال: (۳۲۲)... (الف) یوه مسلمانه ښځه د یو بزرګ قبر ته د زیارت په غرض ولاړه، تر زیارت وروسته دغې ښځې دوه درې ځله د بزرګ قبر ته سجده وکړه او دا سجده د عبادت او بندګي په ډول وه، دا شرک دی کنه؟ او تجدید ایمان او تجدید نکاح ضروري دی کنه؟

(ب) او به شرط بطلان نکاح بعد انقضاء عدت د بل چا سره نکاح کولای شي کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۰۰۲ھ)

جواب: (الف - ب) سجده د تعبد د غیر الله لپاره کول په اتفاق حرامه ده، شرک او کفر دی مګر د سجدۀ تحیه په هکله دا اختلاف دی چې هغه کفر نه دی او کبیره ګناه ده، په دوهم صورت کې سجده کونکی ګناهګار او فاسق دی توبه دې وکاږي او په اول صورت کې مشرک او مرتد دی، تجدید ایمان لازم دی نو د ښځې سجده که له اول قسم څخه وي نو نکاح باطله شوه، تجدید ایمان او تجدید نکاح لازم دی او د بطلان نکاح په صورت کې بعد عدت د بل چا سره نکاح صحیح ده، که سجده د دې له قسم ثاني څخه وي نو نکاح باطله نه ده او له بل چا سره نکاح هم صحیح نه ده، احتیاطاً دې تجدید نکاح وکړي فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۳۲۳) د نبي کریم صلی الله علیه وسلم یا د یو ولي قبر ته سجده کول یا مچول جائز دي کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۱۲۲ھ)

جواب: ناجائز دي فقط والله تعالی اعلم

قبر ته سجده کول مچول او لمسول

سوال: (۳۲۴) سجده قبور وبوسه ولمس بالید جائز است یا نه؟ وشخصي در پنجاب رساله تصنیف کرده ودران بوسه ولمس وسجده روا کرده (۹۲۲/۱۳۴۱هـ)

جواب: سجده برائي قبور به اتفاق حرام است، قال الله تعالى: "لا تسجدوا للشمس ولا للقمر واسجدو لله الذي خلقهن" (سورة حم سجده، آیت: ۳۷) وفي الحديث: فقال لي أرأيت لو مررت بقبري أكنت تسجد له؟ قال: قلت: لا، قال: فلا تفعلوا الحديث(۱) (رواه ابو داؤد وغيره) و قوله: فقال لي أرأيت الخ اى قال اظهارًا لعظمة الربوبية واشعارًا لمذلة العبودية قوله: (لا تفعلوا) أي في الحياة كذلك لا تسجدوا... قال الطيبي: اى اسجدوا للحى الذي لا يموت ولمن ملكه لا يزول الخ. (۲)

نو حرمت سجده له دې څخه صفا ظاهر دي او مچول اولاس وروړل هم خلاف سنت معروفه دي لکه شامي کې دي: والمعهود منها ليس الا زيارتها والدعاء عندها قائما(۳) نو مذهب حنفيه دا دی چي پرته د زيارت قبور او دعاء مغفرت او نور کوم چي وارد دي نور افعال مکروه او بدعت او حرام دي. فقط والله تعالى اعلم

سوال: (۳۲۴) ترجمه: قبرو ته سجده کول، مچول او لاس وروړل جائز دي کنه؟ یو سړي

---

۱) عن قيس بن سعد رضى الله عنه قال: أتيت الحيرة، فرأيتهم يسجدون لمرزبان لهم، فقلت: رسول الله صلى الله عليه وسلم أحق أن يسجد له، قال: فأتيت النبي صلى الله عليه وسلم، فقلت: اني أتيت الحيرة فرأيتهم يسجدون لمرزبان لهم، فأنت يا رسول الله أحق أن نسجد لك، قال: أرأيت لو مررت بقبري أكنت تسجد له؟ الحديث (سنن ابي داؤد: ۲۹۱/۱، كتاب النكاح، باب في حق الزوج على المراة)

۲) مرقاة المفاتيح: ۳۷۴/۲، كتاب النكاح، باب عشرة النساء وما لكل واحدة من الحقوق، الفصل الثالث، رقم الحديث: ۳۲۲۲

۳) الشامي: ۲۲۷/۱، كتاب الصلاة، باب صلاة الجنازة، مطلب في اهداء ثواب القراءة للنبي صلى الله عليه وسلم. ط رشيديه

په پنجاب کې رساله تصنیف کړې ده او په هغه کې يې مچول، لاس لګول او سجده جائز ګرځولي دي.

جواب: قبرو ته سجده کول په اتفاق حرام دي. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۳۶۵) تاسو قبر مچول او لاس لګول بدعت او ناجائز تحریر کړي دي، مهرباني وکړه حواله راکړې. (۱۳۴۵/۳۲۰ھ)

جواب: په شرح منیه کې د زیارت قبور په بحث کې د دې پوره تفصیل دی، هغه دې وکتل شي، د هغه بعض عبارت نقل کوم، قال ابو اللیث: لا یعرف وضع الید علی القبر سنة ولا مستحبًا. بیا په دې کې څه بحث کولو سره لیکي: ویقولون انه عادة اهل الکتاب وفي احیاء علوم الدین: انه من عادة النصاری انتهی ولا شک انه بدعة لا سنة فیه ولا اثر عن صحابي ولا عن امام ممن یعتمد علیه فیکره ولم یعهد الاستلام في السنة الا للحجرا لأسود و الرکن الیماني خاصة(۱) او فقهاوو دا تصریح کړې ده: علینا اتباع ما رجحوه وما صححوه. (۲) فقط والله تعالی اعلم

د قبر تعظیم او هغه ته سجده کول څرنګه دي؟

سوال: (۳۶۶) مېړه او مابنه که د يو بزرګ د قبر تعظیم وکړي او سجده وکړي نو دا څنګه دي؟ او نکاح د دوی باقي ده کنه؟ (۱۳۳۹/۹۲۲ھ)

جواب: په دې صورت کې دواړه عاصلي او فاسق دي، توبه دې وکړي او نکاح د دوی باقي ده، ځکه حکم د دوی د ارتداد نه کیږي او دا فعل که څه هم ګناه کبیره ده لیکن د دوی په کفر او ارتداد ویلو کې احتیاط لازم دی او په دې کې شک نشته چې تجدید نکاح احتیاطاً مناسب دی. فقط والله تعالی اعلم

پر قبر سجده کول او پر هغه راګرځېدل څنګه دي؟

سوال: (۳۶۷) تعزیه قبر یا مزار باندې چله کشي کول، ګلونه امیل د خوشحالي شال پر قبر اوارول، نذر منل،

---

۱) غنیة المستملي شرح منیة المصلي المعروف بالحلبي الکبیر، ص: ۵۲۵، فصل في الجنائز الثامن في مسائل متفرقة من الجنائز.

۲) الدر المختار مع رد المحتار: ۵۷/۱، مقدمة المؤلف، مطلب في طبقات الفقهاء. ط رشیدیه

پر قبر سجده کول، قبر مچول، ډول او نورو باجو شریعت اجازه ورکړې ده کنه؟ (۴۴۰/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: دا بدعات او رسوم شرکیه اسلام نه دي جائز کړي او د اسلامي مکارونه نه دي، مسلمانانو ته له دغه کارو او رسمو څخه سخت پرهېز کول پکار دی ځکه دا امور شرک او بدعت دي. فقط

د ځان ژغورولو په وجه بت ته سجده کول

سوال: (۳۲۸) ایا د مجبوري په حالت کي چي هلته د ځان خطر وي، بت ته صرف د خپل ځان د ژغورولو په خاطر سجده کول جائز دي کنه؟ (۲۴۰۷/۱۳۴۰هـ)

جواب: د اکراه په صورت کي چي د ځان خطر وي، کلمۂ کفر ویل یا بت ته سجده کول صحیح کیږي مګر په زړه کي به ایمان پاته وي، کما قال الله تعالی: "الا من اکره وقلبه مطمئن بالایمان" (سورة نحل، آیت: ۱۰۲) په درمختار کي دي: و ان أكره على الكفر بالله تعالى او سب النبي صلى الله عليه وسلم... بقطع او قتل رخص له أن يظهر ما أمر به على لسانه ويورى وقلبه مطمئن بالايمان الخ (۱) او په شامي کي دي: وفيه انه قد يكره على السجود للصنم او الصليب ولا لفظ الخ (۱) فقط والله تعالٰی اعلم

کوم سړی چي د خپل ملازمت د بچاوېدو لپاره دا وايي زما مذهب اسلام نه دی، د دې لپاره څه حکم دی؟

سوال: (۳۲۹) یو سړی له مسائل دینیه څخه واقف دی او د لمونځ روژې پابند دی لیکن چي کله د سکول مدریس اول شو او د مخالفین اسلام له طرفه دا اعتراض وشو چي مسلمان د دې رتبې اوس مستحق نه دی ځکه د هغو تعداد خو پوره شوی دی، ده چي ولیده چي دا عهده زما څخه ځي نو ده له مشرانو څخه دا درخواست وکړ چي زه د مسلمانانو په تعداد کي نه یم زما مذهب اسلام

---

۱) الدر المختار ورد المحتار: ۹۲/۵، کتاب الاکراه، مطلب بیع المکره فاسد وزوائده مضمونة بالتعدي ط رشیدیه

نه دی، شرعًا د دې لپاره څه حکم دی؟(۱۳۴۳/۷۳۵ھ)

جواب: حالت مذکوره داسي حالت اضطرارا واکراه نه دی چي د هغه له وجي کلمهٔ کفر او خروج عن الاسلام اقرار کول دي صحیح وي چي دغه سړی "الا من اکره وقلبه مطمئن بالایمان" (سورة نحل، آیت: ۱۰۲) کي داخل کېدو سره مسلمان پاته شي، بلکه ذکر شوی سړی په صرف دا کلمه ویلو سره چي زما مذهب اسلام نه دی کافر شو، ده ته تجدید اسلام لازم دی او توبه او استغفار ضروري دی چي دی بیا مسلمان کېدو سره په اسلام کي داخل شي او په جماعت مؤمنین کي داخل شي. فقط والله تعالی اعلم

په دې غرض سره چي اولاد ژوندی پاته شي د بت عبادت کول صریح کفر او شرک دی

سوال: (۳۷۰) سړی په دې خیال چي د ده اولاد همېشه ضائع کېدی معه خپله ښځه او یوه پردۍ ښځه د بت ماتا عبادت یې وکړ او بت ماتا لپاره غنم پاخه کړه بیا یې تقسیم کړه نو ایا تر دې فعل وروسته دړې سره په دائره اسلام کي داخل دي؟ او د دوی نکاح بحاله قائمه ده کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۴۹۲ھ)

جواب: دا فعل کفر او شرک صریح دی، دوی لره تجدید اسلام او توبه او استغفار او تجدید نکاح لازم دی، کذا حققه في الدر المختار ورد المحتار. (۱) فقط والله تعالی اعلم

له ناجوړۍ څخه د شفا لپاره د خنزیر بچي د بت په نوم حلالول

سوال: (۳۷۱) زید په ډېره مهلکه ناجوړۍ کي مبتلا شو، د ځینو خلکو له وینا څخه معلوم شو چي یو دښمن جادو په کړی دی، ده ته د خپل مرګ یقین وشو،

---

۱) قال في الشامي: ما یکون کفرًا اتفاقا یبطل العمل والنکاح الخ. (الشامي: ۳۲۱/۳ کتاب الجهاد، باب المرتد، آخر مطلب الاسلام یکون بالفعل کالصلاة بجماعة) وفي العالم غیریة: ثم ان کانت نیة القائل الوجه الذي یمنع التکفیر فهو مسلم، وان کانت نیته الوجه الذي یوجب التکفیر لا تنفعه فتوی المفتي، ویؤمر بالتوبة والرجوع عن ذلک وبتجدید النکاح بینه وبین امرأته، کذا في المحیط. (الفتاوی الهندیة ۲۸۳/۲، کتاب السیر قبیل الباب العاشر في البغاة)

د بعضو مشرکینو په آماده کولو سره د خنزیر بچي را وغوښت د بت په نوم يې ذبح کړ، کورنۍ بېل کړ، د دې لپاره څه کفاره ده؟ (۱۳۴۱/۵۳۵هـ)

جواب: کفاره شرعي دا غه ده چي توبه او استغفار دي وکړي او تجدید اسلام دي وکړي او کلمهٔ شهادت دي ووايي او پر خپل فعل دي نادم او مستغفر شي، بیا دي دا ډول حرکت نه کوي، وعده صادقه ده: "وهو الذي يقبل التوبة عن عباده ويعفوا عن السيئات ويعلم ما تفعلون" (سورة شوری، آیت: ۲۵) فقط والله تعالی اعلم

د بتانو پر نامه د قرباني کولو نذر منل

سوال: (۳۷۲) زید نذر کړی دی که زما زوی جوړ شو نو د شیب کالي یا نورو بتانو پر نامه یو ګوسپند (۱) قرباني کوم، زوی يې جوړ شو، ده یو هندو ته بزه ورکړه، ورته يې وویل: ته زما له طرفه د ډول آواز سره قرباني کړه، هندو د ده د وينا مطابق د کالي په هکله قربان کړه، زید کافر شو کنه؟ (۱۳۴۱/۲۲۸۷هـ)

جواب: زید عاصي او فاسق او مرتکب حرام شو، نذر لغیر الله حرام دی او مرتکب د دې فاسق دی، په شامي کي د نذر لغیر الله د باطل او حرام کېدو وجي بیان کړې دی، قوله (باطل وحرام) لوجوه: منها انه نذر لمخلوق والنذر للمخلوق لايجوز، لانه عبادة، والعبادة لا تكون لمخلوق ومنها: ان المنذور له ميت، والميت لا يملك ومنها: انه ان ظن ان الميت يتصرف في الامور دون الله تعالى واعتقاده ذلک كفر الخ. (۲) له دې څخه معلوم شو که اعتقاد د ده د بتانو د تصرفاتو دی ما سیوا له الله تعالی څخه نو دا اعتقاد کفر دی، په دې صورت احکام د کفر جاري کیږي او د تجدید اسلام او تجدید نکاح ضرورت شته، که دی له دې اعتقاد څخه انکار وکړي نو د ده تکفیر نه کیږي، بیا هم تجدید اسلام او نکاح احوط دی. فقط والله تعالی اعلم

---

۱) ګوسپند: پسه، میږه، مږ، بزه، وزګړی. (فیروز اللغات)

۲) الشامي على الدر المختار: ۱۳۹/۲، كتاب الصوم، باب يفسد الصوم ومالا يفسده، مطلب في النذر الذي يقع للاموات من اكثر العوام من شمع او زيت او نحوه.

سوال: (۳۷۳) د یو مسلمان زوی ناجوړه شو او د ده والدین ستیلا ومنله یعني د یو بت نذر یې وماني که زموږ زوی ښه شو نو یو وزګړی به خیرات کوو، تر شفاء وروسته یې نذر کړی یو وزګړی د یو هندو په ذریعه بت ته یوووړ، حلال یې کړ، د کلي په هندوانو یې تقسیم کړ، د هلک د والدینو نکاح او اسلام پاته دی کنه؟(۱۳۴۲/۳۱۷ه)

جواب: دوی دواړه عاصیان او فاسقان شول، توبه او استغفار دي وکړي، تجدید نکاح کول ښه دي او احوط دي فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۳۷۴) یو مسلمان د دیوتا پر نوم نذر وکړ، د هغه صورت دا شو چي دی د یو هندو په مکان کي اوسېدی، هندو دا نذر وکړ که دا سړی جوړ شو نو زه یو وزګړی قربانوم، مسلمان د غه نذر پوره کړی ؤ، اوس دی مسلمان دی کنه؟(۱۳۴۷-۴۲/۸۲۷ه)

جواب: په دغه صورت کي پر مذکوره سړي د کفر او ارتداد حکم نه کيږي، لیکن احتیاطاً تجدید ایمان او تجدید نکاح او توبه او استغفار لازم دی فقط والله تعالی اعلم

کوم سړی چي دا وایي زما خدای انګریز دی هغه موږ ته رزق راکوي الخ هغه کافر او مرتد دی

سوال: (۳۷۵) یو سړی کلمات کفریه پر ژبه راوړي، مثلاً داسي وایي: زموږ خدای انګریز دی، هغه موږ ته رزق راکوي، په خالي لمونځ کولو هیڅ فایده نشته، دغه ډول نوري خبري کوي، د دغه شان سړي سره څنګه رویه خپلول پکار ده؟(۱۳۴۵-۴۴/۳۰۱ه)

جواب: کوم سړي چي کلمات مذکوره ویلي دي، هغه کافر او مرتد شو، تر څو چي دی توبه ونه کړي او تجدید اسلام ونه کړي، تر هغه وخته پوري له ده سره ملاوېدل پرېښودل پکار دي او دی له کورنۍ څخه جلاکول پکار دي او د ده په ښادي او غم کي هیڅکله شریک کېدل نه دي پکار. فقط والله تعالی اعلم

چي په تقدير او عذاب قبر کي شک کوي او دا وايي چي خداى خو په لار کي پروت دى هغو ته هر وخت آواز کولو څه ضروري دى؟ دى کافر دى که مسلمان؟

سوال: (۳۷۲)..... (الف) زيد د هر کار په شروع کي د بسم الله عادي دى، يوه ورځ عمر د زيد پر بسم الله ويلو ډېر طعن او تشنيع وکړه او دا يې وويل چي خداى خو هر وخت په لار کي پروت دى، د آواز ورکولو څه ضرورت دى؟

(ب) عمر همېشه د تقدير په مسئله کي له علماوو سره طعن و تشنيع او بحث کوي.

(ج) عمر د عذاب قبر په هکله شک کوي او له علماوو سره همېشه بحث او تکرار کوي او جاهلان بده عقيده کوي، د عمر لپاره شرعًا څه حکم دى؟ (۱۳۴۵/۱۰۴۸هـ)

جواب: (الف - ج) پر احکام شرعيه استهزاء کفر دى او پر بسم الله ويلو استهزاء کول او دغه شان د تقدير په مسئله کي شک کول او په عذاب قبر کي شک کول او علماوو ته بې له وجي سب وشتم کول دا جمله امور حرام دي، بعض له هغو څخه حد کفر ته رسيږي، لهذا عمر ته توبه کښل او تجديد اسلام او تجديد نکاح کول لازم دي، په رد المحتار شامي کي دي: ولذا قال في المسايرة: وبالجملة فقد ضم الى التصديق بالقلب او بالقلب واللسان في تحقيق الايمان امور الاخلال بها اخلال بالايمان اتفاقاً، كترك السجود لصنم(۱) وقتل نبي والاستخفاف به وبالمصحف والكعبة وكذا مخالفة او انكار ما اجمع عليه بعد العلم به، لان ذلک دليل على ان التصديق مفقود الخ

---

۱) په شامي کي او د فقه اکبر په اکثرو نسخو کي داغه رنګه دي مګر د شرح فقه اکبر په حاشيه کي چي کومه نسخه ده، په هغه کي کالسجود لصنم دي او د دغه اقتباس له آخري عبارت: لان ذلک دليل على ان التصديق مفقود الخ څخه د دې نسخې تائيد کيږي، همدا شان د شرح عقائد لاندي عبارت هم د دې مؤيد دى: ولا نزاع في ان من المعاصي ما جعله الشارع امارة للتكذيب وعلم كونه كذلک بالادلة الشرعية كسجود الصنم والقاء المصحف في القاذورات (شرح العقائد النسفية، ص: ۸۳، مبحث الكبيرة لا تخرج العبد المؤمن من الايمان المطبوعة، رشيديه، دهلي)

قلت: ویظهر من هذا ان ماکان دلیل الاستحفاف یکفر به، وان لم یقصد الاستحفاف الخ (۱) فقط والله تعالی اعلم

چا داوویل چي زه ستاسو خدای ته پېښي کوم هغه کافر او مرتد دی

سوال: (۳۷۷) کوم مسلمان په خښم کي د الله جل شانه پر نامه دا ووایي: زه ستاسو خدای ته پېښي کوم والعیاذ بالله تعالی او دغه شان ګستاخي الفاظ او بې ادبي د خدای په شان کي استعمال کړي نو دی مسلمان دی کنه؟ (۱۳۴۵/۱۰۷۱هـ)

جواب: مذکوره سړی شرعًا قطعًا کافر او مرتد دی او د ده زوجه د ده له نکاح څخه خارجه شوه، ده ته تجدید ایمان او تجدید نکاح لازم دی. فقط والله تعالی اعلم

کوم سړی چي دا وایي چي خدای لاشئ دی بلکه د مخلوق هر فرد خدای دی هغه ملحد او کافر دی

سوال: (۳۷۸) د یو سړي عقائد لاندني دي، د ده په هکله د شریعت مطهره څه حکم دی؟ دا چي خدای لاشئ دی، بلکه د مخلوق هر فرد خدای دی، نعوذ بالله تعالی، په قرآن مجید کي د کومو خلګو ذکر راغلی دی، د هغو عبادت او هغو ته سجده کول جائز دي او دی پخپله په خپلو مریدانو سجده کوي. (۱۳۴۵/۱۷۲۷هـ)

جواب: د دا شان سړي په ملحد او کافر کېدو کي هیڅ ا ته د شبهې ګنجائش نشته چي دا سړی د خدای تعالی منکر دی، فقهاء رحمهم الله د ضروریات دین انکار کفر لیکلی دی نوم کوم سړی چي د ذات باري تعالی انکار وکړي یا هر فرد مخلوق ته خدای ووایي د ده په کافر او مشرک کېدو کي څه شبه کېدای شي؟ "والله لا یهدي من یشاء الی صراط مستقیم" (سورة نور، آیت: ۴۲) فقط والله تعالی اعلم

۱) رد المحتار علی الدر: ۳/۳۱۱، کتاب الجهاد، اوائل باب المرتد. ط رشیدیه

د خدای د قدرت نفي کول کفر دی

سوال: (۳۷۹) یو سړي د څو طلباء په هکله چي په لمانځه کي د هر غفلت او سستي کوله دا وویل چي ستاسو زړونه داسي زنګ نیولی او تور شوي دي چي خدای یې هم نشي صفا کولای، دا کلمه د کفر ده کنه؟ او ویونکي لپاره تجدید نکاح ضروري ده کنه؟ (۱۳۴۵/۳۰۲۹هـ)

جواب: دا کلمه خو د کفر ده او په ښکاره له دې څخه نفي قدرت حق تعالی کیږي، د دې وجي دغه سړي ته توبه، تجدید ایمان او نکاح کول پکار دي فقط والله تعالی اعلم

د داسي خدای څه وڅه وکړم ویل کفر دی

سوال: (۳۸۰) د بکر قول دی چي زه په محبت خداوندي کي فنا شوم، خدای ما ته قلیل دنیا راکوله ما نه واخیستله، معاذ الله داسي هم وایي چي د خدای څه وڅه کړم، دا کلمات کفریه دي کنه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۲۱۱۲هـ)

جواب: د بکر دا وینا چي د خدای څه وڅه کړم والعیاذ بالله د کفر کلمې دي، لهذا د بکر لپاره تجدید ایمان او تجدید نکاح کول پکار دي فقط والله تعالی اعلم

ایا د غیر الله قسم خوړل شرک دی؟

سوال: (۳۸۱) من حلف بغیر الله فقد اشرک حدیث دی که قول فقهاء دی؟ او علماوو چي لعمري لیکلي دي، د دې څه معنی ده؟ (۱۳۴۰/۳۹۰هـ)

جواب: من حلف بغیر الله فقد اشرک، رواه الترمذي(۱) نو معلوم شو چي دا حدیث شریف دی.

---

۱) عن سعید بن عبیدة ان ابن عمر رضی الله عنهم سمع رجلا یقول: لا والکعبة؛ فقال ابن عمر: لا تحلف بغیر الله، فاني سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: من حلف بغیر الله فقد کفر او اشرک، هذا حدیث حسن. (جامع الترمذي ۲۸۰/۱، ابواب النذور والایمان، باب في کراهیة الحلف بغیر الله)

او په ترمذي کي دي او لعمري کوم چي د علماوو او فقهاوو په کلام کي راغلي دي، له دي څخه مراد حلف او يمين نه دی، بلکه د تاکيد کلام لپاره دا شان ويل کيږي او بعض فقهاوو په دې کي دا تاويل کړی دی چي په دې کي مضاف محذوف دی يعني اصل دا ؤ لواهب عمري يعني قسم د هغه الله دی چي ورکونکی دی زما د عمر، كذا في الشامي. (۱) فقط والله تعالى اعلم

دا ويل كفر دی چي نه ماته د خدای ضرورت شته او نه د خدای د جنت

سوال: (۳۸۲) يو واعظ يوې زانيې ښځي ته نصيحت وکړ چي زنا پرېږدي، پر دې ښځي جواب ورکړ چي ما ته نه د خدای ضرورت شته نه د خدای د جنت، شرعًا د دې ښځي نکاح ماته شوه کنه؟ (۱۳۴۲/۲۵۷۸هـ)

جواب: پر دغي ښځي حکم د کفر او ارتداد لاحق شو او د دې نکاح فسخ شوه، په دې دي توبه وکاږي او تجديد اسلام دي په وشي بيا دي نکاح وشي. فقط والله تعالى اعلم

دا خبره بې اصل ده چي نبي صلى الله عليه وسلم او حضرت علي رضی الله عنه له يو نور څخه پيدا شوي دي

سوال: (۳۸۳) بعض اهل علم وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم او حضرت علي رضی الله عنه له يو نور څخه پيدا شوي دي، د دې څه اصليت دی؟ (۱۹۲/۳۵-۱۳۳۲هـ)

جواب: د دې هيڅ اصليت له صحيح احاديثو څخه ثابت نه دی. فقط والله تعالى اعلم

---

۱) اقول: لكن قال فاضل الروم حسن جلبي في حاشية المطول: قوله لعمري يمكن ان يحمل على حذف المضاف اى لواهب عمري، وكذا امثاله مما اقسم فيه بغير الله تعالى كقوله تعالى: والشمس، والليل، والقمر ونظائره: اى ورب الشمس الخ، ويمكن ان يكون المراد بقولهم لعمري وامثاله ذكر صورة القسم لتأكيد مضمون الكلام وترويجه فقط، لانه أقوى من سائر المؤكدات. (رد المحتار على الدر: ۱۳/۱، تقديم المؤلف، مطلب افضل صيغ الصلاة. ط رشيديه)

سوال: (۳۸۴) ایا د نور دوې ټوټې شوې له یوې څخه نبي صلی الله علیه وسلم له دو همې څخه حضرت علي رضی الله عنه پیدا شو؟ (۱۳۳۹/۱۸۰۲هـ)

جواب: دا ثابت نه دي. فقط والله تعالی اعلم

ایا ټول کائنات له نوري نبوي څخه پیدا شده دي؟

سوال: (۳۸۵) یو فریق د دې خبرې قائل دي چې له نور نبوي څخه ټول کائنات پیدا شده دي، تر دې چې سیمرغ، زرکه، جن انسان وغیره وغیره منکرین د دې خبرې انکار کوي. (۱۳۳۸/۱۴۸۲هـ)

جواب: د حضرت آدم علیه السلام له خاورو څخه پیدا کېدل او بیا د هغو په ذریعه د ټول بني آدم خلقت له خاورو څخه کېدل په آیات قطعیه کې منصوص دي (۱) او نبي صلی الله علیه وسلم هم د حضرت آدم علیه السلام له اولاد څخه دی، د ده سلسله نسبي معلومه او معروفه ده او د جناتو له اور څخه پیدا کېدل په قرآن شریف کې مذکور دي (۲) او د ټول دواب وطیور وغیره حیواناتو له خاورو څخه پیدا کېدل معلوم دي نو که هغه له روایاتو څخه (۳) ثابت هم وي نو د هغه دا مطلب هیڅکله نه دی کوم چې یې قائلین ګڼي. (۴) فقط والله تعالی علم

---

۱) "ان مثل عیسی عند الله کمثل آدم خلقه من تراب" (سورة آل عمران، آیت ۵۹) "ولقد خلقنا الانسان من صلصال من حماء مسنون" (سورة حجر، آیت ۲۶) "ومن آیته ان خلقکم من تراب ثم اذا انتم بشر تنتشرون" (سورة روم، آیت ۲۰) "والله خلقکم من تراب ثم من نطفة ثم جعلکم ازواجا" (سورة فاطر، آیت ۱۱) "هو الذي خلقکم من تراب ثم من نطفة ثم من علقة ثم یخرجکم طفلا" (سورة مؤمن، آیت ۶۷)

۲) "قال انا خیر منه خلقتني من نار وخلقته من طین" (سورة اعراف، آیت ۱۲) "والجان خلقناه من قبل من نار السموم" (سورة حجر، آیت ۲۷) او "وخلق الجان من مارج من نار" (سورة رحمن، آیت ۱۵)

۳) له دې روایت څخه اول ما خلق الله نوري الخ طرف ته اشاره ده، د دې تفصیلي بحث د کتاب الایمان په سوال (۲۲۲) کې راغلی دی. وې ګورئ.

۴) بلکه د نور کېدو مطلب دا دی چې نبي صلی الله علیه وسلم د صفت هدایت په لحاظ د ټول انسانیت لپاره مینار د نور دی، داغه نور دی چې د هغو په رڼا کې انسانیت ته د خدای تعالی لار ملاوېدای شي او د هغه رڼا تر ابده پورې روښانه تر همېشه پورې به وي. (اختلاف امت اور صراط مستقیم ۳۷/۱، دیوبندي بریلوي اختلاف، چار اختلافي نکات نور اور بشر، مطبوعه مکتبه حجاز دیوبند)

د نبي صلی الله علیه وسلم نور د الله د نور جز منل غلط او باطله عقیده ده

سوال: (۳۸۶) کوم سړی د نبي صلی الله علیه وسلم نور د خدای د نور جز مني، د دې په هکله څه حکم دی؟ عوام الناس ته د دا شان مسائلو تحقیق ضرورت شته کنه؟ (۱۳۴۹/۹۵۲هـ)

جواب: د ده نور د حق تعالی د نور جز کېدل غلط او باطله عقیده ده، الله تعالی له تجزيې څخه پاک دی او په حدیث شریف کې د ده په دعا کې دا الفاظ وارد دي: اللهم اجعلني نورًا (۱) او ظاهره ده چې د ده دعا مقبوله ده (نبي صلی الله علیه وسلم منور دی مګر د نبي صلی الله علیه وسلم نور د الله تعالی د نور جز نه دی، سعید احمد پالن پوري) مګر په داسې مسائلو کې عوامو ته بحث او تحقیق و تدقیق کول ښه نه دي.

کوم سړی چې لا اله الا الله محبوب سبحاني عبد القادر جیلاني رسول الله وایي د دې په هکله څه حکم دی؟

سوال: (۳۸۷) د لا اله الا الله محبوب سبحاني، عبد القادر جیلاني رسول الله قائل او متعقد په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۴۵/۴۴۰هـ)

شعر: خلقت دی ستا په لاس، قضا ستا په لاس

مختار ته، د خدای رضا ستا په لاس

د آفاق فنا وبقاء ستا په لاس ده

د ټولو کارو ځای صنع خدا ستا په لاس ده

بعد از خدای بزرګ توئي قصه مختصر

جواب: د جمله اولی قائل او معتقد په کفر وشرک کې هیڅ ریب وشک نشته او د ابیاتو معتقد که څه هم په دې درجه کې دي، لیکن په دې کې في الجمله د تاویل ګنجائش شته ولو ضعیفًا. فقط

دا عقیده چې محمد رسول الله معبود دی شرک جلي دی

سوال: (۳۸۸) یو سړي د کلمې دا معنی قائمه کړې ده چې نشته هیڅ معبود مګر الله او هغه څوک دی محمد رسول الله، نو د دا شان سړي شا ته

---

۱) د دغه حدیث شریف تخریج د کتاب الایمان د سوال (۳۰۴) په جواب کې وګورئ.

اقتداء جائز ده کنه؟ او د تجدید نکاح په هکله څه فتوی ده؟ (۱۳۳۵/۱۱۰۱هـ)

جواب: د کلمې طیبې معنی دا ده چې د الله تعالی سیوا هیڅ معبود نشته، محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی پیغمبر دی، دا ترجمه کول د دغه سړي چې هغه څوک دی محمد رسول الله، دا ترجمه غلطه ده او دا عقیده چې محمد رسول الله معبود دی صریح شرک دی، د دغه سړي شاته لمونځ صحیح نه دی، دا سي عقیده لرونکی مرتد دی، د ده نکاح فسخه شوله، بعد توبه او تجدید اسلام د ده نکاح ضروري ده، قال الله تعالی: "لا تتخذوا الهین اثنین انما هو اله واحد" (سورة نحل، آیت: ۵۱) فقط والله تعالی اعلم

رسول ته خدای ویونکی کافر دی

سوال: (۳۸۹) زید رسول الله صلی الله علیه وسلم خدای بولي او په ثبوت کي انت انا پېش کوي:

شعر

محمد ته مو ږ خدای ولي نه وایي　　　خدای پخپله ورته ویلي دي انت انا یې

ایا انت انا د حدیث قدسي الفاظ دي یا د قرآن شریف یا د یو بزرګ مقوله ده او د دې حکم څه دی؟ (۱۳۴۲/۳۰۵۰هـ)

جواب: دا حدیث نه دی یعني دا لفظ انت انا نه ده یو حدیث الفاظ دي او نه د قرآن، دا د ملحدانو باطله عقیده ده چې دا شان اعتقاد ساتي و العیاذ بالله بلکه دا کلمه د کفر ده او کوم اشعار چي مذکور شوه، هغه هم کفریه اشعار دي د هغو ویل او اورېدل د مسلمانانو لپاره جائز نه دي نو کوم سړی چي دا شان عقیده وساتي هغه کافر وزندیق دی، الله تعالی دي ده ته هدایت وکړي او توبه واسلام دي ورنصیب کړي فقط والله تعالی اعلم

دا ویل چي حضور صلی الله علیه وسلم عین ذات حق دی ښکاره کفر دی

سوال: (۳۹۰) بعض صاحبان وایي چي حضور صلی الله علیه وسلم د أنس اِنس (د انسانانو د انسیت) لپاره په پرده بشریت کي راغلی کنې عین ذات حق دی، د دې په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۳۷/۲۲۳۳هـ)

جواب: دا ښکاره کفر او الحاد دی او د دې کلام قائل مرتد او کافر دی، والعیاذ بالله تعالی. فقط والله تعالی اعلم

خدای او رسول د خدای صلی الله علیه وسلم ته ښکنځل کول کفر دی

سوال: (۳۹۱) یوې ښځې د خدای او رسول الله صلی الله علیه وسلم په شان کې ډېر بې ځایه الفاظ وویل او له دین محمدي څخه اعراض او د هغه توهین کوي، د دې شرعًا څه حکم دی؟ (۲۲۸/۴۴-۱۳۴۵ھ)

جواب: خدای تعالی او د ده پیغمبرانو ته ښکنځل کول کفر دی، لکه الله تعالی د کفارو دا صفت ښودلی دی چې الله تعالی ته ښکنځل کوي، قال الله تعالی: "لا تسبوا الذین یدعون من دون الله فیسبوا الله عدوًا بغیر علم" (سورة انعام، آیت: ۱۰۸) نو په دې توبه وکاږئ. فقط

د بعض معجزاتو انکار کول کفر دی

سوال: (۳۹۲) ډېر خلک لمونځ او روژه ادا کوي لیکن دوی د انبیاء علیهم السلام د معجزاتو منکر دي، کوم چې په کلام مجید کې راغلي دي، دوی ته مسلمانان ویل او د دوی د جنازې لمونځ کول جائز دی کنه؟ (۱۳۳۸/۴۲۱ھ)

جواب: بعض معجزات چې له نصوص قطعیه څخه ثابت دي د هغو انکار کفر دی. (او د کافر د جنازې لمونځ نشته) فقط والله تعالی اعلم

د غصې په حالت کې د خدای او رسول د خدای صلی الله علیه وسلم په شان کې د سپکتیا ډک الفاظ ویل

سوال: (۳۹۳) که یوه ښځه خپل خاوند ته خښم کولو سره د خدای تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم په شان مبارک کې الفاظ د اهانت ووایي نو داسې ښځه له اسلام څخه خارجه شوه کنه؟ (۱۵۲۷/۴۳-۱۲ھ)

جواب: مذکوره ښځي ته توبه کښل پکار دي، تر توبې وروسته تجدید نکاح هم ضروري دی. فقط

دا ویل کفر دی چي زما د خدای او رسول سره هیڅ کار نشته

سوال: (۳۹۴) یو سړي د پنځوسو کسانو په مخ کي علی الاعلان دا وویل چي زما د خدای او رسول سره هیڅ کار نشته، دا سړی مسلمان دی که نه؟ (۱۲۱۱/۱۳۳۸هـ)

جواب: دا کلمه د کفر ده، دغه سړي ته توبه او تجدید ایمان و نکاح کول پکار دي او بیا له داسي کلماتو څخه احتراز کول پکار دي. فقط و الله تعالی اعلم

د خدای او د ده د رسول انکار کول کفر دی

سوال: (۳۹۵) د خدای او رسول منکر څرنګه دی؟ (۱۲۲۷/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: انکار کول د خدای تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم او د هغه له احکامو کفر دی، پر داسي خلګو کفر عائد کیږي. فقط و الله تعالی اعلم

له میړه څخه د خلاصون لپاره د خدای او رسول انکار کول

سوال: (۳۹۲) زید خپله زوجه هنده له خپل کور څخه و ایستله، هندې خلع وغوښتله مګر زید راضي نشو، هندې د جلا کېدو لپاره دا عقیده اختیار کړه چي زه د خدای او رسول منکره یم، نو له دې عقیدې څخه هنده مرتده شوه، نکاح قائمه ده، که فسخ شوه؟ (۹۱۲/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: هندې څه وخت دا لفظ ویلی و، هغه وخت دا مرتده شوې وه او د دې نکاح فسخ شوې وه او د حقوق تلفي ابتداء خو د زید له طرفه شوې ده، نو اوس خو ښځه پر تجدید نکاح هم مجبوره کېدای نشي، په در مختار کي دي: و ارتداد أحدهما... فسخ إلخ عاجل بلا قضاء إلخ(۱) و تجبر علی الاسلام و علی تجدید النکاح إلخ و فی الشامي: و لا

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار: ۴۲۵/۲ کتاب النکاح، باب نکاح الکافر، مطلب الصبی و المجنون لیسا باهل لایقاع الطلاق بل للوقوع. ط رشیدیه

يخفى أن محله ما إذا طلب الزوج ذلک أما لو سکت أو ترکه صريحا فإنها لا تجبر و تزوج من غيره لأنه ترک حقه بحر و نهر(۱) فقط و الله تعالى اعلم

کوم سړی چې د الله او د هغه د رسول له اطاعت څخه انکار کوي هغه کافر دی

سوال: (۳۹۷) زید د مسجد متولي دی، ده په عدالت کي دا وویل چي زه شرع محمدي نه پېژنم او نه پر شریعت چلېږم او نه محمدي اطاعت کوم او زه د محمد صلی الله علیه وسلم پیروي نه تسلیموم او په صفا لفظو کي یې دا وویل چي زما له أطيعوا الله و أطيعوا الرسول(۲) څخه انکار دی الخ د داسي سړي په هکله څه حکم دی؟ (۷۵۷/۳۳-۱۳۳۴ھ)

جواب: داسي سړی از روی فتوی شریعت غراء کافر دی، مسلمان نه دی او دی متولي د مسجد نشي کېدای فقط و الله تعالى اعلم

له غیر الله څخه امداد طلب کول شرک دی که نه؟

سوال: (۳۹۸) له غیر الله څخه مدد غوښتل حرام دی که نه؟ مثلاً دا شان ویل چي مهاراجه رام پرشاد التجاء ده، دغه شان غوښتنه کول شرک دی که نه؟ که شرک وي، نو پر دغه سړي توبه او کلمه ویل لازم دي که نه؟ که شرک وي نو له ایمان څخه خارج دی که نه؟ که له ایمان څخه خارج وي، نو نکاح یې باطله ده که نه؟ که یې نکاح باطله وي نو بغیر نکاح او توبې او کلمه ویلو د ده سره مواکلت و موانست ناجائز دی که نه؟ اِو بې له تجدید نکاح که اولاد وشو، نو ولد الزنا به وي که نه؟ (۱۵۷۲/۳۳-۱۳۳۴ھ)

جواب: له ژوندو څخه دغه شان فریاد غوښتل او مدد طلبول شرک او کفر او فسق نه دی، کله چي دا کفر و شرک نه شو، نو ټول تفریعات د سائل باطل شو، اغاثت

---

(۱) الدر المختار و الشامي: ۴۴۲/۲ کتاب النکاح ط رشیدیه

(۲) سورة نساء، آیت: ۵۹، سورة نور، ایت: ۵۴، سورة محمد، آیت: ۳۳.

ملهوف(فریاد رسول) باندي زیري په احادیثو کي راغلي دي او ښکاره ده چي اغاثة فرع د استغاثه(۱) ده. فقط و الله تعالی اعلم

دا ویل چي تر څو خدای تعالی په چشم ظاهري نه ووینني او د هغه په قدمو کي سجده ونکړي، هغه مسلمان نه دی، څرنګه دي؟

سوال: (۳۹۹) خالد تورمخی وعظ کوي او د بدعاتو او کفریاتو ترغیب ورکوي، د الله معنی وايي چي ته الله شه او ترڅو خداي په چشم ظاهري سره نه ووینې او د ده په قدمو کي سجده ونکړې، مسلمان نه دی او د ده لمونځ نه کیږي، دا شان ډیري ګنده وډي خبري کوي، د داسي سړي سره مرید کېدل څنګه دي؟(۳۰/۲۰۳۰-۳۲/۱۳۳۳هـ)

جواب: خالد ملعون لاریب ملحد و مرتد و کافر دی، د ده کلمات کفریه د ده له تول بیان څخه څرګند دي، یو مسلمان دا شان کلمات کفریه اورېدلای نشي، چیري به د دې قائل مسلمان وګڼي او ولي يې وبولي او پیر به يې جوړ کړي، ده د دین اسلام او مذهب او حق تعالی شانه ډېر توهین کړی دی، دغه تورمخی د غاړي پرېکولو وړ دی، شیطان مجسم او ضال و مضل دی، د ده بیانات او وعظ اورېدل حرام دي او د ده د وینا موافق اعتقاد ساتل ښکاره شرک او کفر او ارتداد دی، العیاذ بالله، د ده مرید کېدل جهنم ته رسوي، مسلمانانو ته د ده صحبت او د ده د اقوالو له سماعت څخه احتراز واجب او لازم دی، دی واعظ او پیر څرنګه دی؟ مسلمانان له اسلام څخه خارج کولو او مرتد جوړولو سعی کوي، حق تعالی دي د ده له شر څخه اهل اسلام رجال و نساء محفوظ وساتي او دی تورمخی ملحد بدکار دي په ذلت و خواري سره مطرود و مردود کړي، آمین و السلام علی من اتبع الهدی. فقط

(۱) عن انس رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من أغاث ملهوفا، کتب الله ثلاثا و سبعین مغفرة، واحدة فیها صلاح أمر کله، و ثنتان و سبعون له درجات یوم القیامة(مشکاة المصابیح، ص: ۴۲۵، کتاب الآداب، باب الشفقة و الرحمة علی الخلق، الفصل الثالث)

زما رزق د انګرېزانو له لاس څخه دی، ویل کفر دی که نه؟

سوال: (۴۰۰) یو وفد د مسلمانانو یو خان بهادر ته د یو قومي کار لپاره چنده غوښتلو لپاره ولاړی، هغو وویل زما رزق د انګرېزانو په لاس کي دی، له دې وجې زه هیڅ چنده نشم درکولای، دا شان ویل کفر دی که نه؟ (۱۳۳۹/۷۳۸هـ)

جواب: دا شان ویل فسق او معصیت دی او ګواکي مطلب دا دی که زه چنده درکړم نو انګرېز ناراضه کیږي او زما رزق بندوي، معاذ الله، له داسي عقیدې څخه توبه لازمه ده، الله تعالی وايي: و ما من دابة في الأرض إلا علی الله رزقها (سورة هود، آیت: ۲) نو له داسي باطلي عقیدې څخه توبه کول پکار دي او رازق مطلق الله ګڼل پکار دی إن الله هو الرزاق ذو القوة المتین (سورة ذاریات، آیت: ۵۸)

فاعلم انه لا اله الا الله ویونکو ته کافر ویل

سوال: (۴۰۱) زید کلیوال له آیت کریمه: فاعلم أنه لا إله إلا الله څخه منع کړ چي نعوذ بالله د دې په ویلو سره کافر کیږي او ترکیب نحوي د دې صحیح نه دی، د زید د دې قول په هکله د شریعت محمدیه څه ارشاد دی او دغه ایت په کومه سیپاره کي دی؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۳۵۱هـ)

جواب: آیت کریمه سیپاره حم (۲۶) سورة محمد د دوهمي رکوع پر ختم دی: فاعلم أنه لا إله إلا الله و أستغفر لذنبک و للمؤمنین و المؤمنات و الله یعلم متقلبکم و مثواکم (سورة محمد، آیت: ۱۹)

ترجمه: پوه شه چي نشته یو معبود مګر الله او بخښنه وغواړه د خپلي ګناه لپاره او د ایمان والاوو (نارینه وو) او ایمان والاوو (ښځینه وو) لپاره او الله پېژني ستاسو د ګرځېدو ځای او د اوسېدو ځای.

نو د زید سخت جهالت دی او زندقه ده چي دغه آیت ویونکو او ورته وایونکو ته کفر وايي معاذ الله داسي ویونکی کافر او ملحد دی مسلمان نه دی او ترکیب نحوي د دې بالکل صحیح دی، أنه کي ضمیر شان د أن اسم دی او جمله لا إله إلا الله د أن خبر، أن له خپل اسم و خبر سره ملاو کړي، مفعول به شو د اعلم لپاره. فقط و الله تعالی اعلم

د قرآن شریف په نسبت دا ویل چې دا کلام له ځانه جوړ شوی. دی کفر دی

سوال: (۴۰۲) څه فرمایي علماء د دین په دې مسئله کې چې د روژې شریفې په میاشت کې زید کلام مجید وایي، بکر راغلی، زید ته یې وویل ته څه وایې؟ زید وویل: کلام الهي وایم، بکر وویل: دا کلام الهي نه دی، بلکې دا له ځانه جوړ شوی کلام دی، زید ورته وویل توبه وکاږه، دا کلام الهي دی، بکر زید ته ښکنځل شروع کړه، زید یې په څپلیو وویشتی، علماء دین د بکر لپاره څه سزا تحریر کوئ؟ (۱۵۳۰/۲۹-۱۳۳۰هـ)

جواب: په البحر الرائق کې دي: و یکفر إذا أنکر آیة من القرآن أو سخر بایة منه إلي أن قال: و بقوله: و القران أعجمی(۱) (۱۲۲/۵) د قرآن شریف په هکله د بکر دا ویل چې دا کلام له ځانه جوړ شوی دی، کفر دی، بکر په دغه کلمه سره کافر او مرتد شو، تر هغه وخته چې دوهم ځل ایمان و اسلام قبول نکړي، مسلمان نه دی، ټول اعمال د ده حبط شول، که دی بلا توبه و بلا ایمان راوړلو په دې حالت کې مړ شو، نو کافر به مړ کیږي. فقط و الله تعالی اعلم

دا ویل چې زه ستاسو قرآن نه منم، کفر دی

سوال: (۴۰۳) د زید او بکر یو له بل سره جنګ و، زید بکر ته وویل چې راسه وروره! د قرآن شریف موافق فیصله وکړو، بکر وویل: زه ستاسو قرآن نه منم، د بکر دا وینا څرنګه ده؟ او د ده لپاره څه حکم دی؟ او قرآن شریف یو دی که مختلف؟ (۵۹۲/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: قرآن شریف یو دی، مختلف نه دی، د یو ښار او یو قوم قرآن شریف جلا، جلا نه دی، نو د بکر د قرآن شریف په هکله دا شان ویل کلمه د کفر ده، بکر ته توبه کښل پکار دي او تجدید اسلام کول پکار دي، الله تعالی دې د توبې توفیق ورکړي، تر دې زیات به نور څه ولیکل شي؟!

---

(۱) البحر الرائق: ۲۰۵/۵، کتاب السیر، باب أحکام المرتدین.

د سورة فاتحه له قرآن کیدو څخه انکار کول کفر دی

سوال: (۴۰۴) کوم خلک چي الحمد لله له قرآن څخه بولي، د هغه څه دلیل دی؟او کوم چي یې له قرآن څخه نه بولي، د هغو څه دلیل دی؟ (۴۴/۴۷۴-۱۳۴۵ھ)

جواب: سورة فاتحه د قرآن کېدو کي د هیڅا اختلاف نشته، بلکه الله تعالی دا په قرآن عظیم کي فرمایلې ده: کما قال الله تعالی: و لقد آتیناک سبعًا من المثانی و القرآن العظیم (سورة حجر، آیت: ۸۷) فقط و الله تعالی اعلم

د قرآن شریف په شان کي بې ادبي کوونکو لپاره څه حکم دی؟

سوال: (۴۰۵) یو سړي قرآن شریف ته سخت بنکنځل وکړو او له توبې کښلو څخه یې صاف انکار وکړو شرعًا څه حکم دی؟ (۲۰۴۰/۱۳۳۷ھ)

جواب: قرآن شریف ته بنکنځل کول کفر دی و العیاذ بالله نو د دغه سړي سره چي له خپل کفر څخه توبه نه کاږي، د مرتدین او کفارو معامله پکار ده او د ده څخه دي قطعًا جلا کېدل او متارکت وشي، قال الله تعالی: فلا تقعد بعد الذکری مع القوم الظالمین(سورة انعام، آیت: ۶۸)فقط و الله تعالی اعلم

قرآن او حدیث ته شیطاني کتاب ویل صریح کفر او ارتداد دی

سوال: (۴۰۶) یو مسلمان پر قرآن او حدیث عمل کوي او خلګو ته هغه بیان کوي او خلګو ته پر هغه د عمل کولو ترغیب ورکوي، داسي سړي ته یو مسلمان شیطان وایي او قرآن و حدیث ته د شیطان کتاب وایي، د داسي سړي په هکله څه شرعي حکم دی؟ (۱۲۹۴/۱۳۳۸ھ)

جواب: لومړی دا معلوم کول پکار دي چي هغه سړی کوم چي پر قرآن او حدیث عمل کوونکی ښودل شوی دی، هغه مروج عامل بالحدیث یعني غیر مقلد خو به نه وي چي د قرآن او حدیث د پوهني او تطبیق بین الاحادیث طریقه نلري او د فقهي او فقه حنفي انکار و خلاف کوي، د داسي خلګو حال دا دی چي دعوی د دوی خو عمل په قرآن و حدیث کولو وي، مګر په حقیقت کي دوی پوره عامل قرآن او حدیث نه دي، د ائمه مجتهدین خصوصًا د امام ابو حنیفه په خلاف کوي او پر هغو طعن کوي او که هغه عامل بالحدیث و القرآن حنفي دی او موافق فقه حنفیه چي عین مطابق قرآن او حدیث

ده، عمل کوي او مقلد وي حنفي سني دی، نو داسي عالم حنفي ته بد ويل ډېر مذموم و قبيح دی خو بيا هم قرآن او حديث او فقه ته شيطاني کتاب ويل و العياذ بالله کفر صريح و ارتداد قبيح دی. فقط و الله تعالی اعلم

د قرآن په هکله د سپکاوي ډک کلام تاويل کول

سوال: (۴۰۷) زيد و محمود د قرآن حافظان دي، محمود د مسجد امام دی، ليکن د ده افعال خراب دي، زيد د قرآن شريف تلاوت کاوی، محمود هم هلته موجود و، زيد ته متشابه راغله، محمود ته يې وويل: قرآن شريف کي خو وګوره، پر دې محمود معترض کېدو سره وويل: صاحبه! په ويلو، ويلو کي دي پنځه دېرش کاله خو تېر شو، تر اوسه د متشابهاتو فرصت نه دی ملاو شوی، ما د ځواني په حالت کي ويلي دي، هغه ټوله راته ياد دي، زيد وويل: پرته له دې ودې، حاصلولو او دنيا ګټلو څخه دي څه د خره خايه (خصيه) ويلي دي، ليکن د دې وروسته زيد وايي: ما دا الفاظ محمود ته د ده د خراب افعالو په وجه وويل نو په دې صورت کي زيد کافر شو که نه؟ او زيد وايي: ما د قرآن په هکله داسي نه دي ويلي. (۱۳۴۱/۱۲۴۱هـ)

جواب: زيد که څه هم سخت الفاظ ويلي دي او ده ته دا ډول نه و پکار ليکن زيد ته دي کافر او مرتد نه وويل شي، ځکه تاويل ممکن دی او پخپله زيد هم د دې اقرار کوي چي د قرآن شريف په هکله مي دا لفظ نه دی ويلی. فقط و الله تعالی اعلم

څوک دا وايي چي قرآن او علم دين ووايي، نو څه فايده به وي، هغه کافر دی که نه؟

سوال: (۴۰۸) څوک د انګريزي ويلو ترغيب، تحريض لپاره د علم دين اهانت کوي او وايي که قرآن ووايي نو څه فايده به وي؟ او علم دين ووايي نو څه نفع به وي؟ دا شان سړی کافر دی که نه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۳۷۲هـ)

جواب: د دا شان سړي بدوالی او فسق ظاهر دی، عمومًا داغه حال جوړ شوی دی چي چا ته کافر ووايي؟ صبر کوه او د الله څخه دعا وکړه او د داسي خلګو څخه جلا اوسېدلو څخه زيات څه وليکل شي. فقط و الله تعالی اعلم

څوک دا ووايي چې زما پر قرآن شریف اعتبار نشته. دی کافر دی که نه؟

سوال: (۴۰۹) زید حلف بالله وايي چې فلانکی کار کوم او قرآن شریف هم پر سر پورته کوي چې خامخا به دا کار کوم، څو ورځې وروسته کله ده ته د کار کولو امر وشو، نو ده وویل: زما پر قرآن شریف اعتبار نشته، آیا په دغه وینا سره دی کافر شو که نه؟ او د ده زوجه مطلقه شوه، که نه؟ (۱۷۹/۳۳-۱۳۳۴ھ)

جواب: په دې کې خو هیڅ شبه او شک نشته چې انکار کول د قرآن شریف کفر دی، لیکن په دې صورت کې تاویل ممکن دي، د دې وجې قایل ته کافر او مرتد نه ویل کیږي، و لو لم ینفعه التاویل فاسق ضرر دی او د کفر له ویرې څخه دې توبه وکاږي او تجدید نکاح وغیره دې وکړي. فقط و الله تعالی اعلم

قرآن شریف ته د ښکنځل کوونکي په هکله څه حکم دی؟

سوال: (۴۱۰) یو سړي قرآن ته مغلظ ښکنځل وکړه، د دې سړي په هکله څه حکم دی؟ (۴۲۴/۳۳-۱۳۳۴ھ)

جواب: د قرآن شریف په هکله داسې کلمه ویل کفر او ارتداد دی، د دې کلمې ویونکی کافر او مرتد دی او نکاح د ده ماته شوه تجدید اسلام دې وکړي او تجدید نکاح دې هم وکړي. فقط و الله تعالی اعلم

قرآن او حدیث نه منونکی کافر او مرتد دی

سوال: (۴۱۱) د یو واده په مناسبت کې پر یو مقام ډېر مسلمانان جمع وو، علماوو له باجې او غزلو څخه منع وکړه چې په قرآن او حدیث کې د باجې او غزلې په هکله سخت ممانعت راغلی دی، دا کار به هیڅکله نه کوئ، مسلمانانو دا جواب ورکړ چې موږ قرآن او حدیث نه منو، بیا کله چې د ناوي کور ته ولاړل، نو د ناوي پلار وویل: باجه مه وهئ، دا د کفارو رسم دی، د دې په جواب کې یې دا وویل: موږ کافران یو، موږ کافران یو، موږ کافران یو، څوک چې زموږ سره تعلق او رشته داري ساتي، هغه هم کافران دي، د دوی لپاره شرعًا څه حکم دی؟ (۱۴۷۰/۱۳۳۵ھ)

جواب: د دوی په کفر کې هیڅ شبه او تردد نشته فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۴۱۲) زید د دوو معتبرو شاهدانو په مخکي خپلي ښځي ته طلاق ورکړی او دوهم ځل يې وويل: ته زما مور يې او دريم ځل يې وويل: ته زما خور يې او بيا يې په مجمع کي وويل چي قرآن او حديث نه منم، زه کافر يم، په دې صورت کي څه حکم دی؟ (۱۳۳۵/۱۲۲۹هـ)

جواب: په دې صورت کي د طلاق د واقع کېدو او د زيد په کافر او مرتد کېدو کي هيڅ تردد نشته، په تجديد ايمان او توبه کولو سره دی مسلمان کيږي، مګر نکاح قائمه نه ده پاته، دوهم ځل نکاح کولای شي. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۴۱۳) زيد له خپلي زوجې سره بې له وجي جنګ کاوی، بکر دی پوه کړی او د قرآن شريف آيت يې ورواېي: پر دې زيد وويل: مور ستا آيت ستا خدای او رسول نه غواړو، اوس په زيد باندي توبه وکاږل شي که نکاح هم راوګرځول شي؟ (۱۳۳۷/۲۳۵هـ)

جواب: دا کلمه چي د زيد له خولې څخه وتلې ده، کلمه د کفر ده، په زيد دي توبه وکاږل شي او تجديد اسلام و تجديد نکاح دي وشي. فقط و الله تعالی اعلم

د قرآن او حديث توهين کفر دی

سوال: (۴۱۴) په يوه جرګه کي د خپل نفاق ليري کولو په غرض زيد څه ثبوت له قرآن شريف او حديث شريف څخه ورکړی او دا يې وغوښتل چي تر منځ نزاع د شريعت موافق ليري شي، پر دې بکر ولاړ شو، زيد ته يې وويل: ته آخوا و دې خوا قرآن او آخوا او دې خوا حديثو څخه دا سبق ورکولو سره خپل مطلب رااېستل غواړې او د داسي سړي په هکله شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۴۵/۱۰۴۳هـ)

جواب: د قرآن شريف او حديث توهين کفر دی لکه په رد المحتار شامي کي دي: و بالجملة فقد ضم إلى التصديق بالقلب أو بالقلب و اللسان فی تحقيق الإيمان أمور الإخلال بها إخلال بالإيمان اتفاقًا کترک السجود لصنم(۱) و قتل نبی و الاستخفاف به و

---

(۱) په شامي او د شرح فقه اکبر په اکثره نسخو کي داغه ډول دي مګر د شرح فقه اکبر پر حاشه باندي چي کومه نسخه ده په هغه کي کالسجود لصنم دی او د دغه اقتباس آخري

بالمصحف و الكعبة (الى أن قال) لأن ذلك دليل على أن التصديق مفقود إلخ(۱) (شامي) نو له دې عبارت څخه واضح شو چې د قرآن شريف توهين او د نبي صلى الله عليه وسلم توهين او د نبي صلى الله عليه وسلم د حديثو توهين كفر دى و العياذ بالله تعالى لهذا دغه سړي ته توبه كنبل پكار دي او ده لره تجديد ايمان و تجديد نكاح ضروري دی. فقط و الله تعالى اعلم

دا ويل كفر دی چې ما د قرآن شريف سره استهزاء وكړه او له مسائل شرعيه څخه منحرف يم

سوال: (۴۱۵) فتح محمد خپلي اراضي قيمتاً پر نور محمد بيع كړې، د بيع پر وخت يې قرآن پورته كړی، دا عهد يې وكړی چې الله او د ده رسول ضامن دی او شاهد دی زه د دې خلاف هيڅكله نه كوم، تر يو مدت پورې د مشتري قبضه پر اراضي وه، د دې وروسته بائع اراضي پر بل چا خرڅي كړې چې كله ده ته وويل شو نو جواب يې وركړی چې د بيع په وخت ما دوكه وركولو سره قيمت ترلاسه كړ او په قرآن شريف مې استهزاء وكړه او له مسائل شرعيه څخه معرض يم، د مذكوره سړي او اراضي او قيمت څه حكم دی؟ (۱۲۲۲/۱۳۳۹ه)

جواب: يو مسلمان ته دوكه وركول او له چا سره معامله بيع كولو سره منحرف كېدل حرام دي او هغه سړی چې مرتكب د دې شوی دی، فاسق دی او د مبيع بيرته نه وركولو په صورت كې قيمت پر ده لازم دی او كه ده صفا دا ويلي دي چې ما په قرآن شريف سره استهزاء كړې ده او له مسائل شرعيه څخه منحرف يم نو دا قول د ده كفر او ارتداد دی و العياذ بالله فقط و الله تعالى اعلم

عبارت: لأن ذلک دليل على أن التصديق مفقود څخه د دې تائيد كيږي، د شرح عقائد لاندې عبارت هم د دې مؤيد دی: و لا نزاع في أن من المعاصي ما جعله الشارع إمارة للتكذيب و علم كونه كذلک بالأدلة الشرعية كسجود الصنم و القاء المصحف في القاذورات (شرح العقائد النسفية، ص: ۸۳، مبحث الكبيرة لاتخرج العبد المؤمن من الايمان، المطبوعة رشيديه، دهلي)

(۱) رد المحتار على الدر: ۳۱۰/۳، كتاب الجهاد، اوائل باب المرتد. ط رشيديه

د قرآن شریف توهین کول صریح کفر دی

سوال: (۴۱۲) د یو سړي ښځي تلاوت کاوه، ده له ښځي څخه خفا کېدو سره د قرآن شریف بې ادبي په لاس او ژبي سره وکړه، دی مسلمان پاته دی که نه؟ او د ده ښځه پر ده حرامه شوه که نه؟ (۱۳۳۹/۱۵۷۴هـ)

جواب: د قرآن شریف توهین او استخفاف کول کفر او ارتداد دی او کفر و ارتداد احد الزوجین موجب فسخ نکاح دی، کما فی رد المحتار: قال فی المسایرة: و بالجملة فقد ضم إلی التصدیق بالقلب أو بالقلب و اللسان فی تحقیق الإیمان أمور الإخلال بها إخلال بالإیمان اتفاقًا، کترک السجود لصنم و قتل نبی و الاستخفاف به و بالمصحف، و الکعبة الخ(۱) فقط و الله تعالی اعلم

دا ویل کفر دی چي په هندوانو او مسلمانانو کي هیڅ فرق نشته. همدا شان د هندوانو په مذهبي کتب او قرآن حکیم کي هیڅ فرق نشته

سوال: (۴۱۷) په وعظ کي د مسلمان قوم او نورو قومونو لکه هندوان اجتماع وي، مسلمانانو ته په مخاطب کېدو سره ویل چي هندوانو او مسلمانانو کي هیڅ فرق نشته، موږ خلګ له خپلو عقائدو جاهلانه څخه په خپل منځ کي تفریق اچوو.

شعر

مه څه د جاهل پر خبرو که ته په دین پوخ یې
د دې کاښي بت خانه د داغه کاښي مکه ده
نعوذ بالله من ذلک

همدا شان په آذان او ناقوس کي هیڅ فرق نشته او د هندوانو مذهبي کتاب له قرآن مجید سره تطابق ورکولو سره ویل کیږي چي د دوی دواړو په حکم کي هیڅ فرق نشته، په دغه صورت کي شرعًا څه حکم دی؟ (۱۲/۱۳۴۰هـ)

جواب: دا کلمات د کفر دي، داسي اعتقاد ساتونکی او داسي اعتقاداتو تعلیم ورکوونکی مسلمان نه دی، کافر او مرتد دی، دغه سړی د پیر جوړولو وړ نه دی او د

(۱) الشامي علی الدر: ۳۱۰/۳، کتاب الجهاد، باب المرتد. ط رشیدیه

عالم ورته ویلو مستحق نه دی، بلکه فاسق او مبتدع بلکه کافر او مرتد دی، مسلمانانو ته د ده له مکائدو څخه احتراز لازم دی او د ده له کلمات کفریه اوریدلو څخه احتراز واجب دی. فقط و الله تعالی اعلم

د قرآن د څلویښتو سیپارو عقیده باطله ده

سوال: (۴۱۸) یو سړی له بدو کارو څخه راوګرځول شي چي په قرآن شریف کي دا خبري حرامي لیکلي دي، هغه سړی جواب ورکوي چي تاسو خلګو د قرآن له څلویښتو سیپارو څخه دېرش سېپارې کړې، لس سېپارې زموږ د مطلب دا مو کښېلې، د داسي سړي د اعتقاد په هکله څه حکم دی؟(۱۳۳۹/۱۸۳۷هـ)

جواب: دا شان اعتقاد ساتل باطل او غلط دی او دغه سړی مکذب دی د قرآن شریف او حدیث او دی سني مسلمان نه دی، له داسي عقیده باطله څخه ده ته توبه کول لازم دي. فقط و الله تعالی اعلم

د قرآن په هکله یوه ډېره ناوړه کلمه کفریه

سوال: (۴۱۹) یو حافظ په تراویح کي قرآن شریف تېز، تېز وایو، خلګو ورته وویل: لږ کرار یې وایه، دا رنګه لمونځ مه خرابوه، ده په خښم ډېر په بې باکۍ کي وویل: که ښه او غوره اورېدل غواړئ نو له دغه ذکر څخه یې واورئ، علماوو په ده توبه او استغفار وکړ، آیا د ده نکاح فسخ شوه که نه؟(۱۳۴۱/۲۸۲۲هـ)

جواب: په دغه صورت کي دغه سړی مرتد او کافر شو او د ده زوجه د ده له نکاح څخه خارجه شوه، وروسته تجدید اسلام او توبه و استغفار د ده نکاح بیا کېدل پکار دي. فقط و الله تعالی اعلم

د قرآن، لمونځ، شریعت او د خنزیر د حرمت منکر کافر دی

سوال: (۴۲۰) یو سړی د قرآن حافظ وایي چي په قرآن شریف او لمونځ کي هیڅ څه نشته، څوک چي پابند شریعت وي، هغه به د قیامت په ورځ روند پورته کیږي او د ده دا هم اعتقاد دی چي په دنیا کي یو شی خنزیر، غول او داسي نور حرام نه دي، د دې علاوه ډېر دغه شان اعتقادات داسي دي، د داسي سړي لپاره شرعًا څه حکم دی؟ د ده شا ته

لمونځ کول او د ده د جنازې لمونځ کول او د ده سره ملاوېدل څرنګه دي؟ (۱۳۴۲/۹۹۷هـ)

جواب: د کوم چا چي عقائد هغه وي کوم چي مذکور دي، قطعًا کافر او ملحد دی، د ده لمونځ او روژه او نور عبادات هيڅ قبول نه دي او د ده سره ملاوېدل او د ده د جنازې لمونځ کول او د ده سره سلام کلام کول، ټول ناجائز دي، د ده تر شا لمونځ صحيح نه دی، که يې وکړي نو لمونځ واجب الاعاده دی، د غه لمونځ بيرته کول پکار دی. فقط و الله تعالی اعلم

دا ويل کفر دی چي زه قرآن او مسجد هيڅ نه پېژنم، په سوو قرآنه داسي ګرځي

سوال: (۴۲۱) محمد بخش او د ده ښځي نومورې بتول کي اختلاف او مقدمه جاري وه چي نومورې بتول محمد بخش ته د بعضي خلکو په ذريعه وويل: که ته ما نه وهې او تکليف نه راکوې، نو زه ستا کور ته راځم، په دې شرط چي ته مسجد ته ولاړ شې او قرآن شريف په لاس کي واخلې، قسم واخلې چي زه هيڅ ډول تکليف نه ورکوم، محمد بخش په جواب کي دا وويل: زه قرآن او مسجد هيڅ نه پېژنم، په سوو قرآنه داسي ګرځي، و العياذ بالله، په دې صورت کي محمد بخش مرتد شو که نه؟ او د ده نکاح فسخ شوه که نه؟ (۱۳۴۲/۱۹۰۲هـ)

جواب: په دغه صورت کي الفاظ مذکوره ويلو سره مذکوره سړی مرتد شو او په ارتداد سره نکاح فسخ کيږي، قال في الدر المختار: و ارتداد أحدهما.... فسخ... عاجل(۱) نو مذکوره سړی دي وروسته تر توبې و تجديد اسلام له نومورې بتول سره نکاح وکړي، بې له تجديد اسلام او تجديد نکاح نومورې پر خپل مېړه محمد بخش حرامه ده. فقط و الله تعالی اعلم

(۱) الدر المختار مع رد المحتار: ۴۲۵/۲، کتاب النکاح، باب نکاح الکافر، مطلب الصبي و المجنون ليسا بأهل لإيقاع طلاق بل للوقوع. ط رشيديه

زه ستا پر قرآن شریف بولي کوم. ویل کفر دی

سوال: (۴۲۲) د زید او هندې دعوی وشوه، هندې وویل: زه قرآن را اخلم، بد دعا کوم، زید وویل: زه ستا پر قرآن بولي کوم، نعوذ بالله من ذلک، په دې صورت کې څه حکم دی؟ (۱۳۴۲/۲۲۲۴هـ)

جواب: په دې صورت کې زید کافر او مرتد شو او د ده نکاح د ده له زوجې سره ماته شوله او فسخ شوله، کما فی الدر المختار: و ارتداد أحدهما ... فسخ... عاجل إلخ(۱) فقط و الله اعلم

د قرآن شریف په هکله د سپکتیا ډک کلمات ویل

سوال: (۴۲۳) کمال الدین جلد ساز د اهل اسلام په مجمع عام کې دا کلمات وویل چې زه قرآن شریف هیڅ شی نه بولم، ده ته اور وراچولای شم، د څو خلکو شاهدي منسلک ده، د دا شان سړي لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۴۳/۲۰۰۲هـ)

جواب: د قرآن شریف په هکله د سپکتیا ډک کلمات ویل کفر دی، لیکن که کمال الدین انکار کوي، نو دا انکار د ده توبه ګڼل کیږي، ده ته توبه او استغفار پکار دی او تجدید ایمان دې وکړي، وروسته تر توبې او استغفار او تجدید ایمان به ده ته هیڅ نه ویل کیږي او دی به مسلمان ګڼل کیږي او تعلق به ورسره ساتل کیږي او که هغه سړی له توبې و استغفار او تجدید ایمان څخه انکار وکړي، نو بیا له ده څخه قطع تعلق کیږي. فقط و الله تعالی اعلم

و قرآن شریف ته درواغ ویونکی مرتد او کافر دی

سوال: (۴۲۴) یو سړی موجوده قرآن مجید ته درواغ وایي او دا چې پر دې عمل کول صحیح نه دی، د دې سړي لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۴۵/۲۱۲۳هـ)

جواب: څوک چې موجوده قرآن شریف ته درواغ وایي، هغه مرتد او کافر دی او هغه له دائره د اسلام څخه خارج شو، ترڅو پورې چې توبه، استغفار او تجدید اسلام ونه کړي، تر هغه وخته د ده سره ملاوېدل صحیح نه دي، ټول تعلقات دې منقطع شي. فقط و الله تعالی اعلم

لمونځ پرېښودونکی کافر دی که نه؟

سوال: (۴۲۵) لمونځ پرېښودونکی کافر دی که نه؟ یعني خارج از اسلام. زید وايي چي لمونځ پرېښودونکی کافر خارج از اسلام دی، د دې وجي چي رسول مقبول صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمايلی دی: العهد الذي بيننا و بينهم الصلاة. فمن تركها فقد كفر(۱) همدا شان ارشاد دی: أنه ذكر الصلاة يوما فقال: من حافظ عليها كانت له نورًا و برهانًا و نجاةً يوم القيامة، و من لم يحافظ عليها لم تكن له نورًا و لا برهانًا و لا نجاةً و كان يوم القيامة مع قارون و فرعون و هامان و أبی بن خلف(۲) او له ابو الدرداء رضی الله عنه څخه روايت دی: قال: أوصانی خليلي أن لا تشرک بالله شيئًا و إن قطعت و حرقت و لا تترک صلاة مكتوبة متعمدًا فمن تركها متعمدًا فقد برئت منه الذمة إلخ(۲) او وارد دي: و عن عمر بن الخطاب رضی الله عنه أنه كتب إلی عماله إن أهم اموركم عندي الصلاة، من حفظها و حافظ عليها، حفظ دينه، و من ضيعها فهو لما سواها أضيع(۳) (مشكاة كتاب الصلاة) ارشاد رسول هم دی: ليس بين العبد و الشرک إلا ترک الصلاة، فإذا تركها فقد أشرک(۴) (ابن ماجة) همدا شان ارشاد خداوند دی: و أقيموا الصلوة و لا تكونوا من المشركين(سورة روم، آيت: ۳۱) او زيد هم وايي چي ملا علي قاري په مرقاة کي او شيخ عبد الحق دهلوي په لمعات کي و لمونځ پرېښودونکي ته د کافر او خارج از اسلام فتوی ورکړې ده او همدا شان حضرت عمر، و ابن مسعود و عبد الله بن شقيق او نورو کافر و لا حظ له فی الاسلام ويلي دي او امام اعظم رحمة الله عليه هم کافر فرمايلي دي چي عمدًا داسي عمل د اهل کفر دی، حماد بن زيد و مكحول و مالک و شافعي

---

(۱) عن بريدة رضی الله تعالی عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: العهد، الحديث(جامع الترمذي: ۹۰/۲ أبواب الإيمان، باب ما جاء فی ترک الصلاة)

(۲) مشكاة المصابيح، ص: ۵۸-۵۹، كتاب الصلاة، قبيل باب المواقيت، الفصل الثالث

(۳) مشكاة المصابيح، ص: ۵۹، كتاب الصلاة، قبيل باب المواقيت، الفصل الثالث

(۴) عن أنس بن مالک رضی الله عنه عن النبی صلی الله عليه وسلم قال: ليس بن العبد الحديث(سنن ابن ماجة، ص: ۷۵، أبواب إقامة الصلوات و السنة فيها، باب ما جاء فيمن ترک الصلاة)

لمونځ پرېښوونکي ته مرتد ويلي دي، نو لمونځ پرېښوونکی کافر شو، عمر وايي چي لمونځ پرېښوونکی کافر نه د، ځکه چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: من قال لا إله إلا الله دخل الجنة(۱) دغه شان يو صحابي يو سړی په داسي حال کي قتل کړی چي هغه کلمه ويلې وه، نبي صلی الله عليه وسلم په غصه شو او له صحابي څخه پوښتنه وشوه نو هغه جواب ورکړ چي يا رسول الله! هغه د ځان خلاصولو لپاره کلمه ويلې وه، په حقيقت کي هغه کافر و، نو ده ورته وويل: أفلا شققت عن قلبه(۲) له دې څخه ثابتيږي چي هغه کافر نه دی، مؤمن ضرور دی او د داسي روژه قبوله ده، زيد وايي چي من قال لا اله الا الله د مړ کېدو د وخت لپاره دي، د دې تصريح دوهم حديث کوي(۳) او همدا شان نبي صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چي د جنت د قلف لپاره کيلي پکار ده، لا اله الا الله د دې کيلي ده، خو کيلي غاښي غواړي نو ارکان د اسلام يې غاښي دي بيله غاښي کيلي بېکاره ده، د دې وجي بغير ارکان کلمه بېکاره ده(۴) په عقائدو کي هم ښودل

(۱) جامع الترمذي: ۹۲/۲، أبواب الإيمان، باب ما جاء في من يموت و هو يشهد أن لا إله إلا الله

(۲) عن أسامة بن زيد ... قال: بعثنا رسول الله صلى الله عليه وسلم في سريتو فصبحنا الحرقات من جهينة فأدركت رجلاً، فقال: لا إله إلا الله فطعنته فوقع في نفسي من ذلك فذكرته للنبي صلى الله عليه وسلم، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: أقال: لا إله إلا الله و قتلته؟ قال: قلت: يا رسول الله! إنما قالها خوفاً من السلاح، قال: أفلا شققت عن قلبه الحديث(الصحيح المسلم: ۶۷/۱-۶۸، كتاب الإيمان، باب تحريم قتل الكافر بعد قوله لا إله إلا الله)

(۳) د دغه حديث شريف تخريج د کتاب الايمان د **سوال**: (۱۸) په جواب کي وګورئ.

(۴) عن وهب بن منبه قيل له أليس لا إله إلا الله مفتاح الجنة؟ قال: بلى، و لكن ليس مفتاح إلا و له أسنان، فإن جئت بمفتاح له أسنان فتح لك و إلا لم يفتح لك، رواه البخاري في ترجمة باب (مشكاة المصابيح، ص: ۱۴، كتاب الإيمان، الفصل الثالث، و صحيح البخاري: ۱۲۵/۱، أوائل كتاب الجنائز)

شوي دي چي ایمان و اسلام یو دی(۱) چا چي لمونځ پرېښودی هغه کافر دی، نه مؤمن، نه مسلمان، د دې بغیر یو عمل د خدای په نزد مقبول نه دی، که رژه وي که زکاة، زید پخپل قول کي رښتونی دی که عمر؟ او تارک الصلاة کافر دی که نه؟ او د لمونځ پرېښوونکي روژه مقبوله ده که نه؟ (۴۳۲/۳۳-۱۳۳۴ھ)

جواب: د عمر قول صحیح دی، تارک ضلاة فاسق او عاصي دی، کافر نه دی او په احادیثو کي چي کوم وعید وارد دی، د هغه حدیثو تأویل شوی دی، د زید قول صحیح نه دی، ملا علي قاري په مرقاة شرح مشکاة کي تر حدیث: بین العبد و بین الکفر ترک الصلاة(۲) لاندي تحریر کوي: ثم من التأویلات أن یکون مستحلا لترکها او ترکها یؤدي إلی الکفر فإن المعصیة یزید الکفر أو یخشی علی تارکها أن یموت کافرًا أو فعله شابه فعل الکافر(۳) او په شرح فقه اکبر کي دي: و لا نکفر إلخ أی لا ننسب إلی الکفر مسلما بذنب من الذنوب أی بارتکاب معصیة کثیرة و إن کانت کبیرة أی کما یکفر الخوارج مرتکب الکبیرة إذا لم یستحلها أی لکن إذا لم یکن یعتقد حلتها لأن من استحل معصیة قد ثبت حرمتها بدلیل قطعي فهو کافر، و لا نزیل عنه اسم الإیمان أی و لا نسقط عن المسلم بسبب ارتکاب کبیرة وصف الإیمان کما یقوله المعتزلة إلخ(۴) فقط و الله تعالی اعلم

(۱) کما قال الله تعالی: فاخرجنا من کان فیها من المؤمنین، فما وجدنا فیها غیر بیت من المسلمین (سورة ذاریات، ایت: ۳۵-۳۶) و صفهم الله بالإیمان و الإسلام جمیعًا لأنه ما من مؤمن إلا و هو مسلم (معالم التنزیل کامل، ص: ۸۴۹)

(۲) عن جابر رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: بین العبد الحدیث رواه مسلم (مشکاة المصابیح، ص: ۵۸، کتاب الصلاة، الفصل الاول)

(۳) مرقاة المفاتیح ۲۵۴/۲، اوائل کتاب الصلاة، الفصل الاول، رقم الحدیث: ۵۷۹.

(۴) شرح الفقه الاکبر، ص: ۸۲، قبیل سب الشیخین إلخ، مطبوعة: مطبع مجتبائي دهلي.

سوال: (۴۲۲) یو امام مسجد وایي چي تارک صلاة کافر دی او په دلیل کي من ترک الصلاة متعمدًا فقد کفر(۱) پېش کوي او حدیث العهد الذي بیننا و بینهم ترک الصلاة فمن ترکها فقد کفر(۲) او نور وړاندي کوي، آیا تارک صلاة کافر دی که نه؟ (۱۳۴۳/۲۴۸هـ)

جواب: مسئله شرعیه دا ده چي د بې لمانځه مسلمان د جنازې لمونځ کول پکار دي، ځکه چي لمونځ پرېښوونکی فاسق دی، کافر نه دی، لکه له آیت: الذین یؤمنون بالغیب و یقیمون الصلوة (بقره، آیت: ۳) ښخه معلومېږي، ځکه چي عطف د مغایرت لپاره وي، له دې ښخه معلوم شو، که څوک لمونځ نه کوي، نو له ایمان ښخه خارج نه دی، ځکه ایمان خو صرف د تصدیق قلبي نوم دی، یعني کوم سړی پر الله یقین وکړي او ذ رسالت تصدیق وکړي او کوم امور په ایمان کي شرط دي، هغه ومني، نو دی مؤمن او مسلمان دی، ده ته کافر نه دي ویل پکار، لکه په حدیث شریف کي وارد دي: لا تکفره بذنب(۳) او د فاسق د جنازې د لمانځه کولو حکم په دې حدیث کي دی: صلوا علی کل بر و فاجر الحدیث(۴) لنده دا چي دا مسئله امام مذکور غلطه ښودلې ده چي بې لمانځه مسلمان نه دی، مګر بې لمانځه سخت عاصي او ګنهکار دی او فاسق دی، مګر کافر نه دی، د حنفیه وو داغه مذهب دی او حنفیه وو د احادیث: من ترک الصلاة متعمدًا فقد کفر(۵)

---

(۱) عن أنس بن مالک رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من ترک الصلاة متعمدًا فقد کفر جهارًا (المعجم الأوسط للطبراني: ۲۹۹/۲، باب الجیم، من اسمه جعفر، رقم الحدیث: ۳۳۴۸، المطبوعة: دار الکتب العلمیة، بیروت، و مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح: ۱۳۲/۱، کتاب الإیمان، الفصل الاول، رقم الحدیث: ۴)

(۲) په مخکني جواب کي د دغه حدیث شریف تخریج وګورئ ۱۲

(۳) د دغه حدیث تخریج د کتاب الایمان د **سوال:** (۳۲) په جواب کي وګورئ ۱۲

(۴) د دغه حدیث تخریج د کتاب الایمان د **سوال:** (۱۹۹) په جواب کي وګورئ ۱۲

(۵) عن أنس بن مالک رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من ترک الصلاة متعمدًا فقد کفر جهارًا (المعجم الأوسط للطبراني: ۲۹۹/۲، باب الجیم، من اسمه

او نوور کي دا تأويل کړی دی چي دا سړی کفر ته نژدې شو ، دا نه چي بالکل کافر شو. فقط و الله تعالی اعلم

د لمانځه د فرضيت منکر کافر دی

سوال: (۴۲۷) زيد د لمانځه تارک او منکر هم دی چي دا طريقه معروفه په قرآن پاک کي ليکلې نه ده، د صلاة معنی مختلف ده، په حديث کي خو د غلطي احتمال شته، لهذا د دې اعتبار نشته، خلکو ته وايي چي دغه ولاړه ناسته فضول ده، په دې کي وخت مه ضائع کوئ، شرعًا د داسي سړي څه حکم دی، که دی توبه ونکړي؟ (۱۲۴۵/۱۳۴۰هـ)

جواب: د لمانځه فرضيت له قرآن شريف او حديث مشهور او اجماع امت څخه ثابت دی چي دلايل قطعيه دي او د دليل قطعي منکر کافر کيږي، لهذا کوم سړی چي د لمانځه د فرضيت منکر وي، هغه کافر دی، په درمختار کي دي: و يكفر جاحدها لثبوتها بدليل قطعي و تاركها عمدًا مجانة أي تكاسلاً فاسق(۱) او هيئت کذائيه د لمانځه او د تعداد رکعات ثبوت هم په قطعي دول متوارث دی او د حديث قطعي انکار کول کفر دی، قال الله تعالى: أطيعوا الله و أطيعوا الرسول(۲) او په حديث کي دي: قال عليه الصلاة و السلام: لا ألفين أحدكم متكئًا على أريكته يأتيه الأمر من أمري مما أمرت به أو نهيت عنه، فيقول: لا ندري ما وجدنا في كتاب الله اتبعناه(۳) فقط

سوال: (۴۲۸) که يو سړی از روی تحقير ووايي چي د جمعې لمونځ د شر او فساد لمونځ دی، نو څه حکم دی؟ (۷۸۰/۱۳۴۰هـ)

جواب: دا کلمه د کفر ده او دغه سړی کافر او مرتد دی و العياذ بالله تعالى. فقط و الله تعالى اعلم

جعفر، رقم الحديث: ۳۳۴۸، المطبوعة: دار الكتب العلميه، بيروت، و مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح: ۱۳۲/۱، كتاب الإيمان، الفصل الاول، رقم الحديث: ۴)

(۱) الدر المختار مع الشامي: ۲۵۹/۱، أوائل كتاب الصلاة. ط رشيديه

(۲) سورة نساء، آيت: ۵۹، سورة نور، آيت: ۵۴، سورة محمد، آيت: ۳۳.

(۳) عن عبيد الله بن أبي رافع عن أبيه رضي الله تعالى عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: لا ألفين أحدكم الحديث(سنن ابي داؤد، ص: ۲۳۵، كتاب السنة، باب في لزوم السنة)

سوال: (۴۲۹) زید چي مدعي اسلام دی، د دې امر قائل دی چي لمونځ کوونکی کافر دی، د علماوو د غلطي په وجه دا لمونځ ایجاد شو، کنې په شریعت کي یو ځای هم د دې نوم و نښان نشته، د الله یاد او د ده عبادت په زړه کي پکار دی، د دا شان سړي لپاره او کوم چي د ده خیال والا دی، د دوی لپاره شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۴۱/۲۵۲۷ھ)

جواب: مذکور سړی او د ده اتباع او د ده هم عقیده خلکو په کفر و ارتداد کي هیڅ شبه او تامل نشته، د دوی سره معامله د کافر و مرتدین په شان پکار ده او اهل اسلام دي دوی له خپل جماعت څخه جلا کړي او د دوی سره دي هیڅ تعلق نه ساتي. فقط و الله تعالی اعلم

دا ویل کفر دی چي که په لمانځه سره مسلماني ده، نو زه یې کافر

سوال: (۴۳۰) زید ته چا وویل ته مسلمان شه، تا ته لمونځ کول پکار دي، ته څنګه مسلمان یې چي لمونځ نه کوې؟ ! ده صفا دا وویل که په لمانځه سره مسلماني ده، نو زه یې کافر یا یو سړی دا وایي: څه، څه ! ته غټ لمونځ کوونکی یې، ته جنت ته ولاړ شه، موږ به دوږخ کي اوسیږو، دا شان خلګ مسلمانان دي، که کافران؟ (۱۳۳۹/۱۲۰ھ)

جواب: دا کلمه د کفر ده، دغه سړی کافر شو، ده ته توبه و تجدید اسلام کول لازم دي. فقط و الله اعلم

دا ویل چي کوم خوند په سماع کي راځي، هغه خوند په لمانځه کي نه راځي، څرنګه دي؟

سوال: (۴۳۱) که یو سړی دا سي ووایي چي تر پنځه وخته لمونځ سماع بهتر ده، کوم خوند چي په سماع کي راځي، هغه په لمانځه کي نه راځي، تر دغه لمانځه هغه سماع بهتره ده، د دا شان سړي په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۵۱۱ھ)

جواب: دا کلمات چي د دغه سړي دي، د کفر کلمات دي، الله تعالی دي له دغه شان جهالت څخه محفوظ وساتي، که هر څومره د دغه و قائل ته کافر نه وویل شي، په سبب ګنجائش د تأویل احتیاطًا لیکن د ده په جاهل و بدعتي کېدو کي هیڅ تامل نشته، دغه سړی مخالف شریعت دی، د ده له صحبت څخه احتاز لازم دی او بالکل متارکت د ده لازم دی. فقط و الله تعالی اعلم

دا ویل چي پنځه وخته لمونځ کولو سره ځوک جنت ته تللی دی، څنګه دی؟

سوال: (۴۳۲) که زید دا ووایي چي زه فقط دري وخته لمونځ کوم، دا کافي دي او پنځه وخته لمونځ کولو سره څوک جنت ته تللی دی؟ د زید شرعًا څه حکم دی؟ (۱۱۰۳/۱۳۳۹هـ)

جواب: دا د سختي ګناه خبره ده او په دې کي خوف د کفر دی. فقط و الله تعالی اعلم

بې اودسه لمونځ کوونکی کافر دی که نه؟

سوال: (۴۳۳) کوم سړی چي بغیره اوداسه لمونځ وکړي، پر ده څه حکم دی؟ (۱۸۹۲/۱۳۴۰هـ)

جواب: د دې په کفر کي اختلاف دی او صحیح عدم تکفیر دی(۱) مګر دغه سړی فاسق و عاصي دی، توبه دي وکاږي(۲) فقط و الله تعالی اعلم

چاته د لمانځه په حالت کي قطره راځي، هغه که په هغه حالت کي لمونځ پوره کړي، نو څه حکم دی؟

سوال: (۴۳۴) د یو سړي د قطرې مرض دی، اکثره د لمانځه په وخت کي قطرې ورته راځي، که د لمانځه په وخت کي شبه ورته راشي، نو د لمانځه وروسته یې ګوري، که قطره راغلې وه، نو لمونځ راګرځوي، که نه وه راغلې، نو یې نه راګرځوي، کله داسي هم کیږي چي شبه پیدا کیږي او دوه رکعته په ښه طریقه سره کولو وروسته په آخر کي

(۱) قلت: و به ظهر أن تعمد الصلاة بلا طهر غیر مکفر کصلاته لغیر القبله أو مع ثوب نجس و هو ظاهر المذهب کما فی الخانیة و فی سیر الوهبانیة: و فی کفر من صلی بغیر طهارة مع العمد خلف فی الروایات یسطر و فی الشامی: قوله (خلف) أی اختلاف بین أهل المذهب و المعتمد عدم التکفیر کما هو ظاهر المذهب (الدر المختار و الشامی: ۲۰/۱، أوائل کتاب الطهارة. ط رشیدیه)

(۲) او په فتاوی عالمګیري کي دي: ما کان فی کفره اختلاف، فإن قائله یؤمر بتجدید النکاح و بالتوبة و بالرجوع عن ذلک بطریق الاحتیاط إلخ (الفتاوی الهندیه: ۲۸۳/۲، کتاب السیر، قبیل الباب العاشر فی البغاة)

قطره راځي، نو يې پوره کوي، په داسي حالت کي بې له اودس کېدو له وجي پر ده ګناه او کفر خو نه راځي؟ (۱۲۱۷/۴۴ـ ۱۳۴۵هـ)

جواب: دی نه ګناهکاريږي او نه پر ده کفر راځي. فقط و الله تعالى اعلم

د لمانځه د سپکاوي کوونکي حکم

سوال: (۴۳۵) د قومي جرګې يو سړي وويل تاسو څومره قدر د کورني معاملاتو اهتمام کوئ، که دومره قدر لمانځه، روژې يا نورو امور شرعيه وو طرف ته توجه وکړئ، نو څومره کورونه به لمونځ کوونکي شي، پر دې خبره د جرګې مشر جواب ورکړی چي تاسو د جرګې او لمانځه او نورو مقابله کوئ، آيا خاص د لمانځه کولو سره سړی مسلمان کيږي، موږ پر دې شرط لګوو چي که يو مولوي صاحب دا ثابته کړي نو زه لس زره روپۍ ورکوم، کنې نو ستا څخه يې اخلم، اوس سوال دا دی چي د ذکر شوي مشر دا قول صحيح دی که نه؟ (۷۴۱/۱۳۴۵هـ)

جواب: د جرګې د مشر دا قول لغو دی او غلط دی، بلکه په دې کي خوف د کفر دی چي ده د لمانځه توهين وکړی، نبي صلى الله عليه وسلم لمانځه ته د دين ستن ويلي دي(۱) چا چي د لمانځه پرواه نه وکړه، ګويا هغو د دين ستن ونړوله او پر ترک صلاة باندي په حديث کي د کفر لفظ راغلی دی من ترک الصلاة متعمداً فقد کفر(۲) يعني چا چي قصداً لمونځ پرېښودی، هغه کافر شو، نو که څه هم حنفيه تارک صلاة ته کافر نه وايي او د حديث مذکور تاويل کوي، ليکن د ده په فاسق کېدو کي هيڅ شبه نشته او د لمانځهٔ توهين کوونکی يا سپک ګڼلو سره لمونځ پرېښودونکی په اتفاق سره کافر دی

(۱) أخبرنا أبو عبد الله الحافظ أنا أبو حامد أحمد بن محمد ... ثنا زكريا ... النيسابوري، ثنا يحيى بن يحيى أنا وهب بن جرير ثنا شعبة عن قتادة عن عكرمة عن عمر رضى الله عنه قال جاء رجل، فقال يا رسول الله! أي شيئ أحب عند الله في الإسلام؟ قال الصلاة لوقتها، و من ترك الصلاة فلا دين له و الصلاة عماد الدين قال ابو عبد الله عكرمة لم يسمع من عمر وأظنه أراد عن ابن عمر (شعب الإيمان للبيهقي: ۳۹/۳، باب الحادي و العشرون من شعب الإيمان و هو باب في الصلاة رقم الحديث ۲۸۰۷ المطبوعة دار الكتب العلمية بيروت)

(۲) د دغه حديث تخريج د كتاب الإيمان په سوال (۴۲۲) كي وګورئ ۱۲

او داغه تاویل د حدیث مذکور دی، نو د مشر قول بالکل د بې دینۍ دلیل دی او ګویا لمونځ د ده په نزد د اهتمام وړ نه دی و العیاذ بالله تعالی. فقط و الله تعالی اعلم

فرض لمانځه ته لغو او فضول ویل کفر دی

سوال: (۴۳۲) خلاصه د سوال دا ده چې زید خپله زوجه هنده له فرض لمانځه څخه په وار، وار راګرځولې ده چې لمونځ هیڅ شی نه دی، لغو او فضول دی، ترڅو زه ژوندی یم، لمونځ هیڅکله نه کوم، په دغه صورت کې زید کافر شو که نه؟ په شرح عقائد نسفي کې دي: استحلال المعصیة.. کفر... و الاستهانة بها کفر و الاستهزاء علی الشریعة کفر إلخ(۱) (۱۳۴۵/۱۲۱۷هـ)

جواب: بېشکه استخفاف او استهزاء په لمانځه سره کفر دی او په حکم و ارتد أحدهما ... فسخ ... عاجل إلخ(۲) (در مختار) نکاح د زید د هندې سره فسخ شوه. فقط و الله اعلم

دا ویل چې د پیر د کار مخته لمونځ هیڅ شی نه دی، موجب کفر دی

سوال: (۴۳۷) زید د یو سړي مرید دی او د زید دا اعتقاد دی او دا قول دی چې د پیر له کار مخته لمونځ هیڅ شی نه دی، د زید دا اعتقاد شرعًا څرنګه دی؟ او د زید په هکله شرعًا څه حکم دی؟ د زید ګواهي معتبره ده که نه؟ (۵۳۵/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: د زید دا قول زندقه او کلمات کفریه څخه دي، ټول هغه الفاظ چې په هغه سره د دین یا د هغه د یو رکن توهین وي، یا د استخفاف په ډول وویل شي موجب للکفر دی معاذ الله منه، بلکه بعض فقهاء رحمهم الله پر داسي بې باکه او بې لګامه خلګو د کفر حکم لګولی دی، زید ته له داسي هتک آمز او جاهلانه الفاظو او داسي مهلک اعتقاد څخه فورًا توبهٔ کښل پکار ده، ترڅو تایب شوی نه وي، د ده ګواهي معتبره نه ده، دغه شان پیر پرستي ته شرک ویل کېدای شي، و فی الخلاصة: یکفر بقوله أنا بریء

---

(۱) شرح العقائد النسفیة، ص: ۱۲۷، مبحث رد النصوص کفر الخ.

(۲) الدر المختار مع رد المحتار: ۴۲۵/۲، کتاب النکاح، باب نکاح الکافر، مطلب الصبی و المجنون لیسا بأهل لإیقاع طلاق بل للوقوع. ط رشیدیه

من الثواب و العقاب إلخ(۱) (بحر) و فی المسایرة: ... کفر الحنفیة بألفاظ کثیرة و أفعال تصدر من المتهتکین لدلالتها علی الاستخفاف بالدین إلخ(۲) (البحر الرائق: ۵) و فی العالمغیریة نقلاً عن المحیط: إذا ترک الرجل الصلاة استخفافا بالجماعة بأن لا یستعظم تفویت الجماعة إلخ أو مجانة أو فسقا لا تجوز شهادته(۳) فقط و الله تعالی اعلم

آیا فقراء د ترک صلاة له وعید څخه خلاص دي؟

سوال: (۴۳۸) فقراء کوم چي لمونځ نه کوي، له هغو څخه به په آخرت کي مواخذه وي که ورتېربدل او معافي ورکول کیږي؟ (۱۳۳۷/۹۹۷ه)

جواب: پر ترک صلاة باندي کوم وعید شدید او عذاب او مؤاخذه وارده ده(۴) له هغه څخه فقراء ذي هوش و حواس بري کېدای نشي. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) البحر الرائق: ۲۰۹/۵، کتاب السیر، باب أحکام المرتدین

(۲) البحر الرائق: ۲۰۲/۵، کتاب السیر، أول باب أحکام المرتدین

(۳) الفتاوی الهندیة: ۴۲۲/۳، کتاب الشهادات، الباب الرابع فی من تقبل شهادته و من لا تقبل الفصل الثانی فیمن لا تقبل شهادته لفسقه

(۴) عن عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم: أنه ذکر الصلاة یومًا فقال: من حافظ علیها کانت له نورًا و برهانًا و نجاة یوم القیامة و من لم یحافظ علیها لم تکن له نورًا و لا برهانًا و لا نجاة و کان یوم القیامة مع قارون و فرعون و هامان و أبی بن خلف رواه احمد و الدارمي و البیهقي فی شعب الإیمان

و عن عبد الله بن شقیق قال: کان أصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم لا یرون شیئًا من الأعمال ترکه کفر غیر الصلاة، رواه الترمذی

و عن أبي الدرداء رضی الله عنه قال: أوصاني خلیلي أن لا تشرک بالله شیئًا و إن قطعت و حرقت و لا تترک صلاة مکتوبة متعمدًا فمن ترکها متعمدًا فقد برئت منه الذمة و لا تشرب الخمر فإنها مفتاح کل شر، رواه ابن ماجة (مشکاة المصابیح، ص: ۵۸-۵۹، کتاب الصلاة قبیل باب المواقیت، الفصل الثالث)

د حضرت آدم و حواء علیهما السلام د نکاح انکار کول

سوال: (۴۳۹) یو سړی د حضرت آدم و حواء د نکاح منکر دی، له دغه انکار څخه پر حضرت رسول کریم صلی الله علیه وسلم او د ټولو انبیاء پر نسب طعن کیږي که نه؟ د داسي سړي په هکله کوم چي په شفا کي دي: من سب النبی صلی الله علیه وسلم او عابه او ألحق به نقصًا فی نفسه او نسبه او دینه او خصلة من خصاله او عرض به او شبهه بشيء علی طریق السب له او الإرزاء علیه او التصغیر بشأنه او الغض منه او العیب له فهو ساب له و الحکم فیه حکم الساب یقتل(۱) او د حلبي دغه عبارت: من قذف أم النبی صلی الله علیه وسلم یقتل و لا توبة له صحیح دی که نه؟ (۱۱۵۷/۱۳۳۷هـ)

جواب: دا خو ظاهره ده او له نصوص قطعیه څخه ثابته ده چي حواء زوجه ده د حضرت آدم علی نبینا و علیه الصلاة و السلام، لکه په متعدد آیاتو کي دې ته زوجه ویلي دي: ویا آدم اسکن أنت و زوجک الجنة(سورة اعراف، آیت: ۱۹) و خلق منها زوجها(سورة نساء، آیت: ۱) و جعل منها زوجها لیسکن إلیها(سورة اعراف، آیت: ۱۸۹) باقي دا خبره چي په دې کي په طریقه د ایجاب و قبول و تعیین مهر و حضور شاهدین عقد نکاح شوي و لکه چي معروف دي یا دا چي حق تعالی حضرت حواء د حضرت آدم له چپه پښتۍ څخه پیدا کولو سره(۲) دا ورته وویل چي ای آدمه! دا ستا زوجه ده او له دې

---

(۱) الشفاء بتعریف حقوق المصطفی، ص: ۲۲۸، القسم الرابع، الباب الأول فی بیان ما هو فی حقه علیه الصلاة و السلام إلخ، المطبوعة: المطبع العالي نول کشور، کانفور.

(۲) دا خبره ډېره مشهوره ده مګر له یو صحیح حدیث څخه ثابته نه ده، په تحفة القاري شرح صحیح البخاري کي دي: د و خلق منها زوجها(سورة نساء، آیت: ۱) چي کوم تفسیر کیږي چي حضرت حوا رضی الله عنها د حضرت آدم علیه السلام له پښتۍ څخه پیدا شوه، دا تفسیر د اسرائیلي روایاتو په رڼا کي کیږي، په بائبل کي نن هم داغه مضمون شته مګر صحیح روایت دا دی چي اوس راروان دی مګر په هغه کي د شځي د تخلیق بیان نه دی بلکه په نسواني فطرت کي کوم کوږوالی دی د هغه تمثیل دی او په روح المعاني کي د سورة النساء د لومړي آیت د تفسیر په حاشیه کي د یو غټ تابعي قول ذکر کړی دی: خلقت حواء من بقیة طینة آدم: یعني د حضرت آدم علیه السلام لپاره کومه خټه تیاره شوې وه، د هغه له پاته خټو

ښځه حوا پیدا کړه، بلکه د ټولو انواعو تخلیق دغه شان وشو، د نوع لومړي دوه فرد له خټو ښځه پیدا کړل شوه، بیا په دوی کې د توالد و تناسل سلسله قائم کړه(تحفة القاري شرح صحیح البخاري ۵۳۲/۲-۵۳۷، کتاب الانبیاء، د آدم علیه السلام او د ده د ذریت تخلیق)...
د تابعي قول کوم چې پورته تذکره راغلې ده دا دی: و قیل: إنها خلقت من فضل طینته و نسب للباقر آه منه، (روح المعاني: ۱۸۱/۲، المطبوعة: دار الفکر بیروت) د تحفة القاري په سابقه عبارت کې چې د کوم صحیح روایت ذکر راغلی دی، هغه مع ترجمه و تشریح لاندې دی:
عن ابي هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: استوصوا بالنساء خیراً، فإن المرأة خلقت من ضلع و إن أعوج شیئ في الضلع أعلاه فإن ذهبت تقیمه کسرته و إن ترکته لم یزل أعوج فاستوصوا بالنساء(انظر: ۵۱۸۴-۵۱۸۶) (صحیح البخاري: ۴۶۹/۱، کتاب الأنبیاء، باب خلق آدم و ذریته)
ترجمه: نبي صلی الله علیه وسلم وویل: د ښځو سره په ښه رویه کولو کې زما وصیت قبول کړئ، ځکه چې ښځه له پښتۍ ځخه پیدا شوې ده او په پښتیانو کې تر ټولو کږه لوړه پښتۍ ده، نو که پښتۍ سیده کول وغواړئ، نو به یې ماته کړئ، که یې کږه پرېږدئ، نو کږه به پاتې وي، نو د ښځو سره په ښه رویه کولو کې زما وصیت قبول کړئ.
تشریح: په دغه حدیث کې په نسواني فطرت کې کوم کوږوالی دی، د هغه تمثیل دی، د پښتۍ په مثال سره ورښودلی دی، په پښتۍ کې کوږوالی فطري دی، هغه هیڅکله نشي ختمېدای، که څوک د هغه سیده کول وغواړي، نو ماتېږي، داغه حال د صنف نساء دی، د دوی په فطرت کې کوږوالی دی، هیڅکله نشي وتلای، له دې وجې دا خبره مخته ساتلو سره د ښځې سره معامله کول پکار دي، د ښځې له کوتاهیانو ځخه ورتېرېدل پکار دي، د دې له نامناسبه خبرو ځخه نظر اړول پکار دي، بیا ګزاره کېدای شي، که څوک غواړي چې ښځه سیده کړي، نو دا ناممکنه ده، دا نشي سیده کولای، بلکه ماتوي به یې او د ښځې ماتول دا دي چې د طلاق نوبت راشي، نو تر دې ښه د نرمي معامله کول دي .
فایده: دغه حدیث د انا حضرت حواء رضی الله عنها سره یو ځای کړې ده چې دا د حضرت آدم علیه السلام له پښتیانو ځخه له یو پښتۍ ځخه پیدا شوې ده مګر په حاشیه کې دا په قیل سره ذکر شوې ده یعني دا ضعیف قول دی صحیح خبره هغه ده چې پورته بیان شوه او په حاشیه کې د قاضي بیضاوي په حواله سره لیکلي دي: إنهن خلقن خلقاً فیهن إعواجاج فکأنهن خلقن من أصل معوج، کالضلع مثلاً، فلا یتهیأ انتفاع بهن إلا بالصبر علی إعوجاجهن: د ښځو جوړوالی داسې دی چې په دوی کې کوږوالی دی نو ګویا ښځې له کوږ

سره نکاح وشوه او دوی دواړه زوجین شوه او داغه صورت ثانیه اظهر دی. داسي دی لکه د نبي صلی الله علیه وسلم نکاح له حضرت زینب رضی الله عنها سره پر اسمان باندي وشوه یعني حق تعالی وویل چي موږ ستا نکاح له زینب سره وکړه. قال الله تعالی: فلما قضی زید منها و طرا زوجنکها ، الآیة(سورة احزاب، آیت: ۳۷) په جلالین کي دي: فلما قضی زید منها وطرًا(حاجة) زوجنکها فدخل علیها النبی صلی الله علیه وسلم بغیر إذن إلخ(۱) و فی الجمل قوله: زوجنکها إلخ إی و لم نحوجک إلی ولی من الخلق یعقد لک علیها تشریفًا لک و لها قال أنس رضی الله عنه: کانت زینب تفتخر علی أزواج النبی صلی الله علیه وسلم و تقول زوجکن بـه أهالیکن و زوجنی الله من فوق سبع سماوات(الحدیث) (۲) کـه غرض د دا سړي داغه وي چي حضرت حوا الله تعالی د حضرت آدم علیه الصلاة و السلام زوجه جوړه کړه، دا د هغو زوجه شوه او نکاح په طریقه مروجه نه وشوه او نه د دې ضرورت و، نو ظاهره ده چي په دې کي هیڅ مفسده نه لازمیږي او د نبي صلی الله علیه وسلم او نورو انبیاوو پر نسب هیڅ طعن نه ثابتیږي او که دغه سړی حضرت حوا د حضرت آدم علیه السلام زوجه نه ګڼي او ښکاره خبره ده چي زوجه منکوحه نه ویل کیږي، که په طریقه معروف سره نکاح وي، که حق تعالی نکاح کړې وي، نو ښکاره ده چي دغه سړی د ټولو ایات قرآنیه منکر دی کوم چي د حضرت حواء د حضرت آدم علیه السلام د زوجه کېدو په هکله وراد دي، بیا نو د ده په کفر کي څه کلام دی؟! فقط و الله تعالی اعلم

والي څخه اصلاً پیدا شوي دي، مثلاً له پښتۍ څخه نو له دوی څخه فایده اخیستل ممکنه نه ده مګر د دوی پر کوږوالي صبر کولو په ذریعه سره، د حدیث صحیح مطلب داغه دی او کومه خبره چي عامه چلېدلي ده هغه ضعیفه ده له اسرائیلیاتو څخه راغلي ده. (تحفة القاري: ۵۴۵/۲، کتاب الأنبیاء، رقم الحدیث: ۳۳۳۱)

(۱) تفسیر جلالین، ص: ۳۵۵، سورة الأحزاب، تفسیر الآیة: فلما قضی زید منها وطرًا.

(۲) الفتوحات الإلهیة المعروف بالجمل: ۵۲۸/۳، تحت قوله: زوجنکها المطبوعة: المطبعة الکبری، ببولاق.

کوم سړی چې د نبي د بشر او بنده کېدو انکار وکړي، هغه کافر دی

سوال: (۴۴۰) د یو عالم دا اعلان دی چې په سورة تغابن کي دا حکم دی: فقالوا ابشر یهدوننا فکفروا و تولوا استغنی الله(سورة تغابن، آیت: ۶) یعني څوک چې محمد صلی الله علیه وسلم ته بنده وایي، هغه کافر دی او د حضرت فرمان دی چې زه بشر یم، په دغه صورت کي عالم مذکور چې کوم مطلب د آیت بیان کوي، هغه صحیح دی، که نه؟ (۲۳۴۲/۱۳۴۱ھ)

جواب: د سورة تغابن د آیت دا مطلب نه دی کوم چې جاهل مذکور ګڼلی دی، بلکه برعکس د ده د خیال هغو ته کافر ویل کیږي چې څوک دا خیال کوي چې نبي بشر نشي کېدای لکه د دوی تردید الله تعالی په نورو ځایو کي هم بیان کړی دی: قالوا إن أنتم إلا بشر مثلنا(سورة ابراهیم، آیت: ۱۰) یعني کفارو وویل ته خو زموږ په شان بشر یې، پیغمبر څرنګه کېدای شې، د دې په جواب کي رسولانو دا ویل: قالت لهم رسلهم إن نحن إلا بشر مثلکم(سورة ابراهیم، آیت: ۱۱) یعني دا چې موږ بېشکه ستاسو په شان بشر یو، لیکن الله تعالی چې پر کوم بنده وغواړي، احسان کوي او هغه پیغمبر جوړوي، د دغه شان د آیت سورة تغابن مطلب هم داغه دی چې کفارو به ویل چې آیا بشر یعني نسان هادي او نبي کېدای شي، هیڅکله نه، الله تعالی هغو ته کافر وویل، نو معلوم شو چې څوک په بنده کېدو او نبي کېدو کي منافات ثابتوي، هغه کافر دی، بلکه خاص بشر نبي دی، ملائکه نبي نه دی.

کوم سړی چې د حدیث انکار وکړي یا یې پټ کړي د دې په هکله څه حکم دی؟

سوال: (۴۴۱) ... (الف) کوم سړی چې د حدیث انکار وکړي، د ده لپاره څه حکم دی؟
(ب) که یو سړی د حدیث خبره پټه کړي او هغه شائع نه کړي، د دې لپاره څه حکم دی؟ (۳۰۱/۱۳۳۵ھ)

جواب: (الف) دغه فاسق دی.
(ب) داسې سړی فاسق دی او په فاسق پسې لمونځ مکروه دی. فقط و الله تعالی اعلم

د احادیث نبویه توهین کول او دا ویل چې زه د راماشاه په امت کې یم، کفر دی

سوال: (۴۴۲) ... (الف) د احادیث نبویه توهین کول او ښکنځل کول.
(ب) لمونځ کوونکو ته د لمونځ کولو په هکله ښکنځل کول.
(ج) پخپله دا ویل چې زه د راما شاه نبي په امت کې یم؟ (۱۳۴۳/۸۵۲هـ)

جواب: (الف -ج) د احادیث نبویه توهین کول او دا ویل چې زه د راما شاه په امت کې یم، کفر دی او لمونځ کوونکو ته ښکنځل کول حرام او فسق دی. فقط و الله تعالی اعلم

منکر د رسالت کافر دی

سوال: (۴۴۳) که کوم سړی د توحید قائل وي، مګر د رسالت منکر وي، صرحة دی انکار کوي، یا له قرینه څخه معلومیږي، دغه سړی جنت ته د تلو وړ دی، که دوږخ ته؟ (۱۳۳۴-۳۳/۸۷۲هـ)

جواب: منکر د رسالت قطعًا کافر دی، مؤمن نه دی، د ایمان حقیقت دا دی چې کوم څه رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله له طرفه راوړي دي، د هغه تصدیق دي په زړه سره وکړي، په شرح عقائد کې دي: و الإیمان ... هو التصدیق بما جاء به من عند الله تعالی أی تصدیق النبی بالقلب فی جمیع ما علم بالضرورة مجیئه به من عند الله تعالی إلخ(۱) قال الله تعالی: محمد رسول الله(سورة فتح، آیت: ۲۹) و قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الإسلام أن تشهد أن لا إله إلا الله و أن محمدا رسول الله، الحدیث متفق علیه(۲) و قال علیه الصلاة و السلام: بنی الإسلام علی خمس شهادة أن لا إله إلا الله و أن

---

(۱) شر العقائد النسفیة، ص: ۱۱۸-۱۱۹، مبحث الایمان المطبوعة: یاسر ندیم اینډ کمپني، دیوبند. ح

(۲) عن عمر بن الخطاب رضی الله عنه قال: بینما نحن عند رسول الله صلی الله علیه وسلم ذات یوم إذا طلع علینا رجل... و قال یا محمد! أخبرني عن الإسلام؟ قال: الإسلام الحدیث (مشکاة المصابیح، ص: ۱۱، کتاب الإیمان، الفصل الأول)

محمداً عبده و رسوله الحديث رواه البخاري و مسلم(۱) نو انکار د رسالت که صراحة وي او که د قرائن قویه و علامات دلالت کونکي علی التکذیب څخه ثابت وي، کفر دی، په حقیقت کوم څوک د الله د احکامو منکر وي او د ده پر رسولانو ایمان نه راوړي، هغه د الله د توحید قائل نه دی او الله برحق معبود نه بولي. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۴۴۴) یو سړی الله تعالی په مثل د عقائد اسلام وحده لا شریک مني. مګر پر رسالت او ارکان اسلام باندي ایمان او عمل نشته، دې ته کافر یا مشرک ویل جایز دي، که نه؟ (۱۳۱۳/۱۳۳۵هـ)

جواب: د توحید سره د رسالت اقرار هم د ایمان برخه ده، بې له اقرار د رسالت اسلام او ایمان معتبر نه دی. فقط و الله تعالی اعلم

د مدعي نبوت او د ده د معاونینو په هکله څه حکم دی؟

سوال: (۴۴۵) د کوم چا چي قول د خپل ځان په اړه دا وي چي چاته امن و ایمان او صراط مستقیم پکار وي، نو هغه دي سلطان الاولیاء خاتم الولایت علیه الصلاة و السلام موجوده خلیفه احمد زمان ته دي راشي، د صراط مستقیم لار دي وګوري، مذکوره سړی او د ده د معاونینو پخپله شرعًا څه حکم دی؟ او د دغه دعوې په ضمن کي د مهدي موعود او رسالت دعوی هم ده، داسي سړی مسلمان پاته کېدای شي، که نه؟ او دغه سړی په مریدانو احمد زمان رسول الله وایي. بینوا توجروا (۲۸۸/۱۳۳۸هـ)

جواب: عن أبي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: يكون فى آخر الزمان د جالون كذابون يأتونكم من الأحاديث بما لم تسمعوا أنتم و لا اباؤكم فإياكم و إياهم لا يضلونكم و لا يفتنونكم رواه مسلم(۲) او په بعض روایاتو کي دي چي

---

(۱) عن ابن عمر رضى الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: بنى الإسلام(صحيح البخاري:۲/۱، كتاب الإيمان، باب قول النبى صلى الله عليه وسلم بنى الاسلام على خمس، و مشكاة المصابيح، ص:۱۲، كتاب الإيمان، الفصل الاول)

(۲) الصحيح لمسلم:۱۰/۱، المقدمة، باب النهى عن الرواية عن الضعفاء و الاحتياط فى تحملها.

دېرش دجاله به وي، هر يو به له دوی څخه د نبوت دعوی کوي الحديث(۱) نو ياد شوی سړی چي خپلو مريدانو ته په خپله هکله رسول الله وايي او له دغه کلمې څخه نه منع کوي او هدايت صراط مستقيم پخپله اتباع کي منحصر ګڼي او بولي باليقين دجال كذاب دی او اهل باطل او ضال و مضل دی، مسلمانانو لره د ده له صحبت او ګمراهي څخه احتراز لازم دی، د زيات ليکلو په دې کي ضرورت نشته، ځکه چي بطلان د ده او د ده د طريقې اظهر من الشمس دی، د الله تعالی ارشاد صريح دی: ما كان محمد أبا أحد من رجالكم و لكن رسول الله و خاتم النبيين(سورة احزاب، آيت: ۴۰) او ستر رسول الله صلی الله عليه و سلم صفا فرمايي: لا نبی بعدی(۲) چي زما وروسته به يو نبي نه وي، نو بيا د مدعي نبوت له اهل باطل و اهل ضلال کېدو کي يو مسلمان ته څه شبه کېدای شي؟! او د ده په کفر و ارتداد کي کي څه ريب و تردد دی؟! فقط و الله تعالی اعلم

د سنت منکر کافر دی که مؤمن؟

سوال: (۴۴۲) د سنت منکر کافر دی که مؤمن؟ (۱۸۲۸/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: پر سنت عمل کول موجب ثواب دی او عمل نه کول موجب ملامت دی او اصرار پر ترک سنت معصيت دی، کفر نه دی، تارک و منکر سنت ته کافر نه ويل کيږي. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) عن أبي هريرة رضی الله عنه عن النبی صلی الله عليه وسلم قال: لا تقوم الساعة حتی يبعث دجالون كذابون قريبًا من ثلاثين كلهم يزعم أنه رسول الله(الصحيح لمسلم: ۳۹۷/۲، كتاب الفتن، فصل فی قوله صلی الله عليه وسلم أن بين يدی الساعة كذابين قريبًا من ثلاثين)

(۲) عن فرات القزاز قال: سمعت أبا حازم قال: قاعدت أبا هريرة رضی الله عنه خمس سنين فسمعته يحدث عن النبی صلی الله عليه وسلم قال: كانت بنو اسرائيل تسوسهم الانبياء كلما هلک نبی خلفه نبی و إنه لا نبی بعدی و سيكون خلفاء الحديث(صحيح البخاري: ۴۹۱/۱، كتاب الأنبياء، باب ما ذكر عن بني اسرائيل)

کوم سړی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نوم هم نه پېژني او د اختر د لمنځو ماسیوا لمنځونه نه کوي، دی مؤمن دی که نه؟

سوال: (۴۴۷) یو سړی د مسلمان په کور کي پیدا شو، لیکن تر دي چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم نوم یې نه پېژندی او د اخترو له لمنځو ماسیوا نور لمنځونه یې نه کول، دی مؤمن دی که نه؟ (۱۲۳۰/۱۳۴۰هـ)

جواب: ده ته مسلمان ویل کیږي فقط و الله تعالی اعلم

دا ویل چي کومو خلکو محض پر رسول باندي ایمان راوړی و، رسول وفات شو، نو د دوی ایمان هم مړ شو، څرنګه دي؟

سوال: (۴۴۸) د زید قول دی چي کومو خلکو محض پر رسول باندي ایمان راوړی و، کله چي رسول وفات شو، نو د دوی ایمان هم مړ شو، آیا پر زید شرعًا تکفیر شته، که نه؟ (۲۲۲۳/۱۳۳۸هـ)

جواب: د ده تکفیر دي نه کیږي، ځکه چي د ده مطلب له خپلي غلطي پوهي څخه به دا وي لکه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د نبي صلی الله علیه وسلم د وفات وروسته خطبه ویلې وه او هغه خلک یې متنبه کړي وه چي دا یې وویل چي نبي صلی الله علیه وسلم نه دی مړ، په دغه خطبه کي دا الفاظ منقول دي: من کان یعبدا محمدًا فإن محمدًا صلی الله علیه وسلم قد مات، و من کان یعبد الله فإن الله حی لا یموت(۱) یعني کوم چا چي د محمد صلی الله علیه وسلم عبادت کاوه، نو واضح دي وي چي د محمد صلی الله علیه وسلم وفات وشو او کوم چا چي د الله عبادت کاوه، نو الله ژوندی دی، هغه هیڅکله نه مړ کیږي الخ. لیکن ښکاره خبره ده چي د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه کوم مطلب دی، هغه بالکل صحیح دی او هغه د زید له قول خلاف دی، که څه هم زید په غلطي سره داسي پوه شوی وي، نو د زید الفاظ مذکوره ویل غلط او باطل دي، ځکه چي کومو خلکو پر محمد صلی الله علیه وسلم ایمان راوړی دی، ظاهره ده چي هغو پر توحید و رسالت او ټولو امور شرعیه وو ایمان راوړی دی، لهذا هغه کامل

(۱) صحیح البخاری: ۵۱۷/۱، کتاب المناقب، باب

مؤمنان دي او د نبي صلی الله علیه وسلم تر وفات وروسته هم مسلمانان دي او ایمان يې کامل دی، نو مذکوره الفاظ د زید لپاره جائز نه دي او دا د ده د جهالت خبره ده لیکن په وجه د امکان تأویل ده ته کافر نه ویل کیږي، مګر دی سخت ګناهکار دی، توبه دي وکاږي او بیا دي داسي الفاظ له خولې څخه نه باسي. فقط و الله تعالی اعلم

کوم سړی چي د نبي صلی الله علیه وسلم په هکله دا وایي چي د جنګ کول حکم چا ورکړی و، خپل غاښ ماتولو لره تللی و، دی کافر دی

سوال: (۴۴۹) یو سړی دا وایي چي حضرتِ حسین رضی الله عنه شهید کېدو لپاره نه و تللی، بلکي د خپل سر پرېکولو لپاره تللی و او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په هکله دا وایي چي د جنګ کولو چا حکم ورکړی و؟ محض خپل غاښ ماتولو لپاره تللی و، کوم چي سړی دغه شان وایي، د ده په هکله څه حکم دی؟ (۱۲۸۸/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: د نبي صلی الله علیه وسلم په هکله داسي الفاظ ویل کفر دی، دغه سړی دي توبه وکاږي او تجدید ایمان دي وکړي. فقط و الله تعالی اعلم

آیا هغه سړی مرتد دی چي تر یو سل اتیا کمي مسئلې ورته یادي وي

سوال: (۴۵۰) یو صاحب په خپله رساله کي لیکلي دي چي کوم سړي ته صد و سي (۱۸۰) مسائل یاد نه وي، هغه سړی د امام محمد رحمه الله په نزد مرتد دی، هیڅ عبادت د ده قبول نه دی، نه د ده ذبیحه حلاله ده او د ده ښځه پر ده طلاقه ده او د ده اولاد ولد الزنا دی او دا هم هغه پخپله رساله کي لیکي چي دا سړی د شیخینو په نزد فاسق دی. (۱۱۹/۴۴-۱۳۴۵هـ)

جواب: دا قول صحیح نه دی او د ده نسبت د ائمه و طرف ته غلط محض دی، علم مسایل فقهیه فرض کفایه دي چي که بعض افراد ته علم وشي، له نورو څخه د دې فرضیت ساقط کیږي، نو هغه خلګ نه کافران دي نه فاسقان فقط و الله تعالی اعلم

د بنګي د کور ډوډۍ خوړل او اوبه څښلو سره یو مسلمان نه کافر کیږي

سوال: (۴۵۱) یو مسلمان یوه بنګۍ بوتله، تر یوې میاشتي پوري په بنګیانو کي اوسېدلو سره خوړل څښل يې وکړه، اوس بیرته راتلو سره وایي، ما په اسلام کي داخل کړئ، د ده سره څه معامله کول پکار ده؟ (۷۹۵/۱۳۴۱هـ)

جواب: د یو مسلمان محض له یو بنګي شخه ډوډۍ خوړل او وبه څښلو سره نه کافر کیږي، لیکن ده که په حقیقت کې اسلام ترک کړی و او د بنګیانو مذهب یې خپل کړی و، نو ده ته تجدید اسلام کول پکار دي، بعد توبه او تجدید اسلام دی بیا مسلمان ګڼل پکار دي او د ده سره معامله په اهل اسلام کې کول پکار دي او په مسلماني کې شامل کول پکار دي. فقط و الله تعالی اعلم

د خنزیر وازګه خوړونکی کافر دی که نه؟

سوال: (۴۵۲) څه فرمایي علماء دین شرع متین په دې مسئله کې چې زید نارینه مسلمان د انګریزانو سره په خاقان کې نورو، هلته د عیسایانو سره عیسایي شو او د خپل اهل او ورونو د لعن طعن شخه فرنګي محل ته لاړی، توبه یې وکښله، مسلمان شو، تر درو میاشتو پوري مسلمان و، بیا دا خبره د ده په هکله له ملازمانو څخه معلومه شوه چې د خنزیر د وازګي یوه ټوټه یو عیسایي خدمت کوونکي زید ته ورکړه چې دا په ورجو کې پخه کړه، نو ده په ورجو کې پخه کړه، زید او خدمت ګار عیسایي دواړو وخوړله نو په داسي حالت کې حکم د شرع شریف څه دی؟ او په کومه طریقه سره دی اوس مسلمان کېدای شي؟ بینوا توجروا (۲۹/۳۲۱-۱۳۳۰هـ)

جواب: کله چې زید د عیسایي کېدو وروسته بیا اسلام قبول کړی او مسلمان شو، نو اوس د عیسایي خدمت ګار سره د خنزیر غوښي او وازګه خوړلو سره کافر او عیسایي نه دی، دی خاص مسلمان ګڼل پکار دي، مګر دا له ده څخه سخته ګناه شوي ده او دی فاسق شو، توبه دي وکاړي، بیا دي هیڅکله غوښي او وازګه نه خوري، ځکه چې د خنزیر غوښي او وازګه ټوله حرام قطعي دي، که له یو مسلمان شخه دا ګناه شوي وي، نو ده ته پکار دي چې فوراً دي توبه او استغفار وکړي او بیا دي هیڅکله داسي نه کوي او نور خلک دي دی مسلمان ګڼي، کافر دي یې نه ګڼي. فقط و الله اعلم بالصواب

جادو کوونکی کافر دی که نه؟

سوال: (۴۵۳) جادو کوونکی کافر دی که نه؟ او د دې کول ګناه کبیره ده که صغیره؟ د جادو په ذریعه څوک مسخ کول یا پتې تړل یا پر خپل ځان جادو کول څرنګه دي؟ (۲۹/۴۱۰-۱۳۳۰هـ)

جواب: جادو کوونکی علی الاطلاق کافر نه دی، که یو امر موجب کفر په دې سحر کې وي، نو کافر ورته ویل کیږي، کنې فاسق سحر چې هر ډول وي، د دې په حرمت کې هیڅ کلام نشته، جادو کوونکی د ګناه کبیره مرتکب دی او په بعض اوقات کې کافر کیږي هم، نو له دې څخه احتراز لازم دی او د یو عمل په ذریعه جن یا یو سړی تابع کول که له یو غرض مذموم لپاره دی، نو بد دی او حرام دی، که له یو غرض صحیح لپاره دی او هغه عمل خلاف شرع هم نه دی، نو صحیح دی، مګر له دې څخه احتراز کول هم په هر حال کې اولی دی، په سبب اندیشه د فساد، جادو لکه پر بل چا حرام دی، دغه ډول پر خپل ځان هم حرام دی او پټې او نور د سحر په ذریعه تړل دا هم حرام دي، لنډه دا چې د سحر استعمال هر ډول حرام دی، ځکه چې په سحر کې خلاف شرع امورو ارتکاب کیږي چې بعض په هغو کې موجب کفر دي او ځیني له هغو څخه ناجائز او حرام دي، د جادو حقیقت چې هر ډول وي، له دې څخه احتراز کول پکار دی او په دې کې بحث نه دی کول پکار او مسلمانانو لره له دې څخه هر ډول بچاو پهدل پکار دي او پرهېز کول پکار دي.
فقط

خروج ریح ته د آذان او قرأت سره تشبیه ورکول کفر دی

سوال: (۴۵۴) د سهار په وخت مؤذن آذان وکړی، امام صاحب ولاړ شو، بیت الخلاء ته ولاړی، د ده له دبر څخه آواز ووتی، امام صاحب وویل: دا هم آذان کوي، بیا په غسل خانه کې آواز له دبر څخه ووتی، وې ویل: څومره ښه قرأت دی، په ګېډه کې دا الفاظ ویل صحیح دي که نه؟ (۳۲/۵۱۹-۱۳۳۳هـ)

جواب: دا کلمات کفر دي، د داسي کلماتو مذاقًا ویلو سره هم ایمان ځي، که دی توبه وکاږي او تجدید ایمان وکړي، نو په ده پسې لمونځ جائز دی، کنې نه دی. فقط و الله اعلم

په مسجد کې د چا و تعظیم کولو ته کفر ویل جهالت دی

سوال: (۴۵۵) په مسجد کې چا په تعظیم کولو سره خو نه کافر کیږي، که نه کافر کیږي، نو چې څوک په مسجد کې تعظیم کولو ته کفر ووایي، دې ته کافر ویل کیږي، که نه؟ (۳۲/۱۳۵۵-۱۳۳۳هـ)

جواب: په مسجد کې د یو بزرګ تعظیم کول ممنوع نه دي، بلکې په شامي کې په دغه بحث کې دي چې امام تر لمانځه وروسته مخیر دی، په دې خبره کې چې ښي طرف ته مخ کولو سره کښیني، یا چپ طرف ته یا قبلې طرف ته ملا کولو سره مقتدیانو طرف ته مخ کړي، دا تحریر کوي: بل حرمة المسلم الواحد أرجح من حرمة القبلة انتهى(۱) نو له دې څخه معلوم شو چې د هر مؤمن مسلمان حرمت عند الله دا سي لوی دی، نو د مؤمن کامل الایمان بزرګ په تعظیم کې څه حرج کېدای شي؟ او دې ته کفر ویل سراسر جهالت دی له دین څخه او احکام دین څخه کافر ویونکي باندې خوف د کفر دی، په سبب د دغه حدیث صحیح متفقه علیه: أيما رجل قال لأخيه: يا كافر! فقد باء بها أحدهما(۲) لیکن محققینو د دې تاویلونه کړي دي(۳) نو کافر ویونکي ته هم کافر نه ویل کیږي مګر عاصي و فاسق دی، توبه دې وکاږي او معذرت دې وکړي فقط و الله تعالى اعلم

---

(۱) رد المحتار على الدر: ۳۹۳/۱، كتاب الصلاة، قبيل فصل في القراءة. ط رشيديه

(۲) عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: اذ قال الرجل لأخيه: يا كافر! فقد باء به أحدهما. و عن عبد الله بن عمر رضي الله عنهما أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: أيما رجل قال لأخيه: كافر، فقد باء بها أحدهما. (صحيح البخاري: ۹۰۱/۲، كتاب الأدب، من كفر اخاه بغير تأويل فهو كما قال)

(۳) قال النووي: هذا الحديث مما عده بعض العلماء من المشكلات من حيث أن ظاهره غير مراد، و ذلك أن مذهب أهل الحق أنه لا يكفر المسلم بالمعاصي كالقتل و الزنا و كذا قوله لأخيه كافر من غير اعتقاد بطلان دين الإسلام و إذا عرف ما ذكرناه فقيل في تاويل الحديث أوجه: أحدها: أنه محمول على المستحل لذلك و هذا يكفر فعلى هذا معنى(باء بها) أي بكلمة الكفر و كذا حار عليه و هو معنى رجعت عليه أي رجع عليه الكفر فباء و حار و رجع بمعنى واحد. و الوجه الثاني: معناه رجعت عليه نقيصته لأخيه و معصية تكفيره. و الوجه الثالث أنه محمول على الخوارج المكفرين للمؤمنين، و هذا الوجه نقله القاضي عياض عن الإمام مالك ابن انس و هو ضعيف لأن المذهب الصحيح المختار الذي قاله الأكثرون و المحققون: أن الخوارج لا يكفرون كسائر أهل البدع.

و الوجه الرابع: معناه أن ذلك يؤول به إلى الكفر، و ذلك أن المعاصي كما قالوا بريد الكفر، و يخاف على المكثر منها أن يكون عاقبة شومها المصير إلى الكفر، و يؤيد هذا

د هندوانو سره اختر جوړول موجب کفر دی که نه؟

سوال: (۴۵۲) که اهل اسلام له هندوانو سره رنګ د اختر په ورځ وپاشي او له دوی سره په ګلیانو کوڅو کي وګرځي او ذبح د حیواناتو دوی له وجي مؤخر کړي او مالداره خلګ هغه خلګ پر رنګ غورځولو مجبور کړي، کوم چي له رنګ څخه اجتناب کوي وغیره، وغیره خرافات کي مشغول وي، نو له دوی سره مجالست او مناکحت څنګه دی؟ تر هغه وخته چي دوی توبه نه وي کښلي او دا فعل د دوی کفر ته رسوونکی دی که نه؟ او نکاح د دوی باقي ده که نه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۳۹۹هـ)

جواب: دا افعال د مسلمانانو سخت معصیت او ګناه کبیره ده، په داسي افعالو کي خوف د کفر دی، توبه دي وکاږي او کوم خلګ چي توبه نه کاږي، له هغو سره مجالست و مناکحت مه کوئ او له هغو سره متارکت وکړئ، باقي کافر دي نه ورته ویل کیږي، په دې کي احتیاط مناسب دی او تجدید نکاح بعد توبه احوط ده، هکذا فی عامة کتب الفقه(۱) فقط و الله تعالی اعلم

الوجه ما جاء فی روایة لأبي عوانة الاسفراییني فی کتابه المخرج علی صحیح مسلم فإن کان کما قال و إلا فقد باء بالکفر و فی روایة إذا قال لأخیه یا کافر وجب الکفر علی أحدهما.

و الوجه الخامس: معناه فقد رجع علیه تکفیره، فلیس الراجع علیه حقیقة الکفر بل التکفیر لکونه جعل أخاه المؤمن کافراً، فکأنه کفر نفسه، إما لأنه کفر من هو مثله و إما لأنه کفر من لا یکفره إلا کافر یعتقد بطلان دین الإسلام و الله اعلم(شرح الصحیح لمسلم للنووي: ۵۷/۱، کتاب الإیمان، باب بیان حال إیمان من قال لأخیه المسلم یا کافر، و مرقاة المفاتیح: ۹/۵۵-۵۲، کتاب الآداب، باب حفظ اللسان و الغیبة و الشتم، الفصل الأول رقم الحدیث: ۴۸۱۵)

(۱) قال فی الشامي: و ما فیه خلاف یؤمر بالاستغفار و التوبة و تجدید النکاح اهـ و ظاهره أنه أمر احتیاط و قال بعد أسطر: و أما أمره بتجدید النکاح فهو لا شک فیه احتیاطا(الشامي: ۳۱۲/۳ کتاب الجهاد، باب المرتد، آخر مطلب: الإسلام یکون بالفعل کالصلاة بجماعة ط رشیدیه)

تر آذان وروسته له مسجد څخه وتل کفر و شرک نه دی

سوال: (۴۵۷) کوم سړی چې آذان واوري، له مسجد څخه ولاړ شي، دی مشرک کیږي، که نه او ده ته د مشرک ویونکي په هکله څه حکم دی؟ (۱۵۸۷/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: هغه سړی مشرک نه دی، ده ته مشرک ویل سخت معصیت او ګناه ده، هغه فاسق کیږي، مګر له مسجد څخه وتل که د بیرته راتلو اراده نه وي، یا بل یو عذر نه وي، بد دی او مکروه دی، مګر کفر او شرک نه دی. فقط و الله تعالی اعلم

حرام حلال او حلال حرام ګڼل کفر دی که نه؟

سوال: (۴۵۸) که یو سړی حلال ته حرام ووایي، نو دی کافر دی که نه؟ (۲۲۹۲/۱۳۴۱هـ)

جواب: په شامي کې د دې تفصیل لیکلی دی: و الأصل أن من اعتقد الحرام حلالاً، فإن كان حرامًا لغيره، كمال الغير لا يكفر و إن كان لعينه، فإن كان دليله قطعيًا كفر و إلا فلا، و قيل: التفصيل في العالم، أما الجاهل فلا يفرق بين الحرام لعينه و لغيره و إنما الفرق في حقه أن ما كان قطعيًا كفر به و إلا فلا، فيكفر إذا قال: الخمر ليس بحرام إلخ(۱). فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۴۵۹) کوم سړی چې حرام شرعي حلال او حلال شرعي حرام بولي، د ده په هکله څه حکم دی؟ (۱۲۵۹/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: حرام قطعي حلال ګڼل کفر دی، دغه شان حلال قطعي شرعي حرام ګڼل کفر دی. فقط

---

(۱) او ضابطه دا ده چې کوم سړی حرام حلال ګڼي، که هغه حرام لغیره وي لکه د بل چا مال نو نه کافر کیږي او که هغه حرام لعینه وي او د هغه دلیل قطعي وي، نو کافر کیږي، کنې نه یعني که هغه حرام لعینه وي، مګر د هغه دلیل قطعي نه دی، نو نه کافر کیږي او بعض حضراتو وویل چې دا تفصیل د عالم په هکله دی پاته جاهل شو نو هغه خو د حرام لعینه او لغیره فرق نه کوي او د ده په هکله فرق دا دی چې د کوم حرمت قطعي دی، د هغه په حلال ګڼلو سره کافر کیږي او د کوم چې حرمت قطعي نه د، د هغه په حلال ګڼلو سره نه کافر کیږي، نو جاهل کافر کیږي چې دا ووایي: خمر حرام نه دی(رد المحتار علی الدر المختار: ۳۱۱/۳، کتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب في منكر الإجماع ط رشيديه)

د تلاوت کونکو آواز ته د بنګي له شور او نعرو سره تشبیه ورکول څرنګه دي؟

سوال: (۴۶۰) که څو کسان یو ځای شي. تلاوت کوي، مګر له معنی او تفسیر څخه ناخبره وي، آیا دوی ته د قرآن شریف د تلاوت ثواب ملاویږي که نه؟ یو سړی و دغه تلاوت کونکو ته د بنګیانو شور او نعرې وایي. د دې لپاره څه حکم دی؟ (۲۷۱/۱۳۴۱هـ)

جواب: په یاد شوې طریقه سره د قرآن شریف په تلاوت کې ثواب حاصل دی، بس نو حصول ثواب تلاوت پر فهم معاني منحصر نه دی، په حدیث شریف کې دي: من قرأ حرفًا من کتاب الله فله به حسنة و الحسنة بعشر أمثالها لا أقول ألم حرف و لکن ألف حرف، و لام حرف و میم حرف، رواه الترمذي(۱) او یاد شوی سړی کوم چې د تلاوت کونکو په هکله داسې سخت لفظ وایي، د اشد درجې فاسق دی، تر دې چې خوف د کفر دی و العیاذ بالله تعالی. فقط و الله تعالی اعلم

پر بل مسجد جوړونکو باندې د کفر فتوی لګول

سوال: (۴۶۱) د محلې مسجد کچه او تنګ و، لمونځ کونکو ته په دې کې تکلیف رسېدی، محلې والاوو ته وویل شو چې تاسې د مسجد شاوخوا څه ځمکه پرېږدئ چې مسجد پراخ شي، مګر محلې والاوو ځمکه ورنکړه، د دې وجې حاجي عبد الحکیم بل نوی مسجد ور کړی، یو مفتي صاحب دا فتوی ورکړه چې دا مسجد ضرار دی او پر حاجي عبد الحکیم د کفر فتوی ولګوله او د ده ښځه یې له نکاح څخه خارجه کړه، په دې صورت کې شرعًا څه حکم دی؟(۱۹۰۰/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: بې شکه فتوا د دغه مفتي چې د حاجي عبد الحکیم جوړ کړي مسجد ته مسجد ضرار وویل او پر ده باندې د کفر فتوا لګولو سره د ده زوجه د ده له نکاح څخه خارجه کړه، بالکل غلطه او باطله ده، په یاد شوي صورت کې نه مسجد په حکم کې د مسجد ضرار دی، نه پر حاجي مذکور باندې د کفر فتوا ده، بلکې کافر ورته ویونکي باندې خوف د کفر دی، تقریر د هغو علماوو په حواله کتب مذکوره کومو چې حاجي

(۱) جامع الترمذي: ۱۱۹/۲، أبواب فضائل القرآن، باب ما جاء فیمن قراء حرفًا من القرآن ما له من الإجر.

مذکور يې له کفر څخه بچاو کړي او د ده بناء کرده مسجد يې له مسجد ضرار څخه علیحده کړی، صحیح دی او مفتي اول د تعزیر لایق دی. فقط و الله تعالی اعلم

له عیسایانو سره خوراک څښاک کولو سره مسلمان نه کافر کیږي

سوال: (۴۶۲) یو سړي له عیسایانو سره خوراک څښاک وکړی، نو دغه سړی له اسلام څخه خارج شو، یا یو ډول تاوان او کفاره پر ده راځي؟ (۱۲۳/۳۳-۱۳۳۴ھ)

جواب: دغه سړی له اسلام څخه خارج نشو، نه د يې په وجه فاسق شو، هیڅ کفاره او تاوان پر ده نشته، مګر بیا له داسي حرکت څخه احتراز پکار دی. فقط و الله تعالی اعلم

څو کفریه او ګمراه کونکي اقوال و افعال

سوال: (۴۶۳) یو مسلمان فقیر د یو زمیندار په ځای کي او سیږي او پر سر يې انګریزي ویښتان، ږیره پر میانځ پرېکړې او بې عرضه تنګي جامي اغوندي، سلفا (چرس) او شراب په علانیة سره څښي او د هندوانو په شان مختنه او ربل کي کښیني او دا شان فقري تر ژبي باسي چي مرشد تر سر پورته خدای تر پښو لاندي نعوذ بالله، ایمان پرېږدي، پر قول راشي، د ټوله قرآن ویلو هیڅ ضرورت نشته، صرف الله الصمد کافي دی او د لمانځه هم هیڅ ضرورت نشته او مسجد ته خوني کور وایي الخ او په صرف بسم الله، الله اکبر سره حیوان نه حلال کیږي، وغیره، وغیره ډول خبرو سره جاهل مسلمانان اړوي اوس د دې امر طلب دی چي دا سړی پخپل ځای او مکان کي ساتل او د ده امداد کول په خوراک څښاک کي صحیح دي که دی ایستل پکار دي؟ (۲۸۲/۳۳-۱۳۳۴ھ)

جواب: اقوال او اعمال د دغه سړي بعض د کفر دي او بعض د فسق مثلاً د خدای تعالی په شان کي بې ادبي کول او د ایمان د ترک حکم کول دا د کفر خبري دي، په داسي کلماتو سره دا سړی کافر شو، دغه شان نوري کلماتي د ده له شریعت اسلام څخه مخالف دي، نو دغه سړی ګمراه او بد دین دی، د ده له صحبت څخه د مسلمانانو بچاوېدل ضروري دي، قال الله تعالی: فلا تقعد بعد الذکری مع القوم الظالمین (سورة انعام، آیت: ۶۸) د ده سره اختلاط کول او د ده سره ډوډی خوړل او په خپل ځای کي

ساتل او هر ډول امداد کول ټول حرام او ناجائز دي، داسي سړی فورًا ایستل ضروري دي او له ده سره نفرت او عداوت کول فرض دي. فقط و الله تعالی اعلم

څو کفریه عقائد و اعمال

سوال: (۴۲۴) د یو مسلمان عقائد لاندیني دي:

د تناسخ قائله کېدل، د دوزخ جنت منکره کېدل، د دې ژوند بعد داغه رنګه دوامًا ترقي کول، قرآن شریف مثل د نورو تصنیفونو ګڼل او په پروتې ویل، د یاجوج ماجوج وغیره واقعاتو منکره کېدل او دا ویل چي ما فلانکی د فلسفې کتاب ته پر قرآن ترجیح ورکړې ده او کوم وخت د قرآن شریف په تلاوت کي خرڅوم، هغه هم په دې کي خرڅوم، د داسي سړي لپاره څه حکم دی؟(۱۳۳۹/۸۰۵هـ)

جواب: په دغه افعال و عقائدو کي بعض کفر و الحاد او بعض غیر ثابت و حرام دي او بعض په بې ادبي کي داخل دي، نو د کوم سړي چي دا ټول عقائد وي، هغه مؤمن و مسلم نه دی، ښکاره کافر و ملحد و زندیق دی، داسي سړی که توبه نه وکاږي نو د ده سره متارکت لازم دی، که حکومت اسلام وي، نو داسي سړی که توبه نه وکاږي، نو واجب القتل دی. فقط و الله تعالی اعلم

څو ډیري قبیح کفریه کلماتي

سوال: (۴۲۵) په یو مجمع کي د جمعې د لمانځه تذکره وشوه، یو امام صاحب په غصه سره وویل: دوه رکعته په دبر کي ورکوې، که څلور په دې صورت د ده لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۴۲/۲۲۳۳هـ)

جواب: دا کلمه چي ده ویلې ده، د کفر کلمه ده، ده ته پکار دي چي توبه وکاږي او تجدید اسلام و تجدید نکاح وکړي. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۴۲۶) یو سړي ته پر یوې خبري وویل شي چي قرآن شریف پورته کړه، که دی وو ایي زما آله تناسل یې پورته کوي، نو پر دې به څه حکم وي؟ (۱۳۴۲/۲۹۳۷هـ)

جواب: دا کلمه د کفر ده، ځکه توهین کلام الله له دې څخه ظاهر دی او هغه کفر دی، لهذا ده لره تجدید ایمان و تجدید نکاح لازم دی. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۴۲۷) زید بکر ته د یو دنیوي معاملات کي د فیصلې لپاره وویل: قرآن د قسم په ډول پورته کړه، نو زه فیصله منظوره کوم لیکن بکر پخپلو تنازعاتو کي وویل زما ذکر یې هم نه پورته کوي، بکر بل ځای له داسي بې ادبه الفاظو ځخه توبه کاږي، اوس پر بکر څه تعزیر شرعي عائد کیږي؟ (۱۳۴۳/۱۴۱۰هـ)

جواب: بکر پـه دغـه الفـاظو سره مرتـد او کـافر شـو، کـه ده توبـه او تجدیـد ایمـان وکړی، نو بیا دی مسلمان شو، اوس بعد اسلام راوړلو پر ده هیڅ حد و تعزیر نشته او نکاح د ده فسخ شوې وه، ده لره بیا نکاح کول پکار دي. فقط و الله تعالی اعلم

څو شرکیه اشعار

سوال: (۴۲۸) که څوک د رسول الله صلی الله علیه وسلم په شان مبارک کي داسي الفاظ ووایي چي له هغو ځخه د شرک و بدعت بوی راځي، نو دا سړی څرنګه دی؟ مثلاً دا شعر ووایي:

قطره په سمندر کي ایله شوه فناه شوه
بنده په وحدت کي تلو سره خدای شو
خداوند تعالی له ازل ځخه وحده لا شریک و
لیکن بعد کي ده مختـه آینه کښېښوده بیا د خدای په شان یو بل شو
نستغفر الله (۱۳۴۰/۱۲هـ)

جواب: داسي اعتقاد ساتل کفر دی او داسي اشعار ویل حرام دي. فقط و الله تعالی اعلم

په مصنوعي ډول سره کلمات کفر ویلو سره هم مسلمان کافر کیږي

سوال: (۴۲۹) د هندې او زید نکاح په زمانه د نابالغي په ولایت د پلرو د نابالغانو وشوه، اوس هنده او زید بالغان دي، من جانب زید څو واره د رخصت کېدو ویل شوي دي، د هندې پلار له رخصت کېدو ځخه انکار وکړی، زید نکاح ثاني وکړه، له هغه ځخه یو بچی پیدا شو، د هندې پلار په مصنوعي ډول خپله لور عیسایي کړه چي نکاح یې ماته شي، که یو سړی په مصنوعي ډول خپل مذهب تبدیل کولو سره مرتد شي، نو د ده نکاح فسخ کیږي، که نه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۰۷۲هـ)

جواب: په مصنوعي ډول سره هم کلمات کفر په بل ويلو او خپله ويول سره حکم د ارتداد کيږي، ځکه چي علماوو او فقهاوو تصريح کړې ده چي هزلاً کلمات د کفر هم موجب کفر دي و فی الفتح من هزل بلفظ کفر ارتد و إن لم يعتقده للاستخفاف فهو ککفر العناد إلخ(۱) (در مختار) نو چي کله هنده د کلمات کفر په وجه سره کافره شوه، نو د دې نکاح فسخ شوه کما فی الدر المختار: و ارتداد أحدهما ... فسخ... عاجل(۲) او دا چي کومه مسئله ده چي که ښځه د فرقت ترلاسه کولو لپاره مرتده شي، نو دا به پر اسلام او تجديد نکاح مجبوره کيږي، دا د قاضي شرعي په هکله دي چي په دې زمانه کي متصور نه دی و تجبر علی الإسلام و تجديد النکاح زجرًا لها بمهر يسير إلخ(در مختار) قوله: (و علی تجديد النکاح) فالکل قاض أن يجدد بمهر يسير و لو بدينار رضيت أم لا إلخ(۳) (شامي) فقط و الله اعلم

دين اسلام ته ښکنځل کول کفر دی

سوال: (۴۷۰) قاضي صاحب د غصې په حالت کي يو کافر حاکم ته فحش ښکنځل کول، يو سړی خلاف اسلام خيال پر راغلی په خصوصيت سره يې منع کړی، قاضي صاحب وويل تا ته د منع کولو هيڅ حق نشته، زيد وويل نور خو هيڅ حق نشته مګر اسلامي حق حاصل دی، قاضي وويل اسلام فضول شو، په دې کي(د نارينه د غړو بولو د مقام نوم يې واخيستی) او نورو علماوو ته هم فحش ښکنځل وکړه، داسي کلمات ويل او توبه نه کښل کفر دی که نه؟ او د دغه قاضي شاته لمونځ کول صحيح دی که نه؟ (۱۱۷۰/۳۳-۱۳۳۴هـ)

---

(۱) الدر المختار مع الشامي: ۳۱۰/۳کتاب الجهاد، باب المرتد. ط رشيديه
(۲) الدر المختار مع رد المحتار: ۴۲۵/۲، کتاب النکاح، باب نکاح الکافر مطلب الصبی و المجنون ليسا بأهل لإيقاع طلاق بل للوقوع. ط رشيديه
(۳) الدر المختار و الشامي: ۴۲۲/۲، کتاب النکاح، باب نکاح الکافر مطلب الصبی و المجنون ليسا بأهل لإيقاع طلاق بل للوقوع. ط رشيديه

جواب: قاضي چي کومي کلماتي ویلي دي. هغه د کفر کلماتي دي، الله تعالی دي داسي جهالت څخه پخپله پناه کي وساتي، ده لره توبه پکار ده، بې له توبې او تجدید ایمان د ده شاته لمونځ صحیح نه دی. فقط

کوم سړی چي د حیض په حالت او په دبر کي کوروالا ته راتلل حلال ګڼي. هغه کافر دی که نه؟

سوال: (۴۷۱) د کوم شي حرمت چي له کلام الله شریف څخه ثابت وي، مثلاً وطي کول په حالت د حیض کي او په دبر کي کوروالا ته راتلل که یو سړی حلال وګڼي، نو پر ده د کفر فتوا ورکول صحیح دي که نه؟ (۱۳۳۵/۱۹۲هـ)

جواب: صحیح دا دي چي د کفر فتوا دي نه ورکول شي، کما فی الدر المختار: و قیل: لا یکفر في المسئلتین و هو الصحیح، خلاصة و علیه المعول لأنه حرام لغیره إلخ(۱) قال فی البحر عن الخلاصة: من اعتقد الحرام حلالا او علی القلب یکفر إذا کان حرامًا لعینه و ثبتت حرمته بدلیل قطعی، أما إذا کان حرامًا لغیره بدلیل قطعی او حرامًا لعینه بأخبار الأحاد لا یکفر إذا اعتقده حلالا(۱) (شامي) فقط و الله تعالی اعلم

کوم سړی چي د هندوانو اختر جوړوي. هغه مسلمان دی که نه؟

سوال: (۴۷۲) زید خیل خان ته مسلمان وایي، د جمله اعمال سیئه مرتکب دی، لمونځ هیڅکله نه کوي، روژه نه نیسي، صاحب نصاب دی، زکوة نه ادا کوي، د حج استطاعت لري، تر اوسه حج ته نه دی تللی او نه د حج ادا کولو اراده لري، سود خور دی، ماسیوا د دې اکثره د هندوانو اختر جوړویو د هندوانو مندر په جوړولو او عبادت سره د راګرځولو او تشدد چنده ورکوي، د مندر له مصارف لپاره څه څمکه ورکړې ده او د دوی له عبادت او بوتانو سره ښه عقیده ساتي، د هغو عبادت او مصارف خیل خان لپاره مفید ګڼي، د دې له ترک څخه خائف دی، موجب مصائب و باعث زوال نعمت و

(۱) الدر المختار و رد المحتار: ۲۱۸/۱، کتاب الطهارة، باب الحیض، قبل مطلب فی حکم وطئ المستحاضة و من بذکره نجاسة ط رشیدیه

جاه تصور کوي، دا سې سړی مسلمان دی که کافر؟ او د ده سره مسلمانانو په شان معامله کول څرنګه دي؟ (۱/۱۳۳۷ھ)

جواب: په فاسق کېدو کې د دغه سړي هيڅ شبه نه ده، مګر په تکفير کې دي احتياط وشي، د ضعف ايمان له وجې او خوف له وجې هغه امور خلاف اسلام کوي، خدای تعالي دي ده ته هدايت وکړي او توبه دي ورنصيب کړي، شامي باب المرتد کې دي: و فی جامع الفصولين روی الطحاوي عن أصحابنا لا يخرج الرجل من الإيمان إلا جحود ما أدخله فيه، ثم ما تيقن أنه ردة يحكم بها و ما يشک أنه ردة لا يحكم بها. إذ الإسلام الثابت لا يزول بالشک مع أن الاسلام يعلو، د ينبغي للعالم إذا رفع إليه هذا أن لا يبادر بتكفير أهل الإسلام إلخ... و فی الفتاوی الصغری: الكفر شيئ عظيم فلا أجعل المؤمن كافرًا متى وجدت رواية أنه لا يكفر اهـ. و فی الخلاصة و غيرها: إذا كان فی المسألة وجوه توجب التكفير و وجه واحد يمنعه، فعلى المفتي أن يميل إلى الوجه الذي يمنع التكفير إلخ(۱) (شامي: ۲۸۵/۳، باب المرتد) لنډه دا چې فقهاوو رحمهم الله يو مسلمان ته کافر ويلو کې ډېر احتياط کړی دی، که نه نو د کفر وجې پکښې وي او يوه وجه هغه هم ضعيفه د عدم کفر طرف ته وي، نو عدم کفر طرف ته مائله کېدل پکار دي. فقط

د کوم چا چې عقائد صحيح او اعمال خراب وي، هغه فاسق دی

سوال: (۴۷۳) ... (الف) زيد حنفي المذهب او څلور امامان منونکي او کوم څه احکامات چې د نبي صلی الله عليه وسلم په ذريعه قرآن و احاديث صحيحه و اقوال مجتهدين ته رسيږي، پر هغه د زړه په صداقت سره ايمان راوړي او کومه عقيده د سلف صالحين وه، هغه عقيده خپله ښکاره کوي او په هر امر کې د مذهب حنفي تابعدار دی، که څه هم څو فعل د ده چې له عقائد سره تعلق نلري، خلاف شرع دي، لکه ږيره خريل، تنګه پاجامه اغوستل مګر دی پخپله معترف دی چې دا کار زما خلاف شرع دی، الله

(۱) رد المحتار على الدر: ۳۱۲/۳، کتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب ما يشک أنه ردة لا يحکم بها. ط رشيديه

تعالي دي ماته توفيق راکړي چي له دغه منهيات څخه راوګرځم، ايا په افعال مذکوره سره د ده په عقائدو کي څه فراق راتلی شي؟

(ب) او آيا عمر لره دا مجاز شته چي د زيد په هکله دا خيال وکړي چي د ده عقايد صحيح نه دي او په دې ويلو سره د ده مراد دا وي چي زيد له دائره اسلام څخه خارج دی او که ووايي نو د عمر لپاره شرعًا څه حکم دی او څه سزا ده؟

(ج) د کوم سړي عقائد صحيح نه وي، هغه له دائره اسلام څخه خارج دی که نه؟ (۱۳۳۷/۳۴۴هـ)

جواب: (الف-ج) که عقائد صحيح موافق اهل سنت و جماعت وي او اعمال خراب وي، نو هغه سړی فاسق دی کافر و مبتدع نه دی او دا فاسق له هغه څخه بنه دی چي په عقايدو کي خلل او نقصان وي او خالي د اعمالو خرابي او فسق و فجور ته کتلو سره مورږ لره دا حکم کول نه دی پکار چي د ده عقائد هم خراب دي، دا امر د احتياط خلاف دی ليکن که د دغه قائل په نزد د دغه فاسق عقائدو خرابي واضح او ثابت وي، نو دا ويلی شي الظاهر عنوان الباطن قول صحيح دی، نو کوم سړی چي ظاهرًا د محرمات مرتکب دی، نو د هغو پر عقائدو څه اعتماد دی او داغه طلب دی د ده د قول چي د ده عقايد صحيح نه دي، لهذا محل اعتراض هم نه دی، که څه هم د احتياط خلاف دی، له دې څخه دا هم ظاهر شوه چي د عقائدو صحيح نه کېدل مستلزم کفر نه دی، بلکي که عقائد خلاف اهل سنت و جماعت وي، نو هم مورږ دا ويلی شو چي د ده عقايد صحيح نه دي فقط و الله تعالی اعلم

د درواغو قسم اخيستونکی له ايمان څخه خارج نه دی

سوال: (۴۷۴) زيد د خپلي لور نکاح له خالد سره وکړه او په مجلس عام کي اعلان نکاح طرفين کېدو سره خورما او شيريني تقسيم شوه مګر منکوحه رخصت نشوه، کله چي خالد د رخصت کولو خيال ظاهر کړی، نو زيد انکار وکړی او وې ويل چي نکاح نه ده شوې، حالانکه نکاح شوې وه بيا خبره عدالت ته ورسېده، هغه وخت زيد د حاکم مخته قسم واخيستی چي زما د لور نکاح د خالد سره نه ده شوې، شرعًا داسي سړی

څرنګه دی؟ او شهادت زور او باطل قسم اخیستونکی خارج له ایمان څخه دی که نه؟ (۵۹۰/۱۳۳۷هـ)

جواب: د درواغ قسم اخیستونکی فاسق دی او پر ده سخت وعید په حدیث شریف کي وارد دی، په حدیث شریف کي دي چي درواغجنه شاهدي د شرک سره برابره ده(۱) یعني که څه هم ده ته کافر نه ویل کیږي لیکن دا سړی د داسي ګناه مرتکب شو چي له شرک سره برابره ده، نو دغه سړي ته توبه کاږل پکار دي، کنې له ده سره دي متارکت وشي. فقط و الله تعالی اعلم

کومو مسلمانانو دا بیان ورکړی چي مورږ د قانون محمدي پابند نه یو. بلکي د رواج دنیوي پابند یو. د دوی لپاره څه حکم دی؟

سوال: (۴۷۵) د مسلمانانو یو جماعت په سرکاري عدالت کي دا بیان ورکوي چي موږ د قانون شرعي پابند نه یو، بلکي د رواج دنیوي پابند یو، د داسي ټولی په هکله څه حکم دی؟ (۳۷۲/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: داسي قول او بیان له اهل اسلام څخه ډېر مستبعد اوو زیات قبیح دی او دا کلام کفر ته رسوي، قائل د دغه کلام فاسق و عاصي دی چي د ده د ایمان د زوال ویره ده، صرف په وجه د احتیاط و ګنجائش د قائل د تکفیر فتوا نه ورکول کیږي، کنې په حقیقت کي دا کلمه کفر ده، اعاذنا الله تعالی منه

د شرعي حکم په مقابله کي خانداني رواج پېش کول

سوال: (۴۷۶) زید او خالد دواړه حقیقي ورونه وو، زید مړ دی، د زید زوم له خالد څخه د خپلي زوجې له طرفه مقدمات د وراثت په هکله دائره کړي دي، د مقدمات په تابعداري کي خالد کوم جواب دعوا ورکوي، په هغه کي اولاً دلائل شرعیه بیا د قانون

---

(۱) عن خریم بن فاتک رضی الله عنه قال: صلی رسول الله صلی الله علیه وسلم صلوة الصبح. فلما انصرف قام قائمًا فقال: عدلت شهادة الزور بالإشراک بالله ثلاث مرات، ثم قرأ: فاجتنبوا الرجس من الأوثان و اجتنبوا قول الزور حنفاء لله غیر مشرکین به (سنن أبی داؤد. ۵۰۲-۵۰۷، کتاب القضاء، باب فی شهادة الزور)

حوالې ورکوي، یو ځل د قاضي د پوښتنې په جواب کې دا کلمه د ده له خولې څخه ووتله چې زموږ خاندان د وراثت په معامله کې د رواج پابند راروان دی، دا کلمه ویلو سره پر ده کفر عائد کیږي که نه؟ (۱۳۳۷/۲۰۸۴ هـ)

جواب: انجونو ته شرعي حق نه ورکول او د هغه په مقابله کې په خانداني رواج سره دلیل نیول بې شکه ډېر خوفناک امر دی، ځکه چې د شرعي حکم په مقابله کې خانداني رواج پېش کول، د دې معنی دا ده چې موږ حکم شرعي نه منو، د خانداني رواج موافق عمل کوو، نو لا محاله مذکوره سړی به د و من لم یحکم بما أنزل الله فأولئک هم الظالمون (سورة مائده آیت ۴۵) مصداق به وي، لهذا له دې څخه دې توبه وکاږي او د خدای او رسول صلی الله علیه وسلم حکم دې پر سر او سترګو کښېږدي او تعدی عن حدود الله دې نه کوي و من یتعد حدود الله فأولئک هم الظالمون (سورة بقره، آیت ۲۲۹) فقط و الله تعالی اعلم

د شریعت په مقابله کې کورنی رواج مقدم ګڼل کفر دی

سوال: (۴۷۷) په یو مجلس کې څو کسان په یوه امر متنازع کې د فیصلې لپاره جمع شول، په دوی کې یو فریق د شریعت حقه توهین وکړ او په اعلانیه سره یې وویل چې موږ د جرګې د فیصلې په مقابله کې د شریعت هیڅ پرواه نه کوو او موږ ته د داسې مسلمانې ضرورت نشته چې پکښې پابندي وي، موږ کورنی رواج د شریعت په مقابله کې مقدم ګڼو، آیا داسې اعتقاد ساتونکي او داسې الفاظ ویونکي مسلمانان دي که نه؟ تجدید نکاح و تجدید اسلام پکار دی که نه؟ (۱۳۴۳/۸۲ هـ)

جواب: الفاظ مذکوره ویونکي خلک کافران شول، دوی لره تجدید اسلام و تجدید نکاح و توبه و استغفار لازم دی او ترڅو پورې توبه و تجدید اسلام وغیره ونکړي، د دوی سره ملاو بدل صحیح نه دي فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۴۷۸) د دوو کسانو په منځ کې تنازع وه، یوه له دوی څخه وویل چې فیصله د شریعت محمدي موافق کول پکار دي، دوهم په جواب کې وویل چې ماته شریعت محمدي منظور نه دی، خپل رواج به منظور کیږي، نو د شرعي فیصلې د منکر لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۴۳/۲۱۹۲ هـ)

جواب: د شریعت محمدیه صلوات الله علی صاحبها له فیصلې څخه انکار کول کفر دی، دغه سړي لره توبه و تجدید اسلام و تجدید نکاح کول پکار دی. فقط و الله تعالی اعلم

بې ارادې له ژبې څخه کلمه د کفر ووځي، نو څه حکم دی؟

سوال: (۴۷۹) د یوه سړي له ژبې څخه بې اختیاره بې له ارادې د خپلې زوجې په هکله دا لفظ ووتی چي ته زما خدای یې و العیاذ بالله تعالی، آیا دا سړی مرتکب کفر شو، که نه؟ او نکاح قائمه ده که نه؟ (۱۳۳۸/۲۲۸هـ)

جواب: په شامي کي دي چي که خطاءً بې له ارادې کلمه د کفر له ژبې څخه ووځي، نو نه کافر کیږي. و من تکلم بها مخطئًا أو مکرهًا لا یکفر عند الکل إلخ(۱) لهذا په دې صورت کي د کفر حکم پر دغه سړي نه کیږي او نه د ده زوجه له نکاح څخه خارجه کیږي، لیکن احتیاطًا دي تجدید نکاح وکړي، توبه و استغفار دي وکړي. فقط و الله تعالی اعلم

د نا مسلمانو په خوشحالیو کي په هندوانو اوبه او شربت څښل

سوال: (۴۸۰) څه فرمایي علماء دین و مفتیان شرع متین د لاندي مسئلې په هکله، کله چي د هند و مسلم د اتحاد آوازه ځای پر ځای کېدله، نو دلته هم جلسې و شولې او هړتال هم وشو، د دې بعد دواړو د جنازې په لمانځه کي شرکت وکړی او د دغه اتفاق عملي ثبوت له هنود له طرفه دا وشو چي په کوچني اختر کي د اختر له لمانځه وروسته ځو معزز خلک د هندوانو د لمانځه ځای ته راغله او هلته یې پر ټولو لمونځ کوونکو ګلان وپاشل او ټول لمونځ کوونکي خپلي خېمې چي د عیدګاه خارج نصب کړې وه، هلته د شربت او اوبو او نورو کافي انتظام و، د راتللو دعوت ورکړی، نو ټوله مسلمانان بعد خطبه د هندوانو خېمې ته ورسېدل، هندوانو هلته د اتفاق پوره ثبوت ورکړی، د دې د عوض ضرورت مسلمانانو ته هم محسوسه شو، نو د دوی پر اختر د

---

(۱) رد المحتار علی الدر المختار: ۳۱۲/۳، کتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب ما یشک أنه ردة لا یحکم بها. ط رشیدیه

کلي د مسلمانانو له طرفه خېمه نصب کړل شوه، هلته هم د اوبو او شربت او نورو د مسلمانانو له طرفه کافي بندوبست شوی و، د دې بعد د رام لیلا پر مهال چې د دوی جلوس راووتی، نو د مسلمانانو له طرفه پر رام چند باندې اتفاق خیال ښکاره کولو لپاره ګلان وپاشل شو، په دغه افعالو کې چې کوم مسلمانان په دغو امورو کې شریک وو، هغه کافران شول که ګنهکاران شول؟ د دوی په نکاح کې یو ډول خرابي واقع شوه که نه؟ (۱۳۳۸/۳۹۲هـ)

جواب: ګنهکاران شول او په دغه افعالو کې خوف د کفر دی او له داسې امورو څخه مسلمانانو ته احتراز لازم دی و ما علینا إلا البلاغ المبین او تجدید ایمان و نکاح داسې خلکو لره مناسب دي فقط و الله اعلم

د هندوانو د خوشحاله کولو لپاره رام لیلا او مېلو کې شرکت کول موجب کفر دی که نه؟

سوال: (۴۸۱) غلام مصطفی د هندوانو خوشحالولو او د دوی سره د موافقې څرګندولو په غرض د هندوانو په مېله او رام لیلا کې برخه واخیسته او خلکو ته د شریک کېدو ترغیب ورکړی، دغه شان زید و عمر په جشن صلح کې شریک شو، نو غلام مصطفی او زید و عمر کافران شول که نه؟ (۱۳۳۸/۲۷۷هـ)

جواب: غلام مصطفی او زید و عمر شرعًا نه کافر کېږي چې په تکفیر مؤمن کې د احتیاط حکم دی، تر دې که په یو مؤمنه کې نوي وجوه کفر وي او صرف یوه وجه د اسلام وي نو ده ته مسلمان ویل پکار دي او تکفیر نه دی پکار او کوم خلک چې زید و عمر ته کافران وايي د هغو د تکفیر خوف دی، دوی ته توبه کښل پکار دي، ځکه په حدیث شریف کې دي: إذا قال الرجل لأخیه یا کافر فقد باء به أحدهما الحدیث(۱) أو کما قال صلی الله علیه وسلم فقط و الله تعالی اعلم

(۱) د دغه حدیث شریف تخریج د کتاب الایمان د **سوال:** (۴۵۵) په جواب کې وګورئ.

تعزیه کتونکی کافر کیږي که نه؟

سوال: (۴۸۲) کوم سړی چې په محرم کي تعزیه او نور وګوري، هغه کافر کیږي که نه؟ او څوک چې و ده ته کافر ووایي هغه څرنګه دی؟ د کافر ویونکي دا دلیل دی: من زار قبرًا بغیر میت فهو کافر و امراته بائن. (۱۳۳۸/۱۰۳۲هـ)

جواب: نه کافر کیږي، بلکه فاسق دی او اجتناب له داسي لهو و لعب څخه ضروري دی او دا روایت صحیح نه دی او کافر ویونکی ګنهکار دی، توبه دي وکاږي. فقط و الله تعالی اعلم

دا ویل کفر دی چي پر آیات و احادیث او فقه بولي کوم

سوال: (۴۸۳) زید د یو داسي مضمون په هکله چي په هغه کي صرف د قرآن پاک آیتونه او احادیث نبویه او د فقهي مسائل دي باوجود علم تحقیرًا و استخفافًا دا ووایي چي زه پر دې بولي کوم شرعًا پر ده څه حکم دی؟ (۱۳۳۸/۱۵۸۸هـ)

جواب: تحقیرًا و استخفافًا آیات قرآنیه او احادیث نبویه علی مصدرها الصلاة و التحیات او تحقیر مسائل فقهیه دینیه دا جمله امور د کفر و ارتداد دی و العیاذ بالله العظیم و لا حول و لا قوة إلا بالله العزیز الحکیم.

ماته د اسلام ضرورت نشته، زه رام، رام وایم، ویل موجب کفر دي

سوال: (۴۸۴) یو سړي وویل: اې زما تېر کال خدایه، بل سړي ده ته وویل: دا کلمه د کفر ده، له دې څخه دوه خدایه ثابتیږي، نو ده وویل: ماته د اسلام ضرورت نشته، زه رام، رام کوم، آیا داسي سړی مسلمان پاته کېدای شي او د ده په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۳۸/۱۵۹۹هـ)

جواب: له لومړی کلمې څخه خو کفر نه و شوی، ځکه د هغه مطلب خو دا اخیستل پکار دي چي اې زما د تل خدایه، کما ورد فهو الآن کما کان، مګر دا بل سړي چي پخپل جهالت او غلطي سره دا وویل چي دا د کفر کلمه ده، پر دې ده وویل چي ماته د اسلام ضرورت نشته إلخ دا کلمه د کفر ده، نو دغه سړی دي توبه وکاږي او تجدید اسلام و نکاح دي وکړي. فقط و الله تعالی اعلم

د استاذ په شان کې ګستاخي کول موجب کفر نه ده

سوال: (۴۸۵) د یو استاذ له طرفه د شاګرد ضرب و شتم وشو، نو شاګرد څخه هم د استاذ په هکله بدې کلماتې صادرې شوې، ایا شاګرد په دائره اسلام کې داخل دی که نه؟ د صوبه سرحد علماء د شاګرد د اسلام قائل دي او کوم قدیم خیال و الاعلماء چې دي هغه وايي چې شاګرد مذکور مرتد او د ده ذبیحه حرامه ده او په ده پسې لمونځ ناجائز دی او د ده تعبیر په عاق سره هم کوي، دا صحیح دی که نه؟ (۱۳۳۸/۱۷۲۵ھ)

جواب: حکم کول د شاګرد د ارتداد او کفر غلط دی او د ده ذبیحه حلاله ده او امامت د ده صحیح دی یعنې د ده تر شا لمونځ صحیح کیږي لیکن ده که استاذ ته بلا وجه شرعي ایذاء ورکړه او تکلیف یې ورورساوی او قصور یې په معاف نکړی نو دی فاسق دی، د ده تر شا لمونځ مکروه دی، د رد المحتار د جلد خامس په مسائل شتی کې دي چې قال الزندویسي: حق العالم علی الجاهل و حق الاستاذ علی التلمیذ واحد علی السواء إلخ(۱) فقط و الله تعالی اعلم

د ضعف دماغ له وجې کلمات کفر له ژبې څخه ووزي، نو څه حکم دی؟

سوال: (۴۸۶) زید له یو کال څخه ناجوړه و، دماغ یې خراب شوی و، په دې منځ کې د ضعف دماغ په وجه اکثره خبرې د عقائدو په هکله د مذهب خلاف وتلې دي، د کفر کلمات هم وتلې دي، کله چې خیال یې صحیح شو، نو پر خپلو کړو باندې ډېر نادم شو او توبه و استغفار یې وکړه، په داسې حالت کې په توبه کښلو سره مسلمان کېدای شي که نه؟ د ده بچیان له دې ګناه څخه مبرا دي که نه؟ (۱۳۳۹/۱۸۰ھ)

جواب: په داسې حالت عدم سلامتي عقل و حواس کې کومه کلمه د کفر او نور چې د ده له ژبې څخه ووتل، پر هغه مواخذه نشته، نو بعد صحیح کېدو د عقل و هوش چې دی پر دې نادم دی او توبه و استغفار کوي نو دی پوخ مسلمان دی او د ده پر اولاد هم مواخذه او جرم نشته. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) رد المحتار علی الدر: ۵/۵۳۳، کتاب الخنثی، مسائل شتی. ط رشیدیه

کوم سړی چې دين اسلام ته بد ووايي او ښکنځل وکړي. هغه له اسلام څخه خارج دی

سوال: (۴۸۷) که يو سړی د اهل اسلام او مذهب اسلام توهين وکړي او بد الفاظ ووايي او ښکنځل او بدي خبري وکړي، د داسي سړي په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۳۹/۲۸۹هـ)

جواب: په دې کي هيڅ شک و شبه نشته چي کوم سړی دين اسلام ته بد ووايي او ښکنځل وکړي، هغه له اسلام څخه خارج دی، ده لره لازم دي چي توبه وکاږي او تجديد اسلام وکړي او تجديد نکاح وکړي، کنې د ده سره اهل اسلام لپاره متارکت او عليحدګي فرض ده. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۴۸۸) په نصير اباد کي مسلمانانو يو عام مذهبي تحريک وکړی چي په هر قوم و ټولۍ کي دي شراب خمار او ډيره خريل بند شي، پنځه وخته لمونځ او جمعه دي په پابندي سره ادا کړي او د اموات په تجهيز و تکفين کي دي خامخا شريک وي، څوک د دې خلاف وکړي، هغه له وروګلوي څخه خارج دی سره د دې عمر ډيره وخريله، قوم دی راوغوښتی، پوښتنه يې ځني وکړه، نو عمر قوم ته په فحش ښکنځلو سره جواب ورکړ او د اسلام و مذهب په هکله يې بې هوده و فحش خبري وکړې، د دې وجي قوم دی له وروروګلوۍ څخه خارج کړ، لهذا شرعًا د داسي سړي په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۳۹/۱۱۰۷هـ)

جواب: د دين اسلام په هکله بې هوده ويل او فحش کلامي صريح کفر دی، نو داسي سړی چي اسلام ته بد وايي او توهين د دين اسلام وکړي، هغه کافر دی، دی مسلمانان نه دی ګڼل پکار او تر هغه وخته چي دی توبه ونه کاږي او تجديد اسلام ونکړي، تر هغه وخته دی مسلمان نه ګڼل کيږي او د اسلام په وروروګولۍ کي نه داخل کيږي. فقط و الله تعالی اعلم

کومي رنډياني چي کلمه وايي، هغوته کافر نه دي ويل پکار

سوال: (۴۸۹) بد چلنده ښځي که مسلماناني دي، نو څه ثبوت يې دی؟ (۱۳۳۹/۷۰۷هـ)

جواب: کومي رنډياني چي کلمه وايي او خپلو ځانو ته مسلماناني وايي. هغوی مسلماناني دي، هغو ته کافر ويل نه دي پکار، فاسقي و فاجري و گنهکاري دي، ليکن مسلماناني دي، الله تعالي دي هدايت ورته وکړي او توبه دي ورپه برخه کړي

آيا که سړي ته پنځه کلمې يادي نه وي. هغه له اسلام څخه خارج دی؟

سوال: (۴۹۰) يو مولود خوان وايي چي کوم مسلمان ته پنځه کلمې يادي نه وي، هغه له اسلام څخه خارج دی، ايا کوم مسلمان ته دوې کلمې معلومي او يادي وي، هغه له اسلم څخه به خارج وي که به نه وي؟(۱۳۳۹/۸۴۴ھ)

جواب: صرف کلمه د توحيد لا إله إلا الله محمد رسول الله ويلو او اعتقاد ساتلو سره مسلمان کيږي، دا غلط دی چي د چا پنځه کلمې يادي نه وي، هغه له اسلام څخه خارج دی، و العياذ بالله فقط

شيخين يا اصحاب ثلاثه ته سب و شتم کول کفر دی

سوال: (۴۹۱) نن صبا شيعه مذهب پر ترقي دی او جهان ته وايي چي پر شهداء کربلا باندي ژړلو والا او تعزيه و تابوت جوړولو والا د جنت سرداران دي او په دغه مجلس کي خو اکثره ذکر اصحاب ثلاثه په بد ډول کيږي، نو د شيعه مذهب لپاره دي شرعي حکم صادر شي چي عوام له دوی څخه پرهيز وکړي او داسي مجلسو ته له تللو سره خپل ايمان ضائع نه کړي بينوا توجروا(۱۳۴۳/۱۲۱ھ)

جواب: تعزيه جوړول او تعزيه داري کول او ماتم کول دا جمله امور له محدثات څخه دي او بدعت منکر دی او مردود و باطل دی، قال عليه الصلاة و السلام: من أحدث في أمرنا هذا ما ليس منه فهو رد الحديث(۱) او اصحاب ثلاثه ته بد ويل او شيخين ته يا اصحاب ثلاثه ته سب و شتم کول کفر دی، و العياذ بالله فقط و الله تعالى اعلم

---

(۱) عن عائشة رضي الله تعالى عنها قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من أحدث في أمرنا هذا ما ليس منه فهو رد، متفق عليه(مشكاة المصابيح، ص: ۲۷، كتاب الإيمان، باب الاعتصام بالكتاب و السنة الفصل الأول) و صحيح البخاري: ۳۷۱/۱، كتاب الصلح، باب إذا اصطلحوا على صلح جور فهو مردود. و الصحيح لمسلم: ۷۷/۲، كتاب الأقضيه، باب نقض الأحكام الباطلة و رد محدثات الأمور.

خلفاء ثلاثه (ابوبکر، عمر و عثمان) او حضرت عائشې رضی الله تعالی عنهم ته بد ویونکی مسلمان دی که نه؟

سوال: (۴۹۲) ... (الف) خلفاء راشدین او اهل بیت مطهره یعني حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنهما په شان مبارک کي کوم سړی الفاظ ناملائم یا ښکنځل یا بد وایي او تهمت لګوي، هغه په دائره اسلام کي دی که نه؟

(ب) د داسي سړي د لاس ذبیحه صحیح ده که نه؟

(ج) او تعلق د دوستي و همدردي ساتل او ډوډۍ خوړل او نور ورسره جائز دي که نه؟ (۱۳۴۰/۴۹۸هـ)

جواب: (الف-ج) د خلفاء راشدین سب و شتم ته ډېرو علماو و فقهاو و کفر ویلی دی(۱) او خاص طور پر حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها باندي تهمت لګونکو او د افک قائلینو ته په اتفاق کفر ویلی ځکه چي په دې کي له نص قطعي څخه انکار دی(۲) نو د دې سړي ذبیحه صحیح نه ده او د ده سره تعلق محبت ساتل او د ده سره مواکلت و مشاربت حرام دی او هیڅ تعلق اسلامي د ده سره ساتل صحیح نه دی او کوم سړی چي د ده سره ملاوېدل ساتي، هغه عاصي و فاسق دی، توبه دي وکاږي.

سوال: (۴۹۳) کوم سړی چي صحابه رضی الله عنهم او ام المؤمنین حضرت عائشې صدیقې رضی الله عنها ته بد وایي او ښکنځل ورته کوي، هغه فاسق دی که کافر؟ بینوا توجروا (۱۳۴۳/۲۳۳۲هـ)

---

(۱) د تفصیل لپاره وګورئ: فتاوی دار العلوم دیوبند جلد: ۴۰۲/۱۲، تر ۴۰۹ پوري، کتاب الحظر و الاباحة، سوال نمبر: (۸۰۴) ۱۲

(۲) نعم لا شک فی تکفیر من قذف السیدة عائشة رضی الله عنها أو أنکر صحبة الصدیق او اعتقد الألوهیة فی علی او أن جبریل غلط فی الوحی او نحو ذلک من الکفر الصریح المخالف للقرآن (الشامي: ۳۲۱/۳، کتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب مهم فی حکم سب الشیخین ط رشیدیه)

جواب: اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته سب و شتم کول فسق دی او د حضرت عائشې رضی الله عنها د افک معتقد کېدل او پر هغې تهمت لګول کفر دی ځکه چې د هغې براءت له نص قطعي څخه ثابت دی(۱) فقط و الله تعالی اعلم

له جهاد څخه فرار کفر دی که فسق؟

سوال: (۴۹۴) څه وخت چې پر ټولو مسلمانانو جهاد فرض شي، هغه وخت که یو مسلمان له قدرت سره په جهاد کې شریک نشي، یا شرک کېدو سره وو پرېږدي او وتښتېږي نو مسلمان دی که کافر؟ (۱۳۴۰/۲۲۸ه)

جواب: هغه مسلمان فاسق دی، کافر نه دی، ځکه چې له جهاد څخه تښتېدل ګناه کبیره ده، د دې وجې تښتېدونکی فاسق شو، لکه د کبائر تفصیل په حدیث کې وراد دي و الفرار من الزحف(۲) فقط

د مسلمان قتل کفر دی که فسق؟

سوال: (۴۹۵) پر مسلمان د مسلمان له قتل لپاره لاس پورته کول کفر دی که فسق؟ (۱۳۴۰/۲۲۸ه)

جواب: قتل د مؤمن فسق دی او د دې استحلال کفر دی، کما قال المفسرون فی قوله تعالی: و من یقتل مؤمنًا متعمدًا (سورة نساء، آیت: ۹۳)(۳) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) إن الذین جاؤوا بالإفک عصبة منکم لا تحسبوه شرًا لکم بل هو خیر لکم لکل امرء منهم ما اکتسب من الإثم و الذي تولی کبره منهم له عذاب عظیم (سورة نور، ایت: ۱۱)

(۲) عن معاذ رضی الله عنه قال: أوصاني رسول الله صلی الله علیه وسلم بعشر کلمات، قال: لا تشرک بالله شیئًا و إن قتلت او حرقت... و إیاک و الفرار من الزحف و إن هلک الناس الحدیث رواه احمد (مشکاة المصابیح، ص: ۱۸، باب الکبائر و علامات النفاق، الفصل الثالث)

(۳) و هذا مؤول بمن یستحله إلخ (تفسیر الجلالین، ص: ۸۴، تفسیر سورة النساء)

د فتوا اهانت و انکار کونکی کافر دی که نه؟

سوال: (۴۹۶) د علماوو د فتوی منکر او د هغه اهانت کونکی کافر دی که نه؟ (۱۳۴۰/۱۲۴۴هـ)

جواب: په فتوا شرعي او احکام شرعي پسخند وهلو سره کفر لازميږي. له دې څخه احتراز او توبه لازمه ده. فقط و الله تعالى اعلم

سوال: (۴۹۷) زید عمر له ناجائز کار څخه راوګرځاوی چې کوم کار ته کوې. شرعًا ناجائز دی، عمر جواب ورکړ چې د داسي شرع پر فتوا زه بولي کوم. شرعًا پر عمر څه حکم دی؟ (۱۳۹۳/۱۱۰۳هـ)

جواب: دا د کفر کلمه ده، ده لره توبه کنبل پکار دي. فقط و الله تعالى اعلم

سوال: (۴۹۸) که امام یا انجلي والا یا اهل محله و اهل اسلام د علماوو پر فتوا عمل ونکړي یا استهزاء وکړي یا دا حقیر وګڼي، نو د دوی لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۴۳/۱۹۲۷هـ)

جواب: دا خلګ فاسقان دي او انکار و استهزاء د علماوو حقاني د فتوی سره او انکار د حکم شرعي قطعي سره کفر کیږي، و العیاذ بالله تعالى. فقط و الله تعالى اعلم

د هندوانو دوست جوړېدو سره مسلمانانو ته تکلیف رسول

سوال: (۴۹۹) یو مسلمان د صوم و صلاة پابند نه دی، د دنیاوي طمع په وجه د هندوانو دوست جوړېدو سره مسلمانانو ته ډول، ډول تکلیفونه او نقصانونه رسوي، داسي سړی له اسلام څخه خارج دی که نه؟ (۱۳۴۱/۷۳۲هـ)

جواب: داسي سړی فاسق دی او عند الله سخت عاصي او مأخوذ دی او دی د دې قابل نه دی چې په مذهبي کارو کي پر ده اعتماد وشي، بلکي له ده څخه داسي اجتناب پکار دی، لکه د غیر مذهب والاوو څخه، که څه هم کافر ورته ویلو کي احتیاط کول پکار دی. فقط و الله تعالى اعلم

دا ویل چې زموږ د مسلمانانو له مذهب سره هیڅ تعلق نشته. څرنګه دي؟

سوال: (۵۰۰) مسلمان زید په مجمع عام کي خلګو ته د یو داسي فعل ترغیب ورکولو سره چي د هغه د ارتکاب ممانعت علماوو متفقه ډول فرمایلی دی دا وویل چي

زمونږ د مسلمانانو له مذهب سره هیڅ تعلق نشته او ما مخکي ږیره پرې ایښې وه، لیکن کله مولویانو د ږیري غټولو دا وویل نو ما ږیره وخریله، ایا داسي سړی له دائره اسلام څخه خارج دی؟ (۱۳۴۱/۱۰۷۷هـ)

جواب: داسي سړی فاسق و عاصي دی، په تکفیر کي دي احتیاط وشي، که څه هم دا کلمه چي د ده له ژبي څخه وتلې ده چي زمونږ د مسلمانانو له مذهب سره هیڅ تعلق نشته، کلمه د کفر ده د امکان تاویل په وجه به په تکفیر کي احتیاط کیږي فقط و الله تعالی اعلم

د کلمې سره د خلفاء راشدینو نوم ملاوول

سوال: (۵۰۱) که یو سړی د کلمې طیبې سره د صحابه کرامو نوم ملاوولو سره ووایي، په داسي ډول لا اله الا الله ابوبکر و عمر و عثمان و علی و محمد رسول الله، نو دی به کافر وي که گنهکار، که کافر نه دی نو کوم خلک چي ده ته کافر وایي، د هغو لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۴۲/۱۰۵۷هـ)

جواب: په کتب فقه کي تصریح ده چي که په یو کلام وغیره کي نهه نوي وجوه د کفر وي او یوه وجه د اسلام وي، که څه هم هغه ضعیفه وي، نو مفتي ته د هغه قائل د اسلام طرف ته مائل کېدل پکار دي او باوجود امکان تاویل د تکفیر مسلم طرف ته مبادرت نه دی پکار او فتوا د کفر نه ده ورکول پکار(۱) بناءً علیه یاد شوي سړي ته کافر نه ویل کیږي، لیکن له داسي کلام موهم چي په هغه کي خوف د کفر وي بیا احتیاط کول پکار دی او په دې کلام کي دا تأویل ممکن دی چي رسول الله صرف د محمد خبر وي، یعني

---

(۱) اعلم أنه لا یفتی بکفر مسلم أمکن حمل کلامه علی محمل حسن او کان فی کفره خلاف و لو کان ذلک روایة ضعیفة... إذا کان فی المسئلة وجوه إلخ(الدر المختار مع الشامي: کتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب فی حکم من شتم دین مسلم ط رشیدیه) و فی الخلاصة و غیرها: إذا کان فی المسئلة وجوه توجب التکفیر و وجه واحد یمنعه، فعلی المفتی أن یمیل إلی الوجه الذي یمنع التکفیر تحسینًا للظن بالمسلم(رد المحتار علی الدر: ۳۱۲/۳، کتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب: ما یشک أنه ردة یحکم بها، و فیه ایضًا: ۲۰/۱، أوائل کتاب الطهارة. ط رشیدیه)

پوره کلمه داسي وي لا اله الا الله محمد رسول الله او د دې په منځ کي یاد شوی سړی له خپل جهالت څخه ابوبکر و عمر و عثمان و علي رضی الله عنهم اجمعین زیات کړه، ګویا دا مطلب دی چي دا حضرات خلفاء پر حق دي او د دوی د خلافت اعتقاد پکار دی، بیا هم بیا له داسي الفاظو څخه سخت پرهېز کول پکار دی او په داسي کلام چي موهم کفر وي، هیڅکله تکلم نه دی کول پکار. فقط و الله تعالی اعلم

په نوروز کي شیان رانیول او خرڅول

سوال: (۵۰۲) ... (الف) یو مسلمان سړی د هندوانو نوروز ته ولاړ شي، شیان رانیسي یا یې خرڅ کړي، نو دی له اسلام څخه خارج شو که نه؟

(ب) که یاد شوی سړی نوروز ته تللو سره هغه خوښ کړي یا د خوړلو شیان رانیولو سره هندوانو ته هدیه کړي، نو دی له اسلام څخه به خارج وي او زوجه به یې مطلقه وي که نه؟ په شرح فقه اکبر کي دي: من خرج الی السدة ای مجتمع اهل الکفر فی یوم النیروز کفر، لأن فیه اعلان الکفر(۱) (۱۳۴۲/۱۷۳۲ھ)

جواب: (الف) د یو غرض او تجارت او نورو لپاره هلته تللو سره رانیولو او خرڅولو ته کفر نه دي ویل شوي، لکه په شرح فقه اکبر کي دي: و إن اتفق الشراء و لم یعلم أن هذا الیوم یو النیروز لا یکفر قلت: و کذا إذا علم أن هذا الیوم هو النوروز لکنه اشتراه بسبب آخر من حدوث ضیافة و نحوها فإنه لا یکفر(۲) نو معلوم شو چي د کفارو د مېلې تعظیم کولو سره یا د دوی په عبادت کي شرکت کولو سره کفر کیږي او د شبه په مواقع کي له تکفیر څخه احتیاط پکار دی بیا هم له داسي امورو څخه پرهېز پکار دی چي خوف د کفر پکښې وي یا ځیني فقهاوو هغه ته کفر ویلی وي.

(ب) په دې کي وجه کفر پخپله په شرح فقه اکبر کي منقوله ده چي اعلان کفر و اعانت کفر دی. فقط

---

(۱) شرح الفقه الأکبر لملا علي القاري، ص: ۲۳۰، فصل فی الکفر صریحًا و کنایة، المطبوعة: مطبع مجتبائي دهلي.

(۲) شرح الفقه الاکبر، ص: ۲۲۹-۲۳۰، فصل فی الکفر صریحًا و کنایة

پر ګناوو اصرار کولو سره کفر لازمیږي که نه؟

سوال: (۵۰۳) پر صغیره و کبیره ګناهونو ټینګار کولو سره کفر لازمیږي که نه؟ (۱۳۴۲/۱۷۳۲)

جواب: محض ټینګار سره کفر نه لازمیږي، مګر د دې په استحسان سره کفر لازمیږي چې ګناه ښه وګڼي(۱) په دې کې هم تفصیل دی(۲) فقط و الله تعالی اعلم

څه بال (تر نامه لاندې وېښتان) دې ورته ویلي دي. ویل څرنګه دي؟

سوال: د نکاح پر مهال له زوم څخه درې روپۍ واخیستلې. بیا یې وویل چې ناوې ته څه ویل شوي دي، د هغې یوه به روپۍ راکړه، پر دې یو سړي وویل چې څه بال دې ورته ویلي دي، بال په بنګال کې د نامه لاندې وېښتانو ته وایي، دا کلمه ویلو سره هغه کافر شو که نه؟ (۱۳۴۲/۱۹۵۷هـ)

جواب: د دې کلمې په ګناه او معصیت کېدو کې هیڅ شبه نشته، لیکن حکم کفر پر ده نه کیږي او د ده زوجه د ده له نکاح څخه نه خارجه کیږي، ده ته پکار ده چې توبه وکاږي. فقط و الله تعالی اعلم

مسجد ته ښکنځل کول او په مسجد کې بولې کوم الخ ویل کفر دی

سوال: (۵۰۵) یو سړي مسجد ته ښکنځل وکړل او دا یې وویل چې په مسجد کې بولې کوم او خنزیر پرې کوم او غورزوم یې والعیاذ بالله تعالی. په دې صورت کې د دغه سړي په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۴۲/۲۰۷۵هـ)

---

(۱) و منها: أن استحلال المعصية صغيرة كانت او كبيرة كفر إذا ثبت كونها معصية بدلالة قطعية و كذا الاستهانة بها كفر بأن يعدها هينة سهلة و يرتكبها من غير مبالاة بها و يجريها مجرى المباحات في ارتكابها(شرح الفقه الأكبر، ص: ۱۸۲، مبحث الأنبياء لم يعلموا المغيبات، المطبوعة مطبع مجتبائي، دهلي)

(۲) قال في شرح الفقه الأكبر: إذا اعتقد الحرام حلالا، فإن كان حرمته لعينه و قد ثبت بدليل قطعي يكفر و إلا فلا، بأن يكون حرمته لغيره او ثبت بدليل ظني، و بعضهم لم يفرق بين الحرام لعينه و لغيره، فقال: من استحل حرامًا و قد علم في دين النبي صلى الله عليه وسلم تحريمه كنكاح ذوي المحارم او شرب الخمر او اكل ميتة او دم او لحم خنزير من غير ضرورة فكافر الخ(مخکنی حواله)

جواب: دا کلمات د دغه سړي د کفر دي، ده لره توبه کول او تجدید اسلام او تجدید نکاح کول لازم دي او ترڅو دی توبه ونه کاږي، د ده سره قطع تعلق وکړئ فقط و الله تعالی اعلم

دا امام اعظم قیاس ته غلط ویونکی کافر دی که نه؟

سوال: (۵۰۲) یو سړی وایي چي کوم څوک د امام اعظم صاحب قیاس ته غلط وایي، هغه کافر دی، دا صحیح دي که نه؟ (۱۳۴۳/۳۸۹هـ)

جواب: قال فی شرح الفقه الاکبر: إذا اعتقد الحرام حلالاً، فإن کان حرمته لعینه و قد ثبت بدلیل قطعي یکفر و إلا فلا، بأن یکون حرمته لغیره او ثبت بدلیل ظني إلخ(۱) و فی رد المحتار: أطلق بعضهم أن مخالف الإجماع یکفر، و الحق أن المسائل الإجماعیة تارة یصحبها التواتر عن صاحب الشرع کوجوب الخمس و قد لا یصحبها فالأول یکفر جاحده لمخالفته التواتر لا لمخالفته الإجماع إلخ(ثم قال) إذا لم تکن الآیة او الخبر المتواتر قطعي الدلالة او لم یکن الخبر متواترًا او کان قطعیًا لکن فیه شبهة او لم یکن الإجماع اجماع الجمیع او کان و لم یکن إجماع الصحابة او کان و لم یکن إجماع جمیع الصحابة او کان إجماع جمیع الصحابة و لم یکن قطعیًا بأن لم یثبت بطریق التواتر او کان قطعیًا لکن کان إجماعًا سکوتیا ففی کل من هذه الصور لا یکون الجحود کفرًا إلخ(۲) (شامي جلد: ۳، باب المرتد) نو معلوم شو چي د یو مجتهد د قیاس انکار کول کفر نه دی، ځکه چي کله مسائل کتاب الله و سنت رسول الله و مسائل اجماعیه کي د انکار دا تفصیل دی کوم چي مذکور دی نو د قیاس انکار ته څرنګه کفر ویل کېدای شي، لهذا مراد دغه دی چي که استخفافًا او اهانةً بالعلم و العلماء داسي وویل، نو کافر دی. فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) شرح الفقه الاکبر، ص: ۱۸۲، مبحث الانبیاء لم یعلموا المغیبات، المطبوعة مطبع مجتبائي، دهلي.

(۲) رد المحتار علی الدر: ۳/۳۱۱، کتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب فی منکر الإجماع ط رشیدیه

دا ویل کفر دی چې زما ایمان زما تر څپلیو لاندې دی

سوال: (۵۰۷) یو سړي تعلیم والا وکیل باوجود د خبرتیا داسي کلمات قبیحه په مجمع کثیر کي تر خپله خوله وباسي چي زما ایمان زما تر څپليو لاندي دی، نو شرعًا د ده لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۴۳/۴۱۲هـ)

جواب: دا کلمه د کفر ده، هغه سړی چي دا کلمه یې وویل، کافر شو او د ده زوجه د ده له نکاح څخه خارجه شوه، لکه په در مختار کي دي و ارتداد أحدهما ... فسخ عاجل(۱) نو دغه سړي ته توبه کنبل او تجدید ایمان او تجدید نکاح کول لازم دی. فقط و الله تعالی اعلم

دا ویل چي ما ایمان بیلاوی، بې ایمان شوم، درواغجن شوم، څرنګه دي؟

سوال: (۵۰۸) زید د خپلي لور کوزده د څلور، پنځو کلو څخه د عمر له زوی سره وعده کړي وه اوس زید د خپلي لور رشته له بکر سره کول غواړي او د دې په عوض کي له بکر څخه د خپل ځان لپاره رشته طلب کوي، عمر کله په مجمع عام کي د خپل زوی د واده لپاره پوښتنه وکړه، نو زید په دې الفاظو سره جواب ورکړ چي ما ایمان بیلاوی، بې ایمانه شوم، درواغجن شوم، په دې صورت کي د زید لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۴۳/۴۳۸هـ)

جواب: زید ته بې له یو عذر قوي او وجه شرعي د خپلي وعدې خلاف کول جائز نه و، په دې سره دی ګنهکاره شو او کوم کلمات چي ده ویلي دي هغه د کفر کلمات دي، د هغه څخه دي توبه وکاږي او تجدید اسلام او تجدید نکاح دي وکړي، که توبه ونه کاږي او تجدید اسلام ونکړي، نو د ده تر شا لمونځ کول صحیح نه دی او د ده په ذبیحه کي هم احتیاط کول پکار دی. فقط و الله تعالی اعلم

(۱) الدر المختار مع رد المحتار: ۴۲۵/۲، کتاب النکاح، باب نکاح الکافر، مطلب الصبی و المجنون لیسا بأهل لإیقاع طلاق بل للوقوع. ط رشیدیه

د هندوانو په مذهبي جلوس کي چنده ورکول جائز دي که نه؟

سوال: (۵۰۹) په يو کلي کي هندوانو ډېر سائيوانونه تيار کړي دي او هغه يې په بازارو او لارو کي نصب کړي دي، پر کومو لارو چي دوی بتان تېروي، په دې کي مسلمانانو لره چنده ورکول جائز دي که نه؟ د هندوانو نيت خو د بتانو شان و شوکت زياتول او تعظيم کول وي او د مسلمانانو دا نيت نه وي بلکي محض د ګرمي له وجي چنده ورکوي، نو پر مسلمانانو حکم د کفر به صحيح وي که نه؟ (۱۳۴۳/۲۰۱هـ)

جواب: مسلمانانو ته په دې کي چنده ورکولو څخه پرهېز کول پکار دی، ځکه چي دغه وخت غرض د بتانو را ايستل او د هغو شان و شوکت زياتول دي، نو که څه هم د چنده ورکونکو غرض تعظيم د بت وغيره نه وي او نه د رسوم کفار تعظيم دی، مرتد و کافر نه ورته ويل کېږي او حکم مرتدين به پر دوی نه جاري کېږي. ليکن مسلمانانو ته په داسي وخت او حال کي چنده ورکول او شريک کېدل جائز نه دي. فقط

دا ويل چي که شريعت هم دی امام ومني بيا هم زه دی امام نه منم. څنګه دي؟

سوال: (۵۱۰) زيد خپل د مسجد امام بلا حکم شرعي له امامت څخه عليحده کړی، پر يوه کولو يې دا جواب ورکړی چي که شريعت هم دی امام ومني، بيا هم زه دی نه منم، د زيد دا ويل کفر دی که نه؟ او زيد لره تجديد نکاح کول پکار دي که نه؟ يا صرف توبه کافي ده؟ يو عالم دا فتوا ورکړه چي زيد ترڅو پوري توبه او تجديد نکاح ونکړي، د ده سره قطع تعلق کېدل پکار دي، پر دې زيد عالم مذکور ته په عام اجلاس کي ښکنځل وکړه او سخته بې عزته يې کړ، ايا د عالم فتوا صحيح وه، نو د زيد لپاره څه حکم دی؟ توبه کافي ده، يا له عالم څخه معافي هم وغواړي؟ (۱۳۴۳/۲۱۲۲هـ)

جواب: په دې کي شک نشته چي دا کلمه د کفر ده او استخفاف د دين محمدي دی او داغه وجه ده چي ډېرو علماوو داسي بې باکه او شريعت د کوچنيانو لوبي ګڼونکو باندي بلا تامل د کفر فتواوي لګولي دي، مګر د دې وجي چي د کفر و اسلام معامله ډېره نازکه ده، فقهاوو په دې کي ډېر احتياط کړی دی او ويلي يې دي چي د يو مسلمان په کلام کښې ترڅو قابل قبول تاويل کېدای شي او د ده کلام پر يو محمل حسن حمل کېدای شي، تر هغه وخته ده ته کافر ويلو کي احتياط کېږي، نو د ياد شوي سړي کلام

خو محتمل تاویل دی او ویل کېدای شي چي د ده مراد شریعت ته بد ویل نه دي بلکي د دې خاص سړي بد والی مقصود دی، د دې وجي ده ته کافر ویلو کي د احتیاط ضرورت دی، په در مختار کي دي: و اعلم أنه لا يفتى بكفر مسلم امكن حمل كلامه على محمل حسن او كان فى كفره خلاف و لو كان ذلک رواية ضعيفة إلخ(۱) بیا په شامي کي دي: ثم إن مقتضى كلامهم أيضا أنه لا يكفر بشتم دين مسلم: أى لا يحكم بكفره لإمكان التأويل، ثم رأيته فى جامع الفصولين حيث قال بعد كلام: أقول: و على هذا ينبغي أن يكفر من شتم دين مسلم، و لكن يمكن التأويل بأن مراده أخلاقه الرديئة و معاملته القبيحة لا حقيقة دين الإسلام فينبغى أن لا يكفر إلخ(۱) (شامي: مطبوعة: مصر: ۲۸۹/۳) و قال فى البحر بعد كلام طويل: و الذي تحرر أنه لا يفتى بتكفير مسلم أمكن حمل كلامه على محمل حسن إلخ(ثم قال) و لقد ألزمت نفسى أن لا أفتى بشىء منها إلخ(۲) (البحر الرائق: ۱۳۵/۵، مطبوعة: مصر) و فى الخلاصة وَ غيرها: إذا كان فى المسئلة وجوه توجب التكفير و وجه واحد يمنع التكفير فعلى المفتى أن يميل إلى الوجه الذي يمنع التكفير تحسينًا للظن بالمسلم و زاد فى البزازية إلا إذا صرح بإرادة موجب الكفر فلا ينفعه التأويل حينئذ(۳) انتهى (نقله فى البحر) بیا هم ده ته توبه کښل پکار دي او احتیاطًا تجدید نکاح هم او ترڅو پوري دغه سړی کامله توبه او ندامت سره پر خپل فعل پښېمانه نشي، د ده سره قطع تعلق قطعًا د سیاست اسلامیه مطابق دی او کوم عالم داسي فتوا ورکړې ده، هغه صحیح ده، قال فى الشامي: و ما فيه خلاف يؤمر بالاستغفار و التوبة و تجديد النكاح اهـ و ظاهره أنه أمر احتياط – و قال بعد اسطر: - و أما إمره بتجديد النكاح فهو لا شک فيه احيتاطًا(۴) لنډه دا چي که څه هم داسي سړي

---

(۱) الدر المختار و رد المحتار: ۳۱۲/۳، كتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب فى حكم من شتم دين مسلم ط رشيديه

(۲) البحر الرائق: ۲۱۰/۵، كتاب السير، باب أحكام المرتدين.

(۳) حوالهٔ سابقه

(۴) الشامي: ۳۱۲/۳، كتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب الإسلام يكون بالفعل كالصلاة بجماعة ط رشيديه

ته کافر نه ویل شي، لیکن بې له توبې و استغفار ویلو بله چاره نلري او على سبيل الاحتياط تجدید نکاح هم پکار ده او تر ټولو دمخه ده ته له هغه عالم څخه معافي غوښتل پکار ده چي هغو ته بې له قصور شرعي بد ویلو سره خپل عاقبت خراب کړی دی، د علماء دین تعظیم په حقیقت کي د دین تعظیم دی او دوی حقیر ګڼل دین حقیر ګڼل دي، په شرح فقه اکبر کي له خلاصه څخه نقل کړی دی: من أبغض عالمًا من غير سبب ظاهر، خيف عليه الكفر(۱) (ص: ۲۱۳) وفي الظهيرية: و من بين وجهًا شرعيًا، فقال خصمه: هذا كون الرجل عالمًا إلخ يخاف عليه الكفر(۳) (شرح فقه أكبر ص: ۲۱۴)

کوم سړی چي د يوې مسلماني ښځي د عيسايي جوړولو کوشش وکړي، هغه کافر دی او د داسي سړي مدد کول حرام دی

سوال: (۵۱۱) ... (الف) یوه ښځه چي ناصره نومیږي او جائداد لري، د دې مېړه ژوندی دی، که یو مسلمان مسماة مذکوره په وجه طمع نفساني پخپل عقد کي د راوړلو په غرض یا د یو بل د عقد کولو په نیت سره اشتعال ناجائز ورکولو سره مذهب اسلام په تبدیل کړي، مذهب عیسائي په قبول کړي او عدالت ته دا د مېړه په خلاف د خپل ځان سره بوزي، مقدمه په داخله کړي او د دې د عیسائي کېدو ثبوت ورکړي، یا دلائل ورکړي او دا پر مکان وساتي او پخپله د دې د خرڅ کفیل وي او هر دول امداد یې وکړي، د دې لپاره شرعًا څه حکم دی؟

(ب) کوم سړی چي د عیسائي کونکي امداد وکړي، یا د مسماة له طرفه په عدالت کي یو دول شهادت پېش کړي، د ده سره مسلمانانو ته څه رویه کول پکار دي؟ (۱۳۴۱/۱۷هـ)

جواب: (الف) داسي سړی چي یو مسلماني ښځي ته د عیسائي کېدو ترغیب ورکړي او د اسلام پرېښودلو حکم ورکړي، هغه مرتد او کافر دی، په شرح فقه اکبر کي

---

(۱) شرح الفقه الأكبر، ص: ۲۱۳-۲۱۴، فصل في العلم و العلماء، المطبوعة مطبع مجتبائي، دهلي.

دي: و من أمر امراة بأن ترتد إلخ كفر الآمر إلخ(۱) (شرح فقه اکبر، ص: ۲۲۵) ترجمه او چا چي يوې ښځي ته د کافر او مرتد کېدو حکم وکړ، هغه کافر شو او دا هم مسئله مسلمه ده: الرضا بالكفر كفر(۲) يعني پر خپل ياد د نورو کافر کېدو راضي کېدل کفر دی. نو په صورت مذکوره کي هغه سړی چي فعل مذکور يې کړی دی او په دې کي ساعي و مددګار شو، هغه کافر او مرتد شو او له دين اسلام څخه خارج شو او د ده سره مسلمانانو ته اختلاط او ارتباط او ملاوېدل ټول حرام دي او له ده څخه د جمله تعلقات انقطاع لازمه ده.

(ب) داسي سړی چي د يو مسلماني ښځي د عيسائي جوړولو کوشش وکړي، يو ډول اعانت او امداد کول او شهادت وغيره پېش کولو يا په بل پېش کولو کي اعانت کول حرام او ناجائز دي او اعانت کونکی فاسق او عاصي دی او د ده سره هم اهل اسلام ته تعلقات ساتل جائز نه دي فقط و الله اعلم

سوال: (۵۱۲) کوم خلک چي د مسلماني ښځي عيسائي جوړولو کي ساعي او معين وو، اوس که هغه هم داغه رنګه ساعي او مددګار وي، نو د دوی لپاره شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۴۱/۳۰۴هـ)

جواب: مخکي به موجب روايات فقهيه دا فتوا ليکل شوې وه چي کوم خلک د يو مسلمان د کافر و مرتد جوړولو حکم وکړي او په هغه کي ساعي او معين وي، هغه هم کافر دی، نو د هغه مرتدي ښځي کوم معاونين چي له مخه د دې معين و تابعدار وو، اوس هم معين و مددګار دي، نو پر دوی د کفر فتوا هغه شان ده او د مقاطعت حکم چي مخکي و، هغه اوس هم پر هغه حال پاته دی او د کتابيه نکاح که څه هم د مسلمان سره صحيح ده، لېکن مسلمانه ښځه که عيسائي شي، هغې ته مرتده ويل کيږي او مرتده کېدو سره نکاح فورًا ماتيږي، لکه په در مختار کي دي: و ارتداد أحدهما ... فسخ ...

(۱) شرح الفقه الاكبر، ص: ۲۲۵، فصل في الكفر صريحًا و كناية، مطبع: مجتبائي، دهلي.
(۲) الشامي مع الدر المختار: ۳۰۰/۳، كتاب الجهاد، فصل في الجزية باب: العشر و الخراج و الجزية، مطلب في تمييز اهل الذمة في الملبس. ط رشيديه

عاجل إلخ(۱) ليکن فقهاوو دا ليکلي دي چي که يوه ښځه د دې وجې مرتده شي چي د دې د مېړه نکاح له دې سره پاته نشي، نو دغه ښځه دوهم ځل په جبر سره مسلمان کولو سره خاص د لومړي مېړه سره د دې نکاح کول ضروري ده. له بل سړي سره د دې نکاح صحيح نه ده. فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۵۱۳) يوه ود شوې ښځه څلور کسانو د عيسائي کولو لپاره بوتله چي نکاح يې ماته شي، د عيسائي کېدو په وخت يو سړي په دې نيت ځني ولاړې چي زما نکاح او ايمان ته نقصان ونه رسيږي، پاته درې کسان ورسره وو او د عيسائي کېدو په وخت رسوم عيسائي په خولې(ټوپی) کښېلو سره ادا کړه، پر دوی څه حکم دی؟او د مذکوره ښځي لومړی نکاح ماته شوله که نه؟ (۲۵۷۸/۱۳۴۳هـ)

جواب: مسئله شرعي دا ده چي څوک د يو سړي په کافر عيسائي او نورو جوړېدو راضي وي او په هغه کي کوشش وکړي، هغه هم کافر کيږي، نو که څلور سره پر دې راضي وه، نو څلور سره کافران شول. که درې راضي وه او يو ناراضه کېدو سره عليحده شو، نو درې کافران شوه، هغه يو مستثنی دی او داسي ښځې لپاره چي د يو مسلمان له نکاح څخه خارج کېدو لپاره عيسائي او مرتده شي، د دې په هکله فقهاوو دا حکم فرمايلی دی چي دغه ښځه به په جبر سره مسلمانه کيږي او خاص د دې له لومړي مېړه سره د دې نکاح په مهر يسير سره کيږي(۲) (در مختار) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) الدر المختار مع رد المحتار: ۴۲۵/۲، کتاب النکاح، باب نکاح الکافر مطلب الصبي و المجنون ليسا باهل لإيقاع طلاق بل للوقوع. ط رشيديه

(۲) و تجبر علی الإسلام و علی تجديد النکاح زجرًا لها بمهر يسير إلخ(در مختار) قوله (و علی تجديد النکاح) فلکل قاض أن يجدده بمهر يسير و لو بدينار رضيت أم لا؟ إلخ (الدر المختار مع رد المحتار: ۴۲۵/۲، کتاب النکاح، باب نکاح الکافر. مطلب الصبي و المجنون ليسا بأهل لإيقاع طلاق بل للوقوع. ط رشيديه)

دا ویل چي شریعت خو ناکاره شی دی. موجب کفر دی

سوال: (۵۱۴) زید د مولوي صاحب مخته راتلو سره دا وویل چي زما ښځه په شرع کي خو مطلقه ده، لیکن په قانون انګریزي کي مطلقه نه ده، شریعت خو ناکاره شی دی، دغه الفاظو ویلو سره څه حکم ورباندي لګیږي؟ (۱۲۳۳/۴۴-۱۳۴۵ھ)

جواب: دا کلمات زید چي د شریعت خو ناکاره شی دی، د کفر کلمات دي، و العیاذ بالله تعالی، حق تعالی دي ده ته توفیق د توبې او تجدید اسلام ورکړي. فقط و الله تعالی اعلم

د عالم توهین کفر دی. که نه؟

سوال: (۵۱۵) یو سړي د عالم توهین وکړی، نو دی کافر شو، که نه؟ په بعض کتب کي دي چي توهین و تحقیر عالم کفر دی. (۲۸۸/۱۳۴۵ھ)

جواب: فقهاوو رحمهم الله دا تصریح کړې ده چي ترڅو تاویل ممکن وي، د یو مسلمان تکفیر نه کیږي او که په یو سړي کي ډیري وجوه د کفر وي او یوه وجه ضعیفه د عدم کفر وي، نو مفتي ته د عدم کفر طرف ته میلان کول پکار دی، دا ټول تفصیل په در مختار و شامي کي دی(۱) لهذا په صورت مذکوره کي ده ته دي کافر نه وویل شي، مګر احوط دا دی چي هغه سړی چي علماوو ته سب او شتم کوي او د علم دین استخفاف

---

(۱) اعلم أنه لا یفتی بکفر مسلم أمکن حمل کلامه علی محمل حسن او کان فی کفره خلاف و لو کان ذلک روایة ضعیفة... إذا کان فی المسئلة وجوه إلخ(الدر المختار مع الشامي: ۳۱۲/۳، کتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب فی حکم من شتم دین مسلم ط رشیدیه) و فی الخلاصة وغیرها: إذا کان فی المسالة وجوه توجب التکفیر و وجه واحد یمنعه فعلی المفتي أن یمیل إلی الوجه الذي یمنع التکفیر تحسینًا للظن بالمسلم(رد المحتار علی الدر: ۳۱۲/۳، کتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب ما یشک أنه ردة یحکم بها، و فیه أیضًا: ۲۰/۱، أوائل کتاب الطهارة. ط رشیدیه)

کوي: تجدید ایمان و تجدید نکاح دي وکړي، هذا کله في رد المحتار المعروف بالشامي(۱)

یهود و نصاری ته کافر ویل پکار دي که نه؟

سوال: (۵۱۶) د غیر الله بندګي کونکو ته لکه یهود، نصاری، مجوسي، آتش پرست کافر ویل پکار دي که نه؟ (۱۳۳۹/۱۸۸۰هـ)

جواب: مشرک و بت پرست و یهود و نصاری ټول کافران دي او د هغو په کافر کېدو کي څه شبه کېدای شي، کومو ته الله تعالی کافران ویلي دي، کما قال الله تعالی: و لقد کفر الذین قالوا إن الله هو المسیح ابن مریم(سورة مائده، آیت ۱۷) فقط و الله تعالی اعلم

سوال: (۵۱۷) یو عالم وایي چي یهود و نصاری چي قائل د توحید دي، کافران نه دي، دا صحیح دي که نه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۳۰۴هـ)

جواب: یهود و نصاری کومو چي پر نبي صلی الله علیه وسلم ایمان نه دی راوړی، هغه کافران دي، لکه د صحیح مسلم شریف په حدیث کي دي: عن أبي هریرة رضی الله عنه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم أنه قال: و الذي نفس محمد بیده لا یسمع بي أحد من هذه الأمة یهودي و لا نصراني، ثم یموت و لم یؤمن بالذي أرسلت به إلا کان من أصحاب النار(۲) (رواه مسلم) او کوم یهود و نصاری چي پر نبي صلی الله علیه وسلم ایمان راوړی، هغه مسلمانان او مؤمنان شول، هغو ته دي یهود و نصاری نه وویل شي، که چا په اعتبار ملت سابقه دوی ته یهودي او نصراني وویل، نو دا کفر نه دی. فقط

---

(۱) قال في الشامي: و ما فیه خلاف یؤمر بالاستغفار و التوبة و تجدید النکاح اهـ، و ظاهره أنه أمر احتیاط – و قال بعد أسطر: - و أما أمره بتجدید النکاح فهو لا شک فیه احتیاطا(الشامي: ۳۱۲/۳، کتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب الإسلام یکون بالفعل کالصلاة بجماعة. ط رشیدیه)

(۲) الصحیح لمسلم: ۸۲/۱، کتاب الإیمان، باب وجوب الإیمان برسالة نبینا محمد صلی الله علیه وسلم الخ.

د ضروریات دین انکار کول کفر دی

سوال: (۵۱۸) څو خلک مسلمان مشهوره کېدو سره پر لاندي اعتقاداتو جازم دي.

(۱) په اسلامي عقائد و اعمال کي صرف قرآن مجيد خو کافي دی، د تفسير ضرورت نشته کوم چي بخاري و مسلم او نورو کي درج دی او نه دا کتابونه د اسلام برخه دي.

(۲) د جنازې لمونځ د خلکو يو رواجي طريقه ده يو اسلامي کار نه دی.

(۳) بعض له دوی څخه صرف د درې لمنځو قائل دي او ځيني پنځه هم کوي او د ځينو په درو کي هم تردد دی.

(۴) په زکوة کي د نصاب او کال تېرېدو شرط نه مني.

(۵) پنځه وخته آذان د خلکو ايجاد بولي، ايا دا خلک قطعي مسلمانان دي او مسلمانانو ته د دوی په جنازه او نورو کي حاضر کېدل جائز دي؟ او کوم امام چي د څه طمع پر بنياد د دوی په جنازه او نورو کي حاضر شي، د هغو په هکله څه حکم دی؟ (۲۱۲۴/۱۳۴۳هـ)

جواب: د ضروريات دين انکار کفر دی، نو په اعتقادات مذکوره کي بعض صريح کفر دی لکه پنځه وخته لمنځو کي صرف درې لمنځونه فرض بلل او د دوو لمنځو د فرضيت انکار کول، دغه شان د جنازې لمانځه ته رواجي طريقه ويل او اسلامي کار نه بلل، دغه شان په زکاة کي د حولان حول او نصاب شرط ته لغو ويل او له دې څخه انکار کول په حقيقت کي د زکاة انکار کول دي او ځيني که څه هم صريح کفر نه دی، ليکن هغه هم مستلزم کفر دی او دا هم په ټولو کتب کي تصريح ده چي استخفاف د سنت هم کفر دی، نو په دې صورت کي يو امر هم له امور مذکوره څخه داسي نه دی چي له هغه څخه کفر نه لازميږي، لهذا فرقه مذکوره کافره ده او خارجه له اسلام ده او د دوی جنازه مسلمانانو لره جائز نه ده او کوم امام چي په طمع دنياوي داسي وکړي، هغه فاسق و مبتدع او ضال و مضل دی. فقط و الله تعالى اعلم

د اخبار آحاد منکر کافر نه دی

سوال: (۵۱۹) اخبار آحاد دليل ظني دی، که قطعي؟ د اخبار آحاد منکر کافر دی، که نه؟ (۳۵/۵۲۹ ۱۳۳۶هـ)

جواب: اخبار آحاد دليل ظني دی او منکر د هغه کافر نه دی، کما فی الشامي إذا لم تكن الآية او الخبر المتواتر قطعی الدلالة او لم يكن الخبر متواترًا او كان قطعيًا لكن فيه شبهة او لم يكن الإجماع إجماع الجميع او كان و لم يكن إجماع الصحابة او كان و لم يكن إجماع جميع الصحابة او كان إجماع جميع الصحابة و لم يكن قطعيًا بأن لم يثبت بطريق التواتر او كان قطعيًا لكن كان إجماعًا سكوتيًا ففي كل من هذه الصور لا يكون الجحود كفرًا يظهر ذلک لمن نظر فی کتب الأصول فاحفظ هذا الأصل فإنه ينفعک إلخ(۱) (باب المرتد) فقط و الله تعالی اعلم

ترجمه: کله چي آيت يا خبر متواتر قطعي الدلالة نه وي(۲) يا خبر متواتر نه وي(۳) يا خبر قطعي وي ليکن په هغه کي شبه وي(۴) يا اجماع د ټولو خلګو اجماع نه وي(۵) يا د ټولو خلګو اجماع وي ليکن د صحابه کرامو اجماع نه وي(۶) يا د صحابه کرامو اجماع وي ليکن د ټولو صحابه کرامو اجماع نه وي(۷) يا د ټولو صحابه کرامو اجماع وي ليکن قطعي نه وي، په دې ډول چي بطريق تواتر ثابت نه وي(۸) يا د صحابه کرامو اجماع قطعي وي ليکن سکوتي وي – په دغه ټولو صورتونو کي انکار کول به کفر نه وي – دا ضابطه واضح کيږي، د هغه سړي لپاره چي د اصول په کتابو کي غوره کوي، دغه ضابطه ياد وساته، تاته فايده درکوي

څوک چي د ضروريات دين منکر نه وي، هغو ته کافر ويلو کي احتياط کول پکار دی

سوال: (۵۲۰) په چا کي نهه نوي علامت کفر وي او يوه علامه د ايمان هغه کافر نه دی کما فی بعض کتب الفقه د دې څه وجه ده؟ (۴۲/۴۰۰-۱۳۴۷هـ)

---

(۱) رد المحتار علی الدر: ۳۱۱/۳، کتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب فی منکر الإجماع ط رشيديه

جواب: دا هله دي چي د ضروريات دين منکر نه وي، ځکه چي هغه د ضروريات دين منکر نه دی، نو د ده په کفر کي احتياط کول پکار دی، په حديث کي دي، که څوک چاته کافر ووايي او په حقيقت کي هغه کافر نه وي، نو هغه کفر پخپله پر ويونکي راګرځي(۱) فقط و الله تعالى اعلم

چا چي دا ويل موږ به د خنزير غوښي خورو، که کله کلمه ووايو يا واورو. هغه کافر شو

سوال: (۵۲۱) عمر زيد ته د څو مسلمانانو مخته دا وويل چي ته نه روژې نيسي، نه لمونځ کوې، حتى چي کلمه ويل هم نه پېژني، نو پر دې زيد وويل: موږ يې نه کوو، بيا د ده سره په کلمه ويلو کي ټينګار وشو؛ نو قسم اخيستلو سره وايي، موږ به د خنزير غوښي خوړلي وي، که کله کلمه ووايو يا واورو آيا زيد له دايره د اسلام څخه خارج شو که نه؟ (۱۵۲۲/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: په دغه صورت کي زيد له دائره د اسلام څخه خارج شو او کافر شو والعياذ بالله تعالى، دَه ته تجديد ايمان کول او توبه کښل لازم دي. فقط و الله تعالى اعلم

تر څمکي لاندي خوړو او ترو او اوبو پېژندلو دعوا کول

سوال: (۵۲۲) يو سړی وايي چي زه خوړې او تروي اوبه په ځمکه کي پېژنم، که څه روپۍ راکړئ، نو زه يې درښيم، د ده پر ويلو بعض خلکو څاوي کښلي دي، په ځينو څاوو کي خوږې او په ځينو کي تروې اوبه راوتلي دي بعض خلک دې ته جائز وايي او بعض ناجائز، دغه شان د بعض په نزد روپيه ورکول جائز دي او د بعضو په نزد ناجائز؟ (۱۳۰۱/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: که دعوا د علم غيبت ده، نو دا افتراء او کذب دی، څه اخيستل ورکول ده ته صحيح نه دي، له دغي وجي د ده څخه پوښتنه کول هم حرام ده، ليکن د اوبو ښنل او

---

(۱) عن عبد الله بن عمر رضي الله عنهما أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: أيما رجل قال لأخيه: كافر، فقد باء بها أحدهما (صحيح البخاري: ۹۰۱/۲، كتاب الأدب، من كفر أخاه بغير تأويل فهو كما قال)

استعمال کول بیا هم صحیح دي، په دغه اوبو کي هیڅ حرمت و کراهت نشته. فقط و الله تعالی اعلم

څوک چي دا وايي. زه غیب پېژنم. هغه درواغجن دی

سوال: (۵۲۳) یو مولوي په وعظ کي اعلان وکړی او په دعوا سره دا وايي چي زه غیب پېژنم، د ده لپاره حکم شرعي څه دی؟ (۲۴۱۰/۱۳۴۳هـ)

جواب: دغه سړی مدعي کذاب او مفتري دی، قال الله تعالی: قل لا یعلم من فی السماوات و الأرض الغیب إلا الله(سورة نحل، آیت: ۲۵) فقط و الله تعالی اعلم

د غیب پېژندلو دعوا کول او خلګو ته د مستقبل خبري ښودل

سوال: (۵۲۴) زید د غیب پېژندلو دعوا کوي او خلګو ته د مستقبل خبري ورښيي، دا جائز دي که نه؟ (۷۲۲/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: د علم غیب پېژندلو دعوا محض باطله او افتراء علی الله ده، د غیب علم علی الاطلاق سواء حق تعالی هیچاته نشته، عالم غیب حق تعالی دی او دا صفت خاصه د جناب باري تعالی ده: قل لا یعلم من فی السماوات و الأرض الغیب إلا الله(سورة نمل، آیت: ۲۵) فقط و الله تعالی اعلم

آیا مؤکل د غیب خبر ښوولی شي؟

سوال: (۵۲۵) عامل وايي چي زموږ پر ویلو موکل راځي او د غیب خبر راښيي، دا تر کومه صحیح دي؟ (۲۰۱۹/۱۳۴۳هـ)

جواب: دا غلط دي او صحیح نه دي او کول د داسي اعمال جائز نه دي. فقط و الله اعلم

د کفارو د روحو په هکله یو باطل خیال

سوال: (۵۲۶) مشهوره ده چي کافر نارینه د جنابت په حالت کي او کافره ښځه د حیض په حالت کي که مړه شي، نو د دوی روح مسخر کولو سره او هیئت مخلوق نارې په اغستلو سره بیا په عالم دنیا کي راالېرل کېږي، تر یوم الحساب پوري په دې صورت وسیږي او بیا لا بیع فیه و لا خلة(سورة بقره، آیت: ۲۵۴) کي اصلي حالت ته راګرځولو سره دوی ته سزا اعمال ورکول کیږي، دا صحیح دي که نه؟ (۱۹۹۸/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: دا امر لا اصل دی، هیڅ ثبوت د دې نشته، بلکي کفار د مړ کېدو بعد په عذاب برزخ کي ګرفتاره کیږي او مقام د دوی د ارواح سجین دی. کافر جنبي او غیر جنبي او کافره ښځه حائضه او غیر حائضه کي هیڅ فرق نشته، دا څه چي مشهور دي. غلط او بې اصل دي فقط و الله اعلم

احیاء موتي په معجزه سره تناسخ ثابت کول غلط دي

سوال: (۵۲۷) زید یوه معجزه د رسول الله صلی الله علیه وسلم بیان کړه، هغه دا ده چي حضرت جابر رضی الله عنه د نبي صلی الله علیه وسلم دعوت وکړی او د وزې یو مرغومی یې ذبح کړ، د ده دوو هلکانو دا ذبح کول ولیدل. یوه چاړه را واخیستله دا بل یې ذبح کړی، کله د دوی والده کوټې ته ورسېده، نو کوم چي ورور ذبح کړی و، هغه وتښتېدی، تر کرکۍ لوېدو سره مړ شو، نو کله چي نبي صلی الله علیه وسلم د دوی ته راغی، ده ته دا کیسه معلومه شوه، نو ده دواړه ژوندي کړل، بکر وایي، که دا کیسه صحیح ده، نو په دې سره مسئله تناسخ ته مدد ملاوېږي که نه؟(۱۲۵۹/۳۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: دا کیسه په صحیح روایتو کي نشته، پاته د بکر دا خیال چي له احیاء موتي څخه تناسخ ثابتیږي، غلط دي، د احیاء موتي معجزه له انبیاء کرام علیهم الصلاة و السلام څخه شوې ده، تناسخ ته د هغه سره هیڅ تعلق نشته، نو ظاهره ده چي په احیاء موتي کي خو هغه روح په هغه بدن کي کوم چي مخکي و، داخل کیږي او په تناسخ کي تبدیل ابدان دی او اهل تناسخ د قدم روح قائل دي، نو په احیاء موتي او تناسخ کي ډېر لیري فرق دی. فقط و الله تعالی اعلم

په قبر کي د مړي د شوړېدو له بوی څخه روح ته اذیت رسیږي که نه؟

سوال: (۵۲۸) کله چي سړی مړ کیږي، نو د دفن کولو بعد کله د ده وجود پړسیږي او پتاوېږي او شوړیږي، نو آیا د دغه له بوی څخه روح ته احساس کیږي که نه؟ او د ده له بوی څخه روح ته اذیت رسیږي، که نه؟(۱۱۹۲/۱۳۳۷ھ)

جواب: روح ته د دې احساس و ادراک کېدل یا له دې څخه ایذاء رسېدل ثابت او وارد نه دي او په قیاس سره څه نشي ویل کېدای، فانه من لم یذق لم یدر. فقط و الله تعالی اعلم

د میت روح مکان ته راځي که نه؟

سوال: (۵۲۹) د میت روح مکان ته راځي که نه؟ (۳۲/۱۰۷-۱۳۳۳هـ)

جواب: روح مکان ته نه راځي، د دې هیڅ ثبوت نشته، داسي خیال او عقیده مه ساتئ. فقط

د پیر په پښو کي سر اینبودل او د باچا یا نواب مخته لاس پر نامه درېدل

سوال: (۵۳۰) پیر ته سجده کول څرنګه دي او د ده په پښو کي سر اینبودل څرنګه دي، د یو باچا یا نواب مخامخ لاس پر نامه درېدل څرنګه دي؟ د داسي خلګو شاته لمونځ کول جائز دی که نه؟ که یې څوک وکړي، نو څه به راګرځوي؟ (۴۲/۱۸۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: د عبادت په نیت پیر ته سجده کول حرام او شرک دی او الله تعالی فرمایي: إن الله لا یغفر أن یشرک به و یغفر ما دون ذلک لمن یشاء (سورة نساء، آیت ۴۸ او ۱۱۲) یعني الله تعالی مشرک نه بخښي، له مشرک څخه که څوک وغوړي بخښي یې ماسیوا له دې څخه د پیر په پښو کي سر اینبودل هم حرام او ناجائز دي، ځکه دا هم مشابه د سجدې دی، د ي نواب یا باچا مخته لاس پر نامه درېدل هم ناجائز دي، ځکه دا مشابه د لمانځه دي او سجده تعظیمي کولو والاوو پسي لمونځ کول مکروه تحریمي دی، دوی دي امامان نه جوړېږي او کوم لمنځونه چي د داسي خلګو شاته کړي دي، هغه د کراهت سره ادا شول. فقط و الله تعالی اعلم

د ملائکو د وجود انکار کول کفر دی

سوال: (۵۳۱) ملائکه هیڅ شی نه دي؟ (۳۲/۱۲۱۹-۱۳۳۳هـ)

جواب: ملائکه د الله یو غټ مخلوق دی چي د نور څخه جوړي دي، انکار د دوی له وجود څخه کفر دی.

د انګور شراب حلال ګڼونکی کافر دی

سوال: (۵۳۲) کوم سړی چي خمر یعني د انګور شراب قطعي حرام نه ګڼي، نو د ده څه حکم دی؟ (۱۳۴۵/۳۰۰۴هـ)

جواب: په در مختار کي دي: و المحرم منها أربعة:... الخمر و هي النيء... من ماء العنب إذا غلى و اشتد إلخ و يكفر مستحلها إلخ(۱) او يا نه اشربه ثلاثه په هکله دا ليکل يدي: و حرمتها دون حرمة الخمر فلا يكفر مستحلها إلخ(۲) (در مختار) له دي څخه معلوم شو چي خمر يعني د انګورو شراب حلال ګڼلو والا کافر کيږي او د شراب له پاته اقسام له حرمت څخه انکار کېدو سره نه کافر کيږي که څه هم ټول حرام دي فقط و الله تعالی اعلم

د الله تعالی په هکله څو باطل خيالات

سوال: (۵۳۳) خداوند کريم پر عرش ناست دی، پر کرسی يې پښه ايښې ده، کرسی چغکاری کوي(قرآن مجيد مترجم مولوي وحيد الزمان حاشيه آيت الکرسی) رسول کريم صلی الله عليه وسلم خاتم النبيين نه دی، ټول انبياء په تبليغ احکام کي معصوم نه دي، خداوند تعالی کذب او بول او براز او نورو باندي قادر دی، داسي عقيده والاوو لپاره څه حکم دی؟ (۴۰۰/۴۲-۱۳۴۷ه)

جواب: په دغو کي بعض عقايد پر صريح کفر دلالت کوي، نو داسي خلک کافران دي، که مؤول نه وي، نو يو مسلمان دي د دوی سره تعلق نه ساتي او بعض عقائد خلاف د سلف صالحين دي، داسي خلک اهل اهواء کي داخل دي فقط و الله تعالی اعلم

آيا په وبائي مرض کي خلک له مقرر وخته څخه مخکي مره کيږي؟

سوال: (۵۳۴) د ېر خلک دا عقيده ساتي چي مثلاً په وبائي مرض کي هغه خلک هم مره کيږي چي د هغو ژوند باقي وي، دا صحيح دي که نه؟ (۲۰۲۴/۱۳۴۱ه)

جواب: دا عقيده غلطه ده، د چا چي څومره عمر مقدر و مقرر شوی دی، هغه به دی پوره کوي، په هغه کي نه کمښت کېدای شي او نه زياتوب، کما قال الله تعالی: ما تسبق من أمة أجلها و ما يستأخرون(سورة حجر، آيت: ۵ او سورة مؤمن آيت: ۴۳) فقط و الله تعالی اعلم

---

(۱) الدر المختار مع الشامي: ۳۱۸/۵، آوائل کتاب الاشربة ط رشيديه

(۲) الدر مع الرد: ۳۱۲/۵. کتاب الاشربة ط رشيديه

دا خیال باطل دی چې د لمر ګرمي ختمېدو سره قیامت راځي

سوال: (۳۳۵) زید داسي وايي چې الله تعالی څه وخت لمر پیدا کړی و، هغه وخت ډېره ګرمي وه، اوس ورځ په ورځ د لمر وړانګې ختمیږي او سړیږي، تر دې چې په هندوستان کې مخکې ډېره ګرمي وه، اوس یخ دی او داسي هم وايي چې لمر یخ کېدو سره، سره به بالکُل یخ کیږي او په ټول جهان کې به تیاره کیږي، هغه ورځ به قیامت راځي، ایا دا عقیده صحیح ده؟ (۸۲۴/۴۷-۱۳۴۷هـ)

جواب: د زید دا قول بې اصل دی، د دې هیڅ اصل نشته. فقط والله تعالی اعلم

ایا د قیامت په ورځ د مني په باران سره مړي ژوندي کیږي

سوال: (۵۳۶) یو سړي له یو چا څخه واورېدل چې د قیامت په ورځ به د مني په باران سره مړي ژوند کیږي، دا صحیح دي کنه؟ (۱۱۵۷/۱۳۴۰هـ)

جواب: دا قول غلط دی، د دې یو ځای ثبوت نشته، شرعًا صرف دومره قدر ثابت دي چې له دوهمي نفخې وروسته د الله تعالی په حکم سره ټول مړي ژوند کیږي([1]) تر زیات د دې په تحقیق پسې کېدو ضرورت نشته، څه وخت حکم الهي د چا د پېدا کېدو کیږي نو په کلمه کن سره هغه شی پیدا کیږي. کما قال الله تعالی: "انما امره اذا اراد شیئا أن یقول له کن فیکون" (سورة یس، آیت: ۸۲) نو دغه شان به د الله تعالی په حکم سره فورًا مړي ژوندي کیږي. فقط والله تعالی اعلم

---

۱) ثم یؤمر اسرافیل بالنفخ ثانیًا: وهي نفخة البعث یکون بینهما مدة اربعین سنة والیه یشیر قوله تعالی: "ثم نفخ فیه اخری" ای ثم نفخ في الصور نفخة اخری "فاذا هم قیام ینظرون" ای قائمون من قبورهم او متوقعون ینظرون ما یفعل بهم او یقلبون ابصارهم في الجهات نظر المبهوت. اذا فاجاءه خطلب، وقرئ قیاما بالنصب علی انه حال من ضمیر "ینظرون" وهو خبره وفي الجملة یصیرون احیاء بالجمعهم فثبت البعث به (التفسیرات الحمدیة: ص۴۳۳، تفسیر سورة الزمر، رقم الایة: ۶۸)

وعن ابي هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ما بین النفختین اربعون. قال: اربعون یوم، قال: أبیت، قال: أربعون شهرًا، قال: أبیت، قال: أربعون سنة قال أبیت، قال: ثم ینزل الله من السماء ماء فینبتون کما ینبت البقل لیس من الانسان الا یبلی الا عظما واحدا وهو عجب الذنب ومنه یرکب الخلق یوم القیامة (الصحیح البخاري: ۷۳۵/۲، کتاب التفسیر، باب قوله: "یوم ینفخ في الصور فتأتون افواجًا")

کوم سړی وایي چي د صابر علاء الدین رحمه الله روح هر وخت زما سره اوسیږي هغه درواغجن او دوکه باز دی

سوال: (۵۳۷) د زید مقوله ده چي د صابر علاء الدین مرحوم روح هر وخت زما سره اوسیږي، د داسي سړي په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۴۷-۴۲/۲۱۱۲)

جواب: هغه سړی درواغجن او دوکه باز دی، د ده څخه مسلمانانو لره علیحده اوسېدل پکار دي فقط

له مېړه څخه خلاصون لپاره واده شوي ښځي ته د عیسائي مذهب خپلولو ترغیب ورکول

سوال: (۵۳۸) زید خپله لور ضداً له خپل مېړه څخه په دې طریقه سره خلاصون غواړي چي د څه وخت لپاره يې په عیسایي مذهب کي داخله کړي چي تعلق زوجیت منقطع شي او نکاح فسخ شي، په دغه صورت کي شرعًا د دې د پلار لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۴۷-۴۲/۹۱۳هـ)

جواب: دا طریقه حرامه ده او د دې طریقې تعلیم ورکونکی کافر کیږي، لرضائه بالکفر[1] که هغه ښځه مرتده شي نو فقهاوو لیکلي دي چي دا به په جبر سره مسلمان کولو سره د دې نکاح به له لومړي مېړه سره په لږ مهر سره کیږي.[2] (در مختار)

---

۱) وان من ساعد علی ذلک فهو راض بالکفر والرضا بالکفر کفر (رد المحتار علی الدر: ۲۹۸/۳، کتاب الجهاد، فصل في الجزية، مطلب فيما افتی به بعض المتهورين في زماننا، ط رشيديه)

۲) وتجبر علی الاسلام وعلی تجديد النكاح زجرًا لها بمهر يسير كدينار وعليه الفتوی (در مختار) وفي الشامي: قوله (وعلی تجديد النكاح) فلكل قاض ان يجدد بمهر يسير ولو بدينار رضيت ام لا، وتمنع من التزوج بغير بعد اسلامها ولا يخفی ان محله ما اذا طلب الزوج ذلک اما لو سكت أو تركه صريحًا فإنها لا تجبر وتزوج من غيره لأنه تركه حقه (الدر المختار ورد المحتار: ۴۳۲/۲، کتاب النکاح، الكافر، مطلب الصبيي والمجنون ليسا بأهل لإيقاع الطلاق بل للوقوع. ط رشيذيه)

په شرح فقه اکبر کي دي: وفي المضمرات: لو افتی لامرأة بالكفر حين تبين من زوجها فقد كفر قبلها وتجبر المراة على الإسلام الخ وليس لها أن تتزوج الا بزوجها الاول الخ. (۱) (شرح فقه اکبر) فقط والله تعالی اعلم.

یو سړي د مېړه د مرتد کېدو او څو خلګ د متفقي کیدو شهادت ورکوي نو څه حکم دی؟

سوال: (۵۳۹) د زید شل کاله شوي دي چي خپله مانيه يې پرې ايښې ده، بل ملک ته تللی دی، خطونه راځي يو سړي دا وويل چي ما ده ته کور ته د راتلو په هکله وويل ده جواب راکړی چي څه وخت د خدای حکم وشي څم، بیا يې وويل: خدای او رسول څوک دي؟ قرآن څه شي دی؟ نعوذ بالله تعالی، ليکن متعدد کسانو د ده د متقي کيدو شهادت ورکوي في الحال د يو سړي پر قول دی مرتد ګرځولو سره د ده د ښځي نکاح کول شرعًا جائز ده کنه؟ (۱۲۴/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: وفي جامع الفصولين: اخبرها واحد بموت زوجها او بردته او بتطليقها حل لها التزوج ولو سمع من هذا الرجل آخر له ان يشهد لأنه من باب الدين فيثبت بخبر الواحد (۲) (شامي) له دغه روايت څخه معلوم شو چي زوجې ته د نکاح ثاني جائز کېدو لپاره د يو سړي خبر کافي دی، د ده زوجه د دغه سړي پر خبر ورکولو چي ده خادی تعالی او رسول او قرآن ته داسي ويلي دي، خپل ځان د ده له نکاح څخه خارجه ګڼلو سره بله نکاح کولای شي، لېکن محض د دغه سړي په ويلو سره حکم د مرتد کېدو دي نه ورکول شي ځکه اعتبار د دغه خبر د ښځي د جواز نکاح لپاره دی او د دغه سړي د مرتد کېدو لپاره دا ثبوت کافي نه دی خصوصًا چي نور خلګ د دې په خلاف د ده د اسلام او اصلاح وتقوی شهادت ورکوي. فقط والله تعالی اعلم.

---

۱) شرح الفقه الاكبر: ص۲۲۱، فصل في الكفر صريحًا وكناية، مطبع مجتبائي دهلي.

۲) رد المحتار على الدر: ۲۲۸/۲، كتاب الطلاق، باب العدة، مطلب في المعنى اليها زوجها. ط رشيديه

پرکوم سړي چې د کفریه کلمه ویلو الزام دی هغه انکار کوي نو څه حکم دی؟

سوال: (۵۴۰) د زید خسر ګنۍ د زید زوجه رخصت کول نه غواړي او داسې ډول وسائل لټوي چې په هغه سره طلاق اخیستلو سره دعوی د مهر وکړي، زید طلاق نه ورکوي او زید وایي چې ما خاشا وکلا هیڅ کلمه نه ده ویلې، زما خسرګنۍ پر ما تهمت لګوي چې ده کفریه کلمه ویلو سره د ایمان توهین کړی دی، د دې وجې ما کافر جوړولو سره زما کوروالا زما څخه خلاصول غواړي، په دغه صورت کې ایا زید کافر شو؟ او د ده پر زوجه طلاق واقع شو؟ (۱۳۴۳/۵۳۳ھ)

جواب: چې زید له کفریه کلمه ویلو څخه منکر دی نو ده ته مسلمان ویل کیږي او بیا به ده ته کافر نه ویل کیږي او نه به کافر ګڼل کیمي لیکن که په دوو عادل ګواهانو سره د ده کلمهٔ د کفر ویل مخکې ثابت شوې وي نو د ده زوجه د ده له نکاح څخه خارجه شوه، هغه بیله تجدید نکاح نشي ایښودلای، کما في الدر المختار: شهدوا علی مسلم بالردة وهو منکر لا یتعرض له لا لتکذیب الشهود العدول بل لأن انکاره توبة ورجوع یعني فیمتنع القتل فقط وتثبت بقیة احکام المرتد کحبط عمل وبطلان وقف وبینونة زوجة الخ. (۱) فقط والله تعالی اعلم

له قرآن شریف یا تسبیح څخه استخاره کتل او هغه د غیب خبر ګڼل

سوال: (۵۴۱) له قرآن شریف یا تسبیح څخه استخاره کتل او کوم څه چې معلوم شي هغه د خدای له طرفه د غیب خبر ګڼل جائز دي کنه؟ (۱۳۴۳/۲۰۱۹ھ)

جواب: داسې نه دي ګڼل پکار او من الله خبر د غیب ګڼل دغه صحیح نه دي؟ فقط والله تعالی اعلم

تسلیم کول چې هندوان د خپل مذهب اشاعت کولای شي د کفر حمایت دی کنه؟

سوال: (۵۴۲) .... (الف) ایا اسلام د دې امر اجازه ورکوي چې کافر بالخصوص هندوان د کفر

---

۱) الدر المختار مع الرد: ۳/۲۴۷، کتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب جملة من لا یقتل اذا ارتد. ط رشیدیه

وشرک اشاعت وکړي؟

(ب) که اسلام د دې اجازه نه ورکوي نو د یو سړي دغه حق تسلیم کول او هغه نه جائز ویل حمایت د کفر دی کنه؟ (۵۸۹/۱۳۴۲ھ)

جواب: (الف ـ ب) ظاهر دي چي اسلام د دې اجازه نه ورکوي چي د کفر وشرک اشاعت دي وي مګر د دغه کلام بعض الناس دا مطلب اخیستل پکار دي چي مسلمان خو پخپله د بل قوم رعایا دی او د دغه غلبه لرونکي قوم له طرفه هر یوه ته دا آزادي ده چي د خپل مذهب اشاعت وکړي او مسلمانانو ته دا اجازه نشته چي هغه راوګرځوي، د دې وجي دا ویل کیږي چي هندو دي له مسلمانانو سره تعرض نه کوي نو دا حمایت د کفر نه دی بلکي اظهار د خپل مجبوري دی. فقط والله تعالی اعلم

ایا لواطت کونکی له امت محمدیه څخه خارج دی؟

سوال: (۵۴۳) حرکت لواطت کوونکی في الواقع له امت محمدي څخه خارج دی؟ بیان یې کړه. (۱۳۳۸/۳۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: هغه فاسق وعاصي دی، توبه دي وکاږي او په راتلونکي زمانه کي دي له دغه‌بد حرکت څخه راوګرځي، واقعي هغه سړی که توبه نه وکاږي نو کامل امتي د نبي صلی الله علیه وسلم نه دی.

د حضرت حسن رضی الله عنه صلح د دین بربادي ګرځول جهالت دی

سوال: (۵۴۴) یو سړی له مسلمان کېدو سره دا وایي چي حضرت امیر المؤمنین سبط رسول حضرت حسن رضی الله عنه چي د حضرت امیر معاویه رضی الله عنه سره رسول خدا صلی الله علیه وسلم د وړاندي ویني کومه صلح ومصالحت کړی دی، په دغه صلح ومصالحت سره حضرت حسن رضی الله عنه د حضرت دین برباد کړی دی، داسي عقیده ساتونکو باندي شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۴۱/ ۱۳۴۲ھ)

جواب: ظاهر دي چي دا خیال او عقیده د دغه سړي بالکل غلطه او جهالت دی له دین څخه، ځکه چي کوم امر نبي صلی الله علیه وسلم اصلاح او خیر ښودلی دی، هغه دغه سړی فساد او بربادي د دین بولي، دا د دغه سړي د خبث باطني او ګمراهي دلیل دی

په بخاري شريف کي په روايت د ابو بکر رضی الله عنه مروي دي چي نبي صلی الله عليه وسلم حضرت امام حسن رضی الله عنه طرف ته اشاره کولو سره وويل: ان ابني هذا سيد ، ولعل الله ان يصلح به بين فئتين عظيمتين من المسلمين (١)، يعني دا زما زوی سردار دی او اميد دی چي الله تعالی د ده په سبب به د مسلمانانو په دوو فرقو کي مصالحت وکړي نو داغه شان وشو چي حضرت حسن رضی الله عنه حضرت امير معاويه رضی الله عنه ته خلافت وسپاری او ټول مسلمانان په خپل منځ کي متفق شول او جنګ وجدال وحرب وقتال خپل منځ کي موقوف شو ، نو دغه صلح واصلاح چي کوم سړی فساد او بربادي د دين بولي هغه سخت بد دين او سرکښ وجاهل دی او دا عقيده د ده خلاف د عقيده د اهل سنت وجماعت ده. فقط و الله تعالی اعلم

١) صحيح البخاري: ٣٧٣/١ ، کتاب الصلح، باب قول النبي صلی الله عليه وسلم للحسن بن علی ابني هذا سيد الخ

د کفر و ارتداد حکم او له هغه څخه د توبې

د کومو کلماتو په وجه مؤمن کافر کیږي او مرتد څنګه داخل اسلام کېدای شي؟

سوال: (۵۴۵) مسلم، مؤمن سړی په کومو کلمات باطله سره مردود کافر کیږي؟ بیا څنګه داخل اسلام کېدای شي چې د ده زوجه د ده په نکاح کې پاته شي؟ (۱۵۱/۳۱۵۱-۴۲/۱۳۴۷هـ)

جواب: کوم څوک چې د قطعیات دین منکر وي، هغه کافر دی نو کوم مسلمان چې په وجه انکار د قطعیاتو کافر شي والعیاذ بالله تعالی. هغه بعد تجدید ایمان داخل ایمان کېدای شي، بعد تجدید ایمان دي تجدید نکاح وکړي، بیا د ده زوجه د ده په نکاح کې پاته کیږي. فقط والله تعالی اعلم

د مرتد سزا او د هغه حکمت

سوال: (۵۴۶) د اسلام حکم دی چې مرتد بعد ارتداد تر درې ورځو پورې محبوس وساتي، که هغه مسلمان شي نو ښه دی، کنې قتل دي کړل شي دا کوم انصاف دی؟ (۱۸۱/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: دین اسلام کې داخل کېدل بیا مرتد کېدل دا ښکاره بغاوت دی او د دې مضرب ډېر زیات دی، د دې وجې د دې لپاره نص صریح وارد دی: من بدل دینه فاقتلوه[1] رواه البخاري

---

۱) عن عكرمة ان عليا حرق قوما فبلغ ابن عباس رضى الله عنهم فقال: لو كنت انا لم احرقهم لأن النبي صلى الله عليه وسلم قال: لا تعذبوا بعذاب الله، ولقتلتهم كما قال النبي صلى الله عليه وسلم من بدل الحديث. (صحيح البخاري: ۴۲۳/۱، كتاب الجهاد، باب لا يعذب بعذاب الله)

ځکه چي د داسي باغي و سرکښ و فتنه خورونکي سزا سواء د ده له استيصال بل هيڅ نشي کېداى او تفصيل د دې په هغه رساله کي وګوره کومه چي شبير احمد صاحب عثماني د قتل مرتد په هکله مفصل ليکلې ده او باقي دا چي پر مرتد عرض اسلام او کشف شبهات او حبس ثلاثه ايام واجب دى که مستحب د دې تفصيل په کتب فقه کي دي چي درمختار کي دي که مرتد مهلت طلب کړي نو ده ته مهلت درې ورځي د حبس سره ورکول کيږي که هغه مهلت طلب نه کړي نو فورًا قتل کړل کيږي. (۱) فقط

مرتد مسلمان شي نو د سابقه اعمال صالحه ثواب ملاويږي کنه؟

سوال: (۵۴۷) استيناف ايمان سره حسنات حاصله بيرته راځي کنه؟ (۸۵۸/۱۳۴۳هـ)

جواب: مسئله دا ده: الساقط لا يعود (۲) وفيه اختلاف منقول في الشامي فليراجع. (۳) فقط والله تعالى اعلم

---

۱) من ارتد عرض الحاكم عليه الاسلام استحبابا على المذهب لبلوغه الدعوة وتكشف شبهته.. ويحبس وجوبًا وقيل ندبا ثلاثة ايام، يعرض عليه الاسلام في كل يوم منها، خانية، ان استمهل اى طلب المهلة والا قتله من ساعته الا اذا رجى اسلامه بدائع. (الدر المختار مع رد المحتار: ۳۱۲/۳، كتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب ما يشك انه ردة لا يحكم بها. ط رشيديه)

۲) الدر المختار مع رد المحتار: ۵۴۰/۱، كتاب الصلاة باب قضاء الفوائت، مطلب في تعريف الاعادة. ط رشيديه

۳) كما لا يقضى مرتد ما فاته زمنها.... ولذا يلزم باعداة فرض اداه ثم ارتد عقبه وتاب اى اسلم في الوقت لانه حبط بالردة، قال تعالى: "ومن يكفر بالايمان فقد حبط عمله" (المائدة: ۵) وخالف الشافعي بدليل "فيمت وهو كافر" قلنا: افادت عملين وجزائين: احباط العمل والخلود في النار، فالاحباط بالردة والخلود بالموت عليها فليحفظ. (الدر المختار)

وفي الشامي: (وخالف الشافعي) اى حيث قال: لا يلزم الاعادة، لان احباط العمل معلق في الآية بالموت على الردة قوله: "قلنا الخ" حاصل الجواب ان قوله تعالى: "ومن يرتدد منكم عن دينه فيمت وهو كافر فاولئک حبطت اعمالهم في الدنيا واولئک اصحاب النار هم فيها خالدون" (البقرة: ۲۱۷) فيه ذكر عملين: احدهما الردة، -

په تجدید ایمان کي د اعلان ضرورت شته کنه؟

سول: (۵۴۸) که له یوې کلمې څخه کفر لازم شي، پر خپل ځای نو ایا استیناف ایمان علی روس الاشهاد ضروري دی؟ (۱۳۴۳/۸۵۸هـ)

جواب: که د کفر کلمه اعلان شوې وي نو د تجدید ایمان لپاره اعلان کول پکار دی که د کفر کلمه له ژبي څخه وتلې وي او هیچا ته خبر نه وي نو په تجدید ایمان کي هم د اعلان ضرورت نشته فقط

د مسلمان له ارتداد څخه انکار کول د توبې او رجوع قائم مقام دی

سوال: (۵۴۹) زید مخکي مسلمان و بیا یې څه موده د عیسایانو سره ناسته ولاړه کوله، د عیسایانو پادري ته ورغلی، عیسائي شو، وروسته یو مسلمان قصداً د خپلې لور نکاح د زید سره وکړه اوس زید وايي چي زه نه یم عیسائي شوی، دا پر ما دروغ تړل شوي دي ایا

== والآخر الموت علیها: ای الاستمرار غلیها الی الموت؛ وذکر جزائین لکل عمل جزاء علی اللف والنشر المرتب، فاحباط الاعمال جزاء الردة والخلود في النار جزاء المت علیها، بدلیل انه في الآیة الاولی علق حبط العمل علی مجرد الکفر بما آمن به ومثله قوله تعالی: "ولو اشرکوا الحبط عنهم ما کانو یعملون" (الانعام: ۸۸) تنبیه: مقتضی کون حبط العمل في الدنیا و الآخرة جزاء الردة وان لم یمت علیها عندنا انه لو اسلم لا تعود حسناته والا کان جزاء لها وللموت غلیها معا کما یقوله الشافعي رحمه الله تعالی، وفي البحر والنهر من باب المرتد عن التاترخانیة معزیا الی التتمة: لو تاب المرتد قال ابو علي وابو هاشم من اصحابنا: تعود حسناته، وقال ابو قاسم الکعبي: لا تعود، ونحن نقول: انه لا یعود ما بطل من ثوابه، ولکن تعود طاعته المتقدمة مؤثرة في الثواب بعد اهـ ولعل معنی کونها مؤثرة في الثواب بعد ان الله تعالی یثیبه علیها ثوابًا جدیدًا بعد رجوعه الی الاسلام غیر الثواب الذي بطل او ان الثواب بمعنی الاعتداد بها وعدم مطالبته بفعلها ثانیًا، وان حکمنا ببطلانها لان ذلک فضل من الله تعالی. تامل (الدر المختار ورد المحتار: ۵۴۴/۱، کتاب الصلاة، باب قضاء الفوائت. مطلب اذا اسلم المرتد هل تعود حسناته ام لا؟ ط رشیدیه، والبحر الرائق: ۲۱۳/۵، کتاب السیر، باب احکام المرتدین)

د زید انکار د توبې ایستلو ځای نیسي او د دغه انجلۍ نکاح له زید سره جائز ده؟ (۱۳۴۳/۲۱۹۲هـ)

جواب: د فقهي په کتابونو کي لیکلي دي چي د مرتد انکار اسلام ته رجوع کولو او د توبې ایستلو ځای نیسي، لهذا په دغه صورت کي کله چي زید له عیسائي کېدو څخه انکار کوي نو بیا کومه داسي وجه نشته چي ده ته دي درواغجن وویل شي، که واقعي دی عیسائي شوی دی نو بیا د ده افعال واعمال پخپله شاهد جوړېدو سره د ده تکذیب کیږي او دا غیر واقعي انکار ده ته هیڅ نفع نشي رسولای لیکن هغه وخت چي دی په ښکاره لفظو کي دا وایي چي دا پر ما بهتان دی، زه عیسائي شوی نه یم نو بیا ضرورت نشته چي خامخا دی د مرتدین په ټولۍ کي داخل کړل شي، بلکي اوس به داغه ویل کیږي چي دی له خپله انکار څخه د توبې او رجوع اعلان کوي قال في الخانية: وجحود الردة يكون عودًا الى الاسلام([1]) (خانية: ۲۰۴/۳) وفي الدر المختار: شهدوا على مسلم بالردة وهو منكر لا يتعرض له لا لتكذيب الشهود العدول بل لان انكاره توبة ورجوع الخ([2]) (در مختار) او کله چي نکاح د ده له انکار بعد شوې ده نو بیا د دې په صحت کي هیڅ تردد نشته. فقط والله تعالی اعلم

واده شوې سني مسلمانه ښځه که شیعه یا مرزائي مذهب خپل کړي نو څه حکم دی؟

سوال: (۵۵۰) که یو واده شوې مسلمانه ښځه اهل سنت والجماعت له خپل مذهب څخه منحرف کېدو سره مثلاً شیعه یا مرزایي یا یو بل داسي مذهب ته ولاړه شي چي غیر اسلامي وي نو ایا د دې سابقه نکاح په حالت د اسلام صحیح پاته کېدای شي کنه؟ (۱۳۳۷/۲۷۰۹هـ)

جواب: که سني مسلمانه ښځي منکوحه داسي یو مذهب خپل کړي چي په اتفاق کفر وارتداد دی لکه مرزائي کېدل یا له غلاة روافض څخه کېدل نو نکاح د دې له مخکي مېړه سره فوراً ماتیږي.

---

[1] الفتاوى الخانية بهامش الفتاوى الهندية: ۵۸۰/۳، كتاب السير باب الردة واحكام اهلها.

[2] الدر المختار مع رد المحتار: ۳۲۷/۳. كتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب جملة من لا يقتل اذا ارتد. ط رشيديه

كما في الدر المختار: وارتداد احدهما... فسخ... عاجل الخ(۱) فقط والله تعالی اعلم

مرتده ښځه مسلمان کېدو بعد د لومړي مېړه ماسيوا د يو بل مسلمان سره نکاح کولای شي کنه؟

سوال: (۵۵۱) کومه مسلمانه چي مرتده شي او پر هغې يو ډول جبر نشي کېدلای، که مسلمه مرتده بيا مسلمانه کړل شي او هغه له لومړي مېړه ته تللو څخه انکار وکړي، په داسي حالت کي د يو بل مسلمان سره نکاح جائز کېدای شي؟ (۱۳۴۱/۲۲۷هـ)

جواب: په هندوستان کي خو جبر نشي کېدای، د دې وجي جبرًا مسلمان کېدو حکم به جاري کېږای نشي لېکن دا کېدای ش چي له دغي ښځي سره بل سړی نکاح نه وکړي چي دا پخپله مجبوره شي د لومړي مېړه سره بيا نکاح وکړي فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۵۵۲) مکرر متعلق استفتاء نمبر ۲۲۷ رجسټر۱۳۴۱هـ يعني کومه ښځه چي مرتده شوي وه، هغه ښځه لومړي مېړه ته تلل نه مني نو له لومړي مېړه څخه سيوا د بل سړي سره نکاح کول مرتده مذکوره ته بعد تجيد اسلام شرعًا جائز دی کنه؟ (۱۳۴۱/۷۳۰هـ)

جواب: په درمختار او نورو کتب فقه کي دا په ډېر زور سره ليکلي دي چي مرتده ښځه د مسلمان کېدو بعد لومړي مېړه ته ورکول کيږي او د ده سره پر نکاح کولو به مجبوره کيږي(۲) يعني د يو بل

---

۱) الدر المختار مع رد المحتار: ۴۲۵/۲، كتاب النكاح، باب نكاح الكافر، مطلب الصبي والمجنون ليسا باهل لايقاع طلاق بل للوقوع. ط رشيديه

۲) وتجبر على الاسلام وعلى تجديد النكاح زجرًا لها بمهر يسير كدينار وعليه الفتوى (درمختار) وفي الشامي: قوله (وعلى تجديد النكاح) فلكل قاض ان يتجدده بمهر يسير ولو بدينار رضيت ام لا. وتمنع من التزوج بغيره بعد اسلامها ولا يخفى ان محله ما اذا طلب لازوج ذلک، اما لو سكت او تركه صريحا فانها لا تجبر وتزوج من غيره لانه ترک حقه (الدر المختار: ۵۴۲/۲، كتاب النكاح، باب نكاح الكافر، مطلب الصبي والمجنون ليسا باهل لايقاع طلاق بل للوقوع. ط رشيديه).

مسلمان سره د دې د نکاح کولو اجازه نشته تر څو چې بیا یو ښځه ترک اسلام حیله د خلاصون جوړه نکړي لهذا په دې کې هیڅ ګنجائش د جدید فیصلې وروسته فیصله کولو د فقهاء عظام نشته فقط

سول: (۵۵۳) د فاطمې نکاح د حیمان سره شوې وه، څو کاله وروسته نومورې عیسائي شوه، درې کاله وروسته بیا مسلمانه شوه، نو اوس دا له یو بل سړي سره نکاح کولای شي کنه؟ (۱۱۰۱/۱۳۴۱ھ)

جواب: حکم دا دی چې د دې ښځې نکاح د دې له مخکې مېړه حیمان سره کول پکار دي او ښځه پر دې مجبوره کړل کیږي او بل ځای به د دې نکاح نه کیږي، کذا في الدر المختار. (۱) فقط

سوال: (۵۵۴) که ښځه د خپل مېړه څخه د خلاصون لپاره مرتده شي او بیا مسلمانه شي وروسته تر عدت د بل سړي سره نکاح وکړي نو دا نکاح به صحیح وي کنه؟ (۱۲۲/۱۳۴۲ھ)

جواب: اصل مسئله داغه ده چې که له زوجین څخه یو مرتد شي نو فوراً د دوی نکاح ماتیږي، د دې موافق ښځه تر عدت تېرېدو وروسته د چا سره وغواړي نکاح کولای شي لېکن فقهاوو په دې صورت کې که ښځه مرتده شي د دې په وجه چې له مېړه څخه خلاصون تر لاسه کړي زجراً للمراة دا فتوا ورکړې ده چې هغه ښځه به لومړي مېړه ته ورکول کیږي او په مهر یسیر سره به د دې نکاح له لومړي مېړه سره کیږي، د بل سړي سره دا ښځه نکاح نشي کولای، لېکن که لومړي مېړه د دې سره نکاح نه کول غواړي په دې صورت کې د بل مسلمان سړي سره د دې ښځې نکاح بعد اسلام صحیح ده، په در مختار کې دي: وارتداد احدهما... فسخ... عاجل الخ (۲) وتجبر علی الاسلام وعلی تجدید النکاح زجراً لها بمهر یسیر کدینار وعلیه الفتوی (در مختار) وفي الشامي: ولا یخفی ان محله ما اذا طلب الزوج ذلک اما لو سکت او ترکه صریحاً فانها

---

۱) الدر المختار مع رد المحتار: ۴۲۵/۲، کتاب النکاح، باب نکاح الکافر، مطلب الصبي والمجنون لیسا باهل لایقاع طلاق بل للوقوع. ط رشیدیه

۲) الدر المختار مع رد المحتار: ۴۲۵/۲، کتاب النکاح، باب نکاح الکافر، مطلب الصبي والمجنون لیسا باهل لایقاع طلاق بل للوقوع. ط رشیدیه

لا تجبر وتزوج من غیره الخ[1] (شامي) فقط والله تعالی اعلم

په محض ارتداد سره ښځه له نکاح څخه وځي

سوال: (۵۵۵) که یو سړی دا وو ایي زما حشر به د هندوانو سره وي، دغه جمله ویونکی که مرتد شي نو مجرم به د ارتداد کېدو سره به د ده زوجه دده له نکاح څخه وځي یا د تفریق قاضي یا د مېړه د طلاق ضرورت به وي او بعد ارتداد د غړي د او قافو پاته کېدای شي کنه؟ (۱۰۷۳/۴۲-۱۳۴۷ھ)

جواب: دا کلمه د کفر ده د دې کلمې قائل د خپل مرګګ او حشر له کفارو سره کېدو باندي راضي دی یا د رضا اظهار کوي ځکه چي په عربي ژبه کي د دې ترجمه په دې لفظ سره ده چي احشر مع الکفار او دا محقق دی او په حدیث شریف کي وارد دي: کما تموتون تحشرون[2] او کما قال صلی الله علیه وسلم په شرح فقه اکبر کي دي: او قال اخرجه ای الله من الدنیا بلا ایمان او کافرا او اماته بلا ایمان او کافرًا وابده الله في النار او اخلده فیها او لم یخرجه الله من نار جهنم کفر الخ وفي المحیط: من رضی بکفر نفسه فقد کفر ای اجماعًا وبکفر غیره اختلف المشائخ الخ[3] وفي موضع آخر منه: لا حمیة لي ولا دین کفر یعني بقوله: فلا دین لي فانه خرج بهذا عن دین الاسلام.[4] لنډه دا چي د دې کلمې په کفر کېدو کي هیڅ تردد نه معلومیږي او په ارتداد سره فورًا د ده زوجه له نکاح څخه خارجه کیږي د تفریق ضرورته نشته وارتداد احدهما.... فسخ.. عاجل ای بلا قضاء[5] (شامي در مختار) او دا صحیح دي چي د تولیت لپاره

---

۱) الدر المختار والشامي: ۴۳۲/۲، کتاب النکاح، باب نکاح الکافر، مطلب: الصبي والمجنون لیسا باهل لایقاع طلاق الخ. ط رشیدیه

۲) مرقاة المفاتیح: ۳۷۵/۷، کتاب الجهاد، الفصل الثاني، وفیه ایضاً: ۳۳۲/۱، کتاب الایمان، باب اثبات عذاب القبر، الفصل الثالث.

۳) شرح الفقه الاکبر، ص: ۲۲۱، فصل في الکفر صریحًا وکنایة، المطبوعة مطبع مجتبائي. دهلي.

۴) شرح الفقه الاکبر، ص: ۲۲۳، فصل في الکفر صریحًا وکنایة.

۵) الدر مع الرد: ۴۲۵/۲، کتاب النکاح، باب نکاح الکافر، مطلب: الصبي والمجنون لیسا باهل لایقاع طلاق بل للوقوع. ط رشیدیه

اسلام شرط نه دی، امین او قادر علی انتظام التولیة کېدل او نور شرط دي، کما قال في الاسعاف: ولا یولی الا امین قادر بنفسه او بنائبه الخ ویشترک للصحة بلوغه وعقله لا حریته واسلامه الخ[1] (شامي) فقط والله تعالی اعلم

له رخصتي مخکي خاوند مرتد شو نو څه حکم دی؟

سوال: (۵۵۲) د ثروت حسین نکاح له یو انجلۍ سره وشوه، اوس لا رخصت شوې نه وه چي ثروت حسین هندو شو او د رخصتي خواهشتمند دی، په داسي حالت کي چي کوم حکم د شریعت وي، په هغه مي خبرکړه، اوس هغه بیا د مسلمانانو په صورت کي ښکاره کیږي. (۱۳۴۱/۲۵۰۴هـ)

جواب: په دغه صورت کي نکاح د ثروت حسین د مرتد کېدو سره فورًا باطله شوه، اوس بعد اسلام راوړلو هغه خپله منکوحه سابقه نشي رخصت کولای مګر بعد اسلام راوړلو د دې سره دوهم ځل نکاح کېدای شي. والله تعالی اعلم

نابالغه هلک چي واده یې کړی وي، مرتد شي نو څه حکم دی؟

سوال: (۵۵۷) یوه ښځه کافره کونډه د دې سره د مخکني کافر مېړه یو نابالغه بچي دی بعد قبول اسلام کولو یو مسلمان د دې سره نکاح وکړه او د خپل نابالغ زوی نکاح یې له یوې نابالغي انجلۍ سره وکړه، د دغه نوي مسلماني تر وفات وروسته د دې زوی خپل کافر قوم ته تلو سره مرتد شو، د ده نکاح منقعد شوې وه کنه؟ اوس نکاح د ده قائمه ده که فسخ شوه؟ (۱۳۴۷/۱۴۲هـ)

جواب: د دغه هلک نکاح منقعده شوې وه، لیکن دغه هلک بیا مرتد شو او د کافرانو سره ملاو شو نو نکاح د ده فسخ شوه، والا بان ابي او سکت فرق بینهما ولو کان الزوج صبیا ممیزا اتفاقا علی الاصح الخ قوله: (صبیا ممیزا) ای یعقل الادیان لان ردته معتبرة فکذا اباؤه فتح الخ[2] (شامي) فقط والله تعالی اعلم

---

۱) رد المحتار علی الدر: ۴۲۱/۳، کتاب الوقف، مطلب في شروط المتولي. ط رشیدیه

۲) الدر المختار مع الشامي: ۴۲۲/۲، کتاب النکاح الکافر، مطلب في کلام علی ابوی النبي صلی الله علیه وسلم واهل الفترة. ط رشیدیه

د مسلوب العقل د ارتداد حکم

سوال: (۵۵۸) زید په حالت غضب کي دا وویل که د پیغمبر زوی هم راشي زه کار نه کوم مګر په نظر د استخفاف شریعت یې نه وویل بلکي په وجه د زائل کېدو د عقل یې وویل بیا فوراً کله اثبات عقل وشو استغفار یې ووایی نو شرعًا د یاد شوي سړي حکم به د ارتداد ورکول کیږي کنه؟ (۱۳۴۲/۲۳۲هـ)

جواب: قال في الدر المختار: وشرائط صحتها: العقل والصحو والطوع فلا تصح ردة مجنون ومعتوه وموسوس وصبي لا يعقل وسكران ومكره عليها الخ[1] نو معلوم شو چي که غضب داسي و چي زید په هغه کي مغلوب العقل او مسلوب العقل شوی ؤ پشان د لېوني نو حکم به د ارتداد نه ورکول کیږي او بیا هم توبه وتجدید ایمان لازم دی. فقط والله تعالی اعلم

څوک چي د کفر او شرک مرتکب وي د هغو څه حکم دی؟

سوال: (۵۵۹)..... (الف) مسلمان زید د افعال کفر وشرک مرتکب دی، څو ورځي مخکي د مسلمانانو سره بحث وتکرار کولو سره کلام الله یې کلام انساني ګرځولو سره قرآن پاک یې سوزولو سره هیرې کړی او احادیث صحیحه یې د زړو کاغذانو په شان خري کولو سره وغورځول.

(ب) هغه دا وایي چي په لحم خنزیر او لحم بز (بوزه) کي هیڅ فرق نشته، دغه شان پخپله مور او خپلي ښځي کي فرق نشته او د مشرکانو د خدایانو نذر مني او د مشرکانو ذبیحه خوري.

(ج) رام او رحمان دواړه ته یو وایي.

جواب: (الف- ج) داسي عقاید ساتونکی کافر و مرتد دی، که دی تائب او اسلام راوړولو سره مړ نشو نو د ده د جنازې لمونځ نه کیږي او د مسلمانانو په قبرستان کي دي نه دفن کیږي، که دغه سړی بیا په اسلام کي داخل کېدل غواړي او له تېر شوي عقائدو افعال څخه توبه وکاږي نو دی به مسلمان کیږي. فقط والله تعالی اعلم

---

۱) الدر المختار مع الشامي: ۳/۳۱۱، کتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب ما یشک انه ردة لا یحکم بها. ط رشیدیه

په اصلي کافر او مرتد کي فرق

سوال: (۵۲۰) زید هندو و، مسلمان شو او د یو بزرګ په لاس یې بیعت هم وکړ، لېکن څو ورځي بعد هغه بیا هندو شو، اوس د ده د مسلمانانو دعوت کړی دی او د هغه انتظام یې مسلمانانو ته حواله کړی دی، مسلمانانو ته د ده دعوت قبلول جائز دي کنه؟ مستقل هندو او داسي هندو چي مسلمان کدېو بعد بیا هندو شوی وي، په تعلق او احکام کي څه توپیر شته کنه؟(۱۳۴۳/۱۰۷۸هـ)

جواب: د یو هندو مسلمان کېد بیا هندو کېدل ارتداد دی او په شریعت کي عما کفار او مرتد کي توپیر شوی دی، د مرتد حکم په شریعت اسلام کي دا دی که دی توبه نه وکاړي نو قتل کیږي به نو که دا امر په سبب د اسلامي حکومت نه کېدو متعذر دی نو تر دې هم ایا کم چي د مرتد سره اهل اسلام تعلق نه وساتي او ملاقات ونه کړي او دعوت خوړل او هدیه قبلول به حکم د حدیث تهادو تحابوا [1] سبب مودت ومحبت دی او دا حرام دی، لهذا د مرتد دعوت مسلمانانو ته هیڅ دول قبلول صحیح نه دی که څه هم د یو مسلمان په ذریعه سره هغه دغه دعوت تیار کړي او هغه مسلمان عاصي دی چي په دغه هلکه د ده معین وي او دعوت تیار کړي. فقط والله تعالی اعلم

نوی مسلمان هندو شي نو څه حکم دی؟

سوال: (۵۲۱) یو هلک د ده عمر ۱۷ یا ۱۸ کاله دی، مخکي هندو و او د ۹ یا ۱۰ کالو په عمر کي مسلمان شوی و، اوس هندوان دی خطاباسي چي هندو شي نو ایا دی هندو کېدای شي؟(۱۳۴۵-۴۴/۱۰۷هـ)

جواب: کوم سړی چي هندو کېدو څخه مسلمان شوی و، که دی هندوان بیا خطا ایستلو سره هندو جوړول غواړي نو دی پوه کول پکار دي

---

[1]) عن ابي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: تهادوا تحابوا (شعب الايمان للبيهقي: ۴۷۹/۲، الباب الحادي والستون باب في مقاربة اهل الدين ومواداتهم الخ فصل في المصافحة والمعانقة عند الالتقاء المطبوعة دار الكتب العلمية، بيروت)

چي دی بیا هندو نشي، که دی بیا هندو شو او د کلمه د اسلام څخه انکار وکړي نو مرتد کیږي او په کفارو کي داخل کیږي او مسلمانان به د ده سره تعلق پرې کوي فقط

کوم سړی چي بیا بیا مرتد کیږي هغه مسلمان کول صحیح دي کنه؟

سوال: (۵۲۲) یو سړی بنګي دی، د ده د خور مېړه د خپلي ښځي د طلب په هکله په عدالت کي دعوی وکړه او پلار د دې دا د خاوند کور ته استول نه غواړي، په دغه وجه او دا شان په دې وجه چي په عدالت کي کامیاب شم مسلمان شو او دوه ځله مسلمان کېدو سره مرتد شوی دی او هغه ښځه هم په دې وجه مسلمانه شوې ده چي د مېړه کور ته تلل نه غواړي، نو داسي سړی مسلمان کول روا دي کنه؟(۱۹۹۰/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: کله چي څو مسلمان کېدل وغواړي او دین اسلام ته داخلېدل وغواړي نو هغه مسلمان کول ضروري دي انکار کول روا نه دی او مسلمانه ښځه د کافر په نکاح کي نشي پاته کېدای او د کافر کور ته تلل دې ته روا نه دي، ښځه کله مسلمانه شوله او مېړه د دې کافر پاته شو نو نکاح فسخ شوه. فقط والله تعالی اعلم

مرتد له کفر څخه په توبه ایستلو مسلمان کېدلای شي

سوال: (۵۲۳) یوه بنګۍ ښځه باندي یو مسلمان بنګي شو، دوې څلور ورځي بنګي و او ده اقرار وکړی چي زه بنګي شوم او بیا ده توبه او استغفار ډېر وکړی بیا دی مسلمان کړل شو ایا دی مسلمان شو کنه؟(۱۳۳۹/۲۹۴۷هـ)

جواب: دوهم ځل توبه واستغفار کولو بعد او د اسلام راوړولو بعد هغه بیا مسلمان شو او د ده په اسلام کي هیڅ نقص نه دی پاته فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۵۲۴) یو مسلمان له ډېرو کلو څخه بنګیانو کي شامي دی یو بنګي د ځان سره وساته، اوس هغه ښځه د وبا په ناجوړي کي مړه شو، اوس دی مسلمان کېدل غواړي نو څه کفاره ده؟(۱۳۳۷/۱۰۳۵هـ)

جواب: هغه سړی دي توبه وکاږي او مسلمان دي شي، داغه د ده کفاره ده. فقط والله تعالی اعلم

د منافق او مرتد توبه قبلیږي کنه؟

سوال: (۵۲۵) د منافق او مرتد توبه قبلیږي کنه؟ (۱۳۳۸/۲۰۰۹هـ)

جواب: که مرتد وي که منافق توبه د ټولو قبلیږي، مرتد او منافق کله چې له کفر ونفاق څخه توبه وکاږي او تجدید اسلام وکړي نو توبه او اسلام د دوی قبول دي، بلکې حکم داغه دی چې په دوی به توبه کاږل کیږي او د تجدید اسلام حکم ورکول کیږي، قال الله تعالی: "وهو الذي يقبل التوبة عن عباده ويعفوا عن السيئات" (سورة شوی، آیت ۲۵) فقط والله تعالی اعلم

د ضعف دماغ له ناجوړي څخه جوړ کېدو بعد له کلمات کفریه څخه توبه کښل

سوال: (۵۲۶) زید ناجوړه شو، دماغ کمزور او ضعیف شو، عقل بې کاره شو، له خیالات فاسده څخه دماغ ډک و، کلمات کفر وخیالات فاسده له ژبې او زړه څخه ووتې، بعد کې زید ښه شو، پر خپلو کړو پښېمانه شو، توبه یې وکښله، د زید توبه قبوله کېدای شي؟ او امید د مغفرت کولای شي؟ (۱۳۳۹/۱۲۵هـ)

جواب: الله تعالی فرمایي: "وهو الذي يقبل التوبة عن عباده ويعفوا عن السيئات" (سورة شوری، آیت ۲۵) او په حدیث شریف کې دي: التائب من الذنب كمن لا ذنب له(۱) نو کومې کلمې کفریه وغیره چې د ده له ژبې څخه وتلي دي، له هغه څخه دې توبه وکاږي او تجید اسلامې دي وکړي، انشاءالله ټولي ګناوي به یې معاف شي او توبه به یې قبوله شي او د بخښنې امید ساتل پکار دی، د الله تعالی له رحمت څخه نا امیده کېدل نه دي پکار، توبه او استغفار دي هر وخت کوي. فقط والله تعالی اعلم

د مرتد دعوت ته تلل او له هغه څخه جنده اخیستل صحیح دي کنه؟

سوال: (۵۲۷) زید مسلمان په علانیه بودهـ مذهب اختیار کړی او په خپله د مندر یو رکن دی

۱) د دغه حدیث تخریج د کتاب الایمان د **سوال:** (۲۴۴) په جواب کې وګورئ.

میونسپلټي او ګورنر کونسل رای ورکونکو دوه فهرسته دي، د مسلمانانو جلا او کفارو جلا، د زید نوم د کفارو په فهرست کي دی، پر خپله دباندي دروازه یې د بوډه تصویر جوړ کړی دی، مګر د دې تولو سره هر کال یو ولسمه شریف او په هغه کي مسلمانانو ته دعوت ورکوي نو زید مسلمان دی که مرتد؟ او د ده دعوت ته تلل او خوړل، د هغه روپیه یا پیسه اخیستل جائز دي کنه؟ (۱۳۴۳/۱۲۵۱هـ)

جواب: چي زید په علانیه سره د خپل بت مذهب کېدو اعلان کړی دی او پر خپله دروازه یې د بوده تصویر هم قائم کړی دی او د دې بعد یې له دغه مذهب څخه د توبې اعلان نه دی کړی او د خپل مسلمان کېدو اظهار نه دی کړی نو دی مرتد وکافر دی، د ده په دعوت او نورو کي مسلمانانو ته شریک کېدل جائز نه دي او روپیه او پیسه له ده څخه اخیستل صحیح نه دي او د ده کور ته په یو جلسه کي وعظ ومولود شریف کي شریک کېدل جائز نه دي. فقط والله تعالی اعلم

د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم په شان کي ګستاخي کوونکو توبه قبلیږي کنه؟

سوال: (۵۲۸) د یو صوفي پر مکان وعظ وشو، په هغه کي د حضور سرور عالم صلی الله علیه وسلم په شان مبارک کي د توهین الفاظ استعمال شول او له اهل مجلس څخه یو سړی ولاړ شو ویې ویل چي کوم څه ده وویل: هغه ډېر صحیح او درست دي بیا دغه درو کسانو په یوه جلسه عام کي توبه وکښله، ایا د دوی توبه قابل یقین ده کنه؟ او نکاح پاته ده کنه؟ (۱۳۳۷/۷۲۷هـ)

جواب: که یو داسي کلمه د دوی له ژبو څخه ووتله چي د توهین کلمه ده او حکم د ارتداد پر کېدای شي نو په داسي حالت کي د دوی نکاح نه پاته کیږي او توبه او اسلام راوړل د دوی قبول دی، بعد توبه تجدید نکاح کول پکار دي، پوره خبره هلته معلومیږي چي هغه کلمه معلومه شي چي ایا په هغه کي تاویل ممکن دی کنه؟ فقط والله تعالی اعلم

قادیاني مذهب والا له خپل مذهب څخه توبه وکاږي نو د هغو توبه قابل قبوله ده

سوال: (۵۲۹) پر زید دا الزام قائم کړل شو چي زید مرزا غلام احمد قادیاني مجدد ومثل مسیح بولي

د دې وجې په الزام د تبدیلي مذهب له خدمت قضاء څخه علیحده کړل شو، وروسته له بعض علماوو سره خبرو کولو سره د ده په خیالاتو کي تبدیلي راغله او له دې څخه رجوع کولو سره په محمکه سرکار کي د توبې پاڼه وړاندي کړه، نو د ده رجوع او د توبې پاڼه عند الشرع قابل قبوله ده که نه؟ زید پخپله مقر دی چي دی مسلمان و اهل سنت دی نو زید حسب اقرار خود حنفي بلل کیږي که نه؟(۲۵۰/۱۳۴۰هـ)

جواب: د ده توبه قابل قبوله ده او بعد توبه ورجوع الی الاسلام حکم د ده به د اسلام کیږي. فقط والله تعالی اعلم

ایا مفتي د مجرم له بیان بغیر د کفر فتوا ورکولای شي؟

سوال: (۵۷۰)... (الف) مفتي بې له بیان مجرم په مقدمه سب النبي صلی الله علیه وسلم کي فتوی محض د دوو ګواهانو پر ګواهي جاري کولای شي یا بعد سماعت بیان مجرم فتوا جاري کړي؟

(ب) که مجرم د اسلام په هکله بحث کوي او په حالت خمر کي په جوش کي د اسلام په محبت کي راتلو سره سهواً د ده له ژبي څخه ګستاخي د نبي صلی الله علیه وسلم په هکله شوې وي نو هغه د تکفیر د فتوی مستحق دی که نه؟

(ج) څوک چي د مجرم سره خبري کوي او هغه سړی منع کړل هم شي چي مجرم خو د خمر په حالت کي دی، د ده سره بحث مه کوه مګر بیا هم هغه خبره جاري وساتي نو څه حکم دی؟ دا هم مجرم دی که نه؟(۱۸۱۷/۱۳۳۸هـ)

جواب: (الف) د فتوی حاصل دا وي چي که ده دا فعل چي موجب کفر دی وکړي نو کافر دی، لهذا مفتي ته که څوک دا ووایي چي فلانکی سړی د سب ارتکاب وکړی، نو هغه به فتوای د کفر ساب ورکوي.

(ب) د قرآئن په وجه په داسي صورت کي مفتي لره د کفر فتوی ورکول نه دي پکار او په حالت سکر کي که یوه کلمه د کفر د چا له ژبي څخه ووځي نو پر هغو هم حکم د کفر کول نه دي پکار.

(ج) بې شکه دا خطاء ده چي د سکران ومدهوش سره داسي خبري وشي. فقط والله اعلم

له توبې بعد د کفر فتوا نه دي ورکول پکار

سوال: (۵۷۱) که د یو سړي له ژبي څخه د کفر کلمه ووځي او بیا توبه وکاږي نو د توبې بعد د کفر

فتوای ورکول جائز دي کنه؟ (۳۳/۱۵۷۷-۱۳۳۴هـ)

جواب: بعد توبه د کفر فتوا نه دي ورکول پکار. فقط والله تعالی اعلم

د حضرت آدم علیه السلام په هکله یو درواغجنه کیسه او د هغې د ناقل حکم

سوال: (۵۷۲) یو سړی وایي چي حضرت آدم علی نبینا وعلیه الصلاة والسلام زنا وکړه، په دې ډول چي کله حوا پیدا شوه او دی له خوب څخه بیدار شو نو ده د لاس وروړلو اراده وکړه، حضرت جبرئیل علیه السلام وویل چي تر څو زه د الله تعالی څخه اجازه نه راوړم، تر هغه وخته لاس مه وروړه نو حضرت جبرئیل علیه السلام د الله تعالی دربار ته د اجازې لپاره ولاړی، وروسته آدم زنا وکړه (معاذ الله) له دغي وجي پر موږ غسل واجب شو، دا ویل د ده صحیح او د دې څه ثبوت شته که بهتان دي؟ که بهتان دي نو د داسي سړي د ایمان او نکاح څه حال دی؟ او د ده تر شا لمونځ کول صحیح دي کنه؟ او بې له توبې د ده سره تعلق وساتل شي کنه؟ (۸۷۲/۱۳۳۵هـ)

جواب: د دې هیڅ اصل نشته، دا محض افتراء او بهتان دی او په دې کي اهانت او استخفاف دی، د حضرت آدم علیه السلام په شان کي او دا کفر دی نو دغه قائل ته توبه او تجدید ایمان ونکاح کول پکار دي، بې له توبې او تجدید ایمان د ده امامت صحیح نه دی او متارکت د ده څخه لازم دی، سلام وکلام دي ورسره ترک کړل شي، تر څو دی توبه نه وکاږي، لکه په شامي کي په مکفرات کي استخفاف نبي هم شماره کړی دی، حیث قال: وقتل نبي والاستخفاف به الخ وفیه بعد اسطر: قلت: ویظهر من هذا ان ماکان دلیل الاستخفاف یکفر به، وان لم یقصد الاستخفاف الخ[1] فقط

---

۱) رد المحتار علی الدر: ۳۱۱/۳، کتاب الجهاد، اوائل باب المرتد. ط رشیدیه

د اهل حق او فرق باطله بیان

د اهل سنت والجماعت وجه تسمیه

سوال: (۵۷۳) نوم اهل سنت وجماعت د دغه فرقه له څه وخت څخه ایښودل شوی دی؟ او وجه تسمیه څه ده؟ (۵۳۲/۲۹-۱۳۳۰هـ)

جواب: دغه ټولۍ ته اهل سنت والجماعت د دې وجې وایي چې دا فرقه اهل حق ومتبع سنت ده، د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت او طریقه د صحابه یې په مضبوطي سره نیولې ده، قال النبي صلی الله علیه وسلم: لا یزال الله تعالی یغرس في هذا الدین غرسًا یستعملهم في طالعته(۱) وقال النبي صلی الله علیه وسلم: لا یبالون من خذلهم ولا من نصرهم (۲) فقط والله تعالی اعلم

د اهل سنت والجماعت عقائد څه دي؟

سوال: (۵۷۴) عقائد د اهل سنت والجماعت څه دي؟ او د ګمراه فرقو عمل څه دی؟ او په دوارو کې څه

---

۱) عن ابن زرعة قال: سمعت ابا عنبة الخولاني رضی الله عنه وکان قد صلی القبلتین مع رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: لا یزال الله یغرس الحدیث (سنن ابن ماجة، ص: ۲-۳، باب اتباع سنة رسول الله صلی الله علیه وسلم)

۲) عن عمرو بن شعیب عن ابیه رضی الله عنه قال: قام معاویة رضی الله عنه خطیبًا، فقال: این علماؤکم؟ این علماؤکم؟ سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: لا تقوم الساعة الا وطائفة من امتي ظاهرون علی الناس، لا یبالون من خذلهم ولا من نصرهم. (سنن ابن ماجة، ص: ۳، باب اتباع سنة رسول الله صلی الله علیه وسلم)

تو پیر دی؟ (۱۸۲۷/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: عقائد اهل سنت و الجماعت مضبوط و معروف دي، کتب عقائد مثل شرح عقائد نسفي و شرح فقه اکبر و غیرهما دي و کتل شي، د چا عقیده د دې خلاف وي، پوه شه چي هغه له اهل سنت و الجماعت څخه خارج دی. فقط و الله تعالی اعلم

فرقه ناجیه کومه ده؟

سوال: (۵۷۵) رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: قیامت ته نژدې به د رو اویا فرقې وي یوه به ناجیه وي، هغه کومه فرقه ده؟ (۱۳۳۸/۱۷۷۵هـ)

جواب: هغه فرقه په حدیث کي راغلې ده: ما انا علیه واصحابي (۱) وهي الجماعة یعني هغه فرقه اهل سنت وجماعت دي (۲) فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۵۷۶) فرقه ناجیه کومه ده؟ بینوا توجروا (۱۳۳۵/۳۱۲هـ)

جواب: اهل سنت و الجماعت دي. (۳) فقط و الله تعالی اعلم

---

۱) د دغه حدیث تخریج د کتاب الایمان د **سوال:** (۲۲۷) په جواب کي وګورئ.

۲) فنقول: الفرقة التي هي ناجية من الجميع وان كانت مبهمة يصرفها كل مؤول الی من يشاء، ولكن بالتحقيق والصدق من كان على طريق السنة والجماعة اى تابعًا لما كان عليه الصحابة والتابعون ومضى عليه السلف الصالحون، اذ روى انه استفسر عليه السلام عنها فقال: من كان على السنة والجماعة وفي رواية قال: ما انا عليه واصحابي الخ (التفسيرات الاحميه ص۲۲۸، تفسير سورة الانعام، رقم الآية: ۱۵۳)

۳) علامه احمد بن محمد طحطاوي رحمه الله (متوفي ۱۲۳۱هـ) چي مشهور حنفي فقیه دی او د علامه شامي رحمه الله استاذ دی، د الدر المختار په حاشیه په کتاب الذبائح کي لیکي: فعليكم معاشر المؤمنين باتباع الفرقة الناجية المسماة باهل السنة والجماعة.. وهذه الطائفة الناجية قد اجتمعت اليوم في مذاهب اربعة وهم الحنفيون والمالكيون والشافعيون والحنبليّون رحمهم الله ومن كان خارجًا عن هذه الاربعة في هذا الزمان فهو من اهل البدعة والنار (۴/۱۵۳)-

د اهل اسلام کومه فرقه به تل په دوزخ کي پاتیږي کنه؟

سوال: (۵۷۷)... (الف) کومه فرقه د اهل اسلام به تل په جهنم کي پاته کیږي کنه؟

(ب) د اسلام دوو اویا فرقي چي ناري به وي، هغه به یو وخت داخل جنت شي کنه؟ (۱۳۴۰/۱۲۳۰ھ)

جواب: (الف) مسلمان یو به مخلد فيّ النار نه وي.

(ب) بعد عذاب به قدر معاصي به داخل جنت وي، په شرط د دي چي خاتمه به يې پر ایمان شوې وي. (۱) فقط

-- ترجمه: نو ای جماعت مؤمنین! پر تاسو لازم دي چي د جماعت ناجیه تابعداري کول چي اهل سنت والجماعت ورته ویل کیږي... او دا جماعت ناجیه په دې زمانه کي په مذاهب اربعه کي یو ځای شوي دي او هغه مذاهب اربعه: احناف، مالکیه، شوافع او حنابله دي، الله ت دي پر دوی مهرباني وکړي او کوم سړی په دې زمانه کي له دغو څلور مذهبو څخه خارج وي، هغه له ګمره خلګو او دوږخیانو څخه دي

او حکیم الامت حضرت تهانوي قدس سره په مائة دروس سبق: ۹۵ کي لیکلي دي: الدرس الخامس والتسعون في المذاهب المنتحله الى الاسلام في زماننا: اهل الحق منهم اهل السنة والجماعة المنحصرون باجماع من يعتد بهم في الحنفية والشافعية، والمالكية، والحنابلة.. ترجمه سبق ۹۵: زموږ په زمانه کي د هغو مذهب په هکله چي اسلام طرف ته منسوب کیږي اهل حق له هغو څخه اهل السنة والجماعت دي چي منحصر دي، په اجماع د هغو حضراتو چي اعتبار يې کیږي، حنفیه، شافعیه، مالکیه او حنابله کي. ۱۲ سعید احمد عفی الله عنه پالن پوري

۱) کومي چي ګمراه فرقي دي که د هغو ګمراهي کفر ته رسیدلي نه وي، نو هغه د خپلي ګمراهي سزا زغملو وروسته جنت ته داخلیږي، که د هغو ګمراهي حد کفر ته رسیدلې نه وي، نو هغه به تل په دوږخ کي اوسیږي لکه قادياني، په حاشیه طحطاوي على الدر المختار کي دي:

وقوله عليه السلام: (كلهم في النار الا واحدة) يعني كلهم يفعلون ويعتقدون ما هو موجب دخول النار فان كان كفرًا وماتوا عليه دخلوا النار لا يخرجون منها ابدًا، وان لم يكن كفرا فهو الى الله تعالى ان شاء عفا عنهم وان شاء عذبهم ثم يخرجهم من النار ويدخلهم الجنة (حاشية الطحطاوي على الدر المختار: ۱۵۳/۴، اوائل كتاب الذبائح، المطبوعة: دار المعرفة، بيروت)

د اسلام ماسیوا ټول مذاهب باطل دي

سوال: (۵۷۸) د خدای او رسول مطالبه د مځکي د مخ له عامه مسلمانانو څخه صرف پر یو مذهب قائم کېدلو ده که د مختلف ومتفرق مذهبو؟ (۱۳۴۷-۴۲/۱۷۰۸ھ)

جواب: مذهب صرف یو دی، د الله او د هغو د رسول دعوت صرف د یو مذهب طرف ته دی، د هغو نوم د شریعت غراء په اصطلاح کي اسلام دی، د اسلام ماسیوا ټول مذاهب باطل دي او ټولي لاري د تیارو دي، قال الله تعالی: "قل یا اهل الکتاب تعالوا الی کلمة سواء بیننا وبینکم ان لا نعبد الا الله ولا نشرک به شیئا" (سورة آل عمران، آیت: ۶۴) وقال تعالی: "ان الدین عند الله الاسلام" (سورة آل عمران، آیت: ۱۹) وقال تعالی: "ومن یبتغ غیر الاسلام دینا فلن یقبل منه" (سورة آل عمران، آیت: ۸۵) مګر د دغه بحر امواج څپې کله د حفني چشمه د فیض څخه وځي، کله شافعي، مالکي او حنبلي څخه دا نهرونه مختلف دي لیکن د دوی سرچینه هغه غټ دریاب د اسلام دی. فقط والله تعالی اعلم

د علماء دیوبند یو علیحده مذهب نه دی

سوال: (۵۷۹) مذاهب ثلاثه حنفي، دیوبندي، اهل حدیث په اصول وفروع کي څه فرق دی؟ که څوک له خپل مذهب څخه پر طرف کېدو سره بل مذهب اختیار کړي نو د ده لپاره څه حکم دی؟ (۳۱۵۱/ ۴۲-۱۳۴۷ھ)

جواب: علماء دیوبند اهل سنت والجماعت دي او متبع امام ابو حنیفه رحمه الله دي، لهذا د علماء دیوبند یو علیحده مذهب نه دی، بلکي د دوی مذهب هغه دی کوم مذهب چي د امام ابو حنیفه رحمه الله دی او مقلد د امام ابو حنیفه دی او اهل حدیث هغه خلګ دي چي مقلد د یو امام نه دي مګر په اکثرو مسائلو کي عمل د دوی د امام شافعي رحمه الله موافق کیږي او کوم سړی د یو امام له ائمه اربعه څخه مقلد او تابعداره وي هغو ته د بل امام پر مذهب عمل کول جائز نه دي مګر په هغه مسئله کي چي فقهاوو د ضرورت په وجه د بل امام پر مذهب فتوا ورکړې وي. فقط والله تعالی اعلم

د علماء دیوبند دا عقیده هیڅکله نه ده چې د شیطان علم د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر علم زیات دی

سوال: (۵۸۰) یا دا صحیح دي چې علماء دیوبند علم شیطان تر علم رسول الله صلی الله علیه وسلم زیات بولي؟(۱۷۱۹/۳۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: دا غلط او افتراء ده، د علماء دیوبند عقیده دا ده: بعد از خدا بزرگ توئي قصه مختصر (۱) او علماء دیوبند رسول الله صلی الله علیه وسلم مصداق د دغه حدیث شریف بولي. اعطیت علم الاولین والآخرین (۲) هو عالم الغیب پرته له حق تعالی هیڅوک نه بولي. فقط والله تعالی اعلم

د حنفي وجه تسیمه

سوال: (۵۸۱) حنفي ته حنفي په څه وجه وایي؟(۳۵/۳۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: د امام ابو حنیفه رحمه الله تقلید او انتساب په وجه حنفي وایي. فقط

امام ابو حنیفه مجتهد مطلق ؤ

سوال: (۵۸۲) امام ابو حنیفه رحمه الله خپل نسبت مذهبي د چا څخه درلودی؟او دی مقلد و که غیر مقلد؟(۱۸۳۲/۱۳۴۵ھ)

جواب: حضرت امام ابو حنیفه رحمه الله مجتهد مطلق ؤ، مجتهد د یو چا مقلد نه کیږي او نه ده ته ویل کیږي او سلسله د ده د اساتذه د کومو طرف ته د هغو انتساب دی معروفه دی. لا حاجة الی تفصیله

امام ابو حنیفه تابعي و

سوال: (۵۸۳) امام ابو حنیفه رحمه الله له تابعینو څخه دی که له تبع تابعینو څخه دی؟او د کومو کومو صحابه

---

۱) ترجمه د الله تعالی بعد خاص دی لوی مرتبې والا دی، مختصره خبره دا غه ده.

۲) دا حدیث ثابت نه دی، د مزید تحقیق لپاره کتاب الایمان **سوال:** (۲۰۹) جواب وګورئ.

سره ملاقات وشو ؟ (۱۳۳۷/۲۷۷۴هـ)

جواب: تابعي کېدل محقق دي او د هغو صحابه وو تفصيل له کومو څخه امام صاحب روايت کړي دي، د درمختار په اول کې منقول دي، هغه دي وکتل شي (۱) فقط والله تعالی اعلم

---

۱) وصح ان ابا حنيفة رحمه الله سمع الحديث من سبعة من الصحابة كما بسط في اواخر منية المفتي وادرک بالسن نحو عشرين صحابيا كما بسط في اوائل الضياء، وقد ذكر العلامة شمس الدين محمد ابو النصر بن عرب شاه الانصاري الحنفي في منظومته الالفية المسماة بـ "جواهر العقائد ودرر القلائد " ثمانية من الصحابة ممن روى عنهم الامام الاعظم ابو حنيفة رحمه الله تعالى، حيث قال:

معتقدا مذهب عظيم الشان — ابي حنيفة الفتى النعمان
التابعي سابق الائمة — بالعلم والدين سراج الامة
جمعا من اصاحابه النبي ادركا — اثر هم قد اقتفى وسلكا
طيقة واضحة المنهاج — سالمة من الضلال الداجي
وقد روى عن انس وجابر — وابن ابي اوفى كذا عن عامر
اعني ابا الطفيل ذا ابن واثلة — وابن انيس الفتى و واثلة
عن ابن جزء قد روى الامام — وبنت عجرد هي التمام
رضى الله الكريم دائما — عنهم وعن كل الصحاب العظما

وفي الشامي: وعلى كل فهو من التابعين، وممن جزم بذلک الحافظ الذهبي والحافظ العسقلاني وغيرهما، قال العسقلاني: انه ادرک جماعة من الصحابة كانوا بالكوفة بعد مولده بها سنة ثمانين ولم يثبت ذلک لاحد من ائمة الامصار المعاصرين له ـ ثم قال بعد اسطر ـ قوله (كما بسط في اوائل الضياء) فقال: هم ابن نفيل وواثلة وعبد الله بن عامر وابن ابي اوفى وابن جزء وعتبة والمقداد وابن بسر وابن ثعلبة وسهل بن سعد وانس وعبد الرحمان بن يزيد ومحمود بن لبيد ومحمود بن الربيع وابو امامة وابو الطفيل، فهؤلاء ثمانية عشر صحابيا وربما ادرک غيرهم ممن لم اظفر به اهـ ملخصا وزاد في "تنوير الصحيفة" عمرو بن حريث وعمرو بن سلمة وابن عباس وسهل بن حنيف، قم قال: وغير هؤلاء من اماثل الصحابة رضى الله عنهم (الدر المختار ورد المحتار: ۴۷/۱-۴۹، مقدمة المؤلف، مطلب فيما اختلف فيه من رواية الامام عن بعض الصحابة ط رشيديه)

د امام اعظم دا قول چي زما د قول په خلاف حدیث ملاو شي نو زما قول پرېږدئ په کوم کتاب کي دی؟

سوال: (۵۸۴) د امام اعظم رحمه الله دا قول په کوم کتاب کي دی چي کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث زما د قول خلاف ملاو شي نو زما کلام پرېږدئ او تقلید ائمه د دین ضروري دی کنه؟ (۱۳۴۲/۹۲۱هـ)

جواب: د امام اعظم رحمه الله دا قول په شامي او نورو کي منقول دی: اذا صح الحدیث فهو مذهبي([1]) یعني کله یو حدیث صحیح او ثابت شي نو هغه زما مذهب دی، له دغه قول څخه د امام صاحب پوره متبع حدیث کېدل معلوم شو او په حقیقت کي فقه ثمره د حدیث ده، لهذا عمل پر فقه کول پکار دی او تقلید امام مجتهد ضروري دی فقط والله تعالی اعلم

د امام اعظم یو قیاس له کتاب وسنت خلاف نه دی

سوال: (۵۸۵)..... (الف) ایا دا اصل من جمله اصول امام ابو حنیفه رحمه الله دی چي کوم صاحبه غیر فقهاء دي مثل ابو هریرة وانس رضی الله عنهما د دوی پر روایت شوی حدیث قیاس ته ترجیح ده، که دا د دوی په اصول کي داخل وي نو ایا متبع سنت لره مناسب دي چي سره د صحیح حدیث موجود کېدو د هغه په خلاف قیامت د مجتهد عمل وکړي

(ب) د امام ابو حنیفه رحمه الله کوم مسائل چي قیاسي خلاف د احادیثو صحیح دي، هغه تولي یو ځای دي په یو رساله کي جمع کړل شي چي عام خلګو ته په اتباع سنت کي اساني وي

(ج) په کومو مسائلو کي کتاب او سنت او اثار صحابه (نشته) په هغو کي غیر مجتهد ته د مجتهد تقلید واجب دی، په داسي مسائلو کي د کوم مجتهد قیاس په زیاتره توګه اقرب الی الکتاب والسنة دی؟ (۱۳۳۹/۱۲۲هـ)

---

[1]) فقد صح عنه انه قال: اذا صح الحدیث فهو مذهبي وقد حکی ذلک ابن عبد البر عن ابن حنیفة وغیره من الائمة اهـ ونقله ایضا الامام الشعراني عن الائمة (الشامي: ۵۰/۱، مقدمة المؤلف، مطلب صح عن الامام انه قال: اذا صح الحدیث فهو مذهبي ط رشیدیه)

جواب: (الف) امام صاحب رحمه الله محض له قياس څخه يو حديث نه پرېږدي بلکي د تعارض حديثين په وخت هغه حديث چي اوفق بالقواعد الشرعيه وي، ترجيح ورکوي او د حديث په مقابله کي خو کلية د ده قول دا دی. اترکوا قولي بخبر رسول الله صلی الله عليه وسلم او کما قال. (۱)

(ب) د امام صاحب رحمه الله يو قياس له کتاب و سنت خلاف نه دی بلکي هر څه چي مستنبط کول هغه يې له کتاب و سنت څخه مستنبط کول.

(ج) تر څو چي کتل کيږي، د امام صاحب اجتهاد و قياس اوفق بالکتاب و السنة ملاويږي.

منکر فقه او امام اعظم ته مرجيه ويونکی له اهل سنت والجماعت څخه خارج دی

سوال: (۵۸۶) کوم سړی چي منکر د فقه وي او امام اعظم ته مرجيه و وايي اعتقاداً د ده څه حکم دی؟ او د حنفيه سنيه سره د داسي سړي نکاح نافذه کيږي که نه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۹۹۵هـ)

جواب: داسي سړی له اهل سنت والجماعت څخه خارج دی، د فقهي انکار په حقيقت کي د اسلامي تعليماتو او احکامو انکار دی له دې څخه د کفر وېره ده، د حنفيه سنيه سره د ده نکاح کول نه دي پکار، دغه سړی د دې کفو (سيال) نه دی. فقط والله تعالی اعلم

ايا شيخ عبد القادر جيلاني حنفيه يې مرجيه ليکلی دی؟

سوال: (۵۸۷) عبد القادر جيلاني رحمه الله حنفيه فرقه په غنية الطالبين کي مرجيه ولي ليکلي دي؟ (۱۳۳۷/۱۳۲هـ)

جواب: د غنيه الطالبين هغه عبارت چي په هغه کي حضرت امام صاحب په مرجيه کي داخل کړی دی، د حضرت قطب عالم شيخ عبد القادر جيلاني رحمه الله په قلم سره نه دی بلکي وروسته يو ملحد زنديق زيات کړی دی

---

۱) سئل عن ابي حنيفة رحمه الله اذا قلت قولا وکتاب الله يخالفه؟ قال: اترکوا قولي بکتاب الله. فقيل اذا کان خبر رسول الله صلی الله عليه وسلم يخالفه؟ قال: اترکوا قولي بخبر رسول الله صلی الله عليه وسلم. (عقد الجيد: ص۵۳، فصل في المتبحر في المذهب وهو الحافظ الکتب مذهبه الخ المطبوعة المطبع المجتبائي دهلي)

لکه د سلف په کتابو کي د دغه شان واقعات په کثرت سره شوي دي، لکه علامه زبيدي رحمه الله په اتحاف شرح احياء العلوم صفحه ۲۴۲ جلد ثاني کي فرمايي: والظاهر ان هذه العبارة في الغنية مدسوسة عليه كما جرى لغيره من الائمة ودسوا في كتبهم ما ليس من كلامهم ومثل القطب قدس الله سره يصون مقام الامام ابي حنيفة او يناضل عنه، كيف والائمة الكبار من معاصريه كما لک وسفيان والشافعي وامامه احمد والاوزاعي وابراهيم ابن ادهم قد اثنوا عليه وعلى معتقده وفقهه وورعه وخوفه وتضلعه من علوم الشريعة الخ(١) له دې څخه پرته د غنية عبارت مبحوثه دا دی: ومنهم القدرية وذكر اصنافا منهم ثم قال: ومنهم الحنفية وهم اصحاب ابي حنيفة النعمان بن ثابت زعم ان الايمان هو المعرفة والاقرار بالله ورسوله وبما جاء من عنده جملة على ما ذكره البرهوتي في كتاب الشجرة(١) نو اول خو دا کلام پخپله د شيخ موصوف نه دی بلکي د يو کتاب څخه نقل دی، د هغو د صحت وثقه حال معلوم نه دی، دوهم په دې کيد اسي اعتراض واقع دی چي د هغه نسبت د شيخ موصوف طرف ته کول له داسي جاهل څخه ممکن دی چي د دغه قطب عالم له جالات قدر څخه واقف نه وي. اول دا چي په دې کي امام صاحب ته مرجيه قدريه ويلو منشاء دا بيان کړې ده چي ده ايمان صرف معرفت باري تعالی او اقرار بالله ورسول بللی دی، حالانکي اصل د ايمان تصديق دی او کوم سړي چي د امام اعظم د مذهب کتابونه کتلي وي، هغه بې تامل ويلای شي چي دا نقل غلط او امام عالي مقام باندي افتراء وبهتان دی ځکه چي د ايمان کوم حقيقت پخپله امام په فقه اکبر کي ليکلی دی او له ده څخه کوم مقتدرو معتمد اصحاب روايت کوي هغه داغه دی چي ايمان محض د تصديق قلبي نوم دی او د ژبي اقرار فقط د احکام اسلامي جاري کولو لپاره شرط دی يا د بعض اقوال مطابق رکن دی.(٢)

١) اتحاف السادة المتقين بشرح اسرار احياء علوم الدين للزبيدي: ۲۴۲/۲، المبحث الثالث عن الحكم الشرعي الخ.

٢) قال الامام الاعظم: يجب.. ان يقول اى المكلف بلسانه المطابق لما في جنانه: آمنت بالله وفيه اشعار بان الاقرار له اعتبار على خلاف في انه شرط في بعض الاحيان او شرط الاجراء احكام الايمان كما هو

او لفظ معرفت که یو ځای له ده څخه منقول دی نو له هغه څخه هم خاص تصدیق مراد دی نو اوس د دغه افتراء پر بناء امام صاحب په مرجیه کي داخل کول ظاهره ده چي بناء فاسد علی الفاسد ده، له دې څخه د حضرت قطب العالم مرتبه ډېره لوړه ده.

دوهم دا چي په دې کي امام صاحب ته مرجیه قدریه ویل شوي دي او څوک نه پېژني چي مرجیه وقدریه دواړوي بالکل د متباین خیالاتو فرقې دي، د مرجیه وو له قدریه سره څه تعلق دی؟ په دوی دواړو کي ډېر لیري والی دی مرجیه هغه دي چي دا وایي چي مسلمان هر څومره ګناوي وکړي هغه ته هیڅکله عذاب نه ورکول کیږي او قدریه دا وایي چي کوم سړی ګناه کبیره وکړي که څه هم مسلمان وي نو پر الله تعالی واجب دي چي ده ته عذاب ورکړي فشتان مابینهما لنډه دا چي دا عبارت سراسر تهافت او له داسي اغلاطو څخه ډک دی چي د هغو نسبت د حضت قطب جیلاني رحمه الله طرفته خو نه بلکي د یو ادنی عالم طرف ته نشي کېدای، د دې وجي صحیح دا معلومیږي چي دا عبارت ملحق دی چي یو ملحد په خپل کتاب کي زیات کړی دی او له قطب جیلاني ماسیوا چا چي امام صاحب ته مرجیه ویلي دي هغه په دې معنی دی چي امام صاحب د مرتکب کبیره په هکله فرمایي چي خدای تعالی مختار دی که وغواړي عذاب به ورکړي که وغواړي معاف به یې کړي چي د فرقه ضاله مرجیه د عقیده فاسده صریح مخالف دی.

الغرض مرجیه له ارجاء څخه مخاوذ دی، د هغه معنی دلته د تاخیر په معنی ده نو امام صاحب خو د مرتکب کبیره په هکله هیڅ حکم نه فرمایي بلکي د دې حکم عالم آخرت ته مؤخر کوي، د دې وجي چا ده ته مرجیه وویل او په دغه معنی سره ټول اهل سنت والجماعت ته مرجیه ویلای شي لېکن دغه لقب خو له یو فرقه ضاله سره مخصوص شوی دی، د دې وجي د دې اطلاق مناسب نه دی. فقط والله تعالی اعلم

احناف ته مشرک ویونکی فاسق وګمراه دی

سوال: (۵۸۸) کوم غیر مقلد چي حنفیانو ته مشرک ووایي، د دې لپاره څه حکم دی؟ (۳۵/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: داسي غیر مقلد سخت ګناهګاره او فاسق ومبتدع دی، د داسي غیر مقلد شاته لمونځ صحیح نه دی. فقط والله اعلم

مکرر عند الاعیان وهو امروي عن الامام، والیه ذهب الماتریدي وهو الاصح عند الاشعري. (شرح الفقه الاکبر: ص۱۳)

مسلمان خپل ځان ته څه ووايي: محمدي که سني حنفي؟

سوال: (۵۸۹) د زيد او عمر طريقه د سنت ده لېکن په دوی کي پر دې خبره تکرار دی چي زيد خپل ځان ته مسلم ومحمدي وايي او عمر صرف خپل ځان ته مسلم ويلو ترجيح ورکوي او له محمد ويلو څخه انکار کوي، شرعي فيصله څه ده؟ (۱۳۴۳/۱۹۵۷هـ)

جواب: د اهل سنت وجماعت لپاره خپلو ځانونو ته مسلمان سني حنفي ويل پکار دي، ځکه چي ترک تقليد موجب فسق ومعصيت دی او غير مقلد په او سني زمانه کي غلو زياته کوي او د دوی د اعمالو او عقايدو فساد په کتب اهل سنت کي مفصلاً مذکور دی، له دغه فرقې څخه بالکل عليحده اوسېدل پکار دي او په عقائد او اعمال کي د دوی اتباع نه ده کول پکار، په دغه اطرافو کي غير مقلدين خپلو ځانونو ته د محمدي لقب ورکوي لکه قاديانيان خپلو ځانو ته احمد وايي، لهذا په دغه ډول القابو سره ملقب کېدو ضرورت نشته نو هر يو مسلمان دي خپل ځان ته سېده مسلمان ووايي، که تر دغه زيات تفصيل کوي نو حنفي سني دي ووايي. فقط والله تعالی اعلم

د محمدي پر ځای حنفي شافعي نوم تجويز کولو وجه

سوال: (۵۹۰) مورږ سنيانو ته د حنفي، شافعي ويل په کوم دليل شرعي سره دي؟ که يو سړي ته د مذهب په حيثيت محمد وويل شي نو شرعًا صحيح دي کنه؟ (۱۳۴۵/۱۸۳۲هـ)

جواب: تلميذ که د خپل استاذ وشيخ طرف ته خپل ځان منسوب کړي نو په دې کي څه شرعي ممانعت نشته، دغه شان اتباع امام ابو حنيفه واتباع امام شافعي وغيرهما که خپل ځان ته حنفي وشافعي او نور ووايي نو په دې کي شرعي څه ممانعت نشته، ومن ادعی فعليه البيان والله المستعان او محمدي ټول امت محمديه دی لېکن اهل سنت والجماعت په غرض امتياز عن الفرق الباطلة المدعية بکونها محمدية دا نوم تجويز کړی دی چي له اهل بدع څخه امتياز وشي واضح دي وي لکه چي غير مقلد خپل ځانو ته محمدي ويلو سره خوشحالېږي او ګويا د خپلي فرقې ماسيوا په پټه ټول مسلمانان غير محمدي بولي، احمدي فرقه هم نور غير احمدي او خارج عن الملة بولي والعياذ بالله

تعالی. فقط والله تعالی اعلم

امام بخاري رحمه الله ته رافضي ویل او د هغو په شان کي ګستاخي کول

سوال: (۵۹۱) په دغه علاقه کي څو کسانو پر دې خبرې ډېر شور جوړ کړی دی او ځای پر ځای اوازه خوروي چي امام بخاري رحمه الله رافضي و، ځکه چي له رافضیانو څخه روایت اخلي او ده ته د یو ادنی طالب علم لیاقت و استعداد نه و، فهم حدیث نه و، د دې وجي په صحیح بخاري کي څو ځایه باب تړلو سره حدیث د هغه مطابق نه دی راوړی، باب څه وایي او حدیث بل څه وایي، پر دې دا شعر وایي: من چه سرایم وتنبوره من چه سراید (¹)

او وایي چي امام بخاري ته صرف د نحو معلوم نه و او ده د نبي صلی الله علیه وسلم په شان کي سخته بې ادبي کولو سره له کفر څخه کار اخیستی دی او هغه دا دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په رجل سره تعبیر کړی دی او د صحیح بخاري په هکله دا وایي چي په دې کي ضعیف خو څه موضوع حدیثونه هم موجود دي او امام بخاري ته امام مسلم درواغ حدیث جوړونکی ویلی دی وغیره وغیره دغه قدر د امام ممدوح وکتاب موصوف بې ادبي کوي؟(۱۹۳۲/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: دا بالکل افتراء او ډېره بې حیایي او بې غیرتي او بد دیني ده چي د داسي امام مقبول په شان کي داسي کلمات وایي "کبرت کلمة تخرج من افواههم ان یقولون الا کذبا "(سورة کهف، آیت: ۵) فقط والله تعالی اعلم

دا ویل ناپوهي ده که بخاري شریف صحیح ده نو مذهب حنفي باطل دی

سوال: (۵۹۲) زید وایي چي که بخاري شریف صحیح ده نو مذهب ابو حنیفه رحمه الله باطل دی او که مذهب ابو حنیفه رحمه الله صحیح دی نو احادیث بخاري باطل دي (۱۳۵۰/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: دا قول د زید په وجه قلت د رایت شو دی که ده ته فهم تطبیق بین الاحادیث وای داسي خبره به یې نه وای کړې، که د امام ابو حنیفه اقوال موافق احادیث بخاري شریف ثابت شي نو بیا د زید د دغه قول ابطال

---

۱) ترجمه: زه څه غزل وایم او ستا تنبوره څه غزل وایي.

پخپله کيږي. فقط والله تعالی اعلم

ايا مولنا اسماعيل شهيد رحمه الله غير مقلد و؟

سوال: (۵۹۳)..... (الف) مولانا اسماعيل شهيد دهلوي رحمه الله غير مقلد دی که حنفي؟ د غير مقلدينو دعوی ده چي هغه غير مقلد دی، ځکه چي تنويز العينين يي ليکلی دی، په هغه کي خلاف مذهب حنفي امين ورفع يدين رد تقليد شامي کړی دی.

(ب) پمولوي محمد علي رام پوري ومولوي ولايت علي ومولوي خرم علي پر کوم مذهب وو؟ (۳۲/۲۰۷۱-۱۳۳۳هـ)

جواب: (الف) حنفي محقق دی او په بعض مسائلو کي که محقق پخپل تحقيق سره يو راجح ومرجوح کړي نو په دې سره له تقليد څخه نه وځي.

(ب) دا علماء حنفي تېر شوي دي. فقط والله تعالی اعلم

د حضرت مولانا اسماعيل شهيد رحمه الله توهين کونکو لپاره څه حکم

سوال: (۵۹۴) زيد د حضرت مولانا اسماعيل صاحب شهيد رحمه الله توصيف بيان کړی چي هغه له علماء رباني او سلفو صالحين څخه و او عالم کامل درويش اهل باطن او متبع سنت و، عمر ترديداً دا وويل چي په دې کي د مولوي اسماعيل څه تخصيص دی؟ دا شان په دنيا کي په لکونو عالم کام درويشان دي تر دې چي کنجړا (سبزي خرخونکی) قصاب، پنبه ټکونکی، نان وای ټول عامل کامل درويش اهل باطن او متبع سنت دي، بيا په مولوي اسماعيل کي کوم فضيلت دی چي په هغه سره دی بزرګ وګڼل شي؟ عمر د مولانا اسماعيل رحمه الله توهين وکړی کنه؟ او د داسي علماوو توهين کونکو لپاره څه حکم دی؟ (۴۲/۱۴۴۷-۱۳۴۷هـ)

جواب: في الواقع حضرت مولانا اسماعيل شهيد قدس سره داسي و لکه زيد چي بيان کړی لکه د ده له احوالو څخه ثابت دي نو د داسي عالم کل رباني ولي الله توهين کول فسق دی، کوم سړی چي د ده توهين وکړي، هغه فاسق دی، بلکي خوف د کفر دی کما ورد: من عادی لي وليا فقد

آذنة بالحرب (۱) یعني په حدیث قدسي کي الله تعالی فرمایي چي چا زما د ولي او دوست سره دښمني او عداوت وکړی، له هغو سره زما جنګ دی یعني هغه زما دښمن دی نو که د عمر داغه عقیده ده نو دی اشد فاسق دی چي د سلب ایمان خوف دی والعیاذ بالله تعالی. فقط والله تعالی اعلم

ایا حضرت مولانا شاه عبد الرحیم شان ولي الله شاه عبد العزیز او نور غیر مقلدین وو؟

سوال: (۵۹۵) کتاب حیات جاوید مصنفه مرزا حیرت دهلوي سونح عمري مولانا شهید رحمه الله تر نظر تېر شو، په هغه کي مصنف مذکور مولانا شاه عبد الرحیم شاه ولي الله، شاه عبد العزیز، شاه عبد القادر، شاه رفیع الدین، مولنا اسماعیل شهید، شاه اسحاق مولنا احمد بریلوي رحمه الله تعالی علیهم جمله متوسلان شاه والي الله محدث دهلوي یې فرقه اهل حدیث ـ غیر مقلدین ـ ثابت کولو کوښښ کړی دی خو پورته ذکر شوي حضرات باوجود تبحر علمي او درس احادیث مصطفوي زما په ناقص خیال سره د احناف له ټولی ښخه دي نو د دواړو خیالونو په هکله قول فیصل څه دی؟ (۱۲۴۲/۱۳۴۳هـ)

جواب: ستا خیال او علم صحیح دی، دا جمله حضرات محققین علماء له احنافو کثر الله سوادهم ښخه دي، دا جمله حضرات احناف وو او مداح امام امام ابو حنیفه رحمه الله دي او پېشوا طریقت وشریعت او د حضرت امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله په سلسله طریقت کي دي چي پاخه حنفیان وو لکه د دوی له مکاتیب ښخه ظاهر دي او زموږ د اساتذه حضرت مولانا شیخ الهند وحضرت مولانا محمد قاسم نانوتوي وحضرت مولانا رشید احمد صاحب ګنګوهي قدس سرهم سلسله تلمذي وسند حدیث دغو حضراتو ته رسیږي او د دوی حنفي کېدل ظاهر وباهر دي فقط والله تعالی اعلم

مولانا عبد الحی صاحب حنفي محقق و

سوال: (۵۹۶) مولانا عبد الحی رحمه الله په کوم مذهب سره موصوف و او په کوم اوصاف

---

۱) عن ابي هريرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ان الله تعالی قال: من عادی لي وليا الحديث (صحيح البخاري: ۹۶۳/۲، کتاب الرقاق، باب التواضع)

سره؟ (۱۳۳۷/۲۷۷۴هـ)

جواب: حنفي محقق و او عالم متبحر وفقيه ومحدث و اتقياء عصر و. فقط والله تعالی اعلم

ايا د شيخ عبد القادر جيلاني رحمه الله او خواجه معين الدين چشتي رحمه الله مرتبه له ائمه اربعه څخه زياته ده؟

سوال: (۵۹۷) د حضرت غوث اعظم او حضرت خواجه معين الدين چشتي مرتبه تر ائمه اربعه زياته ښيي، دا صحيح دي کنه؟ (۱۳۴۳/۱۹۰۳هـ)

جواب: دا د الله تعالی په علم کي دي چي د چا مرتبه عند الله زياته ده؟ او د چا دا کمه ده، په انبياء عليهم السلام کي هم فرق مراتب او تفاضل ثابت دی، کما قال الله تعالی: "تلک الرسل فضلنا بعضهم علی بعض" (سورة بقره، آيت: ۲۵۳) دغه شان په صحابه وو اولياء الله او ائمه دين کي هم فرق ثابت دی نو جزم کول د يو چا پر افضليت من جميع الوجوه نه دی پکار نو په بعض وجوه سره يو او په بعض وجوه سره بل ليکن ائمه شريعت چي نائبين کاملين رسول الله صلی الله عليه وسلم دی او حاملان شريعت ومحافظين حدود شريعت دي، د دوی درجې ته يو کمترولي رسېدلای شي. فقط والله تعالی اعلم

شيخ عبد القادر جيلاني حنبلي و

سوال: (۵۹۸) د شيخ عبد القادر جيلاني څه مذهب و؟ (۱۳۴۲/۲۱۵۲هـ)

جواب: حضرت شيخ عبد القادر رحمه الله حنبلي و، د امام احمد بن حنبل مقلد و. فقط والله تعالی اعلم

عالمګير باچا مجدد وکنه؟

سوال: (۵۹۹) په مسلمانانو کي دا مشهور دي چي شهنشاه اورنګ زيب عالمګير مجدد منل شوی دی کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۵۹۳هـ)

المستفتي: ايم عبد الرحمن بي اې بي ټي سکريټري انجمن اخوان الصفاء چوک عالمګيريان، شهر لدهيانه

جواب: د عمالګیر باچا رحمه الله مناقب مشهور و معروف دي، پر هیچا مخفي نه دي، صحاب کمالا ظاهري و باطني و او د باچا عادل لپاره کوم څه ثواب او درجات په آخرت کي راغلي دي هغه مخفي نه دي، باقي دا چیري تر نظر نه دي تېر شوي چي هغه د کومي صدی مجدد و، باق تعجب په دې کي هیڅ نه دی او هغه د دې مستحق و اهل و. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۲۰۰) عالمګیر باچا مجدد منل شوی دی کنه؟ (۲۱۱/۴۴-۱۳۴۵هـ)

المستفتي: شیخ محمد چوړا بازار، لدهیانه

جواب: د ده د مجدد منلو حال معلوم نه دی، باقي احوال مخکي څو واره د بعض حضرات لدهیانه پر پوښتنه کولو مي لیکلي دي. فقط والله تعالی اعلم

د تقلید شرعي حیثیت او د هغه ثبوت

سوال: (۲۰۱)... (الف) زید مقلدین د ائمه اربعه د دې آیت مصداق جوړولو سره ګمراه ګرځوي: "انهم الفوا اباءهم ضالین، فهم علی آثارهم یهرعون" (سورة صافات، آیت: ۶۹-۷۰) او دا هم وایي چي مذاهب اربعه د هارون رشید په وخت کي تقسیم شوه، د حضرت په وخت کي موجود نه وه نو دا بدعت شو او څومره بدعتونه دی ضلالت دی او ټول ضلالتونه په نار کي دي، نو مقلدین د ائمه اربعه هم جهنمي دي، نعوذ بالله

(ب) زید یو سړي ته وویل چي په دوو اویا ټولی کي کومه ناجیه ده؟ او کومه ناریه ده؟ هغو جواب ورکړی چي اهل سنت والجماعت، زید وویل: لیري شه، لکم دینکم ولي دین او زید وایي چي ته مقلد یې د دې وجي مشرک یې. (۱۴۵۵/۱۳۴۳هـ)

جواب: (الف) د مذاهب اربعه حقیقت تر دې زائد نه دی چي د امت محمدیه پر هغه غوره څلورو عالمانو یو جماعت اعتماد کولو سره د هغو اقوال صحیح منلو سره خپل معمول جوړ کړي، لکه هر یو طالب د حق د دې په لټونه کوي وي چي له یو قابل اعتبار عالم څخه فتوی پوښتولو سره پر هغه عمل وکړي او که د یو سړي صرف پر یو عالم اعتماد دی چي تر ده زیات بل څوک نشته

نو ده لره د دغه عالم پر قول عمل کول واجب کېدل پکار دی، کما قال الله تعالی: "فسئلوا اهل الذکر ان کنتم لا تعلمون" (سورة انبیاء، آیت: ۷) په داسي صورت کي د مذکوره سړي په هکله صرف هغه معتمد علیه عالم له اهل ذکر څخه به وي ځکه چي د ده په عقیده کي بل څوک د ده برابر نه دی، دغه شان د مقلدین فقهاء اربعه عقیده هم ده او دا تعامل د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له عهد څخه جاري دی صاحبه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه کوله او پر هغه یې عمل کاوی او د ده بعد د چا سره زیات علم و، له هغو څخه نور صحابه وو تابعینو پوښتنه کوله او د هغو د فتوا موافق یې عمل کاوی کله د خیر القرون په آخر کي د امت محمدیه دا څلور عالمان د علم قرآن وحدیث ماهر او تعامل صحابه وتابعین څخه واقف ظاهر شوه نو عامة الناس د دوی پر فتاوی اعتماد کولو سره د دې موافق عمل کول پر خپل ځانو لازم کړي، د دې مراد صرف دا دی چي پر شریعت محمدیه د موافق فتوا امام ابو حنیفه رحمه الله مثلاً عمل وشي، دا د دغه ویونکي غباوت دی چي د هارون رشید په وخت کي د دې ایجاد وشو، ایا دی نبولی شي چي د هارون رشید په وخت کي یو جماعت مشوره کولو سره دا نوې خبره پیدا کړه "فهم علی آثارهم یهرعون" (سورة صافات، آیت: ۷۰) په شاه آیتونو کي د هغو مشرکینو مذمت دی چي توحید ترک کولو سره د خپل جاهل آباء تقلید یې کاوی او په نفس توحید کي دا پکار دي چي تحقیق کولو سره خپل ځان موحد جوړ کړي، دغه شان خومره آیتونه دي په ټولو کي د توحید وعدم توحید یعني په اصول کي د تقلید مذمت دی او د ائمه اربعه تقلید چي امت کوي هغه په فروع واحکام کي دی نو هیڅوک دا نه وایي چي زه په عقائدو کي حنفي یا شافعي یم، دې وجي چي په عقائدو کي حنفي، شافعي مالکي حنبلي قریب قریب بالکل متفق دي، لږ فرق که په ما تریدیه او اشاعره کي دی نو د هغه اعتبار نشته، که څه هم د دې په جواز کي شک نشته چي سړی د خپل صلحاء اسلاف په تقلید کي موحد پاته شي، د دې وجي چي دا "واتبعت ملة ابائي" (سورة یوسف، آیت: ۳۸) کي داخل شي، نو د دغه آیتونو مصداق اتباع ائمه اربعه ګرځول نه صرف د قرآن تحریف دي بلکي خپل ایمان بربادولو سره خسران اخروي رانیول دي والعیاذ بالله، د داسي جاهل په جواب کي د اهل حق مقلدینو ته "واتبعت ملة ابائي" دغه شان "قل بل ملة ابراهیم" (سورة بقره، آیت: ۱۳۵) پېش کول کافي دي.

(ب) کوم سړی چي د مسلمانانو تکفیر کوي هغه پخپله کافر دی کذا في شرح الفقه الاکبر (۱) فقط

سوال: (۲۰۲) د تقلید د وجوب څه دلیل دی؟ (۴۰۰/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: له آئمه اربعه وو څخه د یو تقلید کول د غیر مجتهد لپاره فرض دی. په دغه زمانه کي هیڅوک مجتهد مطلق نه دی لهذا پر تولو تقلید واجب دی، د امت اسلامیه مصالح، د هغه ضبط، د هغه تنظیم ټول په دغه تقلید کي مضمر دی، د ائمه اربعه په تعلیم کي کوم څه دي، هغه د تعلیم نبوي روح دی، د احادیث استنباط د هغه تشریح او د احکام قرآن تفصیل دی، د هغه قوت استنباط او علوم څخه د اسلام وسعت تعلیم اندازه کیږي، هر امي ته دا حق نشته چي هغه پخپله پر قرآن وحدیث لاس وړدولو سره د خپل اغراض وخواهشاتو په غالب کي واچوي، د ده زیات وړ هغه سپیڅلي کساني دي، کومي چي مشیت ایزدي خاص د دغه عظیم الشان خدمت لپراه منتخب کړي وي "فسئلوا اهل الذکر ان کنتم لا تعلمون" (سورة انبیاء، آیت: ۸) کي دغه حقیقت په ډېر بلیغ الفاظو سره واضح کړی دی نو په حقیقت کي د یو امام د ګنلو سره تقلید کول چي دوی د احکام شریعت او علم نبوت لپاره یو وسیله دی، عین د خدای او رسول اطاعت دی، د دې وجي علماوو ویل: "اطیعوا الله واطیعوا الرسول" (سورة نساء، آیت: ۵۹) کي اطاعت د مجتهد هم داخل دی لکه په بیضاوي کي دي: وهو یؤید الوجه الاول اذ لیس للمقلد ان ینازع المجتهد في حکمه الخ (۲) (تفسیر بیضاوي) تحت قوله تعالی: "فان تنازعتم في شيء فردوه الی الله والرسول" (سورة نساء، آیت: ۵۹)

د تقلید سند او فاتحه خلف الامام ممنوع کېدو دلیل

سوال: (۲۰۳) زید وایي د تقلید هیڅ سند نشته، دا صحیح دي که غلط؟ او تقلید سند دي تحریر شي او د فاتحه خلف الامام د ممانعت دلیل هم. (۹۳۵/۳۲-۱۳۳۳هـ)

---

۱) اذا قال الرجل لأخیه: یا کافر! فقد باء بهما احدهما کما في الصحیحین یحمل علی انه اذا اعتقد ذلک الخ (شرح الفقه الاکبر لملا علي القاري، ص: ۲۰۱، ان المسئلة المتعلقة بالکفر اذا کان لها تسع وتسعون احتمالاً الخ)

۲) تفسیر بیضاوي: ۲۸۲/۱، تحت قوله تعالی: "فان تنازعتم في شيء" (سورة نساء، آیت: ۵۹)

جواب: د تقلید سند په دغه آیت شریفه کي دی: "فسئلوا اهل الذکر ان کنتم لا تعلمون" (۱) او د فاتحه خلف الامام ممانعت له آیت: "واذا قرئ القرآن فاستمعوا له وانصتوا" (سورة اعراف، آیت: ۲۰۴) او په حدیث شریف کي دي: واذا قرأ فانصتوا (۲) او حدیث شریف: فقراءة الامام له قراءة (۳) څخه ثابت دي د زید قول غلط دی. فقط والله تعالی اعلم

د تقلید په هکله تفصلي فتوی

سوال: (۲۰۴)... (الف) تقلید فرض یا واجب یا مباح یا سنت څه دی؟

(ب) تقلید له کله څه او ولي وشو؟

(ج) پر ائمه اربعه رحمهم الله د تقلید سلسله ولي ختمه شوه او د دې په هکله کوم آیت قرآني وحدیث نبوي خاص د دوی په نوم راغلی دی؟ (۱۳۳۷/۱۳۲هـ)

جواب: (الف) مطلب تقلید فرض دی به نص قرآن: "فسئلوا اهل الذکر ان کنتم لا تعلمون" (۱) یعني که تاسو نه پوهېږئ نو له پوهانو څخه پوښتنه وکړئ او د هغو اتباع وکړئ د داغه نوم تقلید دی او وګوره ارشاد کیږي: "یا ایها الذین آمنوا اطیعوا الله واطیعوا الرسول واولی الامر منکم" (سورة نساء، آیت: ۵۹) د اولی الامر تفسیر حضرت جابر بن عبد الله او حضرت ابن عباس او عطاء ومجاهد او ضحاک او ابو العالیه او حسن بصري وغیرهم صحابه وتابعین وتبع تابعین په خلفاء وعلماء وفقهاء سره کړي دي او پخپله مولوي صدیق حسن خان صاحب مرحوم رئیس اهل حدیث دغه مفنی په خپل تفسیر کي قبوله کړې ده.

---

۱) سورة نحل: ۴۳، سورة انبیاء: ۷

۲) عن ابي هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: انما جعل الایمان لیؤتم به فاذا کبر فکبروا واذا قراء فانصتوا الحدیث (المجتبی المعروف بسنن النسائي: ۱۰۷/۱، کتاب الافتتاح، باب تأویل قوله عزوجل: "واذا قرئ القرآن الآیة")

۳) عن جابر رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من کان له امام فقراءة الامام له قراءة (سنن ابن ماجه ص۶۱، ابواب اقامة الصلوات والسنة فیها، باب اذا قرأ الامام فانصتوا)

او په حدیث شریف کي دي: انما شفاء العي السؤال(١) د عاجز شفا دا ده چي پوښتنه وکړي او د دې ماسیوا نور هم نصوص کثیره قرآن وحدیث څخه دا مضمون بیان کیږي.

مګر تقلید شخصي یعني د یو معین امام تعقلید په هر حکم وهره مسئله کي کول واجب دي ځکه چي د مطلق تقلید دوه فرده دي: شخصي او غیر شخصي، د دې وجي په اصلاً جائز و چي دغه فرض د کوم فرد په ضمن کي ادا کول وغواړي ادا دي یې کړي، تقلید شخصي کولو سره هم له دې فریضه څخه بری کېدای شي او غیر شخصي کولو سره هم لکه صحابه و تابعینو په زمانه کي د تقلید پر دواړو صنفو باندي عمل پاته شو دي، چا به تقلید شخصي کاوی او چا به غیر شخصي، تقلید شخصي کوونکو پر غیر شخصي کوونکو هیڅ نیو که نه کوله او غیر شخصي کوونکو هغه بد نه ګڼل، هغه به انشاء الله د سوال (ب) په جواب کي په څه تفصیل سره عرض کیږي.

لنډه دا چي دواړه ډول تقلید په زمانه د صحابه و تابعین کي و، لېکن کله په دوهمه صدۍ هجري کي وکتل شو چي مذاهب مجتهدین په کثرت پیدا شوي دي ډېر کم احکام داسي پاته دي چي د هغو په حرمت وجواز کي یا کراهت واستحباب وغیره کي خلاف نه وي او بل طرف ته په ابناء زمان کي د هواء وهوس غلبه ولیدل شوه او رخصتونه لټول پېل شوي و، د کوم امام مجتهد کومه مسئله د خپل خواهش موافق ملاو شوه هغه بې اختیار کړه اوباقي بې شاته وغورځوله، تر دې چي وېره پیدا شوه چي دین د خواهشاتو یو مجموعه جوړه شي پر ځای د دې چي مسلمان د دین اتباع وکړي اوس دغه دین د خپل خواهش تابع جوړوي، د دې وجي د دغه زمانې زیرک او دوربین علماوو دغه ضرورت محسوس کړی چي اوس په تقلید غیر شخصي کي دومره غټې، غټې مفاسدې پیدا شوي دي او په راتلونکي کي تر دې د سخت حوادث وېره ده، د دې وجي د مصلحت شرعي تقاضا دا ده چي د تقلید غیر شخصي څخه خلک راوګرځول شي او ټوله دي پر تقلید شخصي جمع کړل شي، آخر پر دې اجماع منعقده شوه، لکه محدث الهند حضرت شاه ولي الله دهلوي قدس سره د هغو د جلالت قدر او علم حدیث اعتراف محققین اهل حدیث مثلاً نواب صدیق حسن خان صاحب مرحوم او نورو ته هم دی، پخپله رساله انصاف صفحه ۵۹ کي فرمایي: وبعد المأتين ظهر فيهم التمذهب للمجتهدين بأعيانهم وقل من كان لا يعتمد على مذهب مجتهد بعينه وكان

١) د دغه حدیث شریف تخریج د کتاب الایمان د **سوال**: (۱۸۱) په جواب کي وګورئ

هذا هو الواجب في ذلک الزمان(١) الغرض د ۲۰۰هـ څخه بعد د مطلق تقليد په دواړو فردو کي تقليد غير شخصي مضر ثابت شو د دې وجي اوس فرض تقليد د ادا کول صرف په تقليد شخصي کي منحصر شو او هغه په وجه د ذريعه د فرض ادا کېدو پر بناء دليل ظني واجب شو.

(ب) تقليد د زمانه رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه او د ده په حکم سره وشو. وګوره تيسير کلکته صفحه ۳۷۰، کتاب الفرائض له حضرت اسود بن يزيد څخه روايت کوي: عن الاسود بن يزيد قال: أتانا معاذ بن جبل باليمن معلما او اميراً (٢) يعني معاذ رضی الله عنه زموږ وطن يمن ته د معلم او امير په حيث راغلی چي ورو څخه معلوميږي چي معاذ رضی الله عنه رسول الله صلی الله عليه وسلم د دې لپاره راستوليو چي دی خلګو ته احکام وښيي او خلک د ده تقليد وکړي او وګوره مشکاة انصاري صفحه ۵۵۲ باب مناقب ابي بکر و عمر عن حذيفة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: اني لا ادري ما بقائي فيکم فاقتدوا بالذين من بعدي ابي بکر و عمر رواه الترمذي(٣) يعني وفرمايل نبي صلی الله عليه وسلم چي ما ته معلوم نه دي چي تاسو کي زما ژوند تر څو پوري دی؟ انو تاسو زما بعد د ابو بکر و عمر تقليد کوی د دې وجي د صحابه رضی الله عنهم دا حالت و چي چا د يو چا تقليد کاوی او چا د بل په بخاري شريف کي د حضرت شرحبيل څخه په يو طويل حديث کي مروي دي چي يو خل يوه مسئله اول له حضرت ابو موسی اشعري رضی الله عنه څخه وپوښتل شوه او بيا د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه نو حضرت ابن مسعود د حضرت ابو مسوی د فتوا خلاف حکم ورکړی بيا کله حضرت ابو موسی ته د حضرت ابن مسعود د فتوی اطاع وشوه نو خلګو ته يې وويل:

---

١) ترجمه: او وروسته تر دوو صديو په خلګو کي د معين مجتهد انو مذهب اختيار کول ظاهر شو او داسي کم خلګو وو چي د مجتهد معين پر مذهب اعتماد نه ساتي او په هغه وخت کي د مذهب معين پابندي واجب شوه. (الانصاف في بيان سبب الاختلاف مع ترجمه اردو وصافه ص۵۹، باب حکاية حال الناس قبل المائة الرابعة، الخ المطبوعة: مطبع عمدة المطابع)

٢) تيسير موږ ته ملاو نشو مګر دغه حديث په بخاري شريف کي موجود دی، صحيح بخاري: ۹۹۷/۲، کتاب الفرائض، باب ميراث البنات

٣) مشکاة المصابيح ص۵۲۰، باب مناقب ابي بکر و عمر رضی الله عنهما، الفصل الثاني.

لا تسالوني ما دام هذا الحبر فيكم(۱) يعني تر څو پوري دغه بزرګ ابن مسعود رضی الله عنه په تاسو کي موجود وي تر هغه وخته زما څخه مسئله مه پوښتئ. بلکي د ده تقلید کوئ.

الحاصل صاحبه وو تقلید شخصي هم کاوی او غیر شخصي هم. لکه له دغو څو وقائع د حدیثو څخه معلوم شو حضرت شاه ولي الله قدس سره په حجة الله البالغة کي فرمايي: ثم انهم تفرقوا في البلاد وصار كل واحد مقتدى ناحية من النواحي(۲) بیا صحابه په ښارو کي متفرق شو او هر سړی د خپل خپل ښار و ملک مقدا جوړ شو. خلګو د هغو تقلید شورع کړی، د دغه تفصیل شاه صاحب په خپله په ډېر وضاحت سره کړی دی: وكان ابن عباس رضى الله عنهما اجتهد بعد عصر الاولين فناقضهم في كثير من الاحكام واتبعه في ذلك اصحابه من اهل مكة(۳) يعني حضرت ابن عباس رضی الله عنه کله په مکه کي اقامت اختیار کړی نو په ډېرو مسائلو کي د نورو صحابه وو سره خلاف شو او ډېرو اهل مکه وو د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما قول ته ترجیح ورکولو سره د ده پر فتاوی عمل وکړی، په محل خلاف کي د ابن عباس قول ته ترجیح ورکول او د ده پر فتاوی عمل کول داغه تقلید شخصي دی او وګوره په حجة الله البالغه کي فرمايي: وكان ابراهيم واصحابه يرون ان عبد الله بن مسعود رضى الله عنه واصحابه اثبت الناس في الفقه(۴) يعني حضرت ابراهيم نخعي او د ده تلامذه:

---

۱) عن هزيل بن شرحبيل قال: سئل ابو موسى عن ابنة وبنت ابن واخت، فقال: للبنت النصف وللاخت النصف وائت ابن مسعود، فسيتابعني، فسئل ابن مسعود فسيتابعني، فسئل ابن مسعود واخبر بقول ابي مسوى، فقال: لقد ضللت اذا وما انا من المهتدين، اقضي فيما بما قضى النبي صلى الله عليه وسلم: للبنت النصف ولابنة الابن السدس تكملة للثلثين وما بقي فللاخت، فاتينا ابا موسى فاخبرناه بقول ابن مسعود، فقال: لا تسالوني ما دام هذا احبر فيكم رواه البخاري (مشكاة المصابيح ۴۷۲/۱، المبحث السابع: ص۲۲۴، باب الفرائض، الفصل الثاني)

۲) حجة الله البالغة: ۴۷۲/۱، تتمة: باب(۱) اسباب اختلاف الصحابة والتابعين في الفروع المطبوعة: مكته حجاز، ديوبند.

۳) حجة الله البالغة: ۴۳۷/۱، المبحث السابع: مبحث استنباط الشرائع من حديث النبي صلى الله عليه وسلم باب(۳) كيفية تلقي الامة الشرع من النبي صلى الله عليه وسلم

۴) حجة الله البالغة: ۴۷۷/۱، تتمة: باب(۱) اسباب اختلاف الصحابة والتابعين في الفروع.

حضرت عبد الله بن مسعود او د ده تلامذه په فقه کي اثبت الناس بلل او په محل خلاف کي د دوی وقول ته ترجيح ورکوله او د تقليد شخصي هيڅ تر دې زائد مفهوم نه دی.

او وګوره ابو داؤد د مجتبائي: ص۲۱، عن عمرو بن ميمون الاودي قال: قدم علينا معاذ بن جبل اليمن رسول الله صلى الله عليه وسلم ـ الى قوله ـ فالقيت محبتي عليه، فما فارقته حتى دفنته بالشام ميتًا ثم نظرت الى افقه الناس بعده، فاتيت ابن مسعود رضى الله عنه، فلزمته حتى مات(۱) الغرض له دې څخه صاف ظاهر دی چي حضرت عمرو بن ميمون رضى الله عنه تقليد شخصي خوښاوی، د حضرت معاذ تر ژوند پوري د هغو تقليد وکړي او کله د هغو وفات وشو نو اوس خو د تقليد يو ذريعه پاته نه وه ځکه چي د هغو مذهب مدون نه و، د دې وجي اوس د حضرت عبد الله بن مسعود تقليد اختيار کړی.

الحاصل تقليد د نبي صلى الله عليه وسلم په زمانه کي د ده په حکم سره وشو او بيا په صحابه کي همېشته پاته و، والله تعالى اعلم

باقي ستا دا سوال چي تقليد ولي وشو؟ نو اول چي دا ثابته شوه چي رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې امر وفرمايي او جمهور صحابه پر هغه عمل وکړی بيا د يو مسلمان لپاره د دې سوال ګنجائش نه پاته کېږي چي دا ولي وشو ماسيوا له دې حکمت خو هيڅ مخفي نه دی ځکه چي د تقليد حال په علوم دينيه کي بالکل داسي دی لکه په علوم دنيويه کي د طب وریاضي وهيئت او دستکارياني مثل نجاري ومعماري او نورو چي ناواقف ته بېله تقليد واقف څخه چاره نشته

(ج) پر ائمه اربعه د تقليد سلسله ختمېدل يو امر عقلي نه دی بلکي محض اتفاقي دی چي په مشيت خداوندي سره د څلور مذهبو سيوا څومره مذهبونه وو هغه ختم شوه، کان لم يکن شوه، دوه څلورلس شل يا پنځوس سل اقوال واحکام که نن د هغو منقول وموجود هم دي نو هغه يو مستقل مذهب نشي جوړېدای چي خلګ د هغه تقليد وکړي ځکه که په هغه سل پنځو احکامو کي تقليد وکړي هم نو باقي په زرو مسئلو کي به څه کوي؟! اوس چي وکتل شو چي له دغو څلورو مذهبو ماسيوا نور ټول مذاهب ختم شوه نو ناچاره سلسله د تقليد پر دوی څلورو باندي ختمه شوه.

---

۱) سنن ابي داؤد: ۲۲/۱، کتاب الصلاة، باب اذا اخر الامام الصلاة عن الوقت

له ابن خلدن په خپله مقدمه تاریخ کي د ظاهریه پر مذهب کلام کولو سره لیکي: وقفت التقلید في الامصار عند هؤلاء الاربعة ودرس المقلدون لمن سواهم وسد الناس باب الخلاف وطرقه ولما کثر تشعب الاصطلاحات في العلوم ولما عاق عن الوصول رتبة الاجتهاد ولما خشی من اسناد ذلک الی غیر اهله ومن لا یوثق برایه ولا بدینه فصرحوا بالعجز والاعواز وردوا الناس الی تقلید هؤلاء کل بمن اختص به من المقلدین وحظروا ان یتداول تقلیدهم لما فیه من التلاعب ولم یبق الا نقل مذاهبهم وعمل کل مقلد بمذهب من قلده منهم بعد تصحیح الاصول واتصال سندها بالروایة، لا محصول الیوم للفقه غیر هذا ومدعی الاجتهاد لهذا لاعد مردود علی عقبه مهجور تقلیده وقد صار اهل الاسلام الیوم علی تقلید هؤلاء الائمة الاربعة انتهی کلامه[1] د دې وجې پر دې اجماع مرکب منعقد شوه چي اوس به د دغه څلورو مذهبونو څخه پرته د بل مذهب تقلید نکیږي لکه شیخ ابن همام په فتح القدیر کي فرمایي: انعقد الاجماع علی عدم العمل بالمذاهب المخالفة للائمة الاربعة[2] او حضرت شاه ولي الله سره عقده الجید: ص۳۱ کي فرمایي: ولما اندرس المذاهب الحقه الا هذه الاربعة کان اتباعها اتباعا للسواد الاعظم والخروج عنها خروج عن السواد الاعظم[3] او حافظ ابن حجر مکي په فتح المبین لشرح الاربعین کي فرمایي: اما في زماننا فقال ائمتنا: لا یجوز تقلید غیر الائمة الاربعة: الشامي ومالک وابي حنیفة واحمد بن حنبل[4] او طحطاوي په حاشیه درمختار کي فرمایي: ومن کان خارجًا عن

---

۱) مقدمة العلامة ابن خلدون: ص۲۴۴، علم الفقه وما یتبعه من الفرائض، المطبوعة: المطبعة الخیریة بمصر، القاهرة.

۲) له دېر لټولو سره فتح القدیر کي دغه عبارت ملاو نشو.

۳) عقد الجید مع ترجمه اردو سلک مروارید: ص۳۳، باب تأکید الأخذ بهذه المذاهب الاربعة والتشدید في ترکها والخروج عنها، المطبوعة: المطبع المجتبائي، دهلي.

۴) فتح المبین لشرح الاربعین للامام احمد بن حجر الهیثمي: ص۱۹۲، الحدیث الثامن والعشرون، تحت قوله: وسنة الخلفاء الراشدین المهدیین المطبوعة: المطبعة المیمنیة بمصر.

هذه الاربعة في هذا الزمان فهو من اهل البدعة والنار (۱) اوس د يو چا پر دې دليل طلب کول چي تقليد په دغه څلورو کي ولي منحصر شو محض بې محل او بالکل داسي دي چي د يو سړي اولاد کثير وي لېکن هغه مره کيږي تر دې چي د پلار انتقال وشو نو د څلورو زامنو سيوا بل هيڅوک باقي نه شو، اوس ظاهر دی چي تقسيم د ميراث په داغه څلورو کي به منحصر وي، حالانکه اولاد له دغه سيوا نور هم وو، لېکن تا به څوک داسي ويلو سره نه وي ليدلی چي ميراث په دغه څلورو کي ولي منحصر شو! او که څوک ووايي نو جواب په د دې سيوا نور څه کېدای شي چي ورور ه! مشيت ايز دی داغه و، ملاجيون په تفسيرات احمديه کي فرمايي: والانصاف ان انحصار المذاهب في الاربعة واتباعهم فضل الهي وقبوليته من عند الله لا مجال فيه للتوضيحات والادلة (۲) انتهى

باقي ستا دا ويل چي کوم آيت قراني وحديث نبوي هو بهو د دې په نوم وارد دی نو دا يو عجيبه سوال دی، محترمه! احکام شرع هو بهو د چا پر نامه نه وارد کيږي کنې دا راوښايه چي کوم آيت قرآن وحديث ستا پر نامه وارد شوی دی چي تا ته ډوډۍ خوړل او جامې اغوستل جائز دي؟! که د ثبوت احکام لپاره نوم په نوم آيت يا د حديث ضرورت وای نو انشاء الله په دنيا کي به نن پر چا يو شی فرض و واجب نه وای او نه حرام ومکروه، کوم آيت يا حديث ته راښکاره کوې، په هغه کي ستا نوم اخيستلو سره پر تا لمونځ واجب شوی وي؟! دغه شان په مثال مذکور کي څوک ويلای شي چي څلور زامنو ته کوم ميراث ورکول شوی دی، کوم آيت يا حديث د دوی په نامه وارد شوی دی؟! هيڅکله نه، مگر حکم عام د ټولو لپاره موجود دی نو هغه د تقليد ائمه په هکله هم موجود دی لکه پورته تېر شو، مثل قول عزوجل: "فسئلوا اهل الذكر ان كنتم لا تعلمون" ځکه چي ائمه اربعه بې شکه په اهل ذکر کي دي. والله سبحانه و تعالی

---

۱) حاشية الطحطاوي على الدر المختار: ۱۵۳/۴، كتاب الذبائح، المطبوعة دار المعرفة، بيروت

۲) التفسيرات الاحمدية ص۳۴۲، تفسير سورة الانبياء، الاية ۷۸/۷۹

له ائمه اربعه څخه د يو تقليد ضروري دی

سوال: (۲۰۵) يو سړي د خپل مذهب لټون نه کولو سره چي څرنګه وغواړي مقلد غير مقلد متعصب د هر يو تقليد کوي دا طريقه څرنګه ده؟ (۱۲۱۷/ ۱۳۴۳هـ)

جواب: له ائمه اربعه وو څخه د يو تقليد ضروري دی او د هغه مطابق عمل کول ضروري دی نو دغه طريقه چي د مذکوره سړي ده، ناجائز ده. فقط والله تعالی اعلم

د عامي سړي لپاره د امام مجتهد تقليد لازم و واجب دی

سوال: (۲۰۶) څه فرمايي علماء د دي په دغه صورت کي چي د عوامو لپاره تقليد امام مثل امام ابو حنيفه رحمه الله وامام شافعي رحمه الله وامام مالک رحمه الله وامام احمد بن حنبل رحمه الله واجب ولازم دی کنه؟ او هر يو سړی بې له لحاظ قابليت وعدم قابليت او بلاقيد علم وجهل پر حديث عمل کولای شي کنه؟ او عامل بالحديث کېدو مدعي کېدای شي کنه؟ زيد سره د خپلي کوچنۍ ټولۍ چي تعداد د هغه پنځلس شل کسان دي، تقليد ائمه مجتهدين ناجائز بولي او مدعي عامل بالحديث کېدو دی، آمين بالجهر ورفع يدين کوي او په حالت قيام لمانځه کي د قدمين منځ يو لاس ته قريب فاصله پرېږدي او تقليل جماعت وتفريق د مسلمانانو منځ کي کوي او عمر او د هغو جماعت کثيره په تعداد شل پنځويشت زره کسان دي مقلد دي او تقليد لازم بولي او پر روايات معتبره فقه حنفيه عمل کوي او په جماعت زيد کي نه شريک کېږي او د جمعې لمونځ او نور په نورو مساجدو کي ادا کوي او د اخترو لمونځ په صحاراء کي ادا کوي اوس يې نوې عيدګاه جوړه کړې ده، زيد معه دغه ټولۍ دغه عيدګاه جديد ته راتلل غواړي او فساد کول غواړي او په مسلمانانو کي تفريق کولو باندي راضي دی، نو په دې صورت مسؤله کي زيد پر حق دی که عمر؟ او د تفريق وويراني مساجد الزام پر زيد دی کنه؟ (۵۲۳/۲۹-۱۳۳۰هـ)

جواب: اقول وبالله التوفيق: د عامي لپاره تقليد امام مجتهد لازم و واجب دی بلکي فرض قطعي دی. قال الله تعالی: "فسئلوا اهل الذکر ان کنتم لا تعلمون"(۱) او وفرمايل الله

---
۱) سورة نحل، آيت ۴۳، سورة انبياء، آيت ۷

"فلو لا نفر من كل فرقة منهم طائفة ليتفقهوا في الدين ولينذروا قومهم اذا رجعوا اليهم لعلهم يحذرون " (سورة توبة، آيت: ۱۲۲) له آیت اولی څخه نه پېژوندونکو ته د پېژندونکو او مجتهدينو څخه مسائلو پوښتنه کولو حکم معلوم شو او له آيت ثانيه څخه ثابت شو چي يو جماعت له اهل اسلام څخه دی علم او تفقه في الدين حاصل کړي چي نور خلګ د دوی اتباع وکړي. انتهى بخلاصتهما

الغرض عام خلګو ته تقليد عالم فقيه ومجتهد ضروري دی، له آيات مذکوره څخه د دې فرضيت او ضروري کېدل محقق شو، په حديث شريف کي پر بې علمه فتوا ورکونکو او مسائل وربښوونکو باندې سخت وعيد وارد دی او رسول الله صلى الله عليه وسلم دوی ته ضال ومضل يعني پخپله ګمراه او نور ګمراه کونکي فرمايلي دي، له که په مشکاة شريف کي له بخاري ومسلم څخه منقول دي: عن عبد الله بن عمرو بن العاص رضى الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: ان الله لا يقبض العلم انتزاعا ينتزعه من العباد ولكن يقبض العلم بقبض العلماء حتى اذا لم يبق عالم اتخذ الناس رؤسا جهالا فسئلوا فأفتوا بغير علم فضلوا واضلو، متفق عليه (۱) غير مقلدين په زمانه حال کي اکثره د دغه حديث صحيح مصداق دی او مورد د دغه وعيد شديد دی په شامي او هدايه کي له امام ابو يوسف رحمه الله څخه منقول دي چي عامي ته اقتداء فقهاء لازمه ده ځکه چي هغو ته معرفت حديث نه شي کېدای يعني هغه نشي پوه کېدای چي کوم حديث واجب العمل دی او کوم نه دی او کوم حديث منسوخ دی او کوم نه دی او کوم راجح او کوم مرجوح کوم متروک العمل دی کوم معمول به دی. كما في الشامي: ص۱۴۹، وعن ابي يوسف خلافه لان على العامي الاقتداء بالفقهاء بعدم الاهتداء في حقه الى معرفة الاحاديث (۲) انتهى (شامي، جلد ثاني، كتاب الصوم) ومثله في الهداية (۳)

۱) صحيح البخاري: ۲۰/۱، كتاب العلم، باب كيف يقبض العلم وكتب عمر بن عبد العزيز الخ.
۲) رد المحتار على الدر المختار: ۱۱۸/۲، كتاب الصوم، باب ما يفسد الصوم وما لا يفسده، قبل مطلب في الكفارة. ط رشيديه
۳) الهداية: ۲۲۲/۱-۲۲۷، كتاب الصوم، باب ما يوجب القضاء والكفارة.

نوم معلوم شو چي هر يو سړی د عامل بالحديث کېدو دعوای نشي کولای او مطلق عمل بالحديث نشي کولای بلکي لازم دي چي روايات فقه باندي عمل وکړي کوم چي له احاديث څخه مجتهدينو را ايستلي دي، کنې ممکنه ده چي د ثواب پر ځای د معصيت مرتکب شي ځکه چي شايد هغه حديث پر کوم چي ده عمل کړی دی منسوخ وي يا متروک الظاهر وي يا مؤول يا د نص قطعي مخالف کېدو په وجه پر هغه عمل کول صحيح نه وي نو معلوم شو چي زيد او د ده ټولی پر خلاف حق ده ځکه چي د تقليد انکار کول دي چي عين حق دی او اکابر اولياء الله وعلماء وصلحاء مقلد تېر شوي دي، د غير مقلدينو ټولی محض له تقليد منکر نه دی بلکي تقليد ته شرک وکفر وايي لکه چي د ډېرو غير مقلدينو په تصانيف کي موجود دي نو اکثره اولياء وعلماء وصلحاء مرتکب شرک وکفر ګڼل هم د دغه شاذه جماعت برخه ده دا خلګ ماسيوا د خپل ځانو هيڅوک موحد نه بولي، بلکي مبتلاء شرک ومعصيت ګمان کوي او په حکم "ان بعض الظن اثم" (سورة حجرات، آيت: ۱۲) پخپله عاصي او آثم کيږي او مصداق د: من قال لاخيه: کافر فقد باء به احدهما (۱) کيږي حق تعالی دي له داسي جهالت څخه محفوظه وساتي. زيد او د ده جماعت بې شکه په مسلمانانو کي تفريق اچولو والا او فساد کولو والا دی، قال الله تعالی: "والفتنة اشد من القتل" (سورة بقره، آيت: ۱۹۱) عمر او د ده جماعت پر دې هکله پر حق دی او پر ده الزام تفريق بين المسلمين نه عائد کيږي، ځکه چي هغه متبع د سواد اعظم دی. عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: اتبعوا السواد الاعظم فانه من شذ شذ في النار، رواه ابن ماجة من حديث انس رضی الله عنه (۲) (مشکاة المصابيح، باب الاعتصام بالکتاب والسنة)

وعن معاذ بن جبل رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: ان الشيطان ذئب الانسان کذئب الغنم ياخذ الشاذة والقاصية والناحية واياکم والشعاب وعليکم بالجماعة والعامة، رواه احمد.

وعن ابي ذر رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: من فارق

---

۱) د دغه حديث شريف تخريج د کتاب الايمان د سوال (۴۵۵) په جواب کي وګورئ.
۲) مشکاة المصابيح ص: ۳۰، باب الاعتصام بالکتاب والسنة، الفصل الثاني.

الجماعة شبرًا فقد خلع ربقة الاسلام من عنقه، رواه احمد وابو داؤد.

وعن ابن مسعود رضی الله عنه قال: من كان مستنا فليستن بمن قدمات فان الحی لا تؤمن عليه الفتنة اولئک اصحاب محمد صلى الله عليه وسلم كانوا افضل هذه الامة ابرها قلوبا، واعمقها علما واقلها تكلفا اختارهم الله لصحبة نبيه ولاقامة دينه فاعرفوا لهم فضلهم واتبعوهم على اثرهم وتمسكوا بما استطعتم من اخلاقهم وسيرهم فانهم كانوا على الهدى المستقيم، رواه رزين(۱) الحاصل له دغه ټولو احاديثو او رواياتو څخه ثابت شو چي د سواد اعظم تابعداري پکار ده کوم سړی چي له سواد اعظم څخه عليحده شو هغه ناري دی او هلاک شو او حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه د مخکنيو د تقليد او اتباع حکم وفرمايی او د صحابه رضی الله عنهم د تابعداري حکم يې وفرمايی چي عين د امام ابو حنيفه رحمه الله عين تقليد صحابه رضوان الله تعالى عليهم اجمعين دی او تقليد صحابه رضوان الله عليهم عين تقليد واتباع رسول الله صلى الله عليه وسلم ده نو مقام د غور دی چي منکرين د تقليد د ائمه مجتهدين نتيجه تر کوم پوري رسيږي؟ او دغه شرک خيال کول پر ايمان واسلام څه اثر اچوي فقط والله تعالى اعلم

مجتهد ته د تقليد ضرورت نشته

سوال: (۲۰۷) يو سړی وايي چي که تقليد ابو حنيفه ضرور وای نو نورو ائمه وو به د ده په خلاف يو مسئله پيان کړې نه وای، د دې څه حکم دی؟ (۱۱۳/۳۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: تقليد د امام مجتهد د هغو خلکو لپاره ضروري دی کوم چي مجتهدين نه دي او امام شافعي وصاحبين او مام زفر وامام احمد بن حنبل رحمهم الله تعالى پخپله مجتهدين دي، دوی ته د بل چا د تقليد ضرورت نشته فقط والله تعالى

۱) مشكاة المصابيح ص۳۱-۳۲، باب الاعتصام بالكتاب والسنة، الفصل الثالث

حنفي ته بلا ضرورت شدیده د بل امام پر مذهب عمل کول جائز نه دي

سوال: (۲۰۸) که یو حنفي په یو مسئله کي د امام صاحب رحمه الله مذهب او قول پرېښودلو سره د بل امام پر قول عمل وکړي نو جائز دی کنه؟ (۱۳۳۹/۱۵۴۹هـ)

جواب: حنفي لره بلا ضرورت شدیده د بل امام پر مذهب عمل کول جائز نه دی او هغه هم په هغه صورت کي چي فقهاوو په هغه کي تصریح کړې وي د مذهب غیر پر عمل کولو لکه په زوجه مفقود او نورو کي[1] فقط والله تعالی اعلم

د یو امام مذهب پرېښودلو سره د بل امام مذهب اختیار کول

سوال: (۲۰۹).... (الف) زید شافعي المذهب د یو وجي څخه حنفي مذهب طرف ته رجوع وکړه نو شرعًا ده ته دا انتقال جائز دی کنه؟

(ب) زید خو پر حنفي مذهب عمل کول شروع کړي نو ایا پر زید شرعًا دا لازم دي چي دی مذهب شافعي طرف ته رجوع وکړي یا ده ته پر حنفي مذهب قائم پاته کېدل ضروري دي؟

(ج) د شیخ یا استاذ په حکم سره د زید یو مذهب څخه بل مذهب طرف ته رجوع جائز ده کنه؟ (۱۳۴۰/۱۱۸۷هـ)

جواب: (الف-ج) انتقال عن المذهب د دنیاوي غرض او طمع په وجه جائز نه دی چي دا تلعب بالدین دی کوم چي حرام دی مګر په دیني وجه سره یعني په دې وجه سره چي ده ته د حنفي مذهب دلائل قوي او احوط معلوم کېدو سره انتقال به طرف مذهب حنفیه صحیح دی او بیا دا جائز نه دی چي حنفي مذهب پرېښودلو سره شافعي جوړ شي. فقط والله تعالی اعلم

---

۱) ولهذا قال الزاهدي: وقد كان بعض اصحابنا يفتون بقول مالك في هذه المسئلة للضرورة اهـ... وسياتي نظير هذه المسئلة في زوجة المفقود حيث قيل: انه يفتى بقول مالك انها تعتد عدة الوفاة بعد مضي اربع سنين. (رد المحتار على الدر: ۲/۲۵۴، كتاب الطلاق، باب العدة، مطلب في الافتاء بالضعيف ط رشيديه)

غیر مقلدین په اهل سنت والجماعت کې داخل نه دی

سوال: (۲۱۰) کوم خلګ چې آمین بالجهر او رفع یدین او پر سینې لاس نیسي او د یو امام تقلید نه کوي څرنګه دی؟ (۸۴-۲۹/۳۸۳-۱۳۳۰ھ)

جواب: عامي ته تقلید د یو امام مجتهد ضروري دی، کنې د خپلې رایې او اتباع هوا په وجه اکثره ګمراه کیږي لکه د غیر مقلدینو په زمانه حال کې مشاهده ده غټ، غټ علماء د دین د مجتهدینو له تقلید څخه مستغني شوي نه دي، وائمه حدیث او ائمه فقه ته وګورئ چې ټوله مقلدین تېر شوي دي، موږ یې وینو چې غیر مقلدین په ژبه خو دعوا عمل بالحدیث او د قرآن کوي مګر داسي متبع هوا دی چې د مخالفت اجماع هم پروا نه کوي، محرمات شرعیه پخپله رایه سره حلال کوي، په عقائدو کې خلاف سلف خبرې راباسي، بعض ومتعه ته جائز وایي، بعض ما فوق اربع نساء (تر څلورو زیاتي) سره په یو وخت کې نکاح جائز بولي، سب سلف صالحین د دوی شعار دی، داسي خلګ په اهل سنت والجماعت کې داخل نه دي او لمونځ په دوی پسې مکروه دی مګر د کومو غیر مقلدینو اختلاف صرف په فروعي مسائلو کې دی، هغه په اهل سنت والجماعت کې داخل دي او لمونځ د دوی تر شا په شرط مراعات في مواضع الاختلاف صحیح دی فقط والله تعالی اعلم

د غیر مقلدینو اختلاف صرف فروعي نه دی بلکې اصولي دی

سوال: (۲۱۱) غیر مقلدین وایي چې موږ په عقائدو کې د حنفیه سره موافق یو، مګر په فروع کې خلاف دي، مثل آمین بالجهر رفع یدین او نورو کې فروع مذکوره داسي کول چې له هغه څخه فتنه وفساد کیږي څه حکم لري؟ په عوام الناس کې کله آمین بالجهر کیږي یا رفع یدین کیږي نو فتنه خوریږي، داسي امور کونکي دي له امور جدیده څخه راوګرځول شي که عوام الناس؟ (۱۲۸۹-۳۲/۱۲۸۹-۱۳۳۳ھ)

جواب: عمومًا دا خبره نه ده چې غیر مقلدین په عقائدو کې د حنفیه سره موافق دي یا حنفیان دوی پر حق بولي

بلکي اکثره غیر مقلدین وتقلید ته شرک وايي، له دې څخه د غیر مقلدینو مشرک کېدل د هغو جهالو په عقیده کي لازميږي او فساد د دې اظهر من الشمس دی، نو داسي خلکو سره د موافقت څه صورت کېدای شي؟! او طریقه د احنافو خو موافق د سنت ده، د دې وجي د نوي ټولی په دغه کي خلاف کول بناء فساد د هغه جدید مذهب والاوو له طرفه څخه ده، لهذا دوی راګرځول پکار دي چي داسي امور ونکړي چي له هغو څخه خلاف وفساد لازم شي او چي د دوی په نزد هم دغه اختلاف فروعي دی او د استحباب وعدم استحباب فرق دی نو د امر مستحب له وجي ولي اختلاف اچوي؟! د سبیل مؤمنین په خلاف په قرآن شریف کي وعید شدید مذکور دی: قال الله تعالی: "ومن یشاقق الرسول من بعد ما تبین له الهدی ویتبع غیر سبیل المؤمنین نوله ما تولی ونصله جهنم وساءت مصیرًا" (سورة نساء، آیت: ۱۱۴) او رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: اتبعوا السواد الاعظم فانه من شذ شذ في النار رواه ابن ماجه (۱) فقط والله تعالی اعلم

د غیر مقلدینو ځیني عقائد د اهل سنت والجماعت د عقائدو خلاف دي

سوال: (۲۱۲)..... (الف) ایا غیر مقلدین په اهل سنت والجماعت کي داخل دي کنه؟ او د دوی او اهل سنت په عقائدو کي څه فرق شته که متحد دي؟ (۱۱۲/۱۳۳۹هـ)

(ب) د داسي غیر مقلدینو شاته لمونځ جائز دی کنه چي متعصب او د بزرګانو په شان کي بې ادبه نه وي او ائمه اربعه حق بولي او د هغو شرائطو هم خیال ساتي له کومو څخه د امام صاحب رحمه الله تعالی په نزد لمونځ فاسد يږي.

(ج) کوم سړی چي داسي غیر مقلدین له اسلام څخه خارج کوي، د هغو لپاره شرعًا څه حکم دی؟

---

۱) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: اتبعوا السواد الاعظم الخ (مشکاة المصابیح ص۳۰، کتاب الایمان، باب الاعتصام بالکتاب والسنة، الفصل الثاني)

جواب: (الف) د غير مقلدينو د عقائدو تفصيل په ځينو كتابو كي شوى دى، په هغه كي ځيني عقائد داسي خامخا شته چي د اهل سنت وجماعت خلاف دي، د دې وجې د دوى له اقتداء څخه احتراز لازم دى.

(ب) دا شان غير مقلدينو شاته لمونځ كول صحيح دى، په دې شرط چي د هغو عقائد به موافق عقائد اهل سنت وجماعت وي.

(ج) دا غلطي ده او اخطا ده. فقط والله تعالى اعلم

غير مقلدين كوم چي ائمه اربه ته ښكنځل كوي عاصي دي [1]

سوال: (٢١٣) غير مقلدين كوم چي كلمه وايي او لمونځ، روژه او نور جمله احكام واركان اسلام ادا كوي مگر ائمه اربعه ته ښكنځل كوي او وايي چي د حنفي مذهب كتابونه د سوځولو وړ دي نو دا كافر دى كنه؟ (١٣٤٧-٤٢/٤٠٠هـ)

جواب: غير مقلدين شاتم ائمه دين دي، په اهل سنت والجماعت كي د دوى شمار نه دى او د دغه لحاظه بې شكه دوى عاصي دي ليكن په دغه وجه دوى ته كافران نه ويل كيږي، كوم سړى پر كتب حنفيه او د ائمه د دين پر تعليم داسي ناپاكه حملې كوي هغه خپل عاقبت خرابوي بيا هم د تعليم اسلامي په خاطر دوى ته كافران نه ويل كيږي او مقلد ته مشرك ويل د ډيري ناپوهۍ او باطني تاريكۍ او تعصب علامت دى، د مقلد قصور د دې سيوا نور څه دى چي هغه د علماء هدى ښولي احكامو باندي عمل كوي، د كومو چي اطاعت د خداى او رسول اطاعت دى، عن ابن المبارك عن ابي حنيفة ماجاء عن النبي صلى الله عليه وسلم فعلى الرأس والعين وما جاء من الصحابة نختار منهم الخ، دغه كوچنۍ او بد ژبي ډله چي د سواد اعظم (ستري ډلي) په خلاف كولو د من شذ شذ في النار [2] مصداق او د عمائد دين توهين كولو سره د ابدي لعنت مستحق دى، حنفي دي د ده سره هيڅ تعلق نه ساتي لېكن كومي علائق له مخكي څخه دي، هغه په شرعي حيثيت سره هغه شان قائم دي.

---

١) العرف الشذى مع جامع الترمذي: ٤٢/١، ابواب الصلاة باب ما جاء في الصلاة السطي انها العصر.

٢) عن ابن عمر رضى الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اتبعوا السواد الاعظم فانه من شذ شذ في النار. (مشكاة المصابيح ص٣٠، باب الاعتصام بالكتاب والسنة، الفصل الثاني)

د غیر مقلد حنفي ښځه بې له طلاقه دوهم واده نشي کولای.

په قومي او مذهبي امورو کي غیر مقلدین شریکول او د هغو څخه مشوره اخیستل

سوال: (۲۱۴)..... (الف) فرقه د اهل حدیثو په قوم و مذهبي امورو کي شریکولو سره مشوره اخیستل جائز دي کنه؟

(ب) ایا دغه خلک په اهل سنت والجماعت کي داخل دي کنه؟

(ج) ایا د یو حنفي له دوی سره ملاوېدل او په قوم او مذهب کارو کي شریکول او مشوره اخیستل جائز دي کنه؟

(د) که یو سړی دا ووای چي د غیر مقلدینو سره هیڅ تعلق نه دی ساتل پکار او نه په یو مشوره کي شریکول پکار دي، دا ویل څرنګه دي؟ او د دې په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۴۵/۱۱۰۰هـ)

جواب: (الف) جائز دي.

(ب) داخل دي په دې شرط چي هغه به غالي نه وي او تقلید ته به شرک نه وایي او مقلدینو ته مشرک نه وایي او په یوه عقیده کي د اهل سنت خلاف نه وي.

(ج) جائز دي.

(د) اصل دا دی چي په ځینو مسائل شرعیه فرعیه کي د حنفیه وو له دوی سره اختلاف دی، په هغه مسائلو کي دي له هغو سره موافقت نه کیږي او په دې کي هم شک نشته چي ځیني غیر مقلدین داسي دي چي بعض عقائد د هغو صحیح نه دي مثلاً تقلید ته شرک ویل او مقلدینو ته مشرک ویل او په ځینو نور اعتقادیاتو کي هم له هغو سره اختلاف دی، لېکن د دې ټولو سره مسلمانان دي، په قوم کارو کي او سیاسي امورو کي له دوی سره مشوره کول او شریک کول ممنوع نه دي، که څه هم تعصب د دوی قابل د نفرت دی، لېکن په قومي امورو کي د دوی سره ملاوېدل او نېکه مشوره اخیستل جائز دي. فقط والله تعالی اعلم

د غیر مقلدینو صحبت ډېر مضر او دین تباه کونکی دی

سوال: (۲۱۵) ټولي د غیر مقلدینو په اهل سنت والجماعت کي داخل دي کنه؟ او د وی سره صحبت او نور

او مسجدانو ته پرېښودل صحيح دي کنه؟ او لمونځ کول د دوی سره صحيح دی کنه؟ (۱۲۴۱/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: دا خو عمومًا نه ويل کيږي چي ټول غير مقلدين (سلفيان) له اهل سنت څخه خارج دي ممکن خو لا څه بلکي واقع دي چي بعض له دوی څخه داسي هم دي لېکن په دې کي شک نشته چي صحبت د دغه ټولی ډېر مضر او دين تباه کوونکی دی، د دين څخه بې قيده جوړونکي داغه ټولی ده، فالحذر کل الحذر من قربهم ومجالستهم وموادتهم والله ولي التوفيق والسلام على من اتبع الهدای، والتزم جماعة التقى، وسلک طريق الادب مع ائمة الدين ونواب المصطفى صلى الله عليه وعلى اصحابه البررة الاتقياء الاصفياء. فقط والله تعالى اعلم

د غير مقلدينو شاته لمونځ کول او د دوی سره ډوډۍ خوړل او واده کول جائز دي کنه؟

سوال: (۲۰۲)... (الف) په غير مقلد پسي لمونځ کول جائز دي کنه؟

(ب) د غير مقلد سره واده کول جائز دي کنه؟

(ج) د غير مقلد سره ډوډۍ خوړل جائز دي کنه؟ (۱۲۵۲/۱۳۴۳هـ)

جواب: (الف- ج) په غير مقلد پسي د حنفي لمونځ کيږي لېکن احتياط کول ښه دی او داغه حکم د يو ځای مواکلت ومشاربت دا دی. فقط والله تعالى اعلم

بدعتي او غير مقلد پسي لمونځ کول او د دوی نوکري کول

سوال: (۲۱۷) له بدعتي او غير مقلد دواړو فريقو څخه کوم فريق ښه او پر حق دی؟ مقلدين احناف لره په ياد شوو دواړو توليو پسي لمونځ کول او د هغو نوکري کول او مناکحت صحيح دی کنه؟ (۲۲۲۴/۱۳۳۷هـ)

جواب: د اهل سنت وجماعت په خلاف چي څومره باطلي ډلي دي ټولو ته اهل اهواء او اهل بدعت ويل کيږي

بس نو د غیر مقلدینو څخه هغه ډلي چي تقلید ته شرک او مقلدینو ته مشرکین وايي او پر ائمه سلف خصوصًا پر امام الائمه خیر التابعین امام ابو حنیفه رحمه طعن کوي او په بعض عقائدو کي هم د سلف خلاف کوي، هغه تر روافض کم نه دي، د دوی په هکله د څه پوښتلو موقع ده چي دوی ښه دي که بدعتیان؟ بلکي په حکم "فماذا بعد الحق الا الضلال" (سورة یونس، آیت ۳۲) د اهل سنت وجماعت ماسیوا ټولي فرقي پر ګمراهي او باطل دي، له دغه قاعدې څخه د جمله فرقو حکم او احوال معلوم شو، په دغه ټولو پسي لمونځ کول او په واده او نکاح کولو کي احتیاط کول پکار دي او د ملازمت کیسه خو جلا ده، ملازمت د کفارو هم د ضرورت په وخت صحیح دی، په دې شرط چي په کي کوم معصیت نه وي نو دغه حکم د دغو باطلو ډلو د ملازمت هم دی. فقط والله تعالی اعلم

که غیر مقلد مېړه خپله ښځه پر تقلید مجبوره کړي نو پر ښځه د مېړه اطاعت لازم نه دی

سوال: (۲۱۸) غیر مقلد خپله ښځه مقلده مجبوره کولو سره غیر مقلد جوړولای شي کنه؟ او عکس د دې؟ (۷۳۹/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: تقلید د خپل امام پرېښودل صحیح نه دی نو مقلد ته غیر مقلد نه دی کېدل پکار او په دې هکله پر ښځي د خپل مېړه اطاعت لازم نه دی، لا طاعة لمخلوق في معصية الخالق (۱) فقط والله تعالی اعلم

داؤد ظاهري د کوم ذهب پابند ؤ؟

سوال: (۲۱۹) امام داؤد ظاهري د کوم مذهب پابند ؤ؟ (۹۲/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: امام داؤد ظاهري پر ظاهر احادیث عمل کوي د چا مقلد نه دی. فقط

---

۱) عن النواس بن سمعان رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا طاعة لمخلوق الحدیث (مشکاة المصابیح ص۳۲۱، کتاب الامارة والقضاء، الفصل الثاني)

د محمد بن عبد الوهاب نجدي په هکله علامه شامي څه لیکلي دي؟

سوال: (۲۲۰)... (الف) د محمد بن عبد الوهاب نجدي په هکله صاحب د درمختار څه لیکلي دي کنه؟ او صاحب رد المحتار څه لیکلي دي کنه؟ یا دواړو صاحبانو لیکلي دي نو هغه عبارت دي نقل شي؟

(ب) درمختار له محمد بن عبد الوهاب نجدي څخه مخکې دی که بعد کې؟
(۴۹۴/۴۴-۱۳۴۵هـ)

جواب: (الف-ب) د صاحب درمختار زمانه مقدم ده له محمد بن عبد الوهاب نجدي څخه، هغو د ده په هکله هیڅ نه دي لیکلي مګر صاحب رد المحتار شامي د اتباع ابن عبد الوهاب نجدي تذکره په باب البغاة کې کړې ده، عبارت د هغه دا دی: كما وقع في زماننا في اتباع عبد الوهاب الذين خرجوا من نجد وتغلبوا على الحرمين وكانوا ينتحلون مذهب الحنابلة، لكنهم اعتقدوا انهم هم المسلمون وان من خالف اعتقادهم مشركون واستباحوا بذلك قتل اهل السنة وقتل علمائهم حتى كسر الله شكوتهم الخ[1]

د مولوي احمد رضا بریلوي عقیده

سوال: (۲۲۱) د احمد رضا بریلوي عقیده او پر هغه عمل کول څرنګه دي؟
(۱۹۰۱/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: تر کومه چې معلومه شوې ده چې دی راس المبتدعین دی او بدعات جائز کوي، والله اعلم بحقيقة الحال فقط والله تعالى اعلم

ایا مولوي احمد رضا خان بریلوي کافر دی؟

سوال: (۲۲۲) مولوي احمد رضا خان صاحب بریلوي از روی شرع کافر دی کنه؟
(۴۹۴/۴۴-۱۳۴۵هـ)

---

۱) الشامي على الدر: ۳۳۹/۳، كتاب الجهاد، باب البغاة، مطلب في اتباع عبد الوهاب الخوارج في زماننا. ط رشيديه

جواب: د ده تکفیر نه کیږي په وجه د امکان د تاویل. فقط والله تعالی اعلم

د امکان کذب او امکان نظیر مطلب

سوال: (۲۲۳)..... (الف) کذب باري تعالی ممکن دی که ممتنع؟ که ممکن دی نو د دې سهل معنی څه ده؟

(ب) د رسول مقبول صلی الله علیه وسلم نظیر (مثل) کېدای شي کنه؟ که نبي صلی الله علیه وسلم معدوم النظیر نه دی نو د لا نبي بعدي څه معنی ده؟ (۵۲۴/۳۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: د هغه مثال داسي وبوله چي حق تعالی د مشرکین مغفرت نه کوي لکه چي وعده شوې ده "ان الله لا یغفر ان یشرک به" (سورة نساء، آیت: ۴۸ او ۱۱۶) لیکن الله لره قدرت شته چي د کافر مغفرت وکړي مګر دی دا شان نه کوي بس نو دا معنی ده د امکان کذب چي خلاف وعده تحت القدرت داخله ده (۱) مګر داسي به نه وي. فقط

(ب) دغه شان د امکان نظیر معنی وګڼه چي حق تعالی وعده کړې ده چي د ده په مثل هیڅوک نشته او نه به وي لېکن حق تعالی لره قدرت شته، د ده پر مثل پیدا کولو حق تعالی عاجز نه دی او د علم الکلام مسئله ده مثل الممکن دغه شان د ده بعد به بل نبي نه وي، نبي صلی الله علیه وسلم خاتم النبیین دی لېکن حق تعالی قادر دی، د ده بعد پر نبي پیدا کولو مګر په سبب د صادقي وعدې يې نه پیدا کوي

---

۱) دغه مسئله په امکان کذب سره یعبیر کولو سوء ادبي ده، د دې صحیح تعبیر عموم قدرت باري تعالی دی یعني د الله تعالی له قدرت څخه هیڅ شی خارج نه دی ټول شیان د الله د قدرت تحت داخل دي لکه ارشاد باري تعالی دی: "ان الله علی کل شيء قدیر" (سورة بقره، آیت: ۲۰) او په شرح عقائد کي دي: ولا یخرج عن علمه وقدرته شيء لان الجهل بالبعض والعجز عن البعض نقص (شرح عقائد نسفي: ص۳۵، مطبوعه رشیده، دهلي)

ترجمه: د الله تعالی له علم او قدرت څخه یو شی خارج نه دی، د دې وجي له بعض شیانو څخه ناواقف کېدل او بعض شیانو څخه عاجز کېدل نقص دی (او الله تعالی له نقص څخه پاک دی) ۱۲ محمد امین پالن پوري

الغرض امکان ذاتي دی او امتناع بالغیر ده. (۱) فلا اشکال فقط والله تعالی اعلم

الله تعالی متصف په کذب بلل کفر دی

سوال: (۲۲۴) یو سړی وایي چي د یو بندي خدای تعالی متصف په کذب بولي نعوذ بالله منه، ما ده ته وویل چي څوک داسي اعتقاد لري هغه کافر دی، ته په مطلب نه پوهېږې، په دې هکله ستا څه رایه ده؟ (۱۳۹۳/۳۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: دا صحیح دي چي الله تعالی متصف په کذب بلل کفر دی، هغه د وعدې او وعدې او وعید په خلاف کولو جګړه ده او امکن کذب د دغه معنی په اعتبار سره ویل کیږي چي حق تعالی پته قدرت شته مګر واقع به نه وي.

---

۱) دا بحث د تقویة الایمان له یو عبارت له وجي څخه پیدا شوی دی، هغه عبارت دا دی:
د هغه شاهنشاه شان خو دا دی چي په یو آن کي په یوه حکم کن سره که وغواړي نو په کرورو نبیان او ولیان او جن وفرشته جبرئیل او د محمد صلی الله علیه وسلم برابر پیدا کړي (تقویة الایمان ص۴۷، مطبوعه دار الکتاب، دیوبند)
پر دې پیر پرستانو وویل چي الله تعالی هیڅکله د نبي صلی الله علیه وسلم پر مثل پیدا کولو قادر نه دی، د ده نظیر محال بالذات دی ځکه چي په قرآن کریم کي ده ته خاتم النبیین ویلي دي، که د ده نظیر ممکن وي نو امکان کذب باري تعالی لازمیږي، د قرآن کریم هم تکذیب لازم کیږي او دا محال دی، لهذا د نبي صلی الله علیه وسلم نظیر هم محال دی چي مستلزم د محال محال وي، بس نو د امکان نظیر عقیده کفر دی.
اهل حق دا جواب ورکړی چي خدای تعالی د حضور پر نظیر پیدا کولو قادر دی، عاجز نه دی، ځکه چي د نبي صلی الله علیه وسلم نظیر ممکن بالذات دی او د خدای تعالی د قدرت تحت داخل دی.
هو! د خپلي وعدې مطابق د نبي صلی الله علیه وسلم نظیر او مثل هیڅکله نه پیدا کوي "ان الله لا یخلف المیعاد" "ومن اصدق من الله قیلا" لهذا د نبي صلی الله علیه وسلم او مثل محال بالغیر دی او محال بالذات نه دی چي تر قدرت تحت داخل نه وي ځکه چي کله د نبي صلی الله علیه وسلم ذات مبارک ممکن دی واجب او ممتنع نه دی نو د ده صلی الله علیه وسلم نظیر هم ممکن دی ځکه چي د ممکن نظیر خو ممکن کېدای شي واجب بالذات یا ممتنع بالذات د ممکن بالذات نظیر نشي کېدای دا دی د امکان نظیر او امکان کذب مختصر وضاحت، که تفصیل کتل غواړئ نو د شیخ الهند صحضرت مولانا محمود حسن صاحب دیوبندي رحمه الله کتاب جهد المقل مطالعه وکړئ ۱۲ محمد امین پالن پوري

لقوله تعالی: "ان الله لا یخلف المیعاد "(۱) یعني الله تعالی خلاف وعده نه کوي لېکن ده ته قدرت شته، کولای، هغه ذات قادر علی الاطلاق مجبور نه دی. (۲) فقط والله تعالی اعلم

---

۱) سورة آل عمران، آیت: ۹، سورة رعد، آیت: ۳۱

۲) په فتوی رشیدیه کي دي:

نقل د خط سیدنا حاجي امداد الله صاحب رحمه الله مهاجر مکه مکرمه زاد الله شرفها در امکان کذب برفع شبهات مولوي نذیر احمد صاحب رام پوري.

شبه: په براهین قاطعه کي لیکلي دي چي د الله تعالی څخه کذب ممکن دی، د دغه مسئلې له وجي په کتب الهیه کي احتمال د درواغ پیدا کېدای شي یعني مخالفین ویلای شي چي شاید دغه قرآن په درواغ وي او د دې احکام غلط دي او د براهین قاطعه د دغه تحریر له وجي د هر خلګ ګمراه شول.

جواب: از فقیر امداد الله چشتي فاروقي عفی عنه به خدمت مولوي نذیر احمد خان صاحب،

بعد سلام تحیه آن که ستا خط راغلی د مضمون څخه خبر شو، هر څومره د بعض وجوهاتو عزم تحریر نه و مګر په غرض د اصلاح او توضیح مطلب براهین قاطعه بالاختصار څه لېکل کیږي شاید الله تعالی به نفع ورسوي، ان ارید الا الاصلاح ما استعطعت وما توفیقي الا بالله

څرګند دي وي چي د امکان کذب کومه معنی تا ګڼلې ده هغه بالاتفاق مردوده یعني د الله تعالی له لوري د وقوع کذب قائل کېدل باطل دي او خلاف دي د صرحي نص "ومن اصدق من الله قیلا " او "ان الله لا یخلف المیعاد " وغیرهما آیتونو، هغه ذات پاک مقدس دی، شائبه د نقص د کذب او نورو څخه، پاته خلاف د علماوو په هکله وقوع وعدم وقوع خلاف د وعید دی، هغه صاحب براهین قاطعه لیکلي دي، هغه په اصل کي کذب نه دی صورت د کذب دی، د دې په تحقیق کي طول دی، الحاصل له امکان کذب څخه مراد دخول کذب تحت قدرت باري تعالی دی یعني الله تعالی کومه وعده وعید فرمایلې ده د هغه پر خلاف قادر دی، که څه هم وقوع د هغه نه وي او امکان وقوع لازم نه ده بلکي کېدای شي چي یو شی ممکن بالذات وي او دی وخارجي قارینې له وجي هغه ته استحاله لاحق وي لکه پر اهل عقل مخفي نه ده نو د مذهب جمیع محققین اهل اسلام او صوفیاء کرام وعلماء عظام په دغه مسئله کي دا دي چي کذب داخل تحت قدرت باري تعالی دی ن کومي شبهاتي تا پر وقوع کذب متفرع کي و، هغه مندفع شوې، ځکه چي د قوع هیڅوک قائل نه دی، دا مسئله د قیقه ده د عوام الناس مغ ته د بیان کولو نه ده، د دې له حقیقت ادراک څخه اکثره ابناء زمان قاصر دی، د آیات واحادیث کثیره څخه دا مسئله ثابته ده چي مثال د قرآن وحدیث لیکل کیږي:-

ایا خدای تعالی بد او ناوړه کار کولای شي؟

سوال: (۲۲۵) زید پخپله ژبه داسي ووایي چي خداوند کریم زنا کولای شي؟ او غتیي او کوچني بولي کولای شي نعوذ بالله منه، غرض جمیع امور قبیحه قادر کېدو "ان الله علی کل شيء قدیر" (سورة بقره، آیت: ۲۰) حجت راوړي، ایا له دغه آیت څخه پر پورته امورو حجت کېدای شي؟ یا دا چي امور مذکوره پورتني مستثنی دي؟ دا شان عقیده ساتونکي شرعًا څه حکم دئ؟ او د ده امامت څرنګه دی؟ (۱۳۳۹/۱۱۷هـ)

جواب: غالباً مراد د زید له دغه ناوړه کلمه څخه دا دی چي دا امور تحت القدرت داخل دي، که څه هم ظهور او وقع د دغو به نه وي لېکن دا د زید غلطي ده، ځکه چي پر امور مذکوره باندي د قدرت کېدو دا مطلب دی چي حق تعالی خپل ذات متصف بصفات المحدیثین کولای شي، ګواکي خالق مخلوق جوړېدای شي، بس نو لکه شریک باري له دې کلیې څخه مستثنی دی، دغه شان د حق تعالی متصف بصفات المحدیثین کېدل له دې څخه مستثنی دي نو داسي عقیده ساتونکي لره توبه لازمه ده او تر څو توبه نه وکاږي امام

== یو ځای ارشاد باري تعالی دی: "قل هو القادر علی ان یبعث علیکم عذابًا" (سورة انعام، آیت: ۶۵) دوهم ځای ارشاد فرمایلی دی: "وما کان الله لیعذبهم وانت فیهم" (سورة انفال، آیت: ۳۳) په آیت ثانیه کي د نفي عذاب وعده کړې ده او ظاهره ده که د دې خلاف وشي نو کذب لازمیږي مګر له آیت اولی څخه د دې تحت قدرت باري تعالی معلوم شو نو معلوم شو چي کذب داخل تحت قدرت باري تعالی جل وعلی دی، ولي به نه وي "وهو علی کل شيء قدیر" (سورة مائده، آیت: ۱۲۰) احادیثو ته وګورئ چي عشره مبشره بالیقین جنتي په ارشاد نبوي چي حقیقتًا په وحي الهي جل وعلی سره شوی دی، صحابه کرام خو پېژندل چي خدای پاک مجبور نه دی، د دې وجي به چي وکبریائي جلال او قدرت ته نظر وکړي بلکي پخپله سرور کائنات علیه وعلی آله الصلوات والتسلیمات چي په هکله فرمایل شوي دي: "لیغفر لک الله ما تقدم من ذنبک وما تاخر" (سورة فتح، آیت: ۲) فرمایي: والله ما ادري وانا رسول الله ما یفعل بي و لا بکم (بخاري) او کما قال الله تعالی: "والله یقول الحق وهو یهدي السبیل" (سورة احزاب، آیت: ۴) (فتاوی رشیدیه: ص۹۲-۹۷، کتاب العقائد، عنوان: د الله تعالی طرف ته بالفعل د درواغو نسبت کول)

جوړول صحيح نه دي. فقط والله تعالى اعلم

د منافق سره تعلق ساتل جائز دی کنه؟

سوال: (۲۲۶)..... (الف) منافق څه ته ویل کیږي؟ او د ده تعریف څه دی؟

(ب) د منافق سره تعلق ساتل جائز دی کنه؟ (۱۷۸۹/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: (الف) د منافق دوه قسمونه دي منافق في العقيده منافق في العمل د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کي چي کوم منافقان و هغه منافق في العقيده و او هغه خلگ مسلمانان نه وه او نن صبا چي کوم منافقان دي هغه منافق في العمل دي او فاسقان دي لکه په حدیث شریف کي دي: عن عبد الله بن عمرو رضی الله عنه ان النبي صلی الله علیه وسلم قال: اربع من كن فيه كان منافقًا خالصًا ومن كانت فيه خصلة منهن كانت فيه خصلة من النفاق حتى يدعها: اذا اؤتمن خان واذا حدث كذب واذا عاهد غدر واذا خاصم فجر (الحديث) [1]

(ب) که منافق خصائل د نفاق پریږدي او توبه وکاږي نو د ده سره تعلقات ساتل جائز دي په حدیث شریف کي دي: التائب من الذنب كمن لا ذنب له [2] فقط والله تعالى اعلم

مذهب روافض له کله څخه پیدا شو؟ او د هغه په باطل کېدو څه دلیل دی؟

سوال: (۲۲۷) مذهب روافض له کله څخه قائم شو؟ او د هغه د ناجائز کېدو څه دلیل دی؟ (۱۱۹۰/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وروسته په زمانه د صحابه کي دغه دول مذاهب باطله روافض وخوارج خذلهم الله تعالى ظاهره شوي وو، بیا ډېره عام کېدله او د دوی د بطلان دلیل حدیث مشهور دی چي نبي صلی الله علیه وسلم د فرقه ناجیه په تفسیر کي ما انا علیه

---

۱) صحيح البخاري: ۱/۱۰، کتاب الايمان، باب علامه المنافق.

۲) د دغه حدیث شریف تخریج د کتاب الايمان د **سوال:** (۲۴۴) په جواب کي وګورئ.

واصحابي (۱) وفرمايل او د هغه نوم يې هم وفرمايى چي فرقه ناجيه اهل سنت وجماعت دي. فقط والله تعالى اعلم

شيعه کافر دی که مسلمان؟

سوال: (۲۲۸) شيعه کافر دی کنه؟ (۱۳۷۲/۳۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: فقهاوو دا وفرمايل چي هغه شيعه که د حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها د افک قائل دي يا د حضرت ابو بکر صديق رضی الله عنه د صحبت منکر دي يا حضرت علي رضی الله عنه ته خدای وايي هغه په اتفاق سره کافران دي (۲) او سب شيخين کونکو ته بعض فقهاوو کافران ويلي دي (۳) فقط والله تعالى اعلم

سوال: (۲۲۹) فرقه اثناء عشريه کافرده ده که مسلمه؟ د سني ښځي د دوی سره نکاح کول جائز دي کنه؟ (۷۴۳/۳۳-۱۳۳۴ھ)

جواب: د روافض فرقې مختلف دي: بعض غالي دي چي د حضرت علي رضی الله عنه د الوهيت قائل دي

---

۱) عن عبد الله بن عمرو رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم ليأتين على امتي ما اتى على بني اسرائيل حذو النعل بالنعل حتى ان كان منهم من اتى امه علانية لكان في امتي من يصنع ذلک وان بني اسرائيل تفرقت على ثنتين وسبعين ملة وتفترق امتي على ثلاث وسبعين ملة، كلهم في النار الا ملة واحدة، قالوا من هي يا رسول الله ا قال: ما انا عليه واصحابي. (جامع الترمذي: ۹۳/۲، ابواب الايمان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم، باب افترق هذه الامة)

۲) لا شک في تكفير من قذف السيدة عائشة رضی الله عنها او انكر صحبة الصديق او اعتقد الالوهية في علي او ان جبريل غلط في الوحي او نحو ذلک من الكفر الصريح المخالف للقرآن (الشامي: ۳۲۱/۳، كتاب الجهاد، مطلب مهم في حكم ساب الشيخين. ط رشيديه)

۳) اقول: نعم نقل في البزازية عن الخلاصة: ان الرافضي اذا كان يسب الشيخين ويلعنهما فهو كافر وان كان يفضل عليا عليهما فهو مبتدع اهـ وهذا لا يستلزم عدم قبول التوبة على ان الحكم عليه بالكفر مشكل لما في الاختيار: اتفق الائمة على تضليل اهل البدع اجمع وتخطئتهم وسب احد من الصحابة وبغضه لا يكون كفرا لكن يضلل الخ. (رد المحتار: ۳۲۱/۳، كتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب مهم في حكم ساب الشيخين. ط رشيديه)

او پر حضرت عائشه رضی الله عنه د افک قائل وي، هغه په اتفاق قطعًا کافران دي او ځيني سب سيخين کوي، ځينو فقهاوو دوی ته هم کافران ويلي دي، د داشان روافضو سره د مسلمه سنيه ښځي نکاح نه صحيح کيږي او ځيني محض تفضيليه دي هغه کافران نه دي که څه هم مبتدع دي ، د هغو سره د سنيه (سني ښځي) نکاح صحيح کيږي. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۲۳۰) ... (الف) يو مولوي صاحب د جمعې په ورځ دا فتوی بيان کړه چي شرعًا جمله افراد اهل شيعه واحمدي کافران دي او کوم سړي چي د دوی سره خوراک څښاک يا د هغو سره په يو محفل کي شريک وي، هغه کافر متصور کيږي او بيا د دوی سره تعلقات ساتلو والا هم کافر دی، علی هذا القياس سلسله د کفر جاري پاته کيږي او د ټولو ښځو نکاح ناجائز او فسخ شده ده او کومي انجوني چي د اهل سنت وجماعت په يو شيعه يا احمدي واده وي د هغو اولاد ولد الحرام دی او د هغو سره زناوي کيږي.

(ب) ايا جمله افراد اهل شيعه کافران دي؟ (۵۹۷/۱۳۴۳هـ)

جواب: (الف) مرزا غلام احمد قادياني او د ده متبعين په اتفاق د علماء اهل حق کافر ومرتد دي، د هغو سره يو ډول اتحاد وارتباط ساتل او واده کول ټول حرام دي او په روافض کي دا تفصيل دی چي کوم ډله د قطعياتو منکره وي او سب شيخين کوي او پر حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها تهمت لګوي يعني د افک معتقده وي او د صحابه وو تکفير کوي، هغه هم کافره ومرتده ده، د دوی سره مناکحت ومجالست حرام دی او واضح دي وي روافض عمومًا تبرا کوهي وي که څه هم په وجه د تقيه کوم چي د دوی په نزد يو ديني فعل دی خپل ځانونه پټوي او خپلي عقائد باطله مخفي ساتي، لهذا د دوی د قول وفعل اعتبار نه کيږي بلکي د دوی اصول مذهب ته کتل کيږي نو بعد له دغه تمهيد ته د خپلو سوالو په جواب اوس پوه کېدای شي.

(ب) اکثر افراد شيعه داسي دي چي پر هغو د کفر فتوی ده او د اصول مذهب په اعبتار سره د هغو په کفر کي هيڅ تردد نشته، لهذا د دوی په ذبيحه او د دوی سره رشته مناکحت قائمولو کي دي احتياط وشي او احتراز دي وشي. فقط والله تعالی اعلم

کوم سړی چي د کلمې په آخر کي علي ولي الله وصي رسول الله اضافه کوي د ده په هکله څه حکم دی؟

سوال: (۲۳۱) زه له اهل سنت وجماعت څخه یم او زه کلمه لا اله الا الله محمد رسول الله علی ولي الله وصي رسول الله وایم، نو په دغه کلمه کي علی ولي الله وصي رسول الله ویلو کي د خدای او رسول څه حکم دی؟ (۱۳۳۸/۱۲۸۴هـ)

جواب: دا شعار د روافضو دی، دغه ترک کول لازم دي او وصي رسول الله چي په کوم اعتبار سره یې روافض وایي، هغه صحیح هم نه دی. فقط والله تعالی اعلم

د کوم سړي عقائد وخیالات چي د شعیه ګانو په شان وي هغه مسلمان دی کنه؟

سوال: (۲۳۲) یو سړی وایي چي زه سید یم او علامات د ده د شیعه دي او هغه دا دي:

(الف) وایي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم او حضرت ابراهیم علیه السلام شیعه وه.

(ب) د تراویح لمونځ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دی کړی، اهل سنت پر ګمراهي دي چي تقلید د عمر کوي

(ج) په لوړ اواز سره ماتم کول او ډول وهلو سره د شهداء کربلا ذکر کول او پر هغه ژړل ثواب لري

(د) د خپلي لور نکاح یې د معلن شیعه سره کوم چي سب شیخین موجب ثواب بولي کړې ده.

(هـ) شیعه ګانو ته پټ نصیحت کوي چي داغه مذهب حق دی.

(و) حضرت معاویه رضی الله عنه په ډېرو بدو الفاظو سره علانیه یاد کوي، داسي سړی له جماعت او جنازې لمانځه څخه راګرځول پکار دي کنه؟ (۱۳۴۳/۱۲۱هـ)

جواب: (الف - و) یاد شوی سړی د کوم چي عقائد وخیالات هغه دي کوم چي په سوال کي مذکور دي، هیڅکله سني نه دی بلکي رافضي دی، لهذا تر کومه وخته چي دی له عقائد باطله مذکوره څخه توبه ونه کاږي، تر هغه وخته پوري د ده څخه متارکت کول پکار دي.

فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۲۳۳) یو عالم وایي چي کوم سړی د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د صحابیت وخلافت منکر وي او مستحق لعنت وتبراء وي، هغه له اسلام څخه خارج دی یو ډول تعلق د ده سره نه دی ساتل پکار، دوهم سړی وایي چي د داسي شیعه سره تعلق صحیح دی، هغه کلمه وایي، لهذا خارج اسلام نشي کېدای، په دغه هکله د چا قول صحیح دی؟ (۲۱۲۰/۱۳۴۳هـ)

جواب: په دې کي د عالم قول صحیح دی او هغه دوهم سړی چي څه وایي هغه له اصول اسلام څخه پر ناوقفیت مبني دی، ده ته پکار دي چي له دې څخه توبه وکاږي. فقط والله تعالی اعلم

د شیعه اثناء عشري په تجهیز وتکفین کي مدد کول او د مسلمانانو په قبرستان کي دفنول صحیح نه دی

سوال: (۲۳۴) که د شیعه اثناء عشري ډلي میت لا وارث وي نو موږ هغه د خیراتي اداري په روپو کوم چي د داغه کار لپاره دی تجهیز وتکفین کولای شو؟ او په خپل قبرستان کي هغه دفن کولای شو؟ له شیعه اثنا عشري څخه په خیراتي اداري کي چنده اخیستلای شو؟ او هغه ممبر (غړی) جوړولای شو کنه؟ (۱۹۷۸/۱۳۴۳هـ)

جواب: د روافضو هغه ټولی کومه چي په سبب سب شیخین کافره ده د هغه په تجهیز وتکفین کي امداد کول او د هغه د جنازې لمونځ کول او د مسلمانانو په قبرستان کي دفن کول صحیح نه دی او له هغه څخه دي بالکل متارکت او مقاطعت وشي چي دوی ته تنبیه وشي او سني شي. فقط والله تعالی اعلم

د کوم سړي چي دا عقیده وي چي د څلورو خلفاوو راشدینو مرتبه برابره ده هغه سني نه دی

سوال: (۲۳۵) د یو سړي دا اعتقاد دی چي د حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه مرتبه په څلورو یارانو کي برزګه او پورته ده او د دوهم سړي اعتقاد دا دی چي د څلورو سره یارانو مرتبه برابره ده، هیڅ توپیر نشته،

صحیح کومه خبره ده؟(۱۲۸۵/۳۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: د اهل سنت والجماعت اعتقاد دا دی چي په څلورو یارانو کي د حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه مرتبه تر ټولو زیاته ده، د ده بعد د حضرت عمر رضی الله عنه د هغو بعد د حضرت عثمان رضی الله عنه د هغو بعد د حضرت علي رضی الله عنه او دا څلور یاران له باقي ټولو صحابه وو ښه افضل دي.(۱) د دې په خلاف چي کوم سړی عقیده وساتي هغه سني نه دی. فقط والله تعالی اعلم

په څلور خلفاء راشدینو کي تر ټولو زیاته رتبه د چا ده؟

سوال: (۲۳۶) په څلورو اصحابو کي تر ټولو زیاته رتبه د چا ده؟(۱۳۰۰/۱۳۳۵ھ)

جواب: ترتیب د خلفاء اربعه موافق ترتیب خلافت دی، په اجماع اهل سنت والجماعت یعني اوله مرتبه د حضرت ابو صدیق رضی الله عنه ده، د ده بعد د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ده بیا د حضرت عثمانذي النورین ده بیا د حضرت علي رضی الله عنه ده.(۲) فقط والله تعالی اعلم

حضرت علي ته تر ټولو صحابه ښه افضل ویل څرنګه دي؟

سوال: (۲۳۷) حضرت علي کرم الله وجهه ته تر ټولو صحابه وو افضل ویلو والا ته اهل سنت ښه دی کنه؟(۲۲۴۷/۱۳۴۲ھ)

جواب: د اهل سنت وجماعت اعتقاد د افضلیت خلفاء رابعه په هکله دا دی چي افضلیت په دوی کي په اعتبار د ترتیب خلافت دی(۳) که د دې په خلاف د چا عقیده ده نو هغه د اهل سنت وجماعت

---

۱) الحاصل ان افضل الناس بعد الانبیاء علیهم السلام ابوبکر الصدیق.. ثم عمر بن الخطاب.... ثم عثمان بن عفان.... ثم علي بن ابي طالب رضوان الله علیهم اجمعین.(شرح الفقه الاکبر: ص۷۴-۷۲، دلیل افضلیة الصدیق رضی الله عنه)

۲) الحاصل ان افضل الناس بعد الانبیاء علیهم السلام ابوبکر الصدیق.. ثم عمر بن الخطاب.... ثم عثمان بن عفان.... ثم علي بن ابي طالب رضوان الله علیهم اجمعین.(شرح الفقه الاکبر: ص۷۴-۷۲، دلیل افضلیة الصدیق رضی الله عنه)

۳) قال شارح عقیدة الطحاویة: ان ترتیب الخلفاء الراشدین في الفضیلة کترتیبهم في الخلافة الخ (شرح الفقه الاکبر: ص۸۳، تعدا سنة خلافة)

د عقیدې په خلاف دی. فقط والله تعالی اعلم

ایا د انبیاوو بعد تر ټولو افضل حضرت علي رضی الله عنه دی؟

سوال: (۲۳۸) خواجه حسن نظامي په یزید نامه کي لیکلي دي چي زه حضرت علي رضی الله عنه افضل امت بعد رسول الله صلی الله علیه وسلم بولم او دعوی یې کړې ده چي داغه عقیده حقه د ټولو اهل سنت ده، د کومو چي چشم بصیرت بینا نه دی له هغو څخه قطع نظر د ټولو صوفیاء کرامو واولیاء عظامو وبزرګانو دین داغه عقیده ومسلک دی، په حواله فتوحات مکیه د ابن عربي هم داغه عقیده ظاهر کړې ده، د حضرت امیر معاویه په حالات کي ډېر شی لیکلی دی، آخري فیصله داغه لیکلې ده چي موږ ته د ده په کفر او بې دیني د ثبوت په لټولو کي وخت ضائع کول نه دی پکار، لهذا دغه معامله موږ خدای ته حواله کوو، شاه ولي الله قدس سره په ازالة الخفاء کي دغه عقیده والا ټولی د تفضیلي وبدعتي ومستحق تعزیر ګرځوي او د حضرت علي رضی الله عنه قول په متعدد طریقو سره نقل کوي چي وفرمایل حضرت علي رضی الله عنه هیڅوک دي ما ته پر حضرت ابو بکر صدیق وحضرت عمر فضیلت نه راکوي (۱) په دغه کي د چا مسلک صحیح دی؟ (۱۷۴۴/۱۳۳۷هـ)

جواب: صحیح هغه دی کوم چي شاه ولي الله محدث دهلوي په ازالة الخفاء کي لیکلي دي (۲) او په ټولو کتب عقائد کي داغه دي او خواجه حسن نظامي چي څه لیکلي دي، هغه سر تر پای غلط او افتراء وبهتان دی او د عقائد اهل سنت وجماعت په خلاف دي، ځکه چي د اهل سنت پر نزد ترتیب د افضلیت د خلفاء راشدین موافق ترتیب د دوی د خلاف دی، کما هو مبین

---

۱) امام بیان آنکه پر که مرتضی را تفضیل دهد برشیخین مبتدع ست ومستحق تعزیر، فقد اخرجه ابو عمر في الاستیعاب عن الحکم بن حجل قال: قال علي: لا یفضلني احد علي ابي بکر وعمر الخ (ازالة الخفاء عن خلافة الخلفاء، فارسي: ص۲۷-۲۸، مسند علي بن ابي طالب رضی الله عنه)

۲) وافضلیت خلفاء اربعه ثابت ست بترتیب خلافت بادلهٔ بسیار الخ (ازالة الخفاء عن خلافة، فارسي: ص۱۲، فصل دوم درلوازم خلافت خاصة مسالک سرگانه دال بر افضلیت خلفا بترتیب خلافت، مطبوعة المبع الصدیقي، بریلي)

مفصل في كتب العقائد. (۱) فقط والله تعالی اعلم

د حضرت حسین رضی الله عنه پر شهادت اعتراض او د هغه جواب

سوال: (۲۳۹) د امام حسین رضی الله عنه پر شهاد خلک معترض دي چي الله تعالی د ده امداد ولي نه وکړی؟ حالانکه په قرآن مجید کي دا فرمايلي دي چي زه د مؤمنانو سره يم (۱۳۳۷/۲۴۳ھ)

جواب: د شهادت درجه ورکول دا هم د اله تعالی انعام دی، د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره د کفارو په مقابله کي ډېر صحابه شهيدان شول، د ده اکا حضرت حمزه رضی الله عنه شهيد شو، په حديث شريف کي دي: سيد الشهداء حمزة (۲) يعني سردار د شهيدانو حضرت حمزه رضی الله عنه دی. فقط والله تعالی اعلم

پر يزيد لعنت ويل جائز دی کنه؟

سوال: (۲۴۰) پر يزيد لعنت ويل جائز دي کنه؟ د لعنت ويونکو په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۳۴-۳۳/۳۷۲ھ)

جواب: پر يزيد لعنت ويلو او نه ويلو په جواز کي اختلاف دی، صحيح دا دی چي پر يزيد لعنت ويل جائز نه دي او د يزيد کافر کېدل ثابت نه دي، مګر فاسق ؤ، بس احوط عدم لعن دی. (۳) فقط

---

۱) والحاصل ان افضل الناس بعد الانبياء عليهم السلام ابو بكر ن الصديق.... ثم عمر بن الخطاب.... ثم عثمان بن عفان.... ثم علي بن ابي طالب رضوان الله عليهم اجمعين (شرح الفقه الاكبر: ص۷۴-۷۶، دليل افضلية الصديق رضى الله عنه)

۲) د دې حديث شريف تخريج د کتاب الايمان د سوال(۸۰۲) په جواب کي وګورئ.

۳) وانما اختلفوا في يزيد بن معاوية حتى ذكر في الخلاصة وغيره انه لا ينبغي اللعن عليه اي ولا على اليزيد ولا على الحجاج، لان النبي صلى الله عليه وسلم نهى عن لعن المصلين ومن كان اهل القبلة.. قال حجة الاسلام في الاحياء فان قيل: هل يجوز لعن يزيد لكونه قاتل الحسين او امرًا به؟ قلنا: هذا مما لم يثبت اصلاً، فلا يجوز ان يقال انه قتله او امر به، فضلاً عن لعنه الخ (شرح الفقه الاكبر: ص۸۷، اختلفوا في اللعن على اليزيد، المطبوعة المطبع المجتبائي الواقع في الدهلوي)

د یزید په هکله څه ګمان ساتل پکار دي؟

سوال: (۲۴۱) مسلمانانو ته د یزید بن معاویه سره څه ګمان ساتل پکار دي؟ (۱۳۴۷-۴۲/۳۳۴۷هـ)

جواب: په شرح فقه اکبر کي دي: وانما اختلفوا في یزید بن معاویة حتی ذکر في الخفلصة وغیره: انه لا ینبغي اللعن علیه اي ولا علی الیزید الخ[1] له دې څخه معلوم شو چي پر یزید لعنت ویلو کي د فقهاوو رحمهم الله اختلاف دی، دغه شان د یزید په تکفیر کي هم اختلاف دی او له عبادات فقهاء څخه راجح عدم تکفیر معلومیږي. [2] فقط والله تعالی اعلم

حضرت امیر معاویه رضی الله عنه ته دوږخي او ظالم ویونکو په هکله څه حکم دی

سوال: (۲۴۲) د حضرت معاویه رضی الله عنه په هکله یو سني المذهب وایي چي د ده له دوږخ څخه خلاصون مشکل دی، بلکي دی دوږخي او ظالم دی، دا قول صحیح دی که غلط؟ او د ده په هکله څه حکم دی؟ (۳۷۲/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: دا غلط دی او خلاف اعتقاد اهل سنت وجماعت دی، حضرت امیر معاویه رضی الله عنه

---

۱) شرح الفقه الاکبر: ص۸۷، اختلفوا في اللعن علی الیزید، المطبوعة المطبع المجتبائي الواقع في الدهلي.

۲) فتاوی رشیدیه کي دي:

سوال: یزید کوم چي حضرت امام حسین رضی الله عنه یې شیهد کړی، هغه یزید ستا په رای شریف کي کافر دی که فاسق؟

جواب: یو مسلمان ته کافر ویل مناسب نه دي، یزید مؤمن ؤ، په سبب قتل فاسق شو، د کفر حال موندل شوی ندی، کافر ویل جائز نه دي چي هغه پر عقیده قلب موقوف دی. (فتاوی رشیدیه ص۵۰، کتاب د ایمان وکفر مسئلې، عنوان یزید ته کافر ویل)

صحابي دی او رسول الله صلی الله علیه وسلم د ده لپاره دعا کړې ده(۱) دغه قول د دغه بد عقیدي والا سړی چي د ده له دوږخ څخه خلاصون الخ ډېره سوء ادبي او فسق ومعصیت دی، د حضرت صحابي، کاتب وحي، امیر المؤمنین په هکله داسي کلمه ویل ډېر قبیح او موجب فسق ده، که دغه سړی له دغه عقیدې څخه توبه ونه کاږي، نو فاسق وخارج له اهل سنت وجماعت دی او په ګمراه فرقو کي داخل دی. فقط والله تعالی اعلم

د حضرت امير معاويه رضی الله عنه په شان کي توهين اميز الفاظ ليکل

سوال: (۲۴۳) په کوم کتاب کي د حضرت امير معاويه رضی الله عنه د عظمت وعزت لحاظ نه وي شوی بلکي يو ډول توهين څني څخيږي، دغه کتاب ويل، او د چا عقيده د دې موافق وي هغه امام جوړول څرنګه دي؟(۱۳۴۱/۹۹۹هـ)

جواب: حضرت امير معاويه رضی الله عنه کوم چي صحابي کاتب وحي ؤ او نبي صلی الله علیه وسلم د ده لپاره دعا کړې ده، لکه د کتب حديث څخه ښکاره ده(۱) د ده په شان کي داسي الفاظ ليکل سوء ادبي او د ليکلو والا د فساد عقيده دليل دی، نو داسي کتاب کتل او پر دې عقيده ساتل صحيح نه دي او د چا عقيده دا شان وي هغه د امام جوړولو لائق ندی او په دې پسي لمونځ مه کوئ او دغه معزول کړی. فقط والله تعالی اعلم

د جنګ صفين په وجه حضرت معاويه رضی الله عنه ته دي بد نه ويل شي

سوال: (۲۴۴) بعد رسول الله صلی الله علیه وسلم د حضرت علي رضی الله عنه او حضرت معاويه رضی الله عنه کوم

---

۱) عن عبد الرحمن بن ابي عميرة رضی الله عنه وكان من اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم عن النبي صلى الله عليه وسلم انه قال لمعاوية رضی الله عنه: اللهم اجعله هاديا مهديا واهد به
وعن ابي ادريس الخولاني قال: لما عزل عمر بن الخطاب عمير بن سعد عن حمص ولي معاويه، فقال لناس: عزل عميرًا و ولى معاوية، فقال عمير: لا تذكروا معاوية الا بخير فاني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: اللهم اهد به (جامع الترمذي: ۲۲۴/۲، ابواب المناقب، مناقب معاوية بن ابي سفيان رضی الله عنه)

جنګ وشو نو د حضرت امیر معاویه رضی الله عنه په هکله څه ویل پکار دي؟ (۱۳۳۷/۲۴۳هـ)

جواب: حضرت امیر معاویه هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابي دی. له ده څخه اجتهادي خطاء وشوه، ده ته دي بد نه وویل شي، په حدیث شریف کي دي: الله الله في اصحابي، الحدیث (۱) فقط

د حضرت معاویه رضی الله عنه په شان کي ګستاخي کوونکو لپاره څه حکم دی؟

سوال: (۲۴۵) یو سړی د حضرت امیر معاویه رضی الله عنه په هکله الفاظ دوکه باز، خائن، درواغجن، خاطی، د آل د سول دښمن، د بنیانو سره جنګېدونکی وایي، د داسي سړي په هکله څه حکم دی؟ (۱۳۴۷-۴۲/۳۸۹هـ)

جواب: داسي سړی ګناهګار او فاسق ومبتدع دی (۲) او له اهل سنت وجماعت څخه خارج دی، ده ته فوراً توبه کښل په کار دي، د یو صحابي په شان کي داسي ګستاخي کول د یو مسلمان کار نه دی، زیات دا ویل کېدای شي چي د حضرت امیر معاویه رضی الله عنه څخه اجتهادي غلطي وشوه، د هغه څخه د ده پر صحابیت هیڅ اثر نه لوېږي، قال علیه السلام: اصحابي کالنجوم فبأیهم اقتدیتهم اهتدیتم (۳) فقط

---

۱) عن عبد الله بن مغفل رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الله الله في اصحابي، لا تتخذو هم غرضًا بعدي، فمن اجبهم فبحبي احبهم، ومن ابغضهم، فببغضي ابغضهم، ومن اذا هم فقد اذاني ومن آذاني فقد اذی الله، ومن اذی الله یوشک ان یأخذه. (جامع الترمذي: ۲۲۵/۲، ابواب المناقب، باب ماجاء في فضل من بایع تحت الشجرة)

۲) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: اذا رأیتم الذین یسبون اصحابي فقولوا لعنة الله علی شرکم (جامع الترمذي: ۲۲۵/۲، ابواب المناقب، باب في من سب اصحاب النبي صلی الله علیه وسلم)

۳) عن عمر بن الخطاب رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: سألت ربي عن اختلاف اصحابي من بعدي، فاوحی الي یا محمد ! ان اصحابک عندي بمنزلة النجوم في السماء. بعضها اقوی من بعض، ولکل نور، فمن اخذ بشيء مما هم علیه من اختلافهم فهو عند علی هدی، قال: وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: اصحابي کالنجوم الحدیث (مشکاة المصابیح ص ۵۵۴، باب مناقب الصحابة رضوان الله تعالی علیهم اجمعین، الفصل الثالث)

یو سړی د اهل سنت والجماعت فتحه کېدو سره دا وايي چې حضرت حسن رضی الله عنه ته کوم زهر ورکول شوي و، په هغه کي سازش د حضرت امیر معاویه رضی الله عنه هم ؤ، بل دا چې څه وخت امیر معاویه رضی الله عنه پر مقام مخصوص لړم وخواړی نو هغه وخت ده د عبید الله له مور سره بد فعلي کړې وه، له هغه څخه د عبید الله تولد وشو، په دغه صورت کي شرعًا څه حکم دی؟(۱۳۳۵/۱۲۸۰هـ)

جواب: حضرت امیر معاویه رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابي خاص دی او رسول الله صلی الله علیه وسلم د ده لپاره دعا کړې ده، او زېری ورکړی دی او کاتب وحي ؤ او د ده په شان کي داسي ګستاخانه خیال ساتل او تهمت لګول سخت ګناه او معصیت دی، هغه سړی فاسق وبدرکار دی چې داسي عقیده ساتي، د ده لمونځ روژه هیڅ مقبول نه دی، هغه په حقیقت کي رافضي دی، ده لره له داسي خیال څخه توبه کښل په کار دي

د چکړالوی مذهب تابعداره له اسلام څخه خارج دي

سوال: (۲۴۷) مذهب چکړالوی لاهوري د اقتدار سره اهل سنت والجماعت ته تعلقات پیدا کول څرنګه دي؟(۱۳۴۵/۱۳۳۳هـ)

جواب: د چکړالوی مذهب تابعداره د اهل سنت والجماعت په نزد له اهل اهوا د بدعت څخه دي دا خلګ حدیث نبي صلی الله علیه وسلم حجت شرعي نه بولي، د هغه اثر اصولاً پر ټولو معتقداتو لوېږي حقیقت خو دا دی چې دا جماعت په اسلامي کي د داخلېدو وړ هم نه دی، پر شریعت اسلامي به تر دې غټ ظلم څه وي چې د دې د باني کلام -چې په حقیقت کي وحي الهي دي- هم د دې قابل وي چې حجت شرعي نشي کېدای؟ ! نو د مسلمانانو فرض دی چې له دغه جماعت سره ټول تعلقات منقطع کړی، قال تعالیٰ: "فلا تعقد بعد الذکری مع القوم الظالمین "(سورة انعام، آیت ۶۸) فقط والله تعالی اعلم.

د احمدي جماعت ټول افراد کافران دي

سوال: (۲۴۸) ایا جمله افراد احمدي جماعت کافران دي؟ موږ حنفیان یو او د کومي ټولي احمد زموږ سره تعلق دی هغه یو مسلمان ته کافر نه وايي. (۱۳۴۳/۵۹۷هـ)

جواب: قطعًا کافران ومرتدان دي او دا غلط دي چي دوی يو مسلمان ته کافر نه وايي، د دوی کتاب مذهب وګورئ چي د دوی عقيده دا ده چي څوک مرزا نبي نه بولي هغه کافر دی او څوک دغه کافر نه بولي هغه هم کافر دی. فقط والله تعالی اعلم

مرزا قادياني او د ده تابعداره کافران دي

سوال: (۲۴۹) مرزا قادياني او د ده متبع کافر دی کنه؟(۱۳۷۲/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: قادياني او د ده متبعين کافران دي. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۲۵۰) د مرزا غلام احمد قادياني د جماعت کوم مذهب دی او هغه خپل ځان مسيح او مهدي ګرځوي، ايا دی واقعي مسيح دی؟او د دې څه اصليت دی؟ (۱۴۲۳/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: مرزا قادياني يو سړی ضال ومضل يعني پخپله ګمراه او نورلره ګمراه کوونکی دجال او کذاب ؤ او هغه هيڅکله مسيح موعود يا پيغمبر نه ؤ، ده دروا غجنه دعوا پيغمبری او مسيحيت کړې وه او د ده تابعداره ټوله ګمراه او له صراط مستقيم او دين اسلام څخه خارج وعلاحده دي، علماء اهل حق د ده او د ده د جماعت تکفير کړی دی، يو رساله "مرزا غلام احمد او د ده تابعداره کافران دي "(۱) تا لره استول کيږي، په هغه کي د مرزا مذکور ډېر اقوال د ده له تصنيف کړي کتابونو څخه منتخب کولو سره جمع کړي دي، له هغه څخه د مرزا دجال وکذاب کېدل او کافر کېدل ثابتيږي او پر هغه د ډېرو علماؤ دستخطونه دي. والله ولي التوفيق وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين

د نزول عيسی والا روايت الفاظ څه دي؟

سوال: (۲۵۱) يو قادياني سړی کوم د مرزا غلام احمد نبي او د حضرت عيسی عليه السلام په دنيا کي وفات کېدل ثابت کوي، موږ دا حديث پيش کړی: کيف اذا نزل ابن مريم من السماء فيکم، نو هغه قادياني حديث مذکور غلط بولي او وايي چي دغه حديث صحيح دا شان دی: کيف انتم اذا نزل عيسی ابن مريم فيکم منکم امامکم، په دغه صورت دا حديث قادياني دا صحيح دی

---

۱) له ډېرو لټولو سره معلوم نشو چي دا رساله د چا ده۱۲

یا زموږ او دغه حدیث په کوم کتاب کې دی؟ عیسی ابن مریم لم یمت ویرجع الیکم قبل یوم القیامة الخ. (۱۳۴۱/۲۵۵ھ)

جواب: په مشکاة شریف له صحیح بخاري او مسلم شریف څخه دغه حدیث دا شان نقل دی: کیف انتم اذا انزل ابن مریم فیکم وامامکم منکم (۱) یعني څه حال به وي ستاسو هغه وخت چې کله عیسی بن مریم په تاسو کې نازل وي، یعني له آسمانو څخه راکښته کیږي او ستاسو امام له تاسو څخه وي، یعني امام مهدي به هغه وخت امام وي او لومړی حدیث هم د دې پشان معنی والا دی دومره فرق دی چې په هغه کې لفظ امامکم منکم نسته او من السماء لفظ زیات دی، په مطلب کې څه توپیر نشته او روایت: عیسی ابن مریم لم یمت الخ معلوم ندی چې په کوم کتاب کې دی.

ایا رسول الله صلی الله علیه وسلم مرزا غلام احمد قادیاني ته نبي ویلي دي؟

سوال: (۲۵۲) احمد جماعت دا وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مرزا غلام احمد قادیاني ته لفظ نبي ویلي دي دا صحیح دي کنه؟ (۱۳۴۳/۱۲۱۱ھ)

جواب: دا قول د احمدي جماعت دا بالکل غلط او افتراء ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: من کذب علي متعمداً فیتبوا مقعده من النار (۲) او د مرزائي د نسبت نبوت دعوی کول کفر دی، ځکه په دغه آیت کې دي: "وخاتم النبیین" (سورة احزاب، آیت: ۴۰) انکار دی، لکه د دې تفصیل د ډېرو اهل حق له لوري شوی دی. فقط والله تعالی اعلم

قادیاني ته سلام کول حرام دی مګر کفر نه دی

سوال: (۲۵۳) د دې ځای علماء دا فرمایي چې قادیاني ته سلام کونکی او خاص قادیاني هم دواړه کافران دي، دا مسئله صحیح ده که خلاف ده؟ (۱۳۳۰-۲۹/۲۲۴ھ)

جواب: د قادیاني عقائد بیشکه د کفر حد ته رسیدلی دی او قادیاني ته علماء حق کافر ویلي دي،

---

۱) مشکاة المصابیح ص۴۸۰، کتاب الفتن، باب نزول عیسی علیه السلام، الفصل الاول.

۲) د دغه حدیث شریف تخریج د کتاب الایمان د سوال (۲۲۵) په جواب کې وګورئ.

بس نو تعلقات د ده سره ساتل او سلام کول بېشکه حرام او ګناه ده، مګر کفر نه دی، ځکه کافر نه هم سلام کول کفر نه دی. فقط والله تعالی اعلم

د غلام احمد قادیاني تعریف او ضیافت کولو والا څرنګه دی؟

سوال: (۲۵۴) خواجه کمال الدین لاهوري د مرزا غلام احمد قادیاني د فصاحت وبلاغت تعریف کوي، یا د هغو استقبال کول یا هغه میلمه کو ځنګه دي؟ داسي سی مرتد دی کنه؟ (۵۴۳/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: مرتد خو ندی فاسق وعاصي ضرور دی چي د بې دینه تعظیم کوي، باقي ځوک معتقد د قادیاني دی د هغو پر ارتداد د علماؤ فتوی شوې ده. فقط والله تعالی علم

په قادیاني کېدو سره نکاح فسخ کیږي

سوال: (۲۵۵) که یو اهل سنت وجماعت قادیاني شي، نو د ده ښځه چي له اهل سنت والجماعت څخه ده د ده په نکاح کي پاته کېدای شي کنه؟ (۱۳۴۵/۱۰۰۱هـ)

جواب: کوم سړی قادیاني شي هغه مرتد وکافر شو او د ده زوجه فوراً د ده له نکاح څخه خارج شوه، قال في الدر المختار: وارتداد احدهما .... فسخ.. عاجل الخ[1] فقط

کوم خلګ مرزا قادیاني مجدد اوله فیض نبوت څخه مستفید بولي هغه کافران ومرتدان دي

سوال: (۲۵۶) موږ پر هغو ټولو احکاماتو کوم چي د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د شریعت دي ایمان لرو او د هغه د تابعداری کوښښ کوو او حضرت مرزا صاحب ته مجدد د حضرت صلی الله علیه وسلم له طرفه د فیض نبوت څخه مستفید

---

۱) الدر المختار مع رد المحتار: کتاب النکاح، باب نکاح الکافر، مطلب الصبي والمجنون لیسا باهل لایقاع الطلاق بل للوقوع.

بولو، د شریعت محمدیه له رویه د داسي سړي لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۴۵/۱۱۸۸هـ)

جواب: واضح دي وي چي که د یو سړي د ټولو عقائد اسلامیه منلو سره یوه عقیده هم کفریه وي او د ضروریات دین څخه د یو امر هم انکارو کړي نو هغه هم کافر کیږي، نو کوم سړي سره د دعوی اسلام وعقائد اسلام د یو داسي مرتد وملحد چي په کتابونو کي د هغو کفریات ثابت دي مسلمان وبولي، بلکي هغه مجدد او له فیض نبوت څخه مستفید وبولي، بس نو محقق ده چي مرزا غلام احمد قادیاني په وجه د دعوی نبوت وتوهین انبیاء کرام علی نبینا وعلیهم الصلاة والسلام وغیرهما قطعًا کافر دی، نو کوم سړی داسي کافر وملعون مجدد او مستفید له فیض نبوت څخه وبولي د هغو په کفر کي څه شبه کېدای شي. فقط والله تعالی اعلم

مرزا قادیاني ته مجتهد وامام او مجدد منونکی هم کافران دي

سوال: (۲۵۷) مرزا غلام احمد قادیاني کوم چي د نبوت دعوی کړې وه، هغه کافر و کنه؟ او څوک دی نبي یا مجتهد وامام ومجدد ومني هغه څنګه دی؟ (۱۳۴۵/۷۲۸هـ)

جواب: د مرزا غلام احمد قادیاني عقائد کفریه معروف ومشهور دي او د ده په کتابونو کي عقائد کفریه ډکي دي، لهذا د ده او د ده د اتباع په کفر کي هیڅ شبه نشته او مدعي نبوت او د انبیاء علیهم السلام توهین کونکی سړی څوک کافر نه وبولي او هغه مجدد وامام صالح وبولي هغه هم کافر دی. کما هو ظاهر فقط والله تعالی اعلم

د رشته داري په وجه له قادیانانو سره تعلقات ساتل

سوال: (۲۵۸) کوم خلګ خلاف حکم علماء کرام د قادیانانو سره مراسم وتعلقات به باعث رشته داري یا راه ورسم سابقه ساتي، مګر په عقائدو کي د هغو تابعداره نه دی، نو ایا د هغو سره هم تعلقات ومراسم قطع کول لازم دي کنه؟ (۱۳۴۳/۴۰۷هـ)

جواب: که هغه خلک د مرزایانو پر عقائد نه دی، مګر د یو مجبوري په وجه تعلقات ساتي او په زړو کي د هغو له عقائد باطله څخه نفرت او بېزاري ده، نو هغه په یو درجه کي په ځینو صورتو کي معذور کېدای شي، لهذا د هغو څه حکم مقاطعت کلیةً نه دی. فقط والله تعالی اعلم

د مرزائیانو د کور خوراک څښاک جائز نه دی

سوال: (۲۵۹) د مرزائیانو د کور خوراک شرعًا جائز دی کنه؟ او هغه کافران دي که مرتد؟ (۱۳۴۳/۸۱۴هـ)

جواب: مرزائي ټولی کافره ومرتده ده، د دوی پر کفر د ټولو حقاني علماؤ فتوا شوې ده، د دوی سره تعلقات خوراک څښاک ټول ناجائز دي، د دوی څخه بالکل احتراز واجتناب کول پکار دی. فقط

مرزائي د اسلامي انجمن رکن جوړول جائز نه دی

سوال: (۲۶۰) د یو اسلامیه انجمن په اراکین کي یو رکن مرزائي هم دی، د دغه انجمن تر انتظام لاندي یو جامع مسجد دی، یو پرائمري سکول او یو غټ جائیداد هم دی، د دغه مسجد امام صاحب خطیب ته څه کول پکار دي د دغه فتنې د استیصال لپاره؟ (۱۳۴۵/۱۲۲۹هـ)

جواب: د مرزایانو کفر وارتداد په اتفاق د علماء اهل حق ثابت دی، لهذا اهل اسلام لره په خپل یو جماعت کي او په انجمن کي دوی رکن جوړول او شامل کول جائز نه دي، دا مرتد جماعت د اسلام او اهل اسلام دښمن او مخرب دین دی، د دغه جماعت منافقین او مرتدینو ضرر مسلمانانو ته له کافر وفاجر اهل کتاب ومشرکینو څخه ډېر زیات دی، لهذا د مقتداء قوم امام وخطیب فرض دی چي د دغه جماعت یو فرد په ارکانو کي داخل نه کړي او له دغه جماعت سره هیڅ ډول تعلق وارتباط نه وساتي او د یو والي معامله ونه کړي او دوی د اهل اسلام په ډلو کي شامل نه کړي، له تفصیل د دې په کتب ورسائل کي مذکور دي. فقط والله تعالی اعلم

د رسوم وبدعات بیان

د بدعت تعریف

سوال: (۲۲۱) د بدعت څه تعریف دی؟ (۱۳۳۷/۲۷۲۵هـ)

جواب: په حدیث شریف کې دي: من احدث في امرنا هذا ما لیس منه فهو رد [1] له دې څخه معلوم شو چې په دین کې یو داسي شی پیدا کول چې د هغه اصل په دین کې نه وي دا بدعت دی او تفصیل د دې په کتابونو کې مبسوط دی. [2] فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۲۴۲)... (الف) د بدعت و سنت پېژندنه څه ده؟

(ب) سنت کله هم بدعت کیږي؟

(ج) د بدعت یوه معنی ده که دوې؟

---

۱) د دغه حدیث شریف تخریج د کتاب الایمان د سوال (۴۹۱) په جواب کې وګورئ.

۲) البدعة ما احدث ولیس له اصل في الشرع (فتح الباري: ۲۵۳/۱۳، کتاب الاعتصام بالکتاب والسنة. باب الاقتداء بسنن رسول الله صلی الله علیه وسلم، المطبوعة: مکتبة الریاض الحدیثیة، البطحاء، الریاض)

المراد بالبدعة ما احدث مما لا اصل لا في الشریعة یدل علیه، واما ما کان له اصل من الشرع یدل علیه فلیس ببدعة شرعًا وان کان بدعة لغة (جامع العلوم والحکم في شرح خمسین حدیثًا من جوامع الکلم لابن رجب الحنبلي: ص۱۹۱، الحدیث الثامن والعشرون، تحت قوله: وایاکم ومحدثات الامور الخ، المطبوعة: المطبع القرآن والسنة الواقع في بلدة امرتسر)

(ج) د بعدت سئه وحسنه تفصیل؟

(هـ) کوم بدعت موافق سنت وي هغه څه دی؟ (۴۲۲/۱۳۴۵هـ)

جواب: (الف) د کوم چي هیڅ اصل په قرون مشهور لها بالخیر کي نه وي هغه بدعت دی او سنت قول وفعل یا تقریر د رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ویل کیږي، وتفصیله في کتب الفقه (۱)

(ب) که د سنت سره بدعت ملحق شوی وي، نو د هغه ترک ضروري دی او سنت ومستحب د هغه له درجې څخه پورته کول او د فرض وواجب درجې ته رسول دا هم ناجائز دی

(ج) بدعت لغوي هم وي او شرعي هم، د لغوي بدعت مثال لکه د حضرت عمر رضی الله عنه ویل جماعت تراویح ته: نعم البدعة هذه (۲) والتفصیل في الکتب

(د) د بدعت په هکله رساله ایضاح الحق الصریح مؤلفه مولانا اسماعیل شهید رحمه الله وګورئ، له هغه څخه ټول امور معلومیږي

(هـ) بداعت موافق سنت نشي کېدای، که هغه موافق سنت دي نو هغه بدعت نه دی فقط

د شرک وبدعت تعریف

سوال: (۲۲۳) د شرک وبدعت څه تعریف دی او د هغه مثال کوم چي رائج وي. (۱۳۴۸/ ۱۳۴۳هـ)

جواب: شرک دا دی چي د الله تعالی په ذات وصفات کي څوک شریک کړي، مثلاً یو مخلوق ته سجده وشي

---

۱) د بدعت وسنت تعریف همدا شان د بدعت قباحت او د سنت اهمیت په هکله د تفصیلي بحث لپاره وګورئ فتاوی رحیمیه: ۴۲۲/۱-۴۴۹، مطبوعة مکتبة الاحسان دیوبند.

۲) عن عبد الرحمن بن عبد القاري انه قال: خرجت مع عمر بن الخطاب رضی الله عنه لیلة في رمضان الی المسجد، فاذا الناس اوزاع متفرقون یصلی الرجل لنفسه، ویصلی الرجل فیصلی بصلاته الرهط، فقال عمر: اني اری لو جمعت هؤلاء علی قاريء واحد لکان امثل، ثم عزم، فجمعهم علی ابي بن کعب ثم خرجت معه لیلة اخری، والناس یصلون بصلاة قارئهم، فجمعهم عن ابي بن کعب ثم خرجت معه لیلة اخري، والناس یصلون بصلاة قارئهم، قال عمر: نعم البدعة هذه الحدیث (صحیح البخاري ۲۶۹/۱، کتاب الصوم، باب فضل من قام رمضان)

یا هغه عالم الغیب وبلل شي او نور او بدعت هغه دی چي په دین کي یو نوی طریقه جاري کړل شي، د هغه اصل د سلف صالحین په زمانه کي نه وي. فقط والله تعالی اعلم

په بدعت او سنت کي تباین نسبت دی

سوال: (۲۲۴) د بدعت تعریف هغه دی کوم چي د عامة العلماء منځ کي مسلم دی هغه څه دی؟ او ایا یده او سنت کي له نسبت اربعه څخه کوم نسبت دی؟ (۱۴۴۷/۴۴-۱۳۴۵هـ)

جواب: بدعت هغه امر محدث في الدين دی چي د هغه اصل په شریعت کي هیڅ نه وي او اصل د دې په هکله حدیث متفق علیه دی کوم چي له حضرت عائشې رضی الله عنها څخه مروي دی. قالت: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من احدث في امرنا هذا ما ليس منه فهو رد [۱] و تفصیله ما في المطولات [۲] او په بدعت او سنت کي تباین نسبت دی او بدعت او سنت په خپل منځ کي نقیض دی، کما قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ما احدث قوم بدعة الا رفع مثلها من السنة فتمسک بسنة خير من احداث بدعة (رواه احمد) [۳] فقط والله تعالی اعلم

د بدعتي لپاره څه حکم دی؟

سوال: (۲۲۵) بدعتي د کوم امر مستحق دی؟ بدعت څه ته وایي؟ (۱۳۳۹/۳۳۷هـ)

جواب: بدعت په دین کي نوي خبري رایستلو ته وایي او بدعتي مخالف او تارک سنت دی او بدعتي عاصي وفاسق دی، مستحق عذاب دی، مګر کافر نه دی. فقط والله تعالی اعلم

---

۱) د دغه حدیث شریف تخریج د کتاب الایمان د سوال (۴۹۱) په جواب کي وګورئ.

۲) د بدعت تعریف او د هغه د قباحت له تفصیل لپاره وګورئ فتاوی رحیمیه ۴۲۲/۱-۴۲۷، مطبوعة مکتبة الاحسان دیوبند.

۳) عن غضيف بن الحارث الثمالي قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ما احدث قوم بدعة الا رفع الحديث (مشكاة المصابيح ص۳۱، كتاب الايمان، باب الاعتصام بالكتاب والسنة، الفصل الثالث).

د یو سړي ماسیوا ټول خاندان والا په بدعت کي مبتلا وي نو څه کول پکار دي؟

سوال: (۲۲۲) زید پر خپل مقام یو فرضي قبر پوخ محیط په څلورو دیوارو او یوه کوټه دوه منزله موسوم به خانقاه او یو دوکانچه مسجد تعمیر کړه او هر جمعرات نقاره وهي او جهال اهل دیهه نذر کوي او هر سال یوه میله منعقد کیږي او دوکانونه جوړیږي او په کثرت قبر ته نذر راځي، زید هغه اراضي بشمول نور املاک عمرو خپل حقیقي وراره ته ورکړه، اوس عمرو هم په اتباع او خوشحالولو د زید پورته مذکوره رسمو پابند دی او د عمرو ورونه او نور اهل خاندان په دې کې شریک حال دی او موقع مېله ته شرکت کولو سره رونق زیاتوي او د مسجد پر دوکانچه په جماعت سره لمونځ ادا کوي، صرف خالد یو خانداني سړی له دغه ټولو رسمو څخه بېزاره دی، زید وعمرو د اهل خاندان د خالد مخالف دی او د مشار الیه سره موافق دی، په صورت معروضه پورته زید او عمرو اهل خاندان د یو معصیت مرتکب دی که نه؟ او خالد ته څه کول پکار دي؟ زید کله نا کله لمونځ کوي مگر به استثناء د اختر د لمونځو له حاضري مسجد او شرکت جماعت او د جمعې له لمانځه څخه قطعًا محروم دی، عمرو او د عمرو ورونه پابند صوم او صلاة هم دی او مرتکب اخذ رباهم اوس اخلد لره د زید وعمرو وشرکاء حال مشار الیه څه رسم ساتل پکار دی؟ (۳۲/۱۱۵۹-۱۳۳۳هـ)

جواب: د زید دا فعل سخت معصیت او گناه کبیره ده د کوم چي دی مرتکب شوی دی او ده یو طریقه بد او بدعت سئه را ایستلې ده د هغه ده ته همیشه تر څو پورې پر دغه مصنوعي قبر دغه رسوم شرکیه وافعال قبیحه جاري وي، په حدیث شریف کي دي:
عن ابي هريرة رضی الله عنه: ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: من دعا الی هدی کان له من الاجر مثل اجور من تبعه لا ینقص ذلک من اجورهم شیئًا، ومن دعا الی ضلالة کان علیه من الاثم مثل اثام من تبعه، لا ینقص ذلک من آثامهم شیئًا. (۱) (رواه مسلم)

---

۱) الصحیح لمسلم: ۳۴۱/۲، کتاب العلم، باب من سن سنة حسنة او سیئة ومن دعا الی هدی او ضلالة

(ج) د میلاد شریف پر مهال په برېلي کي د ډاکټر لپاره یو تخت جوړولو سره هغه شائسته کیږي او پر هغه ګلدسته او نور لګول کیږي، پر دغه ډاکټر صاحب سره د خپلو ملګرو کښېني، په دغه ذاکرینو کي اکثر کم عمر ځوانان ښائسته وي، اشعار نعت شریف

پر دغه موقع اکثر صاحبانو باندي څه وجد ورقت هم راځي، دا ښائسته کول د تحت او دا طریقه د میلاد شریف د ویلو چي مثل غزلي وي او په هغو خلکو باندي ویل کیږي کوم چي کم علم یا بې ږیري او برېتو وي جائز دی کنه؟ (۱۳۴۲/۹۴۰هـ)

جواب: (الف) په حقیقت کي مجالس میلاد شریف مروجه کي روایات موضوعه وضعیفه ویل کیږي، د هغه هیڅ اصل په شریعت کي نسته او د روایات موضوعه اورېدل هم صحیح نه دي، په حدیث شریف کي وارد دي: من کذب علي متعمداً فلیتبوا مقعده من النار[۱] چا چي پر ما دروغ وتړل هغه دي خپله ټهېکانه په دوزخ کي جوړه کړي

(ب) د داسي تکلفات او اسراف هم په شریعت کي ممانعت دی او دا هم یوه وجه د ممانعت مجلس میلاد شریف مروجه ده، لکه په فتاوی مطبوعه مبسوطه کي ثابت شوي دي[۲]

(ج) دا طریقه هم ناجائز ده او د امارد او فساد وفجار په مجمع کي شریک کېدل او اشعاد اورېدل هم جائز نه دي، فقط د دې تفصیل په فتوی مطبوعه کي موجود دي (۲) فقط والله تعالی اعلم

د میلاد جائز طریقه

سوال: (۲۷۱) د میلاد ویل څرنګه جائز دي؟ (۱۳۴۵-۴۴/۸۲۲هـ)

جواب: د روایات صحیحه سره بېله قید د زائده د ذکر ولایت شریف مستحب او

---

۱) عن عبد الله بن عمرو رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: بلغو عني ولو آیة وحدثوا عن بني اسرائیل ولا حرج ومن کذب علي متعمداً الحدیث (مشکاة المصابیح ص۳۲. کتب العلم، الفصل الاول)

۲) د تفصیل لپاره وګوری: (فتاوی میلاد شریف وعرس ومیلا: ص۸)

او ثواب دی او موضوعه روایت او قیود او نورو څه بدعت دی. فقط والله تعالی اعلم

په مروجه میلاد کي کوم کوم بدعات ومنکرات دي؟

سوال: (۲۷۲) په مولود شریف په هندوستان کي کوم بدعات او مکروهات شامل کړي دي د هغه له وجي ممنوع ګرځول شوي دي مهرباني وکړه د هغه تفصیل تحریر کړه، تر څو چي هغه ویلو سره هغه وشي. (۳۲۷/۳۳-۱۳۳۴ھ)

جواب: تفصیل د هغو بدعاتو او مکروهاتو کوم چي په میلاد مروجه کي داخل کړي دي طویل دي، د دې په هکله کومه فتوی چاپ کېدو سره شائع شوې ده په نامه د فتوی میلاد شریف هغه را وغواړه، مختصر دا چي روایات موضوعه ضعیفه دي بیان نشي، فاسق فجار تارک صلاة وصوم ومرتکب منهیات شرعیه دي شریک نه وي او رڼا دي ترحاجت زیاته نه کېږي، قیام دي نه کېږي، بلکي صحیح روایات مثل وعظ دي یو عالم بیان کړي او غزلي او اشعار به هم په دې کي نه وي، له دې ماسیوا نور امور هم سته د هغو تفصیل له هغو کتابونو او فتواوو څخه معلوم کېدای شي چي د دې په هکله مطبوع دی، د حضرت مولانا رشید احمد قدس سره ګنګوهي فتوی سره شائع شوې ده، غالبًا د مدرسه مظاهر علوم سهارنپور څخه مولوي یحیی صاحب تاجر کتب څخه ملاو شي، د هغو څخه یې راوغواړه، د وي پي په ذریعه یې را استوي. فقط والله تعالی اعلم

په مجلس میلاد شریف کي شریک کېدل او شریني اخیستل جائز نه دي

سوال: (۲۷۳) په میلاد شریف کي شریني تقسیم کول او د شریني اخیستل او وقت سلام قیام کول او شیعه خلک کوم د امام حسین رضی الله عنه پر نامه مجلس کوي په هغه کي شریک کېدل او شریني اخیستل جائز دي کنه؟ (۷۰۲/۳۳-۱۳۳۴ھ)

جواب: په داسي مجلس کي شریک کېدل نه دي پکار، دا بدعتونه دي، کوم چي خلکو کي جاري دي، هغه قطعًا پرهېښودل پکار دي او که شریک مجالس مذکوره نه شي نو شریني هم نه ملاوېږي، نو داسي پکار دي چي نه شریک شي نه شریني واخلي. فقط والله تعالی اعلم

د مولود په هکله نا مناسبه خبره کول

سوال: (۷۷۴) یو سړی وایي چې د مولو د ویل او اورېدل یو ډول جائز نه دی، له صحابه کرام وائمه مجتهدینو څخه ثابت نه دي، محفل میلاد قائمول او مولود ویل بدعت دی، بل سړي مسمی محمد حسن وویل چې پر مولود باندې بولي کول پکار دي، نعوذ بالله منه، د دې په هکله څه ارشاد دی؟ (۱۱۲۸/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: دا صحیح دي چې هیئت کذائیه د مولود شریف مجلس قائمول له شریعت عزاء څخه ثابت نه دی، لهذا محققین دې ته بدعت وایي، لېکن داسي حکم کوم چې محمد حسن نامه والا ویلی دی نه دي وَیل پکار، ځکه اصل د مولود شریف ذکر خیر رسول الله صلی الله علیه وسلم دی، که د غه عوارض کوم چې زیات شوي دي نه وي نو ذکر ولادت شریفه په شان د سائر اذکار رسول الله صلی الله علیه وسلم امر مستحب وموجب خیر وبرکت دی، نو داسي الفاظ بې فکره ویل د جهل علامت او سواء ادبي ده. اعاذنا الله منه فقط

د میلاد په هکله د حضرت گنگوهي د یو عبادت وضاحت

سوال: (۷۷۵) میلاد شریف کول جائز دي کنه؟ او کوم سړی میلاد ته د کهنیان جوړ کړی وبولي هغه د چا په حکم کې دی؟ (۱۱۴۷/۱۳۳۵هـ)

جواب: مولود شریف ته هیچا داسي نه دي ویلي لکه سائل چې ویلي دي: بلکې کوم خلگ جهلاء په مولود شریف کې په وخت د ذکر ولادت قیام په دې نیت سره کوي چې گویا د نبي صلی الله علیه وسلم دغه وخت وشو لکه د ځینو جهلاؤ خیال دی، دغه علماء رباني رد کړی دی چې تاسو په دغه عقیده او خیال کې د هندوانو سره تشبه کوی لکه هندوان د کهنیا ، پیدائش سانگ (ادا کاري) هر کال کوي، تاسو هم د هندو په شان فعل کوی یا لکه روافض نقل شبیه حضرت امام حسین رضی الله عنه هر کال کوي تاسو هم داسي کوی الخ نو واضح شوه چې د کهنیا سره مشابهت کونکی په دې هکله هغه مولود کونکی دی کوم چې په نیت مذکوره د دذکر ولادت شریف پر مهال قیام کوي، هغه له دې څخه منع شوي دي چې داسي مشابهت مه خپلوی چې دا فسق دی، حاصل دا دی چې

منع کونکي علماء اهل مولود د دوی له دغه نامناسبه حرکت او عقیده فاسده او مشابهت بالکفار څخه راګرځوي نه دا چي علماء ما نعین مشابهت مذکوره ورکوی، په دغه ښه ځان پوه کړه، اصل عبادت د فتوی مطبوعه دا وګوره (۱) کوم چي حضرت قطب الاقطاب محدث وفقیه حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهي قدس سره مفصلاً په خپله فتوی کي تحریر کړی دی، په هغه ښه ځان پوه کړه. فقط والله تعالی اعلم

د نصیحت په غرض مجلس میلاد قائمول

سوال: (۲۷۲) میلاد شریف بغیر قیام په دې غرض سره چي مسلمان راوحق ته راشي او د شرک وبدعت څخه توبه وکاږي او په دې کي بالکل نصیحت نصیحت وي، جائز دی کنه؟ (۱۳۳۵/۱۳۵۷هـ)

جواب: پر ځای د میلاد شریف مجلس وعظ قائمولو سره په دې کي نصیحت او نور کول په کار دي، د میلاد شریف په نوم مجلس منعقد کول نه دی پکار چي مجلس میلاد قطع نظر قیام هم صحیح نه دی

---

۱) الحاصل قیام وقت ذکر ولادت یا دا وجه چي دا خلک یو روایت موضوعه سند جوړوي یا یو قول یا فعل د یو بزرګ څخه مستمسک دی، نو دا خو معلوم شوی دی چي له موضوعات او اقوال وافعال بزرګانو څخه ندب وجواز نه ثابتیږي، تر څو پوري یو دلیل شرعي نه وي، نو په داسي صورت کي هیڅکله د ندب او نورو ثبوت نشته او کوم څه په خپل ګمان سره ثابتوي نو هغه په صورت واجب ومؤکد بللو سره بدعت کیږي، یا دا وجه ده چي روح پاک علیه السلام ته کوم چي له عالم ارواح څخه عالم شهادت راغلی دی د هغه تعظیم ته قیام دی، نو دا هم خالص حماقت دی، ځکه چي په دغه وجه سره قیام کول وقت وقوع ولادت شریفه پکار دی، اوس هیڅکله کوم ولادت مکرر کیږي؟ بس نو دغه هره ورځ اعاده ولادت خو مثل هنو د دې چي د سانګ ګنهیا ولادت هر کال جوړوي، یا مثل روافض دی چي نقل شهادت اهل بیت هر کال جوړوي، معاذ الله د سانګ ولادت کرخول او په خپله دا حرکت قبیحه قابل لوم وحرام وفسق دی، بلکي دغه خلک له دغه قوم څخه مخکي دی هغه خو پر تاریخ معین کوي، د هغو په نزد هیڅ قید نشته کله وغواړي دا خرافات فرض جوړوي او د دغه امر په شرع کي یو ځای نظیر نشته چي یو امر فرضي ګرځولو سره د حقیقت معامله د هغه سره وشي، بلکي دا په شرع کي حرام دی لهذا په دغه وجه سره دا قیام حرام شو او موجب تشبه کفار وفساق وګرځېدی. (فتاوی میلاد شریف وعرس میلاد: ص۱۳-۱۴، مطبوعه مطبع مجتبائي دهلي)

فقط والله تعالی اعلم

د قیام میلاد حکم

سوال: (۲۷۷) په میلاد شریف کي قیامت کول څرنګه دي؟ بعض حضرات د قوموا الی سیدکم څخه استدلال کوي، جواب ارکړه. (۱۳۳۳-۳۲/۲۵۵۲هـ)

جواب: په ممانعت وکراهت قیام کي دا حدیث وارد دی:

عن انس رضی الله عنه قال: لم یکن شخص احب الیهم من رسول الله صلی الله علیه وسلم، وکانوا اذا راوه لم یقوموا لما یعلمون من کرهیته لذلک، رواه الترمذي وقال: هذا حدیث حسن صحیح غریب(۱) (ترجمه: حضرت انس رضی الله عنه فرمایي چي د صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین په نزد تر نبي صلی الله علیه وسلم زیات هیڅوک محبوب نه ؤ، د دې باوجود صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین به کله نبي صلی الله علیه وسلم ولیدی نه ولاړېدل د دې وجي چي هغو ته معلوم ؤ چي نبي صلی الله علیه وسلم ته درېدل ناخوښه دي)

دوهم حدیث دا دی: عن معاویه رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من ره ان یتمثل له الرجال قیامًا ولیتبوا مقعده من النار، رواه الترمذي وابو داؤد(۲) (ترجمه: د حضرت معاویه رضی الله عنه څخه مروي دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چا ته خوشحالي وي په دې خبره سره چي خلک ده ته ولاړ وي نو ده ته خپله ځای په جهنم کي لټول په کار دی)

دریم حدیث ذا دی: عن ابي امامة رضی الله عنه قال: خرج علینا رسول الله صلی الله علیه وسلم متوکئًا علی عصاء فقمنا الیه، فقال: لا تقوموا کما یقوم الاعاجم یعظم بعضها بعضًا (۳) (رواه ابو داؤد) (ترجمه: حضرت ابو امامه رضی الله عنه فرمایي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم پر لکړه

---

۱) جامع الترمذي: ۱۰۴/۲، ابواب الاستیذان والادب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم، باب ما جاء في کراهیة قیام الرجل للرجل

۲) د ترمذي شریف سابقه حواله د سنن ابي داؤد په نزد: ۷۱۰/۲، کتاب الادب، باب الرجل یقوم للرجل یعظمه بذلک.

۳) سنن ابي داؤد: ۷۱۰/۲، کتاب الادب، باب الرجل یقوم للرجل یعظمه بذلک.

زور کولو سره موږ ته راغلی نو موږ ده ته کتلو سره ولاړ شوو، ده صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تاسو ځیني د ځینو د تعظیم په غرض ولاړ نشي لکه عجمي خلک یو د بل د تعظیم په غرض ولاړیږي)

او د کوم حدیث حواله تا طلب کړې ده، په هغه حدیث کي قوموا لسیدکم نه دی، بلکي قوموا الی سیدکم دی(۱) د دغه قیام ښه وجه دا ده چي حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه کله پر حمار سپور راغلی، هغه زخمي ؤ، د هغو د راکښته کولو لپاره ده انصارو ته حکم وکړی چي ولاړ شی او دی راکښته کړی، لکه په مرقات کي دا عبارت دی: وقیل: معناه قوموا لاعانته في النزول عن الحمار اذ کان به مرض واثر جرح اصاب اکحله یوم الاحزاب، ولو اراد تعظیمه لقال: قوموا لسیدکم، ومما یؤیده تخصیص الانصار والتنصیص علی السیادة المضافة وان الصحابة رضی الله عنهم ما کانوا یقومون له صلی الله علیه وسلم تعظیمًا له مع انه سید الخلق؛ لما یعلمون من کراهیة لذلک علی ما سیأتي الخ (۲)

له دغه عبارت څخه ترجیح د دغه تاویل هم واضح شوه. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۷۷۸) بر وقت منعقد کېدو محفل مولود شریف ذکر خیر رسول الله صلی الله علیه وسلم او ویولو حال پیدائش تعظیمًا درېدل پکار دي کنه؟ (۱۵۲۷/۱۳۳۷هـ)

جواب: په ترمذي شریف کي په سند صحیح له حضرت انس رضی الله عنه مروي دی: لم یکن شخص احب الیهم من رسول الله صلی الله علیه وسلم وکانوا اذا راوه لم یقوموا لما یعلمون من کراهیته لذلک، رواه الترمذي وقال: هذا حدیث حسن صحیح غریب (۳)

---

۱) عن ابي سعید الخدري رضی الله عنه ان اهل قریضة لما نزلوا علی حکم سعد، ارسل الیه رسول الله صلی الله علیه وسلم فجاء علی حمار اقمر، فقال النبي صلی الله علیه وسلم: قوموا الی سیدکم او الی خیرکم، فجاء حتی قعد الی رسول الله صلی الله علیه وسلم (سنن ابي داؤد: ۷۰۸/۲، کتاب الادب، باب في القیام)

۲) مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المفاتیح ۵۰۸/۸، کتاب الاداب، باب القیام، الفصل الاول، رقم الحدیث ۴۶۹۵

۳) جامع الترمذي: ۱۰۴/۲، ابوآب الاستیذان والادب، باب ماجاء في کراهیة قیام الرجل للرجل

حاصل د دغه حدیث شریف دا غه دی چي صحابه رضی الله عنهم ته تر رسول الله صلی الله علیه وسلم زیات هیڅوک محبوب نه ؤ، روحي فداء او سره د دې کله چي رسول الله صلی الله علیه وسلم راتلی نو صحابه دی لیدلو سره نه درېدل، د دې وجي رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه مکروه بلل او نه یې خوښول. د دې څخه معلوم کېدای شي چي په مجلس مولود شریف کي التزام قیام بنه او مرغوب امر شرعًا نه دی.

سوال: (۲۷۹) په دغه زمانه کي کوم ډول مولد شریف وایي او د حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم د پیدائش په بیان کي قیام کوي، د دې په هکله څه حکم دی؟ او له ائمه وتابعین څخه ثابت دی کنه؟ د مولانا عبد الحی صاحب په فتاوی کي کوم د طیبي عبارت منقول دی: من اصر علی امر مندوب وجعله عزمًا ولم یعمل بالرخصة فقد اصاب منه الشیطان من الاضلال، فکیف من اصر علی بدعة او منکر؟ ![1] دا صحیح دی کنه؟ (۱۱۱۴۰/۱۳۳۵هـ)

جواب: مولود باهیئت او کیفیت موجوده مرسومه وقیام مفروضة صحیح نه دی، له خیر القرون او ائمه دین څخه ثابت نه دي او د دې تفصیل په فتوی مطبوعه حضرت مولانا احمد علي محدث سهارن پوري او حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهي قدس سره العزیز کي موجود دی هغه دي وکتل شي.[2] د طیبي له عبارت څخه هم په دې کي استدلال فتوی شائع شوې ده، له مولانا سید اصغر حسین صاحب دیوبندي مدرس مدرسه هذا څخه په وي پي سره طلب کړی، په هغه کي جمله امور متعلقه مولود شریف تحقیق وتفصیل موجود دی. فقط

میلاد مروجه او قیام صحیح ګرځونکو دلائل او د هغو جواب

سوال: (۲۸۰) یو سړی په خپل کتاب شمس الهدی کي معه حواله آیات د مولود قیام

---

۱) مرقاة المفاتیح ۲۲/۳، کتاب الصلاة، باب الدعاء في التشهد، الفصل الاول، رقم الحدیث ۹۴۶

۲) د تفصیلي بحث لپاره وګورئ: فتاوی میلاد شریف وعرس ومیلا از مولانا احمد علي صاحب محدث سهارن پوري وحضرت مولانا رشید احمد صاحب ګنګوهي مد فیوضهما مطبع بلالي، سادهوره، نسه طباعت ۱۳۲۱هـ مطابق ۱۹۰۳م

او تقسیم شیریني او د محفل ښائسته کول صحیح فرمایي، آیات دا دي: "قل من حرم زينة الله" الاية (سورة اعراف، آیت ۳۲) "ما احل الله لكم" الاية (سورة مائده، آیت ۸۷) او نور، په تفسیر کبیر کي دي: الرابع: ان الملائكة امروا بالسجود لآدم لأجل ان نور محمد عليه السلام في جبهة آدم عليه السلام(۱) دا امور تر کومه صحیح دي؟ او د مزامیر څه حکم دی؟ (۱۰۱۸/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: کوم څه چي کتاب شمس الهدی کي په هکله د محفل میلاد مروجه لیکلي دي صحیح نه دي او استدلال له آیات مذکوره څخه صحیح نه دی، د اسراف حرمت له قرآن شریف څخه ثابت دی(۲) او په دغه مجالسو کي اسراف کیږي په رڼا او نورو کي او التزام ما لا يلزم بدعت دی او د بدعت مذمت په احادیثو کي وارد دی، قطع نظر له دې څخه که دا مسئله له آیات واحادیث څخه ثابت وای نو صحابه رضوان الله تعالیٰ علیهم اجمعین یو وخت ولي نه وکړی، دا غټ دلیل دی د دې د ممانعت او د تفسیر کبیر څخه که استدلال وشي نو سجده جائز ویل په کار دي، حالانکه دا په اتفاق باطل دی، لنډه دا چي کوم څه د شمس الهدی مصنف لیکلي دي هغه صحیح نه دي او مزامیر په اتفاق ائمه حرام دی. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۲۸۱) یو صاحب آیت "یا ایها الذین آمنوا اذا قیل لکم تفسحوا في المجالس فافسحوا یفسح الله لکم" تر "بما تعملون خبير" (سورة مجادله، آیت ۱۱) څخه قیام مولود ثابتوي، له دغه آیت څخه مولود ثابتیږي کنه؟ (۱۲۲۰/۱۳۳۹هـ)

جواب: په تفسیر جلالین کي په تفسیر آیت "واذا قیل انشزوا" مذکور دي: "واذا قيل انشزوا" قوموا الى الصلاة وغيرها من الخيرات "فانشزوا" (۳) او په معالم التنزيل کي دي چي شان نزول د دې آیت دا دی چي اهل بدر د نبي صلی الله علیه وسلم مجلس ته راغلل او په مجلس کي ځای نه ؤ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به رعایت اهل بدر خلک له مجلس څخه ولاړ کړه او اهل بدر یې د هغو پر ځای کښېنول، نو کوم چي ولاړ کړه دا پر هغو شاق شو، دغه وخت دا آیت نازل شو چي څه وخت تاسو ته

---

۱) مفاتيح الغيب المشتهر بالتفسير الكبير: ۲۰۲/۳، تحت الآية "تلك الرسل فضلنا بعضهم على بعض" الآية، المطبوعة الحسينية المصرية

۲) "ولا تسرفوا ان الله لا يحب المسرفين" (سورة انعام، آیت ۱۴۱، سورة اعراف، آیت ۱۵۴)

۳) تفسير جلاليل: ص ۴۵۳، تفسير سورة المجادلة

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايي چي ولاړ شئ او ځای خالي کړی نو تاسو بېله غذر ولاړ شئ (۱) بس قیام مجلس مولود ته د دې سره څه تعلق دی؟ ! په دغه کي نه يو حکم د رسول الله صلی الله علیه وسلم دی چي ولاړ شئ، ماسېوا له دې څخه د دغه آیت مطلب دا دی چي تاسو ته وويل شي چي ولاړ شئ او لمونځ وجهاد او نورو ته ولاړ شئ نو تاسو خلک فورًا تعمیل کوئ کذا في المعالم (۲)

الحاصل استدلال د دغه مستدل غلط دی او په تفسیر بالرأی کي داخل دی، پر هغه وعید شدید په حدیث کي وارد دی(۳) اعاذنا الله تعالی منه فقط والله تعالی اعلم

محض میلاد کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم راتللو خیال کولو سره درېدل څرنګه دی؟

سوال: (۲۸۲) که یو سړی په خپل زړه کي دا خیال کولو سره په میلاد شریف کي قیام وکړي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپله راځي نو جائز دی کنه؟

---

۱) قال مقاتل بن حیان: کان النبي صلی الله علیه وسلم یکرم اهل بدر من المهاجرین والانصار، فجاء ناس منهم یومًا وقد سبقوا الی المجلس، فقاموا حیال النبي صلی الله علیه وسلم وسلموا علیه فرد علیهم، ثم سلموا علی القوم فردوا علیهم، فقاموا علی ارجلهم ینتظرون ان یوسع لهم، فشق ذلک علی النبي صلی الله علیه وسلم، فقال لمن حوله قم یا فلان ! وانت یا فلان ! فأقام من المجلس بقدر النفر الذین قاموا بین یدیه من اهل بدر، فشق ذلک علی من اقیم من مجلسه وعرف النبي صلی الله علیه وسلم الکراهیة في وجوههم، فانزل الله هذه الآیة (معلم التنزیل: ص۸۸۷، تفسیر سورة المجادلة، المطبوعة المطبع الواقع في المعمورة المنبئي)

۲) قال مجاهد واکثر المفسرین: معناه اذا قیل لکم انهضوا الی الصلوات والي الجهاد والی مجالس کل خیر فقوموا لها ولا تقصروا. (معالم التنزیل: ص۸۸۸، تفسیر سورة المجادلة)

۳) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من قال في القرآن بغیر علم فلیتبوا مقعده من النار.

وعن جندب بن عبد الله رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من قال في القرآن برأیه فأصاب فقد أخطأ. (جامع الترمذي: ۱۲۳/۲، ابواب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم، باب ما جاء في الذي یفسر القرآن برأیه)

او قیام کونکي کافران دي کنه؟ او د میت لپاره اجرت ورکولو سره ختم کولو څرنګه دی؟ (۱۳۳۷/۲۷۳۲هـ)

جواب: د دغه عقيدې سره قيام کول بدعت او ناجائز دی، لېکن حکم کفر خلاف احتياط دی، يعني که څه هم په داسي عقيده کي چي خلاف نصوص ده خوف کفر ضرور دی لېکن مفتي ته احتياط کول لازم دی، حکم کفر نه دی کول په کار او پر ختم او نورو اجرت ورکول او اخيستل جائز نه دی او په دې سره ميت ته ثواب نه رسيږي. فاذا لم يكن للقاري ثواب لعدم الفية الصحيحة فأين يصل الثواب الى المستاجر ولو لا الأجرة ما قرأ أحد لأحد، كما حققه في الشامي بما لا مزيد عليه[1] والمعروف كالمشروط[2] كما هو مسلم ومعروف. فقط والله تعالى اعلم

محض ميلاد ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم روح راځي کنه؟

سوال: (۲۸۳)..... (الف) مولود شريف ويل جائز دی کنه؟

(ب) په وخت د ذکر ولادت دربدلو سره سلام کول او لاس نيول جائز دی کنه؟

(ج) مولود ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم روح راځي کنه؟ (۱۳۴۲/۸۸۴هـ)

جواب: (الف - ج) مجلس مولود شريف مروجه پر بدعاتو ومنکراتو مشتمل وي علماو بدعت ليکلی دی، دغه شان تعيين قيام په وخت ولادت شريفه ثابت نه دی او داسي عقيده ساتل چي داسي مجلس ته روح د رسول الله صلى الله عليه وسلم راځي ثابت نه دی. فقط والله تعالى اعلم

سوال: (۲۸۴) په وخت د ذکر ولادت رسول الله صلى الله عليه وسلم قيام کول او دا عقيده ساتل چي رسول الله صلى الله عليه وسلم راځي جائز دی کنه؟ (۱۳۴۷-۴۶/۱۴۷۶هـ)

جواب: دا عمل په دغه کيفيت او عقيده سره جائز نه دی او د سلف څخه ثابت نه دی. وكفى بهم حجة وقدوة، وقال عليه الصلاة والسلام: من احدث في امرنا هذا ما ليس

---

۱) الشامي على الدر: ۹/۷۲، کتاب الاجارة، مطلب تحرير مهم في عدم جواز الاستئجار على التلاوة الخ

۲) المعروف بالعرف كالمشروط شرطا. (قواعد الفقه ص۱۲۵، رقم القاعدة: ۳۳۴، المطبوعة اشرفي بک ډپو، ديوبند)

منه فهو رد (١) فقط والله تعالی اعلم

محض میلاد ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د راتللو عقیده نه وي نو دربدل څرنګه دي

سوال: (۲۸۵) قیام مولود جائز دی کنه؟ که د رسول الله صلی الله علیه وسلم د روح مبارک د حاضر کېدو خیال نه وشي نو قیام کول جائز دي کنه؟ (۱۳۴۳/۱۹۰۴هـ)

جواب: دا قیام ثابت نه دی او د عقیده مذکوره سره هم جائز نه دی. فقط والله تعالی اعلم

په میل اد مروجه کي شرکت کول او په هغه کي چنده ورکول څرنګه دي

سوال: (۲۸۶) په میلاد شریف کي هلکان جمع کیږي او اشعار وایي او قیام هم کیږي او هندو شاعر هم راځي اشعار نعتیه وایي، دا مجلس جائز دی کنه؟ او په دې کي چنده ورکول څنګه دي؟ (۸۹/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: عن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه قال: لا يجعل احدكم للشيطان شيئًا من صلاته يرى ان حقًا عليه الا عن يمينه، لقد رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم كثيرًا ينصرف عن يساره، متفق عليه (٢) (مشكاة) قال الطيبي: وفيه: ان من اصر على امر مندوب وجعله عزمًا ولم يعمل بالرخصة فقد اصاب منه الشيطان من الاضلال، فكيف من اصر على بدعة او منكر؟! (٣) (مرقاة شرح مشكاة)

له دغه روایت او عبارت طیبي څخه معلوم شو چي پر امر مندوب هم اصرار کول او د هغه التزما مثل واجبات کول اتباع شیطان ده، بس نو په میلاد مروجه کي کوم څه التزام قیام ورنا له حاجت زیاته واجتماع فساق وامارد واشعار وغزل ویل وروایات غیر صحیحه ویل او نور دا ټول شرعًا قبیح ومنکر دی،

---

١) د دغه حدیث شریف تخریج کتاب الایمان د سوال (۴۹۱) په وجواب کي وګورئ

٢) مشكاة المصابيح ص۸۷، كتاب الصلاة، باب الدعاء في التشهد، الفصل الاول

٣) مرقاة المفاتيح ۲۲/۳، كتاب الصلة، باب الدعاء في التشهد، رقم الحديث ۹۴۶

او مرتکب امور مذکوره حسب تصریح پورتنی شیطان لعین دی، نو شرکت په داسي مجلس کي او چنده ورکول هم دې کي صحیح نه دي. فقط والله تعالی اعلم

مولود شریف که له منکرات څخه خالي وي نو څه حکم دی؟

سوال: (۲۸۷) مولود شریف ویل شرعًا جائز دی کنه؟ ما اکثره په خانه کعبه کي او مدین منوره کي ویلو سره لیدلي دي. (۱۳۱۹/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: په هندوستان کي په مولود شریف کي ډېر بدعات او مکروهات شامل شوي دي، د دې وجي ممنوع دی، که له بدعات ومنکرات څخه خالي وي، نو محض ذکر رسول الله صلی الله علیه وسلم وذکر ولادت رسول الله صلی الله علیه وسلم مستحب دی. **فقط والله تعالی اعلم**

سوال: (۲۸۸) د نفس میلاد شریف څه حکم دی؟ (۱۳۴۱/۲۸۴۸هـ)

جواب: د میلاد په هکله کوم څه تحقیقات د علماوو دي هغه معروف ومشهور دي حاصل دا دی چي علماء محققین دې ته به وجه اشتمال بدعات ومنکرات منع کوي او نفس میلاد شریف که خالي له منکراتو وي نو مستحب دي. فقط والله تعالی اعلم

د خیر کار لپاره جمع شوی رقم په نذر ومیلاد شریف کي خرڅول

سوال: (۲۸۹) کوم رقم د ګټي د خیر کار لپاره راوایستل شي له هغه څخه نذر د بزرګان دین ومحفل میلاد شریف کي خرڅول او یو مدرسې ته ورکول جائز به وي کنه؟ (۱۳۳۹/۸۱هـ)

جواب: په نذر او میلاد شریف کي دي خرڅ نه شي، بلکي محتاجانو او مسکینانو کي یا د یو مدرسې غریب طالبانو ته دي ورکول شي. فقط والله تعالی اعلم

صرف میلاد شریف ویل یا اورېدل د نجات لپاره کافي نه دی

سوال: (۲۹۰) کومه ټولی د مسلمانانو لمونځ روژه نه ادا کوي، بلکي میلاد شریف وایي اوري، نو په صرف میلاد شریف سره د دوی بخښنه کېدای شي کنه؟ (۱۳۳۹/۳۳۲هـ)

جواب: کوم سړی تارک الصلاة وي نو ظاهره ده چي په میلاد شریف سره ده ته څه نفع رسېدای شي؟! بلکي په آخرت کي دی د سخت عذاب مستحق دی، لېکن که دی د ایمان سره مړ شوی دی نو به قدر ګناه عذاب کېدو سره انجام کار جنت وي. فقط والله تعالی اعلم

د هندو په مکان کي میلاد منعقد کول څرنګه دی؟

سوال: (۲۹۱) د هندوانو پر مکان مولود ویل جائز دی کنه؟ (۱۳۴۱/۷۴۱هـ)

جواب: مجلس میلاد شریف منعقد کول حسب رسوم مروجه زمانه هیڅکله هم جائز نه دی، چیري به د کافرو پر مکان. فقط والله تعالی اعلم

مجلس مولود کي شریک کېدل او پر حمد ونعت واه واه ویل

سوال: (۲۹۲) که یو ځای وعظ یا مولود وي او د خداوندي کریم حمد ونعت وي داسي ځای امام صاحب د سبحان الله پر ځای د واه واه نعرې لګوي، دا جائز دي کنه؟ (۱۳۴۵/۲۲هـ)

جواب: د مولود په مجلس کي په دغه زمانه کي شریک کېدل ندی پکار، ځکه په مجلس موصوف کي ډېر بدعات کیمي او د مجلس وعظ په هکله داسي کلمات ندي ویل پکار. فقط والله تعالی اعلم

د میت سره مولود کول څرنګه دی؟

سوال: (۹۲۳) د میت سره مولود کول څرنګه دی؟ (۱۳۴۷-۴۲/۱۳۳۸هـ)

جواب: د میت سره مولود کول بدعت او ناجائز دی. فقط والله تعالی اعلم

د طوائف پر مکان میلاد ویل څرنګه دی؟

سوال: (۲۹۴) د طوائف پر مکان میلاد ویل یا د هغه پر شیرني فاتحه ورکول جائز دي کنه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۳۲۰۹هـ)

جواب: جائز نه دي. فقط والله تعالی اعلم

د یو مزار د دروازې سره تېرېدل باعث نجات نه دی

سوال: (۲۹۵) په یو مکان کي دننه د یو فقیر قبر دی، د دغه مکان یوه دروازه بنده وي او نوري دروازې بندي وي، یو سړی راغل دغه دروازه یې خلاصه کړه پر دې ځینو خلکو دا یقین وکړی چي دروازه پخپله خلاصه شوه او کوم سړی د دغي دروازې سره تیریږي پر هغه د دوږخ اور حرامیږي او هغه جنتي کیږي، نو زید، عمر او بکر د دې وجي له دروازې سره تېر شوه نو دوی ته کافر ویل کیږي کنه؟ او دروازه مذکوره بندول څرنګه دي؟ (۲۰۹/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: دروازه مذکوره بندول ضروري دي چي د فتنو دروازه ده او د عقیده مذکوره سره د دې سره تېرېدل جائز نه دي، لېکن زید، عمر او بکر ته کافر نه ویل کیږي، ځکه په تکفیر مسلم کي ډېر احتیاط کول لازم دی، په شرح فقه اکبر کي دي: وقد ذکروا ان المسئلة المتعلقة بالکفر، اذا کان لها تسع وتسعون احتمالاً لکفر واحتمال واحد في نفیه، فالاولی للمفتي والقاضي ان یعمل بالاحتمال النافي الخ. (۱) فقط والله تعالی اعلم

د ایصال ثواب صحیح طریقه

سوال: (۲۹۶) زموږ په اطرافو کي د دې خبري پوښتنه شروع ده چي د بزرګان دین ارواح ته یو ډول ختم نکول پکار دی او نه د ایصال ثواب لپاره وخت یا ورځ مقرر کول پکار دي، مثلاً جمعرات یا یوولسمه، دا خبره صحیح ده کنه؟ (۷۷۲/۱۳۴۰هـ)

جواب: دا خبره صحیح ده چي اموات ارواح ته کوم څه ثواب ورسول کیږي په هغه کي دي یو ورځ او تاریخ مقرر نه شي، که توفیق وي نو بېله تعین سوم ودهم وچهلم ویازدهم او نورو په محتاجانو دي ډوډۍ وخوري یا جامې دي وکړي یا نغدي دي ورکول شي دا ښه دي او نغدي ورکول تر ټولو مناسب دی، په مخفي طریقه سره ورکول ښه دي او د ریا څخه (بعد دي او کلمه طیبه)

---

۱) شرح الفقه الاکبر: ص۱۹۹، المسئلة المتعلقة بالکفر الخ، المطبوعة مطبع مجتبائي، دهلي.

په بل چا ویلو سره او پخپله ویلو سره ثواب ور ورسول شي، مګر دا سي خلک دي ووایي کوم چي لوجه الله یې ووایي، کنې ثواب نشته. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۲۹۷) د مړي لپاره کوم کارونه زیات ثواب رسونکی دي؟؟ دهم، وچهلم کول جائز دي کنه؟ (۱۳۴۱/۱۵۳۳ھ)

جواب: ایصال ثواب د مړي لپاره ښه دی، صدقه مالي وي که د قرآن شریف یا کلمه طیبه ثواب ور ورسول شي، ټول مړي ته رسیږي او میت ته د هغه نفع کیږي، کوم څه توفیق وي د میت لپاره صدقه خیرات بلا ریا وسمعه او کلمه طیبه یو لک واره ویل او قرآن شریف یا کوم سورتونه یاد وي ویلو سره دي ثواب ورسول شي او رسوم سویم ودهم وچهلم او نور دي نه کیږي، چي دا محض رسمونه دي، په دې کي ثواب مړي ته نه رسیږي ځکه چي د الله تعالی په هنزد اخلاص مقبول دی، کوم کار په اخلاص سره وي د هغه نفع میت ته رسیږي او ښکاره کېدو او په بل اورېدو لپاره کوم رسمونه مثل دهم وچهلم او نور کیږي د هغه ثواب مړي ته نه رسیږي. فقط والله تعالی اعلم

بلا تعیین د یو ورځي د ایصال ثواب مطلب

سوال: (۲۹۸) تاسو خلک چي کوم بلا تعیین تحریر کوی لهذا بلا تعیین خو یو کار هم نه شي کېدای. (۱۳۴۵/۴۲۲ھ)

جواب: د دې مطلب دا دی چي پابندي د دریمي ورځي یا لسمي ورځي یا څلوېښتمي ورځي او نورو دي نه کیږي. فقط والله تعالی اعلم

په ژوند کي سوم دهم او چهلم کول

سوال: (۲۹۹) سوم، دهم او چهلم په ژوند کي کول ثواب دی کنه؟ (۱۳۳۹/۱۱۳۱ھ)

جواب: سویم ودهم وچهلم رسوم محدثه دي، دغه رسوم په ژوند کي نه دي کول پکار، نه د مرګ بعد کول پکار دي او د ایصال ثواب ښه طریقه دا ده چي بېله تعیین یوم ووقت لوجه الله نغدي یا کپړې یا ډوډی فقراء ته صدقه

کړي او نغدي ورکول خفیه تر ټولو ښه دي چي په دې کي ریا نه ده او محتاج له دې څخه جمله ماجات رفع کولای شي. فقط والله تعالی اعلم

د دریمي رسمونه او ډوډۍ خوړلو حکم

سوال: (۷۰۰) .... (الف) په دریمه ورځ قرآن شریف ویل څرنګه دي؟

(ب) په دریمه ورځ د ماښام ډوډۍ پخولو سره په غریبانو کي تقسیم کیږي د دغه خوړل د طلبه لپاره څرنګه دي؟

(ج) په دریمه ورځ کوم رسمونه کیږي د دغه د پابندي حکم څه دی؟ (۳۲/۷۵۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: (الف) صحیح نه دی.

(ب) طلبه په حق کي هغه ډوډۍ خوړل صحیح نه دي.

(ج) دا بد دي او د بدعت پابندي امر مذموم دی. فقط والله تعالی اعلم

د اهل میت د لومړۍ، دریمي او اوومي ورځي ډوډۍ تیارول څرنګه دي؟

سوال: (۷۰۱) د زید قول دی چي اهل میت لره لومړی یا دریمه ورځ یا هفته بعد ډوډۍ تیارول او قبر ته ډوډۍ وشیریني وړل او قاریان د کلام پاک ویلو لپاره جمع کول کروه دي او د اهل میت څخه ضیافت اخیستل هم مکروه دي او د دهم وچهلم او نورو ډوډۍ فقهاوو او صلحاوو ته مکروه ده، بکر وایي چي د زید قول غلط دی، په هر صورت کي د اهل میت ډوډۍ صحیح ده، په دواړو کي د چا قول صحیح او د چا قول غلط دی؟ (۳۲/۱۳۴۹-۱۳۳۳هـ)

جواب: د زید قول صحیح دی، بکر خلاف حکم شریعت وایي، په رد المختار کي له فتح القدیر څخه منقول دي: ویکره اتخاذ الضایفة من الطعام من اهل المیت لانه شرع في السروره في الشرور، وهي بدعة مستقبحة، وروی الامام احمد وابن ماجه باسناد صحیح عن جریر بن ةبد الله قال: کناه نعد الاجتماع الی اهل المیت وصنعهم الطعام من النیاحة اهـ، وفي البزازیة: ویکره اتخاذ الطعام في الیوم الاول والثالث وبعد الاسبوع، ونقل الطعام الی القبر في المراسیم، واتخاذ الدعوة لقراءة القرآن وجمع الصلحاء والقراء

للختم او لقراءة الانعام او الاخلاص الخ(۱) الغرض د زيد قول په دې هکله صحيح دى، سوم، دهم، چهلم ټول ممنوع وبدعت دي او ډوډۍ خوړل د ميت موافق تفصيل فقهاء مکروه دي د بکر قول بېله دليل دى. فقط والله تعالى اعلم

د انتقال په دريمه ورځ قل خواني کول

سوال: (۷۰۲) زموږ په ملک د ميت په هکله دريمه ورځ يو مجلس قائميږي د هغه نوم قل خواني دى، په مجلس کي غله غنم تقسيم کيږي، پر دغه دانو خلک قل هو الله وايي، بيا دا جمع کولو سره قل خوان ته ورکوي، هغه پر دې سورة ملک او سورة اخلاص او فاتحه وايي او بعد د دې په مجلس کي خيرات نغدي وطعام او غوښې او نور تقسيم کيږي، که دغه رسوم په دريمه ورځ کي نه وشي نو مطعون يم، دغه رسوم په حيثيت مذکوره جائز او ضروري دى کنه؟(۱۳۳۷/۲۲۵هـ)

جواب: قل خواني او سويم کول به طريق مذکور مکروه او بدعت دى، لا اصل له في الدين، قال عليه الصلاة والسلام: من احدث في امرنا هذا ما ليس منه فهو رد (۲) او ظاهر دى چي دا اجتماع په دريمه ورځ او قل خواني په سلف صالحين کي او په زمانه صحابه وتابعين کي نه وه، رضوان الله عليهم اجمعين نو لا محاله بدعت به وي. فقط والله تعالى اعلم

د رواج په ډول تر دريمي ورځي پوري خيرات کول څرنګه دى؟

سوال: (۷۰۳) تر درې ورځو پوري که اهل ميت څه خيرات وکړي د رسم په ډول نو څرنګه دى؟(۱۳۳۳/۵۷۱هـ)

جواب: د رسم په ډول ډوډۍ کولو کي هيڅ ثواب او نفع ميت ته نه رسيږي او په ډول رسم وريا داسي کول ناجائز او حرام دى. فقط والله تعالى اعلم

---

۱) الشامي على الدر: كتاب الصلاة، باب صلاة الجنازة، مطلب في كراهية الضيافة من اهل الميت

۲) د دغه حديث شريف تخريج د کتاب الايمان د سوال(۴۹۰) په جواب کي وګورئ.

دریمه ورځ ړوړی پخول او مرحوم د زوی لنگوټه ورتړل

سوال: (۷۰۴) د میت د مړ کېدو څخه دریې ورځي بعد طعام پخیږي او د ده زوی ته لنگوټه ورتړل کیږي دا جائز دی کنه؟ (۱۳۳۸/۱۱۳۰ھ)

جواب: دا رسم جائز نه دی. فقط والله تعالی اعلم

یولسمه کول او د هغه شیریني خوړل

سوال: (۷۰۵) یولسمه کول او د هغه شیریني خوړل څرنگه دي؟ (۱۳۴۰/۴۷۳ھ)

جواب: د یولسمي هیڅ ثبوت نسته او د هغه شیریني خوړل که څه هم جائز دي مگر اغنیاء ته پښه نه دي. فقط والله تعالی اعلم

د یولسمي په رسم کي شرکت کول

سوال: (۷۰۶) د یولسمي رسم کوم چي په دې اطرافو کي په ډېر شد ومد سره کیږي په هغه کي لاندي امور وي، لکه د مولود اهتمام وارائش د اردحام به تدامي کیږئ، یو سړی فضائل غوث بیان کوي، اکثره بې بنیاده روایتونه بیان کوي، په داسي مجالسو کي شرکت جائز دی کنه؟ (۱۳۳۷/۲۴۲ھ)

جواب: په داسي مجالس کي شرکت زموږ فقهاء نه خوښوي، نن سبا خو په داسي مجالسو کي ډېر منکرات شامل کیږي، د دې وجي په دې نامه مجالسو کي شریک کېدل مناسب نه دی، که څه هم په اصل کي د صحیح روایاتو سره فضائل رسول مقبول صلی الله علیه وسلم وفضائل اولیاء کبار مثل حضرت یحیی الدین شیخ عبد القادر جیلاني قدس سره بیان کول موجب ثواب وبرکات دی، لېکن جمیع منکرات مجالس خو بدلول له اختیار څخه دباندي دی، د دې وجي شریک کېدل مناسب نه دي. فقط والله تعالی اعلم

میت ته کفن ورکولو بعد دعا مغفرت کول بدعت دی

سوال: (۷۰۷) میت ته غسل او کفن ورکولو بعد دعاء مغفرت کول او بیا جنازه پورته کول

صحیح دی که بدعت؟(۱۳۳۳-۳۲/۲۱۳۹ھ)

جواب: په دغه ډول دعا کول ثابته نده، لهذا دا بدعت دی. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۷۰۸) دلته له مدت څخه په ځینو خلکو کي دا رواج دی چي د کفن ورکولو بعد میت لره په اهتمام سره په هیئت اجتماعیه دعا کوي، یو امام صاحب کله د دعا مذکوره لپاره راوبلل شو نو هغو دې ته ناجائز وفرمایل، پر دې باندي پر امام صاحب څه لعن طعن وسو، ایا شرعًا د دغه دعا څه ثبوت شته کنه؟(۱۳۴۲/۲۸۲۴ھ)

جواب: د جنازې لمونځ پخپله دعا للمیت دی، ماسیوا د جنازې له لمانځه څخه به طریق مذکور په هیئت اجتماعیه سره د دعا هیڅ ثبوت نشته او دا مکروه وبدعت دی، فقهاء د جنازې تر لمانځه وروسته دعا ممنوع فرمایلې ده، نو دغه شان فعل مذکور یعني دعا به هیئت اجتماعیه قبل لمانځه د جنازې هم ممنوع دی او پر امام مذکور لعن طعن کونکی ګناهګاران دي توبه دي وکاږي. فقط والله تعالی اعلم

میت دفن کولو بعد په قبرستان کي شریني تقسیم کول او روپیه او پیسه خیرات کول څرنګه دی؟

سوال: (۷۰۹) د میت سره قبرستان ته شریني وړلو سره تقسیم کول او د هغه خوړل څرنګه دی؟(۱۳۳۴-۳۳/۵۷۱ھ)

جواب: صحیح نه دی، بلکي بدعت دی او بد دی. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۷۱۰) د یو چا په کور کي مړی وشي، د جنازې وړلو پر وخت پر مکان ورجي، مالګه، روپیه، پیسه خیرات کول بیا په قبرستان کي بعد دفن روپیه.پیسه خیرات کول جائز دی کنه؟(۱۳۴۳/۱۲۱۷ھ)

جواب: د میت له طرفه صدقه کول خو په هر صورت کي ښه دی، لیکن یو خاص وخت یا یو خاص شی ضروري ګڼل بدعت دی. فقط والله تعالی اعلم

د تدفین بعد د خلګو له اهل میت سره کښینستل څرنګه دی؟

سوال: (۷۱۱) بعد دفن میت د ده وارثانو ته مکان تلو سره یو ځای کېدل کښېنستل او اهل میت خپل کاروبار ترک کولو سره د تعزیت والاو

کښېني، دا جائز دی کنه؟(۱۳۳۵/۸۲۸هـ)

جواب: په در مختار کي دي: ولا باس... بالجلوس لها في غير المسجد ثلاثة ايام(۱) او په شامي کي دي: واستعمال "لاباس" هنا على حقيقته، لانه خلاف الاولى الخ(۱) بيا مخته تلو سره ليکي: ويكره له الجلوس فيه بيته حتى ياتي اليه من يعزي بل اذا فرغ ورجع الناس من الدفن فليتفرقوا الخ(۱) له دغه عبارتو څخه معلوم شو چي دغه کښېنستل مختلف فيه دی او ښه دا دی چي دغه ترک شي. فقط والله تعالى اعلم

د وفات په ورځ په مخصوص کيفيت سره دوه رکعته لمونځ کول

سوال: (۷۱۲) کوم ورځ مړی وشي هغه ورځ د ماښام وروسته دوه رکعته لمونځ کول، په لومړي رکعت کي سورة فاتحه او آية الكرسي او په دوهم کي هم داغه قراءت ويل د تخفيف عذاب سبب دی او رسول الله صلى الله عليه وسلم ادا کړی دی، دا لمونځ جائز دی کنه؟(۱۳۳۴-۳۳/۴۵۱هـ)

جواب: مذکوره لمونځ په کيفيت مذکوره سره په احاديث کي نه دی لېدل شوی او په ظاهره اصل د دې هيڅ نه دی، دا ويل چي رسول الله صلى الله عليه وسلم دا ادا کړی دی ډېره دلاوري او ناواقفيت دی، بېله تحقيق حديث شريف دا شان ويل صحيح نه دی. فقط والله تعالى اعلم

د حيله اسقاط مختلف صورتونه او د هغو حکم

سوال: (۷۱۳) کله يو سړی مړ کيږي نو قرآن مجيد د ده جنازې ته د ده سر ته نژدې راوړل کيږي او څو لفظونه د ده د ورثاء په ژبه سره ويل کيږي چي زه دا قرآن شريف د دغه ميت د ګناه وسيله راوړمه نور او نور او ملا ته د ده تعليم په عو عوض کي دوې درې روپۍ ورکوي، دې ته زمونږ په عرف کي اسقاط وايي دا امر جائز دی کنه؟(۳۳/۵۲۰-۱۳۳۴هـ)

جواب: دا رسم خلاف شريف دی د دغه پرېښودل لازم دي. فقط والله تعالى اعلم

---

۱) الدر المختار ورد المحتار: کتاب الصلاة، باب صلاة الجنازة، مطلب في کراهية الضيافة من اهل الميت.

سوال: (۷۱۴) اسقاط کوم چي د ميت د جنازې له لمانځه مخکي يا وروسته کيږي پر وارثان ميت واجب دي کنه؟ هغه حيله دا ده چي غنم يو من دولس نيم سېره او زر نغدي کم سې کم سو روپيه وقرآن مجيد او غرض د حيله کونکو دا دی چي د مړي ټول قضاء شوي لمونځونه او حج او نورو دا کفاره کيږي او دا ټول جنازه ورکونکي ته ورکوي او حيله کونکی کښيني او په لاس کي قرآن شريف اخلي او غته دعا کوي او وايي مونږ قبول کړي. (۱۳۳۵/۲۲۹ھ)

جواب: حيله اسقاط مذکوره پر وارثان ميت واجب نه ده او داسي وصيت فقهاؤ هم جائز بللی نه دی. قال في الدر المختار: ونص في تبيين المحارم فقال: لا يجب على الولي فعل الدور وان اوصى به الميت لأنها وصية بالتبرع والواجب على الميت ان يوصي بما يفي بما عليه ان لم يصق الثلث عنه، فان اوصى بأقل او امر بالدور وترك بقية الثلث للورثة او تبرع به لغيرهم فقد اثم بترک ما وجب عليه اھ(۱) فقط والله تعالى اعلم

سوال: (۷۱۵).... (الف) بعض ځايو کي حيله اسقاط مورج ده چي د اسقاط صورت د جوړيږي چي د ميت دفن کولو بعد د ميت لپاره يو قرآن شريف او د هغه سره بې حسابه غنم يو سړی امام مسجد او نورو ته په دې نيت سره ورکول کيږي چي د ده په ذمه څومره قدر لمونځ روژه يا يو حق الله وي هغه ساقط کيږي؟ که څه هم د ټوله عمر لمونځ وي که د دې يو اصل وي نو د حواله کتب سره يې تحرير کړه او هغه اخيستونکی وايي چي د ميت معاصي او نور ټول ما پر خپله ذمه واخيستل دې ته اسقاط ويل کيږي؟

(ب) په شرع کي ماسيوا د کفارې د اسقاط يو شی سته؟ که سته نو د هغه به څه صورت وي؟ (۱۳۳۷/۱۰۰ھ)

جواب: (الف) په دغه طريقه اسقاط کول په شريعت کي صحيح ندی او بې اصل دی او په حکم (ولاتزر وازرة وزر اخرى) (۲) هيڅوک د بل ګناه نه شي پورته کولای، دا د ده جهالت دی

---

۱) الشامي على الدر: کتاب الصلاة، باب قضاء الفوائت، مطلب في اسقاط الصلاة عن الميت

۲) سورة انعام، آيت ۱۲۴، سورة بني اسرائيل، آيت ۱۵، سورة فاطر، آيت ۱۸، سورة زمر--

چي داسي کلمه له ژبي باسي، په شامي کي دي: ونص عليه في تبيين المحارم فقال: لا يجب على الولي فعل الدور، وان اوصى به الميت ... الى ان قال... فان اوصى باقل وامر بالدور، وترک بقية الثلث للورثة او تبرع به لغيرهم فقد اثم بترک ما وجب عليه الخ (۱) (۴۹۲/۱)

(ب) په شریعت کي دا حکم دی که د چا په ذمه لمونځونه یا روژې وي او هغه مال پریږدي او وصیت وکړي چي زما د لمونځونو او روژو فدیه او کفاره ادا کړئ، نو د ورثه په ذمه لازم دي چي تر دریمي د مال پوري دیه ادا کړي، تر دریمي د مال څخه زیات کي د ورثه تبرع ده، که هغه یې ادا کړي نو فبها، کنې پر هغو لازم نه دي او فعل اسقاط به هیئت مروجه له شریعت څخه ثابت نه دي او صحیح نه دي، قال في الدر المختار: ولو مات وعليه صلوات فائتة واوصى بالكفارة يعطي لكل صلاة نصف صاع من بر كالفطرة وكذا حكم الوتر والصوم وانما يعطي من ثلث ماله الخ (۲)

سوال: (۷۱۲) په یو ملک کي چي کله څوک مړ شي نو د جنازې د لمانځه وروسته د میت د چار پائي سره شل یا څلویښت یا تر دې زیات کسان دائره جوړولو سره کښیني او قرآن شریف بمع فلوس یا دراهم په دسمال کي وتړي پر دائره مذکوره درې ځلي ګرځول کیږي او هر سړی واهب او موهوب له جوړیږي دا فعل جائز دی که نه؟ (۱۳۴۰/۳۳۷هـ)

جواب: فعل مذکوره په شریعت کي ثابت نه دی او د دې هیڅ اصل نسته لهذا بدعت ومکروه دی، قال عليه الصلاة والسلام: من احدث في امرنا هذا ما ليس منه فهو رد الحديث (۳)

= آیت: ۷، سورة نجم، آیت: ۳۸

۱) الشامي على الدر: كتاب الصلاة، باب قضاء الفوائت، مطلب في اسقاط الصلاة عن الميت.

۲) الدر المختار مع رد المحتار: كتاب الصلاة، باب قضاء الفوائت، مطلب في اسقاط الصلاة عن الميت

۳) د دغه حدیث شریف تخریج د کتاب الایمان د سوال (۴۹۱) په جواب کي وګورئ.

د تدفین بعد څلویښت یا اویا ګامه بیرته راتلو سره فاتحه ویل

سوال: (۷۱۷) بعد دفن میت څلویښت ګامه یا اویا ګامه بیرته راتلو سره فاتحه ویل د دې څه دلیل سته کنه؟ که نه وي نو مرتکب د دې عاصي دی که نه؟ او دغه وخت څپلی د پښو څخه کاږي او بعض یې پر خپلو بلا ایږدي، د دې څه ثبوت شته کنه؟ او مرتکب د دې څرنګه دی؟ یو طرف خو ارشاد دی: کل بدعة ضلالة (الحدیث) (۱) او بل ارشاد دی: من سن سنة في الاسلام سنة حسنة فله اجرها واجر من عمل بها (الحدیث) (۲) که مطابق د لومړي حدیث شریف ټول نوي شیان ګمراهي فرض کړل شي نو بیا د من سن په لحاظ هره نوې طریقه په اسلام کې وي هغه ګمراهي ده، په دغه صورت کې شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۳۷/۹۵۹هـ)

جواب: د دې هیڅ ثبوت نشته او مرتکب د دې بدعتي او عاصي دی، لقوله علیه الصلاة والسلام: من احدث في امرنا هذا ما لیس منه فهو رد (۳) او حدیث من سن سنة حسنة في الاسلام (۲) څخه مراد هغه طریقه ده کومه د حکم شریعت موافقه او له نصوص څخه د هغه حسن ثابت وي، لکه د لفظ سنة حسنة څخه واضح دي، یا یو سنت پاته شوی وُ، هغه دغه سړی بیا ژوندی کړی نو ده ته ویل کیږي چي ده طریقه حسنة او طریقه مشروعة کوم چي ورکه وه جاري یې کړه او وې خوروله او بدعة ضلالة پخپله ګمراهي ده او د دې جاري کونکی او خورونکی ګمراهي خوروي.

---

۱) عن جابر بن عبد الله رضی الله عنه قال: کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول في خطبته: یحمد الله یوثنی علیه بما هو اهله ثم یقول: من یهده الله فلا مضل له ومن یضلله فلا هادي له... وشر الامور محدثاتها وکل محدثة بدعة وکل بدعة ضلالة الحدیث (سنن النسائي: ۱۷۹/۱، کتاب صلاة العیدین، کیف الخطبة؟)

۲) عن المنذر من جریر عن ابیه رضی الله عنهما قال: کنا عند رسول الله صلی الله علیه وسلم في صدر النهار... فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من سن في الاسلام سنة حسنة، الحدیث (الصحیح لمسلم: ۳۲۷/۱، کتاب الزکاة، باب الحث علی الصدقة ولو بشق تمرة او کلمة وانها حجاب من النار)

۳) د دغه حدیث شریف تخریج د کتاب الایمان د سوال (۴۹۱) په جواب کې وګورئ.

او احداث في الدين کوي په حقيقت کي خو شارع جوړيږي او شريعت جديده ايجاد کوي او دين مکمل ناقص بولي او د (اليوم اکملت لکم دينکم) (سورة مائده، آيت: ۳) په خلاف عقيده ساتي، الله تعالی دي له بدعت څخه محفوظ وساتي چي دا ډېره سخته ګمراهي ده، فاسق خو ګناه بده بولي مګر بدعتي بدعت ښه بولي کوي يې. فقط والله تعالی اعلم

مړی په لحد کي ايښودلو په وخت څه آيتونه ويلو سره شيريني تقسيم کول

سوال: (۷۱۹) په کوم مکان کي څوک مړ شي په هغه کي څو ورځي ورنه بلول او ډوډی نه پخول او مايان نه خوړل څرنګه دي؟(۱۳۳۷/۱۵۲۳هـ)

جواب: شرعًا د دغه خبرو هيڅ اصل نشته نه د وربلولو حکم دی نه د ماهي خوړل منع دي، دغه رسوم مقرر کول بدعت او حرام دی او ډوډی پخولو سره بلا قيد مساکين باندي خوړل صحيح دی، لېکن قيود زائده مثل سوم ودهم وچهلم له خپله لوري لګول بدعت دی. فقط والله تعالی اعلم

د تعزيت پر مهال لاس پورته کولو سره اجتماعي دعا کول څرنګه دي؟

سوال: (۷۲۰) يو مسلمان مړ شي نو رسم دی چي ټول خلګ اعزه او نور ده کور ته ورځي او تلو سره يو د بل وروسته وايي چي دعا وکړه فاتحه ووايه، نو ټول خلګ لاس پورته کړي د مړي لپاره دعا کوي.

او دغه شان په یوه ساعت کي شل دېرش ځلو ېنست پنځوس ځله بلکي زيا ست د دعا سلسله چلیږي او خلک دعا کولو سره رخصت کیږي ایا دا طرز شرعًا صحیح دی کنه؟ (۱۳۳۷/۲۵۴۹ھ)

جواب: دا رسم ثابت نه دی، مشروع صرف دومره قدر دی چي مضمون د تعزیت وتسلی ادا کړي او د مرحوم لپاره دعا مغفرت وکړي لاس پورته کولو سره د فاتحه مرسومه ویلو ضرورت نشته

ایصال ثواب لپاره اجرت ورکولو سره قرآن په ویل

سوال: (۷۲۱) دلته دا دستور دی چي تر مړي کېډو وروسته دوې ځلور ورځي بعد یا دغي مولیان، حافظان غریبان راوبولي قرآن شریف په وایي، بعد ختم فورًا ډوډی په خوري او دوې ځلور پیسې ورکوي، په دې ډول سره قرآن شریف ویلو سره پیسه او نور اخیستل صحیح دي کنه؟ (۱۳۳۷/۲۷۳۱ھ)

جواب: دا ډول قرآن شریف ویل او پیسه او نور اخیسل صحیح نه دي، په دې کي ثواب نشته. (شامي) (۱) فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۷۲۲) زید کلام مجید ویلو سره میت ته ثواب رسوي د دې په عوض کي نغدي کېږې او نور اخلي، دا جائز دي کنه؟ میت ته ثواب وررسیږي کنه؟ (۱۳۴۰/۱۰۰۳ھ)

جواب: دا هم جائز نه دی او په دې کي میت ته هیڅ ثواب نه رسیږي، ځکه چي ویونکي ته هیڅ ثواب ملاو نشو نو میت ته به چیري ثواب رسیدا ای شي؟ ! فقط والله اعلم

پر کفن یا تندي بسم الله یا کلمه شریفه لیکل

سوال: (۷۲۳) پر کفن تندي کلمه یا بسم الله په سیاهي سره لیکل جائز دي کنه؟ (۱۳۳۹/۱۹۵۳ھ)

---

(۱) فالحاصل: ان ما شاع في زماننا من قراءة الاجزاء بالاجرة لا يجوز، لان فيه الامر بالقراءة واعطاء الثواب للآمر والقراءة لاجل المال. فاذا لم يكن للقاري ثواب لعدم النية الصحيحة فاين يصل الثواب الى المستاجر؟ ا...... ان القاري اذا قرا لاجل المال فلا ثواب له، فاي شيء يهديه الى الميت؟ ! (الشامي: ۲۲/۹-۲۷، كتاب الاجارة، باب الاجارة الفاسدة، مطلب تحرير مهم في عدم جواز الاستئجار على التلاوة الخ)

جواب: په شامي کي منقول دي چي د میت پر کفن یا تندي یا سینه که بسم الله او نور د ګوتي په اشارې سره بېله سیاهي ولیکي نو صحیح دي (۱) او په سیاهي او نورو سره ممنوع دی. فقط والله تعالی اعلم

جنازه په لوړ آواز سره میلاد ویلو سره قبرستان ته وړل او میلاد ویلو سره بیرته راتلل

سوال: (۷۲۴) زید د خپل پلار جنازه به معیت چند اشخاص دیګر به آواز بلند ویلو سره قبرستان ته یوړه او بعد دفن به هیئت مرقومه میلاد خواني کولو سره کورته راغلي، عمر اعتراض وکړي چي دغه رسم جدید خلاف سنت او علماء امت دی، لهذا د زید پر دغه فعل شرعًا څه حکم دی؟ او د عمر جرح مقبول ده کنه؟ (۱۳۴۰/۴۱۲هـ)

جواب: د عمر قول حق دی د زید دا فعل بدعت دی او خلاف سنت دی وفي الحديث: من احدث في امرنا هذا ما ليس منه فهو رد الحديث (۲) وفي حديث آخر: وكل بدعة ضلالة وكل ضلالة في النار الحديث (۳)

---

۱) تكره كتابة القرآن واسماء الله تعالى على الدراهم والمحاريب والجدران وما يفرش وما ذاك الا لاحترامه وخشية وطئه ونحوه مما فيه اهانة، فالمنع هنا بالاولى ما لم يثبت عن المجتهد او ينقل فيه حديث ثابت، فتامل؛ نعم نقل بعض المحشين عن فوائد الشرجي ان مما يكتب على جبهة الميت بغير مداد بالاصبع المسبحة: بسم الله الرحمن الرحيم وعلى الصدر: لا اله الا الله محمد رسول الله وذلك بعد الغسل قبل التكفين اهـ والله اعلم (الشامي: ۱۴۲/۳-۱۴۷، كتاب الصلاة الجنازة، مطلب فيما يكتب على كفن الميت)

۲) د دې حديث تخريج د كتاب الايمان د سوال (۴۹۱) په جواب كي وګورئ.

۳) عن جابر بن عبد الله رضى الله عنه قال: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول في خطبته: يحمد الله ويثني عليه بما هو اهله ثم يقول: من يهده الله فلا مضل له ومن يضلله فلا هادي له.... وشر الامور محدثاتها وكل محدثة بدعة وكل بدعة ضلالة الحديث (سنن النسائي: ۱۷۹/۱، كتاب صلاة العيدين. كيف الخطبة؟)

د وفات په ورځ په جنازه او تعزیت کي شرکت کوونکو ته د ایصال ثواب په غرض ډوډۍ پخوړل او خیرات کول

سوال: (۷۲۵) زموږ په اطراف کي چي کله د مالدار سړي وفات وشي نو هغه ورځ کوم کوم مساکین او غریب علماء او طلباء په جنازه کي حاضریږي او د جنازې بعد هم کوم کوم په دغه مجلس کي حاضریږي وارثان میت حتی الوسع د میث ثواب رساني لپاره خیرات کوي، دا خیرات جائز دی کنه؟ (۱۳۴۰/۵۲۳ھ)

جواب: دا رسم ورواج جائز نه دی او بدعت دی دغه دی ترک کړل شي او د ثواب رساني ښه طریقه دا ده چي بلا تخصیص د یو ورځي او تاریخه کونډو ښځو او مساکین ویتامي ته خفیة د هغو کور ته څه خیرات ور ورسول شي چي اقرب الی القبول وابعد عن الریاء والسمعة (قبولیت ته قریب او دریا وشهرت څخه لري) وي. فقط والله تعالی واعلم

د مړي سره قبرستان ته شیریني او نور وړل او د تدفین بعد پر دې فاتحه ویلو سره تقسیم کول

سوال: (۷۲۶) د مړي سره قبرستان شکر یا ګړه یا هیل دانه وړي، بعد دفن پر دغه الحمد لله ویلو سره تقسیم کوي، دا فعل شرعًا صحیح دی کنه؟ (۱۳۴۰/۱۱۲۳ھ)

جواب: دا فعل صحیح نه دی، بلکي بدعت دی او مکروه دی. فقط والله تعالی اعلم

د صدقې پر مال اول فاتحه ویل بیا صدقه کول

سوال: (۷۲۷) د صدقه خیرات په وخت هغه مال چي د هغه صدقه کول منظور وي مخته ایښودلو سره سورة فاتحه او سورة اخلاص او نور ویلو سره چي میت ته ثواب بخښني دا جائز دي کنه؟ (۱۳۴۰/۵۵۴ھ)

جواب: دا جائز نه دي ځکه چي په دې کي خو داخل کول دي په شریعت کي هغه امر کوم چي داخل نه دی

او داغه اصل بدعت دی او د دې ماسیوا نور مفاسد هم له دغه التزام څخه ظاهر دی او عدام الناس دغه ضروري بولي له دغه څخه هر یوه وجه عدم جواز کافي ده. قال علیه الصلاة والسلام: من احدث في امرنا هذا ما لیس منه فهو رد الحدیث(۱) فقط والله تعالی اعلم

عاقبتي جوړې ورکولو رسم بدعت دی

سوال: (۷۲۸) زید انتقال وکړی، د ده انګه (چېنه) کومه چي ده صرف یو ځل په لوی اختر کي اغوستې ده هغه چېنه د ده په عاقبتي جوړه کي ورکول کېدای شي کنه؟ د دې ځای دستور په عاقبتي جوړه کي د چېني وکرته وپاجامه وسر پروني وخپلی جای نماز، وتسبیح و زمونځ وپنځه لوښي: بدنی، چیني، ګلاس، دیګ، توشي ورکولو دي، دا شرعًا جائز دی کنه؟ (۱۳۴۰/۱۲۵۳هـ)

جواب: شرعًا د رسم مذکور پابندي کول ناجائز دی، د عاقبتي جوړې رسم بدعت دی، د دې التزام دي ترک شي، بالغ ورثه ته اختیار دی چي هغه له خپلي برخي څخه کوم شی وغواړي په غرض ایصال ثواب میت ته دي صدقه کړي او د نالغانو برخه څوک نشي ورکولای، د هغه ورکول صحیح نه دی.

د انتقال په ورځ ډوډۍ کول بدعت دی

سوال: (۷۲۹) په کومه ورځ کوم سړی مړ شي د هغه وارث ډوډۍ کوي برابره ده که له کور څخه یا قرضه اخیستلو سره دا جائز دي کنه؟ (۱۳۴۲/۳۷۱هـ)

جواب: دا رسم بدعت دی او ګناه ده دا پرېښودل پکار دي فقط والله تعالی اعلم

پر چهلم نه کولو پنځوس روپۍ جرمانه اخیستل مسجد ته ورکول

سوال: (۷۳۰) زموږ په قوم کي څوک پر میت چهلم (څلوېښتمه) ونه کړي نو قوم والا یې جبرًا په کوي او د غریبانو پر ځای یې پخپله خوري، که ډوډۍ ونه کړي نو پنځوس روپۍ معاوضه اخلي او د مسجد په مرمت کي خرڅوي، دا جائز دي کنه؟ (۱۳۴۳/۲۲۸هـ)

---

۱) د دغه حدیث شریف تخریج د کتاب الایمان د سوال (۴۹۱) په جواب کي وګورئ.

جواب: د چهلم رسم مذکور به هیئت مذکوره بدعت او ناجائز دی، نو د قوم والاو دا فعل حرام دی او له دې څخه خوړل او روپیه اخیستل ناجائز او حرام دي فقط والله تعالی اعلم

د تدفین بعد حلقه جوړولو سره سورة مزمل ویل او اذان کول

سوال: (۷۳۱) مړی دفن کولو بعد حلقه جوړولو سره سورة مزمل ویل او خلو ښت ګامه لیري ولاړ شي، له قبر سره صرف یو سړی پاتیږي په لوړ آواز سره اذان کوي او دا ټول خلک پر خلو ښت ګامه دریږي، پر اذان پوره کېدو باندي راځي، دا صحیح دي کنه؟ (۱۳۴۳/۱۳۱۷ھ)

جواب: دا طریقه د سورة مزمل ویلو او اذان کولو د قبر سره بدعت دی، په شریعت کي ثابت نه دي او په حدیث شریف کي دي: حدث في امرنا هذا ما لیس منه فهو رد (۱) په شامي باب الجنائز کي دي: لا یسن الاذان عند ادخال المیت في قبره کما هو المعتاد الآن وقد صرح ابن حجر في فتاویه بأنه بدعة الخ (۲) (شامي:) فقط والله تعالی اعلم

د ثواب په نیت پر جنازه ګلان اچول

سوال: (۷۳۲) یو سړی په نیت د ثواب پر جنازه ګلان اچوي ایا دا فعل جائز دی کنه؟ د داسي جنازې لمونځ دي وشي کنه؟ (۱۳۴۵-۴۴/۱۲۳۲ھ)

جواب: پر جنازه ګلان اچول بدعت دی داسي نه وشي او لمونځ دي پر دغه جنازه وشي. فقط والله تعالی اعلم

قبر ته غنم وړلو سره تقسیم کول

سوال: (۷۳۳) قبر ته غنم وړل هلته تقسیم کول څرنګه دی؟ (۱۳۳۵/۱۰۲۲ھ)

جواب: ناجائز دی. فقط والله تعالی اعلم

---

۱) د دغه حدیث شریف تخریج د کتاب الایمان د سوال (۴۹۱) په جواب کي وګورئ.

۲) الشامي: کتاب الصلاة، باب صلاة الجنازة، مطلب في دفن المیت.

پر قبرو ګلان اچول او څادرونه اچول

سوال: (۷۳۴) پر قبرو ګلان يا د درختي شنې پاڼي يا ښاخلې اچول جائز دي کنه؟ (۱۳۴۳/۱۰۵۸هـ)

جواب: پر قبرو ګلان اچول مطلقًا بې اصل وناجائز دي او داسي عقيده ساتل هم صحيح نه ده د جواز که څه ګنجائش سته نو هغه صرف د يو درختي يا شنې ښاخلې لګولو دی: قال في البحر: وفي الظهيرية: ولو وضع عليه شيء من الاشجار او كتب عليه شيء فلا بأس به عند البعض(۱) (البحر الرائق) وفي الخانية: وعلى هذا قالوا: لا يستحب قلع الحشيش الرطب من غير حاجة الخ(۲) د هغه وجه فقهاوو دا بيان کړې ده چي تر څو پوري دغه شنه وي نو تسبيح کوي: لما في الاخضر من نوع الحياة، چي د ميت لپاره باعث انس وازاله وحشت دی، وما ورد في الحديث فهو مخصوص به عليه الصلاة والسلام (۳) فقط

---

۱) البحر الرائق شرح كنز الدقائق: ۳۴۰/۲، كتاب الجنائز، فصل السلطان احق بصلاته، تحت قوله: (ولا يجصص)

۲) الفتاوى الخانية على الفتاوى الهندية: ۱۹۵/۱، كتاب الصلاة اواخر باب في غسل الميت وما يتعلق به من الصلاة على الجنازة والتكفين وغير ذلك.

۳) يعني په حديث شريف کي د رسول الله صلى الله عليه وسلم کوم ارشاد وارد دی چي "تر څو پوري دغه ښاخلی وچې شوې نه وي اميد دی چي د دغه قبر والاو په عذاب کي به تخفيف کيږي" هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره خاص دی. شيخ عبد الحق محدث دهلوي رح د مشكاة شريف په عربي شرح کي "لمعات التنقيح" د مشهور حنفي فقيه ومحدث امام فضل الله توربشتي رحمه الله په حواله ليکي:

وقال التوربشتي: وجه هذا التحديد ان يقال انه سأل التخفيف عنهما عدة بقاء النداوة فيهما، وقول من قال: وجد ذلك ان الغصن الرطب يسبح لله مادام فيه النداوة فيكون مجيرًا عن عذاب القبر قول لا طائل تحته ولا عبرة به عند اهل العلم (لمعات التنقيح: ۴۴/۲، كتاب الطهارة، باب آداب الخلاء، الفصل الاول، رقم الحديث: ۳۳۸، المطبوعة: مكتبة العلمية لاهور)

ترجمه: امام توربشتي رحمه الله وفرمايل د دغه تحديد وجه دا ده چي رسول الله صلى الله عليه وسلم

سوال: (۷۳۵) پر قبرو او جنازه د ګلانو ښادر اچول شرعًا جائز دی کنه؟ له دغه څخه او ګل له تسبیح څخه میت ته ثواب رسیږي کنه؟ د ثواب عقیده ساتل صحیح ده کنه؟ (۱۳۴۵/۴۵۲هـ)

جواب: د وضع جرید له حدیث (۱) څخه ځینو علماوو پر قبرو او جنازه ګل او ریحان او نور اچول مستحب ګڼلی دی، لېکن د محققین له تصریح وتحقیق څخه دا معلومیږي چي د وضع جرید څخه تخفیف عذاب د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لاس لګولو او اینبولو او د ده د دعا له برکت څخه دی او دا خصوصیت د رسول الله صلی الله علیه وسلم دی، داغه وجه ده چي په قرن صحابه رضی الله عنهم کي د دې رواج نه شو او عام دول صحابه دغه معمول به جوړ نه کړی، بلکي دغه فعل او د دې له وجي تخفیف عذاب د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مخصوص وبولي او د حضرت بریده رضی الله عنه وصیت دربارهٔ وضع جرید په هکله جواب قسطلاني شارح بخاري رح دا ورکړی دی چي هغو حدیث وضع جرید عام وبلوي، حالانکه دا خصوصیت د رسول الله صلی الله علیه وسلم ؤ. (۲)

---

۱) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: مر النبي صلی الله علیه وسلم بقبرین یعذبان، فقال: انهما لیعذبان، وما یعذبان في کبیر، امام احدهما فکان لا یستتر من البول واما الآخر فکان یمشي بالنعیمة، ثم اخذ جریدة رطبة، فشقها بنصفین ثم غرز في کل قبر واحدة، فقالوا: یا رسول الله الم صنعت هذا؟ فقال: لعله ان یخفف عنهما ما لم ییبسا. (صحیح البخاري: ۱۸۲/۱، کتاب الجنائز، باب الجرید علی القبر الخ)

۲) واوصی بریدة الاسلمی ان یجعل في قبره جریدان ورای ابن عمر فسطاطا علی قبر عبد الرحمان، فقال: انزعه یا غلام! فانما یظله عمله الخ (ترجمة الباب للبخاري) وفي هامش البخاري: واما ما ورد عنه صلی الله علیه وسلم من وضع الجرید فهو خاص به صلی الله علیه وسلم واما ما مر من ایصاء بریدة رضی الله عنها فاجاب منه القسطلاني کان بریدة حمل الدیث علی عمومه ولم یره خاصًا ولکن الظاهر من تصرف المؤلف ان--

اقول وبالله التوفيق که في الواقع دا حکم عام وای نو د ده په زمانه کي او د ده بعد صحابه به په عامه طريقه پر دې عمل کاوی، حالانکي دا شان نه وشو کنې خامخا منقول به وای، لهذا استدلال کول له حديث مذکور څخه عامه طريقه سره وضع جريد پر جواز و استجاب صحيح نه دی، بيا پر دې قياس کولو سره ګل ريحان اچولو رسم مقرر کول په يوه حد د جواز کي نشي راتلای چيري به د دې سنت ومستحب کېدای ثابت وي، ماسېوا له دې نه دا لازم بلل يا عمل مثل واجب کول بالاتفاق جائز دی، ځکه امر مباح ومستحب هم له اصرار څخه مکروه وممنوع کيږي. کما روی عن ابن مسعود رضی الله عنه قال: لا يجعل احد کم للشيطان شيئًا من صلاته يری انه حقا عليه ان لا ينصرف الا عن يمينه، لقد رأيت رسول الله صلی الله عليه وسلم کثيرًا ينصرف عن يساره، متفق عليه(۱) قال صاحب المجمع في ص۲۴۱، واستنبط منه ان المندوب ربما انقلب مکروهًا اذا خيف ان يرفع عن رتبته(۲) قال الطيبي شارح مشکاة فيه: ان من اصر علی امر مندوب وجعله عزمًا ولم يعمل بالرخصة فقد اصاب منه الشيطان من الاضلال(۳) او در مختار وشامي او نورو کي دي: وکل مباح يؤدي اليه فمکروه. (۴)

قال العيني وغيره في حديث وضع الجريد: واما ما ورد عنه صلی الله عليه وسلم

-- ذلک خاص المنفعة بما فعله صلی الله عليه وسلم ببرکته الخاصة به، وان الذي ينفع اصحاب القبور انما هو الاعمال الصالحة، فلذلک عقبه بقوله ورای ابن عمر رضی الله عنهما فسطاطا انتهای وکذا في العيني (ترجمة باب البخاري: ۱۸۱/۱، کتاب الجنائز، باب الجريد علی القبر واوصی بريدة رضی الله عنه الخ وهامشه علی قوله اشدنا وثبة، رقم الهامش: ۱)

۱) مشکاة المصابيح: ص۸۷، کتاب الصلاة، باب الدعاء في التشهد، الفصل الاول وصحيح البخاري: ۱۱۸/۱، کتاب الاذان، باب الانفتال والانصرام عن اليمين والشمال، وصحيح لمسلم: ۲۴۷/۱، کتاب صلاة المسافرين وقصرها، باب جواز الانصراف من الصلاة عن اليمين والشمال.

۲) مجمع بحار الانوار: ۲۴۴/۲، باب الصاد مع الراء، المطبوعة مطبع نول کشور لکناؤ.

۳) مرقاة المفاتيح: ۲۲/۳، کتاب الصلاة، باب الدعاء في التشهد، رقم الحديث ۹۴۶

۴) الشامي: ۵۲۲/۲، کتاب الصلاة، باب سجود التلاوة، مطلب في سجدة الشکر.

من وضع الجريد فهو خاص به صلى الله عليه وسلم واما ما مر من ايصاء بريدة فاجاب منه القسطلاني: كان بريدة حمل الحديث على عمومه ولم يره خاصًا ولكن الظاهر من تصرف المؤلف ان ذلک خاص المنفعة بما فعله صلى الله عليه وسلم ببركته الخاصة به وان الذي ينفع اصحاب القبور انما هو الاعمال الصالحة فلذلک عقبه بقوله وراى ابن عمر رضى الله عنهما فسطاطًا. (۱)

وفي موضع آخر: وليس في الجريدة معنى يخصه وانما ذلک ببركة يده ولذا انكر الخطابي وضع الناس الجريد ونحوه على القبر مجمع البحار. (۲)

وذكر مسلم في آخر الكتاب في الحديث الطويل حديث جابر رضى الله عنه في صاحبي المقبرين: فاحببت بشفاعتي ان يرفه ذلک عنهما ما دام الغصنان رطبين الحديث (۳) فهذا هو المحتمل القريب في حديث ابن عباس رضى الله عنهما ايضًا.

وبالجملة انما ثبت بالحديث وضع الجريد على قبور المعذبين اما وضع الرياحين والبقول ونحوها على قبور اولياء الله الصالحين دون العصاة المعذبين اي الذين كان ظاهر حالهم الفسوق والعصيان كما يفعله كثير من المبتدعة في عصرنا فليس من اتباع هذا الحديث في شيء فمن شاء ان لا يغتر بتموية بعض الجهلة فلا يغتر، والله الموفق شبير احمد عثماني عفا الله عنه

قبر وينځل اوبه تبرکاً جمع کول او پر قبر څادر اچول

سوال: (۷۳۲) زيد هر كال د يو بزرګ پر قبر عرس كوي، د هغه صورت دا دى چي زيد خپل مريدانو سره پر يو تاريخ معينه باندي مقبره مذكوره ته ځي او يوه ځاه چي د مزار سره متصل ده له هغه څخه څو منګيه اوبه راوړي د ځاه ځاى پرېولي،

---

۱) هامش البخاري: ۱۸۲/۱. على قوله: اشدنا وثبة، رقم الهامش: ۱، كتاب الجنائز، باب الجريد على القبر الخ.

۲) مجمع بحار الانوار: ۴۹۸/۳، حرف الياء، باب يب ک

۳) الصحيح لمسلم: ۴۱۸/۲. كتاب الزهد، باب حديث جابر الطويل وقصة ابي اليسر.

او حاضرينو ته وايي که څوک بې اودسه دا ځاه ته راشي او زما په کار کي نقص راشي. نو د قيامت په ورځ زه د هغو لمن نيسم او قبر پر پرهولي مستعمل اوبه يې تبرکًا جمع کوي او پر قبر څادر اچوي او د مريدانو سره د مزار طواف کوي. دا افعال د زيد شرعًا جائز دی کنه؟ (۳۲/۲۲۱۹-۱۳۳۳هـ)

جواب: د زيد دا افعال شرعًا صحيح نه دي، دا بدعت او حرام دي فقط والله تعالى اعلم

د حصول مقصد لپاره پر قبرو ګلان اچول

سوال: (۷۳۷) پر قبرو ګلان اچول اولاد لپاره يا د يو بل مطلب لپاره صحيح دی کنه؟ (۱۳۳۵/۱۵۳۲هـ)

جواب: پر قبرو ګلان اچول به غرض استمداد وطلب حاجات جائز نه دی، بدعت او حرام دی. فقط والله تعالى اعلم

پر قبرو بيرغونه درول

سوال: (۷۳۸) پر قبرونو بيرغونه درول څرنګه دي؟ (۳۳/۷۶۲-۱۳۳۴هـ)

جواب: پر قبرو بيرغونه درول په زمانه رسول الله صلى الله عليه وسلم وصحابه وتابعين وائمه مجتهدين رضوان الله تعالى عليهم اجمعين کي ثابت نه دي او دا احداث في الدين دی، د دې په هکله رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: من احدث في امرنا هذا ما ليس منه فهو رد (۱) نو دغه امر بدعت او حرام دی او مرتکبين د دغه بدعت فاسقان ومبتدعين دي. فقط والله تعالى اعلم

پر قبر څادر اچول

سوال: (۷۳۹) پر قبر څادر اچول جائز دي کنه؟ (۱۳۳۵/۱۷۲۴هـ)

جواب: په شامي کي منقول دي: وتكره الستور على القبور (۲) لدغه عبارت څخه

---

۱) د دغه حديث شريف تخريج د کتاب الايمان د سوال (۴۹۱) په جواب کي وګورئ

۲) الشامي: کتاب الصلاة، باب صلاة الجنازه، مطلب في دفن الميت

ځادر او نور اچول مکروه معلوم. فقط والله تعالی اعلم

پر قبر اذان کول بدعت دی

سوال: (۷۴۰) پر قبر اذان کول صحیح دی کنه؟(۳۲/۲۰۷۵-۱۳۳۳هـ)

جواب: قال في الشامي: تنبيه: في الاقتصاد على ما ذكر من الوارد اشارة الى انه لا يسن الاذان عند ادخال الميت في قبره كما هو المعتاد الآن، وقد صرح ابن حجر في فتاويه بأنه بدعة الخ(۱) (شامي) له دې عبارت ځخه واضح شو چې مړی دفن کولو پر مهال اذان کول بدعت دی. فقط والله تعالی اعلم

د سجده عبادت وتعظيم او سجده تحيه حکم

سوال: (۷۴۱) زيد غير الله ته سجده تعظيمًا وعبادةً دواړي حرام بللو سره اول قسم سجده شرک نه بولي، لېکن عمر دواړه ډوله سجدو ته حرام او شرک وايي د چا قول صحيح دی؟(۱۳۴۳/۸۴۲هـ)

جواب: غير الله لپاره سجده تعظيمًا وعبادةً کول حرام او کفر دی، ځکه چې تعظيمًا سجده کول داغه عبادةً سجده ده، د دې وجې په در مختار کې سجده تعظيمًا وعبادةً دواړه کفر ليکلی دی او په دې کې اختلاف نشته دا متفق عليه کفر دی، مګر خلاف په هغه سجده کې دی چې د تحيه وسلام په ډول وي يعني د سلام پر ځای سجده وشي. په در مختار کې دي: وكذا.... تقبيل الارض بين يدى العلماء والعظماء فحرام، والفاعل والراضي به آثمان لأنه يشبه عبادة الوثن، وهل يكفر؟ ان على وجه العبادة والتعظيم كفر، وان على وجه التحية لا، وصار آثماً مرتكبًا للكبيرة انتهى ملخصًا وفي الشامي: وذكر صدر الشهيد انه لا يكفر بهذه السجود، لانه يريد به التحية وقال شمس الأئمة السرخسي: ان كان لغير الله تعالى على وجه التعظيم كفر، قال القهستاني:

---

۱) الشامي على الدر المختار: ۱۳۲/۳، کتاب الصلاة، باب صلاة الجنازة، مطلب في دفن الميت

وفي الظهيرية: يكفر بالسجدة مطلقًا الخ(۱) نو معلوم شو چي اختلاف څه دی هغه په سجده تحیه کي دی او سجده عبادت و سجده تعظیم په اتفاق کفر دی نو په حقیقت کي دا دوه قسمونه نه دي ځکه فقهاء سجده عبادت او تعظیم یو قسم شمار کوي او هغه کفر وایي لهذا په دغه کي قول عمر صحیح دی مګر په سجده تحیه کي اختلاف دی چي هغه کفر دی کنه؟ او د هغه په حرام او ګناه کبیره کېدو کي خلاف نشته. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۷۴۲)... (الف) د زید دا عقیده ده چي سجده سبوا الله که قبر ته وي یا بل څه ته حرامه ده شرک نه دی، که معبود بللو سره وکړي نو شرک دی، که شرک وای نو حضرت آدم وحضرت یوسف علیهما السلام ته سجده نه کېده، ایا په دې هکله شرک وشو کنه؟

(ب) د کوم سړي دا عقیده وي په هغه پسي لمونځ جائز دی کنه؟ (۸۴۴/۱۳۴۳هـ)

جواب: (الف) په در مختار او شامي کي منقول دي چي غیر الله ته تعظیمًا سجده کول هم په عبادت کي داخل دي او سجده تعظیم عین سجده عبادت ده چي په اتفاق سره کفر دی مګر په سجده تحیه کوم چي د سلام پر ځای کیږي اختلاف دی چي کفر ده کنه؟ مګر په حرام او ګناه کبیره کېدو هم اختلاف نشته او سجده حضرت آدم علیه السلام او حضرت یوسف علیه السلام په دې شریعت کي منسوخ شوې ده. (۲)

---

۱) الدر المختار مع رد المحتار: کتاب الحظر والاباحة، باب الستبراء وغیره.

۲) حضرت تهانوي رحمه الله د سجده تعظمی د منسوخ کېدو په دلیل کي د شل صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین روایتونه نقل کړي دي، لکه په بیان القرآن کي دي:

سجدة التحية كان مشروعًا في شرع من قبلنا ونسخ في شرعنا، والناسخ ما رواه الترمذي عن ابن هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: لو كنت امر احدًا ان يسجد لأحد، لأمرت المرأة ان تسجد لزوجها وفي العزيز: قال الشيخ: حديث صحيح اهـ وقال الترمذي: وفي الباب عن معاذ بن جبل وسراقة بن مالك وصهيب وعقبة بن مالك بن جعشم وعائشة وابن عباس وعبد الله بن ابي اوفى وطلق بن علي وام سلمة وانس وابن عمر اهـ.... فهذه اسانيد عديدة بعضها صحيح وبعضها حسن وبعضها ضعيف يقوى بآخر ومنتهى هذه الاسانيد الى عشرين صحابيًا لو اقتصرنا على الطريق المارة، والحديث اذا روى--

(ب) نو په زید مذکور پسي لمونځ صحیح نه دی، په در مختار کي دي: وهل یکفر؟ ان علی وجه العبادة والتعظیم کفر، زان علی وجه التحیة لا، وصار آثمًا مرتکبًا للکبیرة، انتهی ملخصًا. وفي الشامي: وذکر الصدر الشهید انه لا یکفر بهذا السجود، لأنه یرید به التحیة وقال شمس الائمة السرخسي: ان کان لغیر الله تعالی علی وجه التعظیم کفر اهـ قال القهستاني: وفي الظهیریة: یکفر بالسجدة مطلقًا (۱) (شامي، ج۵) بیا د دې وروسته علامه شامي تحقیق کړی دی چي حضرت ادم علیه السلام ته کومه سجده ملائکو کړې وه، هغه منسوخ شوه له دغه حدیث شریف څخه لو امرت احدًا ان یسجد لأحد لامرت المرأة ان تسجد لزوجها الخ، بیا لیکلي دي:

وکان جائزًا فیما مضی کما في قصة یوسف علیه السلام، قال ابو منصور

-- من عشرة فهو متواتر علی القول المختار کما في تدریب الراوي، فهذا الحدیث متواتر بالاولی وان اختلف احد في تواتره للاختلاف في العدد الذي یحصل به التواتر فلا یمکنه ان ینکر من کونه مشهورًا، ویکفی المشهور لنسخ المتواتر علی ما تقرر في الاصول، واطلنا الکلام فیه للضرورة الداعیة في هذا الزمان والا یکفینا اجماع الأمة (بیان القرآن ۲۲/۱، تفسیر آیته واذ قلنا للملائکة اسجدوا لآدم الآیة)

همدا شان حضرت مفتي شفیع صاحب علیه الرحمة آیت (لا تسجدوا للشمس ولا للقمر، آیة) په تفسیر کي لیکي: له دې آیت څخه ثابت شو چي سجده صرف د خالق کائنات حق دی، د ده ماسپوا یو ستوری یا انسان ته سجده کول حرام دي برابره ده که هغه د عبادت په نیت وي که محض د تعظیم وتکریم په نیت وي، په دواړو صورتونو کي په اجماع امت سره حرامه ده، فرق صرف دومره دی چي څوک د عبادت په نیت چا ته سجده کوي هغه کافر کیږي او چا چي محض د تعریم وتکریم لپاره سجده وکړه هغه ته کافر نه ویل کیږي، مګر ارتکاب حرام مجرم او فاسق ویل کیږي..... سجده عبادت خو د الله تعالی ماسپوا په یو امت وشریعت کي حلاله نه ده پاته شوې ځکه چي هغه په شرک کي داخله ده او شرک په ټولو شرائع انبیاء کي حرام پاته شوې ده مګر چا ته تعظیمًا سجده کول دا په مخکي شریعتونو کي جائزه وه دنیا ته راتلو مخکي حضرت آدم علیه السلام لپاره ټولو پرښتو ته د سجدې حکم وشو، یوسف علیه السلام ته د ده پلار او ورونو سجده وکړه د هغه ذکر په قرآن کي موجود دی، مګر په اتفاق فقهاء امت دا حکم په هغه شریعتونو کي وُ، په اسلام کي منسوخ کړل شو او غیر الله ته سجده مطلقًا حرام کړل شوه. (تفسیر معارف القرآن ۲۵۵/۷، تفسیر آیته لا تسجدو الشمس ولا للقمر الخ)

۱) الدر والرد: کتاب الحضر والاباحة، باب الاستبراء وغیره.

الماتريدي، وفيه دليل على نسخ الكتاب بالسنة (١) (شامي) نو له دغه عبارت څخه ټولي شبهات دفع شوې. فقط والله تعالى اعلم

سوال: (۷۴۳) يو رساله په اردو ژبه کي له دهلي څخه شائع شوې ده، په هغه د ننه ص۱۱-۱۲ کي ليکلي دي چي د سجده تعظيم انکار موجب لعنت شريف کي د سجده تعظيمي حکم فرښتو ورکول شوی دی، هغو تعميل وکړي نو پرښتې پاته شوې او ابليس انکار وکړی نو لعنتي پاته شوې او پرده په قرآن شريف کي د ابليس په هکله لفظ "ابى" (انکار وکړی) واستکبر (خپل ځان يې غټ وبولي) راغلی دی، له دې څخه معلوميږي چي سجده تعظيمي انکار کونکی هم خپل ځانونه غټ ګڼلو سره دا شان کوي، د دوی دغه فعل د ابليس په شان موجب لعنت دی، انتهی، دا شان عقيده ساتونکی او داسي ليکونکی شرعاً څرنګه دی؟ (۱۲۸۸/۱۳۴۲هـ)

جواب: هغه سجده کومه چي حضرت ادم عليه السلام ته وشوه په اتفاق د اهل اسلام منسوخه شوه په شريعت محمديه صلوات الله وسلامه على صاحبها کي سجده د غير الله لپاره قطعًا جائز شوې نه ده، نو دغه تقرير کوم صاحب رساله ليکلی دی سراسر غلط او افتراء او تحريف او ابطال شريعت دی، په شامي کي دي: تتمة اختلفوا في سجود الملائكة قيل كان الله تعالى، والتوجه الى ادم للتشريف كاستقبال الكعبة وقيل بل لآدم على وجه التحية والاكرام، ثم نسخ بقوله عليه الصلاة والسلام لو امرت احدًا ان يسجد لأحد لأمرت المرأة ان تسجد لزوجها (تاترخانيه) قال في تبيين المحارم: والصحيح الثاني ولم يكن عبادة له بل تحية واكرامًا ولذا امتنع عنه ابليس، وكان جائزًا فيما مضى كما في قصة يوسف عليه السلام قال ابو منصور الماتريدي: وفيه دليل على نسخ الكتاب بالسنة الخ (٢) (شامي: ۲۴۲/۵)

---

١) تتمة اختلفوا في سجود الملائكة قيل: كان الله تعالى، والتوجه الى آدم لتشريف، كاستقبال الكعبة، وقيل: بل لآدم على وجه التحية والاكرام، ثم نسخ بقوله عليه الصلاة والسلام: لو امرت احدًا .... تاترخانية قال في تبيين المحارم: والصحيح الثاني ولم يكن عبادة له تحية واكرام، ولذا امتنع عنه ابليس، وكان جائزًا الخ (رد المحتار على الدر: ۴۲۸/۹، كتاب الحظر والاباحة، باب الاستبراء وغيره)

٢) الشامي: ۴۲۸/۹، كتاب الحظر والاباحة، باب الاستبراء وغيره.

وګورئ له عبارت څخه ظاهر شو چي حضرت آدم علیه السلام ته کومه سجده ملائکو وکړه یا حضرت یوسف علیه السلام ته د ده ورونو وکړه هغه په مخکي شریعت کي جائز وه او زموږ په شریعت کي منسوخ شوه، نو د دې څخه استدلال کول باطل دی او داسي عقیده ساتونکی او لیکونکی مفتری کذاب دی. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۷۴۴) یو سړی پرته له غیر الله ته تعظیمًا سجده نه کوي بلکي تعظیمًا سجده کولو ته حرام ویلو سره وايي چي ماسیوا له خبر واحد: لو کنت آمر احدًا ان یسجد لاحد لامرت المرأة ان تسجد لزوجها (۱) څخه په بل دلیل سره سجده تعظیمی کومه چي په شرائع سابقه کي شوې وه منسوخ کېدل نه معلومیږي او له دغه حدیث شریف څخه هم په حیثیت خبر واحد کېدو ناسخ کتاب کېدو کي شبه باقي پاته کیږي، لهذا د پر ډېر له دغه حدیث شریف همدا شان له آیت قرآني: "لا تسجدوا للشمس الآیة" (سورة حم السجد، آیت: ۳۷) څخه در صورت وحدت حکم که ثابت کېدای شي نو صرف دا چي سجده غیر الله ته کول حرام دی، کفر نه ثابتیږي، که تسلیم کړل شي چي سجده تعظیم کول کفر دی نو د دغه کفر انکار کوم چي له نص قطعي څخه ثابت دی کفر به وي کنه؟ او د دغه کفر په منکر پسي لمونځ کول جائز دی کنه؟ (۱۳۴۳/۹۴۴ھ)

جواب: د یو حکم قرآن د منسوخ کېدو معنی څه وخت په ذهین کي کښیني هغه وخت پرته دا فهمول کیږي چي په حدیث شریف سره حکم قرآن منسوخ کېدای شي، نو واضح دي وي چي د منسوخ معنی دا ده چي هغه حکم تر فلانکي وخته پوري یا فلانکی زماني پوري ؤ، او رسول الله صلی الله علیه وسلم خو د قرآن معنی بیان کونکی دی او د ده بیان د یو حکم په هکله واجب العمل دی، لکه پرته په قرآن شریف کي ارشاد دی: (لتبین الناس ما نزل الیهم) (سورة نحل، آیت: ۴۲) ترجمه: چي ته یې بیان کړې خلکو ته معنی د قرآن منزل، نو کله دي د یو حکم قرآن په هکله دا بیان کړی چي حکم مذکور په فلانکي زمانه کي ؤ او د مخکي امتو لپاره ؤ اوس هغه حکم نه دی، نو دا امر له نص قرآني څخه ثابت دی چي د ده دا بیان واجب العمل دی، لهذا حدیث ناسخ قرآن کېدای شي پرته خاص له قرآن شریف څخه ثابت دی او خبر واحد کېدل دې ته مضر نه دی کله هغه حدیث صحیح دی،

۱) عن ابي هریرة رضی الله عنه النبي صلی الله علیه وسلم قال: لو کنت آمر احدًا الحدیث (جامع الترمذي: ۲۱۹/۱، ابواب الرضاع، باب ماجاء في حق الزوج علی المرأة)

ځکه خبر واحد کېدل زموږ په اعتبار سره دي، کنې کومو خلګو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه کوم حکم اورېدلی دی، هغه مثل د قرآن د حکم واجب العمل دی. فقط والله تعالی اعلم

له خدای تعالی څخه پرته هیچا ته سجده کول جائز نه ده

سوال: (۷۴۵) قوله تعالی: (اسجدوا لادم) (۱) (وخروا له سجدا) (سورة یوسف، آیت: ۱۰۰) له دغو آیتونو څخه سجده ثابته ده کنه؟ (۱۳۴۱/۹۷۷هـ)

جواب: دا کیسه د عالم تکلیف نه ده، لهذا له دې څخه استدلال صحیح نه دی، په شریعت کې هیچا ته سیوا له خدای تعالی جائز نه ده. فقط والله تعالی اعلم

خپل مرشد ته سجده تحیه کول جائز ده کنه؟

سوال: (۷۴۶) د انسان انسان ته د تحیې سجده کول جائز ده کنه؟ یو جماعت د بنګال د علماوو یې جائز بولي، پر دغه بناء دېر خلګ مرشد ته سجده کوي، دلیل د جواز یې دا دی چې الله تعالی آدم علیه السلام مسجود ملائکه جوړ کړی او یعقوب علیه السلام او د هغه زامنو یوسف علیه السلام ته سجده وکړه نور او نور او په احادیثو کې چې کوم نهي وارد دي، هغه له اخبار آحاد څخه دي نو خبر واحد ناسخ د قرآن نشي کېدای، که څوک ووایي چې شرائع متقدمه منسوخ شوي دي نو جواب ورکوي چې د کوم په خلاف زموږ په شریعت کې نص وارد شوی دي، هغه منسوخ دی او د کوم په خلاف چې نص وارد شوی نه وي، هغه منسوخ نه دی، د عدم جواز دلائل مفصل تحریر کړئ (۵۰۹/۳۵-۱۳۳۶هـ)

جواب: سجده کول چا ته ماسېوا له الله تعالی جائز نه ده، بلکې حرام وناجائز ده، برابره ده که تحیه وي که تعظیمًا وي، مګر خلاف په دې کې دی چې د تحیې په سجده سره کافر کېږي کنه؟ قال في الدر المختار: وکذا ما یفعلونه من تقبیل الارض بین یدي العلماء والعظماء فحرام، والفاعل والراضي به آثمان؛ لانه یشبه عبادة الوثن وهل یکفر؟ ان علی وجه العبادة والتعظیم کفر، وان علی

---

۱) سورة بقره، آیت: ۳۴، سورة اعراف، آیت: ۱۱، سورة بني اسرائیل، آیت: ۲۱، سورة کهف، آیت: ۵۰، سورة طه، آیت: ۱۱۲

وجه التحية لا، وصار آثما مرتكبا للكبيرة، وفي الملتقط التواضع لغير الله حرام الخ(١)

وفي الشامي: قوله: (ان على وجه العبادة والتعظيم كفر) تلفيق لقولين، قال الزيلعي: وذكر الصدر الشهيد انه لا يكفر بهذا السجود، لانه يريد به التحية، وقال شمس الائمة السرخسي: ان كان لغير الله تعالى على وجه التعظيم كفر اهـ قال القهستاني: وفي الظهيرية: يكفر بالسجدة مطلقًا الخ.

تتمة: اختلفوا في سجود الملائكة، قيل: كان الله تعالى: والتوجه الى آدم للتشريف، كالستقابال الكعبة، وقيل: بل لآدم على وجه التحية والاكرام، ثم نسخ بقوله عليه الصلاة والسلام: "لو امرت احدا ان يسجد لاحد لامرت المراة ان تسجد لزوجها" تاترخانية. قال في تبيين المحارم: والصحيح الثاني: ولم يكن عبادة له بل تحية واكراما ولذا امتنع عنه ابليس وكان جائزًا فيما مضى كما في قصة يوسف عليه السلام، قال ابو منصور الماتريدي: وفيه دليل على نسخ الكتاب بالسنة (١)

نو معلوم شو چي سجده غير الله ته مطلقًا حرامه ده او اختلاف سجده تحيه په كفر كېدو كي دی، په حرمت كي خلاف نشته او له شرائع انبياء سابقين څخه استدلال هغه وخت صحيح كېږي چي زموږ په شريعت كي د هغه انكار نه وي او چي انكار ثابت شو نو استدلال له هغه څخه باطل دی. فقط والله تعالى اعلم

د پير قبر ته سجده تعظيمي كول جائز ده كنه؟

سوال: (۷۴۷) د يو سړي پير صاحب انتقال شوی و، كله چي كال پوره شو نو د دوی د پير صاحب پر تاريخ وفات يا مريد صاحب له خپل لوري يو ورځ يا يو تاريخ مقرر كولو سره خلګو ته دعوت وركړ چي قبر ته ځو، قرآن ختمو، نو خلګ هلته ولاړل او د ختم قرآن بعد قوالي او نور هم وشو، پر منع كولو دا جواب وركړ چي د فقير دربار دی، تو خلګ خپله برخه اخلي او د ياد شوي سړي حالت دا دی چي د پير قبر ته سجده كوي او پر منع كولو وايي چي سجده د تعظيمي ده او موږ د خدای نور ته سجده كوو، ايا په سجده تحيه او سجده تعظيمي كي توپير شته؟ په قبرستان كي خوراک څښاک كول او د غه ډول رسومات كول

١) الدر المختار ورد المحتار: ۵/۲۷۱-۲۷۲، كتاب الحظر والاباحة، باب الاستبراء وغيره. ط رشيديه

جائز دي کنه؟او کوم خلک چي په داسي مجالس کي شریک وي، هغه څرنګه دي؟(۱۳۳۷/۱۲۲۷هـ)

جواب: د تحیې سجده او د سجده تعظیمي او د عبادت سجده کي بې شکه ځینو فقهاوو فرق کړی دی چي سجده تحیه ته کفر نه وایي او سجده تعظیمي او سجده عبادت ته کفر وایي، لېکن په حرام کېدو کي دواړي برابري دي، یعني سجده تحیه هم حرامه او ګناه کبیره ده، مرتکب د دې فاسق مردود الشهادة دی، په درمختار کي دي:

وكذا ما يفعلونه من تقبيل الارض بين يدي العلماء والعظماء فحرام، والفاعل والراضي به آثمان؛ لانه يشبه عبادة الوثن وهل يكفر؟ان على وجه العبادة والتعظيم كفر، وان على وجه التحية لا، وصار آثماً مرتكباً للكبيرة، وفي الملتقط التواضع لغير الله حرام الخ (۱) قوله (ان على وجه العبادة والتعظيم كفر) تلفيق لقولين، قال الزيلعي: وذكر الصدر الشهيد انه لا يكفر بهذا السجود، لانه يريد به التحية، وقال شمس الائمة السرخسي: ان كان لغير الله تعالى على وجه التعظيم كفر اهـ قال القهستاني: وفي الظهيرية: يكفر بالسجدة مطلقًا الخ، وفي الزاهدي: الايماء في السلام الى قريب الركوع كالسجود الخ (۱)

الحاصل: د سجده تحیه په حرمت کي هیڅ کلام نشته، لهذا سجده غیر الله تعالی هیڅ ډول صحیح نه ده او عرس د بزرګانو کوم چي مشتمل پر بدعاتو ورسوماتو محدثه دي د هغه په ناجائز کېدو کي څه تردد دی؟ او روایات موضوعه شائع کول او اورول او په خپل عمل په کول او په بل عمل په کوم نامناسب، حرام او ناجائز دی او په داسي مجالس کي شریک کېدل حرام او ناجائز دي.

غیر الله ته سجده تعظیمي کول حرام ده

سوال: (۷۴۸) سجده تعظیمي لغیر الله بزرګان دین ته جائز ده کنه؟ پخپله سجده کونکی او په بل سجده کونکی د کومي ګناه مرتکب دی؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۵۹۲هـ)

جواب: سجده تعظیمي بزرګان دین وغیرهم ته حرام ده، سجده کونکی فاسق او ګمره دی، خوف د کفر دی، په درمختار کي دي: وكذا ما يفعلونه من تقبيل الارض بين يدي العلماء والعظماء فحرام، والفاعل والراضي به آثمان، لانه يشبه عبادة الوثن، وهل يكفر؟ ان على وجه العبادة والتعظيم كفر، وان على وجه التحية لا، وصار آثماً مرتكبا لكبيرة،

---

۱) الدر المختار ورد المحتار: ۲۷۱/۵، کتاب الحظر والاباحة باب الاستبراء وغيره. ط رشیدیه

وفي الشامي: قال القهستاني: وفي الظهيرية: ويكفر بالسجدة مطلقًا الخ. (١) فقط والله تعالى اعلم

سوال: (۷۴۹) يو حاجي صاحب له مولوي صاحب څخه پوښتنه وکړه چي يو سړی بل سړي ته سجده کولای شي کنه؟ مولوي صاحب ورته وويل نشي کولای، بلکې کوم څوک چي سجده کوي هغه شیطان دی، کله چي حاجي صاحب دا جواب واوریدی نو ډېر خفه شو او مولوي صاحب ته يې بدي خبري وکړې، تر دې چي وهلو ته يې تيار شو، په دغه صورت کي د مولوي صاحب قول صحيح دی کنه؟ او د حاجي صاحب لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۴۷-۴۲/۱۰۸۵هـ)

جواب: کوم جواب چي مولوي موصوف صاحب ورکړی دی، هغه صحيح دی، موافق د کتاب وسنت وتصریحات فقهاء رحمهم الله دی او مولوي صاحب ته چي چا دې وجې بدي خبري او توهين وتذليل وکړی، هغه فاسق او مرتکب کبيره شو، قال في الدر مختار: وكذا ما يفعلونه من تقبيل الارض بين يدي العلماء والعظماء فحرام، والفاعل والراضي به آثمان؛ لانه يشبه عبادة الوثن وهل يكفر؟ ان على وجه العبادة والتعظيم كفر، وان على وجه التحية لا، وصار آثمًا مرتكبا للكبيرة، وفي الملتقط التواضع لغير الله حرام الخ، وفي الشامي: قوله (ان على وجه العبادة الخ)ـــ قال الزيلعي: وذكر صدر الشهيد انه لا يكفر بهذا السجود، لانه يريد به التحية، وقال شمس الائمة السرخسي: ان كان لغير الله تعالى على وجه التعظيم كفر اهـ قال القهستاني: وفي الظهيرية يكفر بالسجدة مطلقًا، وفي الزاهدي: الايماء في السلام الى قريب الركوع كالسجود الخ (١)

له دغه عبارت څخه واضح شو چي غير الله ته سجده عند البعض کفر ده او عند البعض فسق ومعصية وکبيره ګناه ده، مباح په يو حال کي نه ده، لهذا د مولوي صاحب قول صحيح دی او د ده قول رد کونکی خاطي وفاسق دی. فقط

د يوسف عليه السلام له کيسې څخه د سجده تعظيمي جواز ثابتول صحيح نه دي

سوال: (۷۵۰) د يوسف عليه السلام په کيسه کي راغلي دي: (ورفع ابويه على العرش وخروا له

---

١) الدر المختار ورد المحتار: ٢٧١/٥، كتاب الحظر والاباحة، باب الاستبراء وغيره. ط رشيديه

سجداً) (سورة یوسف، آیت: ۱۰۰) په جلالین کې دي: (وخروا له سجداً) سجود انحناء لا وضع جبهة وکان تحیتهم في ذلک الزمان کالسلام والمصافحة والقیام في زماننا ، وعن ابن عباس رضی الله عنهما معناه خروا لاجله سجداً لله شکراً. (۱) صاحب جلالین ومحشي د سجده معنی په انحناء سره اخلیو حالانکه په قرآن مجید کي د سجدې لفظ صریح دی، بیا په دې کي د تاویل ضرورت نه ؤ او د عبد الله ابن عباس رضی الله عنهما قول خو د دي معارض دی، د دې وجي هم باید هغه د منلو وړ نشي ، بناءً علیه وابن عباس رضی الله عنهما قول کوم چي د قرآن مجید د هغه مضمون معارض معلومیږي، کوم چي الله تعالی د یوسف علیه السلام په ژبه فرمایي: (یا ابت هذا تاویل رؤیای) (سورة یوسف، آیت: ۱۰۰) او د رؤیاي په بیان کي دا الفاظ دي: (رأیتهم لي ساجدین) (سورة یوسف، آیت: ۴) له دې څخه ثابتیږي چي سجده د الله تعالی د شکریه نه وه، بلکي خاص یوسف علیه السلام ته شوې وه، که دغه صحیح وي نو د تعظیمي سجدې څرنګه ثبوت دی، که وویل شي چي په مخکي زمانه کي سجده تعظیمي جائز وه او په شریعت کي ناجائز شوه نو د دې په ثبوت کي قرآن دلیل په کار دی، په قرآن مجید کي چي تر کومه پوري د عبادت غیر الله نهي په آیتو کي وارد ده، له هغه څخه د تعظیم نهي مصرح نه شي کېدای. (۱۳۳۸/۱۳۲۲هـ)

جواب: په دې کي د څه بحث ضرورت نشته چي مراد له سجده څخه سجده د انحناء ده یا وضع جبهة، ځکه چي د شریعت اسلام کي دواړي ممنوع دي او د مخکي شریعت احکام ثابت نه پاته کیږي د کومو چي په شریعت اسلام کي انکار نه وي شوی او چي په شریعت محمدیه علی صاحبها الصلاة والتحیة کي د دې انکار وارد دی. (۲) لکه چي ظاهره ده، نو د مخکي انبیاء علیهم السلام حکم باقي نه پاته کیږي. فقط و الله اعلم

---

۱) تفسیر جلالین وهامشه: ص۱۹۸، تفسیر سورة یوسف، رقم الحاشیة: ۱۷

۲) عن قیس بن سعد رضی الله عنه قال: اتیت الحیرة فرأیتهم یسجدون لمر زبان لهم، فقلت: لرسول الله صلی الله علیه وسلم احق ان یسجد له.... فقال: لا تفعل، لو کنت امر احدا لان یسجد لامرت النساء ان

تر انتقال وروسته په قریبانو ډوډۍ خوړل او د هندوانو لپاره وره، وریجي، دال او نورو انتظام کول

سوال: (۷۵۱)..... (الف) دلته رواج دی چي د متوفي د مړ کېدو بعد په قریبانو ډوډۍ خوري، دا صحیح دی کنه؟ او د دې ثواب متوفي ته رسیږي کنه؟

(ب) د هندوانو لپاره وړه، وریجي، دال، غوړي او نورو انتظام کیږي، دا صحیح دي کنه؟ او د دې ثواب میت ته رسیږي کنه؟ (۱۱۱۱/۴۲-۱۳۴۷ھ)

جواب: (الف) د دغه رسم ورواج ډوډۍ د قریبانو لپاره خوړل صحیح نه ده او په دې کي ثواب نشته

(ب) دا هم صحیح نه دي او د دې ثواب متوفي ته نه رسیږي. فقط والله تعالی اعلم

دریمه، څلویښتی، نذر او د هندوانو دیارلسمه خوړل جائز ده کنه؟

سوال: (۷۵۲) د دریمي او څلویښتی ډوډۍ خوړل جائز دي کنه؟ او مسلمانانو ته د هندوانو دیارلسمه خوړل جائز دي کنه؟ (۱۸۲۹/۴۲-۱۳۴۷ھ)

جواب: د ایصال ثواب اموات لپاره کومه ډوډۍ پخیږي برابره ده که د دریمي څلویښتمي په نامه پخه شي، د دغه ډوډۍ مستحق فقراء ومساکین دي، اغنیاء ته د هغه خوړل جائز نه دي، لهذا هغه ډوډۍ په فقراء مساکین خوړل په کار دي او رسوم څلویښتم او نورو تخصیص بدعت دی، دغه ترک کول په کار دي، ښه طریقه د ایصال ثواب دا ده چي بلاتعیین د ورځي او تاریخ څه وخت څه ملاو شي، نغدي، کپړې، ډوډۍ، هغه په پټه فقراء ته ورکولو سره دي د هغه ثواب اموات ته ورسول شي، که هندو د یو مسلمان لپاره هدیه څه ډوډۍ میتهایي راولیږي، نو مسلمان ته د هغه اخیستل او خوړل جائز دي. فقط والله تعالی اعلم

له قبرستان څخه پر اویا ګامه فاصله د فاتحه ویلو رواج بدعت دی

سوال: (۷۵۳) له قبرستان څخه بیرته راوتلو سره اویا ګامه فاصله راتلو سره فاتحه او نور

یسجدن لازواجهن..... رواه ابو داؤد. (مشکاة المصابیح ص۲۸۲، باب عشرة النساء الخ، کتاب النکاح، الفصل الثالث)

ویل څرنګه دي؟ (۱۰۲۰/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: بدعت دی او غیر ثابت دی. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۷۵۴) میت دفن کولو سره ځیني خلک او یا ګامه راتلو سره فاتحه وايي، جائز ده کنه؟ (۲۳۱۲/۱۳۳۸هـ)

جواب: د دې هیڅ اصل نشته. فقط والله تعالی اعلم

د میت پر مکان جمع کېدو تر درو ورځو پوري فاتحه ویل

سوال: (۷۵۵) د میت پر مکان جمع کېدو سره تر درو ورځو پوري فاتحه ویل لاس پورته کولو سره څرنګه دي؟ (۱۳۴۳/۱۳۳۹هـ)

جواب: دا بدعت دی، دا شان نه دي کول پکار. فقط والله تعالی اعلم

د انتقال خبر راتللو سره فاتحه ویلو لپاره خلک جمع کول

سوال: (۷۵۶) له ډېره وخته دلته د یو رسم پابندي کیږي، هغه دا چې د بل ځایه د یو چا د انتقال خبر د یا بل شي په ذریعه راشي، نو د میت خپلوان واقارب کوم چې دلته موجود دي، د هغو له طرفه خلکو ته خبر ورکول کیږي چې له فلانکي ځای څخه د فلانکي د مرګ خبر راغلی دی، د دې وجې په فلانکي مکان کې پر وقت معین مثلاً پر درې بجې فاتحه خواني به وي، نو ټول خلک واقارب، دوت واحباب هلته جمع کیږي او لوبان (خوشبو یه لرګي) دودوي او امام صاحب سورة فاتحه، قل هو الله، آیت الکرسي او نور آیتونه ویلو سره مع حاضرین مجلس لاس پورته کولو سره دعا کوي، داسې چې هر څو ځله خلک راځي مولوي صاحب او خلک لاسونه پورته کړي د مړي لپاره دعا کوي، د داسې رسوم څه حکم دی؟ او په داسې رسوم کې شریک کېدل جائز دي کنه؟ (۱۸۸/۱۳۴۱هـ)

جواب: دغه رسم او رواج کوم چې مذکور دی، په شریعت کې د دې هیڅ اصل نشته او ثابت نه دی، په شریعت کې صرف تعزیت مشروع دی چې که د چا په کور کې میت وشي، د یو ځای څخه خبر راشي نو هغه له ورشئ، کلمات تعزیت ورته ووایئ، د هغو تسلي وکړئ او د صبر تلقین ورکړئ، باقي جمله رسوم سورة فاتحه او نور ویلو سره لاس پورته کول په وار وار دعا کول ثابت نه دي

او بدعت دی نو امام مذکور ته له اوله دغه رسم ادا کول نه دي پکار او په داسي رسوم کي شرکت صحیح نه دی. فقط والله تعالی اعلم

فاتحه د یوولسمي او د رجب (د خدای تعالی میاشت) په نذر او نورو رسمو کي شریک کېدل

سوال: (۷۵۷) اکثر اهل اسلام فاتحه د یوولسمي او د رجب د میاشتي نذر د امام جعفر صادق رحمه الله او د میت لسمه خلوېښتمه او نور په مقرره ورځو کي کوي، ایا دا جائز دي؟ بعض اصحاب نوي د خاورو ظروف استعمالولو سره پر وریجو ږدي او خوراکي توکي له ماښام مخکي ختمول ضروري بولي او د کور دباندي نه راوړي او نور، داسي دعوت قبلولو سره شریکېدل جائز دي؟ همدا شان د خوراکي شیانو سره د عود لرګي دودوي، فاتحه ویل کیږي، ایا دا طریقه جائز ده؟ (۲۹۳/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: په شریعت کي د دغه رسوم په هیئت کذائیه هیڅ اصل نشته او التزام ما لایلزم دی او په حدیث شریف کي دي: من احدث في امرنا هذا مالیس منه فهو رد (۱) لهذا اهل اسلام ته له دغه بدعات ومخترعاتو څخه احتراز کول لازم دي او په داسي دعوت کي شریک کېدل جائز نه دي. فقط

د تدفین پر مهال پر لږ خاورو قل ویلو سره د میت تر سر لاندي ایښودل

سوال: (۷۵۸) د مړي په قبر کي ایښودلو پر وخت خلک لږ خاوري په لاس کي واخلي، قل پر ووایي، هغه خاوري د مړي تر سر لاندي ایږدي، جائز دي کنه؟ (۱۳۴۳/۱۳۴۱هـ)

جواب: دا جائز نه دي فقط والله تعالی اعلم

په دې خیال سره چي د جمعرات په ورځ ارواح خپلو کورونه راځي ډوډۍ پخول او پر هغه ختم کول څرنګه دي؟

سوال: (۷۵۹) د جمعرت په ورځ په تیره بیا ډوډۍ پخول او پر هغه ختم کول او دا خیال کول

---

۱) د دغه حدیث شریف تخریج د کتاب الایمان د سوال (۴۹۱) په جواب کي وګورئ

چي په دغه ورځ ارواح خپلو کورو ته راځي، څرنګه دي؟(۹۹۵/۴۴-۱۳۴۵ھ)

جواب: د دې هیڅ پوره ثبوت په شریعت کي نشته او داسي عقیده ساتل او د دغه ورځ خصوصیت بللو سره ډوډۍ او نور ورکول جائز نه دي. فقط والله تعالی اعلم

د عرس پیل څرنګه وشو؟

سوال: (۷۷۰) عرس څه شي دی؟ او شرعًا د دې څه اصل شته کنه؟ ویل کیږي چي رقص و وجد د ښځینه سره اهل عرس کوي او همدا شان په زنانو سجده کوي؟ (۱۳۴۲/۱۲۳ھ)

جواب: د عرس اصل صرف دومره قدر و چي د یو بزرګ پر مزار د هغه خدام ومریدین جمع کېدو سره ختم قرآن شریف او نور یې کاوه، بیا کرار کرار په دې کي انضمام د بدعاتو ورسوم وشو، د دې وجي لائق ترک شو او د غزل او اتڼ په مجالس کي شریک کېدل صحیح نه دي او پخپله سجده کول او په بل کول قبرو ته حرام دي، له دې اجتناب لازم دی او په داسي مجلس کي شرکت هم ناجائز دی. فقط والله تعالی اعلم

د حضرت مجدد صاحب رحمه الله په عرس کي هم منکرات وبدعات مشاهد دي

سوال: (۷۷۱) د عرس په هکله څه تحقیق دی؟(۱۳۴۲/۴۴۰ھ)

جواب: محقق امر داغه دی چي پر تاریخ معین کوم عرس کیږي، دا له بدعت څخه خالي نه دی، اول خو یو عرس له بدعت ومنکراتو څخه خالي نشته، دوهم التزام تاریخ معین چي عوامو ته د دې د لزوم و وجوب اعتقاد وي، جائز نه دی، په خپله د حضرت مجدد صاحب علیه السلام عرس سره د دې چي مزامیر او نور نشته کي او ختم قرآن شریف او نور زیات په کي کیږي، لېکن په هغه اجتماع کي هم منکرات وبدعات مشاهد دي، د نزدې او لیري ښځو را جمع کېدل، د عوامو تارکینو صلاة وغیرهم اجتماع، بیا پر روضه امور خلاف شرع د سجدې او نورو کېدل پخپله مشاهده شوي دي، د دې وجي امر محقق داغه دی چي داسي وخت نه تلل احوط دی، که څه هم په اصل کي جائز وو چي صلحاء جمع کېدو سره ایصال ثواب ختم او نور وکړي، پر داغه بناء د ځینو اکابرو داسي ځایونه تلل منقول دي، مګر اوس په هغه کي ډیر امور داخل کړي دي، هغه خلک پېژني کوم چي پر موقع هلته موجود شوي دي

او زه هم اوس پخپله تجربه سره احوط عدم شرکت بولم، که څه هم په هغه کي نفع هم شته، مګر مضار د دې تر نفع زیات دي او دا هم ظاهر دي چي کوم امور په اصل کي جائز وي، که اتفاقًا په نیک نیتۍ سره یا په یو خاص غرض دیني سره په هغه کي شرکت وکړي نو د دغه خاص غرض دیني سره په هغه کي شرکت وکړي نو د دغه خاص سړي لپاره دا امر موجب طعن نه دی، لیکن ټول جوانب لحاظ کولو سره او عوامو صحیح کولو لپاره دا خبره ضروري ده چي خواص هم له دې څخه احتراز وکړي. فقط والله تعالی اعلم

ثواب ګڼلو سره په عرس کي شریک کېدل جائز دي کنه؟

سوال:(۷۲۲) د بزرګانو پر مزارو چي کوم عرس کیږي، په هغه کي په نیت د ثواب شریک کېدل جائز دي کنه؟ (۱۳۴۱/۱۲۹۵هـ)

جواب: ایام معینه کوم چي د مبتدعین په نزد مروج دي، بالکل بې اصل دي، برابره ده که ورځ کال (کال پوره شي) یا لومړۍ ورځ یا دریمه ورځي وي، کما في الشامي نقلاً عن البزازیة ویکره اتخاذ الطعام في الیوم الاول والثالث وبعد الاسبوع ونقل الطعام الی القبر في المواسم، واتخاذ الدعوة القراءة القرآن وجمع الصلحاء والقراء للختم او لقراءة سورة الانعام او الاخلاص ملخصًا (۱) (۹۴۰/۱) له دغه عبارتونو څخه واضح شو چي د اعراسو او نورو ارتکاب مکروه دی نو کوم مجلس چي د ارتکاب مکروهات ومنهیات لپاره منعقد شوی وي، په هغه کي شریک کېدل جائز نه دي. قال تعالی: (فلا تقعد بعد الذکری مع القوم الظالمین) (سورة انعام، آیت: ۶۸) فقط.

عرس کول او قوالي او نور ویل او اورېدل څرنګه دي؟

سوال: (۷۲۳) مزارو ته تلل او یو تاریخ مقرر کولو سره عرس کول او قوالي او نور ویل اورېدل څرنګه دي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۱۸۹هـ)

جواب: حرام دي، په درمختار کي دي: وفي السراج: ودلت المسئلة ان الملاهي کلها

---

۱) الشامي: ۶۲۴/۱، کتاب الصلاة، باب صلاة الجنازة، مطلب في کراهیة الضیافة من اهل المیت ط رشیدیه

حرام، ويدخل عليهم بلا اذنهم لانکار المنکر، قال ابن مسعود رضی الله عنه: صوت اللهو والغناء ينبت النفاق في القلب کما ينبت الماء النبات الخ. (۱) فقط والله اعلم

سوال: (۷۲۴) د عرس پر مهال په احاطه درګاه او په مقبره ومسجد کي دننه او احاطه کي کومي قوالي، غزلي، ډولونه او نور کيږي، د دې لپاره شرعي حکم څه دی؟ (۱۳۴۵/۲۰۹۲هـ)

جواب: قوالي، غزلي، باجې نلې او نور ټول مزاميو شرعًا حرام دي او دغه شيان ذکر الهي بلل سخته کبيره (ګناه) ده او خوف د کفر دی، په درمختار کي دي: ودلت المسئلة ان الملاهي کلها حرام، ويدخل عليهم بلا اذنهم لانکار المنکر، قال ابن مسعود رضی الله عنه: صوت اللهو والغناء ينبت النفاق في القلب کما ينبت الماء النبات، قلت: وفي البزازية: استماع صوت الملاهي کضرب قصب ونحوه حرام لقوله عليه الصلاة والسلام: استماع الملاهي معصية والجلوس عليها فسق والتلذذ بها کفر اي بالنعمة، فصرف الجوارح الی غير ما خلق لاجله کفر بالنعمة لا شکر، فالواجب کل الواجب ان يجتنب کي لا يسمع لما روی انه عليه الصلاة والسلام ادخل اصبعه في اذنه عند سماعه، واشعار العرب لو فيها ذکر الفسق تکره انتهی، وفي الشامي: قوله: (قال ابن مسعود الخ) رواه في السنن مرفوعًا الی النبي صلی الله عليه وسلم بلفظ: ان الغناء ينبت النفاق في القلب کما في غاية البيان وقيل: ان تغني ليستفيد نظم القوافي ويصير فصيح اللسان لا بأس به، وقيل: ان تغني وحده لنفسه لدفع الوحشة لا بأس به، وبه اخذ السرخسي: وذکر شيخ الاسلام ان کل ذلک مکروه عند علمائنا، واحتج بقوله تعالی: (ومن الناس من يشتري لهو الحديث الاية) [لقمان: ۲] جاء في التفسير: ان المراد الغناء وجمل ما وقع من بعض الصحابة علی انشاد الشعر المباح الذي فيه الحکم والمواعظ، فان لفظ الغناء کما يطلق علی المعروف يطلق علی غيره کما في الحديث: من لم يتغن بالقرآن فليس منا، وتمامه في النهاية وغيرها. (۲) فقط والله تعالی اعلم

---

۱) الدر المختار معرد المحتار: ۲۴۵/۵، کتاب الحظر والاباحة ط رشيديه

۲) الدر المختار مع رد المحتار: ۲۴۵/۵، کتاب الحظر والاباحة ط رشيديه

د دف په روايت قوالي او رقص ثابتول

سوال: (۷۲۵).... (الف) قوالي او حال كول چي نن سبا مروج دي، شرعًا د دوى څه حكم دى؟ په داسي محفلو كي شريكېدل او هغه جائز بلل څرنګه دي؟

(ب) سماع ورقص (اتڼ) په زمان نبوي او صحابه كرام و اولياء عظام كي په هيئت كذائيه مروجه زمانه هذا مروج وو كنه؟

(ج) د كومو دلائلو څخه پر سماع ورقص استدلال كيږي مثلاً په اعلان نكاح كي دف (دريا) وهل او په حضور نبوي كي د جارياتو غزلي او دغه ډول روايتونو باندي قوالي او رقص ثابتول صحيح دي كنه؟ (۱۸۲۸/۱۳۳۸هـ)

جواب: (الف) د دې په بدعت او ممنوع كېدو كي هيڅ شبه نشته، په داسي محافل كي شريكېدل جائز نه دي او جائز بلونكي خاطي وعاصي دى.

(ب) سماع ورقص كوم چي مروج دي، د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ثابت نه دي او د سلف په زمانه كي دا نه ؤ، له دې څخه احتراز لازم دى، والله تعالى ولي التوفيق.

(ج) له دغه روايتونو څخه هيڅكله پر رقص ومزامير مروجه استدلال نشي كېداى. فقط والله تعالى اعلم

پر مزار ډول وهل اتڼ او نور كول

سوال: (۷۲۲) د بزرګان دين پر مزار اهل اسلام لره ډول وهل اتڼ او نور كول جائز دي كنه؟ خصوصًا په داسي حالت كي چي مزار د جامع مسجد په احاطه كي دننه وي؟ (۱۹۰۵/۲۹-۱۳۳۰هـ)

جواب: دا ناجائز او حرام دي. فقط والله تعالى اعلم

ميله كلير ته تلل او د غټ پير صاحب يوولسمه كول

سوال: (۷۲۷) ميله پيران كلير ته تلل او د غټ پير صاحب يوولسمه كول جائز دي كنه؟ (۷۱۲/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: میله پیران کلیر او نورو ته تلل او یوولسمه کول او هغه ضروري بلل او پر معین تاریخ د هغه التزام کول دا ټول د جاهلانو رسمونه دي او دا بدعت وناجائز دي، دغه پرېښودل په کار دي، مه میلې ته ځئ، مه یوولسمه جوړوئ، دا امور د اهل سنت وجماعت له مسلک خلاف دي فقط

سوال: (۷۲۸) اکثر اهل اسلام د میاشتې په یوولسمه د پیران پیر په نوم نذر ځینې شیدې او ځینې غله او ځینې حلوا پخه کړي، في سبیل الله یې تقسیموي او د دغه نذر نوم یوولسمه ده، دا جائز دي کنه؟ (۱۳۳۷/۲۸۱۴هـ)

جواب: د دغه طریقه مروجه هیڅ اصل په کتب معتبره کې نشته، د ایصال ثواب کومې طریقې چې د عامة المسلمین څخه واخله تر رسول الله صلی الله علیه وسلم پورې دي، هغه د هر یو لپاره دي، د هیڅ تخصیص نشته، بناءً علیه دغه شان طریقې نه صحیح او نه د دې څخه د ثوابَ امید شته فقط والله تعالی اعلم

د اولیاء الله قبروته په دې خیال سره چې هغه موږ ته نفع رسوي تلل څرنګه دي؟

سوال: (۷۲۹) د پیرانو او اولیاء الله قبرو ته په دې خیال سره تلل چې هغه موږ ته څه فائده رارسوي، ایا هغه فائده رسولای شي کنه؟ (۱۳۳۸/۱۸۲۲هـ)

جواب: د نفع وضرر مالک خدای تعالی دی، یو بنده خپل نفس ته او بل ته بې له حکم الهي واراده الهي نقصان او نفع نشي رسولای، لکه په قرآن شریف کې په ډېرو آیتونو کې دا مضامین موجود دي، قال الله تعالی: (قل لا املک لنفسي نفعًا ولا ضرًا الا ماشاء الله ولو کنت اعلم الغیب لا ستکثرت من الخیر وما مسنی السوء ان انا الا نذیر وبشیر لقوم یؤمنون) (سورة اعراف، آیت: ۱۸۸)

ترجمه: ای محمد (صلی الله علیه وسلم) وایه زه د خپل نفس د نفع ونقصان مالک او مختار نه یم، مګر کوم څه چې الله وغواړي هغه کیږي، که ما غیب پېژندای نو ډېر ښه به مې جمع کړي وای او ما ته به بد نه رسیدای، زه صرف ویرونکی یم او زیری ورکونکی یم، ایمان والاوو ته

بزرګان دین مزار ته تلو او فاتحه ویلو څخه فرائض او سنن مکافات نه کیږي

سوال: (۷۷۰) یوه ټولی د اهل اسلام فرائض او واجب و سنن نه ادا کوي او د مسجد د غیر ابادی هیڅ خیال نه کوي او نه اولاد ته تعلیم ورکوي او د بزرګانو د فاتحې داسې انتظام کوي که په کور کې څه نه وي نو په سود روپۍ واخلي په دېر درب سره فاتحه کوي او د واده د فاتحه په دعوت کې یو بل رابولي او دا عقیده ده چې د بزرګانو مزار ته تلل او فاتحه ویل د فرضو ځای نیسي اولاد ته تعلیم نه ورکول او په داسې کارو کې روپیه صرف کولو سره حق اولاد ادا کیږي؟ (۱۳۳۴-۳۳/۱۰۳۸ھ)

جواب: دا ټولې د جهل خبرې دي، داسې رسوم ادا کولو سره او په هغه کې روپۍ خرڅولو سره ګناهګاریږي، د فرضو او واجباتو ځای چیرې نیولای شي؟ ! او د اولاد حق له دې څخه نه ساقطیږي. فقط والله تعالی اعلم

د انتقال پر ځای او قبر باندې تر څلویښت ورځو پورې څراغ بلول

سوال: (۷۷۱) د انتقال پر ځای او قبر باندې تر څلویښتو ورځو پورې څراغ بلول شرعًا تر کومه پورې صحیح دي؟ (۱۳۳۸/۱۵۱۸ھ)

جواب: ناجائز او حرام دي. فقط والله تعالی اعلم

د شامي له عبارت څخه پر قبرو څراغ لګول جواز نه ثابتیږي

سوال: (۷۷۲) یو سړی وایي چې شامي: جلد ثاني: ص۱۳۹ څخه معلومیږي چې تقرب الی الله قصد کولو په حالت کې شمع وزیت وغیره د اولیاء الله پر مزار جائز دي، دا صحیح دي که نه؟ (۱۳۳۷/۳۲۲ھ)

جواب: عبارت در مختار په دې هکله دا دی: واعلم ان النذر الذي یقع للاموات

من اكثر العوام وما يؤخذ من الدراهم والشمع والزيت ونحوها الى ضرائح الاولياء الكرام تقربًا اليهم فهو بالاجماع باطل وحرام ما لم يقصدوا صرفها لفقراء الانام الخ. او په شامي كي دي: اللهم الا ان قال: يا الله! اني نذرت لک ان شفيت مريضي او رددت غائبي او قضيت حاجتي ان اطعم الفقراء الذين بباب السيدة نفسية الخ او اشترى حصرًا لمساجدهم او زيتًا لوقودها او دراهم لمن يقوم بشعائرها الى غير ذلک مما يكون فيه نفع للفقراء الخ. (۱)

نو له دغه رواياتو څخه پر قبرو د څراغ لګولو جواز نه ثابتيږي، بلكې د دغه رواياتو حاصل خو دا دی چې د بزرګانو پر مزارو او خانقاو كې كوم فقراء دي، د هغو د استعمال او نفع لپاره د الله تعالی لپاره كه دغه اشياء تيل وروپيه پيسه او نور وركول شي نو صحيح دي، پر قبرو او مزارو څراغ لګول له دغه رواياتو څخه يو ډول نشي ثابت كېدای او دا څرنګه جائز كېدای شي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم پر قبر څراغ لګونكي لعنت كړي دي؟ ! عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: لعن رسول الله صلی الله عليه وسلم زائرات القبور والمتخذين عليها المساجد والسراج. (۲) (رواه ابو داؤد والترمذي والنسائي) نو تحقيق دا غه دی چې پر قبرو او مزارو څراغ لګول حرام او تضييع د مال دی. فقط والله اعلم

د ښځو خپلو عزيزانو او بزرګانو قبرو ته تلل

سوال: (۷۷۳) ښځې د خپلو عزيزانو او بزرګانو قبرو ته تلای شي كنه؟ (۱۳۳۷/۲۷۲هـ)

جواب: په دې كې اختلاف دی او احوط دا غه دی چې ښځو ته د قبرو زيارت ته نه دي تلل په كار.

---

۱) الدر المختار ورد المحتار: ۱۳۹/۲، كتاب الصوم، باب ما يفسد الصوم وما لا يفسده مذلب في النذر الذي يقع للاموات من اكثر العوام من شمع او زيت او نحوه. ط رشيديه

۲) سنن ابي داؤد: ۴۲۱/۲، كتاب الجنائز باب في زيارة النساء القبور.

وسنن الترمذي: ۷۳/۱، ابواب الصلاة، باب ما جاء في كراهية ان يتخذ على القبر مسجدًا.

وسنن النسائي: ۲۲۲/۱، كتاب الجنائز، التغليظ في اتخاذ السرج على القبور.

كما في شرح المنية: ويستحب زيارة القبور للرجال وتكره للنساء.(۱) فقط والله اعلم

سوال: (۷۷۴) زیارة قبور للنساء په هکله علماء حنفیه څه فرمايي؟ بلا کراهت جائز دی، که مع الکراهة؟ (۱۳۳۷/۱۹۱۷ھ)

جواب: راجح عند المحققین کراهت دی، په شامي کې دي: وجزم في شرح المنية بالكراهة لما مر في اتباعهن الجنازة الخ.(۲) فقط والله تعالى اعلم

سوال: (۷۷۵) په دغه زمانه د فسق وفجور کې مسلمانو ښځو ته د اعراس په موقع مزارات اولیاء الله ته تلل از روی فقه حنفي جائز دي کنه؟ (۱۳۴۳/۴۵۹ھ)

جواب: فقهاء حنفیه ښځو لره مساجد ته جماعت کې شریک کېدو لپاره تللو اجازت نه دی ورکړی او حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمايي چې که رسول الله صلی الله علیه وسلم په دنیا کې وای نو ښځې به يې مسجدو ته له تللو څخه منع کړې وای.(۳) او په در مختار کې دي: ويكره حضورهن الجماعة الخ (۴) نو کله چې مسجدو ته د جماعت لپاره تللو څخه منع کړل شوې نو د دې څخه ظاهر دي چې اعراس اولیاء الله تعالى ته تلل په اولی درجه ناجائز دي، لهذا مسلمانانو ته په دې هکله ډېر احتیاط کول په کار دي، خپلو ښځو ته هیڅکله عرسو او میلو کې د شرکت لپاره تللو اجازه ورنه کړئ. فقط والله تعالى اعلم

مصنوعي قبر جوړول او د ښځو قبرو ته تللو سره نذر منل

سوال: (۷۷۶) د یو پیر مصنوعي قبر جوړول او د هغه زیارت کول صحیح دی کنه؟ او د ښځو تلل او

---

۱) شرح منية المصلى المعروف بالكبيري: ص۵۲۴، فصل في الجنائز، مسائل متفرقة من الجنائز.

۲) الشامي: ۶۲۵/۱، كتاب الصلاة، باب صلاة الجنائز، مطلب في زيارة القبور. ط رشيديه

۳) عن عائشة رضي الله عنها قالت: لو ادرک رسول اله صلى الله عليه وسلم ما احدث النساء لمنعهن المسجد كما منعت نساء بني اسرائيل الحديث (صحيح البخاري: ۱۲۰/۱، كتاب الاذان، باب خروج الى المساجد بالليل والغلس)

۴) الدر المختار مع رد المحتار: ۴۱۸/۱، كتاب الصلاة، باب الامامة، مطلب اذا صلى الشافعي قبل الحنفي هل الافضل الخ. ط رشيديه

نذر منل څرنګه دي؟ (۱۳۳۷/۱۲۷۴هـ)

جواب: مصنوعي قبر جوړول او د ښځو قبرو ته تلل او نذر منل او د شرعي خلاف کارونه کول، دا ټول محدث وبدعت وحرام دي، قال علیه الصلاة والسلام: من احدث في امرنا هذا ما لیس منه فهو رد (۱) وقال صلی الله علیه وسلم: کل بدعة ضلالة الحدیث (۲) وفي الدر المختار: واعلم ان النذر الذي یقع للاموات من اکثر العوام وما یؤخذ من الدراهم والشمع والزیت ونحوها الی ضرائح الاولیاء الکرام تقربا الیهم فهو بالاجماع باطل وحرام الخ (۳) وتحقیقه في الشامي (۴) (۱۲۸/۲) فقط والله تعالی اعلم

مصنوعي مزار د بېخه کښل ضروري دي

سوال: (۷۷۷) د یو مسجد مخته یو مصنوعي مزار جوړ شوی دی، هغه کښېل شرعًا جائز دي کنه؟ (۱۳۴۳/۵۱۳هـ)

جواب: دغه مصنوعي مزار نړول صحیح دي، بلکي ضروري دي. فقط والله تعالی اعلم

قبرونه په خټو ګلول جائز دي کنه؟

سوال: (۷۷۸) ایا د اولیاء الله مزارونه او مساجدو ته ګل ورکول د باران لپاره جائز دي کنه؟ (۱۳۳۷/۲۵۹۰هـ)

---

۱) د دغه حدیث شریف تخریج د کتاب الایمان د سوال (۴۹۱) په جواب کي وګورئ.

۲) د دغه حدیث شریف تخریج د کتاب الایمان د سوال (۷۱۷) په جواب کي وګورئ.

۳) الدر المختار مع رد المحتار: ۳۹۷/۳، کتاب الصوم، باب ما یفسد الصوم وما لا یفسده، مطلب في النذر الذي یقع للاموات من اکثر العوام من شمع او زیت او نحوه. ط رشیدیه

۴) قوله: (باطل وحرام) لوجوه: منها انه نذر لمخلوق والنذر للمخلوق لا یجوز، لانه عبادة والعبادة لا تکون لمخلوق، ومنها: ان المنذور له میت، والمیت لا یملک، ومنها: انه ان ظن ان المیت یتصرف في الامور دون الله تعالی واعتقاده ذلک کفر الخ. (الشامي: ۱۳۹/۲، کتاب الصوم، باب ما یفسد الصوم وما لا یفسده، مطلب في النذر الذي یقع للاموات الخ. ط رشیدیه)

جواب: فقهاء رحمهم الله تعالی لکه چي تجصیص د قبورو منع کړي دي، تطیین د قبور يې هم مکروه لیکلی دی او د تطیین معنی د ختو ګل ورکول دي او دا ظاهره ده چي په دغه حکم کي جمله اهل قبور داخل دي او که څه هم تطیین قبور بعض فقهاء جائز فرمایلی دی، لیکن ښه ترک تطیین دی چي امر مختلف فیه اختیار کول د احتیاط خلاف دی، خصوصًا چي اختلاف په کراهت وعدم کراهت کي وي چي په داسي موقع کي کراهت ته ترجیح ورکول کیږي، په درمختار کي دي: ولا یجصص... ولا یطین، ولا یرفع علیه بناء وقیل: لا بأس به الخ (۱) والتفصیل في الشامي (۲) فقط والله تعالی اعلم

پر قبرونو داني ډوډۍ، اچول حیوان د دوی په نامه کول او ذبح کول

سوال: (۷۷۹) ایا د اولیاء الله پر قبرونو داني یا ډوډۍ یا یو حیوان پرېښودل یا ذبح کول لکه نن سبا چي کیږي، جائز دي کنه؟ او داسي عمل ته مستحسن ویونکو څه حکم دی؟ (۲۵۲۰/۱۳۳۷هـ)

جواب: د قبرو سره دغه امور مذکوره کول صحیح نه دي، بلکي حرام او بدعت دی، په درمختار کیي دي: واعلم ان النذر الذي یقع للاموات من اکثر العوام وما یؤخذ من الدراهم والشمع والزیت ونحوها الی ضرائح الاولیاء الکرام تقربا الیهم فهو بالاجماع باطل وحرام الخ (۳) وفي الحدیث: ملعون من ذبح لغیر الله تعالی او کما قال صلی الله علیه وسلم

---

۱) الدر المختار مع الشامي: ۲۲۲/۱، کتاب الصلاة، باب صلاة الجنازة، مطلب في دفن المیت ط رشیدیه

۲) قوله: (وقیل لا بأس به الخ) المناسب ذکره عقب قوله: (ولا یطین) لان عبارة السراجیة کما نقله الرحمتي ذکر في تجرید ابي الفصل ان تطیین القبور مکروه، والمختار انه لا یکره اهـ... واما البناء علیه فلم ار من اختار جوازه. وفي شرح المنیة عن منیة المفتي: المختار انه لا یکره التطیین، وعن ابي حنیفة رحمه الله یکره ان یبنی علیه بناء من بیت او قبة او نحو ذلک الخ. (الشامي: ۲۲۲/۱، کتاب الصلاة، باب صلاة الجنازة، مطلب في دفن المیت ط رشیدیه)

۳) الدر المختار مع رد المحتار: ۱۳۹/۲، کتاب الصوم، باب ما یفسد الصوم وما لا یفسده، مطلب في النذر الذي یقع للاموات الخ. ط رشیدیه

وسلم(۱) وفي حديث مسلم: لعن الله من ذبح لغير الله تعالى الحديث(۲) نو مرتکب د دغه امور محدثه او جائز ویونکي دې ته فاسق ومبتدع دي. فقط والله تعالیٰ اعلم

د قبر سره قاریان د تلاوت لپاره کښینول او د بزرگانو نذر ونیاز صحیح دی کنه؟

سوال: (۷۸۰)... (الف) لا يكره الدفن ليلا ولا اجلاس القارئين عند القبر وهو المختار، فتح القدير: ۳۰۱/۷، فتاوی قاضي خان: ص۷۸، فتاوی عالمگیري: ۱۳۳/۲، مجمع الانهر: ص۱۸۸، درر الحكام: ص۱۲۸، خلاصة القاري: ص۳۴۴، فتاوی غیاثیه: ص۴۵، فوائد سمیه: ص۱۴۴، کبیري: ص۵۲۴، صغیري، روح الباري، فتاوی مصري، الدر المختار: ۱۴۵/۳ او نور کتب فقه کي په علامت د فتوی لیکل دي، ایا دغه مسئله صحیح ده که غلطه؟

(ب) مظاهر حق باب النذر کي فاتحه بزرگان دین او نذر ونیاز د هغو صحیح او جائز لیکلی دی او خوړل د هغه روا دي(۳) یا دغه مسئله صحیح ده که غلطه؟ (۲۲۷۱/۱۳۳۷هـ)

---

۱) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: قال النبي صلی الله علیه وسلم: ملعون من سب اباه ملعون من سب امه، ملعون من ذبح لغير الله تعالى الحديث (مسند الامام احمد بن حنبل: ۸۳/۵، تتمة مسند عبد الله بن عباس رضی الله عنهما، رقم الحديث: ۲۹۱۴، المطبوعة: مؤسسة الرسالة، بيروت)

۲) عن ابي الطفيل قال: قلنا لعلي رضی الله عنه: اخبرنا بشيء اسره اليک رسول الله صلی الله علیه وسلم فقال: ما اسر الی شيئا کتمه الناس ولكني سمعته يقول: لعن الله من ذبح لغير الله الحديث (الصحيح لمسلم: ۱۶۱/۲، کتاب الذبائح، باب تحريم الذبح لغير الله تعالى ولعن فاعله)

۳) مظاهر حق عبارت دا دی:

که څوک یو بزرگ ژوندي ته څه د نذر په ډول یعني بر وصله او تحفه ورکړي نو دغه نذر جائز او بزرگ لره د هغه خوړل جائز دي، دغه شان که یو نذر د یو مړ بزرگ وکړي، په معنی د فاتحه او ثواب رسولو د دغه شي ده ته، دا نذر جائز دی او خوړلو کي تفصیل دی او هغه دا دی که ورکونکی--

جواب: (الف) لوجه الله میت لپاره قرآن شریف ویلو سره ثواب ورسول ښه دي او په دې کي د هیڅا خلاف نشته، لېکن استیجار علی التلاوة کوم چي مروج دی، دا صحیح نه دی، لکه په شامي کي دي: وفي الولو الجیة ما نصه: ولو زار قبر صدیق او قریب له وقرا عنده شیئا من القرآن فهو حسن، اما الوصیة بذلک فلا معنی لها، ولا معنی ایضا لصلة القاري، لان ذلک یشبه استیجاره علی قراءة القرآن وذلک باطل، ولم یفعل ذلک احد من الخلفاء الخ (۱) والتفصیل في باب الاجارة الفاسدة (۲) نو دغه وجي دي چي له امله په دغه زمانه کي اجلاس القاري منع کیږي.

(ب) ایصال ثواب د اموات لپاره په استحباب کي هیڅ تأمل نشته، بلاقیود ورسوم مخترعه ایصال ثواب الی الاموات جائز دی، داغه مطلب د عبارت مظاهر حق دی. فقط والله تعالی اعلم

پر مزارو د طوائفو سره اتڼ کول او د هغو خوله مچول

سوال: (۷۸۱) پر مزارو نو په تیره بیا د رنډیو او بد چلنده ښځو راغونډېدل څنګه دي؟ مولوي شرف الحق پر ډول باندي ورسره اتڼ کوي او انجوني پر خولو مچوي داسي

== بزرګانو ته ماکولي صدقه ثواب رسولو اراده کړې وي نو خوړل د دغه شي اغنیاء ته جائز نه دي اکه رسول د ماکولي ثواب د اباحت د عام مؤمناتو لپاره وي نو د هر وړي لپاره د دې خوړل جائز دي، که غني وي که فقیر. (مظاهر حق قدیم: ۲۳۰/۳، کتاب العتق، اول باب الایمان والنذور، مطبوعه مطبع آسي، لکهنؤ)

۱) الشامي: ۳۹/۵، کتاب الاجارة، باب الاجارة الفاسدة، مطلب تحریر مهم في عدم جواز الاستئجار علی التلاوة الخ ط رشیدیه

۲) فالحاصل: ان ماشاع في زماننا من قراءة الاجزاء بالاجرة لایجوز، لان فیه الامر بالقراءة واعطاء الثواب للآمر والقراءة لاجل المال؛ فاذا لم یکن للقاري ثواب لعدم النیة الصحیحة فاین یصل الثواب الی المستاجر؟! ولو لا الاجرة ما قرأ احد لاحد في هذا الزمان بل جعلوا القرآن العظیم مکسبا ووسیلة الی جمع الدنیا، انا لله وانا الیه راجعون اهـ (الشامي: ۳۹/۵، کتاب الاجارة، باب الاجارة الفاسدة، مطلب تحریر مهم في عدم جواز الاستئجار علی التلاوة الخ ط رشیدیه)

افعال څرنګه دي؟ (۱۳۳۲/۲۲۷۳هـ)

جواب: پر مزارات مقدسه د مستورات فاحشه او نورو اجتماع خصوصًا د نارینه وو سره لکه په اعراس مشائخ کي کیږي، بالکل حرام دي او د ډول او نورو مزامیرو اورېدل او اتڼ او غورځیدل او د لغړځنو تقبیل او نور کول دا ټول حرام دي او مرتکب د داسي امور فاسق او بد کار دی، که داسي سړي ته هم مولوي وویل شي نو د هغو په کولو سره دا امور نشي جائز کېدای، بلکي مولوي کېدو سره داسي څوک کار کوي، هغه نور زیات مستحق د رټني ولعن دی، په حدیث شریف کي دي: ان شر الشر شرار العلماء(۱) یعني بد ترین له ټولو بد ترو څخه بد علماء دي **فقط والله تعالی اعلم**

د فاحشه ښځو پر مزاروا اتڼ کول موجب لعنت دی

سوال: (۷۸۲) د مغنیاتو فاحشاتو پر قبرو او مزارونو د بزرګانو اتڼ کول رخصت لري کنه؟ (۱۳۴۱/۱۲۱۸هـ)

جواب: عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم زائرات القبور والمتخذین علیها المساجد والسرج اخرجه النسائي(۲) ایضًا وروی الترمذي حدیث ابي هریرة رضی الله عنه: ان رسول الله صلی الله علیه وسلم لعن زوّارات القبور. ثم قال: وقد رای بعض اهل العلم ان هذا کان قبل ان یرخص النبي صلی الله علیه وسلم في زیارة القبور، فلما رخص دخل في الرخصة الرجال والنساء، وقال بعضهم: انما کره زیارة القبور في السناء لقلة صبرهن وکفرة جزعهن(۳) وقال ابن عبد البر: ولقد کره اکثر العلماء خروجهن الی الصلوات فکیف الی مقابر؟! وبسط الحافظ بدر الدین العیني الکلام في هذا، وقال في آخره: وحاصل الکلام من هذا کله:

---

۱) عن الاحوص بن الحکیم عن ابیه رضی الله عنه قال: سأل رجل النبي صلی الله علیه وسلم عن الشر، فقال: لا تسئلوني عن الشر وسلوني عن الخیر، یقولها ثلاثا، ثم قال: ان شر الشر الحدیث (مشکاة المصابیح ص۳۷، کتاب العلم، الفصل الثالث)

۲) سنن النسائي: ۲۲۲/۱، کتاب الجنائز، التغلیظ في اتخاذ السرج علی القبور.

۳) جامع الترمذي: ۲۰۳/۱، ابواب الجنائز، باب ما جاء في کراهیة زیارة القبور للنساء.

ان زيارة القبور مكروهة للنساء، بل حرام في هذا الزمان، ولا سيما نساء مصر. (۱)

له دغه نصوصو څخه ثابت شو چي د ښځو قبرو ته د امور منهيه د ارتکاب له وجي راتلل موجب د لعنت دی او کوم څوک چي باعث او ممد د منهياتو وي، هغه هم عاصي دی، د نفس زيارت اجازت صرف عجائز ته دی، كما في الشامي تحت قوله (ولو للنساء) وقال الخير الرملي: ان كان ذلك لتجديد الحزن والبكاء والندب على ما جرت به عادتهن فلا تجوز، وعليه حمل حديث لعن الله زائرات القبور، وان كان للاعتبار والترحم من غير بكاء والتبرك بزيارة قبور الصالحين فلا بأس اذا كن عجائز، ويكره اذا كن شواب الخ ملخصًا. (۲) (۹۴۲/۱)

خلاصه دا ده که غرض صحيح وي نو صرف عجائز ته اجازه ده او پيغلو ښځو ته په يو حال کي هم د زيارت قبور اجازه نشته فقط والله تعالى اعلم

د زيارت قبور يوه غير مشروع طريقه

سوال: (۷۸۳) کله چي د قبر زيارت ته څوک ورشي نو د قبلې له خوا راشي قبر له سر څخه تر پښو پوري درې يا پنځه ځله اوبه پاشي او يوه دعا ده، هغه وايي نو د ميت مغفرت به کيږي، دا صحيح دي کنه؟ (۱۷۰۵/۱۳۳۸ھ)

جواب: د قبر د زيارت دا طريقه د شرعي خلاف ناروا ده. فقط والله تعالى اعلم

د پيرانو پر نامه وزه ساتل

سوال: (۷۸۴) پر قبرو څادر اچول جائز دي کنه؟ او د پيرانو پر نامه وزه ساتل جائز دي کنه؟ او کوم سړی چي دغه جائز بولي، هغه څرنګه دی؟ او څوک چي ناجائز بولي، هغه څرنګه دی؟ (۲۲۹/۱۳۴۱ھ)

جواب: پر قبرونو څادر اچول صحيح نه دی، بلکي بدعت او ناجائز دی او د پيرانو پر نامه وزه ساتل هم جائز نه دي او کوم سړی چي له دغو امورو څخه منع وکړي او ناجائز يې وبولي هغه پر حق دی او صحيح

---

۱) عمدة القاري: ۹۵-۹۲، كتاب الجنائز، باب زيارة القبور، الحديث ۱۲۸۳

۲) الشامي: ۲۲۵/۱، كتاب الصلاة، باب صلاة الجنائز، مطلب في زيارة القبور. ط رشيديه

وایي. فقط والله تعالی اعلم

په هدیره کي د بزرګ د واسطې دعا کول

سوال: (۷۸۵)... (الف) د مجدد الف ثاني امام رباني علیه الرحمه پر مزار په زمانه د عرس کي تلو سره دعا کول چي الله تعالی زما مشکلات حل کړي، جائز دي کنه؟

(ب) خپل مشکلات د معروضات و پریشاني څه ډول عرض کړي؟ (۱۳۴۱/۳۸۷ھ)

جواب: (الف) د عرس له موقع سیوا بل وخت زیارت ته تللو کي مضائقه نشته، پر دغه موقع عرس ته ندي تلل په کار، ځکه دغه موقع له خاص منکراتو څخه خالي نه وي او هلته د برکاتو حاصلولو لپاره او هلته تلو سره دعا کولو لپاره خاص د عرس پر موقع ضرورت نشته

(ب) د الله تعالی څخه دي داسي دعا وکړي: یا الله! په برکت د دغه قبر د صاحب زما حاجت پوره کړه. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۷۸۶) که یو سړی د یو چا مزار ته ولاړ شي، داسي دعا وکړي چي ای قبر والاو! د الله او رسول لپاره دي زما فلانکی کار وشي، دغه ډول رابلل جائز دي کنه؟ (۱۳۴۵/۲۰۷۳ھ)

جواب: دغه ډول بزرګان رابلل او دعا کول جائز نه دي، مګر که دا ووایي چي ای الله! په برکت د دغه بزرګ یا په طفیل د دغه ولي الله زما حاجت او مقصد پوره ړه، نو دا جائز دي، قال الله تعالی: (ادعوا ربکم تضرعا وخفیة) (سورة اعراف، آیت: ۵۵) وقال الله تعالی: (قل انما ادعو ربي ولا اشرک به احدا) (سورة جن، آیت: ۲۰) وفي الحدیث: اذا استعنت فاستعن بالله فقط والله تعالی اعلم

قبر کچه جوړول او شاوخوا پخول

سوال: (۷۸۷)... (الف) لحد کچه (خام) جوړول او پاته شاوخوا پخول جائز دي کنه؟

(ب) د متقدمینو بزرګانو کوم مقابر چي په بلاد د عرب او هند او نورو کي موجود دي، علماوو د هغه پخول

خرنگه جائز شودلي دي؟ (۱۲۷/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: (الف) عن جابر رضی الله عنه قال: نهي رسول الله صلی الله علیه وسلم ان تجصص القبور وان یکتب علیها وان یبنی علیها وان توطا (۱) (رواه الترمذي) وفي الدر المختار لا الآجر المطبوخ الخ (۲)

له دغه حدیث او روایات کتب فقه څخه معلوم شو چي د یو میت قبر پخول صحیح نه دي او خاص قبر کچه پرېښودل او شاوخوا پخول هم صحیح نه دي.

(ب) حکم شرعي حدیث مذکور و روایت فقیه مذکوره څخه واضح شو او علامه شامي له بدائع څخه نقل کړی دی: قوله: (المطبوخ) صفة کاشفة قال في البدائع: لانه یستعمل للزینة ولا حاجة للمیت الیها ولانه مما مسته النار، فیرکه ان یجعل علی المیت تفاولا (۲) له دغه روایت بدائع څخه دا امر ښه واضح شو چي پخه خښته پر قبر لګول د دوو وجو مکروه ده: یوه دا چي میت ته د دغه زینت او ښایسته والي ضرورت نشته، دوهم دا چي هغه په اور کي پخه شوې ده، تفاؤلاً میت سره دي داسي شی نه اېښودل کېږي چي په اور کي پوخ شوی وي او بزرګان دین دغه نه دي خوښ کړي، یو بل سړی که د یو بزرګ قبر پوخ کړی نو په دې کي د دغه بزرګ په ذمه هیڅ مؤاخذه نشته، دا د نورو فعل دی. فقط والله تعالی اعلم

د بزرګانو پر مزار ګنبده جوړول او میت په مکان کي دفن کول

سوال: (۷۸۸) پر مزارو د سلاطین او اولیاء کرامو کومي ګنبدي تعمیر دي، موافق کتاب دی کنه؟ په دې کي څه کلام شته؟ که د رسول الله صلی الله علیه وسلم د روضې د ګنبدي په اتباع د بزرګانو پر مزارو ګنبدي قائمي کړي نو به جائز وي کنه؟ او میت یا یو بزرګ په مکان مسقف کي دننه دفن کول جائز دي کنه؟ (۱۲۱۳/۱۳۳۵هـ)

---

۱) جامع الترمذي: ۲۰۱۳/۱، ابواب الجنائز، باب ما جاء في کراهیة تجصیص القبور والکتابة علیها.

۲) الدر المختار والشامي: ۲۲۱/۱، کتاب الصلاة، باب صلاة الجنازة، مطلب في دفن المیت ط رشیدیه

جواب: گنبده جوړول یا په کان کي دفن کول ماسیوا له انبیاء کرام بل چا ته جائز نه دي (شامي: ۲۲۰/۱) ولا ينبغي ان يدفن الميت في الدار ولو كان صغيرا لا ختصاص هذه السنة بالانبياء... ويهال التراب عليه، وتكره الزيادة عليه من التراب، لانه بمنزلة البناء (الدر) وفي الشامي: لما في صحيح مسلم عن جابر رضی الله عنه قال: نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم ان يجصص القبر وان يبنى عليه (۱) فقط والله تعالى اعلم

د یو قبر پخولو لپاره پر نورو قبرونو ختل

سوال: (۷۸۹) خلاصه د سوال دا ده چي یو سړی د خپل پلار قبر پوخ جوړ کړی، پر هغه څراغ ولگوی او پر ډیرو قبرونو باندي خیږي او وې کښل او له دې څخه پرته د شرک او بدعت افعال کوي، د دې لپاره شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۴۷/۳۴۲۷هـ)

جواب: قبرونه پاخه جوړول جائز نه دي، په حدیث شریف کي د دې ممانعت شته (۲) دغه شان پر قبرونو ختل او هغه کښل جائز نه دي، کوم سړی چي د امور مذکوره مرتکب دی او څوک د هغه معاون دی، هغه فاسق او گناهگاره دی او بدعتي دی، ده لره توبه کښل په کار دي او افعال مذکوره ترک کول په کار دي، تر څه وخته چي هغه رسوم شرکیه نه پریږدي، تر هغه وخته پوري د ده سره د مسلمانانو یو ډول تعلق روا نه دی. فقط والله تعالی اعلم

د شفاء لپاره که څوک ماښام پر زیارت اوپه کښیږدي او سهار یې را واخلي

سوال: (۷۹۰) د کاټهیاوار مسلمانان د بزرگانو پر مزارو د ماښام په وخت په بوتلانو کي اوبه اچولو سره راځي

---

۱) الدر المختار ورد المحتار: ۲۲۰/۱-۲۲۱، کتاب الصلاة، باب صلاة الجنازة، مطلب في دفن الميت ط رشیدیه

۲) عن جابر رضی الله عنه قال: نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم ان يجصص القبر وان يقعد عليه وان يبنى عليه (الصحيح لمسلم: ۳۱۲/۱، کتاب الجنائز، فصل في النهي عن تجصيص القبور والقعود والبناء عليها)

و سهار راشي، پخپله يې څښي او په مريضانو يې څښي او دغه تبرک بولي، په شريعت کي د دې څه حکم دی؟ (۱۳۴۲/۲۳۴هـ)

جواب: د دې هيڅ ثبوت په شريعت کي نشته فقط والله تعالی اعلم

قبر ته غسل ورکول او د هغه اوبه د برکت لپاره څښل

سوال: (۷۹۱) پر قبر څادر اچول او پر هغه څراغ لګول او غسل ورکول او غساله څښل او پر هغه کومه شيريني اچول کيږي، هغه متبرک بلل او خوړل جائز دي کنه؟ (۱۳۴۲/۲۸۹۰هـ)

جواب: دا ټول امور ناجائز دي، د دغه د جواز يو دليل له کتاب وسنت څخه ثابت نه دي، بلکي بدعت دی، کما ورد في الصحيح من احدث في امرنا هذا ما ليس منه فهو رد. (۱) فقط والله تعالی اعلم

پر مزارو د اولياوو خوشبويي دودول او پوښ په اغوستل

سوال: (۷۹۲) پر مزارونو د اولياوو الله خوشبويي سوځول او پوښ او نور پر اچول جائز دي کنه؟ (۱۳۴۵/۹۲۱هـ)

جواب: دا امور ناجائز او بدعت دی. فقط والله تعالی اعلم

د قبر لوري ته لمونځ کول څرنګه دي؟

سوال: (۷۹۳) پر قبرونو څراغ لګول او د هغه لوري لمونځ کول څرنګه دي؟ (۱۳۴۵/۱۲۲۰هـ)

جواب: پر قبرونو څراغ لګولو څخه په حديث شريف کي ممانعت راغلی دی، بلکي په حديث شريف کي راغلي دي چي پر هغه سړي د الله تعالی لعنت کوم چي پر قبرونو څراغ لګوي (۲) او قبرونو لوري ته سجده کول هم حرام دي

---

۱) : : نه حديث شريف تخريج د کتاب الايمان د سوال (۴۹۱) په جواب کي وګورئ.

۲ عن ابن عباس رضی الله عنهما قال لعن رسول الله صلی الله عليه وسلم زائرات القبور والمتخذين عليها المساجد والسرج (سنن ابي داؤد: ۴۲۱/۲، کتاب---

که دیوال په منځ کې حائل وي نو د ده لوري ته لمونځ کول او سجده کول صحیح دي ..... نه ده چي دیوال د انسان تر قد کم نه وي. فقط والله تعالی اعلم

شیخ عبد القادر جیلاني رحمه الله حاضر وناظر ګڼلو سره یا شیخ عبد القادر جیلاني شیئا لله ویل څرنګه دي؟

سوال: (۷۹۴) وظیفه یا شیخ عبد القادر جیلاني رحمه الله شیئا لله هغه حاضر وناظر ګڼلو سره ویل څرنګه دي؟ (۱۳۴۲/۱۲۴۰هـ)

جواب: په اعتقاد مذکوره وظیفه یا شیخ عبد القادر جیلاني شیئا لله ویل په شریعت کي جائز نه دي. فقط والله تعالی اعلم

یا رسول الله! یا غوث اعظم! ویل او د مزارو تصویران ساتل

سوال: (۷۹۵)... (الف) یا رسول الله ! یا غوث اعظم ! ویل د بزرګان دین د مزارو عکسونه ساتل جائز دي کنه؟

(ب) د میلاد شریف محفل کول سنت دي که بدعت؟ او په هغه کي قیام کول او دا خیال کول چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم روح راځي، څرنګه دي؟ (۱۳۴۰/۲۵۵۸هـ)

جواب: (الف-ب) دغه ډول بدعات او رسوم او خلاف شرع امور کول او له ژبي څخه ایستل صحیح نه دي، د ندا غیر الله او محفل میلاد مروجه څخه احتراز مناسب دی. فقط والله تعالی اعلم

کن مدد بهر خدا یا غوث اعظم الخ ویل څرنګه دي؟

سوال: (۷۹۶) "کن مدد بهر خدا یا غوث اعظم دستګیر نور چشم مصطفی بن علي روشن ضمیر" دا ویل

---

۱ -- الجنائز، باب في زيارة قبور النساء، وسنن الترمذي ۷۳/۱، ابوآب الصلاة، باب ما جاء في كراهية ان يتخذ على القبر مسجدا، وسنن النسائي ۳۲۲/۱، كتاب الجنائز، التغليظ في اتخاذ السرج على القبور

موجب ثواب دی کنه؟ (۱۳۴۰/۲۵۵۸ھ)

جواب: کن مدد الخ ویل روا نه دي فقط والله تعالی اعلم

د محرم په لومړۍ عشره کي د حضرت حسین رضی الله عنه غم کول او کتاب "عناصر الشهادتین" ویل

سوال: (۷۹۷) د محرم په لومړۍ عشره کي د امام حسین رضی الله عنه غم کول څرنګه دی؟ او بالخصوص په دغو ورځو کي "عناصر الشهادتین" یعني شهادت نامه ویل صحیح دي کنه؟ او کتاب "عناصر الشهادتین" معتبر دی کنه؟ او کوم خلک چي دې ته جائز وایي، څرنګه دي؟ (۱۳۳۰-۲۹/۵۹۴ھ)

جواب: اول د امام حسین رضی الله عنه غم په محرم الحرام کي کول په هیڅ ډول صحیح نه دی، په صواعق محرقه کي دي: وایاه ثم ایاه ان یشغله ببدع الرافضة ونحوهم من الندب والنیاحة والحزن اذ لیس ذلک من اخلاق المؤمنین والا لکان یوم وفاته صلی الله علیه وسلم اولی بذلک واخری، انتهی ملخصا (۱) او په دغو ورځو کي د شهادت بیان نه دی کول په کار، همدا شان په داغه کي دي: قال الغزالي وغیره: ویحرم علی الواعظ وغیره روایة مقتل الحسن والحسین وحکایاته وما جری بین الصحابة من التشاجر والتخاصم، فانه یهیج علی بغض الصحابة والطعن فیهم، انتهی ملخصا (۲) او کتاب "عناصر الشهادتین" له رطب ویابس څخه ډک دی، د دې وجي غیر معتبر دی او د دې مجوز ضال ومضل دی، ومن ادعی خلافه فعلیه البیان بواضح البرهان فقط والله تعالی اعلم

کتبه ابو القسام محمد عبد السلام، مدرس مدرسه انجمن هایت الاسلام، مالیګاؤ.

جواب: دوهم د یو سړي لپاره د ده له مړ کېدو بعد غم کول که انبیاء وي که شهداء، که

---

۱) الصواعق المحرقة ص۱۰۹، خاتمة فیما اخبر به صلی الله علیه وسلم مما حصل لآله ومما اصابهم من الانتقام الشدید الخ

۲) الصواعق المحرقة للعلامة الفقیه المحدث شهاب الدین احمد بن حجر الهیثمي: ص۱۳۳، الخاتمة في بیان اعتقاد اهل السنة والجماعة في الصحابة رضوان الله علیهم الخ

سکه صدیقین وي که صلحاء عوام مؤمنین وي یا علماء تر درو ورځو پوري جائز دي، تر دې زیات ممنوع دي نو د یو چا لپاره تر درو ورځو بعد غم کول که محرم وي که غیر محرم حرام وممنوع دی، ټول کتب احکام واحادیث له دې څخه مملوء دي، باقي کتاب "عناصر الشهادتین" ډېر لغو او بیهوده دی. فقط والله تعالی اعلم

کتبه ابو الامجد محمد عبد العلي عفي عنه

کتبه: اشرف علي عفی عنه تهانوي

جواب: دریم جواب نقلاً صحیح دی. فقط والله تعالی اعلم

جواب: څلورم اقول وبه نستعین: جواب صحیح دی. فقط والله تعالی اعلم

کتبه: عزیز الرحمن عفي عنه

د عاشورا په ورځ اته نه بجې په جماعت سره لمونځ ادا کول

سوال: (۷۹۸) د محرم په لسم تاریخ قریب اته نه بجې د ورځې د عاشورا لمونځ په ډېر اهتمام سره په جماعت په مساجد کې ادا کیږي، دا جائز دي کنه؟(۱۳۳۷/۱۰۰ھ)

جواب: دا جماعت په اهتمام وتداعي په شریعت کې مکروه تحریمي او ناجائز دی. په درمختار کې دي: ولا التطوع بجماعة خارج رمضان ای یکره ذلک لو علی سبیل التداعي الخ وفي الشامي: لم ان کان ذلک احیاناً کما فعل عمر رضی الله عنه کان مباحًا غیر مکروه، وان کان علی سبیل المواظبة، کان بدعة مکروهة، لانه خلاف المتوارث الخ(۱) فقط

د عاشورا په ورځ پر قبرو اوبه دال د خورما ښاخ او سبزي او نور اچول

سوال: (۷۹۹) زمونږ په سیمه کې رواج دی چې لسم محرم الحرام عام خلک له زیارت قبور څخه مشرف کېدو سره د خپلو، خپلو بزرگانو پر مزارو اوبه او دال او د خورما ښاخ وسبزي او نور اچوي، ایا مرو ته له دغو شیانو څخه تخفیف عذاب قبر کیږي کنه؟ او دا فعل له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت او مشروع دی کنه؟ او څرنګه کول په کار دي؟(۱۳۳۳/۲۱۷۰ھ)

---

۱) الدر المختار ورد المحتار: ۵۲۴/۱، کتاب الصلاة، باب الوتر والنوافل، مبحث صلاة التراویح، مطلب في کراهیة الاقتداء في النفل علی سبیل التداعي وفي صلاة الرغائب ط رشیدیه

جواب: دا ټولا مور بدعت دی، په خیر القرون او له سلف صالحین څخه د دغو امورو هیڅ ثبوت نشته او د درختي ښاخ کوم رسول الله صلی الله علیه وسلم پر قبرو ښخ کړی و، د هغه وروسته تخفیف عذاب وشو، هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خصوصیت ؤ. فقط والله تعالی اعلم

د عاشورا په ورځ پر قبر خاوري اچول

سوال: (۸۰۰) د محرم په لسمه پر قبر خاوري اچول صحیح دی کنه؟(۱۳۰۱/۳۳۔ ۱۳۳۴هـ)

جواب: تخصیص یوم عاشورا بدعت دی او بې اصل دی، که د ښنسان قائمولو لپاره په وخت د ضرورت پر قبر خاوري واچول شي چي قبر را څخه ورک نشي نو دا صحیح دی، لېکن تخصیص یوم تاریخ معین کول یا هغه ضروري بلل یا التزام مثل ضروري کول دا ټول امور سبب د ممانعت کیږي فقط والله تعالی علم

د محرم په میاشت کي د خلکو لپاره د حسین رضی الله عنه په نوم وریجي پخول

سوال: (۸۰۱) په محرم کي ځیني ځایونه د نذر امام حسین په نوم وریجي پخیږي او هغه په عوامو خوړل کیږي، ایا د دغه ډوډۍ پخول صحیح دی کنه؟(۱۳۳۵/۱۱هـ)

جواب: نذر غیر الله حرام دی، که محض د ایصال ثواب په غرض بلا قید تاریخ او ورځ ډوډۍ پخه شي، په بل چا وخوړل شي نو هغه اغنیاوو ته نه دي خوړل په کار، فقراء یې خوړلای شي، لېکن د وریجو رسم بدعت دی، دغه پرېښودل په کار دي فقط والله تعالی اعلم

د شیعه ګانو څو رسمونه او د هغو حکم

سوال: (۸۰۲)... (الف) د محرم په مجلس کي د شیعه ګانو کور ته ورتلل صحیح دي کنه؟

(ب) د محرم په لسمه شنې جامې اغوستل او ښځو ته په غم د حسین رضی الله عنه کي بنګړي ماتول صحیح دي کنه؟

(ج) شربت او نورو تقسیم کول او له دې څخه د ثواب امید ساتل او د وریجو پخولو رسم په اهتمام سره کول

صحیح دي کنه؟
(د) په اووم د محرم نکریزي او نور پورته کول جائز دي کنه؟
(هـ) حضرت امام حسین رضی الله عنه ته سید الشهداء ویل له کتاب وسنت رسول ﷺ څخه ثابت دي کنه؟ (۱۳۳۵/۲۴۸هـ)

جواب: (الف) د شیعه ګانو په مجلس کي شریکېدل صحیح نه دي او شیریني خوړل صحیح نه دي، کوم مسلمان چي د داسي امر مرتکب شي، هغه ګناهګار دی او د دوی سره دوستي کول حرامه ده، برابره ده که تبرائي وي که غیر تبرائي وي.
(ب) شنې یا توري جامې او نور اغوستل تول اُمور ناجائز دي.
(ج) شربت وشیریني په وجه رسوم مروجه تول ناجائز دي.
(د) په اوومه د محرم دا افعال کول حرام دي.
(هـ) د حضرات حسنین رضی الله عنهما په هکله سیدا شباب اهل الجنة(۱) راغلي دي او سید الشهداء حمزة(۲) راغلی دی، د دې خلاف مروي نه دي. فقط والله اعلم

د عاشورا په ورځ د اختر په شان زینت جائز دی کنه؟

سوال: (۸۰۳) د عاشورا په ورځ د اختر د ورځي په رنګه زینت جائز دی کنه؟ (۱۳۳۶/۲۷۱-۳۵هـ)

جواب: د عاشورا ورځ د دغه امت لپاره د اختر ورځ نه ده، مګر روژه د دغه ورځي سره د نهمي یا یوولسمي مستحب ده او په دې کي توسیع الطعام علی الاولاد هم مستحب دی. في الشامي: الاکتحال یوم عاشورا لم یرد عن النبي صلی الله علیه وسلم فیه اثر، وهو بدعة، نعم

---

۱) عن ابي سعید رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الحسن والحسین سیدا شباب اهل الجنة (جامع الترمذي: ۲۱۷/۲، ابواب المناقب، مناقب ابي محمد الحسن بن علي بن ابي طالب والحسین بن علي بن ابي طالب رضی الله عنهما)

۲) عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: سید الشهداء یوم القیامة حمزة بن عبد المطلب الحدیث (المعجم الاوسط للطبراني: ۱۲۸/۳، باب العین، من اسمه علي، رقم الحدیث ۴۰۷۹)

حديث التوسعة(۱) ثابت صحيح (۲) (شامي) فقط والله تعالى اعلم

د حضرت حسین رضی الله عنه نذر خوړل جائز دي کنه؟

سوال: (۸۰۴) په ايام عاشورا کي چي کوم شربت وطعام اهل شيعه پخوي، په عوام الناس کي تقسيم کوي، هغه ته نذر امام حسين ويل کيږي، هغه موږ اهل سنت ته خوړل جائز دي، کنه؟ دغه ډول د نورو بزرگانو پر نامه حيوانان ذبح کيږي، خوړل يې حلال دي کنه؟ او د شيخ عبد القادر جيلاني د يوولسمي قند کوم چي سنيان تقسيم کوي، وخوړل شي کنه؟ (۱۳۳۷/۷۲هـ)

جواب: د غير الله پر نامه حيوان حلال نه دی، دغه شان طعام وشراب کوم چي په نيت تقرب لغير الله وي، روا نه دي او د ايصال ثواب خوړل او شربت فقراء ته صحيح دي او اغنياء ته له دي څخه احتراز کول اولی دي. فقط والله تعالى اعلم

د اهل تشيع په شرکيه رسوموکي شرکت کول

سوال: (۸۰۵) اهل تشيع د محرم په ايامو کي د افعال مفضي الى الكفر مرتكب کيږي، مثلاً آس راباسي، پر دغه موقع ډېر افعال شرکيه کوي له دې ماسيوا تعزيه او نور رسومات کوي، که يو اهل سنت والجماعة په داسي مجالس کي شريک وي او د هغو مجلس ښايسته کړي او د هغه سره همدردي وکړيي نو د ده لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۳۸/۲۲۴۹هـ)

جواب: ظاهره ده چي دا رسوم شرکيه چي کوم روافض او ځيني نور جهال يې کوي، شرعًا حرام او باطل دي او شرکت په داسي مجالس کي قطعًا حرام او ناجائز دي او اعانت د اهل معصيت په خپله معصيت دی.

---

۱) عن ابن مسعود رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من وسع على عياله في النفقة يوم عاشورا وسع الله عليه سائر سنته، قال سفيان: انا قد جربناه كذلك، رواه رزين (مشكاة المصابيح ص۱۷۰، كتاب الزكات، باب فضل الصدقة، الفصل الثالث)

۲) الشامي: ۱۲۴/۲، كتاب الصوم، باب ما يفسد الصوم وما لا يفسده، مطلب في حديث التوسعة على العيال والاكتحال يوم عاشورا. ط رشيديه

قال الله تعالی: (وتعاونوا علی البر والتقوی ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان الآیة) (سورة مائدة، آیت: ۲) وقال تعالی: (فلا تقعد بعد الذکری مع القوم الظالمین) (سورة انعام، آیت: ۶۸) فقط والله تعالی اعلم

د محرم په میاشت کي کوم عمل کول په کار دی؟

سوال: (۸۰۶) اهل سنت ته په عشره د محرم کي کوم افعال کول په کار دي؟ (۱۳۳۹/۲۱۰ھ)

جواب: اهل سنت وجماعت لره په دغه عشره کي بلکي په ټوله د محرم میاشت کي روژې نیول خصوصًا نهم او لسم محرم روژه نیول د ثواب کار دی. (۱) او دغه د محرم میاشته عند الله مکرمه ومعظمه میاشته ده، په دې کي د ټولو طاعاتو او قرباتو ثواب زیات دی. (۲) فقط والله تعالی اعلم

په محرم کي تعزیه جوړول او د هغه جلوس را ایستل

سوال: (۸۰۷) د هندوستان پر مقامات عمومًا په ایام محرم کي خلګ تعزیه جوړوي او د هغه جلوس راباسي

---

۱) عن ابي هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: افضل الصیام بعد رمضان شهر الله المحرم وافضل الصلاة بعد الفریضة صلاة اللیل (الصحیح لمسلم: ۳۶۸/۱، کتاب الصیام، باب فضل صوم المحرم)

وعن الحکم بن الاعرج قال: انتهیت الی ابن عباس رضی الله عنهما وهو متوسد رداءه في زمزم، فقلت له اخبرني عن صوم عاشوراء، فقال: اذا رایت هلال المحرم فاعدد واصبح یوم التاسع صائما، قلت: هکذا کان محمد صلی الله علیه وسلم یصومه؟ قال: نعم (الصحیح لمسلم: ۳۵۹/۱، کتاب الصیام، باب صوم یوم عاشوراء)

۲) د محرم میاشته عند الله مکرمه ومعظمه ده، په دغه سلسله کي د حضرت علي رضی الله عنه یو ضعیف حدیث دیلمي روایت کړی دی، شاید د هغه روایت په اساس مفتي صاحب دا لیکلي وي چي په دې کي د ټولو طاعاتو وقرباتو ثواب زیات دی، روایت دا دی: عن علي رضی الله عنه سید الناس آدم، وسید العربي محمد، وسید الروم صهیب، وسید الفرس سلمان، وسید الحبشة بلال، وسید اَجبال طور سیناء، وسید الشجر السدرة، وسید الاشهر محرم، وسید الایام الجمعة الحدیث رواه الدیلمي په مسند الفردوس وهو ضعیف (ما ثبت بالسنة ص۸، المطبوعة المطبع العالي نول کشور لکناؤ)

او دغه عین مذهبي حکم بولي، ایا دا شرعًا جائز دی؟ (۱۳۴۱/۸۱ھ)

جواب: تعزیه جوړول او د تعزیه په هکله ټول رسوم حرام او ناجائز دي او دا مذهبي حکم نه دی، بلکي خلاف مذهب او خلاف دین دی، شریعت غراء د داسي بد رسمو او بدعاتو قبیحه ختمولو حکم کوي نو په دې کي یو دول شرکت او اعانت هیڅکله نه دی کول په کار. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۸۰۸) د شدو (۱) مخته یو سړی په لاس کي نښان نیولی وي، د هغه پر اطارف د ښار ځوانان په یو ږغ قدم پر قدم های دوست یا حسین نعرې وهلو سره غورځي او چي سترېا معلومه نشي، د نشې شیان هم کاروي، شرعًا د دې څه حکم دی؟ (۱۳۴۰/۲۲۳ھ)

جواب: دا ټوله د فساق وفاجار مجمع ده، کومه چي مجمع شیاطین ده، اهل اسلام لره په دغه امور کي شرکت او هر دول امداد جاني ومالي ورکول جرام دي. فقط والله تعالی اعلم

په محرم کي پان خوړل رانجه لګول سرې جامې اغوستل ناجائز بلل

سوال: (۸۰۹) ځیني کسان ممنوع ګڼلو سره په محرم کي پان خوړل، رانجه لګول، سرې جامې اغوستل ناجائز بولي، د دې لپاره شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۴۱/۱۲۷ھ)

جواب: دا خیال غلط دی، پان خوړل، رانجه لګول، سرې جامې اغوستل د ښځو لپاره لکه په نورو ورځو کي صحیح دي، په محرم کي هم صحیح دي. فقط والله اعلم

په محرم کي شنې جامې اغوستل

سوال: (۸۱۰) په محرم کي شنې جامې غوستل جائز دي کنه؟ (۱۳۴۱/۲۹۱۲ھ)

جواب: په محرم کي په خصوصیت سره شنې یا توري جامې اغوستل غالبًا د غم د اظهار او نورو لپاره به د روافض خذلهم الله ایجاد وي، د دې وجي د روافض مشابهت نه دی کول په کار او د روافض له مشابهت ماسیوا په دغه ایام کي د غم اظهار کول هم شرعًا ممنوع دي لهذا له دې څخه

---

۱) شده: هغه بیرغ یا نښان کوم چي په محرم کي د شهداء کربلا په یاد کي د تعزینو سره را ایستل کیږي (فیروز اللغات)

احتراز کول په کار دي. فقط والله تعالی اعلم

په محرم کي خپل مخ اوسینه وهل او ماتم کول

سوال: (۸۱۱) زموږ په وطن کي په محرم کي انجوني خپل مخان او سینې د حسنین رضی الله عنهما مظالم یادولو سره وهي او پر منع کولو باندي وهل ثواب بولي، په دغه هکله حکم شرعي څه دی؟ (۲۱۲۳/۱۳۴۳هـ)

جواب: دا حرام دي، ځکه چي لوړی خو د نوحه وبکاء په هکله په احادیثو کي سخت نه سخت وعیدونه راغلي دي، بیا په دغه خاصه طریقه کي د روافضو سره پوره مشابهت او د ډیرو محرمات شرعیه وو ارتکاب کیږي، د دې وجي نور زیات قابل ملامت دی او په حدیث کي دي: من شق الجیوب (۱) کي علي وجه الاتم داخل دي، اهل سنت والجماعت کیدو سره د داسي افعال قبیحه ارتکاب کول او بیا هغه ثواب بلل د حیرانتیا خبره ده، له داسي خیالاتو څخه توبه کښل پکار دي. فقط والله تعالی اعلم

د عاشورا په ورځ چي پر خپل اهل وعیال د وسعت په غرض کوم خوراک پخیږي د هغه ثواب د حضرت حسین روح ته رسول څرنګه دي؟

سوال: (۸۱۲) زید د محرم په ورځ په دې وجه چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د وسعت رزق حکم پر خپل اهل وعیال فرمایلی دی، پلاو، پیریني وشربت او نور پاخه کړه او دا خیال کولو سره چي دغه ورځ د امام حسین رضی الله عنه شهادت شوی دی، راشئ چي د دې ثواب د امام حسین روح مبارک ته ورسوو، له محلې څخه یو سړي انکار وکړ او ویې ویل چي د دغه ورځي شربت او نور بدعت دی، پر دې د علامه فتوی شوې ده، اوس مفصل تحریر کړئ چي د چا قول صحیح دی؟ (۱۲۴۰/۴۴-۱۳۴۵هـ)

جواب: د دغه سړي قول صحیح دی، شربت تقسیمول په دغه ورځ جائز نه دي

---

۱) عن عبد الله رضی الله عنه عن النبي صلی الله علیه وسلم قال: لیس منا من شق الجیوب وضرب الخدود ودعا بدعوة الجاهلیة (جامع الترمذي ۱۹۵/۱، ابواب الجنائز، باب ماجاء في النهي عن ضرب الخدود وشق الجیوب عند المصیبة)

او دا بدعت دی او په حدیث شریف کي دي: من احدث في امرنا هذا ما لیس منه فهو رد (۱) او د لس محرم په ورځ محض د وسعت رزق اهل وعیال په نیت سره په خوراک کي وسعت کول پکار دی، لکه په حدیث شریف کي حکم دی، په دې کي نور څه نیت نه دی کول په کار، د حضرات شهداء کربلا د ارواح لپاره ایصال ثواب په یو بله ورځ کي دي وشي، ځکه چي په دې کي تخصیص د یوم وفات وشهادت کول بدعت دی، بلکي په دې کي د خوراک او شربت تخصیص هم نه دی پکار، نغدي او جامې او نور خفیهٔ محتاج ته دي د ایصال ثواب لپاره ورکول شي، په دغه کي ثواب زیات دی، د عوامو خیال بل دی، دغه تو پیر نه پیژندل په کار دی، دا د دین کار دی، په دې کي خپله رایه او قیاس نه دی چلول پکار، د عاشورا د ورځي چي څومره بدعات دي، د هغو بالکل استیصال کول په کار دی، تعزیه کول، مرثیه ویل، کتاب ویل، شربت او نور تول ترک کول په کار دی، دغه ورځ په خوراک کي وسعت محض په دې نیت سره کول په کار دی چي په حدیث شریف کي راغلي دي چي د عاشورا په ورځ وسعت رزق پر اهل وعیال کولو سره تول کال وسعت د رزق کیږي (۲) او دا هم یو امر استحبابي ګڼلو سره کول په کار دی، ضروري نه دي ګڼل پکار، ځکه امر مستحب د وجوب درجې ته رسول هم بدعت دی فقط والله تعالی اعلم

د لسم محرم په ورځ په قریبانو او مسکینانو شربت څښل او د هغه ثواب شهداء کربلاء ته رسول بدعت دی

سوال: (۸۱۳) زید د لس محرم په ورځ في سبیل الله شربت جوړ کړي او سورة فاتحه وقل هو الله ورباندي وایي د هغه ثواب د شهداء کربلاء ارواح ته رسولو سره په ذوي القربی او مساکینو څښي او دا خیال کوي چي

---

۱) د دغه حدیث تخریج د کتاب الایمان د سوال (۴۹۱) په جواب کي وګورئ.

۲) قال العلامه الشامي علیه الرحمة بعد تخریج هذا الحدیث واما حدیث التوسعة فرواه الثقات؛ وقد افرده ابن القرافي في "جزء" خرجه فیه..... وقال الجراحي في "کشف الخفاء ومزیل الالباس": قال الحاکم ایضاً: الاکتحال یوم عاشوراء لم یرد عن النبي صلی الله علیه وسلم فیه اثر، وهو بدعة؛ نعم حدیث التوسعة ثابت صحیح کما قال الحافظ السیوطي في الدرر. (الشامي: ۲/۱۲۴، کتاب الصوم، باب ما یفسد الصوم وما لا یفسده، مطلب في حدیث التوسعة علی العیال والاکتحال یوم عاشوراء ط رشیدیه)

د لس محرم په ورځ د ثواب زیات امید دی. دا فعل جائز دی کنه؟ (۱۳۴۵/۳۳هـ)

جواب: د لس محرم په ورځ وسعت طعام علی العیال په هکله په حدیث شریف کي وارد شوي دي، هغه حدیث دا دی: من وسع علی عیاله یوم عاشورا وسع الله علیه السنة کلها. قال جابر: جربته اربعین عاما فلم یتخلف. (۱) نو معلوم شو چي د عاشورا په ورځ د خپل اهل وعیال او اقرباء واحباب لپاره د خوراک وسعت راغلی دی، په دې کي د صدقې خصوصیت نه دی راغلی او نه دا چي د دغه صدقې ثواب په دغه ورځ زیات دی، نو په دغه طریقه ختم کوم چي زید کوي، مشروع نه دی، بلکي بدعت دی او واجب الترک دی. فقط والله تعالی اعلم

د امام صاحب د سوارلۍ جلوس را ایستل او نذرونه منل

سوال: (۸۱۴) پر یو لرګي باندي د سپینو زرو یا کوم بل فلزچوټۀ د ډیرو ګلونو سره په رسۍ تړي او د محرم په اوومه، نهمه، لسمه یو سړی په بې هوښۍ سره روانیږي، دغه ته د امام صاحب سوارلي او د امام صاحب آس وایي، نذرونه مني، شرعًا دا څرنګه دی؟ (۱۳۴۵/۱۴۷هـ)

جواب: دا ناجائز او حرام دي او شرکت په دغه مجمع کي معصیت دی، له دې څخه بچاوېدل ضروري دي. فقط والله تعالی اعلم

د مولی علي سوارلۍ او شرکیه اعمال

سوال: (۸۱۵)..... (الف) یو سړی د محرم په لسمه د یو لرګي پر سر د سپینو زرو یوه پنجه لګوي او یو مکان ښایسته کولو سره هغه ته عاشورا خانه وایي، په دې باندي دروي او دې ته د مولی علي سوارلۍ وایي.

(ب) د محرم په لسمه نارینه او ښځي راشي، سجده کوي، نذرونه کوي، نذرونه مني

---

۱) رد المحتار علی الدر: ۱۲۳/۲، کتاب الصوم، باب ما یفسد الصوم وما لا یفسده، مطلب في حدیث التوسعة علی العیال والاکتحال یوم عاشوراء. ط رشیدیه

او د انجونو اتڼ وي

(ج) د سوارلۍ مخته باجې او ډول وهل کیږي.

(د) د سوارلۍ څخه پر شل گامه فاصله په کوم ځای کي چي د عبادت لپاره اور بلیږي، مسلماني د هغه عبادت کوي

(هـ) کوم څوک چي پرده کونکي ښځو ته داسي اجتماع ته د تلو اجازه ورکوي، د هغه لپاره څه حکم دی؟

(و) دغه سړی پر سوارلۍ سپور خپل ځان په مولا شیر علي باندي مشهور کوي او انعام غواړي او د نورو افعال شرکیه ارتکاب کوي، لمونځ هیڅکله نه کوي، د داسي سړي حشر به څه وي؟

(ز) ډیر خلک په پورته مذکوره خبرو کي په سلګونو روپۍ بربادوي نو هغه خلک د (ان المبذرین کانوا اخوان الشیاطین) (سورة بني اسرائیل، آیت: ۲۷) مصداق دی کنه؟ (۱۳۴۵/۳۰۱۰هـ)

جواب: (الف-هـ) دا ټول اعمال وخصائل شرکیه دي، کوم خلک چي پرده کونکي ښځي هلته لیږي، د هغو ناموس برباد وي، هغه گناهکاران دي، هغو ته د بل وخت لپاره توبه کښل په کار ده، که بیا هم نه راوګرځېده نو مسلمانان دي د داسي خلکو سره هیڅ تعلق نه ساتي.

(و) کوم مسلمان چي د داسي ناوړه کارونو او شرکیه اعمالو ارتکاب او پر هغه اصرار کوي، د مسلمانانو په جماعت کي د شمار کولو لائق نه دي، د چا په زړه کي چي د توحید څه لړ رڼا وي هغه داسي هیڅکله نه کوي، د ټولو مسلمانانو فرض دی چي د توحید د ناموس په اسا ورسره ټولي اړیکي ختمي کړي او هغو ته ووایي چي هغه په دغه حالاتو کي د مسلمانانو په صف کي دننه ځای نه شي پیدا کولای، قال الله تعالی: (فلا تقعد بعد الذکری مع القوم الظالمین الآیة) (سورة انعام، آیت: ۶۸)

(ز) داسي خلک بې شکه د آیت کریمه خاص مصداق دي او د دوی دا همکاري تعاون علی المعصیت دی، قال الله تعالی: (وتعاونوا علی البر والتقوی ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان الآیة) (سورة مائدة، آیت: ۲) فقط والله تعالی اعلم

په مسجد کي تعزیه کول او مرثیه ویل

سوال: (۸۱۵) ځیني خلګ په مسجد کي تعزیه وایي او مجلس کوي، په هغه کي مرثیه ویل کیږي، دغه امور په مسجد کي کول څنګه دي؟ او د دغه اصرار کفر دی کنه؟ (۹۱۳/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: تعزیه کول او مجالس مرثیه ویل او نور هر ځای او هر وخت حرام او ګناه کبیره ده، بالخصوص په مساجدو کي دا کار کول سخت ظلم او معصیت او موجب عقاب الهي دی، مسلمانانو ته ته له داسي حرکتو څخه توبه کښل په کار دي او دغه امور حرام او ګناه کبیره ده، کفر نه دی، اصرار کونکی پر دغه امورو فاسق دی او د تعزیر مستحق دی. فقط والله تعالی اعلم

که د تعزیه مخته یو هندو سجده وکړي نو تعزیه جوړونکی به ګناهګاروي کنه؟

سوال: (۸۱۷) د تعزیه مخته یو هندو که سجده وکړي او تعزیه جوړونکی سجده کونکی راوګرځوي، نو ګناهګاره به وي کنه؟ (۱۰۰۵/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: تعزیه جوړونکی او سجده کونکی او نذر منونکی ټول ګناهګاران او فاسقان دي او تعزیه جوړونکی که هندو له سجده کولو څخه منع کړي بیا هم د تعزیه له ګناه څخه نشي بچ کېدای او په نه منع کولو کي نور هم شریک معصیت دی او معاون د فعل حرام دی. فقط والله تعالی اعلم

تعزیه جوړول او رسوم شرکیه کول

سوال: (۸۱۸) څه فرمایي علماء د دین د دغه مسئلې په هکله چي د شهادت سید الشهداء حضرت امام حسین رضی الله عنه په غم کي تعزیه جوړول او د ده د قبر نښاني جوړول او پر تعزیه شیریني او ډوډۍ او نور اچول او نذر منل او سجده کول او د تعزیې ګرځول په بازار او سړکانو کي او د مسلمانانو پر خپلو غاړو کي باجې او ډول اچولو سره تمسخرانه انداز سره ورسره یو ځای کېدل، د تعزیې سره سره د ښځو سندري یا مرثیه ویلو سره بې پرده ګرځېدل، د دغه ټولو اعمالو په شرع شریف کي څه اصلیت دی؟ او داسي کار کونکو لپاره شرعًا څه حکم دی؟ تعزیه جوړونکی

او د دې په اهتمام کې شریک کېدونکي او د تعزیه تعظیم او د هغه د بزرګي اعتقاد ساتونکي ته مشرک بدعتي ویل جائز دي کنه؟ او په داسي سړي پسي لمونځ کول جائز دی کنه؟ د تعزیه د ګرځولو په اهتمام کي لمونځ قضاء کونکو په هکله شرعًا څه حکم دی؟ د تعزیه سره ګرځېدونکو ښځو لپاره او د هغو لپاره چي کوم پخپله ورسره وي، شرعًا څه حکم دی؟ ایا د مستفتي دا قول چي تعزیه کول شیوه د روافض ده - پر هغو فتوی تکفیر جاري شوې ده - صحیح دی که غلط؟ تعزیه په مسجد کي ایښودلو سره د مسجد بې حرمتي کیږي کنه؟ (۳۲۴/۳۳-۱۳۳۴ھ)

جواب: تعزیه جوړول او د هغه سره رسوم محدثه شرکیه کول ټول حرام او ګناه کبیره ده، تعزیه جوړونکی او د هغه اعانت کونکی او تعظیم کونکی بدعتي او فاسق دی او په هغه پسي لمونځ مکروه دی او کوم څوک چي افعال شرکیه د تعزیه سره کوي، لکه سجده او نور په هغه پسي لمونځ نه صحیح کیږي او د تعزیه په اهتمام کي پاته کېدل پخپله موجب د فسق دی او لمونځ ترک کول دوهم سبب د فسق دی، د تعزیه سره ګرځېدونکي ښځي او نارینه ټول فاسقان فاجران دي، دا ویل چي تعزیه کول شیوه د روافضو خذلهم الله ده، صحیح دی او د روافضو پر ځینو ټولی غلاة باندي د کفر فتوا کېدل هم صحیح دي، کما في الشامي: نعم لا شک في تکفیر من قذف السیدة عائشة رضی الله عنها او انکر صحبة الصدیق رضی الله عنه او اعتقد الالوهیة في علي رضی الله عنه او ان جبرئیل غلط في الوحي او نحو ذلک من الکفر الصریح الخ (۱) (۲۹۴/۳) فقط والله تعالی اعلم

تعزیه جوړول او د هغه مخته متایي او ډوډۍ او نور ایښودلو سره فاتحه کول

سوال: (۸۱۹) تعزیه جوړول وبراق وآس جوړولو سره د هغه مخته متایي وډوډۍ او نور ایښودلو سره فاتحه کول څرنګه دي؟ (۱۰۳۸/۱۳۳۴ھ)

جواب: دا امور حرام او بدعت دی، مرتکب د دغو کارونو فاسق ومبتدع دی، هیڅ ثواب د دغو کارونو په کولو کي نشته، بلکي دا ټول کارونه او رسوم معصیت دی فقط والله اعلم

۱) الشامي: ۳۲۱/۳، کتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب مهم في حکم ساب الشیخین ط رشیدیه

دا عقیده ساتل غلطه ده چې که دې تعزیه ونکړه نو نقصان در رسیږي

سوال: (۸۲۰) که څوک داسې عقیده واستې چې که تعزیه ترک کړي نو خامخا به نقصان وي نو دا عقیده څرنګه ده؟ (۱۳۳۵/۹۸۳هـ)

جواب: داسې عقیده ساتونکي فاسقان ومبتدعان دي او دا عقیده او عمل د هغو باطل دي او معصیت دی. فقط والله تعالی اعلم

د تعزیه مخالفت کونکي له کورنۍ څخه ایستل صحیح نه دي

سوال: (۸۲۱) په محي الدین محله کې تعزیه کول له پخوا څخه را روان دي، سږ کال یو هلک د نور باف له کلي کلام الله حفظ کړی دی، راغلی دی، هغه د خپل قوم څوک کسانو ته د خپل خیال مطابق وویل چې تعزیه کول نبه کار نه دی، په دې کې شرک بدعت افعال قبیحه کیږي، د دې وجې تعزیه ختمول نبه دي، زمونږ لپاره په هغه کې شرکت حرام دی، تر ۸ محرم پورې دا خلک له تعزیه کولو څخه جلا وو، په ۸ محرم تعزیه کوونکو پر هغو خلګو زور وکړی چې په تعزیه او نور کې به تاسو هم شرکت کوئ، کنې مونږ تعزیه کونکي تاسو له ذات څخه دباندې غورځوو، پر دغه باندې حافظ صاحب وویل چې تر تعزیه لاندې فاتحه کول او په تعزیه کې چې کومه ډوډۍ او سبزي او نور تړل کیږي، هغه حرام دي، که د دې پر ځای د خنزیر غوښې وتړل شي نو هیڅ پروا نه لري، پر دغه جمله ویلو ټول نور بافان د دغه حافظ خلاف شوه، حافظ معافي تقسیر وغوښته، په دغه صورت کې څه حکم دی؟ (۱۳۳۷/۱۰۱هـ)

جواب: د دغه حافظ دا بیان صحیح دی چې تعزیه کول حرام دي او د هغه سره د شرک وبدعت معامله کیږي، په ټولو رسوم تعزیه کولو کې او په هغه کې شرکت او اعانت او نذر ونیاز حرام کېدو کې اصلاً شبه نشته، تعجب پر دې دی چې هغه حافظ صاحب پر دین کلک پاته نه شو چې د جهلاء په فشار راتلو باندې له خپل قول څخه رجوع وکړه، ده لره او د ده معاونینو لره پکار دي چې پر خلاف د تعزیه کولو ومخالفت رسوم تعزیه باندې کلک قائم پاته شي او په حکم د (لا یخافون لومة لائم) (سورة مائدة، آیت: ۵۴) د سفیه قوم په فشار کې رانشي او له داسې تربرو (قریبانو) او داسې قوم څخه جلا کېدل نبه دي،

چي داسي جاهلان وي چي د رسوم شرک وبدعت مرتکب وي او څوک له اهل حق څخه د دغو رسومو په خلاف وکړي نو هغه له قريبانو څخه ايستلو ته اماده شي.

لنډه دا چي شرعًا حافظ صاحب موصوف او د ده معاونين له قريبانو څخه جلا کول صحيح نه دي، بلکي دا ضروري دي چي ټول مسلمانان په دغه مقصد کي د ده سره شي او د شرک وبدعت په مخ نيوي کي پوره سعی وکړي او واضح ذي وي چي قرآن شريف کي د خنزير له حرمت(۱) سره د (ما اهل لغير الله به) (سورة مائده، آيت ۳) حرمت بيان کړی دی، بتانو ته او بت پرستی ته رجس او رجز يعني پليتي او نجس يې فرمايلي دي، بلکي که رښتيا پوښتنه وکړي نو تعزيه او تعزيه جوړولو نجاست تر دې زيات دی چي هلته ظاهري پليتي ده او دلته باطني پليتي ده. فقط والله تعالى اعلم

په هغه امام پسي لمونځ څنګه دی چي په تعزيه کي شرکت کوي او د هغې د ثبوت په هکله خبره کوي؟

سوال: (۸۴۲) .... (الف) په محرم کي سنيانو لره تعزيه جوړول او په هغه کي شريک کېدل څرنګه دي؟ او سنيانو لره په حاملين تعزيه او نورو تماشايانو شربت وچای څښل څرنګه دي؟ او سنيانو لره د تعزيه کونکو په تقريب کي شريک کېدل يا دعوت خوړل څرنګه دي؟

(ب) او کوم امام چي له يادو شويو خبرو څخه نه راګرځوي او دا وايي چي تعزيه کول ثابت دي، په ده پسي لمونځ کول جائز دی که نه؟ او داسي امام خو د جامع مسجد امام دی نو په يو بل مسجد کي جمعه ادا کول جائز دي که نه؟ (۱۳۳۹/۲/۱۰هـ)

جواب: (الف-ب) تعزيه جوړول او په هغه کي هر ډول ځاني ومالي مدد کول او شريک کېدل او په حاملين تعزيه شربت وچای او نور څښل دا ټول امور حرام او معصيت کبيره دی او مرتکب د دغه امورو فساق وفجار ومبتدعين دي، له داسي خلکو څخه اهل سنت وجماعت لره متارکت او جلا کېدل لازم دي او د دوی په يو تقريب کي شريک کېدل جائز نه دي او د دوی دعوت قبلول روا نه دی او د ايصال ثواب دعوا د رسوم مذکوره په ادا کولو سره محض باطله ده، په دې سره هيڅ ثواب شهداء کربلاء رضی الله عنهم ارواح ته نه رسيږي.

---

۱) (حرمت عليکم الميتة والدم ولحم الخنزير وما اهل لغير الله به) (سورة مائدة، آيت ۳)

بلکې مرتکب د دغو بدعاتو ورسومو عاصي وآثم دی او په داسي امام پسي لمونځ مکروه دی او دی امام جوړول ناجائز دی او دی معزول کول په کار دی، که دی توبه ونه کړي و د داسي مبتدع امام اقتداء پرېښودلو سره په بل مسجد کي جمعه ادا کول او د عالم صالح امام جوړول مستحسن دی. فقط والله تعالی اعلم

په خپل کور او مسجد کي تعزیه جوړول

سوال: (۸۲۳) تعزیه جوړول او پخپل مکان کي ساتل او پر هغه نذر کول او نذر منل څرنګه دي؟ او په کوم مسجد کي چي تعزیه ایښودل کیږي، په هغه کي لمونځ کول جائز دي کنه؟ او کوم خلک چي په دې کي سره د علم معاون او مددګار وي، د هغو سره شرعًا څه ډول اړیکي پکار دي؟ (۱۳۴۱/۲۵۷هـ)

جواب: تعزیه جوړول او په هغه کي هر ډول شرکت او اعانت کول شرعًا حرام او ناجائز دي او پخپل مکان کي ساتل او د هغه نذر منل او نذر غوښتل دا ټول امور حرام او بنیاد د شرکت دی، قال علیه الصلاة والسلام: من احدث في امرنا هذا ما لیس منه فهو رد (۱) او په کوم مسجد کي چي کیښودل شي، هغه مسجد له دې څخه پاکول او تعزیه له هغه څخه پورته کول ضروري دي، لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم له خانه کعبه څخه بتان را ایستلي وه او ماتولو سره یې غورځولي وه. (۲) دا ډول له مسجد څخه چي بیت الله د الله کور دی، په وجه د صحیح حدیثونو تعزیه کوم چي مشابه د بت ده او تعزیه کونکی مشابه د بت پرست دی، را ایستل ضروري دي، ځکه چي د مسجد د تطهیر یعني پاک ساتلو حکم دی، له نجاسات ظاهریه او باطنیه څخه (۳) او ظاهره ده چي تعزیه له نجاسات باطنیه څخه ده.

---

۱) د دغه حدیث شریف تخریج د کتاب الایمان د سوال (۴۹۱) په جواب کي وګورئ.

۲) عن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه قال دخل النبي صلی الله علیه وسلم مکة وحول الکعبة ثلاث مائة وستون نُصُبًا فجعل یطعنُها بعود في یده وجعل یقول جاء الحق وزهق الباطل الآیة (صحیح البخاري: ۳۳۲/۲، کتاب المظالم باب هل تکسر الدنان التي فیها الخمر وتخرق الزقاق فان کسر صنما وصلیبًا او طنبورًا او ما لا ینتفع بخشبه الخ)

۳) وعن عائشة قالت امر رسول الله صلی الله علیه وسلم ببناء المساجد في الدور، وان تنظف وتطیب--

ځکه چي د دې سره معاصي کيږي او تلوث بالمعاصي د دې له وجي ځخه کيږي نو پاک کول مساجد له تعزيه ځخه ضروري دي. فقط والله تعالى اعلم

د تعزيه د تعظيم لپاره دريدلو کي د کفر انديښنه ده

سوال: (۸۲۴) څه وخت چي تعزيه مخته راشي، د هغه د تعظيم لپاره دريدل ضروري دی کنه؟ (۱۳۴۲/۸۳۷هـ)

جواب: قال الله تعالى: (ومن آياته الليل والنهار والشمس والقمر لا تسجدوا للشمس ولا للقمر واسجدوا لله الذي خلقهن) (سورة حم سجده، آيت: ۳۷) نو عبادت او تعظيم د غير الله په دې درجه کي کول چي رکوع وسجده وشي، حرام دي او تعزيه خو يو بت دی او د دې تعظيم کونکي د بت پرستانو سره مشابهت لري او اکثر عوام دې ته سجده هم په مثل د بتانو کوي او هغه حاجت پوره کونکی بولي، د دې وجي پر داسي شعار د کفر وفسق د تعظيم لپاره دريدل صريح فسق ومعصيت دی، په دې کي خوف د کفر دی. فقط والله تعالى اعلم

د تعزيه کولو په هکله څو سوالونه

سوال: (۸۲۵).... (الف) عمر چي محض جاهل او له امور شرعيه ځخه ناواقف ؤ، ده د خپل زوی يا وراره په نامه د زيد پر تعزيه بيرغ پورته کړی، وروسته عمر وفات شو، نو پر عمر به عذاب وي کنه؟

(ب) ايا پر وارثانو د عمر لازم دي چي: دغه پيرغ له زيد څخه واخلي او ننبه ختمه کړي؟

(ج) که ورثاء د عمر داسي ونه کړي نو پر هغو به څه ګناه وي کنه؟

(د) په حالت د فتنې د خوف څه حکم دی؟ او په حالت د غير مجبورۍ د ورثاء عمر لپاره څه حکم دی؟

(هـ) په تحفة زوجين کي روايت دی: حذيفه رضى الله عنه وويل: وفرمايل رسول الله صلى الله عليه وسلم: نه قبلوي الله د بدعتي روژه او نه لمونځ او نور، نه فرض نه نفل، وځي دی له اسلام ځخه لکه چي وځي ويښته له اخښل شوي وړو ځخه الخ،

ایا تعزیه جوړونکي او په بل جوړونکي او تعزیه خرڅونکي او رانیونکي او زیارت کونکي او نور په شان د دغو بدعتیانو دي چې روژه لمونځ او نور هیڅ یې مقبول نه دي

(و) ایا د تعزیه او بت حکم یو دی؟

(ز) ایا د تعزیه او علم (بیرغ) حکم یو دی؟

(ح) کوم خلګ چې د تعزیه، علم کتلو ته ځي، د دوی لپاره څه حکم دی؟

(ط) کوم خلګ چې د ټولو او لوبو په اساس تعزیه او علم پورته کوي او وړي یې. د دوی لپاره څه حکم دی؟

(ي) کوم خلګ چې کور په کور په ډېر اهتمام تعزیه او رڼاوي کوي، د دوی لپاره څه حکم دی؟

(ک) باجه، ډول، جهانجهـ(۱) علم او نور پخپله جوړول یا چنده کولو سره په بل جوړول څرنګه دي؟

(ل) ایا دا شعر او لاندي عبارت واجب العمل دی؟ شعر:

تعزیه ته لاړ شې سر مه کښته کوه* او د هغه په ښنو کي لویدل بد دي

فاتحه کونکی مه کیږه ای خبرداره* په بیت الخلاء کي ته تلاوت مه کوه

په تحفة زوجین کي لیکلي دي: داسي ځای چې هلته تعزیه او نور وي، فاتحه درود ویل هم صحیح نه دي.

(م) ایا تعزیه په نجاست باطني کي د بیت الخلاء له نجاست ظاهري سره برابره ده؟

(ن) د تعزیه مخته حلوا، مالیده، مټایي او نور کوم خلګ ږدي او فاتحه کوي، نو د هغه خوړل شرعًا څرنګه دي؟ که فاتحه ونکړي نو دغه حلوا خوړل څرنګه دي؟

(س) کوم خلګ چې د تعزیه څخه د راګرځېدو هدایت ورکوي، د هغو دا فعل څرنګه دی؟

(ع) تعزیه کول کفر وشرک دی، که فسق وفجور؟ (۱۳۴۲/۱۰۵۲هـ)

(ف) ایا لاندي شعر صحیح دی؟

لرګي وکاغذ بانس وابرک کي نشته حب د امام

د دې د ټولو زیارت کونکیو او باني دا دی دوږخ مقام

---

۱) جهانجهـ: هغه تالی چې تر هغه لاندي رسۍ ترل کیږي او د باجې سره سره وهل کیږي (فیروز اللغات)

جواب: (الف) که عمر له دغه خپل فعل څخه توبه ونه کاږي او نادم نه شو نو ممکنه ده چي ده ته برابر عذاب به وي او په حکم (یغفر ما دون ذلک لمن یشاء) (سورة نسا.. آیت ۴۸ و ۱۱۲) دا هم کېدای شي چي الله تعالی بلا عذاب یې وبخښي او عذاب نه ورکړي.

(ب) که داسي کېدای شي نو ډېر ښه دی او د محو بدعت ثواب په ده ته حاصل شي.

(ج) پر دوی به هیڅ ګناه نه وي، کله چي دوی له دې څخه راضي نه وي، قال الله تعالی: (ولا تزر وازرة وزر اخری) (۱)

(د) د عمر ورثه که د دې ازاله کولای شي نو ښه دی چي د دې ازاله وکړي، که مجبور دي او په دې کي فتنه ده نو پر دوی هیڅ ګناه نشته - کما مر -

(هـ) د بدعتي له اسلام څخه د وتلو دا معنی ده چي له کمال اسلام څخه وځي او د دې ماسیوا نور تاویلونه هم کېدای شي او شوي دي او لمونځ وروژه او نورو عبادتونو نه قبلېدل کوم چي د بدعتیانو په هکله راغلي دي (۲) په هغه وعید کي دغه بدعتیان تعزیه والا هم داخل دي.

(و) په مشرکین بت پرست او دوی کي توپیر دی، تعزیه کونکي مسلمانان دي، مګر فاسقان وګناهګاران دي او بت پرست کافران ومشرکان دي.

(ز) په حرمت کي برابر دي.

(ح) هغه هم فاسقان او ګناهګاران دي، کافران نه دي.

(ط) هغه هم فاسقان دي.

(ي) فاسقان دي.

---

۱) سورة انعام، آیت ۱۶۴، سورة بني اسرائیل، آیت ۱۵، سورة فاطر، آیت ۱۸، سورة زمر، آیت ۷

۲) عن حذیفة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا یقبل الله لصاحب بدعة صوما ولا صلاة ولا صدقة ولا حجا ولا عمرة ولا جهادا ولا صرفا ولا عدلا یخرج من الاسلام کما تخرج الشعرة من العجین وعن عبد الله بن عباس رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ابی الله ان یقبل عمل صاحب بدعة حتی یدع بدعته (سنن ابن ماجه ص۲، المقدمة، باب اجتناب البدع والجدل)

(ک) حرام دی او معصیت دی او مرتکب د دغو افعالو فاسقان دي.
(ل) شعر مذکور او کومه مسئله چي په تحفة زوجین کي لیکلې ده، صحیح ده.
(م) بې شکه داغه ډول ده.
(ن) په دواړو صورتونو کي فعل مذکور حرام دی.
(س) ثواب دی او د اجر عظیم هغه خلک مستحق دي او امر بالمعروف ونهي عن المنکر باندي عامل دي او پاخه مسلمانان او سنیان دي.
(ع) فسق وفجور دی. فقط والله تعالی اعلم
(ف) دا هم صحیح دی، ځکه هر یو معصیت او کبیره گناه مستحق د دوږخ جوړ وي، که څه هم مخلدًا او دائمًا نه وي.

د تعزیې په خاطر د مندر په بندولو کي مدد کول

سوال: (۸۲۲) یو مندر له ۱۲ کاله څخه د سړک پر غاړه دی، د هغه له لوري تعزیه او علم وځي، د دغه په جنگ کي مسلمانان غواړي چي مندر بند شي نو ایا په دې کي چنده ورکولو سره مقدمه چلول جائز دي کنه؟(۱۳۴۳/۵۹۱هـ)

جواب: تعزیه او نور کول امور شرکیه دي، په دې کي هر ډول امداد، چنده او نور ورکول اهل اسلام لپاره صحیح نه دي، بلکي تر کومه کېدای شي، د دې په بندولو کي سعی او کوښښ وکړي. فقط والله تعالی اعلم

په تعزیه کي چنده نه ورکولو په وجه له خاندان څخه خارج کول

سوال: (۸۲۷) په دغه ښار کي تعزیه په هر قوم کي جوړیږي او د دغه قوم سردار د تعزیې لپاره چنده ټولوي، ځیني خلک گناه بللو سره چنده نه ورکوي، د دې وجي سردار دی له خاندان څخه خارج کوي، په دغه کي چنده ورکول څرنگه دي؟ که صحیح نه دي نو له خاندان څخه خارج کول د سردارانو خلاف د شرعي دی کنه؟(۱۳۴۳/۹۱۰هـ)

جواب: په تعزیې او د هغه په لوازمات کي چنده ورکول سخته گناه ده او اعانت علی المعصیت دی.

په دې کي د چا اطاعت او فرمانبرداري کول او د يو چا پر وينا او مجبوره کولو چنده ورکول جائز نه دی او له دې وجي چي کوم سردار چنده نه ورکونکی له خاندان څخه خارج کړي، هغه سخت فاسق وفاجر دی چي خوف د کفر دی، په داسي کارونو ايمان سلب کيږي او قرآن شريف او احاديث صحيحه کي د داسي خلکو لپاره سخت وعيد راغلی دی (۱) قال الله تعالی: (وتعاونوا علی البر والتقوی ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان الآية) (سورة مائدة، آيت ۲) وقال الله تعالی: (ومن يشاقق الرسول من بعد ما تبين له الهدی ويتبع غير سبيل المؤمنين نوله ماتولی ونصله جهنم وساءت مصيرا) فقط والله تعالی اعلم

ايا په تعزيه کولو سره د حضرت حسن رضی الله عنه محبت ثابتيږي؟

سوال: (۸۲۸) تعزيه کول څرنګه دی؟ که يو سړی دا ووايي چي تعزيه کول د دې وجي جائز دی چي په دې سره محبت د امام حسين رضی الله عنه کيږي، دا ويل د ده صحيح دي کنه؟ (۱۰۸۲/۴۴-۱۳۴۵ھ)

جواب: تعزيه کول په هيڅ ډول جائز نه دي او دا قول د دغه سړي غلط دی، له دغه څخه محبت د امام حسين رضی الله عنه نه ثابتيږي، بلکي دا امر د دوی د ناخوښی باعث دی. فقط والله تعالی اعلم

د تعزيې په خلاف ګواهي ورکول څرنګه دي؟

سوال: (۸۲۹) د تعزيې د لاري په هکله مقدمه وشوه، دري کسانو مسلمانانو په خلاف ګواهي ورکړه، عدالت فيصله په خلاف وکړه، يعني کومه لار چي د تعزيې وه، د هغه خلاف بله لار کښيښوده، کومو خلکو چي د تعزيې په خلاف ګواهي ورکړه، د هغو لپاره شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۴۵/۵۷ھ)

---

۱) عن ابي هريرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم..... ومن دعا الی ضلالة کان عليه من الاثم مثل آثام من تبعه لا ينقص ذلک من آثامهم شيئا، رواه مسلم (مشکاة المصابيح ص۲۹، کتاب الايمان، باب الاعتصام بالکتاب والسنة، الفصل الاول)

وعن اوس بن شرحبيل رضی الله عنه انه سمع رسول الله صلی الله عليه وسلم يقول: من مشی مع ظالم ليقويه وهو يعلم انه ظالم فقد خرج من الاسلام، رواه البيهقي في شعب الايمان (مشکاة المصابيح ص۴۳۶، کتاب الاداب، باب الظلم، الفصل الثالث)

جواب: تعزیه جوړول او تعزیه را ایستل او د تعزیې تعظیم کول او هغه منل، دا ټول امور په شریعت کې حرام او ګناه کبیره ده. د تعزیې سره چې کوم څه عوام جهال د شرک کار کوي، نذر مني، د دغو ټولو وبال پر تعزیه جوړونکي دی. ځکه چې هغه به نه تعزیه کړې وای او نه به شرک وبدعات د دې سره کېدای. افسوس صد افسوس! چې مسلمانان د شرک وبدعت کار ته د دین کار بللو سره دغه ډول سوالونه کوي، مسلمانانو ته خو متفقه کوښښ سره تعزیه بندولو کې او د دغه رسم بد متاوولو کې همت کول پکار دی چې د شرک وبدعت ختمولو ثواب حاصل شي، د تعزیې په هر ډول تائد کول زموږ په نزد سخت معصیت او ګناه ده، یو د دین کار نه دی چې د دې په تائید کې مقدمه او جنګ وجدال یا قتل وقتال وشي، په دغه بنه ځان پوه کول په کار دي. فقط

د ربیع الاول له لومړۍ څخه تر دوولسمې پورې هره ورځ خلګ راجمع کول او درود شریف ویل او په دوولسمه خلګو ته میلمستیا کول:

سوال: (۸۳۰) یو سړي په غرض د تکثیر ثواب بلکې په غرض د تسهیل کار دا معمول جوړ کړی دی چې د ربیع الاول له لومړي تاریخ څخه تر دوولسمي پورې هره ورځ خو احباب جمع کولو سره درود شریف وایي، بعد ختم حاضرینو بآندې څه خوري او په دوولسم تاریخ خپل احباب وغرباء وطلباؤ ته میلمستیا کوي، پر ده اعتراض کیږي چې دا بدعت سیئه دی، ځکه چې دا طریقه په سلف صالحینو کې رائج نه وه، هغه جوابًا وایي: موږ دا تسلیموو لېکن سلف صالحین همیشه اکثر اوقات درود شریف او نور وایي، هغو ته د خصوصیت ایام ضرورت نه و، في زماننا موږ خلګ بالکل غافل شپه ورځ په خرافاتو کې مبتلا یو، که ورځ متعین نه کړي نو له درود شریف څخه محروم پاته کیږو او د دوولس تاریخ له دعوت څخه غرض ایصال ثواب دی، که دا شان جلسه د ربیع الاول پر ځای په بله میاشته کې وشي نو څه حکم به وي؟ (۱۳۴۳/۲۲۴۹هـ)

جواب: فقهاء رحمهم الله دغه ډول تخصیصات د داغه وجې بدعت لیکلی دی چې دا التزام ما لا یلزم دی او په آخر کې دا تخصیص وتعیین د واجب درجې ته رسیږي او د جهلاء لپاره حجت ګرځي،

پخپله اعتقاد د وجوب نه وي، بیا هم د نورو لپاره سبب د اعتقاد ګرځي، کما هو مشاهد في مثل هذه الامور او دا امر هم موجب ممانعت فقهاوو لیکلی دی، داغه هغه احداث في الدین دی چي په هکله یې ارشاد دی: من احدث في امرنا هذا ما لیس منه فهو رد (۱) او قیاس کول زموږ کار نه دی، نو ضروري دی چي ته د حضرات اکابر مسلک نه پریږدې او د دغه ډول التزامات و تخصیصات پابنده نه شې او د ربیع الاول له ماسیوا په کومه میاشته کي که دغه ډول تخصیص وشي او التزام وشي، د هغه هم داغه حکم دی. (۲) اوس د عدیم الفرصتي او کثرت کار په وجه زیات تفصیل نشي کېدای او روایات کوم چي په کتب فقه کي موجود دي، نشم نقل کولای چي کله موقع ملاو شي نو په ژبه به تفصیل وکړو. فقط والله تعالی اعلم

په دوولسمه کي د شیربرینج پخولو لپاره له کورونو وریجي راټولول

سوال: (۸۳۱) په بنګال کي اوس دا رسم جاري دی چي د هر یو او سیدونکي له کور څخه یو سیر یا نیم سیر وریجي طوعًا و کرهًا راجمع کړي، په دوولسمه کي شیربرینج په پخوي، ټول خلک یې خوري، د دې څه اصل شته کنه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۷۸۴ھ)

جواب: د دې هیڅ اصل په شریعت کي نشته، بدعت دی، دغه رسم پریښودل په کار دی. فقط

د رجب په میاشت کي د تبارک ډوډۍ پخول او د حضرت جعفر رحمه الله کاسي ډکول

سوال: (۸۳۲)... (الف) د رجب په میاشت کي په اکثره ځایو کي د تبارک ډوډۍ پخیږي،

---

۱) د دغه حدیث شریف تخریج د کتاب الایمان د سوال (۴۹۱) په جواب کي وګورئ.

۲) واما اذا سجد بغیر سبب فلیس بقربة ولا مکروه وما یفعل عقیب الصلوات مکروه، لان الجهال یعتقدونها سنة او واجبة، وکل مباح یؤدي الیه فمکروه. (الفتاوی العالمغیریة: ۱۳۶/۱، کتاب الصلاة، الباب الثالث عشر في سجود التلاوة، ومما یتصل بذلک مسائل سجدة الشکر)

وقال الطیبي: من اصر علی امر مندوب وجعله عزما ولم یعمل بالرخصة فقد اصاب منه الشیطان من الاضلال (مرقاة المفاتیح ۲۲/۳، کتاب الصلاة، باب الدعاء في التشهد، الفصل الاول، رقم الحدیث ۹۴۲)

او پر هغه سورة ملک ویل کیږي، دا په قرآن او حدیث کي ثابت دي کنه؟

(ب) په داغه میاشت کي د امام جعفر رحمه الله په نامه کاسې ډکیږي، یعني غړي کوي، په دې کي قید دا دی چي هغه غړی به صرف لمونځ کوکی خوري او پر داغه ځای په ناسته به خوړل کیږي، دباندي به نه استول کیږي او د غه غړی خوړونکی مستحق د ثواب دی کنه؟

(ج) په ډیرو مقاماتو کي دریمه لسمه شلمه، څلویښتمه او نور کیږي او د دریمي په ورځ پر نخودو ذکر کیږي، دا هم جائز دی کنه؟ بلکي په ځینو ځایو کي پر چوکیانو ډوډۍ ایښودل کیږي، فاتحه کیږي، دا فاتحه کول جائز ده کنه؟ (۱۳۳۸/۱۵۱۰هـ)

جواب: (الف- ج) د تبارک ډوډۍ خوړل او د امام جعفر رحمه الله کاسه او غړی او دریمه، لسمه، شلمه، څلویښتمه او د دریمي نخود او فاتحه ورکول خوړل مخته ایښودل، دا ټول رسوم ناجائز او بدعت او خلاف شریعت دي، دا پرېښودل په کار دي فقط والله تعالی اعلم

د رجب د میاشتي کاسې د مدار صاحب چرګ او د میران صاحب کړایي څه حکم دی؟

سوال: (۸۳۳) په بریلي کي د رجب په میاشت کي د کاسو په رسم کي یعني نذر کیږي، د هغه طریقه دا ده چي د رجب په هره پنجشنبه یا جمعه په نو وکاسو کي شیریني یا فریني یا یو بل ډول نفیس (ښه) خوراک پر یو ځای پاک او صاف باندي جمع کولو سره فاتحه د حضرت سید جلال بخاري رحمه الله کیږي او خپل اهل خاندان او احباب راوبولي، پر داغه ځای یې په خوري، دغه ډوډۍ یا شیریني له دغه ځای څخه بل ځای ته وړولو ممانعت دی او داغه ډول په ۲۲ رجب کي د کاسو غړی کیږي، د هغه طریقه دا ده چي غوړي شیدې د میده وړو غړی پر پاک صاف ځای کښیږدي، فاتحه د حضرت جعفر صادق رحمه الله کیږي او داغه غړی پر داغه ځای چیري چي فاتحه وي، په خوري یې، د دغه ډوډۍ هم منتقل کولو اجازه نشته، دغه دواړي جائز دي کنه؟ او دغه شان د دې د خوړولو قاعده یې مقرره کړې ده کنه؟ دغه شان د مدار صاحب

چرګ او د میران صاحب کړایي جائز ده کنه؟ او د دې کونکو په هکله څه احکام دي؟ (۱۳۴۲/۹۴۰هـ)

جواب: دغه دواړي فاتحې په هیئت مروجه وتخصیصات مذکوره جائز نه دي، وتفصیله في المطولات او داغه رنګه د مدار صاحب چرګ او د میران صاحب بزه وکړایي او نور هم ناجائز او بدعت دی. فقط والله تعالی اعلم

د رجب په دوویشتمه د حضرت جعفر صادق رحمه الله فاتحه کول

سوال: (۸۳۴) د رجب په دوویشتمه فاتحه د امام جعفر رحمه الله اهل سنت والجماعت کوي او په دغه فاتحه کي غړي بې مالګي پخیږي، کاسې په سپینه خاوره صفا کړي، ږدي يې او فاتحه کيږي، دا څرنګه دی؟ (۱۳۳۵/۹۸۳هـ)

جواب: دا محض بدعت او ناجائز دی، دغه پرېښودل په کار دي. فقط والله تعالی اعلم

د برات په پنځلسمه (پنځلسي) کي حلوا او پخه ډوډۍ ویشل

سوال: (۸۳۵) څه فرمايي علماء د دين په دغه مسئله کي چي اکثر خلګ په خاص شپه د برات کي حلوا ډوډۍ پخه کړي، پخپل منځ کي يو کور والا بل کور والا ته او د اشان پر مسکينانو باندي تقسيموي او دا کار باعث د ضرورت وثواب بولي. (۲۹/۵۰۰-۱۳۳۰هـ)

جواب: دغه ضروري او ثواب بلل يا التزام داسي کول لکه د واجباتو وضرورياتو چي کيږي، بدعت دی، ممنوع دی، دغه رسوم خلاف شريعت ترک کول لازم دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې هيڅکله امر نه دی کړی او نه يې دا فعل پخپله کړی دی او نه د ده د خير په زمانه کي يو بل صحابي کړی دی، نه په خير القرون کي دا فعل چا کړی دی، لنډه دا چي دا فعل بدعت دی، قال الله تعالی: وما آتاكم الرسول فخذوه وما نهاكم عنه فانتهوا (سورة حشر، آیت ۷) وقال عليه الصلاة والسلام: من احدث في امرنا هذا ما ليس منه فهو رد (۱) وقال عليه الصلاة والسلام: كل بدعة ضلالة

---

۱) د دغه حديث شريف تخريج د كتاب الايمان د سوال (۴۹۱) په جواب کي وګورئ.

الحدیث(۱) فقط و الله تعالی اعلم

په شب برات (پنځلسي) کي اورونه لګول

سوال: (۸۳۲) په پنځلسي کي اورونه لګول او د تلعب بالنار څه حکم دی؟ (۱۳۴۳/۲۲۳۹هـ)

جواب: في الواقع پنځلسی د عبادت شپه ده، د اور په لوبو او نورو تو کو ټکالو کي مشغولیت حرام او اسراف دی چي کار د اخوان الشیاطین دي، کما قال الله تعالی: (ان المبذرین کانوا اخوان الشیاطین وکان الشیطان لربه کفورا) (سورة بني اسرائیل، آیت: ۲۷) او کار د شیطان او لهو ولعب ته شعائر اسلام ویل سخته ګناه او فسق وفجور دی، له دغه توبه کښل پکار دي، "تلعب بالنار" هیڅ ډول موجب قرب الهي نشي کېدای او هغه امر چي په اصل کي مباح وي او مالا مفضي الی الشرک والحرمة وي، هغه هم حرام کیږي، چیري به چي له اصله حرام او ناجائز وي. (۲) فقط والله تعالی اعلم

ایا د شعبان ۱۳ . ۱۴ ، ۱۵ تاریخو کي غوښي خوړل حرام او حلوا خوړل ضروري دي؟

سوال: (۸۳۷) د شب برات ۱۳، ۱۴، ۱۵ په دغه تاریخو کي غوښي خوړل څرنګه دي؟ ایا حلوا خوړل ضروري دي؟ قاضي د ښار وایي: په دغه مذکوره تاریخو کي غوښي خوړل داسي دي لکه د خپل پلار غوښیخ وړل؟ (۱۴۵۰/۴۴-۱۳۴۵هـ)

جواب: د قاضي صاحب دا قول لغو او غلط دی، په شریعت کي د دې یو ځای هم اصل نشته، دغه شان په دغه تاریخو کي حلوا ضروري ګڼل هم بدعت او بې اصل دی له دغه اجتناب کول

---

۱) د دغه حدیث شریف تخریج د کتاب الایمان د سوال (۷۱۷) په جواب کي وګورئ.

۲) قال الطیبي: من اصر علی امر مندوب وجعله عزما ولم یعمل بالرخصة فقد اصاب منه الشیطان من الاضلال، فکیف من اصر علی بدعة او منکر. (مرقاة المفاتیح: ۲۲/۳، کتاب الصلاة، باب الدعاء في التشهد، الفصل الاول، رقم الحدیث: ۹۴۲)

په کار دی، د بدعت پر کارونو ټینګار د حرمت سره مرادف دی. فقط والله تعالی اعلم

د اختر له لمانځه وروسته روغتېړ کول څنګه دی؟

سوال: (۸۲۸) په غټ او کوچني اختر کي د دنیا والو د رواج له امله روغبړ کول څرنګه دي؟ بینوا توجروا. (۲۹/۱۹۱-۱۳۳۰ھ)

جواب: تر عید الاضحی او عید الفطر بعد خو عوامو مصافحه یا معانقه ضروري بللې ده، دا تخصیص خلاف د حکم د شریعت دی، د دې وجي علماء منع کوي او په کتابو کي هم داسي تخصیص منع لیکلی دی نو رسم دنیاوي ګڼلو سره هم دا نه دی کول پکار. فقط والسلام مع الاکرام

تر لمانځه وروسته د ملا امام سره روغبړ کول

سوال: (۸۳۹) د لمانځه څخه د فراغت بعد کله امام صاحب له مسجد څخه د وتلو قصد وکړي، د ده سره مصافحه کول جائز ده کنه؟ او ملاقات جائز دی کنه؟ (۲۹/۹۱۳-۱۳۳۰ھ)

جواب: مصافحه بعد جماعت دا فقهاء کرام بدعت او ناجائز لیکلې ده او په شامي کي نقل کړي دي چي دا طریقه د روافضو ده، عبارت د هغه دا دی: د نقل في تبیین المحارم عن الملتقط تکره الخ(۱) (ص: ۲۴۴) نو چي دا طریقه د روافضو ده او صحابه رضوان الله تعالی علیهم الجمعین

---

۱) د شامي پوره عبارت دا دی:

ونقل في تبیین المحارم عن الملتقط انه تکره المصافحة بعد اداء الصلاة بکل حال، لان الصحابة رضی الله عنهم ما صافحوا بعد اداء الصلاة، ولانها من سنن الروافض اهـ ثم نقل عن ابن حجر من الشافعیة انها بدعة مکروهة لا اصل لها في الشرع، وانه یُنَبّه فاعلها اولا ویعزر ثانیا، ثم قال: وقال ابن الحاج من المالکیة في المدخل انها من البدع وموضع المصافحة في الشرع انما هو عند لقاء المسلم لاخیه لا في ادبار الصلوات، فحیث وضعها الشرع یضعها فینهی عن ذلک ویزجر فاعله لما اتی به من خلاف السنة اهـ

(الشامي: ۲۷۰/۵، کتاب الحظر والاباحة، باب الاستبراء وغیره. ط رشیدیه)

دا شان نه وکړه، نو د سنت خلاف طریقه ولي اختیار کړل شي، بس نو شرک دي دې ته هم نه ویل شي، مگر بدعت او گناه خامخا ده. لهذا د دې ترک لازم دی. فقط والله تعالی اعلم

د سهار جمعې او د اخترو له لمانځه وروسته یو د بل سره روغبړ کول

سوال: (۸۴۰) د صحاح سته له معتبرو روایتو څخه دا ثابت دي چې چیرې دوه مسلمانان جمع شي یو د بل سره مصافحه کولو سره محبت زیاتیږي او له جلا کېدو مخکې د دوی دواړو گناوې ختمیږي، د معترضینو له لوري ممانعت کیږي چې اهل احناف چې کوم د سهار، جمعې او اخترو له لمونځونو بعد مصافحه کوي، صریحًا ناجائز ده، بلکې دا فعل د رافضانو دی، ایا په دغه صورت کې موافق مذهب اهل سنت والجماعت څه حکم دی؟ (۱۳۳۷/۱۳۹۲هـ)

جواب: فقهاء حنفیه رحمهم الله دغه مصافحه بدعت او مکروه فرمایلې ده او په تبیین المحارم کې له ملتقط څخه نقل کړي دي چې دا د روافضو طریقه ده، نو ترک کول د دې اهل سنت والجماعت لره لازم دي، رد المحتار کې دي: ونقل في تبيين المحارم عن الملتقط انه تكره المصافحة بعد اداء الصلاة بكل حال، لان الصحابة ما صافحوا بعد اداء الصلاة ولانها من سنن الروافض. (۱) فقط والله تعالی اعلم

د جمعې له اذان ثاني بعد دعا او مناجات کول

سوال: (۸۴۱) د جمعې په ورځ بعد اذان ثاني مناجات کول څرنگه دي؟ (۳۲/۹۴۵-۱۳۳۳هـ)

جواب: مکروه او ممنوع دی، په درمختار کې دي: وينبغي ان لا يجيب بلسانه اتفاقا في الاذان بين يدي الخطيب. (۲) (باب الاذان)

وفي الشامي: واجابة الاذان حينئذ مكروهة (۱) او په حدیث شریف کې دي: اذا

---

۱) الشامي: ۲۷۰/۵، کتاب الحظر والاباحة، باب الاستبراء وغيره. ط رشيديه

۲) الدر المختار مع رد المحتار: ۲۹۴/۱، کتاب الصلاة، باب الاذان، مطلب في كراهة تكرار الجماعة في المسجد. ط رشيديه

خرج الامام فلا صلاة ولا كلام الخ (٢) نو معلوم شو چي د جمعې تر دوهم اذان وروسته دي دعا او مناجات په ژبه سره نه کوي. فقط والله تعالى اعلم

په ډول وهلو د نفلو لپاره خلاف راجمع کول

سوال: (٨٤٢) د نفل لمانځه لپاره خلګ که په ډول وهلو سره جمع کړل شي نو جائز دی کنه؟ (٣٢/٥٤٢-١٣٣٣هـ)

جواب: دا ټول امور چي په سوال کي درج دي، بدعت او ناجائز دي، د نوافل لپاره تداعي او اجتماع ممنوع ده (٣) او په ډول وهلو سره جمع کول نور هم بد دي او ناوړه او قبيح دي. فقط والله تعالى اعلم

د عرفات په ورځ دوه رکعته د حج په جماعت سره کول

سوال: (٨٤٣) د ننګل د بهلور په سيمه کي زموږ نيکه دوه رکعتيز لمونځ د حج په نوم د عرفات په ورځ د ماخيګر له لمانځه مخکي ادا کاوه او په دغه لمانځه کي د حج ثواب حاصلولو په نيت د نورو کليو قرب وجوار ځخه اکثر خلګ شامل کېدل، اوس ځيني علماء منع کوي، څه حکم دی؟ (٣٢/٨٥٤-١٣٣٣هـ)

جواب: د عرفه په ورځ د خلګو جمع کېدل تشبهًا بالواقفين او نفل په جماعت کثيره کول، په خيال د حصول د ثواب د حج لاريب بې اصل او بدعت دی ومکروه دی. قال في الدر المختار: والحاصل ان

---

١) الشامي: ٢٠٧/١، كتاب الصلاة، باب الجمعة، مطلب في حكم المرقي بين يدى الخطيب ط رشيديه

٢) قال الزيلعي بعد تخريج هذا الحديث: "قلت غريب مرفوعًا، قال البيهقي: رفعه وهم فاحش، انما هو من كلام الزهري، انتهى "ثم اطال الزيلعي في تخريج متابعاته وشواهده، فمن شاء فليراجع. (نصب الراية في تخريج احاديث الهداية للزيلعي: ٢٠١/٢، كتاب الصلاة، باب صلاة الجمعة، الحديث الخامس)

٣) ولا التطوع بجماعة خارج رمضان اى يكره ذلك لو على سبيل التداعي الخ. وفي الشامي: ثم ان كان ذلك احيانًا كما فعل عمر رضى الله عنه كان مباحا غير مكروه وان كان على سبيل المواظبة كان بدعة مكروهة، لانه خلاف المتوارث الخ. (الدر المختار ورد المحتار: ٥٢٤/١، كتاب الصلاة، باب الوتر والنوافل، مبحث صلاة التراويح، مطلب في كراهة الاقتداء في النفل على سبيل التداعي وفي صلاة الرغائب ط رشيديه)

الصحيح الكراهة كما في الدور، بل في البحر ان ظاهر ما في غاية البيان انها تحريمية الخ(١) وفي شرح المنية وانما مفاتيح هذه الاشيا، البدع الخ وما لم يكن من امرهم فهو بدعة، والبدعة اذا لم تستلزم سنة فهي ضلالة انتهى (٢) فقط والله تعالى اعلم

د نبي عليه الصلاة والسلام په نوم راتلو پته گوته مچول او له لمانځه وروسته د لا اله الا الله درې ضربه لګول

سوال: (۸۴۴) يو سړي دلته راتلو سره سخت فساد جوړ کړی دی. علماء ديوبند وسهارنپور او نور او د هغو هم خيال په وهابي او نورو الفاظو سره ياد وي او دا څو مسائل په خصوصيت سره پخپله کوي او نورو ته حکم کوي او وايي: دا ټول مسائل له احاديث وفقه څخه ثابت دي:

(الف) د رسول الله صلی الله عليه وسلم په نامه مبارک بته گوته مچولو سره د سترگو سره لگوي او د دې سخت التزام کوي، پر دريمه، څلويښتمه، ميلاد او نورو ډير زور ورکوي

(ب) د لمانځه وروسته درې ځله پر تهليل زور ورکوي او د نورو لمونځ کوونکو خيال نه ساتي، بلکي دا ضروري کار بولي. (۵۵۱/۳۳-۱۳۳۴هـ)

(ج) علماء ديوبند وسهارنپور او د هغه هم خيال ته وهابي، متشدد او نورو الفاظو سره بلکي غير مقلد ورته وايي.

جواب: (الف) صحيح خبره دا ده چي نوم مبارک اورېدو سره بته گوته مچول له سنت څخه ثابت نه دي، نو د سنت په خلاف کار باندي دومره ټينگار صحيح نه دی، دريمه وڅلويښتمه، وانعقاد مجلس ميلاد مروج بدعت دی او د دين په خلاف کارونو ډک دی، دغه پرېښودل پکار دی.

(ب) دا التزام هم بدعت دی او شعار د مبتدعينو دي، دی دي له دې کاره منع او را وگرځول

---

١) الشامي: ٢١٩/١، كتاب الصلاة، باب العيدين، مطلب لا يلزم من ترك المستحب ثبوت الكراهة اذ لا بد لها من دليل خاص ط رشيديه

٢) غنية المستملي في شرح منية المصلي المعروف بالحلبي الكبيري: ص۴۹۳-۴۹۴. فصل في صلاة العيد، فروع الخروج الى المصلى.

شي. فقط والله تعالی اعلم

(ج) علماء مذکورین متبع سنت او حنفیان دي، بدعتیان او بدو عقیدو والا يې بد بولي او بد ورته وايي او دا په سبب د حسد او عداوت د سنت دی او ظاهره ده چي دا امر موجب د فسق دی، الله تعالی دي محفوظ وساتي. فقط والله تعالی اعلم

د بټي ګوتي مچولو په هکله د حضرت آدم علیه السلام کیسه بې بنیاده ده

سوال: (۸۴۵) ځیني خلګ چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم کله نوم مبارک واوري، نو له ډیر محبته بټه ګوته مچوي او دا کیسه نقل کوي چي د حضرت آدم علیه السلام دعا چي کله د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وسیله قبوله شوه نو هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زیارت دعا له الله تعالی څخه وکړه نو الله تعالی وفرمایل: ته د خپلي بټي ګوتي منځ ته وګوره، نو په ګوته کي بعینه شبیه د رسول الله صلی الله علیه وسلم معلوم شو، د دې وجي مچول په کار دي. (۱۴۷۹/۴۴-۱۳۴۵هـ)

جواب: داسي کول سنت ګڼلو سره صحیح نه دي او دا کیسه د حضرت آدم علیه السلام صحیح نه ده، بالکل بې اصله ده. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۸۴۶) په مولود طیش کي دا مضمون لیکلی دی چي کله آدم علیه السلام پر آسمان تیر شو، نو ملائکه مقربین په تعظیم د آدم کي تر شا شا رواني وې، آدم علیه السلام عرض وکړی چي ای پروردګار دعا! څه سبب دی چي ملائکه مقربین زما تعظیم کوي؟ حکم وشو چي ستا په تندي کي نور محمدي دی، دا د هغه تعظیم دی، آدم علیه السلام عرض وکړی چي یا الله! هغه نور دي یو داسي ځای ته راشي چي زه هم په هغه مشرف شم او ويې وینم، د آدم علیه السلام په خواست سره هغه نور د شهادت په ګوته کي راغلی، سمدستي آدم علیه السلام مچ کړه، نو داغه وجه ده چي کله مؤذن "اشهد ان محمد رسول الله" وايي نو خلګ ګوتي مچوي، دا سنت د آدم علیه السلام دی.

جواب: دا کیسه موضوع معلومیږي، له یو حدیث واثر صحیح څخه د دې ثبوت نشته فقط

کتبه مفتي صاحب د دیوبند، ۲۵ محرم الحرام، ۱۳۳۵هـ

د جواب کتلو بعد څو اعتراضات پیدا شوه، لاندي لیکل شوي دي:

(۱) کله چي دا عمل تعظيمًا کيږي نو ولي نه دي کول پکار؟ ايا دا سي نه کول هم په يو کتاب کي ثابت دي؟ او په کوم کتاب کي؟

(۲) کله چي مؤذن اذان کوي نو خلک ګوتي مچوي، لکه په سوال کي مذکور دي نو د دې بدعت کېدل په کوم کتاب ثابت دي؟ (۱۳۳۵/۱۳۰هـ)

الراقم: محمد زبير خان، اعظم ګړه

جواب: اقول وبالله التوفيق: چي دا کيسه کومه د حضرت آدم عليه السلام لوري ته منسوب ده، ثابته نه ده، بلکي موضوع حديث دی، نو د دې موافق عقيده ساتلو سره دا عمل کول جائز نه دي او دا تعظيم بلل هم صحيح نه دي، ځکه چي تعظيم په نامشروع کار کي نه کيږي او په شامي کي دده پر په هکله بحث شته او دغه عمل يې له ځينو سلفو څخه رانقل دی: وذکر ذلک الجراحي واطال، ثم قال: ولم يصح في المرفوع من کل هذا شيء الخ(۱)

نو بناءً عليه زموږ د حضرات اکابر رحمهم الله تعالی مسلک هم دا غه دی چي دا عمل خلاف د سنت دی او سنت بللو سره ندي کول پکار، همدا شان په دې وجه چي دغه زمانه کي اهل بدعت په دې کي غلو کړې ده، پر تارک يې طعن کوي، پريښودل د دې عمل لازم دي. کما صرح به الفقهاء. (۲) فقط

---

۱) الشامي: ۲۹۳/۱، کتاب الصلاة، باب الاذان، مطلب في کراهة تکرار الجماعة في المسجد. ط رشيديه

۲) سوال: تقبيل الابهامين يعني د مؤذن د اشهد ان محمد رسول الله ويلو په وخت په نامه د محمد صلی الله عليه وسلم د دواړو بټو ګوتو نوکان مچولو سره پر سترګو اينبودل بدعت دی، که سنت، که د دې يو اصل وي نو هغه حديث يا اثر چي په څومره قدر تعداد مي په ذهن مبارک کي وي، مهرباني وکړه، د هغه کتاب حديث نوم باب وفصل د مخ وليکه، يو ځل يو صاحب د دې په هکله دوه حديثونه له دوو کتابو څخه وړاندي کړي وه، که څه هم ضعيف وه، لېکن کتابونه مي په ياد نه دي، لله جواب ژر راکړه. والسلام علی من اتبع الهدی، داغه شان که هغه حديثونه ضعيف وي نو وې لېکه چي پر هغه عمل کولو په شريعت کي څه حکم دی؟

جواب: په مقاصد حسنه د سخاوي کي د هغه روايتو تحقيق شته، د هغه مضمون صرف دا دی چي دا عمل دی د رمد يعني د سترګو خوږېدو، مګر اوس خلک دا دين بولي، کوي يې، نو بدعت کېدل ظاهر دي او پر صحيح نيت هم تشبيه له اهل بدعت سره شته، د دې وجي ترک چي لازم دی. (امداد الفتاوی

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په نامه مبارک د ښو ګوتو مچولو روايات صحيح دي کنه؟

سوال: (۸۴۷) د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر نامه مبارک اورېدو په اذان کي وي که غير اذان کي ښتي ګوتي مچولو سره پر سترګو ايښودل سنت دي که بدعت؟ او کوم روايات چي د دې په هکله راغلي دي، صحيح دي کنه؟ (۱۳۴۳/۲۷۹هـ)

جواب: کوم روايات چي په دې هکله منقول دي، د هغه په هکله د علماء محدثين دا قول دی چي هغه صحيح نه دي، د دې وجي دغه عمل سنت نه دی او اصرار ومداومت پر دې جائز نه دی چي د سنت کېدو شائبه ونشي، شامي بعد نقل روايات مذکوره له جراحي څخه نقل کړي دي: وذکر ذلک الجراحي واطال ثم قال: ولم يصح في الموفوع من کل هذا شيء الخ. (۱) فقط والله تعالی اعلم

د رسول الله صلی الله علیه وسلم نوم اورېدو ښتي ګوتي مچول او پر سترګو ايښودل

سوال: (۸۴۸) تقبيل الابهامين عند الشهادتين سنت دی که بدعت؟ که په کوم حديث کي ثابت دي؟ راته وليکئ. (۱۳۳۷/۷۸۰هـ)

جواب: د دغه عمل هيڅ اصل صحيح ثابت نه دی، د دې وجي حضرات اکابر رحمهم الله دا خوښ کړ نه دي او د اذان اجابت او دعا بعد الاذان په هکله چي کوم الفاظ وادعيه په احاديثو صحيحو کي راغلي دي او صحابه وتابعين وائمه د دين وجمهور سلف وخلف رحمهم الله کوم تعامل راغلی دی، هغه دي اختيار کړل شي، رد المحتار معروف په شامي کي د دې رانقل کولو وروسته له جراحي څخه نقل کړي دي: وذکر ذلک الجراحي واطال ثم قال: ولم يصح في المرفوع من کل هذا شيء الخ. (۲) فقط

سوال: (۸۴۹) څه وخت چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم نوم واوري، ښته ګوته مچولو سره پر سترګو ايښودل مباح دی که بدعت؟ (۱۳۳۹/۱۲۳۴هـ)

۲۲۰/۵، کتاب البدعات، سوال (۲۴۵) د تفصيل لپاره وګورئ: فتاوی رحيميه کامل: ۵۰۴/۱-۵۱۱، د سنت و بدعت بيان، سوال (۸۰-۸۱) مطبوعة: مکتبة الاحسان ديوبند.)

۱) الشامي: ۲۹۳/۱، کتاب الصلاة، باب الاذان، مطلب في کراهة تکرار الجماعة في المسجد. ط رشيديه

۲) رد المحتار علی الدر المختار شرح تنوير الابصار لابن عابدين الشامي: ۲۹۳/۱، کتاب الصلاة، باب الاذان، مطلب في کراهة تکرار الجماعة في المسجد. ط رشيديه

جواب: محققینو ویلي دي چي دا ثابت نه دي. فالترک احوط. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۸۵۰) د رسول الله صلی الله علیه وسلم اسم مبارک اورېدلو سره تقبیل کول جائز دی کنه؟ یو مولوي وايي: صریح منع دی، بل وایي: نه مچه کونکی کافر او مشرک دی. (۲۰۲۴/۱۳۳۹هـ)

جواب: د رسول الله صلی الله علیه وسلم اسم مبارک په اورېدلو سره تقبیل کول په کوم اثر او روایت ثابت نه دی او صحابه رضی الله عنهم هم دا شان نه کول او له ائمه مجتهدین څخه منقول نه دي، لهذا د اتباع سنت دا غه طریقه دی چي ترک کړل شي. لېکن کونکو ته دي کافر ومشرک نه ویل شي، دغه شان تارک د دغه فعل چي متبع سنت دی، هغه ته کافر ومشرک ویل د ویونکي جهالت دی. فقط والله تعالی اعلم

د بتي ګوتي مچولو حدیث ثابت دی کنه؟

سوال: (۸۵۱) اورېدلي مي دي چي د بتي ګوتي مچولو حدیث په شامي کي راغلی دی، دا حدیث څرنګه دی؟ (۱۵۱۲/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: په شامي کي له کنز العباد څخه د دغه مضمون یعني د تقبیل ابهامین حدیث رانقل کړی دی، لېکن په آخر کي دا ویلي دي: نقلا عن الجراحي: ولم یصح في المرفوع من کل هذا شيء. (۱) یعني له مرفوع حدیث څخه دا ثابت نه دي، حاصل دا شو چي دغه سنت نه دی ګڼل په کار او پر دې اصرار نه دي کول پکار او اصرار پر غیر سنت ښه نه دی، مګر په دغه حالت کي د اصرا ترک د دې لازم دی چي عوام د وجوب او سنیت اعتقاد نه وساتي، خصوصًا په دغه زمانه کي چي ځیني عوام په دې کي ډېر غلو کونکي دي او تارک ته ملامت او طعن ورکوي، په داسي حالت کي فقهاؤ د امر مستحب هم ترک کول ضروري ګرځولي دي. فقط والله تعالی اعلم

په اذان او اقامت کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم په نوم اورېدلو ګوتي مچول

سوال: (۸۵۲)... (الف) هره ورځ د سهار له لمانځه وروسته په اکثره مسجدونو کي مصافحه کوي

---

۱) الشامي: ۲۹۳/۱، کتاب الصلاة، باب الاذان، مطلب في کراهة تکرار الجماعة في المسجد. ط رشیدیه

دا په حدیث ثابت دي کنه؟

(ب) ایا په حدیث شریف کي دا هم ذکر دي چي په اذان یا اقامت کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر نامه مچه اخلي؟ (۱۳۳۸/۱۸۳۲هـ)

جواب: (الف- ب) دغه دواړي خبري یعني تخصیص مصافحه بعد صلاة الفجر او تقبیل ابهامین في الاقامه له حدیثه ثابت نه دي، بلکي شامي نقل کړي دي چي په اذان کي هم تقبیل ابهامین عند الشهادتین له حدیث مرفوع څخه ثابت نه دي، بس مصافحه بعد الفجر خو بدعت ده، دغه شان تقبیل ابهامین في الاقمه په اتفاق منفي دی. قال في الشامي ناقلا عن تبیین المحارم عن الملتقط: نه تکره المصافحة بعد اداء الصلاة بکل حال، لان الصحابة رضی الله عنهم ما صافحوا بعد اداء الصلاة، ولانها من سنن الروافض اهـ ثم نقل عن ابن حجر من الشافعیة: انها بدعة مکروهة، لا اصل لها في الشرع الخ (۱) (جلد خامس) وفي باب الاذان منه: وذکر ذلک الجراحي واطال، ثم قال: ولم یصح في المرفوع من کل هذا شيء- الی ان قال- ان هذا مختص بالاذان واما في الاقامة فلم یوجد بعد الاستقصاء التام والتتبع الخ (۲) فقط والله تعالی اعلم

د اصحاف کهف نذر ورکول

سوال: (۸۵۳) نذر د اصحاب کهف د قیوم سره مثلاً د ډوډۍ تخصیص د خلکو مقرر تعداد د خوړلو شیانو مقرر اوزان، جائز دي کنه؟ (۱۵۹۲/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: د اصحاب کهف نذر په طریق مخصوص، اوزان مخصوص، اشخاص معدود او نورو سره بدعت دی، د دغه قید ا التزام په شریعت کي هیڅ اصل نشته، داغه اصل د بدعت دی، طریق جائز ومباح دا ده چي بلا قید د یو تاریخ او یو شي او یو وزن او یو مقدار د کسانو او نورو چي کله وغواړي څه وغواړي ډوډۍ غوښي پلاو په قراء ویتامي او کونډو دي وخوري، یا

---

۱) الشامي: ۲۷۰/۵، کتاب الحظر والاباحة، باب الاستبراء وغیره. ط رشیدیه

۲) رد المحتار: ۲۹۳/۱، کتاب الصلاة، باب الاذان، مطلب في کراهة الجماعة في المسجد. ط رشیدیه

دي تقسیم کړي، یا دي نغدي روپۍ یا جامې واړو خلکو ته ورکړي او ثواب د دغه شیانو دي اصحاب د کهف ته وبخښل شي، دا طریقه کومه چې د ایصال ثواب د مړو لپاره صحیح او سمه ده. فقط والله تعالی اعلم

د نوافل بعد اجتماعي دعا کول

سوال: (۸۵۴) په جماعت سره له هر فرض لمانځه بعد په ډیر اختصار سره دعا غوښتلو ماسیوا سنتو او نفلو کولو وروسته بیا د داغه امام په متابعت او اقتداء کې ډیره اوږده په جهري اواز دعا غوښتل کیږي، دا جائز دي که بدعت؟ لمونځ کونکي په دغه دعا پریشان شي، بینوا توجروا. (۱۲۰۷/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: د دې ډول دعا هیڅ ثبوت نه نشته، په هیئت کذائیه التزام د دې بدعت دی او که لمونځ کونکو ته د تشویش او نورو باعث دی نو دا وجه هم د کراهت ده، لهذا د دغه التزام سره دغه فعل د دعا پریږدی، تر فرضو وروسته لومړی دعا باندې بسنه وکړی، هغه مسنون و مستحب ده. فقط والله تعالی اعلم

په وچ کالي او وباء او نورو کې اذان کول

سوال: (۸۵۵) په زمانه د قحط وبا او نورو حادثاتو کې او د مړي تر ښخولو وروسته اذان کول څرنګه دي؟ (۱۳۳۵/۲۴۵هـ)

جواب: په دغه حوادثو کې اذان له شارع علیه السلام څخه او اقوال وافعال د سلف صالحین څخه ثابت نه دي، لهذا دا بدعت دی. فقط والله تعالی اعلم

په کوم کلي کې چې طاعون وي، پر هغه شاوخوا یاسین ویل

سوال: (۸۵۶) په وجه مرض طاعون که یو سړی د ښار شاوخوا سورة یاسین ویلو سره طواف وکړي او کوم ځای مبین راشي، هلته ودریږي او "الله اکبر، الله اکبر" ووایي او په اذان کولو سره روان شي، په دغه سره طاعون لیري کیږي، دغه فعل ته سنت او فرض ویل څرنګه دي؟

یو سرې دې ته بدعت وايي، بينوا توجروا. (۱۳۳۵/۴۰۴ھ)

جواب: دا فعل له شريعت څخه ثابت نه دی نو فرض وسنت ویل دې ته غلط دی او بدعت ويل صحيح دي، ځکه چي کوم امر محدث دی هغه بدعت دی او کوم چي بدعت وي هغه ضلال دی، قال عليه الصلاة والسلام: من احدث في امرنا هذا ما ليس منه فهو رد. (۱) وقال عليه الصلاة والسلام: كل بدعة ضلالة الحديث. (۲) فقط والله تعالى اعلم

د نكاح بعد د ناوي لاس د خلكو پر پښو ايښودل

سوال: (۸۵۷) زموږ په پنجاب کي دا رواج دی چي ناوې تر نکاح وروسته د خلکو پر پښو لاس ږدي، دا جائز دي کنه؟ (۱۳۳۵/۴۸۸ھ)

جواب: دا رسم خلاف د شرع دی، دا پر پښو دل پکار دي او دا رواج بدعت او ناجائز دی. فقط

د مسجد تعمير مكمل كېدو باندي چنده كولو سره د خلكو ميلمستيا كول

سوال: (۸۵۸) په بنګال کي يو رسم د اقامت مسجد جاري شوی دی، صورت د هغه دا دی چي کله مسجد تيارېږي نو په خپل کلي کي چنده کوي او تاريخ معين کولو سره د لس پنځلس کليو خلکو ته دعوت ورکوي او ډوډۍ په خوري، دغه يو امر ضروري او کار خير بولي، ايا صورت مذکور له قرون ثلاثه وائمه مجتهدين څخه ثابت دی کنه؟ او دا ضروري بللو سره کول جائز دی کنه؟ (۱۳۳۵/۲۳۵ھ)

جواب: دا خو ظاهره ده چي په دغه طريق خاص سره دا صروت ثابت نه دی او ضروري بلل دا په التزام ما لا يلزم کي داخل کېدو سره بدعت ګرځي، نور نو د داسي افعالو نه شرعًا ممانعت شته، نه حکم دی، که اتفاقاً په وجه د اظهار د مسرت واتحاد د احباب دعوت وشي او په هغو ډوډۍ وخوړل شي، د دې په اصل کي هيڅ ممانعت نشته او په دې کي هيڅ حرج نشته، لېکن

---

۱) د دغه حديث شريف تخريج د کتاب الايمان د سوال (۴۹۱) په جواب کي وګورئ.
۲) د دغه حديث شريف تخريج د کتاب الايمان د سوال (۷۱۷) په جواب کي وګورئ.

دا ضروري بلل بې اصل دی او التزام په مثل د واجباتو ممنوع دی او د داسې امر غیر ضروري لپاره چنده اخیستل او پر هغو جبر کول حرام دی. که باني د مسجد پخپله صاحب ثروت وي او هغه پخپل مال حلال سره د خلګو دعوت په دغه خوشحالي کې وکړي نو په هغه کې هغه حکم دی کوم چې مخکې ولیکل شو. یعني بلا التزام صحیح دی او التزام او ضروري بلل د دې بدعت دی، باقي چنده اخیستل له خلګو څخه چې په هغه کې جبرا او نور وي، نه دي پکار. فقط والله تعالی اعلم

له لمانځه څخه وروسته د کعبة الله نقشه مچول

سوال: (۸۵۹) زمونږ سره څو اشخاص داسې دي چې له لمانځه څخه فارغ شي، د کعبة الله نقشې مچوي، په مسجد کې د کعبة الله نقشه پرته ده. دا جائز دي کنه؟ (۱۳۳۷/۲۰۵هـ)

جواب: د نقشې مچول ثابت نه دي، داسې نه دي کول په کار، مچونکو ته دا مسئله ورښودل په کار ده چې د دې هیڅ اصل په شریعت کې نشته، لهذا دا ډول فعل پرېښودل په کار دي. فقط والله تعالی اعلم

تر لمانځه وروسته په وار وار الفاتحه ویلو سره دعا غوښتل

سوال: (۸۲۰) د هر لمانځه وروسته دعا کولو بعد په لوړ آواز سره الفاتحه ویل او بیا فاتحه ویل په کار ده کنه؟ د فاتحه اوقات مقرر دي کنه؟ (۱۳۳۷/۲۲۴۸هـ)

جواب: د لمونځو بعد امام ومقتدیانو لره لاس پورته کولو سره دعا غوښتل مسنون ومستحب دي، بیا په وار وار دعا غوښتل او لمونځ کونکي مقید ساتل او که څوک دا ونه کړي، پر هغه طعن وتشنیع کول مکروه او بد دي. فقط والله تعالی اعلم

تر لمانځه وروسته په مخصوص یا معروف طریقه سجده کولو سره دعا کول مکروه ده

سوال: (۸۲۱)... (الف) تر لمانځه وروسته یو سړی د دواړو لاسو پر ورغوو سجده کولو سره دعا د خپل حاجت له خداوند کریم څخه غوښتلای شي کنه؟

(ب) تر هر لمانځه وروسته ورغویې آسمان لوري ته کول او د سجدې په حالت کې

د الله تعالی څخه د خپل حاجت لپاره دعا غوښتل، دا امر له کتاب و سنت څخه ثابت دی کنه؟ (۱۳۳۷/۲۴۶۲هـ)

جواب: (الف) دا ثابت نه دي او شامي رانقل کړي دي چي دا مکروه دي. (۱)

(ب) دا شان کول له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابت نه دي او په شامي کي دي چي دا مکروه دي، وما یفعل عقب الصلاة فمکروه الخ. (۱) فقط والله تعالی اعلم

تر لمانځه وروسته د شمال لوري ته مخ کول او لاس پر نامه دریدل

سوال: (۸۲۲) یو سړی د لمانځه وروسته د شمال لوري ته لاس په نامه لکه په لمانځه کي او سترګو بندولو سره ولاړ وي او وايي چي زه د پیر صاحب په حضور کي په ادب سره ولاړ یم، دا فعل څرنګه دی؟ (۱۳۳۹/۱۸۳۷هـ)

جواب: دا فعل خلاف د شریعت او بدعت دی، د سلف څخه ثابت نه دی. فقط

مسجد ته د ښځو راتلل شور ونعري کول او پر منبر نذرونه کول

سوال: (۸۲۳) په یو ښار کي جامع مسجد دی، په هغه کي له څلویښتو کلو څخه یو رسم بدعت جاري دی، هغه دا دی چي ماښام ښځي راځي، سل پنځوس خور هره ورځ راځي، مګر په اویشتمه د رمضان المبارک خو زره ښځي تي رودونکي ماشومان راوړي او په مسجد کي چیغي وهي او غورځي او د جماعت مخته ګرځي، یو دوه کوچنیان هره ورځ بولي کوي او ډیر زیات شور کیږي، لوخي پښي له کور څخه راځي او د مسجد ټوله فرش پلیت کړي، د مسجد پر دروازه د متهايي دوکانونه لګیږي، ډیر د ریوړیو او نورو نذر کیږي او بد معاشان خلک د دوی سره راځي، کله نا کله بد حرکت هم پیښیږي، په مسجد کي د سنګ مرم منبر دی، پر هغه نذرونه کوي او مچوي ختي یې او له هغه څخه نذرونه غواړي، دا څنګه ښکاره شرک او منبر پرستي ده؟ ایا په دغه صورت کي شرعًا څه حکم دی؟ (۱۳۳۷/۲۵۱۷هـ)

جواب: دا کوم افعال چي په مسجد کي کیږي، ډیر قبیح او مذموم دي، د مساجد پاکولو حکم دی

---

۱) الشامي: ۵۷۷/۱، کتاب الصلاة، باب سجود التلاوة، مطلب في سجدة الشکر. ط رشیدیه

او شور نعرې وهل په مسجد کي ممنوع وحرام دي، د ماشومانو مسجد ته راوستلو ممانعت په حديث کي راغلی دی، درمختار کي دي: ويحرم ادخال صبيان ومجانين الخ، په شامي کي دي: قوله (ويحرم الخ) لما اخرجه المنذري مرفوعًا جنبوا مساجدكم صبيانكم ومجانينكم وبيعكم وشراء كم، ورفع اصواتكم (الحديث) (١)

وعن عائشة رضى الله عنها قالت: امر رسول الله صلى الله عليه وسلم ببناء المساجد في الدور، وان تنظف وتطيب، رواه ابو داؤد والترمذي وابن ماجه (٢) له دغه احاديث او رواياتو څخه د مسجدونو پاک او صاف ساتلو حکم او کوچنيانو او ليونيانو له مسجد څخه علاحيده کولو حم او په مسجد کي شور نعرو کولو ممانعت او حرمت ثابتيږي، نو کوم صورت چي په سوال کي ليکل شوی دی چي د ښځو په مسجد کي په بيان شوي طريقه جمع کېدل او شور کول او مسجد ککړو او نور دا جمله امور حرام او منکر دي، متوليان وممبران د مسجد لپاره ضروري ده چي له دغه افعال څخه راوګرځوي او يو مخ مخنيوی د دغه فعل شنيع ومنکر وکړي، کنې د قدرت باوجود که هغه په دې کي کوتاهي کوي نو هغه هم مأخوذ دي، ځکه امر بالمعروف او نهي عن المنكر پر ټولو مسلمانانو فرض دی، په حديث شريف کي دي: من راى منكم منكرا فليغيره بيده فان لم يستطع فبلسانه فان لم يستطع فبقلبه، وذلک اضعف الايمان (٣) (رواه مسلم) يعني کوم سړی چي له تاسو څخه امر منکر غير مشروع ووينې نو په کار دي چي هغه بدل کړي او راوګرځوي،

---

١) الدر المختار ورد المحتار: ٤٨٢/١، کتاب الصلاة، باب ما يفسد الصلاة وما يكره فيها، مطلب في احكام المسجد. ط رشيديه

٢) سنن ابي داؤد: ٦٦/١، کتاب الصلاة، باب اتخاذ المساجد في الدور.

وجامع الترمذي: ١٣٠/١، ابواب ما يتعلق بالصلاة، باب ماذكر في تطييب المساجد.

وسنن ابن ماجه: ص٥٥، ابواب المساجد والجماعات، باب تطهير المساجد وتطييبها.

٣) عن ابي سعيد الخدري رضى الله عنه قال سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول من راى منكم منكرا الحديث (الصحيح لمسلم: ٥١/١، کتاب الايمان، باب بيان كون النهي عن المنكر من الايمان)

بیا که داسي نښي کیدای نو په ژبه دي راو ګرځوي، که دا هم نښي کیدای، نو په زړه کي دي بد وبولي او دا ضعیفه مرتبه د ایمان ده. فقط والله تعالی اعلم

څو بدعات چي په ښځوکي ډیر رائج دي

سوال: (۸۲۴) ایا د جمعي په ورځ ناوسو ماشومانو ته روپۍ ورکول جائز دي؟ ایا یوولسمه ورځ د ماخیګر بعد تر مغرب پوري روژه نیول، د مولا مشکل کشا نذر او د هري میاشتي لومړۍ جمعي په ورځ روژه نیول دغه ډول شیان کوم چي په ښځو کي نن سبا مروج دي جائز دي کنه؟ د سي شنبي په ورځ سر نه پریولل، پر قبرو نذر کول او مړ شوي پیران مرشد جوړول، پر قبرونو باندي د بچي یا بل مراد غوښتل جائز دي کنه؟ (۱۳۳۸/۱۵۱۳ھ)

جواب: د ماشومانو د تخصیص کولو هیڅ ضرورت نشته، پر محتاجو او غریبانو صدقه کول ښه دي، کوم څه چي صدقه او خیرات کوي، دې ته ګوري چي زیات محتاج څوک دی، هغه ته ورکول افضل دی او کونډو، یتیمانو او مسکینانو ته دي ورکړي او یوولسمه ورځ د ماخیګر څخه تر ماښامه روژه نیول او د سي شنبي په ورځ حجامت نه کول، او پر متېو باندي روپۍ تړل او د جمعي په ورځ جامې نه پریولل او د چار شنبي په ورځ سفر نه کول او د سي شنبي په ورځ سر نه پریولل او پر قبرونو نذر کول او له اهل قبور څخه اولاد غوښتل او نور دا جمله رسوم او دا ډول ټول رسوم د جاهلانو رسمونه دي او بې اصل او خلاف د شرعي دی، دغه پریښودل پکار دي او د جمعې په ورځ روژه نیول صحیح دي، لېکن دا تخصیص چي د هري میاشتي لومړۍ جمعه خاص کړي د روژې لپاره د دې هیڅ ضرورت نشته، غرض دا چي مسلمانانو ته د شریعت د حکم سره سم کار کول په کار دی او په دغه شان بدعاتو کي مشغول کېدل نه دي په کار، کنې نیکي برباد ګناه لازم مصداق به وګرځي. فقط والله تعالی اعلم

تر اوه کاله پوري پر خوره ډوډۍ تبارک الذي ویل

سوال: (۸۲۵) تر اوه کاله پوري پر خوره ډوډۍ تبارک الذي په دې غرض ویل چي د میت په قبر کي

به تر قیامته ربا وي، دا خبره تر کومه صحیح ده؟ (۱۳۳۸/۱۵۱۸هـ)

جواب: یو مخ بې اصل او بدعت دی. فقط والله تعالی اعلم

له واده څخه یوه ورځ مخکې نذر ومیلاد کول او بزه خوړل

سوال: (۸۲۲) د سې شنبې په ورځ د واده ورا ځي، د هغه یوه ورځ مخکې نذر کول او میلاد کول او بزه خوړل څرنګه دي؟ (۱۳۴۱/۱۵۳۰هـ)

جواب: دا رسمونه خلاف د شرع دي او ناجائز دي، د غه پرېښودل په کار دي. فقط والله تعالی اعلم

د زوم په غاړه کې هار (امیل) اچول

سوال: (۸۲۷) د نکاح په وخت د زوم په غاړه کې د ګلونو هار اچوي، دا څرنګه دي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۸۲۸هـ)

جواب: دا بدعت دی، دا دې ترک کړل شي. فقط والله تعالی اعلم

د نکاح وروسته د زوم د ناستو خلکو سره سلام او روغبړ کول

سوال: (۸۲۸) تر نکاح وروسته زوم اهل مجلس ته سلام ومصافحه کوي او دغه ضروري بولي، دا شرعًا جائز دي کنه؟ (۱۳۳۹/۱۳۵۱هـ)

جواب: دا فعل ضروري نه دی او ضروري بلل په دغه خاص وخت کې بدعت دی. فقط

د نکاح په وخت کلمه په ویل څرنګه دي؟

سوال: (۸۲۹) په نکاح کې کلمه په ویل څرنګه دي؟ یو عالم دې ته بدعت وایي. (۱۳۴۰/۲۵۲هـ)

جواب: د نکاح پر مهال کلمه په ویل لکه په ځیني ځایونو کې مروج ده، ضروري نه ده، د دې وجې دغه وخت ضروري بللو سره بې شکه دغه بدعت دی نو دغه ترک کول په کار دي. فقط والله تعالی اعلم

د روژې د میاشتي په درویشتمه شپه د سورة عنکبوت او روم ویلو او اورېدلو له ځانه جوړ کړې فضیلت

سوال: (۸۷۰) په ځینو ملکو کي په رمضان شریف کي ۲۳ شپه بعد تراویح امام محله په خلکو باندي سورة عنکبوت او سورة روم اوروي، دا طریقه جائز ده کنه؟ او د دغه سورتونو ویونکو او اورېدونکو د جنتي کېدو حکم لګول جائز دی کنه؟ (۱۳۴۰/۲۴۵۵هـ)

جواب: د دغي خاصي طریقې او ځانګړي ثواب هیڅ ثبوت له احادیث صحیحه څخه نشته، عام فضیلت د قرآن شریف د تلاوت او سماعت چي کوم دی هغه ټولو ته معلوم دی، مګر دا خاص فضیلت وبشارت نه دی راغلی. فقط والله تعالی اعلم

پر کوچني کاڼو د قرآن سورتونه ویلو سره په قبر کي اېښودل څرنګه دي؟

سوال: (۸۷۱) میت په قبر کي اېښودلو په وخت ټول خلک د قبر له خاورو څخه کاڼي را اخلي، پر هغه د قرآن شریف سورتونه ویلو سره کاڼي جمع کوي، د میت سره یې ږدي، داسي کول جائز دي کنه؟ (۱۳۴۱/۳۷۵هـ)

جواب: داسي کول مکروه او ممنوع دي، ثابت نه دي فقط والله تعالی اعلم

د وعظ لپاره چي کوم مکان مقرر شوی دی د هغه نوم "نبي خانه" اېښودل

سوال: (۸۷۲) په یو کلي کي د هغه ځای مسلمانان یو داسي ځای مقرر کړي، هلته د عامو مسلمانانو د اصلاح حالت په غرض په تیره بیا د ربیع الاول په میاشت کي ۱۲ یوم پوري د میلاد النبي صلی الله علیه وسلم په سلسله کي او په ربیع الثاني کي ۱۱ یوم پوري بیان د حالاتو د سید عبد القادر جیلاني رحمه الله په سلسله کي او د رجب په میاشت کي ۲۷ تاریخ جشن معراج النبي په سلسله کي او د محرم په میاشت کي ۱۰ یوم پوري واقعات شهادت امامین په سلسله کي وعظ او پند ونصائح او متفرق ایام غیر مخصوصه کي مجالس وعظ ونصیحت او نور

او تردید د مروج رسومو لپاره مقرر وي او داسي مکان په نبي خانه نامه سره نومول څرنګه دي؟ (۱۳۴۱/۴۹۳ھ)

جواب: دغه ډول تخصیصات په شریعت کي نشته، ښه د دغه ټولو رسوم ترک کول دي او د داس ځای نوم چي پکښي د رسوم محدثه تردید او د احکام شریعت تبلیغ او د اتباع سنت تاکید او وعظ او پند وي، کـه "دار الوعظ یا مکان الوعظ" او نور کښېښودل شي نو مضائقه نشته، که څه هم د دې ضرورت نشته او نبي خانه نوم ایښودل ښه نه دي. فقط والله تعالی اعلم

په ولاړه او ناسته "یا محبوب سبحاني یا حسین" ویل څرنګه دي؟

سوال: (۸۷۳) په ولاړه او ناسته "یا محبوب سبحاني یا حسین" ویل څرنګه دي؟ (۱۳۴۱/۵۲۲ھ)

جواب: دا ټول حرام او ناجائز دي. فقط والله تعالی اعلم

د وبا په ناجوړۍ کي دال وریجي پخولو سره په خلکو خوړل او د پخولو پر مهال په لوړ ږغ سره لا اله الا الله محمد رسول الله ویل

سوال: (۸۷۴) کله چي د وبا ناجوړي راشي نو خلګ جمع شي، وریجي دال په خلکو خوري او ډوډۍ پخولو او کښېنته کولو په وخت دغه ډول ذکر لا الـه الا الله محمد رسول الله کوي چي د بل کلي خلګ یې اوري، داسي ذکر کول حرام دی کنه؟ (۱۳۴۳/۱۰۹۷ھ)

جواب: د دغه التزام کول په دغه خصوصیت سره بدعت دی، په شریعت کي ثابت نه دی، لهذا دغه رسم پرېښودل په کار دی. فقط والله تعالی اعلم

ماښام څراغ بلولو سره قبلې ته مخامخ شي فاتحه درود کلمه یا یو بله وظیفه ویل همدا شان د میلاد پر لوښو په لاس پورته کولو سره فاتحه ویل

سوال: (۸۷۵) همیشه ماښام څراغ بلولو سره قبلې ته مخامخ شي فاتحه یا درود یا نور څه ویل یا د پلاو

او نورو پر لوښو لاس پورته کولو سره فاتحه ویل جائز دی کنه؟ (۱۳۴۱/۵۲۲هـ)

جواب: دا بدعت دی. فقط والله تعالی اعلم

دوړی، مخته ایښودلو سره د قرآن شریف سورتونه ویل څرنګه دي؟

سوال: (۸۷۶) په اوسنی زمانه کي چي په کوم هیئت او ترکیب سره دوړی، مخته کښېږدي او پر هغه باندي د دعا په رنګه لاسونه پورته کړي په بخور (لوبانْ) دودولو سره سورة فاتحه او درود وایي، بلکي تر دې زیات هم د دې اهتمام کوي او پر تارک یې لعن طعن کوي، که فرضًا محالاً دا فعل مباح هم وي نو نن سبا د دې ترک کول اولی معلومیږي، موافق د دغه حدیث: عن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه قال: لا یجعل احدکم للشیطان شیئاً من صلاته یری ان حقًا علیه ان لا ینصرف الا عن یمینه، لقد رایت رسول الله صلی الله علیه وسلم کثیرا ینصرف عن یساره، متفق علیه (۱) بینوا توجروا. (۱۳۳۸/۸۸۵هـ)

جواب: په دغه کي شک نشته چي مروجه فاتحه په کومه طریقه او کیفیت چي مروج ده او ایصال ثواب الی الاموات پر دې موقوف بلل دا بدعت او ناجائز دی، د احکام مطلقه تقیید له خپل لوري کول هم بدعت دی، قال علیه الصلاة والسلام: من احدث في امرنا هذا ما لیس منه فهو رد (۲) او د امر مباح داسي التزام کول هم چي هغه په د واجب په رنګه وبلل شي، ممنوع دي، لکه د حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه له روایت څخه چي مفهوم دی نو د امر محدث وبدعت التزام څرنګه به ممنوع وناجائز نه وي؟!

سوال: (۸۷۷) دوړی، مخته ایښودلو سره قرآن شریف سورتونه ویل څرنګه دي؟ بدعت حسنه دی که سیئه؟ (۱۳۳۴-۳۳/۴۲۳هـ)

---

۱) مشکاة المصابیح ۸۷، کتاب الصلاة باب الدعاء في التشهد، الفصل الاول
وصحیح البخاري ۱۱۸/۱، کتاب الاذان، باب الانفتال والانصرام عن الیمین والشمال
والصحیح لمسلم ۲۴۷/۱، کتاب صلاة المسافرین وقصرها، باب جواز الانصراف من الصلاة عن الیمین والشمال

۲) د دغه حدیث شریف تخریج د کتاب الایمان د سوال (۴۹۱) په جواب کي وګورئ

جواب: بدعت سئه دی. فقط والله تعالی اعلم

ایا پر ډوډۍ فاتحه کول له حدیث څخه ثابت دي؟

سوال: (۸۷۸) زید وایي: یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته حلوا راوړه چي پر دغه زما د مور پلار فاتحه وکړه نو ده فاتحه ورکړه، دا صحیح دي کنه؟ (۱۲۹۵/۱۳۴۱هـ)

جواب: په یو حدیث هم داسي ثابت نه دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم دي په مروجه طریقه پر حلوا او متایي تلاوت پر آیاتو او فاتحه کړې وي، ځکه که داسي وای نو فقهاء حنفیه دغو اعمالو ته مکروه نه ویل، حلانکه تصریح بالکراهت یې کړې ده. کما في الشامي: والحاصل ان اتخاذ الطعام عند قراءة القرآن لاجل الاکل یکره (۱) (۹۴۰/۱) نو د زید قول موضوع دی. ومن ادعی فعلیه البیان.

پر ډوډۍ فاتحه کول بدعت دی

سوال: (۸۷۹) فاتحه کول پر ډوډۍ او نورو جائز ده کنه؟ (۲۰۷۵/۳۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: د اوسنی زماني مروجه فاتحه بدعت ده، ځکه د دې هیڅ اصل د رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه وتابعین رضوان الله علیهم اجمعین په زمانه کي نه و او دا تقیید دی د اطلاق شارع علیه السلام، لهذا دا بدعت دی، قال علیه الصلاة والسلام: کل محدثة بدعة وکل بدعة ضلالة وکل ضلالة في النار. (۲)

د دعا پر غواست د امام درېځله دعا کول

سوال: (۸۸۰) زمونږ په وطن کي او په ځینو نورو ځایونو کي امام د مسجد له لمانځه وروسته مسنونه دعا یو مقتدي پر استدعا چا ته څه حاجت یا مصیبت

---

۱) الشامي: ۲۲۴/۱، کتاب الصلاة، باب صلاة الجنازة، مطلب في کراهة الضیافة من اهل المیت ط رشیدیه

۲) عن جابر بن عبد الله رضی الله عنهما قال: کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول في خطبته یحمد الله ویثنی علیه بما هو اهله ثم یقول: من یهده الله فلا مضل له ومن یضلله فلا هادي له، ..... وشر الامور محدثاتها وکل محدثة بدعة الحدیث (سنن النسائي: ۱۷۹/۱، کتاب صلاة العیدین، کیف الخطبة؟)

پیښیږي، دعا د خیر په شمولیت د نورو مقتدیانو کوي، د دې بعد بې له یو ضرورت یا استدعا محض درې عدد پوره کولو لپاره د دریم ځل لپاره لاس پورته کولو پر مهال ثالث بالخیر لفظ هم وایي او وایي چې الله تعالی ته وتر خوښ دی، د دې وجې دا شان کوم، دا ویل د امام صحیح دی کنه؟ (۱۱۰۸/۱۳۴۳هـ)

جواب: دا طریقه درې ځله دعا په شریعت کې په دغه التزام خاص سره ثابته نه ده او دا التزم ما لا یلزم دی کوم چې بدعت دی او په دې کې چې کومې ناوړتیاوې دي، هغه په کتب مبسوط ورسال مصنفه کې مذکورې دي (۱) لهذا دا طریقه پرېښودل په کار ده او د سنت طیقې سره سم بعد صلوات خمسه امام ومقتدیان مجتمعًا یو ځل چې څومره قدر تر ډېره پورې وغوړي دعا دې وغواړي مګر دغه څو ځله دعا په التزام کې او د دې په پابندۍ کې تجاوز عن الحدود او ارتکاب د محظورات شرعیه دی کوم چې ناجائز دی او وتر له یو څخه هم حاصل دی، کما ورد: ان الله وتر یحب الوتر (۲) لهذا له دغه څخه درې ځله دعا غوښتلو استدلال صحیح نه دی. فقط والله تعالی اعلم

د روژې د میاشتې په لومړۍ شپه جمعرات او اوویشتم په شپه کې اوه ځله اذان کول

سوال: (۸۸۱) د روژې په میاشت کې په لومړۍ شپه، جمعرات او اوویشتمه شپه اووه اذانونه له یو زمانې راهیسې کوي، دا جائز دي کنه؟ (۱۳۴۱/۱۳۴۳هـ)

جواب: دا جائز نه دي. فقط والله تعالی اعلم

---

۱) قال الطیبي: من اصر علی مندوب وجعله عزماً ولم یعمله بالرخصة فقد اصاب منه الشیطان من الاضلال، فکیف من اصر علی بدعة او منکر؟ ! (مرقاة المفاتیح ۲۲/۳، کتاب الصلاة، باب الدعاء في التشهد)

۲) عن ابي هریرة رضی الله عنه عن النبي صلی الله علیه وسلم: انه وتر یحب الوتر. (الصحیح لمسلم: ۳۴۲/۲، کتب الذکر والدعاء والتوبة والاستغفار باب في اسماء الله تعالی وفضل من احصاها)

په تراویحو کي د قرآن د ختم په شپه په مجسد کي رڼاګاني کول

سوال: (٨٨٢) په تراویحو کي د قرآن ختم په شپه په ځینو مسجدونو کي رڼاوي جوړيږي او د دې ډیر اهتمام کیږي، ایا دا صحیح دي کنه؟ (١٣٣٥/١١هـ)

جواب: شرعًا د دې اجازه نشته، دا اسراف دی، په نص قطعي حرام دی، قال تعالی: (ولا تسرفوا) (سورة انعام، آیت: ١٤١، سورة اعراف، آیت: ١٥٤) فقط والله تعالی اعلم

تر لمانځه وروسته د مصلې یو کونج راغبرګول څه اصل نلري

سوال: (٨٨٣) اکثر صاحبان د مصلې یو کونج پیچي، د دې څه اصلیت دی؟ (١٤٥٠/٤٤-١٣٤٥هـ)

جواب: دا بې اصل او لغو دی. فقط والله تعالی اعلم

د ماخستن لمانځه مخکي پر ټولو انبیاوو درود ویل

سوال: (٨٨٤) په اکوله ښار کي دا رواج دی چي د ماخستن لمانځه مخکي د حضرت آدم علیه السلام څخه تر رسول الله صلی الله علیه وسلم پوري د ټولو پیغمبرانو نومان په لوړ آواز سره اخلي، (دا ډول) الصلاة والسلام علیک یا آدم صفي الله الخ. (١٣٤٥/٢١١٣هـ)

جواب: دا ثابت نه دي. فقط والله تعالی اعلم

د لومړي بچي پر پیدایښت په خلویښت ورځو کي دننه غنم او نور استول ضروري بلل

سوال: (٨٨٥) خلاصه دا ده چي زموږ په خاندان کي دا رواج دی چي کله د ښځي لومړی بچی پیدا شي نو د هغه پلار کنی ته خبر ورکول کیږي، د هغه ځای نه په خلویښت ورځو کي دننه څه غنم او غوړي،

متايي، ميوه، جامې، زيور د کوچني لپاره را استول کيږي، که يې نه راوليږي نو ټول خاندان هغه ته بد وايي او پيغور ور کوي، د دغه رسوم څه حکم دی؟ (۴۲/۱۱۷۱-۱۳۴۷هـ)

جواب: په شريعت کي سلوک کول او خپلي لور يا نورو خپلوانو ته هديه ليږل او څه هبه کول د خوراکي شيانو يا جامو او نورو ممنوع نه دي، لېکن دغه رسوم او پابندي ليري کول په کار دي، که يې څوک ورنه کړي نو هغه ته دي پيغور او نور نه ورکول شي او التزام دي د خاص اوقات نه کيږي. فقط والله تعالی اعلم

څه ګمراه کونکي اشعار

سوال: (۸۸۲) کوم سړی چي د لاندي اشعارو قائل وي او د دې معتقد وي، هغه حنفي المذهب او مسلمان کېدای شي کنه؟ د نمونې په ډول څه ليکل کيږي:

په عقائد کي نه راځي نقصان هيڅکله والله* که د ياغوث الاعظم کوم موږ تکرار کاوی
نه دی د ميلاد مخالف بس يوا له هغو* رشيدي ديوبندي تهانوي انکار کوي
د جمعي په شپه روحان راځي خپلو ځايو ته* مګر انکار له دې هم داغه فجار کوي
ورکړه معراج کي اوږه د ستر غوث اعظم روح* په کتابو کي در ښکاره کوو تا هوښيار کوو (۴۴/۱۴۱۳-۱۳۴۵هـ)

جواب: قائل او معتقد د دغو اشعارو د مضمون بدعتي دی، د حنفيه د تعليم او فقهي خلاف دی، نو هغه که څه هم خپل ځان ته حنفي وايي، مګر په صحيح ډول حنفي نه دی. فقط والله تعالی اعلم

د معتبرو او نا معتبرو کتابونو بیان

تفسیر فتح العزیز او فتاوی عزیزیه معتبر او مستند دی کنه؟

سوال: (۸۸۷) د شاه عبد العزیز صاحب مدث دهلوي د تفسیر عزیز او فتاوی عزیز په هکله زید وايي: په دې کې بعضې مسائل خلاف د شریعت دي، دا صحیح دي کنه؟ (۱۳۴۳/۵۵۵هـ)

جواب: د حضرت مولانا شاه عبد العزیز رحمه الله د علم وفضل وتقوی کې د یو کلام گنجائش نشته، لهذا د کومو شیانو ثبوت چې ده ته ورسیږي، هغه داسې قابل عمل دی لکه د نورو علماء د امت اقوال، باقي د فتاوی عزیز په هکله خو تر اوسه پوري دا غه شبه ده چې د ده ده کنه؟ د دې وجې پر دې کلیة دا حکم نشي لگېدای چې هغه ټول صحیح او قابل عمل ده، خلاصه دا چې فتاوی مذکوره مستنده نه ده، مگر تفسیر فتح العزیز له معتبرو کتابونو څخه دی او د حضرت شاه صاحب رحمه الله تصنیف دی او صحیح دی. فقط

فتاوی عزیزي او ضیاء القلوب معتبر دی کنه؟

سوال: (۸۸۸) مجموعه فتاوی شاه عبد العزیز صاحب معتبر وقابل عمل ده کنه؟ او ضیاءالقلوب مصنفه حضرت حاجي امداد الله صاحب معتبر وقابل عمل دی کنه؟ (۱۴۲۰/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: حضرت مولانا شاه عبد العزیز صاحب قدس سره دهلوي او حضرت مولانا شاه حاجي محمد امداد الله صاحب فاروقي چشتي له علماء کبارو اولیاء کرام څخه دی، باقي د دغو حضراتو د کتابونو حال دا دی چې مجموعه فتاوی مولانا شاه عبد العزیز صاحب ما نه ده لیدلې نو په هغه کې چې کومې مسئلې موافق د کتب حنفیه وي، هغه معمول بها جوړول په کار دي، که په هغه کې یوه مسئله خلاف

کتب حنفیه وي، پر هغه عمل نه دی کول په کار، ځکه ممکنه ده چي یو چا دي د شاه صاحب بعد یوه مسئله الحاق کړې وي، دغه ډول ضیاء القلوب د حضرت حاجي صاحب کوم چي په سلوک وطریقت کي دی، دغه د یو شیخ کامل خلیفه حضرت حاجي صاحب څخه ځان پوه کول او ویل په کار دي، ممکنه ده په دې کي یوه خبره داسي وي چي د عوامو د پوهني او عمل نه وي. فقط والله تعالی اعلم

د "ضیاء القلوب" روایت صحیح نه دی

سوال: (۸۸۹) "ضیاء القلوب" مصنفه عبد الحق دهلوي کي لیکلي دي: څوک چي د یکشنبې په ورځ جامې په بل چا پرې کړي، هغه ته به هیڅ غم نه وي او څوک چي د دوشنبې په ورځ قطع کړي هغو ته دي مبارک وي الخ، دا صحیح دی؟ او پر دې عمل کول صحیح دي کنه؟ (۱۳۳۷/۱۷۱۸ھ)

جواب: ټولي ورځي د الله تعالی دي او ټولي مبارکي دي او په ټولو کي برکت دی، دغه ډول توهمات ناجائز دي، ترک کول پکار دي او روایت مذکوره صحیح نه دی، داسي عقیده صحیح نه ده. فقط والله تعالی اعلم

د شیخ عبد الحق محدث دهلوي ټول تصانیف معتبر دي کنه؟

سوال: (۸۹۰) د شیخ عبد الحق محدث دهلوي جمله تصانیف معتمد دي کنه؟ د ده څخه چیري خطاء شوې ده؟ (۱۳۴۵/۱۰۵۴ھ)

جواب: قال في الدر المختار: ویابی الله العصمة لکتاب غیر کتابه الخ وفي رد المحتار عن الشافعي رحمه الله انه قال: اني صنفت هذه الکتب فلم آل فیها الصواب، ولا بد ان یوجد فیها ما یخالف کتاب الله تعالی وسنة رسوله صلی الله علیه وسلم. قال الله تعالی: (ولو کان من عند غیر الله لوجدوا فیه اختلافا کثیرا) [النساء ۸۲] .... قال المزني: قرأت کتاب "الرسالة" علی الشافعي ثمانین مرة، فما من مرة الا وکان یقف علی خطاء، فقال الشافعي: هیه، ابی الله ان یکون کتابًا صحیحًا غیر کتابه انتهی. (۱) نو د اکابر سلف له دغه نقول څخه ستا د سوال جواب ظاهر شو، باقي دا چي د شیخ عبد الحق یا د یو بل چا په کتاب کي

---

۱) ترجمه: صحاب د درمختار فرمایي: او حق تعالی د هر کتاب عصمت (یعني د خطاوو څخه محفوظ کیدو څخه) مکروه بولي، پرته له خپل کتابه الخ (غایة الاوطار) او په رد المحتار کي له امام شافعي علیه الرحمه څخه--

د لغزشو او خطاو تعیین نشي کېدای، کومه مسئله چې د یو کتاب پیش کړله شي. د هغه تحقیق کولو سره د خطا وصواب حال معلومیدای شي. ونعم ما قال في الدر المختار: المنصف من اغتفر قلیل خطاء المرء في کثیر صوابه(۱) فقط والله تعالی اعلم

د شاه عبد القادر شاه رفیع الدین او مولانا اشرف علي تهانوي ترجمې معتبري او صحیح دي

سوال: (۸۹۱) د مولنا شاه عبد القادر او مولانا شاه رفیع الدین رحمهما الله محدثان دهلوي او مولانا اشرف علي تهانوي چې د قرآن شریف کومه ترجمه کړې ده، هغه غلطه ده کنه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۴۴۰هـ)

جواب: درې سره ترجمې مذکوره صحیح دي او معتبري دي، دا حضرات د کومو چې دا ترجمې دي معتبر او محققین علماء د حنفي مذهب دي فقط والله تعالی اعلم

تفسیر حسیني معتبر دی که نا معتبر؟

سوال: (۸۹۲) تفسیر حسیني معتبر دی کنه؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۲هـ)

جواب: نه ټول معتبر دی، نه ټول غیر معتبر، د کومي خبري خاص پوښتنه وشي، د هغه حکم به

== منقول دي چې هغه وفرمایل: ما د دغه کتابونو تصنیف وکړی لېکن د هغو پر سمولو قادر نه شوم چې وموندل شي په هغه کي داسي خبري کومي چې د کتاب الله وسنت رسول الله مخالفي وي. الله تعالی فرمایي که دا د الله تعالی ماسوا د بل چا له لوري وایي نو خلګو به په دې کي خامخا تفاوت موندلی وای (نساء: ۸۲)

مزني وویل: ما پر امام شافعي علیه الرحمه کتاب الرسالة (۸۰) ځله وویله لېکن یو ځل داسي نه راغلی چې دی د یو غلطی په هکله واقف نه وي نو شافعي علیه الرحمه وویل چې یو ځل یې بیا وواي، الله تعالی د یو کتاب صحت نه دی خوښ کړی سیوا له خپل کتاب. (الدر المختار ورد المحتار: ۲۱/۱، تقدیم المؤلف، مطلب: افضل صیغ الصلاة. ط رشیدیه)

۱) او صاحب د درمختار خومره ښه خبره کړې ده او انصاف کونکی هغه دی چې د سړي لږ خطاوي په ډیرو صحیح ویلو کي پټي کړي (غایة الاوطار، ترجمة درمختار) (الدر المختار: ۲۱/۱، تقدیم المؤلف، مطلب: افضل صیغ الصلاة. ط رشیدیه)

لیکل کیږي. فقط والله تعالی اعلم

تفسیر موضح القرآن معتبر دی

سوال: (۸۹۳) تفسي موضح القرآن معتبر دی کنه؟ (۱۳۳۸/۳۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: معتبر دی. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۸۹۴) د شاه عبد القادر محدث دهلوي رحمه الله حاشيه پر قرآن مجید موضح القرآن صحیح ده کنه؟ (۱۳۴۷/۴۴۰ھ)

جواب: موضح القرآن معتبر او صحیح دی، ډیر مفید حواشي او فوائد په هغه کي لیکلي دي. فقط

ایا پر کتب صحاح سته عمل کول بدعت دی؟

سوال: (۸۹۵) کتب صحاح سته کله تصنیف شوه؟ د صحابه رضی الله عنهم په وخت کي نه وه نو پر دې عمل کول بدعت به وي کنه؟ (۱۳۴۵/۳۸۷ھ)

جواب: هغه احادیث هغه وخت یعني په قرن صحابه کي موجود وه، تدوین د هغو وروسته وشو، د دې له بدعت سره څه تعلق؟! مجمع البحار کي د صحاح سته مؤلفینو اسماء معه تاریخ وسن ولادت او وفات لیکلی دی، هغه وګورئ، مصنفین د صحاح سته وغیر صحاح سته په سند بیان کړي دي، له هغو احادیثو څخه ائمه مجتهدینو مسائل استنباط کولو سره د امت د عمل په غرض د فقهي مدون کړه نو د هر یو امام مجتهد مقلد د خپل متبوع امام پر احکام مستنبطه دي عمل وکړي او دلائل د د غو مسائلو دي له احادیث څخه وپیژني. فقط والله تعالی اعلم

د فقهي په کتابونو کي کومه مسئله د کتاب وسنت په خلاف شته کنه؟

سوال: (۸۹۶) د فقهي په کتابونو کي چي څومره مسئلې دي، هغه ټولي صحیح او موافق د قرآن وحدیث دي یا څه مسئلې مخالف حدیث صحیح هم شته؟ که موافق دي نو ثابت یې کړه که څه مخالف هم دي نو هغه څومره دي؟ او عمل پر کومو وکړو؟

(۳۲/۱۸۲۷-۱۳۳۳هـ)

جواب: څوک چې د یو فقهي مسئلې د قرآن او حدیثو په خلاف کېدو دعوی وکړي، د هغه څخه دې پوښتنه وشي چې کومه مسئله په خلاف د کتاب او سنت ده؟ بیا څو چې د هغه جواب ورکول ي. فقط والله تعالی اعلم

د فقهي یو څو معتبر کتابونه

سوال: (۸۹۷) د فقهي په اردو کتابونو کي کوم کتاب معتبر دی؟(۳۲/۲۲-۱۳۳۳هـ)

جواب: ترجمه د درمختار، ترجمه د شرح وقایه او نور معتبر کتابونه دي فقط والله اعلم

سوال: (۸۹۸)...(الف) غایة الاوطار اردو ترجمه د درمختار عند الاحناف معتبر دی کنه؟

(ب) کوم څوک چې د حنفي کیدو مدعي وي، ترجمه مذکوره ذلیله حقیره د اردو کتابونه غیر معتبر بولي نو د دغه سړي په هکله څه حکم دی؟ بینوا توجروا. (۳۳/۱۸۲۴-۱۳۳۴هـ)

جواب: (الف - ب) ترجمه د درمختار غایة الاوطار معتبر کتاب دی او عند الاحناف معمول به، دې ته اردو کتاب ویلو سره متروک بلل د جهالت خبره ده. فقط والله اعلم

سوال: (۸۹۹) په مذهب د امام ابو حنیفه رحمه الله په فقه کي په اردو ژبه مستند او صحیح کوم کتاب دی؟ (۱۳۴۷/۱۳۴۳هـ)

جواب: د کتب فقه ترجمه مثل غایة الاوطار ترجمه د درمختار او ترجمه د شرح وقایه او نور او مالا بد منه او نور دا کتابونه او د دې ماسیوا کتابونه شته کوم چې په فقه حنفي کي مفصل موجود دي، هغه دې مطالعه کړل شي او د یو محقق عالم حنفي څخه دې تصحیح د ضروري مسئلو وکړله شي. فقط والله تعالی اعلم

فقه اکبر د امام اعظم تصنیف دی

سوال: (۹۰۰) د فقه اکبر تصنیف امام اعظم لوري ته منسوب کیږي، دا صحیح دی کنه؟ (۱۳۳۷/۲۷۷۴هـ)

جواب: فقه اکبر د امام اعظم رحمه الله تصنیف دی، کما اقر به الاعلام. (۱) فقط

---

۱) لکه ملا علي قاري په شرح فقه اکبر کي فرمایي: قال الامام الاعظم--

پر بهشتي زيور (جنتي كالي) اعتراض او د هغه جواب

سوال: (۹۰۱) بهشتي زيور كي مولانا اشرف علي صاحب عليه الرحمه چي كوم څه ليكلي دي، موږ هغه صحيح بللو سره خپل دستور العمل جوړ كړی دی، اوس ځيني خلګ دا وايي چي اكثر مسائل د دې له غلطو روايتونو څخه مأخوذ دي، خصوصًا د بزرګانو كيسې په دې كي بالكل بې ځايه بيان شوي دي، بلكي د حضرت هاجره په شان كي دا ليكلي دي چي هغه مينځه وه، (۱) حالانكه دا محض غلط دی، ځكه مينځه كېدل د دې له يو صحيح حديث څخه ثابت نه دی، د دې وجي كه څوک د بهشتي زيور پر مضامينو او مسائلو د صحت اعتقاد وساتي، د هغو په اعتقاد كي خرابي ده، لهذا د ده امامت صحيح نه دی، ستا رايه څه ده؟ (۱۵۰۱/۳۲-۱۳۳۳هـ)

== والهمام الافخم، الاقدم، قدوة الانام ابو حنيفة الكوفي رحمه الله في كتابه المسمى بـ "الفقه الاكبر". (شرح فقه اكبر: ص۹، مقدمة الشارح)

او علامه شامي رحمه الله فرمايي: ولا ينافي ايضاً ما قاله الامام في "الفقه الاكبر". (الشامي على الدر المختار: ۴۱۸/۲، كتاب النكاح، باب نكاح الكافر، مطلب في الكلام على ابوى النبي صلى الله عليه وسلم الخ. ط رشيديه)

او علامه احمد بن محمد الحموي غمزعيون البصائر كي فرمايي: ان ابا حنيفة رحمه الله لم يصنف شيئًا سوى "الفقه الاكبر" في علم الكلام. (شرح الحموي على الاشباه والنظائر المسمى بـ غمز عيون البصائر: ۴۴/۱، مقدمة الماتن)

همدا رنګه علامه مصطفى بن عبد الله الفسطنطني المعروف بحاجي خليفه په كشف الظنون كي فرمايي: الفقه الاكبر: في الكلام للامام الاعظم ابي حنيفة النعمان بن ثابت الكوفي رحمه الله (كشف الظنون: ۱۲۸۷/۲، دار الكتب العلمية، بيروت لبنان)

همدا رنګه په موسوعة الفقه الاسلامي، المطبوعة وزارة الاوقاف المصرية كي دي:

نقل عن الامام ابي حنيفة رحمه الله من أن الفقه هو معرفة النفس ما لها وما عليها، وما هذه المعرفة الا معرفة احكام الله بنوعيها، كما انه سمى كتابه في العقائد "الفقه الاكبر". (موسوعة الفقه الاسلامي مصر: ۱/۱، معنى الفقه، المكتبة الشامله، الاصدار الثاني)

۱) اختري بهشتي زيور عكسي: ۸/۲-۷، د حضرت ساره رضى الله عنها يادونه د حضرت هاجره رضى الله عنها يادونه، مطبوعه كتب خانه اختري متصل مدرسه مظاهر علوم سهارن پوري.

جواب: دا خو ظاهره ده چي داسي قصص او نقليات كي اختلاف كېدل څه ليري خبره نه ده، مگر د دې اختلاف په وجه پر بل طعن كول او قابل د ملامتيا گرځول له انصاف او دين څخه بعيد دى، مولنا اشرف عليه تهانوي رحمه الله چي كومه خبره د حضرت هاجرې په هكله ليكلې ده، د احاديث له رويه راجح معلومېږي، لكه په احاديث صحيحين كي د حضرت ساره په كيسه كي لفظ فاخدمها هاجر موجود دى(۱) د دې مطلب شراح دا ليكلى دى: اي جعل الجبار هاجر خادمة لسارة (۲) نو ظاهر له دې څخه هم دى چي حضرت هاجره د ساره مملوكه وه او د دې وجي حضرت ساره حضرت هاجره د خپل خاوند حضرت ابراهيم على نبينا وعليه الصلاة والسلام ملک كړه. فقط والله تعالى اعلم

سوال: (۹۰۲) يو سړى وايي چي مولانا اشرف علي تهانوي لاندي مسائل په بهشتي زيور كي ليكلي دي، هغه محض بې اصله او بې دليله دي، ايا دا صحيح دي كنه؟ مسائل بهشتي زيور دا دي:

مسئله: مېږه بل ښار كي دى، ډير وخت وشو كور ته نه دى راغلى او دلته هلک پيدا شو، بيا هم حرامي نه دى، د داغه مېږه دى. (څلورمه برخه)

مسئله: كه يو سړى پخپله خاص حصه كېږه وتړي، جماع وكړي نو غسل نه فرض كيږي، په دې شرط چي تكر به دومره پنډ وي چي جسم ته به حرارت د دې په وجه نه وي. (۱۱/۱۹)

---

۱) عن ابي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لم يكذب ابراهيم الا ثلاث كذبات ثنتين منهن في ذات الله قول: (اني سقيم) وقوله: (بل فعله كبيرهم هذا) وقال بينا هو ذات يوم وسارة، اذ اتى على جبار من الجبابرة، فقيل له: ان ههنا رجلا معه امراة من احسن الناس، فارسل اليه. فساله عنها من هذه؟ قال: اختي.... فاخدمها هاجر فأتته وهو قائم يصلي الحديث. (مشكاة المصابيح: ص۵۰۵، باب بدء الخلق وذكر الانبياء عليهم الصلوة والسلام، الفصل الاول)

۲) مرقاة المفاتيح: ۳۷۴/۱۰، كتاب احوال القيامة وبدء الخلق، باب بدء الخلق وذكر الانبياء، الفصل الاول، رقم الحديث: ۵۷۰۴

مسئله: که یو ښځه د شهوت په غلبه کي پخپله خاص حصه کي د یو بې شهوت سړي یا جاندار خاص حصه یا لرګی یا ګوته داخله کړي نو پر دې غسل فرض کیږي، که مني وبهیږي که نه؟ (۲۰/۱۱)

مسئله: که یو سړی خپله خاص حصه د یو ښځي یا سړي په نامه کي داخل کړي نو پر ده غسل فرض نه دی. (۲۱/۱۱) (۱۰۹۳-۱۳۳۸ھ)

جواب: دا کومي سئلې چي تا د بهشتي زیور له مختلفه برخو څخه نقل کړي دي، مولنا تهانوي رحمه الله دغه مسائل له کتب فقه در مختار وشامي او نورو څخه نقل کړي دي او په کتب فقه کي دا مسائل موجود دي، مولنا سلمه له خپل طرفه نه دي لیکلي، لهذا پر مولنا هیڅ اعتراض نشته، باقي دا ویل چي په کتب فقه کي چي دا مسائل لیکل شوي دي، دا غلط او باطل دي نو داسي جرأت د فقهاوو رحمهم الله په هکله هغه سړی کولای شي چي جاهل او له مسائل اجتهادیه څخه نابلده او ناواقف وي، فقهاء د دغو اصل له کتاب وسنت څخه فهمولی دی، د دې وجي په کتابونو کي لیکلي دي او کوم چي عالم حقاني وي، هغه ته معلومه ده چي د دې اصل په کتاب وسنت کي موجود دی، که بالفرض له یو مجتهد څخه اجتهادي غلطي هم وشي نو هغه قابل اعتراض نه وي، ځکه مجتهد ته په خطا کي هم ثواب ملاویږي او د هغو پر مقلدینو هیڅ مؤاخذه نشته.

بهشتي زیور (جنتي کالي) د ښځو لپاره ښه او مفید کتاب دی

سوال: (۹۰۳) ځیني خلګ وایي چي بهشتي زیور لا مذهبي او د بدعت کتاب دی، دا صحیح دی که نه؟ (۱۳۳۹/۴۸۸ھ)

جواب: کتاب بهشتي زیور د ښځو لپاره ښه او مفید کتاب دی او د هغه اکثره مسائل صحیح دي او موافق د کتب فقه حنفیه دي، که په یو مسئله کي شبه یا اختلاف وي نو له معتبر کتب څخه دي تحقیق وشي او له علماء حنفیه څخه دي تحقیق وکړل شي، په دغه کتاب کي یو لا مذهبي او د بدعت خبره نشته، که یو خبره غیر معتبر لیکل شوې وي، نو د هغه تصحیح دي وشي. فقط والله تعالی اعلم

داسي ويل څرنګه دي چي د مولانا عبد الشکور صاحب لکهنوي کتاب د شیعه ګانو لپاره زهر دی

سوال: (۹۰۴) د مولانا عبد الشکور صاحب کتاب ته دا ویل چي دا د شیعه ګانو لپاره زهر دی او داسي دی لکه حسین رضی الله عنه چي د یزید لپاره ؤ. د داسي سړي لپاره څه حکم دی؟ (۲۰۲۳/۱۳۴۳هـ)

جواب: داسي تشبیه ورکول په صورت مذکوره کي غلط دي او داسي خبره رافضي کولای شي، سني نشي ویلای، که دی سني دی نو هغه ته توبه کښل په کار ده او بیا داسي کلمه نه ده ویل په کار. فقط

تقوية الايمان او د هغه د مصنف خلاف د اهل بدعت پروپاګند

سوال: (۹۰۵) موږ تقوية الايمان یو ښه او د توحید په بیان کي یو مفید کتاب بولو، یو بل ته وایو او د ده مصنف حضرت مولانا محمد اسماعیل صاحب د الله تعالی یو فرمانبردار او د ده په لار کي شهید بولو، مګر اوس د مولوي صاحبانو له ژبو څخه اورېدل کېږي چي تقوية الايمان مسلمانان د الله له لاري څخه اړونکی کتاب او د هغه مصنف ګمراه او له ایمان څخه خالي و، ایا دا صحیح دی؟ (۲۰۹۲/۱۳۴۳هـ)

جواب: کتاب تقوية الايمان داغه شان کتاب دی، لکه ته چي بولې، په حقیقت کي ایمان ته قوت ورکونکی کتاب دی او په بیان د توحید واتباع د سنت کي بې نظیر کتاب دی او اصل ایمان توحید ورسالت درجه په درجه پخپله خپله مرتبه کي کما حقه ثابتوي، د مخلات ایمان څخه مسلمانان بچاو کړي دي او د بدعات ومخترعات څخه وېرولي دي او د (اطیعوا الله واطیعوا الرسول) (سورة نساء، آیت: ۵۹) طریقه يې پوره ښودلې ده او د دې مصنف حضرت مولانا اسماعیل شهید رحمه الله له علماء ربانیین او نمونه د سلف څخه ؤ، په اشاعت د دین وتبلیغ د توحید و اتباع د سنت کي خپل عمر تیر کړی او آخر کي د اعلاء کلمة اللله لپاره خپل ځان قربان کړی، عامل کامل ؤ او درویش اهل باطن، مصداق د آیت کریمه: (ومن يطع الله والرسول فاولئک مع الذين انعم الله

عليهم من النبيين والصديقين والشهداء والصالحين وحسن اولئک رفيقا)(سورة نساء، آيت ۶۹) او حديث شريف کې دي: عش حميدا ومت شهيدا (۱) څخه ؤ. نور الله مضجعه

داسي کتاب چي څوک ګمراه کونکی کتاب وبولي او داسي د الله تعالی مقبول بنده ضال ومضل وبولي، هغه په حقيقت کې ګمراه او جاهل دی، مبتدعين ته خو د مولانا شهيد صاحب سره خاص عداوت و ځکه چي مولانا د بدعت استيصال وکړ، د دې وجي دا کوښښ کوي چي کتاب تقوية الايمان نه وګوري او د هغه د مصنف هيڅوک معتقد نشي. فقط والله تعالی اعلم

سوال: (۹۰۲) کتاب مستطاب (مبارک) تقوية الايمان مصنفه مولانا محمد اسماعيل صاحب شهيد دهلوي رحمه الله ويل په بل ويل، هغه د خپل ځان سره ساتل او د هغه پر لاښودنو عمل کول مسلمانانو لره ضروري او جائز دي کنه؟ فرقه فضل رسوليه، رضايه جماعت علي شاه پنجابي او د هغه د تابعينو ټولې او څه علماء د اسلام چي د حنفي المذهب کيدو دعوا کوي او د هغو معتقدين له کتاب مذکوره او د هغه له مصنف څخه سخت مخالفت او تنفرساتي او وايي چي کتاب مذکور هم په لاس کي ندي اخيستل په کار چي د دې پر ويلو او عمل کولو سره ايمان نه قائميږي او پر مولوي اسماعيل د کفر اطلاق کوي، په اسونی ورځو کي د مولوي احمد رضا خان بريلوي يو مريد معتقد د لکهنو په يو اردو ورځپاڼه کي د خپل پير مخدوم تعريف کولو سره دا ليکلي دي چي زموږ مولانا معظم په دلائل قاهره سره پر مولوي اسماعيل دهلوي او د ده پر اتباع اويا پنځه او يا وجو سره کفر ثابت کړی دی، څه وخت کيږي چي د مولوي فضل رسول زوی مولوي عبد القادر بديواني د کتاب تقوية الايمان په رد کي يو کتاب موسومه سوط الجبار تصنيف کولو وروسته چاپ او شائع کړی دی، د افسوس ځای دی چي د سوط الجبار جواب له علماء اهل سنت څخه چا نه دی ليکلی، له دې څخه فضل رسوليان د مجدد بريلوي د تابعينو او نورو مخالفينو باطل خيال به نور هم زيات شوی وي بينوا توجروا. (۱۳۳۷/۲۵۲۸هـ)

جواب: کتاب تقوية الايمان په حقيقت کي اسم با مسمی د هر مؤمن د ايمان لپاره باعث د تقويت دی

---

۱) في شرح السنة عن ابن عمر رضى الله عنهما ان النبي صلى الله عليه وسلم رای علی عمر قميصًا ابيض، فقال: اجديد قميصک هذا ام غسيل؟ قال بل غسيل، فقال البس جديدا وعش حميدا ومت شهيدا. (مرقاة المفاتيح ۲۱۹/۸، کتاب اللباس، رقم الحديث ۴۳۴۳)

او غذا د روح دی او د دې مصنف حضرت مولانا محمد اسماعیل صاحب شهید رحمه الله له هغه علماء ربيانيين څخه دی کومو ته چي په کتلو خدای یاد راځي، بلا شبهه د دې موافق عمل کول پر هر مسلمان لازم دی، ځکه چي په دغه کتاب کي له اول څخه تر آخره پوري هغه عقائد او اعمال مذکور دي کوم چي د اهل سنت عقائد واعمال دي، په دې کي د کفر بيخ کنبلی دی، د شرک پر غاړه د توحيد آره چلول شوې ده، د رسوم جاهليت او رسوم وبدعات وشرک ترديد دی، هندوستان کي په سبب د بې علمۍ او هوا پرستۍ چي کوم اعتقادات فاسده راسخ شوي و او ډير رسوم د هندوانو په مسلمانانو کي رائج شوي وو او جاهل صوفيانو او شهوت پرست سپيانو هغه په ايمان کي داخل بللي وه د هغه ترديد دی، نو داسي كتاب باندي عمل کولو سره او هغه د ځان سره ساتل او هغه ته ښه ويلو سره د مؤمن ايمان به څرنګه ځي؟! خدای مه کړه د خواهش مطيع او نفس پرست خلګ کوم چي مصداق د حديث صلوا فاضلوا (۱) دی که ايمان ځي نو هغه ته زه څه ويلای شم نه مولانا محمد اسماعيل شهيد رحمه الله څه ويلای شي، له مخکي څخه عادت د الله تعالی جاري دی چي اهل هوا د اهل حق مخالفت کونکي راروان دي، کفار و مشرکين هم داه شان انبياء عليهم الصلاة والسلام ته ويل، دا برخه د انبياء عليهم الصلاة والسلام ده چي د مبتدعين هوا پرست له لوري ومولانا محمد اسماعيل شهيد رحمه الله ته ملاو شوېده، د اهل حق تکفير اهل هوا هميشه کوي، دا يو نوې خبره نه ده.

يو زمانه وه چي پر حضرت امام غزالي رحمه الله د اهل هوا ونا واقفين له لوري څومره قدر د سب و شتم باران وريدلی و او د کتاب احياءا لعلوم څه کيفيت شوی و؟! هغه نن سبا معاندين د تقوية الايمان کوي، مګر آخر حق واضح شوی دی او نن په اسلامي نړۍ کي کومه مرتبه د حضرت امام غزالي رحمه الله ده هغه له چا پټه نه ده او کوم ښووالی چي د احياء العلوم په برخه دی، پر ټولو ښکاره دی.

د مولنا محمد اسماعيل شهيد رحمه الله دا جمله چي لزوم د کفر يې په اويا پنځه او يا وجو سره ثابت کړی دی، مګر د اعلانيه کافر ويلو څخه احتراز کول پکار دی ايا د يو عاقل دين دار له ژبي څخه وتلای شي، د الله تعالی لپاره بغض او حب خو د ايمان له جملې څخه دی نو د داغه خلګو پټ رفض دی چي په کور کي کښيني کافر وايي او په ښکاره له کفر څخه احتراز کوي، روافض هم داغه ويل چي کور کي ناست په پټه سب شيخين او تبرا کوي او

۱) صحيح البخاري: ۲۰/۱، کتاب العلم، باب کيف يقبض العلم وکتب عمر بن عبد العزيز الخ؟

په ظاهره سکوت کوي، نو دا د نفاق شان د دغو خلګو د ده د ایمان و اخلاص حقیقت ښکاره کوي، موږ ته د څه ویلو حاجت نشته، زموږ خو دا شعار دی چي حتی الامکان د دوی په دائره ایمان کي ساتلو کوښښ کوو مګر دوی پخپله له دائره ایمان څخه خارج کیږي، نو څوک به یې څرنګه راګرځوای شي؟!

د مبتدعینو هغه هفوات (فضولي خبري) چي د حضرت مولانا محمد اسماعیل شهید رحمه الله په شان کي د رسالې په صورت کي شائع شوي دي، د هغو جواب څو ځله د اهل حق له لوري شائع شوی دی، لکه چي له همیشه څخه د اهل هوا دا علامت شوی دی چي که څه هم د دوی د هفوات غابښ ماتونکی جواب ملاو شي، مګر څو ورځي وروسته بیا هغه هفوات شائع کوي چي کوم خلګ له لومړي جوابات څخه لا علم وي، هغه دوکه وخوري، دا غه شیطاني جال په دنیا باطل پرست کي معیار د طاعت دی د آریه قادیاني او نورو ټولیو له صنع څخه دا امر ښه واضح دی، محتاج د دلیل نه دی.

د دې زماني رئیس المعاندین مولوي احمد رضا خان بریلوي دی، د هغو په نزد غالبًا تکفیر اهل حق خاص هغه عمل دی چي په هغه سره درجه د شهادت موند له کیږي لکه چي د روافض په نزد تبرا او سب شیخین رضی الله عنهما موجب نجات او ذریعه د حصول ثواب د شهادت ده، دغه راز د خان صاحب بریلوي له طرز عملي څخه معلومیږي چي پرته له تکفیر څخه ګوله نه ماتوي، د دوی هفوات او رسائل په کومو کي چي د حضرت مولانا او نورو علماء رباني تکفیر شوی دی او د دوی په رد کي د مولانا مرتضی حسن سلمه الله تصانیف په نړۍ کي شائع شوي دي، دا غلط دي چي د اهل هوا د رسائل جواب اهل حق نه دی ورکړی، اصل جواب یې ورکړی دی او په کثرت یې ورکړی، متعدد ځل یې ورکړی دی! دا بالکل صحیح دي چي څرنګه د حضرت شاه عبد العزیز د "تحفه اثنا عشریه" "جواب روافض نشو ورکولای، دغه شان د مولانا سید محمد مرتضی حسن ابن شیر خدا د ځینو رسائل جواب د مولوي صاحب احمد رضا خان صاحب بریلوي او د هغو د اعوان وانصارو معتقدین څخه نشي ورکول کېدای، نه د لکهنو یو ورځپاڼي ته دا همت وشو چي دې لوري ته توجه وکړي، په وار وار د بریلي په ښار کي د اهل حق وعظ شوی دی او کیږي او د بدعاتو تردید په ډاګه کیږي، مګر هیڅکله مولوي احمد رضا خان ته(۱) جرئ مکفر د اهل حق ته دا همت نه دی شوی چي مقابلې ته راشي

(۱) "ته" یعني د حق والو تکفیر کونکي ته الخ. سعید احمد پالن پوري.

مولانا سید مرتضی حسن ته یو ځل نه لس ځله شل ځله خاص په بریلي ښار کي د مولوي احمد رضان خان د کتب د تردید کولو اتفاق د خلګو مخته شوی دی او مولوي احمد رضا خان صاحب ته هیڅ کله دا همت نه دی شوی چي د هغه جواب ورکړي، د ده مریدین او معتقیدان راغله، د فساد کوښښ خو چا وکړی مګر چا دا نه وکړه چي جواب ورکړي.

الحاصل د مولانا شهید رحمه الله او نورو علماء رباني احوال دا دي چي پر تویحد ځان ورکوي، د خدای تعالی په ذات وصفات کي څوک سهیم وشریک نه جوړ وي، رسول الله صلی الله علیه وسلم خاتم النبیین بولي، خدای یې نه بولي او دا شرک بولي او نه د ده د یو دنیوي معشوق په شان تعریف کوي چي دا هم د اعلی درجې بې ادبي بولي، کوم اعتقادات چي د قرآن شریف او حدیث شریف افعال واعمال صحابه کرام وائمه مجتهدین عظام رحمهم الله تعالی څخه ثابتیږي، د هغو په بیان کولو کي د معمولي دنیا خیال نه مانع کیږي، پر دې څه اعتراض دی که شته نو اوس یې وکړي او جواب لفظ به لفظ وغواړي، د حق تعالی په فضل وکرم سره اهل حق له همیشه څخه په دنیا کي موجود دي او وي به، د هر سړي د هفوات جواپ ورکول نه شرعًا ضروري دی نه عقلاً، په تېره شوې زمانه کي چي کوم جوابونه ورکول شوي دي، له هغه څخه قطع نظر کولو سره زه په ډاګه وایم چي پر موږ باندي د یو معاند ومخالف جواب اوس باقي نه دی، پاته مولانا سید مرتضی حسن صاحب د هري هري خبري جوابونه ورکړي دي، د مولوي احمد رضا خان صاحب په تحریرات کي افتراء او بهتان رابښکاره کړي دي، د هغو له اقوالو څخه پر هغو الزام وکړي او مولوي احمد رضا خان صاحب او د هغو مریدین او معتقدین جوابونه نه دي ورکړي، نو دا غټ دلیل دی د اهل حق د غلبلې او د مولانا محمد اسماعیل صاحب شهید او مولانا محمد قاسم صاحب ومولانا رشید احمد صاحپ رحمهم الله او مولانا خلیل احمد صاحب او مولانا اشرف علي صاحب ومولانا محمود حسن صاحب سلمهم وعم فیضهم وجمیع علماء د دیوبند د غلبې او پر حق کېدو چي اهل عناد له جوابه عاجز دي، د دې ماسیوا د یو بل دلیل او حجت ضرورت نشته، وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علی خیر خلقه سیدنا ومولانا محمد وآله واصحابه واتباعه اجمعین. اللهم آمین. فقط والله تعالی اعلم

د تقوية الايمان او صراط مستقيم د عبارتونو مطلب

سوال: (۹۰۷) هر مخلوق که غټ وي که کوچنی، هغه د الله تعالی د شان مخته د موچي څخه هم ذليل دی، انبياء او اولياء هيڅ قدرت نه لري، نه هغه اوري، د رسول الله صلی الله عليه وسلم په لمنځه کي خيال راتل د غوايه او خره څخه هم بد دي، تقوية الايمان صراط مستقيم مولانا محمد اسماعيل دهلوي دغه الفاظو او مضامينو څخه معنی ده؟ (۱۴۰۰/۴۲-۱۳۴۷ھ)

جواب: په دې کي ځيني الفاظ که څه هم سخت دي، لېکن مضمون يې صحيح دی، خدای تعالی قادر مطلق دی، د ده قدرت او اقتدار او اختيار مخته ټول مجبور يو او په دې کي انبياء ټول داخل دي، د ده هيڅوک سهيم وشريک نه دی، لهذا کوم عبادت چي د ده لپاره دی، په هغه کي د چا تصور نه دی راتلل په کار، په تيره بيا د نبي کريم صلی الله عليه وسلم تعظيم د مسلمان په رګ کي تاثير کړی دی، د شرک مشابه دی، د دې وجي مولانا داسي سخت او صاف الفاظ ليکلي دي، د ده مقصد هيڅکله توهين د نبي صلی الله عليه وسلم نه دی، بلکي شرک متهاوول او خالص د الله تعالی توحيد پخول دي، وهو عين الايمان والاحسان واليه المستعان. فقط والله تعالی اعلم

وضاحت

حضرت مفتي صاحب قدس سره د "تقوية الايمان" د عبارت چي کوم مطلب ليکلی دی، هغه واضح دی، د مزيد وضاحت ضرورت نشته، مګر سائل چي د صراط مستقيم په حواله کومه خبره نقل کړې ده، د هغه وضاحت ضروري دی، لېکن لومړی د تمهيد په دول څو خبري ذکر کيږي، وروسته د "صراط مستقيم" د عبارت مطلب بيانوو.

لومړی خبره دا ده چي اصل "صراط مستقيم" په فارسي ژبه دی او د حضرت مولانا شاه اسماعيل شهيد رحمه الله تاليف او تصنيف ندی، بلکي هغو د شيخ حضرت سيد احمد شهيد صاحب رايي بريلوي د ملفوظات مجموعه ده، هغه شاه اسماعيل شهيد رحمه الله ترتيب کړي دي، د کتاب د سر پر ورقه د دې تصريح موجوده ده.

دوهم خبره دا ده چي د تصوف په ځينو سلسلو کي د سالک د تربيت يوه طريقه رائج ده،

هغه ته "صرف همت" ویل کیږي، دا د صوفیه و خاص اصطلاح ده، د دې حقیقت دا دی چې د سالک توجه یو ځای کولو لپاره دا تعلیم ورکول کیږي چې هغه په مراقبه کې پوره عظمت و احترام ملحوظ ساتلو سره د خپل شیخ تصور وکړي، یعنې د ټولو خیالاتو څخه خپل زړه خالي کولو سره په زړه کې د شیخ صورت کښېنوي او هغو ته توجه وکړي، ګویا هغه حاضر دی او کله دا تعلیم ورکول کیږي چې دغه ډول په مراقبه کې سالک د رسول الله صلی الله علیه وسلم تصور وکړي او خپل زړه له هر ډول خیالات و خطرات څخه خالي کولو سره په زړه کې توجه د رسول الله صلی الله علیه وسلم وساتي حتی چې دغه وخت په زړه کې د الله توجه هم نه وي، تر څو چې پوره یکسویي او دلجمعي حاصل شي، دې ته د صوفیه په اصطلاح کې "شغل برزخ" هم ویل کیږي او پخپله "صراط مستقیم" کې د دغه وضاحت دا شان شوی دی.

فائده: د بدعتیانو له اشغالو څخه "شغل برزخ" هم دی، کوم چې په اکثر متاخرین کې مشهور شوی دی... او د شغل مذکور صورت دا دی چې وسوسې لیرې کولو لپاره او ارادې جمع کولو لپاره پوره تعیین او تشخیص سره د شیخ صورت په خیال کې حاضر کوي او پخپله په ډېر ادب او تعظیم سره خپل پوره همت د دغه صورت لوري ته متوجه کیږي، ګویا په ډېر ادب او تعظیم سره د شیخ مخته ناست دي او زړه د ده لوري ته متوجه کوي. (صراط مستقیم مترجم: ص۱۳۴-۱۳۵، صراط مستقیم فارسي: ص۱۱۸)

دریمه خبره دا ده چې د فارسي په محاوره کې متاع د دنیا په "ګاؤخر" سره تعبیر کوي، د فارسي مشهور شعر دی:

برزبان تسبیح ودر دل ګاؤخر * این چنین تسبیح ګئي دارد اثر

(پر ژبه تسبیح او زړه کې ګاؤخر- له داسې تسبیح څه فائده؟!)

ظاهره ده چې په دغه شعر کې ګاؤخر څخه صرف خر او غویی مراد نه دی، بلکې هغه ټول شیان مراد دي کوم چې انسان له خدای څخه غافل کونکي دي، د ګاوخر دا معنی پخپله "صراط مستقیم" کې بیان شوې ده: ګاؤخر تمثیل است هر چه سوائی حضور حق است، ګاؤ باشد یا خر، فیل باشد یا شتر. (صراط مستقیم: ص۸۵)

د دغه تمهیدي خبرو بعد پېژندل په کار دي چې "صراط مستقیم" کې هیڅکله دا نشته چې "د رسول الله صلی الله علیه وسلم خیال په لمانځه کې راتلل له غویي او خره څخه ډېر بد دی" د صراط مستقیم عبارت لاندې لیکل کیږي:

اری به مقتضائي (ظلمات بعضها فوق بعض) از وسوسه زنا خیال مجامعت زوجه خود بهتر است- وصرف همت بسوئی شیخ وامثال آن از معظمین گو جناب رسالت مآب باشند بچندین مرتبه بد تر از استغراق در صورت گاؤ وخر خود است که خیال آن با تعظیم واجلال بسویدائی دل انسان مي چسپد ، بخلاف خیال گاؤ وخر که نه آن قدر چسپید گي مي بود ونه تعظیم، بلکه مهان ومحقر مي بود ، واین تعظیم واجلال غیر که در نماز ملحوظ ومقصود مي شود بشرک مي کشد. (صراط مستقیم: ص۸۲) ترجمه: هو په مقتضاء د (ظلمات بعضها فوق بعض) (بورته لاندي ډيري تاريکۍ دي) د زنا له وسوسې د خپلي مایني د مجامعت خیال ښه دی، او شیخ یا د هغو شان بزرګانو طرف ته برابره ده که د ستر رسالت مآب صلی الله علیه وسلم وي صرف همت کول د خپل غویي او خر په صورت کي مستغرق کېدو څخه څو درجې بد دی، ځکه چي د شیخ خیال خو د تعظیم وتکریم سره د انسان په زړه کي منبلي او د غويي او خره خیال نه دومره قدر چسپیدګي (تعلق او ملاویدل) کیږي او نه تعظیم، بلکي هغه خیال حقیر او ذلیل وي او د غیر الله دا تعظیم وتکریم کوم چي ملحوظ ومقصود دی، شرک لوري ته وړي.

د دغه عبارت مطلب دا دی چي په لمانځه کي له الله تعالی څخه توجه لیري کولو سره بل شي طرف ته وړل بد دي، ځکه چي په هیئت د لمانځه کي کومه خشوع وخضوع او توجه الی الله مطلوب ده، د دې منافي ده، لیکن د ټولي وسوسو او خیالاتو حکم یو دومره بد نه دی، بلکي ځیني وساوس له ځینو څخه بد دي، مثلاً د خپلي ماینې سره د جماع خیال که د زنا خیال بد دی، دغه شان په لمانځه کي د خپل شیخ یا بزرګ یا رسول الله صلی الله علیه وسلم طرف ته صرف همت کول یعني خپل زړه له ټولو خیالو څخه حتی توجه الی الله څخه قصداً خالي کولو سره د شیخ یا رسول الله صلی الله علیه وسلم طرف ته پورته متوجه کېدل او هغه مرکز توجه جوړول، دا ډېر بد دي له دنیاوي وساوس کي مستغرق کېدو څخه ځکه چي دنیاوي وساوس په قصد واختیار سره نه راځي، بلکي پخپله راځي او لمونځ کونکی د هغه په زړه سره خوښ نه وي کوم چي مفضي الی التعظیم وي، بلکي د دې حقارت د ده په نظر کي وي، د دې وجي کله لمونځ کونکي ته د دې خیال راشي نو ټولي وساوس د زړه څخه را ایستلو سره د الله تعالی طرف ته متوجه کیږي او خشوع وخضوع پیدا کوي، برخلاف "صرف همت" چي هغه کي بالقصد د خپلي توجه مرکز شیخ یا رسول خدا جوړول کیږي او د دوی له تصور سیوا هر خیال حتی چي د الله تعالی خیال هم له زړه څخه را ایستلو سره د شیخ یا رسالت مآب صلی الله علیه وسلم خیالي صورت ته تعظیم وتکریم سره مخلوط ومقصود جوړول کیږي، د دې وجي لمونځ کونکی له توجه الی الله څخه محروم ګرځي

او د هغه په تعظیم وتکریم یعني قیام، رکوع او سجده او نور ټول د غیر الله لپاره کیږي او داسي تعظیم وتکریم انسان شرک طرف ته کشوي، د دې وجي "صرف همت" ته د دنیوي وساوس څخه څو درجې بد ویل شوی دی، فافهم وتدبر!!

لېکن د صرف همت او شغل برزخ څخه پرته که په لمانځهٔ کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم خیال راشي یا د التحیات او درود ویلو پر مهال رسول الله صلی الله علیه وسلم طرف ته خیال لاړ شي، داسي چي توجه الی الله کي هیڅ خلل واقع نشي، نو د غه لمونځ نه صرف کامل بلکي اکمل دی، پخپله "صراط مستقیم" کي پر د غه مقام تصریح ده: که د لمانځه په حالت کي د ملائکه او انبیاء واولیاؤ ارواح انکشاف وشي نو هغه قبیح او مذموم نه دی، بلکي د خدای جلیل القدر انعام دی، کوم چي د الله مخصوص بندګانو ته عطا کیږي، په صراط مستقیم کي دي:

نباید دا نست که سنوح مسائل غریبه وکشف ارواح وملائکه در نماز قبیح است، بلکه توجیه همت وقصد این کار در طویت وامتزاج این مدعا درنیت، مخالف خلوص مخلصان است، واما سنوح وکشف مذکورین پس از قبیل خلعتهائی فاخره است که مخلصان مستغرق حضور حق را بسبب وفور عنایتها بآن مي نوازند، پس در حق ایشان کمالي است که در موطن مثال مجسم گردیده، ونماز ایشان عباتي است که ثمره اش بمنظر رسیده. (صراط مستقیم: ص۸۵)

ترجمه: دا ندی ګڼل په کار چي د نادرو مسئلو په خیال کي راتلل او د ارواح وفرشتو کشف په لمانځه کي بد دی؛ بکلي خپل همت د هغه طرفته متوجه کول او زړه کي د د غه کار اراده کول او نیت کي دا مقصد ملاوول د مخلص خلګو د اخلاص مخالف دی او پخپله د مسائلو په زړه کي راتلل او د ارواح او فرشتو کشف له هغه فاخره نعمتو څخه دی کوم چي په حضور حق کي مستغرق حضراتو ته د ډیرو مهربانیو له وجي ورکول کیږي، نو دا د دوی په حق کي داسي کمال دی کوم چي عالم مثال کي مجسم شوی دی او د دوی د لمانځه عبادت داسي دی چي د هغه ثمره د هغو د سترګو مختبه راغلې ده.

محمد امین پالن پوري.

سوال: (۹۰۸) دلته يوه مدرسه اسلاميه څ كاله څخه ده په دې كي كوچنيانو ته ديني تعليم په هكله خاص انتظام شوى دى، په سلسله د انصاب كي تعليم الاسلام څلور سره برخي مصنفه مولانا كفايت الله دهلوي داخل دى، ځيني خلك په څلورمه برخه كي قابل اعتراض خبري ښيي، لهذا مذكوره مسائل اهل سنت والجماعت حنفي بچيانو ته ويل كېداى شي كنه؟(۱۳۴۵/۹۲۵هـ)

جواب: كتاب تعليم الاسلام مؤلفه كولانا كفايت الله صاحب د هر مفيد كتاب دى او عقائد وسمائل كوم چي په دې كي ليكل شوي دي صحيح دي او موافق د مذهب اهل سنت وجماعت دي، كوچنيانو ته د كتاب مذكور جمله حصص تعليم وركول جائز او مفيد دي او د څلورمي برخي دننه عقائد ومسائل هم موافق د اهل سنت وجماعت دي فقط والله تعالى اعلم

د ابن حجر بلوغ المرام حنفي طلبه ويلاى شي كنه؟

سوال: (۹۰۹) تعليم الاسلام او بلوغ المرام عربي مصنفه ابن حجر عسقلاني رحمه الله طلباء حنفي ويلاى شي كنه؟(۱۳۴۵/۹۲۲هـ)

جواب: كتاب تعليم الاسلام په هكله پربل كاغذ جواب دى چي دا كتاب د كوچنيانو لپاره مفيد دى او موافق د كتب فقه وعقائد دى، بلواغ المرام ورته ويونكى كه عالم محقق حنفي وي كوم چي د حنفيه له طرفه د احاديث تحقيق كولاى شي او د فقه حنفيه مسائل له احاديث صحيحه څخه ثابت كولاى شي نو دې كي هيڅ حرج نشته، الغرض ضرورت د دې دى چي نصاب تعليم كي دي داسي كتاب حديث داخل كړل شي چي حنفيانو لره ترك تقليد سبب نه وي بلكي مؤيد د حنفي فقهي د مسئلو وي يا د فقه حنفيه كتاب داخل كړل شي كوم چي مسائل فقه حنفيه منصل دول ثابت كړي او د عمل لپاره شمع هدايت وي فقط والله تعالى اعلم

د علامه شبلي نعماني د كتاب سيرة النبي مطالعه كول څرنګه دي؟

سوال: (۹۱۰) سيرة النبي مصنفه شبلي نعماني رحمه الله مطالعه كول څرنګه دي؟ په عقائد كي خو فرق نه راځي؟

په لومړي ټوک کي درې ډول حديث غير معتبر ليکلی دی، يو روايت دی چي په لمر ګرم شوي اوبو اودس وغسل جائز نه دی، د دې څخه د برص وېره ده، په سيرت کي ليکلي دي چي دا حديث غير معتبر دی، دوهم دا که په لږ نيکي د زيات ثواب وعده او پر لږ بدي د زيات عذاب دهمکی ورکول شوې وي هغه حديث هم غير معتبر دی، دريم دا چي کوم سړی يو ځل لا اله الا الله ووايي نو د ده له وينا سره يو حيوان پيدا کيږي، د هغه اويا زره وزران وي يا اويا زره خولې، په هره خوله کي اويا زره ژبي، په هره ژبه کي نعت الخ او نور او نور، دا هم غير معتبر دی، دا ليکل د سيرت النبي د مصنف دا صحيح دی کنه؟ او معراج ته روحاني ويل څرنګه دي؟ (۱۳۴۵/۱۳۲۱هـ)

جواب: د داسي کتاب مطالعه کول بې له تبحر علمي مناسب نه ده، که مطالعه يې کوې نو له يو عالم څخه تحقيق کوه، پر دې اعتماد مه کوه، او په لمر ګرم شوي اوبو سره اودس کول درمختار کي بلا کراهت جائز ليکلي دي او د شافعيه په نزد مکروه ليکلي دي (۱) مګر دغه پر کراهت طبيه محمول کړی دی، يعني دا مضر دی، شامي ليکلي دي: د حضرت عمر رضی الله عنه اثر په دې هکله صحيح دی: حيث قال: قال ابن حجر: واستعماله يخشى منه البرص كما صح عن عمر رضی الله عنه (۲) بيا مخته حديث د بي بي عائشې صديقې رضی الله عنها نقل کړی دی او وروسته فرمايلي دي: وعن عمر مثله (۳) له دې څخه معلوميږي چي حديث صحيح دی، دوهم او دريمه قاعده محدثينو هم تسليم کړې ده.

---

۱) وبماء قصد تشميسه بلا كراهة وكراهته عند الشافعي طبية (الرد المختار مع رد المحتار: ۱۳۲/۱، كتاب الطهارة، باب المياه. ط رشيديه)

۲) رد المحتار: ۱۳۲/۱، كتاب الطهارة، باب المياه.

۳) وتكره الطهارة بالمشمس، لقوله عليه السلام لعائشة رضی الله عنها حين سخنت الماء بالشمس: "لا تفعلي يا حميراء، فانه يورث البرص" وعن عمر مثله (الشامي: ۱۳۲/۱، كتاب الطهارة وباب المياه. ط رشيديه)

او دريم حديث کي کوم د کلمې لا اله الا الله په هکله فضيلت مذکوره نقل کړی دی، په ظاهره هغه غير معتبر دی، معراج ته روحاني ويل جسماني نه ويل د اهل سنت وجماعت د عقيدې خلاف دی، نور نو که يو مسئله د اهل سنت وجماعت د عقيدې په خلاف وي، پر هغه دي اعتماد نه کيږي فقط

کتاب دلائل الخيرات واجب التعظيم دی

سوال: (۹۱۱) زيد دلائل الخيرات قابل تعظيم وتوقير نه بولي؟ (۱۴۵۵/۱۳۴۳ھ)

جواب: په دلائل الخيرات کي درودونه دي، کوم چي د صلوا عليه وسلموا تسليما مصداق او د الله تعالی د امر امتثال دی، لهذا د دې په واجب التعظيم کيدو کي هيڅ شبه نشته او که د دې ځيني روايتونه ضعيف بولي نو من حيث السند دا شان ويل موجب فسق نه دی او که د درود شريف وآيات کريمه په اعتبار سره وايي نو په دې کي خوف د کفر دی. فقط والله تعالی اعلم

ايا د الحزب الاعظم تولګه اوراد معتبر دي؟

سوال: (۹۱۲) د الحزب الاعظم تولګه اوراد معتبر او ماثوره دي کنه؟ (۲۲۲۲/۳۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: الحزب الاعظم کي اکثره ادعيه مأثوره دي، د دې ويل او ورد کول ښه دي فقط

پر مثنوي د مولانا روم عمل کول ضروري دي کنه؟

سوال: (۹۱۳) پر مثنوي د مولانا روم عمل کول او د هغه احکام منل ضروري دي کنه؟ (۹۸۲/۴۴-۱۳۴۵ھ)

جواب: د عمل کولو کتابونه د فقهي دي، د توصف او حقائق کتابونو په هکله دا سوال نه دی کول په کار چي هغه قابل عمل دی کنه؟ هغه کي ډيري خبري تر عام فهم پورته وي او په شريعت کي د هغه تکليف نه وي ورکول شوی، غرض د تصوف د حقائق فن جلا دی، مثنوي د مولانا روم هم د دې قبيل ځخه دی، هغه د فقهي کتاب نه دی او د مسائلو د فقهي کتاب هم نه دی. فقط والله تعالی اعلم

کتاب "زین المجالس" کي خرافات او کفریه خبري دي

سوال: (۹۱۴) کتاب زین المجالس کي مضامین لاندیني لیکل شو دي، دا صحیح دي کنه؟
(الف) پیران پیر نوم ېي او د سه اخیستونکو سر له بدن څخه جلا کېدل په کار دي
(ب) د یو روح څخه منکر نکیر پوښتنه وکړه هغو د الله او رسول نوم نه وښودی، بلکي د عبد القادر رحمه الله نوم يې وښودی، پر دغه حکم د خدای وشو چي عذاب دي ورکول شي، د فرشتو څخه د حکم خداوندي د تعمیل په وخت د پیر روح ګرز واخیستی او ویې وویل چي که مي وغوښت نو د عشق په اور به ټول جنتونه او دوږخونه ختم کړم.
(ج) د ملک الموت څخه پر څلورم آسمان روحونه واخیستل او فرشته يې یوه څاپېړه هم ووهله
(د) که د یو مرید حاجت وي نو د روضة النبي او بارګاه خداوندي څخه مراد ژر نه حاصلیږي، ځکه چي هلته رحمت عام دی، مګر د پیران پیر څخه چي څنګه حاجت وغواړي، پخپله کار پوره کوي، که څه هم مرید په مشرق ومغب کي وي.
(هـ) چا چي د ده قدم نه ومانی مردود شو، یو ولي الله له قبر څخه پورته کېدو سره د قدم اقار واخیستل شو، ایا دا خبري صحیح دي؟ او داسي کتاب په مسجدو کي متواتره تر یو لس یوم پوري ویل او اورول، ترغیب ورکول منع کونکو ته وهابي او نور ویل څرنګه دي؟ او کوم عالم چي د کتاب مذکور د ویلو اجازه ورکړي د هغه لپاره څه حکم دی؟ (۳۳۹۷/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: (الف) دا غلط دي.
(ب) دا کیسه هم محض غلطه او افتراء ده او معتقد او قائل د دې بدعتي او فاسق وفاجر دی، بلکي خوف د کفر دی، ځکه چي په دې کي اختیارات د پیران پیر رحمه الله له قدرت باري تعالی څخه زیات کړي دي چي موجب د کفر دی.
(ج) دا هم درواغ او کفر دی.
(د) له اولیاء الله څخه له مرګ وروسته هم فیض کیږي، د اهل سنت له دې څخه انکار نشته، لیکن کوم فیض چي له هغو څخه کیږي هغه په حکم د الله رب العزت کیږي او د دوی تصرف د حکم خداوندي څخه زیاتول کفر دی او شرک دی. باري تعالی فرمايي: (ان الله لا یغفر ان یشرک به ویغفر ما دون لمن یشاء) (سورة نساء، آیت: ۴۸- ۱۱۶) او له قبور څخه او غیر الله څخه مرادونه غوښتل هم شرک دی.

(هـ) غلط دی او په کوم کتاب کې چې دا ډول خرافات لیکل شوي دي، هغه ویل او یقین په کول او رواج ورکول او اشاعت کول یې حرام او ناجائز دی، عالم حقاني متبع شریعت هیڅ کله دا خبري روا نشي بللی او اشاعت نشي کولای او ترغیب او اجازه نشي ورکولای نو کوم سړی چې دغه امور منع کړي، هغه عالم رباني او متبع د شریعت دی او څوک چې د دغه کارونو ترغیب ورکوي او مسجدونو کې دغه ډول بدعات او کفریات په کوي، هغه وهابي او بدعتي دی، اهل محله واهل مسجد لره لازم دي چې هغه خپل مساجد له داسي لغویات څخه محفوظ وساتي، ځکه چې مساجد له دغه بدعاتو او کفریاتو لپاره نه دي بلکې مساجد صرف د لمانځه لپاره دي او کوم سړي چې د کتاب مذکور د ویلو اجازه ورکړي، د هغو په وعظ کې شریک کېدل او په هغو پسې لمونځ کول جائز نه دی، داسي سړي سره قطع تعلق ساتل په کار دی تر څو چې له داسي کارونو څخه توبه نه وي ایستلې. فقط والله تعالی اعلم

کتاب "یوولس مجالس" کې ډیر خبرې د کفر وشرک دي

سوال: (۹۱۵) په کتاب یوولس مجالس کې حالات وکرامات د حضرت محبوب سبحاني شیخ عبد القادر جیلاني قدس سره منقول دي، اکثر په دې کې داسي حالات دي د هغه په ویلو سره سخت شکوک واوهام پیدا کیږي، مثلاً دا چې د الله تعالی څخه حاجت په څنډ پوره کیږي او کله پوره کیږي هم نه مګر د ده سره سمدستي حاجت پوره کیږي، نور او نور، داسي کتاب ویل او اورېدل او ترغیب ورکول، ثواب بلل، محبت د اولیاء ګرڅول څرنګه دی؟ د داسي کتاب نه منونکی څه حکم دی؟ متولیان د مسجد که امام د مسجد ته د ویلو حکم وکړي نو ده لره څه کول په کار دي؟ (۱۳۴۵/۷۷۷هـ)

جواب: پر داسي کتاب اعتقاد کول او اورول او ترغیب ورکول او نور ټول حرام او ناجائز دي، ځکه چې د الله تعالی د حکم خلاف د هیچا اطاعت نشته. لا طاعة لمخلوق في معصية

الخالق.(۱) فقط والله تعالی اعلم

کتاب قصص الانبیاء مستند نه دی

سوال: (۹۱۲) کتاب "قصص الانبیاء" مستند دی کنه؟ (۵۵۸/۴۴-۱۳۴۵ه)

جواب: مستند نه دی. فقط والله تعالی اعلم

---

۱) عن النواس بن سمعان رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا طاعة لمخلوق الحدیث (مشکاة المصابیح ص۳۲۱، کتاب الامارة والقضاء، الفصل الثاني)

بیلا بیلي مسئلي

د کفر او اسلام لړۍ له کوم وخت څخه پیل شوې ده؟

سوال: (۹۱۷) مسلمانان او هندوان د حضرت آدم علیه السلام له زماني څخه دي که دا دوه قومونه په منځ کي را پیدا شوي دي؟(۱۳۴۵/۱۱۷۵هـ)

جواب: هندوان او مسلمانان ټول د حضرت آدم علیه السلام اولاد دی، او د کفر او اسلام لړۍ د دوی له اولاد څخه شروع شوې ده، بیا د حضرت نوح علیه السلام له اولاد څخه خپره شوې ده، د ده په لاود کي ځیني کافران وو، دغه اوسني هندوان په ظاهره د هغو له لړۍ څخه معلومیږي. فقط والله تعالی اعلم

حضرت آدم علیه الصلاة والسلام له جنت څخه ولي را وایستل شو؟

سوال: (۹۱۸).... (الف) حضرت آدم علیه السلام د کومي درختي د میوې په خوړلو له جنت څخه را وایستل شو؟

(ب) دا ویل تر کوم حده صحیح دي چي آدم علیه السلام ښځي ته تلو څخه منع شو، هغه د دې خلاف وکړه، پر دې بناء دنیا ته راواستول شو؟

(ج) د مفسرینو له دې خیال چي آدم علیه السلام ښځي ته ورغلی ځکه د غنم شکل د ښځي د فرج سره مشابهت لري، تر کومه صحیح دی؟

(د) که آدم علیه السلام ښځي ته تلو څخه منع نه شوی بلکي د یو درختي څخه منع شو،

نو څه وجه ده چي د حواء د پيدائش وروسته منع کړی، د دې مخکي منع نشو او د دې څه ثبوت دی؟ (۱۳۴۵/۱۱۴۹هـ)

جواب: (الف) له صريح آيات ونصوص څخه دا ثابت دي چي حضرت آدم د درختي خوړلو په وجه له جنته راوايستل شو، په دغه کي اختلاف دی چي هغه درخته د غنم وه يا د انګور يا انځر. (معالم التنزيل) (۱)

(ب) دا غلط دی، د دې هيڅ اصل نشته.

(ج) نتيجه مذکوره اخذ کول محض لغو او بې اصل ده او دا له وساوس شيطاني څخه ده.

(د) حضرت حواء خو پيدا د دې لپاره شوه چي د حضرت آدم عليه السلام سره انس وساتي، د ده لپاره دا د سکون سبب شي، لکه د آيات قرآن شريف: (جعل منها زوجها ليسکن اليها) (سورة اعراف، آيت: ۱۸۹) څخه ظاهر دي، نو دا خيال کول چي حضرت آدم عليه السلام ښځي ته تلو څخه منع کړل شو الخ صريح معارض د نص قرآني دی، داسي خيال ساتل محض غلط او بې اصل دی، باقي له درختي خوړلو څخه منع کولو کي څه حکمتونه دي؟ هغه الله رب العزت ته ښه معلوم دي، الله تعالى چي څه وخت منع کول مناسب ګڼل، منع کړه، په دې کي داسي اعتراضات واهيه کول چي له مخکي څخه نه منع کړل، حضرت حواء پيدا کولو وروسته ولي منع کړی، له شرارت نفس او اغواء شيطان لعين څخه دي او له قرآن شريف څخه خو دا واضح دي چي حضرت آدم عليه السلام او حضرت حواء دواړه درجتي ته تلو څخه او خوړلو څخه منع کړه: (ولا تقربا هذه الشجرة فتکونا من الظالمين) (سورة بقره، آيت: ۳۵) فقط والله تعالى اعلم

---

۱) قال بعض العلماء: وقع النهي على جنس من الشجرة وقال آخرون: على شجرة مخصوصة، واختلفوا في تلک الشجرة، قال ابن عباس ومحمد بن کعب ومقاتل: هي السنبلة، وقال ابن مسعود: هي شجرة العنب وقال ابن جريج: شجرة التين، وقال قتادة: شجرة العلم وفيها من کل شيء، وقال علي: شجرة الکافور. (معالم التنزيل: ص۲۲، سورة البقرة تفسير الآية: ولا تقربا هذه الشجرة)

ایا د رسول الله صلی الله علیه وسلم مور وپلار مسلمانان وه؟

سوال: (۹۱۹) والدین د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر کوم نبي ایمان درلودی؟ او شاه عبد القادر صاحب چي کوم په سورة توبه کي د آیت: (وما کان استغفار ابراهیم) (سورة توبه، آیت: ۱۱۴) او سورة احقاف کي د آیت: (ووصینا الانسان بوالدیه) (۱) پر حواشي موضع القرآن کي تحریر کړي دي چي د والدین لپاره رسول الله صلی الله علیه وسلم دعا نه ده کړي، ایا دا صحیح دي؟ لنډه دا چي په دې هکله عقیده د اهل سنت والجماعت څه ده؟ (۱۳۴۱/۲۱۹۷هـ)

جواب: قال في شرح الفقه الاکبر: و والدا رسول الله صلی الله علیه وسلم ماتا علی الکفر، هذا رد علی من قال: انهما ماتا علی الایمان او ماتا علی الکفر ثم احیاهما الله تعالی، فماتا في مقام الایقان الخ (۲) (ص: ۱۳۱، شرح فقه اکبر) وفي الشامي بعد ذکر احیاء ابوی النبي صلی الله علیه وسلم بعد الموت: ولا ینافي ایضاً ما قاله الامام في الفقه الاکبر من ان والدیه صلی الله علیه وسلم ماتا علی الکفر، ولا ما في صحیح مسلم: "استأذنت ربي ان استغفر لامي فلم یأذن لي" وما فیه ایضاً: ان رجلا قال یا رسول الله! این ابي؟ قال: في النار، فلما قفا دعاه فقال: ان ابي واباک في النار لامکان ان یکون الاحیاء بعد ذلک الخ (وبعد اسطر) وبالجملة کما قال بعض المحققین: انه لا ینبغي ذکر هذه المسألة الا مع مزید الادب ولیست من المسائل التي یضر جهلها او یسأل عنها في القبر او في الموقف فحفظ اللسان عن التکلم فیها الا بخیر اولی واسلم الخ (۳) (شامي: ۳۸۲/۳)

حاصل دا چي کوم احادیث د رسول الله صلی الله علیه وسلم د والدین د موت علی الکفر او ناري کېدو باندي دال دي، د مسلم شریف حدیثونه دي او صحیح دي، لیکن بوجه امکان احیاء بعد الموت ورود د دبعض احادیث په هکله ځیني علماء محققین په دې کي کف لساني او توقف الیق بللی دی او تطبیق یې دا شان ورکړی دی چي ممکن دی ژوندي کېدو سره به یې ایمان راوړی وي او د ده دا ویل: ان ابي واباک في النار، قبل علم بنجاتهما و او احیاء او قبول د ایمان بعد د دې ارشاد شخه وي، شامي کي دي:

---

۱) سورة عنکبوت، آیت: ۸، سورة لقمان، آیت: ۱۴، سورة حقاف، آیت: ۱۵

۲) شرح الفقه الاکبر: ص: ۱۳۰-۱۳۱، قبیل الاسلف في الشهادة بالجنة ثالثة اقوال، مطبع مجتبائي، دهلي

۳) رد المحتار علی الدر: ۴۱۸/۲-۴۱۹، کتاب النکاح، باب نکاح الکافر، مطلب في الکلام علی ابوی النبي صلی الله علیه وسلم واهل الفترة. ط رشیدیه

الا ترى ان نبينا صلى الله عليه وسلم قد اكرمه الله تعالى بحياة ابويه له حتى آمنا به كما في حديث صححه القرطبي وابن ناصر الدين حافظ الشام وغيرهما فانتفعا بالايمان بعد الموت على خلاف القاعدة اكراما لنبيه صلى الله عليه وسلم الخ. (۱)

نو سکوت په دې هکله اقرب واصوب معلومیږي. (۲) والله ولي التوفيق وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين. فقط والله تعالی اعلم

ابو طالب مؤمن وکنه؟

سوال: (۹۲۰) ابو طالب د رسول الله صلی الله علیه وسلم اکا مؤمن ؤ که کافر؟ بیا هم د ده په محبت کي له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره هیڅ شبه نشته، نو د ده تصدیق پر رسالت ؤ کنه؟ که ؤ نو د دغه تصدیق په وجه بلا تلفظ کلمه ایمان یا د صرف محبت ومعاونت په باعث په ډله د مؤمنانو کي داخل کېدای شي کنه؟ (**۵۷۵/۱۳۳۸ھ**)

جواب: د ابو طالب کیسه په صحیح حدیث کي راغلې ده چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د ده په آخر حالت کي او د نزع پر مهال ده ته راغلی او دا وفرمایل چي ای اکا! لا اله الا الله ووایه چي زه ستا له لوري الله تعالی ته عرض معروض کړم، مګر هغه کلمه توحیه نه ووایه او آخري

---

۱) الشامي على الدر المختار: ۳۱۷/۳، کتاب الجهاد، باب المرتد، مطلب في احياء ابوي النبي صلى الله عليه وسلم بعد موتها. ط رشيديه

۲) په فتاوی رشدیه کي دي:

سوال: زموږ د حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم والدین مسلمانان وه کنه؟

جواب: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د والدین په ایمان کي اختلاف دی، د حضرت امام صاحب مذهب دا دی چي د هغو انتقال په حالت د کفر کي وشو. فقط (فتاوی رشیدیه: ص۱۹۴، کتاب العقائد، عنوان: د رسول الله صلی الله علیه وسلم د والدینو اسلام)

کلمه چي يې کومه وويله، هغه دا وه: زه د عبد المطلب پر دين يم(۱) او دا هم په حديث کي دي چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم د محبت او اعانت له وجي به ده ته په عذاب کي تخفيف وي (۲) فقط والله تعالى اعلم

د عبد المطلب په هکله څه حکم دی؟

سوال: (۹۲۱) د رسول الله صلى الله عليه وسلم د نيکه عبد المطلب په هکله څه حکم دی؟(۱۲۳۰/۱۳۴۰هـ)

جواب: په ښکاره هغه حکم کوم چي د ټولو کفارو دی او په عذاب کي خفت خو کېدای شي. فقط

په شهادت سره حقوق العباد معاف کېدای شي کنه؟

سوال: (۹۲۲) کوم سړی چي د دين لپاره يعني په جهاد کي شهيد شي، په دې سره ماسيوا د نورو ګناهونو حقوق العباد هم معافيږي کنه؟(۱۸/۱۳۴۰هـ)

جواب: حقو ق العباد نه معافيږي (۳) مګر دا کېدای شي چي په قيامت کي الله تعالى

---

۱) عن سعيد بن المسيب عن ابيه رضى الله عنهما انه اخبره انه لما حضرت ابا طالب الوفاة، جاءه رسول الله صلى الله عليه وسلم فوجد عنده ابا جهل بن هشام وعبد الله بن ابي اميه ابن المغيرة، قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لابي طالب: اى عم! قل: لا اله الا الله كلمة أشهد لک بها عند الله، فقال ابو جهل و عبد الله بن ابي امية: يا ابا طالب! اترغب عن ملة عبد المطلب؟ فلم يزل رسول الله صلى الله عليه وسلم يعرضها عليه ويعودان بتلک المقالة، حتى قال ابو طالب: آخر ما كلمهم به هو على ملة عبد المطلب: و ابي ان يقول: لا اله الا الله، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اما والله لاستغفرن لک ما لم انه عنه، فانزل الله فيه: ما كان للنبي الآية (صحيح البخاري: ۱۸۱/۱، كتاب الجنائز، باب: اذا قال المشرک عند الموت: لا اله الا الله، وفيه ايضا: ۵۴۸/۱، كتاب المناقب، باب قصة ابي طالب)

۲) د دې حديث شريف تخريج د كتاب الايمان په سوال (۲۵۸) کي وګورئ.

۳) عن عبد الله بن عمرو رضى الله عنه، ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: يغفر للشهيد كل ذنب الا الدين (الصحيح لمسلم: ۱۳۵/۲، كتاب الامارة، باب من قتل في سبيل الله كفرت خطاياه الا الدين)

حقدار راضي کړي او له خپله لوري هغو ته د ثواب بدله عطاء کړي (۱) فقط

د کافرانو مال غصب او غلا کول څرنګه دي؟

سوال: (۹۲۳) (اولئک الذین کفروا بآیات ربهم ولقائه فحبطت اعمالهم فلا نقیم لهم یوم القیامة وزنا) (سورة کهف، آیت: ۱۰۵) پر دغه دا سوال دی که مسلمان د کافر مال غصب کړي یا غلا کړي نو پر دې به مؤاخذه وي کنه؟ (۱۳۴۱/۲۹۲هـ)

جواب: له دغه آیت د کفارو د اعمالو حبط او غیر مفید کېدل ثابتیږي. نو که یو مسلمان د کافر مال غصب کړي، دا فعل د مسلمان دی پر دې به مؤاخذه ولې نه وي؟ او اصل دا دی چي ظلم عمومًا حرام دی او غصب او سرقه د یو کافر له مال څخه حرام دی. حدیث شریف کي دي: الا لا تظلموا (۲) او الظلم ظلمات یوم القیامة (۳) فقط والله تعالی اعلم

== وفي المرقاة: قوله: (الا الدین) اراد حقوق الادمیین من الاموال والدماء والاعراض، فانها لا تعفی بالشهادة. (مرقاة المفاتیح: ۱۱۱/۲، کتاب البیوع، باب الافلاس والانظار، الفصل الاول، رقم الحدیث: ۲۹۱۲)

۱) الذنب ما یذم به الآتی به شرعًا، وهو اربعة اقسام..... وقسم یحتاج الی التراد وهو حق الآدمي، والتراد اما في الدنیا بالاستحلال او رد العین او بدله، واما في الآخرة برد ثواب الظالم للمظلوم او ایقاع سیئة المظلوم علی الظالم، او انه تعالی یرضیه بفضله وکرمه (مرقاة المفاتیح: ۲۰۴/۱، کتاب الایمان، باب الکبائر وعلامات النفاق، الفصل الاول، رقم الحدیث: ۴۹)

۲) عن ابي حرة الرقاشي عن عمه رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الا لا تظلموا، الا لا یحل مال امرء الا بطیب نفس منه، رواه البیهقي في شعب الایمان (مشکاة المصابیح ص۲۵۵. کتاب البیوع، باب الغصب والعاریة، الفصل الثاني)

۳) عن عبد الله بن عمر رضی الله عنهما عن النبي صلی الله علیه وسلم قال: الظلم ظلمات یوم القیامة (صحیح البخاري: ۳۳۱/۱، ابواب المظالم والقصاص، باب الظلم ظلمات یوم القیامة والصحیح لمسلم: ۳۲۰/۲، کتاب البر والصلة والادب، باب تحریم الظلم)

لمر ترنځه په کوم تاریخ کې نیسي؟

سوال: (۹۲۴) د اهل هیئت څخه منقول دي چې لمر ترنځه پر اته ویشتم تاریخ د میاشتي نیسي، بل یو تاریخ کي نه وي، د بیهقي مذهب دی چې د لمر ترنځه نیول او لوی اختر جمع کېدای شي، یعني ترنځه په لسمه د میاشتي هم کیږي، شرعًا کوم امر محقق دی؟ (۱۳۳۳-۳۲/۸۳۹ھ)

جواب: د عادت تجربې او هیئت د قواعدو سره سمه همدا خبره ده چې ترنځه پر اته ویشتمه وي د لوی اختر د میاشتي په لسمه نشي کېدلای، د خلاف عادت وخرق عادت کېسه جلا ده، د بیهقي شاید داغه مطلب وي چې خلاف عادت دا شان ممکن دي. فقط والله تعالی اعلم

په غلط فهمي کي چا مسئله غلطه وښودله نو څه حکم دی؟

سوال: (۹۲۵) زید کتب فقه وکتل، یو حلال شي ته يې حرام وویل او تحقیق دا دی چې زید څخه غلط فهمي وشوه، په واقع کي هغه شی حلال و او یقین دی که زید پوه شي نو هغه له حرام ویلو څخه راګرځي، په داسي صورت کي زید له دائره اسلام څخه خارج شو کنه؟ او څوک چې دی له اسلام څخه خارج وبولي، د هغو لپاره څه حکم دی؟ (۱۳۴۵/۱۵۱۲ھ)

جواب: په غلط فهمي سره یوه مسئله غلطه ګڼل او غلط وربښودلو سره ګناه او کفر هیڅ نه کیږي، دی معذور دی، تر پوهني وروسته چې زه په دغه مسئله پوه شوی نه وم او غلطه مي بیان کړه، رجوع کول له دې څخه لازم دی، د سلف څخه واخله ترنن زماني پوري له علماء څخه غلطي کیږي، دا یو نوې خبره نه ده، مګر تر پوهني وروسته له خپلي غلطي څخه رجوع کول ضروري دي، بیا هم تکفیر او تفسیق د دغه سړي کوم چې په مسئله ښودلو کي غلطي څني شوې ده، جائز نه دی، ده ته کافر یا فاسق ویونکی پر غلطي دی. فقط والله تعالی اعلم

د مړي د ژوندي کیدو دعا کول صحیح نه ده

سوال: (۹۲۶) زید مړ شو، د زید د ورور دا عقیده چې دعا کي ډېر لوی طاقت او لوی اثر دی او حق تعالی څخه دعا کوي چې زید دوهم ځل ژوندی کړي او هغه خپلو عزیزانو او

اقاربو ته راشي، ملاو شي، دا خیال د زید د ورور صحیح دی کنه؟ (۲۱۷۰/۱۳۴۳هـ)

جواب: د زید د ورور دا خیال صحیح نه دی او ده لره دا دعا نه ده کول په کار، لکه چي په حدیث صحیح کي راغلي دي چي شهداء د الله تعالی څخه د دې تمنا کوي چي بیا دنیا ته ژوند کېدو سره ولاړ شي او بیا د الله تعالی په لار کي مړ کړل شي نو الله تعالی فرمايي چي دا نشي کېدای، کوم څوک چي مړ شو هغه بیا دنیا ته نه را استول کیږي الخ (۱) فقط والله تعالی اعلم

ایا د اصحاب کهف سپی به جنت ته ځي؟

سوال: (۹۲۷) کلب اصحاب کهف جنت ته ځي کنه؟ (۳۲/۱۴۰-۱۳۳۳هـ)

جواب: په معالم التنزیل کي داغه شان منقول دي چي د اصحاب کهف سپی جنت ته به ځي، قال خالد بن معدان: لیس في الجنة شيء من الدواب سوی کلب اصحاب الکهف وحمار بلعام. (۲) فقط والله تعالی اعلم

د جادو حقیقت

سوال: (۹۲۸)... (الف) د زید عقیده چي ډائن (۳) زموږ هلک یا کور والا مړه کړه

---

۱) عن عبد الله بن مرة عن مسروق قال: سألنا عبد الله عن هذه الآية (ولا تحسبن الذين قتلوا في سبيل الله امواتا بل احياء عند ربهم يرزقون) (آل عمران: ۱۲۹) قال اما انا قد سألنا عن ذلک، فقال ارواحهم في جوف طير خضر لها قناديل معلقة بالعرش، تسرح من الجنة حيث شاءت، ثم تأوى الى تلک القناديل، فاطلع اليهم ربهم اطلاعة، فقال: هل تشتهون شيئا؟ قالوا: اي شيء نشتهي ونحن نسرح من الجنة حيث شئنا؟ ففعل ذلک بهم ثلاث مرات، فلما رأوا انهم لن يتركوا من ان يسالوا، قالوا: يا رب! نريد ان ترد ارواحنا في اجسادنا حتى نقتل في سبيلک مرة اخرى، فلما رأى ان ليس لهم حاجة تركوا. (الصحيح لمسلم: ۲/۱۳۵-۱۳۲، كتاب الامارة، باب في بيان ارواح الشهداء في الجنة وانهم احياء عند ربهم يرزقون)

۲) معالم التنزيل: ص۵۴۷، تفسير سورة الكهف، المطبوعة: المطبع الواقع في المعمورة الممئي.

۳) ډائن: جادوگره ښځه ده کوم چي خیال کیږي چي د کوچنیانو یني خوري (فیروز اللغات)

یا ناجوړه کړه؟

(ب) دا چي مشهور دي چي جادو حق، کونکی یې کافر، د دې څه مطلب دی؟ له دې څخه دا شبه کیږي چي جادوګر سره دا طاقت شته چي سړی مړ کولای شي یا ناجوړه کولای شي؟ (۴۲/۲۷۹-۱۳۴۷ھ)

جواب: (الف) دا عقیده د جهالت ده، جهلاء دا شان خیال کوي او عقیده لري، په حقیقت کي دا غلط دی، فاعل حقیقي الله تعالی دی، بېله د ده له حکم هیڅوک هیڅ نشي کولای، مګر دا شیان اسباب د امراضو وهلاکت کله ناکله کیږي، هر څه چي څوک کوي، هغه د الله تعالی په اراده او حکم سره کوي (وما تشاءون الا ان یشاء الله) (سورة دهر، آیت: ۳۰) نو زید چي کومه عقیده جوړه کړې ده او خیال چي کړی دی د ناپوهی په سبب له اسلام څخه نه دی خارج، ده ته کافر نه ویل کیږي، مګر پوه دي شي چي داسي عقیده نه وساتي.

(ب) د جادو د حق کېدو دا مطلب دی چي تأثیر د جادو کیږي، پخپله پر رسول الله صلی الله علیه وسلم جادو اثر وکړی مګر په حکم د الله تعالی د سورة فلق او سورة ناس په ذریعه هغه زائل شو (۱) او دا اثر په جادو کي خاص الله تعالی الیښی دی، لهذا جادو ته دي مؤثر حقیقي نه وویل شي، دا داسي دی لکه شیطان ته الله تعالی د ګمراه کولو طاقت ورکړی دی او ده ته مهلت ورکړی دی چي دی د الله تعالی له لاري خلک ګمراه کړي، مګر دا قوت او طاقت ده ته د الله تعالی له لوري ملاو شوی دی، د دې وجي ده ته مؤثر حقیقي نه ویل کیږي، مګر دی سبب د ګمراهی کیږي، تر دې زیات بل څه مطلب د جادو د حق کېدو نه دی. فقط والله تعالی اعلم

د سحر (جادو) اثر وي

سوال: (۹۲۹) زید وایي چي زه د سحر قائل نه یم، ایا د زید دا وینا غلط ده کنه؟

---

۱) ان یهودیا سحر النبي صلی الله علیه وسلم في احدی عشرة عقدة في وتر دسه في بئر، فمرض النبي صلی الله علیه وسلم: فنزلت المعوذتان، واخبره جبرئیل علیه السلام بموضع السحر، فارسل علیًا رضی الله عنه: فجاء به فقرأهما علیه، فکان کلما قرأ آیة انحلت عقدة ووجد بعض الخفة (مرقاة المفاتیح ۳۲/۱۱، کتاب الفضائل والشمائل، باب في المعجزات، رقم الحدیث ۵۸۹۳)

په هر صورت کي د زید لپاره څه حکم دی؟(۱۳۳۹/۳۴۱هـ)

جواب: د اهل سنت والجماعت مذهب دا دی چي سحر حق دی، یعني د دې اثر شته، لکه د احادیث څخه چي ثابت دي چي په رسول الله صلی الله علیه وسلم ځینو یهودیانو سحر وکړی او پر ده د دې اثر وشو او بیا لله تعالی هغه دفع کړی. تفسیر خازن ککي دي: ومذهب اهل السنة ان له وجودا او حقیقة والعمل به کفر الخ(۱) نو زید که داسي وایي نو له مذهب د اهل سنت وجماعت څخه جاهل دی، ده ته د مذهب اهل سنت وجماعت تحقیق کول پکار دی او د علماء اهل سنت څخه پوښتنه کول په کار ده، پخپله بېله علم یو رایه قائمول صحیح نه ده، حدیث شریف کي دي: انما شفاء العی السؤال (۲) فقط والله تعالی اعلم

د لیک او نورو په سر کي ۷۸۶ لیکل

سوال: (۹۳۰) ځیني خلک د خطوط یا رساله او نور کي محض اعدا د بسمله تحریر کوي او بسمله نه لیکلي، ایا دا شرعًا جائز دي کنه؟ د دې څه ثبوت دی؟ ایا د علماء د امت معمول به وي؟ عمر د دې په هکله دا وایي چي دا له بدعاتو څخه دی؟ شرعًا په کتب معتبره کي د دې هیڅ ثبوت نشته؟ دا صحیح دی کنه؟(۱۳۳۸/۱۰۹۲هـ)

جواب: د خطونو یا رسالو په سر کي چي کوم خلک اعدا د د بسم الله لیکي شرعًا داسي کول څه پروا نه لري، د علماوو هم دا معول دی، نو د عمر دا عمل له سئه بدعاتو څخه بلل صحیح نه دی. (۳) فقط والله تعالی اعلم

---

۱) لباب التأویل في معاني التنزیل المعروف بتفسیر الخازن: ۹۸/۱، تفسیر سورة البقرة، رقم الآیة: ۱۰۲، المطبوعة: مکتبة حضرة السید محمد عبد الواحد بک الطوبی واخیه

۲) د دغه حدیث شریف تخریج د کتاب الایمان سوال (۱۸۱) په جواب کي وګورئ.

۳) زموږ پر یو مسئله بحث جاري و، هغه کي هر یو سړي خپل خیالونه پیش کول، مګر تسلي په هغه خبر ونه شوه، د بحث مرکز ۷۸۲ و، کوم چي د عام خط وکتابت په اول کي تحریر کیږي، د هغه مقصد موږ بسم الله الرحمن الرحیم بولو، ایا په خط کي ۷۸۲ لیکل جائز دي؟ که جائز دي نو ۷۸۲ څه دی؟ او څرنګه بسم الله مکمل کیږي؟--

د نبي آدم په اعتبار سره ټول انسان ورونه دي

سوال: (۹۳۱) يو سړی وايي چي په حيثيت د انسان کېدو ټول خپل ورونه دي، برابره ده که هندو وي که مسلمان، بزرګ وي که اولياء او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د رسالت منونکی دی، د دغه سړي قول صحيح دی که نه؟(۷۳۰/۱۳۴۳ھ)

جواب: دا قول صحيح دی، انسانان ټول بني آدم دي او ټول په دې اعتبار ره ورونه دي او مسلمانان ټول خپل منځ کي ديني ورونه دي، لکه فرمايلي دي الله تعالی: (انما المؤمنون اخوة) (سورة حجرات، آيت: ۱۰) او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايل: اعبدوا ربکم واکرموا اخاکم(۱) يعني دخپل پروردګار عبادت کوئ او د خپل ورور تعظيم او اکرام کوئ، دغه حديث کي ده له اخاکم څخه خپل ذات مراد کړی دی، نو معلوم شو چي عام مسلمان او انبياء و اولياء ټول خپل منځ کي ورونه ورونه دي، که څه هم د دوی په منځ کي فرق مراتب ډېر دي، کما لا يخفی، او د رسول الله صلی الله عليه وسلم شان مبارک خو هغه دی

== او هلته د خو کسانو رايه دا ده چي دا د هندوانو يو سړي دا خبره را ايستلې ده چي مسلمانان د دې د ليکلو له ثواب محروم کړي، يعني مکمل وضاحت وکړه چي داسي يو غلطي يا خبره نشي چي موږ د ګناه مرتکب شو.

جواب: ۷۸۶ د بسم الله عدد دی، له بزرګانو څخه د دې د ليکلو معمول را روان دی، غالباً دې ته رواج د دې وجي شوی دی چي خطوط عام خيري کولو سره غورځول کيږي، له هغه څخه د بسم الله شريفي بې ادبي کيږي، د دغه بې ادبۍ څخه د خلاصون لپاره غالبًا بزرګانو د بسم الله شريف اعداد ليکل پېل کړه، دغه هندوانو طرف ته منسوب کول خو غلط دي، مګر که د بې ادبۍ وېره نه وه نو بسم الله شريفه ليکل بنه دي (ستاسو مسائل او د هغه حل: ۳۴۸/۸، عنوان: د بسم الله پر ځای ۷۸۶ ليکل. مطبوعه کتب خانه نعيميه، ديوبند)

(۱) عن عائشة رضی الله عنها ان رسول الله صلی الله عليه وسلم کان في نفر من المهاجرين والانصار، فجاء بعير فسجد له، فقال اصحابه: يا رسول الله! تسجد لک البهائم والشجر؟ فنحن احق ان نسجد لک، فقال: اعبدوا ربکم واکرموا اخاکم، الحديث (مشکاة المصابيح ص۲۸۲-۲۸۳، کتاب النکاح باب عشرة النساء وما لکل واحد من الحقوق)

کوم چي يو بزرګ فرمايلي دي: بعد از خدای بزرګ توئی قصه مختصر (۱) ولنعم ما قيل في مدحه صلی الله عليه وسلم:

بلغ العلی بکماله* کشف الدجی بجماله
حسنت جميع خصاله* صلوا عليه وآله

د نيک فال مطلب

سوال: (۹۳۲) په اسلام کي فال جائز او بد فال شرک منل شوی دی، حالانکي د يو نيک وبد فال که د علم غيب د اظهار فهمولو سره مساوي دی نو نيک فال څرنګه جائز دی؟ (۱۰۳۵/۴۲-۱۳۴۷هـ)

جواب: نيک فال کي محض دا دی چي دی پر يو موقع له يو چا څخه داسي واوري چي هغه يو بل سړي ته آواز کوي، د هغه نوم حسن دی يا محمود يا مسعود او نور او دی وايي چي يا حسن يا مسعود يا محمود اوريدو سره خو ده ته يو مسرت وشو او ده په زړه کي دا خيال وکړی چي نيک آواز غوږ ته راغلی، ان شاء الله زما کار به ښه وي او محمود او مسعود به وي، نو دغه شارع عليه السلام جائز بللی دی (۲) او خوښ کړی دی وکفی به قدوة. فقط والله تعالی اعلم

د شيعه ګانو له سنيانو څخه د مقدمه کولو لپاره په زوره چنده اخيستل

سوال: (۹۳۳) دلته شيعه وسني په لسمه د محرم کي شريک کيدل يعني سنيان د شيعه ګانو سره په ماتم کي شرک کېدل او کوم سني چي به په ماتم کي نه شريک کېدی، هغه وهل کېدی، تير کال سنه ۱۳۴۱هـ

---

۱) ترجمه: د الله تعالی بعد خاص دی بزرګ او بالا دی، مخترصه خبره داغه ده.

۲) عن هريرة رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله صلی الله عليه وسلم يقول: لا طيرة وخيرها الفال قالوا: ومال الفال؟ قال: الکلمة الصالحة يسمعها احدکم متفق عليه (مشکاة المصابيح: ص۳۹۱. کتاب الطب والرقی، باب الفال والطيرة، الفصل الاول)

وعن انس بن مالک رضی الله عنه ان النبي صلی الله عليه وسلم کان يعجبه اذا خرج لحاجته ان يسمع يا راشد يا نجيح. (جامع الترمذي: ۲۹۰/۱-۲۹۱، ابواب السير، باب ما جاء في الطيرة)

يو سړى ناست په نظر راغي، هغه شيعه ګانو وواهى، څو سنيان د مجروح سره ملګري شول، د دواړو ډلو خلک زخميان شوه ، اوس مقدمه شروع ده او د ټولو خلګو څخه چنده په جبر وصول کيږي، ايا دا مذهبي جنګ دى او کوم خلک چي چنده ورنه کړي نو ايا هغه ګناهګاران دي؟ (۱۳۴۲/۱۸۳هـ)

جواب: دا مذهب جنګ نه دى، محض جدال باطل دى او چنده ورکول په تعزيه او نورو کي او د هغه په اعانت کي حرام او ناجائز دى، نه ورکونکي د چندې ګناهګاران نه دي، بلکي مثاب وماجور دي، مګر کوم سنيان چي وهل شوي دي، د هغو اعانت کول ضروري دي، د هغو له کاميابى لپاره په مقابله د روافض کوښښ کول او چنده ورکول ضروري دي. فقط والله تعالى اعلم

کوم ښځي چي څو نکاح کړي وي په جنت کي به د کوم خاوند سره وي؟

سوال: (۹۳۴) يوې ښځي څلور نکاح کړي دي په قيامت کي هغ کوم مېړه ته ملاويږي؟ دوى ټولو ته که آخري ته؟ دغه مسئله له قرآن وحديث څخه ثابت کولو سره وليکئ او له څلورم مېړه څخه د دې اولاد هم شوى دى او خاص د دې په کور کي انتقال شوى دى. (۱۳۳۰-۲۹/۳۲۵هـ)

جواب: شامي کي نقل کړي دي چي حديث شريف کي راغلي دي چي خپل آخري مېړه ته ملاويږي او عبارت د هغه دا دى: لانه صح الخبر بأن المرأة الآخر ازواجها: اى اذا مات وهي في عصمته الخ(۱) (شامي) يعني د چا په نکاح کي چي ښځه تر آخره پوري پاته شي، هغو ته په آخرت کي ملاويږي، مثلاً د چا د نکاح په حالت کي چي مېړه مړ شو، هغه ښځه هغو ته ملاويږي. فقط والله تعالى اعلم

له مرګ وروسته ښځه او خاوند يو ځاى اوسيږي کنه؟

سوال: (۹۳۵) تر مرګ وروسته خاوند او زوجه يو ځاى اوسيږي کنه؟ (۱۳۴۲/۳۵۲هـ)

جواب: که ښځه او خاوند دواړه جنتيان دي، نو جنت کي د ده زوجه ده ته ملاويږي

---

۱) رد المحتار على الدر المختار: ۲۴۴/۱، کتاب الصلاة، باب صلاة الجنازة، مطلب هل يسقط فرض الکفاية بفعل الصبي؟ ط رشيديه

همدا شان د دغه حديث شريف تخريج د سوال (۹۳۲) په حاشيه ۲ کي وګورئ.

او ماسیوا د دې نوري حوري هم ور ملاویږي او کوروالی به هم وي فقط والله تعالی اعلم

د چا په نکاح کې چې څلور ښځې وي په آخرت کې هغه ټولې ده ته ملاویږي کنه؟

سوال: (۹۳۲) زید څلور نکاحوي کړي دي، له سزا وجزاء څخه وروسته به څه حشر وي؟ ایا زید ته څلور سره منکوحه ملاویږي کنه؟ که په دوی څلورو کې یوه مینځه وي نو؟ علی هذا القیاس یوې ښځې څلور نکاحوي کړي دي نو د دې به څه انجام وي؟ (۱۷۷۹/۳۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: که هغه ټولې زوجات او زوج جنتي وي نو ټولې ازواج داغه زوج ته ملاویږي (۱) او مینځه هم که ملاو شي نو تعجب نه دی، د دې هیڅ تصریح مې نه ده لېدلې، له ځیني روایتونو څخه معلومیږي چې لومړي مېړه ته ملاویږي او له ځیني څخه معلومیږي چې کوم دوی کې احسن اخلاقاً دی، هغو ته ملاویږي (۲)

---

۱) ام المؤمنین حضرت سوده رضی الله عنها د لاندې روایت څخه معلومیږي چې د چا څو ښځې وي او هغه ټولې ښځې او مېړه جنتیان وي نو هغه ټولې ښځې داغه مېړه ته ملاویږي. وهبت (سودة) یومها لعائشة حین اراد رسول الله صلی الله علیه وسلم طلاقها، فقالت له: امسکني، قد وهبت یومي لعائشة، لعلي اکون من نسائک في الجنة (مشکاة المصابیح ص۲۸۰، کتاب النکاح، باب القسم، الفصل الثالث)

۲) کومې ښځې چې یو په بل پسې څو خاوندان کړي وي نو هغه به جنت کې د چا سره اوسیږي، په دغه سلسله کې درې ډول روایتونه دي: [۱] له ځینو روایتونو څخه معلومیږي چې آخري مېړه ته ملاویږي. عن میمون بن مهران قال: خطب معاویة ام الدرداء، فأبت ان تتزوجه، قالت: سمعت ابا الدرداء یقول: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: المرأة لآخر ازواجها، ولست ارید بلبي الدرداء بدلا. (المطالب العالیة بزوائد المسانید الثمانیة: ۲۷/۲-۲۸، کتاب الولیمة، باب: المرأة لآخر ازواجها في الآخرة، المطبوعة: دار المعرفة، بیروت، لبنان، واتحاف الخیرة المهرة بزوائد المسانید العشرة للامام البوصیري: ۳۹/۵، کتاب النکاح، باب الزجر عن الانتساب الی غیر الآباء وماجاء ف ان المرأة لآخر ازواجها، رقم الحدیث: ۴۳۹۸، المطبوعة: مکتبة الرشد، الریاض) --

کومه ښځه چي دوزخ ته داخل کېدو بد جنت ته ولاړه شي هغه به د جنتي مېړه زوجه وي کنه؟

سوال: (۹۳۷) یو سړی بلاد خول جهنم جنتي شو، د ده ښځه په وجه د معصیت داخل في النار شوه، بیا هغه جنت ته داخل کېدو سره د ده زوجه به وي کنه؟ (۱۳۴۰/۱۲۳۱ھ)

جواب: کېدای شي. فقط والله تعالی اعلم

د نابالغ کوچنیانو د عبادت ثواب چاته ملاوېږي؟

سوال: (۹۳۸) نابالغ کوچنیان چي کوم عبادت کوي، د هغه ثواب چا ته رسیږي؟ (۱۳۷۱/۳۲-۱۳۳۳ھ)

جواب: د نابالغ اطفالو د عبادت ثواب خالص نابالغانو ته رسیږي، کذا في الدر المختار وغیره (۱) فقط والله تعالی اعلم

== [۲] او له بعض څخه معلومیږي چي تر ټولو ښه اخلاق والا ته ملاوېږي، عن انس بن مالک رضی الله عنه قال: قالت ام حبیبة: یا رسول الله ! المرأة منا یکون لها زوجان، ثم تموت، فتدخل الجنة هي وزوجاها، لأیها تکون؟ للاول او للآخر؟ قال: تخیر احسنهما خلقا کان معها في الدنیا یکون زوجها في الجنة یا ام حبیبة، ذهب حسن الخلق بخیر الدینا والآخرة. (المعجم الکبیر للطبراني: ۲۲۲/۲۳، ما اسندت ام حبیبة زوج النبي صلی الله علیه وسلم الخ، رقم الحدیث: ۴۱۱، المطبوعة: مکتبة ابن تیمیة، القاهرة)

[۳] او له بعض څخه معلومیږي چي ښځي ته اختیار ورکول کیږي چي کوم ستا خوښ وي، هغه اختیار کړه، لکه چي په فتاوی عبد الحي کي دي: في الغرائب: اختلف الناس في المراة التي یکون لها زوجان في الدنیا، لایهما تکون في الآخرة؟ تکون لاخرهما، وقیل تخیر فتختار ایهما شاء. (فتاوی عبد الحي: ۵/۳) لیکن داسي یو روایت ملاو نشو چي لومړي میړه ته ملاوېږي.

(۱) ثواب الطفل للطفل یحصر (الدر) وفي الشامي: لقوله تعالی: (وان لیس للانسان الا ما سعی) (النجم: ۳۹) وهذا قول عامة مشائخنا. (الدر والرد: ۳۰۵/۵، کتاب الحظر والاباحة، فصل في البیع. ط رشیدیه)

سوال: (۹۳۹) دا چې مشهور دي چې د نابالغ بچي د اعمالو ثواب والدینو ته ملاویږي، صحیح دي کنه؟ (۲۸۳۵/۱۳۴۵هـ)

جواب: په درمختار کې دغه قول اختیار کړی دی چې د کوچني د اعمالو ثواب خاص کوچني ته ملاویږي، وقالو: ثواب الطفل للطفل یحصر الخ(۱) (درمختار) او والدیت ته د تعلیم ثواب دی. (۲) فقط

د حافظانو په سبق اوریدو سره استاذ ته ثواب ملاویږي کنه؟

سوال: (۹۴۰)... (الف) کوم سړی چې په طالبانو قرآن شریف په اجرت سره حفقظ کوي، په خپل منځ کې چې کوم طالبان یو بل ته قرن شریف اوروي، مقوصد یادول وي، تلاوت مقصود نه وي، د استاذ غوږ ته چې کوم آواز د قرآن شریف د اورولو راځي، د دې ثواب استاذ ته ملاویږي کنه؟ او دا وخت د استاذ په عبادت کې خرڅیږي کنه؟

(ب) په طالبانو یادولو په غرض چې کوم استاذ قرآن شریف اوري، د دې ثاب استاذ لره شته کنه؟ (۲۴۸/۳۳-۱۳۳۴هـ)

جواب: (الف) انما الاعمال بالنیات(۳) حدیث شریف کې راغلي دي، نو که یې نیت د عبادت دی، ثواب حاصل دی.

(ب) نیت که نه وي، نو ثواب ملاویږي. فقط والله تعالی اعلم

شرابي ته د تلاوت قرآن او نورو عباداتو ثواب ملاویږي کنه؟

سوال: (۹۴۱) شراب څښونکی که تلاوت قرآن وکړي نو د دې ثواب ورته ملاویږي کنه؟ (۱۳۸۹/۳۲-۱۳۳۳هـ)

---

۱) تیره شوې حواله

۲) عن ابن مسعود الانصاري قال:... فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من دل علی خیر فله مثل اجر فاعله رواه مسلم (مشکاة المصابیح ص۳۳، کتاب العلم، الفصل الاول، والصحیح لمسلم ۱۳۷/۲. کتاب الامارة، باب فصل عانة الغزي في سبیل الله)

۳) صحیح البخاري ۲/۱، باب کیف کان بدؤ الوحي الی رسول الله صلی الله علیه وسلم الخ

جواب: په حدیث شریف کي خو راغلي دي چي که شراب څښونکی توبه نه وکاږي نو تر څلویښت ورځو پوري د ده لمونځ نه قبلیږي. (۱) یعنيثواب نه ملاویږي نو د تلاوت قرآن شریف او نورو عبادتونو ثواب به په درجه اولی ده ته نه حاصلیږي، ځکه لمونځ اصل د جمله عباداتو دی او تلاوت قرآن شریف او نور عبادات ته متضمن دی. فقط والله تعالی اعلم

پر انبیاء او نابالغه کوچنیانو مصائب ولي راځي؟

سوال: (۹۴۲) آیت: (وما اصابکم من مصیبة فبما کسبت ایدیکم) څخه ثابت دي چي مصیبت د ګناه په وجه لاحق کیږي، اوس د پوښتني طلب دا خبره ده چي انبیاء او کوچنیان باوجود د عدم ارتکاب معاصي ولي مأخوذ کیږي؟ (۱۴۱۰/۳۳-۱۳۳۴ھ)

جواب: دغو حضراتو ته د رفع درجات لپاره تکلیف پیښیږي او (فبما کسبت ایدیکم) (سورة شوری، آیت: ۳۰) عام دی له معاصي څخه پر مقربینو پر غیر اولی باندي هم مؤاخذه کیږي. فقط والله تعالی اعلم

نیکو خلکو ته دنیا کي ولي تکلیف ورکول کیږي او بدکاره خوشحاله ولي او سیږي؟

سوال: (۹۴۳) نیکو خلکو ته دنیا کي ولي تکلیف ورکول کیږي او بدکاره خوشحاله ولي او سیږي؟ (۱۳۳۳/۷۴۸ھ)

جواب: دنیا کي تکلیف په دې وجه کیږي چي آخرت کي راحت ور ورسیږي، (ان مع العسر

---

۱) عن عبد الله بن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من شرب الخمر لم تقبل له صلاة اربعین صباحا، فان تاب تاب الله علیه، فان عاد لم یقبل الله له صلاة اربعین صباحًا. الحدیث. (جامع الترمذي: ۸/۲، ابواب الاشربة، باب ماجاء في شارب الخمر)

يسراً) (سورة الم نشرح، آيت: ۲) د تکليف بعد آرام ضرور ملاويږي او بدکاره دلته خوشحاله او سيږي، هلته مشقت تيروي. فقط والله تعالى اعلم

معصوم کوچنيانو ته چي کوم تکليف رسيږي په هغه سره د هغو درجې بلنديږي

سوال: (۹۴۴) يو هلک د هغه عمر اته کاله و، تبه وشوه او سخت په تکليف هره ورځ و، ورځ په ورځ تکليف زياتيدی، شل ورځي بعد وفات شو، څه وجه ده کوچنيان خو معصوم وي، کوچنيانو ته په دغه صورت کي دومره قدر تکليف ولي رسيږي؟ شرع شريف کي په دې حالت کي څه حکم دی؟ (۱۳۴۷-۴۲/۳۳۱۴هـ)

جواب: په دغه صورت کي چي دغه کوچني ته کوم تکليف رسيږي، دا د ترقي درجات لپاره دي، يعني که دغه کوچنی ژوندی پاته شوی وای او غټ شوی وای، د خدای تعالى عبادت يې کړی وای او نيک کاريې کاوی نو د دې په بدله کي الله تعالى د ده درجات پورته کولې، اوس خو دی لږ عمر ک وفات شو نو کوم تکاليف د ناجوړي چي ده ته رسيدلي دي، هغه د ده لپاره موجب د ترقي درجات به وي، ان شاء الله تعالى. فقط والله تعالى اعلم

کوچنيانو ته معصوم ويل جائز دي کنه؟

سوال: (۹۴۵) کله چي لفظ معصوم د انبياء عليهم الصلاة والسلام په شان کي نازل شوی دی نو کوچنيانو ته معصوم ويل جائز دي کنه؟ (۱۳۴۰/۴۷هـ)

جواب: معصوم صرف انبياء کرام عليهم الصلاة والسلام دي او کوچنيانو ته په وجه د غير مکلف کېدو وايي. فقط والله تعالى اعلم

په جنت کي جماع کولو سه مني نه وځي لېکن لذت کي هيڅ کمي به نه وي

سوال: (۹۴۶) په جنت کي په جماع کولو سره که مني نه وځي نو لذت به هغه شان حاصل وي

لکه چي مني وتو کي حاصليږي کنه؟ (۱۳۴۷-۴۲/۴۳۹هـ)

جواب: هلته مني نه وځي، صرف لذت هغه شان حاصليږي، لکه چي په حديث کي راغلي دي: لا يبولون ولا يتغوطون ولا يتفلون ولا يمتخطون(۱) (الحديث) نو له دغه حديث څخه دا ثابتيږي چي مني به نه وځي. فقط والله تعالى اعلم

عنين به جنت کي پر جماع قادريږي کنه؟

سوال: (۹۴۷) په جنت کي عنين به هم پر جماع قادر وي کنه؟ (۱۳۴۰/۱۲۲۹هـ)

جواب: ظاهره ده چي دی به په جنت کي عنين نه وي چي دا عوارض وامراض دنياويه به هلته نه وي، بهشت انجا که از رانباشد (جنت هغه ځای دي چي هلته هيڅ ناجوړي نشته) فقط والله تعالى اعلم

د منکر نکير سوال او د اهل جنت ودوږخ خبري به په کومه ژبه وي؟

سوال: (۹۴۸) ملائکي په خپل منځ کي په کومه ژبه خبري کوي؟ نکيرين او د مړو سوال وجواب به په کومه ژبه کي وي؟ اهل جنت به په کومه ژبه خبري کوي؟ د اهل نار خبري په جهنم کي په کومه ژبه به وي؟ (۱۳۳۳-۳۲/۱۸۳۸هـ)

جواب: عن ابن عباس رضى الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: احبوا العرب لثلاث: لأني عربي والقرآن عربي وكلام اهل الجنة عربي رواه البيهقي في شعب الايمان(۲) د دغه حديث څخه معلوميږي چي د اهل جنت ژبه به عربي وي او بعضي رواياتو کي د فارسي دري(۳) زياتوب هم راغلى دى. كما في الشامي بحديث لسان اهل الجنة

---

۱) عن ابي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ان اول زمرة يدخلون الجنة على صورة القمر ليلة البدر والذين يلونهم على اشد كوكب دري في السماء اضاءة لا يبولون الحديث (الصحيح لمسلم: ۳۷۹/۲، كتاب الجنة وصفة نعيمها واهلها)

۲) مشكاة المصابيح ص۵۵۳، كتاب الفتن، باب مناقب قريش وذكر القبائل الفصل الثالث

۳) دري: يو دول د فارسي ژبي منسوب طرف دره کوه ته (لغات کشوري)

العربية والفارسية الدرية الخ(۱) نور نو د ملائكه د كلام په هكله يو تصريح نه ده لېدل شوې، ظاهر داغه دی چي هغه به هم په عربي ژبه تكلم كوي، سوال منكر ونكير به هم په عربي كي وي او د اهل دوږخ كلام هم كه عربي كي وي نو هيڅ اشكال نشته او ظاهر آيات قرآنيه داغه دي: (ونادى اصحاب النار اصحاب الجنة ان افيضوا علينا من الماء) (سورة اعراف، آيت: ۵۰) (ونادوا يا مالك ليقض علينا ربک) (سورة زخرف، آيت: ۷) وغيرها من الآيات والاحاديث، او كه په يو بله ژبه كي وي بيا هم ممكن دي، الغرض له داسي سوالونو څخه څه حاصل نشته. فقط والله تعالى اعلم

د ګرو نانک په هکله يوه درواغجنه کیسه

سوال: (۹۴۹) يو سړی بيان كوي چي بابا نانک صاحب مكې شريفي ته تللی و، هلته بيت الحرام لوري ته پښې كولو سره ويده شو، يو سړی راغی، د ده پښې يې بل لوري ته كړې او بيت الله هم هغه لوري ته شوه، له دې څخه دا ثابت كړ چي مسلمانان درواغجن دي او د سكهانو مذهب رښتيا دی، دا خبره صحيح ده كنه؟ او هغه سړی څنګه دی؟ (۱۳۳۸/۱۵۵۴هـ)

جواب: دا كيسه محض افتراء او بهتان دی او هغه سړی چي دا شان وايي مفتري كذاب دی، د ده قول بالكل د قرآن وحديث خلاف دی. فقط والله تعالى اعلم

همزاد څه شي دی؟

سوال: (۹۵۰) دا چي وايي چي هر سړي سره همزاد دی نو ايا له يو حديث څخه ثابت دی؟ او همزاد څه شي دی، پيری دی كه نور څه دی؟ (۱۳۳۵/۴۲هـ)

جواب: حديث شريف كي دا راغلي دي: ما منكم من احد الا وكل به قرينه من الجن وقرينه من الملائكة الحديث. (۲) يعني د هر سړي سره دوه قرين وي: يو

---

۱) الدر المختار مع الشامي: ۳۵۷/۱، كتاب الصلاة، باب صفة الصلاة، آداب الصلاة، قبيل مطلب الفارسية خمس لغات. ط رشيديه

۲) عن ابن مسعود رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ما منكم من احد الحديث (مشكاة المصابيح: ص۱۸، كتاب الايمان، باب في الوسوسة، الفصل الاول)

ملائکه او یو پیری، ملائکه د خیر حکم کوي او پیری د بدو حکم کوي، د ملائکي نوم ملهم دی او د پیري نوم وسواس دی. (۱) فقط والله تعالی اعلم

حامله ښځه د قیامت په ورځ له قبره د حمل سره پورته کیږي که بغیر د حمل؟

سوال: (۹۵۱) حامله ښځه د قیامت په ورځ له قبره د حمل سره پورته کیږي که بغیر د حمل؟ (۱۹۲/۱۳۳۵هـ)

جواب: په دې هکله یو تصریح نه ده لېدل شوې، ظاهر دا دی چي مع الحمل به محشوره شي، کما ورد في الحدیث: کما تموتون تحشرون، الحدیث. (۲) فقط والله اعلم

پل صراط د کوم شي دی؟

سوال: (۹۵۲) پل صراط د کوم شي دی؟ (۲۵۹۷/۱۳۳۷هـ)

جواب: په حدیث شریف کي دا راغلي دي چي "صراط" یو پل دی، غوړول شوی دی پر جهنم، زیاتِ نری دی تر ویښته او تیز دی تر توري (۳) حقیقت د دې هیڅ ته معلوم نه دی چي د کوم شي دی. فقط والله تعالی اعلم

خبرتیا: د حضرت مولانا مفتي عزیز الرحمن صاحب عثماني قدس سره فتاوی پر دغه جلد مکمله شوه. والحمد لله ۲-۴-۱۴۳۲هـ

ستاسو د دعا ګانو غوښتونکی محمد ابراهیم خلیل عفی عنه

د کمپوز نېټه:

۱۹ اګست ۲۰۱۸م مطابق ۲ ذوالحجه ۱۴۳۹هـ ق

عبید الرحمن "منیب" (۰۳۰۰۹۳۸۳۲۸۹)

---

۱) قوله: (وقرینه من الجن) ای صاحبه منهم لیأمره بالشر، واسمه "الوسواس" وهو ولد یولد لابلیس حین یولد لبني آدم ولد، وقوله: (وقرینه من الملائکه) ای لیماره بالخیر واسمه "الملهم". (مرقاة المفاتیح ۲۲۸/۱، کتاب الایمان، باب الوسوسة، الفصل الاول، رقم الحدیث: ۲۷)

۲) مرقاة المفاتیح ۳۷۵/۷، کتاب الجهاد، الفصل الثاني، وفیه ایضًا: ۳۳۲/۱، کتاب الایمان، باب اثبات عذاب القبر، الفصل الثالث.

۳) په مسلم شریف کي دي: قال ابو سعید الخدري رضی الله عنه بلغني أن الجسر ادق من الشعرة واحد من السیف (الصحیح لمسلم: ۱۰۳/۱، کتاب الایمان، باب اثبات رؤیة المؤمنیني في الآخرة ربهم سبحانه وتعالی)